تحریری کورس مناظرہ

تشریحات النابغۃ فی حل المسائل المختلفۃ

من ملفوظات

شیخ الاسلام سلطان المناظرین نابغۃ العصر شیخ القرآن والحدیث شہید ابن شہید

ابوالعزیز غلام حضرت غلام الحنفی شہید عرف نابغۃ تقبلہ اللہ

محرر ومرتب

سید محمد ثواب

...سیدا کاخیل باچا صاحب

اول حصہ

ناشر

مدرسۃ حدیقۃ الاحناف

د مناظرې کورس
2012

تحریری کورس مناظرہ

تشریحات النابغة
في
حل المسائل المختلفة

﴿دوهمه حصه﴾

من ملفوظات:

شيخ الإسلام سلطان المناظرين نابغة العصر
شهيد ابن الشهيد شيخ القرآن والحديث
أبو العزيز غلام حضرت غلام الحنفي شهيد - تقبله الله - عُرف نابغه

محرر:

سيد محمد ثواب
ابن سيد آكاخيل باچا صاحب

ناشر:
مدرسه حديقة الأحناف

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

بسم الله الرحمن الرحيم

دکتاب نوم : تشريحات النابغة في حل المسائل المختلفة

من ملفوظات : شيخ الإسلام سلطان المناظرين نابغة العصر
شهيد ابن الشهيد شيخ القرآن والحديث أبو العزيز
غلام حضرت غلام الحنفي شهيد -تقبله الله- عُرف نابغه

مُحرر و مُرتب : سيد محمد ثواب صاحب

رابط نمبر: 0345-9029268

تصميم : مولوي راز محمد هاشمي

نظرِ ثاني: شيخ القرآن و الحديث حضرت مولانا
سيد آياز علي شاه باچا صاحب

کمپوزنگ : ابوبدر کمپوزنگ سنټر، پشاور

پروپرائيټر : مولوي محمد حقاني" فيض الهادي"
موبائل نمبر: 0311-9316109

ناشر : مدرسه حديقة الأحناف
هربنس پوره رحمان پوره پاکستان لاهور
موبائل نمبر: 0308-4250818

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

فهرست :

صفحه	عنوان	شمارہ
۱	مسئلة الفرق بين الفِرَق	۱.
۴۰	وانقسمت القدرية اثنتي عشرة فرقة	۲.
۴۶	وانقسمت الجهمية اثنتي عشرة فرقة	۳.
۵۰	وانقسمت المرجئة اثنتي عشرة فرقة	۴.
۵۱	وانقسمت الرافضة اثنتي عشرة فرقة	۵.
۵۲	ثم انقسمت الجبرية اثنتي عشرة فرقة	۶.
۶۱	مسئلة علم الغيب	۷.
۶۱	التحقيق في مسئلة علم الغيب	۸.
۱۲۵	مسئلة الذكر بالجهر	۹.
۱۲۵	التحقيق في مسئلة الذكر بالجهر	۱۰.
۱۵۰	بحث الناس فيه ان الذكر بالجهر افضل او بالسر ؟	۱۱.
۱۶۳	مسئلة التحقيق في عصمة الأنبياء عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ	۱۲.
۱۶۳	التحقيق في عصمة الانبياء عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ	۱۳.
۱۹۳	مسئلة الدعاء بعد السنة	۱۴.
۲۰۳	المبحث الأول : الاستدلالات من القرآن الكريم	۱۵.
۲۱۰	المبحث الثاني : الاستدلالات من الاحاديث النبوية	۱۶.

.١٧	المبحث الثالث : يكره المكث طويلاً في مصلاة بعد الفرض نحو القبلة	٢٣٣
.١٨	المبحث الرابع : الدعاء بهيئة الاجتماع	٢٤٣
.١٩	المبحث الخامس : في تكرير الدعاء ثلاثاً	٢٤٨
.٢٠	مسئلة دعاء بعد الجنازة	٢٥٧
.٢١	مسئلة الأمين بالجهر	٢٧١
.٢٢	التحقيق في الامين بالجهر	٢٧١
.٢٣	مسئلة سماع الموتى	٣٠٣
.٢٤	التحقيق في سماع الموتى	٣٠٣
.٢٥	مسئلة التطوع في السفر	٣٣٣
.٢٦	التطوع في السفر جائز بل مندوب عند الجمهور	٣٣٣
.٢٧	الروايات المرفوعة في ذلك الباب	٣٤٢
.٢٨	قد ثبت ركعتين قبل الظهر من النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في السفر	٣٤٨
.٢٩	مسئلة النداء الى الغائب	٣٧٦
.٣٠	تبليغ الجاهل و النساء	٤٠٧
.٣١	التحقيق في تبليغ الجاهل والنساء	٤٠٧
.٣٢	الرد على الألباني الوهابي	٤٣٨
.٣٣	التحقيق في الرد على الالباني الوهابي	٤٣٨
.٣٤	مسئلة القراءة خلف الإمام	٤٥٠

۳۵.	التحقيق في القرائت خلف الإمام	۴۵۰
۳۶.	الاستدلالات من الاحاديث النبوية	۴۶۰
۳۷.	المبحث الثاني	۴۸۳
۳۸.	بعض معتقدات ابن تيمية	۴۹۶
۳۹.	التحقيق في بعض معتقدات ابن تيمية	۴۹۶
۴۰.	مسئلة الوجد على الصوفية	۵۳۳
۴۱.	التحقيق في الوجد على الصوفية	۵۳۳
۴۲.	المبحث الاول : في تعريف الوجد وبيان انواعها	۵۳۴
۴۳.	المبحث الثاني : الاستدلالات من القرآن الكريم	۵۴۵
۴۴.	المبحث الثالث : في بيان حال المصطفى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	۵۵۵
۴۵.	المبحث الرابع : في بيان أحوال الصحابة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ	۵۶۴
۴۶.	المبحث الخامس	۵۸۳
۴۷.	مسئلة رفع اليدين	۵۹۳
۴۸.	التحقيق في رفع اليدين	۵۹۳
۴۹.	التحقيق في حديث عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا	۵۹۶
۵۰.	المبحث الثاني : في استدلالات النافيين	۶۳۱
۵۱.	مسئلة ايمان أبوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	۶۴۰
۵۲.	التحقيق في ايمان ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	۶۴۰

په دوهم جلد کې د ذکر شوو مسائلو مختصره خلاصه :

﴿۱﴾ مسئلة الفرق بين الفِرَق

﴿۲﴾ مسئلة علم الغيب

﴿۳﴾ مسئلة الذكر بالجهر

﴿۴﴾ مسئلة التحقيق في عصمة الأنبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ

﴿۵﴾ مسئلة الدعاء بعد السنة

﴿٦﴾ مسئلة دُعا بعد الجنازة

﴿۷﴾ مسئلة الأمين بالجهر

﴿۸﴾ مسئلة سماع الموتى

﴿۹﴾ مسئلة التطوع في السفر

﴿۱۰﴾ مسئلة النداء الى الغائب

﴿۱۱﴾ تبليغ الجاهل و النساء

﴿۱۲﴾ الرد على الألباني الوهابي

﴿۱۳﴾ مسئلة القراءة خلف الإمام

﴿۱۴﴾ بعض معتقدات ابن تيمية

﴿۱۵﴾ مسئلة الوجد على الصوفية

﴿۱٦﴾ مسئلة رفع اليدين

﴿۱۷﴾ مسئلة ايمان أبوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مسئلة الفرق بين الفرق :

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم قال الله عز وجل :

﴿ وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ وَاذْكُرُواْ نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىَ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ (سورة آل عمران آيت : ۱۰۳).

بله مسئله چې زيرِ بحث يې کرځوو هغه مسئله د الفرق بين الفِرق ده دې کې ترغيبات دي اتحاد او اتفاق لره او اجتناب دي د تفرقې عقيدوي نه او ذکر د هغه دوه اويا (۷۲) جماعاتو چې کوم د اهلسنت والجماعت په مخالفت کې عقيدوي اختلاف ته پورته شوې دي سره د ذم د هغوي نه په بعضې آثارو رواياتو کې .

او دارنګې ذکر د ترک علاقه د هغوي چې هغوي سره تعلق ساتل جائز نه دي د لته پاکستان کې څه جماعات پيدا شوې دي چې هغوي د عقيدوي تفرقې او د عملي تفرقې په مينځ کې څه فرق نه شي کولې لکه جماعت المسلمين او اهل حديث کومو اياتونو کې چې تفرقه منعه شوې ده هغې نه تفرقه عقيدوي مراد ده اختلاف اجتهادي فرعي عملي نه دي مراد د قُرآن عظيم الشان تفسيرونه به هغه منو چې کوم اسلافو مونږ ته کړې وي د ﴿ وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ ﴾ .

ترجمه : په تفرقه يې عملي سره چې ائمو وأربعوو کړې ده هيڅ نه ده کړې بلکې دې ځای باندې مفسرين کرام هغه جماعات ذکر کوي چې چا په عقيده کې تفرقه جوړه کړې دا چې تفرقه عملي عند الله شنيع او قبيحه نه وه او مردوده نه وه واضح دليل په هغې باندې تعدد د اديانو دي .

که چيرته د اله العالمين په نزد باندې تفرقه عملي جرم وايي قبيحه وايي مردوده وايي نو خالق به کله هم دنيا ته مختلف دينونه ، نه وه راليږلي دين د يهوديت نصرانيت له دين د مسلمينو سره په عقيده کې فرق نه لرلو اسمان نه يوه عقيده راغلي وه ملت ابراهيمي وه او دغه شان يهودانو او عيسويانو ته هم دد غه عقيدې پرچار وه په خپل دين او کتاب کې دا چې

وروسته هغې کې جماعات پیدا شول او خپله عقیده یې خرابه کړه او په نورو نومونو یې توضیح او تقسیم کړه داد هغوي جرم وه.

خو زمونږ دین اسلام د اصل یهودیت او اصل نصرانیت سره په عقیده د توحید کې مخالفت نه لري او د قرآن عظیم الشان دغه نصوص چې د قرآن عظیم الشان په صفت کې راځي چې مصدق لما معکم واضح دلیل ددې خبرې دي چې قران عظیم الشان د ماسبق دین په اصولو کې مؤید دي مصدق دي یو مخالفت د دین اسلامي د یهودیت او نصرانیت سره په عقیده کې نه دي بلکې په عملِ فرعي جزئي کې دې بعض اشیاء هلته حلال وه زمونږ دین کې حرام شو بعضې اشیاء هلته حرام وه زمونږ دین کې حلال شول.

نو مخالفت د مسلمانانو له هغوي سره په دغه عملي جزئیاتو کې ده که دغه عملي مخالفت د خدای تعالی په نزد مردود وای قبیح وای نو خالق به ادیان مختلفه نه رالیږل لکه څنګه چې عقیده کې اختلاف مردود ملعون مقبوح وه نو په هغې وجه خالق د نیا ته یوه عقیده رالیږله او ټول انبیاء په دغه عقیده رالیږل او اوسه پورې له اسلافو نه همدغه یوه عقیده ده چې هغه عقیده د اهلسنت والجماعت ده.

نو عقیده تفرقه نه قبلوي عقیده نزاع نه قبلوي عقیده کې اختلاف جرم دي هر چې عمل کې اختلاف دي جرم نه دي بطورِ مثال لکه ائمو و أربعو و عملي تفرقه کړې ده که څوک په دوې اعتراض وکړي چې الله پاک وایي ولا تفرقوا تاسو تفرقه ولې وکړه او دا تفرقه عملي ته شامل کړي نو دا تفرقه خو بیا صحابه کرامو هم کړې وه واضحه معلومه ده چې په رفع الیدین باندې څه قائل وه څه نه وه قائل په قراءت خلف الامام باندې څه قائل وه څه نه وه قائل نو دا ټول ائمه څه د یو صحابي پسې تللي څه د بل پسې تللي که څوک اعتراض په صحابوو باندې کوي په أئمو و باندې چې دوي دا تفرقه یې عملي ولې جوړ کړي په اجتهادي مسائلو کې نو دا اعتراض دې په دوي نه کوي ددوي په مقتدیانو دې وکړي چې هغه دوي چا پسې اقتداء کړې وه هغه صحابه کرام وه.

نو دا اختلاف خو هغوي جوړ کړې وه عملي تفرقه جرم نه دي هر چې جرم دي هغه عقیدوي تفرقه ده او دې ایات کریمه کې منع د عقیدوي تفرقې نه شوې ده او مفسرین کرام په دغه ځای باندې هغه دري اویا (۷۳) جماعات ددې امت ذکر کوي.

﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ﴾ حبل الله قرآن عظيم الشان دي او حبل الله د قرآن عظيم الشان مقصدي عقيده ده چې هغه عقيده د اهلسنت و الجماعت ده .

﴿وَلاَ تَفَرَّقُواْ﴾ دې نه تفرقې مه کوي يو خوا بل خوا مه ترې تاويږي تفسير الدر المنثور جلد ٣ صفحه ٧١٢ ددې ايات کريمه شرحه کې روايات را اخلي :

واخرج ابن ماجة وابن جرير وابن ابي حاتم عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم افترقت بنوا اسرائيل على احدى وسبعين فرقة وان امتي ستفترق على اثنتين وسبعين فرقة .

بني اسرائيل يو اويا (٧١) فرق شول خو زما امت به زر دي چې دوه اويا (٧٢) فرقې شي نو دا هغه راوي **كلهم في النار** (٧٢) جماعات ياد کړې دي ورنه وروسته روايت پرې دال دي چې زما امت به (٧٣) فرقې کيږي نو کوم حديث کې چې (٧٢) راغلل دا فرق ضاله يادوي .

كلهم في النار الا واحدة قالوا يارسول الله صلى الله عليه وسلم ومن هذه الواحدة قال .

دا يوه کومه ده؛

قال الجماعة . نبي اکرم صلى الله عليه وسلم چې ثو مره کلامونه کړي دي دا هغه ناست مجلس کې صحابه کرام چې وه نو هغوي عقلاء وه او عاقل لپاره خلک اشارې کوي نو الجماعة ثوک دي اهلسنت و الجماعت دي کله نبي عليه السلام د هغې نه په السنة سره تعبير کړې دي. (تفسير ابن ابي حاتم ج ١٤ ص ١٤٩ بيروت)

کله د هغې نه په الجماعة سره تعبير کړې دي خو اشارت هم دې ته کوي چې هغه اهلسنت والجماعة فرقه ده .

ثم قال : ﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ﴾.

نو تلاوت ددې ايات کريمه ددې مضمون سره دا ايات لوستل نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ددې ايات تفسير بيانوي اشاره دې ته کوي چې مراد د تفرقې نه دغه تفرقې دي چې کوم (٧٢) جماعاتو د اهلسنت سره کړې دي نه تفرقه د احنافو مينځ کې دا مسائل د (٧٢)

جماعاتو په مينځ کې فرق او تميز دري (۳) کتابونه که تاسو واخلي او مطالعه يې کړي پيدا کيږي چې يو د هغې نه کتاب د الفرق بين الفرق دي او دا په دې باب کې ډير ښکلي کتاب دي امام عبدالقاهر بن طاهر بن محمد البغدادي المتوفى سنة ۴۲۹ تقريباً د امام بيهقي سره قريب دي او ده پوره کار په دې مسئله باندې کړې دي او دويم کتاب التبصير في الدين وتميز الفرقة الناجية عن الفرق الهالكين داد طاهر بن محمد الأسفرايني کتاب دی هغه تقريباً د هغې نه هم د مخکنو علماء نه دي بيا ده ډير تفصيل کړې دي او د هريو ډلې د تسمې وجهې بيان کړي ده بيا هغه جماعات چيرته څرګند شوې او بيا هغه جماعات مقابله کې د کوم وخت بادشاه وه چې ددوي مقابله يې کړې ده او څه نوميده نو ډير تفصيلي دي .

او دريم الابانة عن شريعة الفرقة الناجية ومجانبة الفرق المذمومة د حافظ ابن بطة العكبري الحنبلي هغه تقريباً ددوي هم عصر دي خپل سند لري د حديثو ډير ښائسته کتاب دي ٦ جلده ده ابانة معنى جدا والې دا هلسنت والجماعة د اهل زيغ نه په دې مسئله يې ليکلي.

بو کتاب بل دي چې تاسو د يهودو او عيسويانو (۷۱) او (۷۲) جماعته يې په تفصيل سره بيان کړي او د هغوي نومونه يې ذکر کړې دي او د هغوي د عقيدو ذکر يې کړي او د امت محمدي (۷۳) جماعته ذکر کړي او جامع کتاب دي .

الملل والنحل د امام الشهرستاني دي د متکلمينو نه يو امام دي او هغه نور هم ټول ده نه اخذ کوي او په دې باب کې ډير ماهر دي .

تفسير الدر المنثور جلد ۳ صفحه ۷۱۹ دويم روايت ذکر کوي :

واخرج احمد وابوداؤد والحاكم عن معاوية رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان اهل الكتاب تفرقوا في دينهم على اثنتين وسبعين ملة وتفترق هذه الأمة على ثلاث وسبعين ملة كلها في النار إلا واحدة وهي الجماعة .

اهل کتاب خپل دين کې (۷۲) ډلې شوې وه او زما دا امت به په (۷۳) ملتو تقسيم شي ګوره دلته اطلاق د لفظ د ملة وشو او هغه مخکې حديث کې اطلاق د لفظ د فرقې شوې وه اګر که لفظ د فرقې خو عام دي که په عمل کې تفرقه راشي لغتاً به هم شامل شي خو په ايات کې د لاتفرقوا نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا جماعات ياد کړې دي او دلته د فرقې په ځای لفظ د

ملة راغې نو ملة او مذهب او دین د دوي په مینځ کې عرفي فرق څه شي دي سره د ملة إصطلاح فقهاء او محدثین چیرته کوي د دین اصطلاح چیرته کوي او د مذهب چیرته کوي.

ملة دوي عبارت ګرځوي د تګلارې عقیدوي نه او مذهب تګلاره فرعي عملي نه او هر چې دین دي جامع دي دواړو لره تګلاره عقیدوي او عملي نو که څوک د رنه تپوس کوي چې په ملة د چا یې اصطلاح داده چې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ یعنې محض عقیده کې د هغه پسې ځمه او که څوک د رنه تپوس وکړي چې په مذهب د چا یې نو د هغه ستا مُقتَدی چې تا پسې عمل کې په جزي فرعي کې اقتداء کړي د هغه نوم به اخلي.

او که څوک د رنه تپوس وکړي چې په دین د چا یې نو د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم به ځکه اخلي چې په عقیده او عمل دواړو کې د محمد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې اتباع ده.

مذهب په معنی د تګلارې باندې ځای د ذهاب لاره د ذهاب په عملي جزئیاتو کې دې ته نوم و ګرځیده.

جماعة المسلمین یوه فرقه ده ټول جهلاء په کې راغونډ دي علماء په کې نشته هغوي څه کتب لیکلي دي او په هغې کې بې ځایه اعتراضات کړې دي دومره ګستاخانه الفاظ یې استعمال کړې دي او یو عنوان یې داسې ورکړې واي مذهب لیټرین ته وایي بیا یې هغه حدیث پیش کړي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به کله اراده وه د قضاء حاجت لپاره نو :

أبعد في المذهب. نو هغلته مراد د مذهب نه څه شي دي مصدرِ میمي دي : **أبعد في المذهب معنی أبعد في الذهاب إلى الحاجة**، لرې والې به یې کولو په **ذهاب الى الحاجة** کې نو دوي دومره جهلاء دي جماعت المسلمین والا چې مذهب کومه اصطلاح د فقهاء محدثینو د امت کې په حق د مذاهبو اربعوو کې استعمال ده دلته مذهب مصدرِ میمي نه دي هغه د ظرف صیغه ده او په کوم حدیث کې چې راغلي چې **أبعد في المذهب** هغه مصدرِ میمي مراد دي.

نو دوي د مصدرِ میمي او د ظرف صیغې ترمینځ فرق نه شي کولې هغلته او س څوک دا معنی کولې شي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **أبعد في المذهب** په اربعة مذاهبو کې وه لرې به په کې لاړو داسې جهلاء دي.

حکایت :

دمتنو د علاقې يو اميريې دلته راغلې وه روژه وه ما زديګر کې راغې ماته يې وويل چې ما ستاسو بيان واوريدلو چې په دې ډلو او جماعتونو دې رد کړې وه او زما ډير خوښ شو ما وويل څه کيدې شي سړي به د وهابيانو سره وران وي دې اوس د جماعة المسلمين نه وه .خو لکه ده وويل چې دې له دې ډلو سره وران دي او دې به مطلق د تفرقې خلاف وي وايي ګوره دې امت کې څلور مذهبونه جوړ شول .او دا هم امت کې تفرقه ده او تفرقه خو د مشرکينو کار دي زه پرې پوهه شوم چې دا خبره يې وکړه چې سړي خو سم سړي نه دي دا خو د جماعة المسلمين نه دي ما ورته وويل ته کوم ځای نه راغلې يې وايي زه له متنو نه راغلې يم.

د متنو د حلقې د جماعة المسلمين امير يمه ما ورته وويل ته اوسه پورې د اختلاف عملي او عقيدوي فرق نه شي کولې دا کوم چې منعه ده دا په عقيده کې اختلاف منع ده په عمل کې خو جرم نه دي نه وايي دا حنفيت شافعيت مالکيت حنبليت دا خو سم ثابت نه دي او دا لويه تفرقه ده چې دين کې جوړه شوې ده نو دغه وخت کې هيڅوک هم راسره نه وه چې ريکاډ مې ترې نه کړې وای مونږ دوه په دوه ناست وو ما ورته وويل چې داسې وکړه چې ته هم ځان ته يو نوم کيږده دعوی کيږده زه به يې هم کيږدم ته يې هم ثابت کړه زه به يې هم ثابت کړم.

ما ورته وويل ته څه شي يې وايي زه مسلم يم ما ورته وويل مسلمان يې وايي نه نا مسلمان نه يم مسلم يمه ډير جاهل دي چې ته ورته ووايي مسلمان يې وايي نه نه مسلمان به نه وايي مسلم به وايي نو هلکه ته خو پختون يې که عرب يې مسلمان د مسلم معنی ده کنه نو دومره احمقان دي وايي نه مسلمان قران او په سنت کې نشته مسلم راغلې دي مسلم يمه خو مسلمان نه يمه ما ورته وويل صرفِ مسلم يې که حنفي مسلم يې وايي نه صرف مسلم يم ما ورته وويل چې ستا دا دعوی شوه چې صرف مسلم يې .

او زما دا دعوی ده چې حنفي مسلم يمه صحيح شوه وايي صحيح ده ما ورته وويل زما دا دعوی ده چې زه حنفي مسلم يمه ﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا﴾ هغه حنيف مسلم وه زه هم حنيف مسلم يمه او ته د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ په دين او په ملة

باندې نه يې ځکه ته خو صرف مسلم يې او هغه حنفي مسلم وه .

دلته سړي توپونه شروع کړه وايي نه هغه خو يو شان حنفيت دي او دا بل شان حنفيت دي ما ورته وويل چې يو شان او بل شان په کې نشته دي زه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ مقلد يمه هغه ته ابو حنيفه ځکه وايي چې هغه لازم الحنفية وه هغه حنفيت چې کوم حنفي ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ وه هيڅ فرق نشته دې همغه حنفيت دي .

بل په کې چا راوړې دي ما ورته وويل چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

انما بعثت على الحنفية . زه مبعوث په حنفيت يم ما ورته وويل زه حنفي مسلم يم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دين يمه او ته خدايه د چا په دين راغلې يې ته خو سره د هغه په دين هم نه يې هله به د هغه په دين شي چې حنفي ځان ته ووايي اوس يې د شرم نه ځان ته حنفي هم نه شو ويلې هغه حنفي يې هم ځان ته نه ويل په ضد کې راغلو ما ورته وويل ته صرف مسلم يې او صرفِ مسلم منافق ته ويل کيږي .

﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ منافقينو ته وايي چې مسلمين يې خو مؤمنين نه يې ما ورته وويل ته د منافقينو نه يې د مسلمينو نه يې خو د مؤمنينو نه ، نه يې .

نو ماته يې وويل چې دا خو به ته د حنفي لپاره ثبوت پيش کړي دا شافعي مالکي او حنبلي دوي د پاره څه دليل دي ما ورته وويل پردي جنګونه زما کور ته مه راوړه څه چيرې د شافعي نه دا تپوس وکړه زه حنفي يم دليل مې درکړو درته .

بيا دوي ته هم حصار نه شو لاړ زما يو دوست وه هغه کره تللې وه سخه زما دوست بيا ما ته وويل چې هغه وويل چې ما له دوي سره دوي ځکه ونه خوړله چې دا روژه ماتي کې دوي غوښې راوړې دا مذبوحې د مشرکينو دي دا زمونږ لپاره حلالې نه دي ځکه مې روټي ورسره ونه خوړله .

او ددوي همدا عقيده هم ده زما يو شاګرد ده هغه ددوي يو مخفي اجتماع ته ورغلي وه ددوي يوه خصوصي اجتماع وه د جماعة المسلمين مشر ډاکټر مسعود چې کوم دي هغه په انګلينډ کې ناست دي ۲۳ کاله کيږي پاکستان کې دا تنظيم شروع دي تر اوسه پورې پاکستان په سترګو هم نه دي ليدلې او د انګلينډ نه دوي ته په ټيليفون باندې تربيه ورکوي

دلته پاکستان کې د هرې ضلعې لپاره دوي يو امير لري .

نو هغه اُمراء يې راغونډ وه په يو خاص ځای کې ددوي يو مخفي شوری وه نو زما دغه شاګرد وويل چې زه هم چا په کې دعوت کړمه ځکه جماعة المسلمين مې رشته دار وه زه يې هم ځان سره بوتلم وايي چې لاړو هلته نو مجلس شروع شو تقارير وشول نو دې کې وايي دوه کسان وه تک تور بدٔ شکله چانتي يې اچولې وي او ګرنيټونه هم ورسره وه وايي دې امير بيان وکړو چې دې مسلک ته زمونږ داسې قربانۍ والا ځوانان په کار دي چې دوي ټول عمر دين لپاره وقف کړې دي او دوي ته چې مونږ کله هم ويلي دي چې فلاني نفر شوټ کړي نو داد شوټ کولو والا دي او ددوي اوصاف يې بيان کړل .

نو زما هغه شاګرد ډير سياسي سړي هم دي هغه وويل وايي چې کله د ډوډې وخت راغې نو زه هغه دوه کسانو ته ورنزدې شوم هغه دوي کې وايي چې قرباني والا وه دوي سره مې نزدې ځان ته ځای برابر کړو نو ډوډې شروع شوه نو دا دوه کسانو وايي ډوډې خوړله سبزي وغيره خوړل او غوښه يې نه خوړله وايي ما ورته وويل چې دا خوري کنه هغه خپله روټي کې هم نه خوړله وايي مونږ ته د انګلينډ نه امير صاحب ويلي چې پاکستان کې لږ د غوښو سره احتياط وکړي ځکه مشرکينو مذبوحې دي دا تاسو ته حلالې نه دي نو دا مونږ نه خورو مونږ باندې امير صاحب بندې کړې دي .

وايي ما ورته وويل چې بيا به يې مونږ هم نه خورو وايي نه نه تاسو يې خوري تاسو ته پرواه نه کوي مونږ باندې ددې شيانو پابندي لګيدلې ده نو دومره پورې هغوي د پاکستان خلکو ته مشرکين وايي او ددوي حلاله مرداره ګڼي ډير احمق خلک دي .

د تفرقې عقيدوي او عملي فرق نه شي کولې او کوم ځای کې چې رد په کومو تفرقو راغلې دي هغې کې دوي هم مبتلاء دي هغه په ائمو و چسپانوي .

بل حديث تفسير دُر منثور جلد ۳ صفحه ۷۱۹ کې ذکر کوي .

واخرج الحاكم عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يأتي على أمتي ما أتى على بني اسرائيل حذو النعل بالنعل .

برابر نعل بالنعل پسې به دوي اقتداء کوي .

حتى لو كان فيهم من نكح أمه علانية كان في أمتي مثله إن بني اسرائيل افترقوا على احدى وسبعين ملة وتفترق أمتي على ثلاث وسبعين ملة كلها في النار الا ملة واحدةً.

بعضې ځای کې (۷۱) راغلي او بعضې ځای کې (۷۲) تطبيق دادی چې (۷۱) عيسويان دي او (۷۲) يهودان دي دواړو نه تعبير په بنو اسرائيلو شوې دي کله به نبي اکرم ﷺ بني اسرائيل کې نصرانيان ياد کړي دي او کله يې يهودان ياد کړې دي.

فقيل له ما الواحدة قال ما انا عليه اليوم و أصحابي اليوم.

چې زه ورباندې يم نن ورځ او زما صحابه ورباندې دي.

ما انا عليه اصحابي معنی د اهلسنت خپله ورکوي ځکه چې نبي عليه السلام په کوم لار روان وي هغې ته سنت وايي ثوک چې د هغې پسې وي اهلسنت دي صحابه چې په کومه لاره روان وي جماعت د صحابوو دي او ثوک چې هغوي پسې ځي اهل الجماعت دي نو اهلسنت والجماعة ددې معنی شوه.

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د **يوم تبيض وجوه وتسود وجوه** په شرحه کې په دې ځای کې د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه روايت را اخيستې دي د **ما انا عليه و اصحابي** ترجمه يې کړې په اهلسنت والجماعة سره د بي بي عائشه رضي الله عنها روايت الملل والنحل را اخيستي دي چا ترې تپوس کړي چې **ما انا عليه واصحابي** ثوک دي وايي **هم اهل السنة والجماعة**.

دا حديث چې کومو کتبو را اخيستي دي حوالې دادې:

مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۱۰۲، سنن الترمذي جلد ۵ صفحه ۲۶ بيروتي چاپ، المعجم الكبير للطبراني جلد ۱۴ صفحه ۳۰۱، السنة للمروزي جلد ۱ صفحه ۲۰.

وزاد وهي الجماعة فاعتصموا بها فاعتصموا بها.

دا الفاظ يې زيات کړي په مرفوع حديث کې.

دا چې زه ورباندې يمه دا جماعة دي يعنې دا اهلسنت والجماعة فرقه ده **فاعتصموا بها فاعتصموا بها** منګولې پرې ولګوي نو دا ترجمه د هغه ايات شوه چې: ﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا﴾ حبل الله دغه عقيده د اهلسنت والجماعة شوه.

المستدرک جلد ۱ صفحه ۱۲۸ دلائل النبوة للبیهقي جلد ٦ صفحه ۵۴۲ شرح السنة جلد ۱ صفحه ۲۱۳ مسند الشامیین جلد ۲ صفحه ۱۰۸.

الاربعون حدیثاً للأجیري جلد ۱ صفحه ۱۵ هغې کې دا الفاظ زیات دي چې دغه (۷۲) جماعات چې دي په دې کې بیا اسلاف لکه محدثینو ابتداء چې وه او بیا د هغې نه بعد متأخرین داسې متأخرین نه دي بلکې هغه هم نهه سوه (۹۰۰) کاله مخکې متقدیمنو نه دي په هغه زمانه د محدثینو کې دا څلور (۴) نزاعات معروف وه نزاع د خوارجو روافضو او د قدریه وو او د مرجئه وو دا ډیر مشهور وه.

نزاع د معطله او د مشبه وو دومره نه وه نو ددې وجې نه اسلاف محدثین دا (۷۲) ډلې تقسیموي په اصولو کې څلورو جماعاتو ته دوي وایي چې اصول ددې څلور دي او هریوه ډله بیا اتلس (۱۸) جماعاته دي نو اتلسو ته چې په څلورو کې ضرب ورکړي نو دوه اویا (۷۲) شوې.

دویمه طریقه د تقسیم داده چې اصول ددې څلور جماعاته دي خو دې کې شیعه ګان شل (۲۰) دي خوارج شل (۲۰) دي دوه نور چې قدریه او مرجئه دي شپاړس (۱٦) شپاړس (۱٦) دي.

دریمه طریقه د تقسیم داده چې اصول ددې فرقو سته (٦) دي او هریوه ډله بیا دولس (۱۲) دولس (۱۲) جماعته ده نو شپږو ته چې په دولسو کې ضرب ورکړي نو دوه اویا (۷۲) ډلې شوې دا درې طریقې د تقسیم شوې دي بیان کړې دي.

او ابن تیمیه چې کوم تقسیم بیان کړې دي چې اصول ددې څلور دي خوارج دي روافض دي او قدریه دي مرجئه دي دا څلور ډلې شوي دې کې شیعه ګان شل (۲۰) جماعته، خوراج شل جماعته او قدریه او مرجئه شپاړس (۱٦) شپاړس (۱٦) جماعته دي.

أجیري دغه عبارت ذکر کړې دي:

حدثنا ابو بکر بن ابي داؤد قال حدثنا المسیب بن واضح قال سمعت یوسف بن اسباط یقول أصول البدع أربع.

نو په نزد د محدثینو او فقهاو اهل بدعت دا دوه اویا (۷۲) ډلې دي دوي ته بدعتیان ویل کیږي چې دوي عقیده نوي پیدا کړه.

الروافض والخوارج والقدرية والمرجئة ثم تتشعب كل فرقة ثماني عشرة طائفة فتلك الثنان وسبعون فرقة . دا طریقه د تقسیم شوه نو (۱۸) (۱۸) (۷۲) فرقې شوې تولې .

یوه بله طریقه چې امام قرطبي رحمه الله د ﴿وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا﴾ په ذیل کې بیان کړې ده او ډیر ښه تفصیل یې کړې دي نو هلته باید مراجعه وشي د زیات تفصیل لپاره .

تفسیر قرطبي جلد ۴ صفحه ۱۶۰ هغه وایي چې اصول د فرقو شپږ دي دوي دې ځای کې له هغه حدیث نه استدلال نه دي کړې چې کوم د ترمذي په دویم جلد کې روایت دي عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي چې نبي علیه السلام چې :

خط النبي صلى الله عليه وسلم خطاً . نبي علیه السلام یو خط اوښکه بیا د هغې یمین طرف ته هم خطوط جوړ کړل او په یسار چپ طرف یې هم ترې خطوط جوړ کړل او وې ویل چې دا صراط مستقیم دي دا ددې صراط مستقیم نه جهنم ته لارې تللې دي دغه خطوط په هر طرف کې ۳ دري دري خطوط وه یو طرف هم دري خطوط وه بل طرف هم دري خطوط وه نو په دغې کې اشاره وه هغه ستة شپږو اصولو د فرقو لره چې دا دري افراطیان دي او دا دري تفریطیان او دغه شپږ جماعته چې علامه قرطبي ذکر کوي هغه وایي :

فقد ظهر لنا من اصول الفرق الحروية والقدرية والجهمية والمرجئة والرافضة والجبرية

دا خوارج دي ځکه او له اجتماع یې په حرورا کې شوې وه بله قدریه بله جهمیة بله مرجئه بله رافضة بله جبریه .

دا اصول یې بیان کړې دي .

وقال بعض اهل العلم اصل الفرق الضالة هذه الفرق الست ، وقد انقسمت كل فرقة منها اثنتي عشرة فرقة فصارت اثنتين وسبعين فرقة . دده تقسیم په دې شکل باندې دي .

او ما هم دده تقسیم پسې ذهاب کړې دي او دده په طریقه تللې یمه اګر که صاحب د الفرق بین الفرق د اسلافو تقسیم را اخلي هغه شیعه ګان شل جماعاتو کې تقسیموي خو دې کې دومره خبره ده چې که تاسو الفرق بین الفرق یا التبصیر وګورې کیدې شي دا فرق او د هغوي اسامي او جماعات تاسو د ۱۵۰ نه هم زیات پیدا کړي ډیر زیات دي نو بیا به شبه درته نه پیدا کیږي چې دا خو (۷۲) وه دا زیات څنګه شول .

هغه دادي چې تول وګوري دوي وايي چې څه جماعات د خوارجو داسې دي چې هغه من فرق المسلمين نه دي يقيني کافر دي هغوي ته غلاط الخوارج وايي هغوي دوي زير بحث دغه ځای کې نه ګرځوي.

نبي اکرم ﷺ په دې کې هغوي ته اشاره نه ده کړې څه فرق د شيعه ګانو دي چې هغوي يقيني کافر دي هغه غلاط الروافض دي هغه په دې دوه اويا (۷۲) جماعاتو کې نه دي داخل دا دوه اويا (۷۲) جماعاته من فرق المسلمين دي دوي باندې اطلاق د کفر تغليظ دي دا حقيقت کې ضال دي مضل دي اهل زيغ دي.

کوم چې دوي کې غلاط دي هغه په دې دوه اويا (۷۲) کې نه دي راغلي نو که تاسو الفرق بين الفرق يا وغيره کې چيرته ډلې زياتې پيدا کړي هغه به دوي هغه (۷۲) نه يا دوي هغه غلاط به يا دوي مثال په طور شيعه ګانو کې يو جماعت دي چې هغوي وايي، وايي جبرائيل عليه السلام خطاء شو دا وحي حضرت علي رضي الله عنه ته راتله دا يې نبي عليه السلام ته يوړه نو دغه جماعت په اتفاق د علماء د نبوت منکر دي د وحي منکر دي نو دا خو د غلاطو نه دي يا بعضې نور جماعات د دوي.

دې کې په خوارجو کې څه جماعات وه چې هغوي د لمسۍ سره د نيکه نکاح جائز ګڼله د وريرې سره يې جائزه ګڼله او د رانګې خورزه او خاله وريره او عمه دا يې په يوه نکاح کې جمع کول جائز ګڼل هغه د غلاطو نه دي هغه دوي دې فرقو کې نه داخلوي.

ددې نه بعد زه يو څو روايات ذکر کوم چې په هغې کې د اتفاق طرف ته رغبت دي او اجتناب دي له اختلافاتو نه او بل ددې خبرې ذکر کوم چې ترڅو عقيده د اهلسنت و الجماعت نه وي نو عمل نه قبليږي که دې (۷۲) جماعاتو کې هر جماعت کې څوک داخل شول اعمال مقبول عند الله نه دي.

دا چې اعمال مقبول عند الله نه دي په کومه معنی قبول دوه معناوی لري په نزد د محدثينو معروف معاني يو قبول دي په معنی د **وقوع الشيء في حيز مرضآت** او دويم قبول دي په معنی د **فراغ الذمة** سره نو چې کوم علماء وايي چې ددوي اعمال مقبول نه دي دا په معنی د فراغ الذمي نه دي چې ګنې ددوي ذمه نه ده فارغه شوې دا په معنی د **وقوع الشيء في حيز**

مرضات الله یعني د الله د اسې قبول نه دي چې د مانځه څه اجر دې دوي ته په اجر ورکول شي یا دوي ته به اجر نه ورکول کیږي .

حج چې کوي روژه نیسي فقط فراغ الذمة به یې راشي خو دا دې چې کوم اُجور دي او کوم رفع د درجاتو پرې راځي هغه به دوي ته نه ورکول کیږي نه شیعه ته نه خارجي ته او نه دې نورو ډلو ته .

مسند الطیالسي جلد ۲ صفحه ۴۸۱ کې روایت ذکر کوي دا مې د دې لپاره دلته ذکر کړو او خاصتاً دې مجاهدین غور پرې وکړي چې د اهلسنتو له خوارجو سره اجماعي اصولو کې مخالفت په څه شي کې دې یو اجماعي اصل دې چې خوارج مرتکب د کبیرې کافر ګڼي او **مخلد في النار** یې ګڼي او اهلسنت یې نه ګڼي ، محدثین دي که فقهاء دي مرتکب د کبائرو کافر نه ګڼي او **مخلد في النار** یې نه ګڼي .

دا هغه اجماعي فرق دې د اهلسنت له خوارجو سره .

دویم تکفیر د مَن عَدی کوي چې څوک د دوي د تنظیم او ډلې نه بهر وي کافر ورته وایي اهلسنت د دې مخالف دي او اهلسنت اهل قبله وو کې هیچا ته هم کافر نه وایي ترڅو چې د غلاطو نه ، نه وي ګرځیدلي لکه هغه کوم ضروریاتو د دین نه انکار راشي ښکاره بعضې جماعات دي امت کې پیدا شوې دي چې هغه زنادقه د دې امت وه له هغې سوا ، او چې کوم دا دوه اویا (۷۲) جماعات دي دوي هم تکفیر نه کوي بلکې تضلیل یې کوي .

بل د اجماعي عقائدو نه داده چې اهلسنت د عادل بادشاه اطاعت لازم ګڼي او د جائر او ظالم بادشاه اطاعت هم لازم ګڼي د ظالم بادشاه به داسې اطاعت کوي لکه څنګه چې د عادل بادشاه کوي صرف د کافر په اطاعت نه کوي خوراج چې اجماعي اصولو کې له اهلسنت سره مخالف دي خوارج وایي چې د عادل بادشاه به اطاعت کوي او د جائر به داسې مقابله کوي لکه د کافر بادشاه چې کوي .

اوس د مجاهدینو په صفونو کې ډیر ځایونو کې خوارج د ننه شوې دي او هغوي د کافر بادشاه او د جائر بادشاه فرق نه شي کولې د پاکستان بادشاه جائر دي کافر نه دي او د جائر بادشاه مقابله کې جهاد کول د اهلسنت عقیده نه ده داد خوارجو عقیده ده او دا بنیادي فرق

دي د اهلسنت له خوارجو سره.

او کوم مجاهدين چې په دغه سرگرمي کې راغلې دي يا د لا علمي له وجې نه دي او يا علماء دي خو د علم کلام نه خبر نه دي خپل اصول ورته نه دي معلوم چې اهلسنت چا ته وايي دا هغه خوارجو ولو بول زمونږ احناف علماء ځان يې پوهه نه کړل په ځای د کافر د مقابلې د ظالم مقابلې ته ودرول ددې نيکه ثمره نه وي داد اغيارو خارجيانو لاسونه وي مجاهدين او خاصکر د طالبانو وينه خو گرمه ده هغوي ته د جهاد ټکي وايه نو ريې بيخي په اصولو خبره وه مه درسره به منډې وهي.

نو جهاد خپلو اصولو کې کوي بې گناه مسلمانان وژل په مسجدونو کې بمونه خلاصول داد جهاد نوم نه دي داد جهاد بدنامول دي او چې څوک هم دا کوي عام مسلمانان وژني نو دغه سړي هسې د جهاد په نوم به خارجي گوڼاگي وي او د مجاهدينو صف به بدناموي.

او مجاهدينو ته هم دا په کار ده چې په يو ځای کې يو بم خلاص شي ودې گوري چې هغلته عام مسلمانان څومره مړه شوې دي که مسلمانان په کې ډير مړه شوي وي او ددوي له مجاهد نه غلطي شوې وي نو دوي ته نه دي په کار چې د هغې ذمه داري قبوله کړي چې گڼې دا توره مونږ کړې ده څه توره دې کړي مسلمانان دې مړه کړل نو بعضې شيانو دوي ته قبلول نه وي په کار بس وه دې وايي چې زمونږ له مجاهد نه غلطي شوې ده وژل يې کافران مسلمانان ترې مړه شول نو ته خو يې بيا مه قبلوه چې دا مونږ کړې ده اعلاناً په ريډيو وايي چې ددې ذمه داري مونږ قبوله کړه.

دا بنيادي فرقونه دي او دا ما ددې لپاره ذکر کړي ترڅو د مجاهدينو سترگې خلاصې شي ترڅو خپل صف نه خوارج لرې کړي او که خامخا د ضرورت پر بناء باندې وخت داسې راغلې وي چې يا د نفرو کمبودي ده يا د پيسو کمي وي او مجاهدينو ځای ورکړو وهابيانو ته نو چې ځای يې ورکړو نو په دې شکل نه چې د وهابيانو اصول را واخلي نه خپل اصول به په هغوي چسپانوي.

زمونږ اصول څه شي دي د ظالم بادشاه مقابله کې به مونږ قيام نه کوو او خوراج وايي چې د ظالم بادشاه مقابله کې به قيام کوو دا هغه اجماعي اصل او فرق دي سره نو چې دا فرق

دي نو اصلي سالک د تحریک اسلامي هغه به د مسلمان بادشاه مقابله کې قیام نه کوي بلکې د کافر بادشاه مقابله کې به قیام کوي .

نو حدیث د مسند الطیالسي جلد ۲ صفحه ۴۸۱ :

حدثنا أبو داؤد قال حدثنا أبان عن يحيى بن أبي كثير عن زيد بن سلام عن أبي سلام عن الحارث قال قال النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و أنا أمركم بخمس .

د پنځه شیانو امر درته کوم :

امرني الله عزوجل بهن . ماته زما رب کریم په هغې امر کړې دي .

الجماعة . یو به د جماعت اهلسنت نه ، نه جدا کیږي دا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منعه کنایة او اشاره کوي چې د اهلسنت و الجماعت عقیده به نه پرېږدي .

والسمع . د علماء اقوال به اوري . والطاعة . د بادشاهانو به اطاعت کوي .

والهجرة . تکلیف دربانديې راغې کافر دربانديې مسلط شو هجرت به کوي .

والجهاد في سبيل الله . او جهاد في سبيل الله به کوي .

دا والسمع ، سمع د اقوالو د علماو ده او والطاعة طاعت د أمراء ده دا دواړه ډیرې ضروري خبرې دي خوارج ددې زمانې چې وهابیان او اهل حدیث دي هغوي د دغه بنیادي اصل مخالفت کړې دي سمع د اقوال الفقهاء نه کوي وایي د چا خبرې اوریدو ته څه ضرورت دي قرآن او حدیث نه إخذ کوه او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سمعه لازمه ګڼې په امت باندې چې تاسو به اقوال د فقهاء اوري طاعت د امراء به کوي بیا فرمایي :

فمن فارق الجماعة قيد شبر . څوک چې د اهلسنت و الجماعة د ډلې نه یو ولویشت هم وځي جدا شي .

فقد خلع ربقة الاسلام او الايمان من عنقه . راوي شک کوي .

د اسلام یا د ایمان کړی یې د څټ نه بهر شوه .

او الايمان من رأسه . یا یې دا الفاظ ویلي : الا ان يراجع . مګر چې رجوع وکړي .

دارنګې المحرر الوجيز جلد ٦ صفحه ۳۳۴ چې داد محاربې تصنیف دي په ۵۴۲ کې

وفات دي :

وقال الحسن : حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

ادركت ثلاثمائة من الصحابه . دري سوه (۳۰۰) صحابو و ملاقات مې کړې دي .

منهم سبعون بدريا . اويا (۷۰) بدري صحابوو سره مې ملاقات کړې دي .

كلهم يحدثني . ټولو راته حديث بيان کړې دي .

ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال من فارق الجماعة قيد شبر فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه . څټ نه يې د اسلام کړئ وځي .

فالجماعة . و اينې جماعة څه ته وايي .

ان لا تسبوا الصحابة .

اجماعي اصول هغه زمانه کې داوه ځکه هلته خوارج او روافض وه خوارجو حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته کنځل کول او روافضو حضرت معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته کنځل کول نو حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي جماعت د اهلسنت داده :

ان لا تسبوا الصحابة . صحابوو ته به کنځل نه کوي .

ولا تماروا في دين الله . د خداى په دين کې به جګړې نه کوي .

عقيده کې به اختلاف نه کوي دين الله نه مراد عقيده ده او ممارات مخاصمه ده جګړه به په عقيده کې نه کوي .

ولا تكفروا أحداً من أهل التوحيد بذنب . مسلمان به د ګناه په وجه نه کافر کوي .

همدغه عبارت الكشف والبيان عن تفسير القرآن را اخيستي جلد ۹ صفحه ۲۸۲، او تفسير الثعالبي را اخيستي جلد ۴ صفحه ۷۵ کې .

غريب الحديث لابن قتيبة جلد ۱ صفحه ۳۱۸ کې بل روايت ذکر کوي :

ان الله لم يرض بالوحدانية . په ځانو الي الله تعالى نه راضي کيږي خداى تعالى د جماعت سره دي له ځانته والي سره نه دي چې سړي جمع غفيره پريږدي او ځان له بيله ډله جوړه کړي .

وماكان الله ليجمع امتي على ضلالة بل يد الله عليهم فمن تخلف عن صلاتنا وطعن على ائمتنا فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه .

څوک چې ځان ته شو زمونږ د امامانو پسې مونځ پريخودو زمونږ په ائمو يې طعنه شروع کړه د اسلام کړئ څټ نه بهر شوله .

شرار امتي الوحداني . زما په امت کې بد سړي هغه ځانته ډلي والا دي .

المعجب بدينه . هغه چې په خپل دين ډير خوشحال دي .

والمرائي بعمله . هغه چې رياکار په عمل دي .

المخاصم بحجته . هغه چې دليل باز او جګړه مار دي .

دا زما امت کې شري سړي دي . او بيا ليکي :

من عمل لله في الجماعة . څوک چې اهلسنت والجماعة کې يو عمل کوي .

تقبل الله منه . الله به يې ترې قبول کړي .

وان أخطأ . او که خطا شو .

غفر الله له . بخښنه به ورته وکړي .

ومن عمل لله في الفرقة . که چا د اهلسنت نه تفرقه وکړه او د خدای د رضاء لپاره يې عمل کوه .

فأصاب . حق ته هم ورسيده .

لم يتقبل الله منه . بيا يې هم ترې خدای تعالی نه قبلوي .

فان أخطأ . او که لا پسې خطاء شو .

فليتبوأ مقعده من النار . بيا خو دې جهنم کې ټيکانه تياره کړي ځان ته .

که جماعت د اهلسنت سره وي حق ته رسيدلي خو اجر دي که نه رسيدلې خطاء وي بخښنه درته کيږي ، که ددې نه أحداني وي په تفرقه کې واقع شوې که حق ته په کې ورسيدلي اجر نشته او که ونه رسيدلي جهنم دې ټيکانه ده .

ان أمتي لا تجمع على ضلالة فأذا رأيتم الاختلاف . كله مو چې اختلاف وليدلو .

فعليكم بالسواد الأعظم . تاسو اتباع د سواد اعظم وكړي جمع غفيره يادوي .

وليست كل جماعة اجتمعت هي في هذه السواد الأعظم . هره ډله چې راغونده شي اجتماع جوړه كړي دا وايي سواد اعظم نه دي .

انما السواد الأعظم جملة الناس . سواد اعظم ټول خلک دي .

التي اجتمعت على طاعة السلطان . هغه چې د بادشاه په اطاعت راغونه وي .

براًكان او فاجراً . نيک بادشاه وي كه فاجر بادشاه وي .

ما اقام الصلواة . څو چې مونځ كوي ، په مانځه چا وليد چې مونځ كوه بادشاه دي او نور ظالم فاجر دي نو د هغه اتباع به كوي نيک وي كه فاجر .

المعجم الكبير د طبراني جلد ۱۰ صفحه ۲۰۸ :

عن سعيد بن جبير عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من عمل لله في الجماعة فأصاب قبل الله منه وان اخطأ غفر له ومن عمل يبتغي الفُرْقَةَ فأصاب لم يتقبل الله منه وان اخطأ فليتبوأ مقعده من النار .

دا صرف ترغيبات وه اتباع د اهلسنت والجماعة لره او اجتناب وه ترهيبات وه د تفرقې نه چې څه خير په كې نشته دي دا لوي نوم د اهل سنت والجماعة لره چې جامع دي اربعة مذاهب لره او جامع دي اربعة طرق د صوفيوو لره او فرقتين د اهل عقائدو لره .

الفرق بين الفرق امام عبد القاهر بن طاهر بن محمد بغدادي چې كوم فرق د اهلسنت ياد كړې دي نو په هغې كې دغه جماعت ټول راغونه كړي صفحه ۲۷۶ كې باب لګوي : في بيان اصناف اهل السنة والجماعة . د اهل سنت والجماعت د ډلو څومره صنفونه دي او څومره نوعې دي :

صنف منهم احاطوا علماً بأبواب التوحيد والنبوة واحكام الوعد والوعيد والثواب والعقاب وشروط الاجتهاد والامامة والزعامة وسلكوا في هذا النوع من العلم طرق الصفاتية من المتكلمين

الذين تبرأوا من التشبيه والتعطيل.

اول جماعت د متكلمينو يادوي خو هغه متكلمين چې د تعطيل او تشبيه نه پاک دي او بيزار دي مشبهه معطله نه وي وايي داد اهلسنت نه دي.

والصنف الثاني منهم ائمة الفقه من فريقي الرأي والحديث.

څه محدثين دي او څه مجتهدين د فقه دي دا دواړه جماعت دي نو بيا په دغه فقهاء او محدثينو کې به هغه مراد وي چې: تبرأوا من القدر والاعتزال چې نه قدريه وي نه معتزله وي.

نخښنه به يې دا وي چې رؤية د خداى تعالى په ورځ د قيامت کې دا به مني.

من غير تشبيه ولا تعطيل. بغير د تشبيه او تعطيل نه حشر د قبورو به مني مع إثبات السؤال في القبر به مني ومع إثبات الحوض والصراط به مني د شفاعت به قائل وي دوام د نعيم الجنة به قائل وي دوام د عذاب النار على الكفرة به قائل وي.

ګورئ دوام على الكفرة او دوام د نار ابن تيميه او ابن قيم دې کې مخالف وه قول به کوي بإمامة ابي بكر وعمر وعثمان وعلي رضي الله عنهم.

واحسنوا الثناء على السلف الصالح من الأمة.

سلفو پسې به بد نه وايي من الامة.

ورأوا وجوب استنباط أحكام الشريعة من القرآن والسنة ومن إجماع الصحابة.

د استنباط د احكامو ددې اصولو نه به قائل وي.

جواز المسح على الخفين به قائل وي ووقوع الطلاق الثلاث دري طلاقه چې په يو وخت واچول شي دا مغلظ ګرځيږي ددې به قائل وي.

ننن صبا وهابيان يې نه دي قائل او دا په څلورو مذهبونو کې د هيچا مذهب هم نه دي صرف د وهابيانو دي دې ليکي چې فقهاء محدثين اهل حديث هغه به د اهلسنت نه وي چې دې د دريو طلاقو قائل وي.

ورأوا وجوب طاعة السلطان. د بادشاه د طاعت به قائل وي د هغه قانون به مني فيما ليس

بمعصية .

نو اوس وايي :

ويدخل في هذه الجماعة أصحاب مالك والشافعي والأوزاعي والثوري وأبي حنيفة وابن أبي ليلى وأصحاب أبي ثور وأصحاب أحمد بن حنبل وأهل الظاهر .

مراد له اهل الظاهر نه داؤد ظاهري او ابن حزم الظاهري دي چې هغه دواړه د اهل زيغ نه ، نه وه اهل سنت وه خو اهل ظواهر وه .

(۳) دريمه ډله د اهلسنت والجماعة وايي محدثين د اسماء الرجال وه .

(۴) څلورمه ډله هغه علماء او ائمه د ادبو او نحوې چې عقيده يې د اهل سنت وي .

(۵) پنځمه ډله صاحبان د قراءات سبعه وو دي .

(٦) شپږمه ډله الزهاد الصوفية . زاهدين صوفيه دي .

الذين أبصروا فأقصروا واختبروا فاعتبروا ورضوا بالمقدور وقنعوا بالميسور وعلموا أن السمع والبصر والفؤاد كل اولئك مسؤول عن الخير والشر .

اوږد بيان يې دې کې کړې دي په آخره کې وايي :

والاعراض عن الاعتراض : ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء والله ذو الفضل العظيم .

او مه ډله د اهل سنت : قوم مرابطون في ثغور المسلمين في وجوه الكفرة .

هغه دي چې د کافر مقابله کې په اول خط کې په جهاد باندې بوخت وي وايي داد اهلسنت يو جماعت دي .

اتم جماعت : عامة البلدان التي غلب فيها شعار اهل السنة دون عامة البقاع التي ظهر فيه شعار اهل الاهواء الضالة .

عام مسلمانان د ملکونو شول چې هغلته د اهل سنت شعارات ښکاره وي نه د اهل زيغ شعارات .

نو خلاصه دا چې اهل سنت دغه جماعات دي چې کوم ائمه د تفسير دي ائمه د عقائدو دي ، نحوې دي او صوفيه دي فقهاء دي او محدثين دي .

الفرق بين الفرق جلد ۱ صفحه ۵۵ مقالات اجماعيه د خوارجو ذكر كوي :

و قد اختلفوا فيما يجمع الخوارج على افتراق مذاهبها . ددوي مذاهب خپلو كې مختلف دي ډيرې ډلې دي خو هغه چې دوي پرې راغونډ دي هغه دادی :

اكفار علي وعثمان والحكمين واصحاب الجمل . ددې صحابوو او د معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وخت كې چې كوم دوه حكمين وه هغه جنګ صفين كې اصحاب جمل د عائشې بي بي هغوي.

وكل من رضى بتحكيم الحكمين . ددوي د كفر قائل دي .

والاكفار وبارتكاب الذنوب . څوک چې ګناه كوي وايي كافر دي .

ووجوب الخروج على الامام الجائر . او وايي چې د ظالم بادشاه مقابله كې خروج واجب دي دا اجماعي عقائد د خوارجو دي چې چيرته خارجي وي دا عقيده به يې وي چې د ظالم بادشاه مقابله كې به پاڅيږي اهلسنت والجماعة وايي چې د كافر بادشاه مقابله كې به پاڅيږي د ظالم بادشاه مقابله كې به نه پاڅيږي ځكه نيكه ثمره يې نشته ده چې پاڅيدلي .

ددغې عبارت لپاره زه درته د حاشيه رد المختار على در المختار عبارت ذكر كوم چې اجماعي عقائد يې دا دی چې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حكمين او اصحاب جمل تكفير به كوي نو ددغه عبارت جواب علامه شامي رَحِمَهُ اللهُ كړې دي چې داد هغه زمانې خوراج داسې وه هره زمانه كې خوارج داسې نه دي چې هغه تكفير د صحابوو كوي .

حاشيه رد المختار جلد ۴ صفحه ۲۶۲ هلته عنوان داده :

مطلب في اتباع عبد الوهاب الخوارج في زماننا .

د محمد بن عبد الوهاب تابعدارن چې خوارج دي زمونږ په زمانه كې د هغوي تفصيل .

ويكفرون أصحاب نبينا ، علمت . تاته معلومه ده .

ان هذا غير شرط في مسمى الخوارج . دا شرط نه دي په تسميه د خوارجو كې چې خامخا به خوارج تكفير د صحابوو كوي .

بل هو بيان لمن خرجوا على سيدنا علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . هغه زمانه كې چې خروج كړې وه د

هغوي دا عقيده وه.

والا فيكفي فيهم اعتقادهم كفر من خرجوا عليه . دومره كافي ده چې ددوي مقابله کې څوک وي هغوي ته به كافر وايي.

كما وقع في زماننا . لکه زمونږ زمانه کې دغه مرض واقع دي.

في اتباع عبدالوهاب . د محمد بن عبد الوهاب يادوي.

الذين خرجوا من نجد وتغلبوا على الحرمين . او په حرمينو غالب شو.

وكانوا ينتحلون مذهب الحنابلة . وه دوي چې ځان ته به يې حنابله وويل.

لكنهم اعتقدوا . مګر عقيده ددوي دا وه.

انهم هم المسلمون وأن من خالف اعتقادهم مشركون . چې هم دوي مسلمانان دي او ددوي مخالف په عقيده کې مشرکان دي.

واستباحوا بذلك . په دغه عقيده دوي ځان ته روا کړې وه.

قتل اهل السنة وقتل علمائهم حتى كسر الله تعالى شوكتهم . تر دې چې مات کړو خداى تعالى قوت ددوي.

وخرب بلادهم وظفر بهم . خراب شول ښارونه ددوي او کامياب شول په دوي.

عساكر المسلمين . عساكر د مسلمينو.

عام ثلاث وثلاثين ومائتين والف . ۱۲۳۳ سنه کې دا يو عظيم جنګ له دوي سره تير شوې دي.

حكايت :

۴۰۰ کاله وړاندې د عربو بادشاه ابوسعود نوميده او د برطانيه نه يو جاسوس راغلو په نوم د عثمان باندې دا عثمان ۲۴ کاله په عربو کې تير کړل او داسې عربي دده زده وه چې هيچا هم دا ګمان نه کوه چې دا به انګريز وي خو وه برطانوي او بيا ده تلاش وکړو چې د عربې د زده کړي او د علم د زده کړې نه وروسته د يوې غټې کورنې سړي يو عالم لاس کې ونيسم نو

د محمد پلار عبدالوهاب په فقه حنبلي کې ډیر معروف وه او ده د وه مدرسې لرلي یوه یې په سرحد د شام باندې په عربو کې عظیمه مدرسه وه او بله مدرسه یې په ریاض کې وه خو دې د معروفو علماو نه وه او دده دا ځوي چې وه محمد لږلږ سبقونه یې ویلي وه پوخ ملا نه وه خو ډیر سخت لوچک وه ډاکې او غلاګانې به یې کولې نو پلار یې مجبور شو چې دا ځوي علم نه کوي نو ده ته یې وویل چې له درزي خیاط سره کینه هغه به درزیتوب نه کولو خو دده درزي ډکان ته به تلو راتلو.

دا عثمان چې وه دا جاسوس ده تلاش شروع کړو چې زه په څه شکل باندې د عبدالوهاب کورني کې سړي پیدا کړم دا معروف دي خلک یې مني نو دغه دکان ته به دا محمد راتللو نو دا عثمان هم دلته رابلد شو دده درزي دکان ته به عثمان هم راتلو او محمد به هم راتلو له دې ځای نه دده برطانوي جاسوس سره دده اندیوالي شروع شوه بیا د هغې نه بعد په مرور د وخت سره دده پلار چې کله وفات کیږي خو دې خت کې محمد دې ته اماده کړې وه چې ډیرو علماء ته به یې کافر ویلي ځای پر ځای پرچار شروع کړې وه نو پلار یې دومره له ده نه تنګ شو چې دا نجد یې پریښودلو او هغه بلې مدرسې ته سرحداتو د شام ته لاړلو.

په دې آخري ورځو کې شیخ زین د حلان ۱۲۰ کاله وړاندې د مکي مکرمې خطیب وه هغه په تاریخ مکه کې دا اشاره کړې ده چې هغه رسائل ما پیدا کړي دي چې کوم په مرض موت آخري وخت کې دې عبدالوهاب د خپل ځوي په رد باندې لیکلي دي هغه بیا یو څو پاڼې ولیکلي عربو ته چې زه ضعیف یمه او درنه څمه خو زما دا ځوي ګمراه دي ډه پسې لاړ نه شي او زما له وجې نه دده اتباع څوک ونه کړي.

نو هغه پاڼو ته د حلان اشاره کړې ده بیا یې پلار وفات شو او د هغه پلار د نوم او مدرسې نه محمد استفاده وکړه او څه رسائل یې ولیکل په مشوره د عثمان باندې او په هغې کې ډیرو زیاتو خلکو ته د کفر نسبتونه وه په مرور د وخت سره دوي دا کوشش شروع کړو چې دوي د سعودي بادشاه ابي سعود نومیده چې له ده سره دا عثمان ملاقات وکړي په واسطه د محمد باندې او د سعودي بادشاهي په برطانیه خرڅه شي خو له دغه وخت سره د عثماني خلافت ډیر نوم او زور وه.

دا کارونه به ډیر مخفي کیدل کفارو ته به ښکاره چا لاس نه شو ورکولی او په ټوله دنیا کې د مسلمانانو نوم وه برطانیه او نور کفار په ډار کې وه دا روم چې یادیږي سپین داد مسلمانانو دار الخلافة وه.

اروپا ټوله په لاس د مسلمانانو فتحه شوې وه لږ څه پاتې وه نو دې چې راغې ددغلته اوله کاروایي دا وکړه چې په ریاض کې د زید ابن الخطاب د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورور وه د هغه د قبر په سر ګنبط وه نو دې عثمان ته محمد وویل چې زه دا ګنبط ورانومه هغه ورته وویل چې د وخت ګورنر به دې مخالف شي دا زما او ستا تحریک پټ روان دي دا مه کوه وایي نه د شپي کولنګ او بیلچه را واخیستله.

نو د زید بن خطاب دا قبر یې وران کړو چې دا یې وران کړو ګورنر ته اطلاع لاړه جلب پسې خپور شو چې محمد ونیسي محمد سره د عثمان وتښتیده مدینې منورې ته لاړل ددې مینځ کې تقریباً ۱۸۰۰ کلو میټره فاصله ده، مدینې منورې ته چې لاړ هلته وه نو هلته خلکو روضه کې سلام کولو نو محمد عثمان ته وویل چې دا خلک څه کوي هغه ورته وویل چې تاسو شیخ یاستي عالم یاستي ستا خیال څه دي چې دا خلک څه کوي؟ هغه ورته وویل:

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ سورة اعراف آیت: ۱۳۹.

هغه د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ چې:

﴿فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡ﴾.

العیاذ بالله د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روضې نه یې هغه بوت دغوېي جوړ کړو او دا زائرینو ته یې د هغه مشرکینو نسبت وکړو.

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾

بیا دلته ددوي له ابي سعود سره ملاقات وشو چې ملاقات وشو نو په دغه ملاقات مخفي کې چې دري کسیز ملاقات وه ابي سعود یې خپل نظر ته واړوه دا ضرور نه ده چې خامخا به ددوي عقیدې ته اوښتې وي خو هغه د عثمان په لاس چې څه مواد د برطانیه وه هغه خبره سره وشوله.

ددوي تاریخ زه تاسو ته دې ځای پورې بیانوم ددوي تاریخ د کتاب التوحید مقدمه د بدخشاني یو وهابي په فارسي کې لیکلي ده په هغې کې دا را اخلي چې د زید بن الخطاب قبر

یې له خاورو سره خاورې کړو.

اولین مجاهدات شیخ نجدي دا یې عنوان دي اول جهاد وای د شیخ نجدي څه وه وایي د زید بن الخطاب قبر یې وران کړو لکه دا قصه ددوي په کتاب کې موجود ده بیا یې دا هم را اخیستي چې له ابي سعود سره ملاقات چې کیدلو نو دري په درې ملاقات وشو.

﴿إِنَّ هَٰؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾

دا دعوی ددوي کتاب کړې ده بدخشاني وهابي د شیخ نجدي حالات ذکر کړې دي په مقدمه د کتاب التوحید کې دا خبره هم کوي چې کله ددوي له ابي سعود سره ملاقات وشو دوي ورته وویل چې مونږ تاته یو راز ښکاره کوو په دې شرط یې ښکاره کوو چې ته مونږ ته حلف قسم وکړه نو بیا به درته راز ښکاره کړو وایي ابي سعود ورته قسم وکړو نو بیا وایي دوي ورته راز ښکاره کړو او رازیې نور نه دي ویلي چې دا څه راز دي که دا راز د جاسوسي نه وي او سعودي ملک په برطانیه خرخول نه وي او اسلامي دعوت وي نو اسلامي دعوت باندې څوک چا ته قسم ورکوي چې هلکه حال مه وایه قسم درکوم در ته خو دا هغه څه پټ راز وه ددوي په مینځ کې چې عثمان راوړي وه ابي سعود یې پرې خرڅ کړو.

بیا په مرور د وخت سره د شیخ نجدي قضاء راغله دا بي سعود بادشاهي وه او علماء د اهلسنت یې په شهادت ورسول ددوي دا دوره څه کم دوه سوه (۲۰۰) کالو پورې وچلید له لکه علامه شامي چې ورته اشاره کوي تقریبا څه د پاسه زر (۱۰۰۰) سنې نه شروع شوه او ۱۲۳۳ سنې پورې بیا عثماني خلافت عراق ته امر وکړو چې ته پرې جنګ شروع کړه عراق یو څه جنګونه وکړل خو ناکام شو.

بیا دویم ځل مصر عراق او کویت دا دري شریک کړل سره دا علامه شامي چې اشاره کوي ورته په ۱۲۳۳سنه کې پرې عساکر د مسلمینو کامیاب شول نو دا عساکر د مصر عراق او کویت دي په قومنده د عثماني خلافت باندې بیا په دې وهابیانو جنګ شوې دي او حرمین یې ترې صفا کړي او خالي کړي دي بیا له دې نه وروسته تقریبا ۱۲۰ کاله د ترکانو خلافت راغې خلافت عثماني په سعودي باندې دا آبادي د حرمینو داد هغې آثار دي او په ریاض کې زیاته ابادي د ترکانو اوس هم ده ډیر ترکان په عربو کې اوس هم میشت دي.

ریاض ته چې زه تللې وم زیاتو خلکو به چې ما به خبرې ورسره کولې وای زه ترکي یمه

هلته پاتې شوي دي اوسه پورې شته دي نن نه اتيا (۸۰) کاله مخکې دا شاه عبد العزيز چې وه داد هغه ابي سعود لمسي وه او دا عبد الله بن باز چې وه د نجدي لمسي وه په ټلويزون ددوي خطبه راځي د عرفات خطبې ته عبد العظيم بن عبد الله بن باز د عبد الله بن باز ځوي اوس راولي سپين ږيري دي په سترګو ړوند دي هغه راولي اکثر بيان ته نو تلويزون باندې اکثره همدغه عبد العظيم بن عبد الله بن باز آلُ شيخ داده سره چې راځي الُ شيخ نه مراد شيخ نجدي دي داد هغه شيخ اولاد دي .

برطانيه قانون دا ايښې دي چې غټه قرباني اسلامي ملکونو کې مونږ ته اولين ابو سعود کړې ده او په علماء کې غټه قرباني شيخ نجدي کړې ده په سعودي چې بادشاه راځي دا به د ابو سعود له اولاد نه وي نو داد شاه عبد العزيز خاندان داد ابو سعود اولاد دي دا سعودي هم ددوي په نوم يادېږي هغې نه مخکې به دې ته جزيرة العرب ويل کيدله .

او دا کوم چې قاضي القضاة يې د شيخ نجدي له اولاد نه راځي دا سلسله په دغه شکل اوس هم جاري ده نو اتيا (۸۰) کاله وړاندې دا شاه عبد العزيز چې ده دا په کويت کې وه سعودي نه تښتيدلې وه او له ده سره ډير ډاکوان وه غلاګانې به يې کولې چې کله عثماني خلافت په کمزوري کيدو شو برطانويانو بيا د هغه ابي سعود لمسي عبد العزيز ته لاس ورکړو او هغه ته يې وويل چې راځه د ډاکو پر ځای جهاد شروع کړه .

د ترکانو په خلاف يې را پورته کړو ۲۳ کاله بيا شاه عبد العزيز ترکانو سره جنګ کړې دي داد سعودي د ۱۱ جماعت کې د تاريخ چې کوم سبق ويل کيږي په مکتبونو سکولونو کې هغې کې شته ما له ځان سره دا تاريخ راوړې دي ددوي د تاريخ قيصه درته شروع کومه چې دوي خپلو طالبانو او سکوليانو ته کوم تاريخ وايي نو دوي تاريخ د محمد مصطفی ﷺ نه بيا نوي بلکې تاريخ د شاه عبد العزيز بيانوي ورته هلته په تاريخ کې دا را اخلي او په هغې کې راځي فتحه مکه فتحه مدينه فتحه د طائف دا چې دوي کوم جنګونه له ترکانو سره کړې دي او مکه يې فتحه کړې مدينه او طائف يې فتحه کړې هغه ددوي غزوات دي نو هغه ما ټول مطالعه کړو اول نه تر آخره پورې .

خو نڅوړ دادی چې دوي ۲۳ کاله بيا جنګ کړې دي کله يې چې رياض و نيوه او حرمين د ترکانو په لاس کې وه نو ۱۳ کاله بيا هم جنګ پاتې شو سرحداتو کې جنګ وه حرمين له

ترکانو سره وه او نور د شاه عبدالعزیز تر واک لاندې وه نو بیا هغه وه چې ترکان آخر مات شول په کوشش د برطانیه باندې او دوي په دغه علاقو غالب شول نو دا دویمه دوره ده چې په حرمینو دوي بیا راغلي دي مخکني دوره یې څه کم دوه سوه (۲۰۰) کاله تیره کړې ده خو د هغې دوري او د اوسني دورې ترمینځ تقریباً ۱۲۰ کاله ترکانو حکومت کړې ده او د دوي هغه نظام یې ختم کړي.

شامي دغې ته اشاره کوي:

حتی کسر الله تعالی شوکتهم وخرب بلادهم وظفر بهم عساکر المسلمین.

داد مصر او عراق مسلمانان دي.

عام ثلاث وثلاثین ومائتین والف.

بیا وروسته ذکر کوي.

وحکم الخوارج عند جمهور الفقهاء والمحدثین حکم البغاة وذهب بعض المحدثین الی کفرهم. بعضې محدثین ورته کافر وایي.

اکثر محدثین وایي چې جهاد پرې هله کیږي چې دوي د بادشاه مقابله کې ودریږي نو بیا یې حکم د بغاتو دې وژلې شي او که مقابلې ته پورته شوې نه وي بیا یې حکم د قتل نه دي داد احنافو نه وه کوم عبارت چې ما تاسو ته د شامي ذکر کړو.

زمونږ ډیر احناف ورونه ما ته متشدد وایي زما څه تشدد دي زه خو هره خبره الحمد لله دلیل سره کومه زه خو ناقل د عباراتو یمه مانه څه تشدد شوې دي بس یا کتابونه نه کتل دي یا یې د ایمان کمزوري ده ما ته متشدد وایي.

د نمک منډي یو شیخ ته ورغلم څه مسئله وه زه یې نه پیژندلم ما سره یو طالب هم وه هغه راته وویل چې ځان ورته مه ښایه ما ورته وویل صحیح ده زما خپل څه ضرورت وه یوه فقهي جزي مسئله وه چې کیناستلو وایي ستا نوم څه دي زړه کې مې وویل ځه اوس به دروغ ورته وایي خپل نوم مې ورته واخیستنو بیا یې ښه په عزت کینولم.

وایي چا راته ویلي دي چې ډیر متشدد یې ما ورته وویل چې کیسه دي اوریدلې که چا درته ویلي دي وایي نه طالبانو راته حکایت کړې دي ما ورته وویل چې طالبان د نن

زماني خو حاشيو ته ناست وي په هر متن حاشيه لګوي ما ورته وويل چې دا خو اوزګار دي که کیسته دې اوريدلې وي صحيح ده وايي نه طالبانو نه جنګي چرګان مه جوړوي او دا ښه کار نه دي بس زه غلي شو مه او خپله مسئله مې ترې حل کړه.

نو له ده سره مکتبه کې شامي پرته وه ما ورته وويل شيخ صاحب دا شامي زمونږ فقه حنفي کې څنګه کتاب دی وايي چې دا خو ډير ښه مضبوط کتاب دي ما وويل څه تفردات کمزورې خبرې لري وايي نه نه چې مفتي وي او شامي نه لري فتوی دې وايي پريږده دي سخت صفت يې د شامي شروع کړوه.

ده خو اوس هغه خبره له ياده وتلې وه چې ما خو ده ته يوه خبره کړې وه ما ورته وويل چې علامه شامي ۳ جلد کې يوه خبره کړې ده د محمد بن عبد الوهاب نجدي دا عبارت مې ورته ذکر کړو چې دا خوارج دي او د خوارجو باره کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي :

لن أدركتهم لأقتلنهم قتل عاد.

که ما را لاندې کړه دا زمانه زه يې د عاديانو غوندې وژنم.

بس ده سره نوره بله خبره نه وه ما ته وايي وايي چې ته د خوارجو مقابله کوي تا نه خو غټ مجاهد بل نشته دي، بيا يې ما ته وويل چې تر ډير وخته زما شک وه چې دا به خوارج نه وي نو د هغه شيخ صاحب دې يوسف آباد کې د رستمي سره خوا کې مسجد دي وايي دلته د محرم ۱۰ ورځې شيعه ګان چې کومې کارنامې د حسنينو بيانوي وايي دلته ۱۰ ورځې رستمي په حجرو کې د يزيد کارنامې بيانوي وايي ما ته يې څو ځل دعوتونه راکړه زه ورنغلم.

وايي يو ځل مې طالب وليږلو چې راغې هغه وويل چې ټول بيان د يزيد په صفاتو کيدلو وايي زه يقين ته ورسيدلمه چې وهابيان خوارج دي.

د نمک منډي شيخ صاحب دا خبره ما ته وکړه وايي دا خو همغه يزيديان دي بيا يې ما ته د علامه سندي عبارت وويل ما خو ليدلې وه وايي دا خو د ديوبند علماء هم دا رايه لري حاشيه د نسائي کې علامه سندي وايي چې :

لئن ادركتهم لأقتلنهم قتل عاد.

ددې له پاسه ليکي هغه حاشيه کې چې متبعين د محمد بن عبد الوهاب نجدي چې مسمى دي په وهابيانو سره غير مقلدينو باندې.

هم فرقة من الخوارج. داد خوارجو يو جماعت دي دا خو د احنافو نه ده.

د ديوبند له علماء په عقائدو علماء ديوبند کې استفتاء ترې شوې، د وهابيانو متعلق هغوي دا ويلي:

نحن نفتي في حقهم بما افتى به الشامي.

زمونږ د وهابيانو متعلق دا فتوی ده چې کومه شامي ورکړې ده او شامي خو ورته خوارج ويلي دي.

تفسير صاوي د شوافعو نه دي د سورة فاطر په دې ايات باندې:

﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ﴾.

دې حزب باندې وايي چې د شيطان حزب وهابيان دي عبارت ته ګوري:

وفي هذه الايات نزلت في الخوارج الذين يحرفون تأويل الكتاب والسنة ويستحلون بذلك دماء المسلمين وأموالهم.

د مسلمانانو وينې پر حلالي ګڼي.

كما هو مشاهد الآن في نظائرهم. لکه دا خبره ښکاره ده نن وخت کې په امثالو د خوارجو کې.

وهم فرقة. چې دا يوه ډله ده.

بأرض الحجاز. د عربو په علاقه.

يقال لهم الوهابية. چې وهابيان ورته وايي.

يحسبون. دوي ګمان کوي.

أنهم على شيء. چې دوي په څه دين باندې دي.

ألا انهم هم الكاذبون. دروغجن دي.

استحوذ عليهم الشيطان. شيطان پرې غلبه حاصله کړې.

فانساهم ذكر الله. د خدای ذکريې ترې له ياده ويستلې.

اولئك حزب الشيطان الا ان حزب الشيطان هم الخاسرون نسأل الله الكريم ان يقطع دابرهم.

د خدای نه دعاء غواړو چې خدای دې بيخ کندي وکړي دابر دي خدای ورختم کړي.

دا تفسير الصاوي د جلالين حاشيه ده هغه اسم ددوي اخلي باقي پخواني ډله نه ده خوارج پخواني ډله ده هر کتاب پرې رد کوي او وهابيان نوي راوتلي خلک دي دې وختو کې تفاسير هم چا نه دي ليکلي او د فقه نوي کتابونه هم چا نه دي ليکلي تصانيف هم کم دي دا څه ناڅه چې شته دي او دوي نه وروسته ليکلې شوې دي هغوي پرې رد کړې دي لکه علامه شامي کړې دي علامه سندي کړې دي ديوبند علماء پرې کړې دي، علامه صاوي پرې کړې دي که دا داسې پخواني جماعت واي نو هر يو به ددوي نوم اخيستي.

وايي چې دا خوارج دي او په خوراجو کې فلاني جماعت دي سنن الترمذي جلد ۵ صفحه ۲۲۶ ددې لپاره درته څه احاديث ذکر کوم چې څه ناڅه نفرت به له خوارجو نه زړونو کې لري خو دا نفرت دې خداى ستاسې زړونو کې دومره زيات کړي لکه څومره چې زما دې چې سم مو بدي راشي ددې لپارهٔ مې دا حديث را اخيستي دي.

حماد بن سلمة عن ابي غالب نه روايت کوي:

قال رأى أبو أمامة رءوسًا منصوبة على درج مسجد دمشق. مجاهدينو په خوارجو جهاد کړې وه اويا (۷۰) علماء ددوي حلال کړې وه تنې يې ورته دشته کې پريښې وي او سرونه يې ترې راوړل د دمشق او حلب ښار په غټ ديوال يې کيښودل د عبرة لپاره چې ټول خلک يې وګوري چې بيا څوک خارجي نه شي نو دلته ابو امامة رضي الله عنه رابهر شو چې ګوري دلته دا سرونه دي ددې اويا (۷۰) سرونو باره کې په کتاب الخوارج کې مصنف ابن ابي شيبه وايي چې اكلت السجود جباههم ددې اويا واړو تندي وايي سجدو خوړلې وه يعنې د سجدو ټاپې په کې وې تور ټاکې يې لرل هلته سرونه پراته دي.

فقال أبو أمامة كلاب النار. دا سپي د جهنم دي.

شر قتلى تحت أديم السماء خير قتلى من قتلوه. هغه چې دوي يې مړه کړي وه هغوي وژل شوې دي هغه غوره د قتلى وو دي.

د خوارجو مقابله کې څوک شهيد شي او بل د مشرک مقابله کې شهيد شي او د ستاسو خو دا ګمان دي چې د کافر مقابله کې شهيد شي د هغه به اجر اوچت وي په مجمع الزوائد کې د حضرت کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دي هغه وايي :

ان لقتيل الخوراج فضل ثمانية انوارٍ على قتيل المشركين .

که سړي د خوارجو د لاسه شهيد شي دده اجر ښا او نور په اته چنده زيات وي د هغه شهيد نه چې کوم د مشرک مقابله کې شهيد شوې دغه وجه ده زمونږ خلفاء ټول خوارجو شهيدان کړي دي بغير د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې هغه د پاره شهادت د محمد مصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورکړې شو چې اثر د زهرو د خيبر وه او له ده نه سوا د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت له خوارجو نه دي د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت له خوارجو نه دي د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت له خوارجو نه دي .

دې نه بعد تقريباً ۵۰۰ کاله مقابلې به داخل دوري اسلامي کې ټولې د خوارجو سره شوې دي د ايران کې به دا ډلې ډيرې پيدا کيدلې د افغانستان په هرات کې ډيرې مقابلې د خوارجو سره شوې دي والي د خراسان کړې دي په امر د عباس کوم خلافت چې جوړ وه د هارون الرشيد په زمانه کې .

نو ابو امامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دا خوارج وليدل نو بيا يې ولوسته :

﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ﴾ يوه ورځ ده چې سپين به شي څه مخونه تور به شي څه مخونه .

الى آخر الأية قلت لأبي أمامة انت سمعته من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. دا تا اوريدلي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه .

هغه ورته فرمايي :

لو لم أسمعه الامرةً او مرتين او ثلاثاً او اربعاً حتى عد سبعا ما حدثتكموه .

که مې او ځل نه واي اوريدلې درته به مې نه وي بيان کړي يعنې دا مې اوه کرته اوريدلي دي .

سنن الكبرى للبيهقي جلد ۸ صفحه ۱۸۸ ، المستدرک على الصحيحن للحاکم مع

تعليقات الذهبي في التلخيص جلد ۲ صفحه ۱۶۳، المعجم الكبير للطبراني جلد ۷ صفحه ۳۰۶ ، المعجم الكبير للطبراني جلد ۷ صفحه ۳۱۳ دي ټولو دغه روايت ذكر كړې دي .

دا روستني عبارت د معجم الكبير د طبراني جلد ۷ صفحه ۳۱۳ :

قال سألت ابا غالب عن هذه الاية : ﴿ هُوَ الَّذِيَ أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ ﴾ .

ما ورته وويل ذاد چا باره کې نازل دي :

حدثني أبو أمامة . وايي ماته هغه حديث بيان كړو .

عن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال هم الخوارج . دغه ايات د خوارجو باره کې دي .

وسألته عن هذه الاية : ﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكْفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُواْ الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴾ سورة آل عمران آيت : ۱۰۶.

دا چې مخونه يې توريږي دا څوک دي .

فقال حدثني ابوامامة عن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انهم الخوارج . دا هم خوارج دي.

دارنګې نوادر الاصول في احاديث الرسول جلد ۱ صفحه ۲۲۱ :

عن ابي عاكف كنت بدمشق فجيء برؤوس الخوارج من العراق .

ابي عاكف وايي چې زه وم په دمشق کې چې راوړلې شو رؤوس د خوارجو .

فنصبت على درجة المسجد فبينا أنا قائم اذا انا بشيخ على حمار قصير ينظر اليهم ويبكي.

زه ولاړ يمه چې يو سړي دي په خره سپور دي او بره ګوري دې سرونو ته او ژاړي .

ويقول . او وايي .

كلاب النار كلاب النار . د جهنم سپي دي .

فسألت عنه . ما تپوس وکړو چا نه چې دا سړي څوک دي .

فقالوا أبو امامة صاحب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . دا ابو امامة دي .

فدنوت منه . زه ورنزدې شوم .

فقلت یا ابا امامة أُراك تبکي وتقول کلاب النار .

ګورم تا ته چې ژاړې او بیا وایې چې د جهنم سپي دي نو چې د جهنم سپي دي نو ژاړې ولې .

قال رحمة لهم . ابو امامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل هسې مې پرې شفقت راغې .

لانهم قد صلوا و صاموا وحجوا واعتمروا ثم صاروا کلاب النار .

ځکه دوي مونځونه کړي وه روژې نیولې وي حجونه یې کړې وه عمرې کړې وي او بیا د جهنم سپې هم وګرځیدل .

قلت هذا شيء تقوله ام سمعته من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دا خپله خبره کوې او که دې اوریدلي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه .

قال لو لم اسمعه الا مرة او مرتين او ثلاثة او اربعة حتى بلغ عشر مرات ما قلت . که مې لس ځل نه واې اوریدلي نه به مې وه بیان کړي .

ولکن سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول انه سيكون من امتي قوم يقرأون القرآن لاتجاوز قراءتهم تراقيهم .

امت کې به مې یو قوم وي قران کریم به وایي له ستونې نه ښکته به یې نه کوزیږي .

يعبدون الله تعالى عبادة . د خدای تعالی به داسې عبادت کوي .

يحتقرون عبادة الناس في عبادتهم . د خلکو عبادت به د هغوي په مخکې سپک ښکاري .

يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية لا يعود فيه حتى يعود اعلاه فوقه هم شر الخلق والخليقة هم شر قتلى تحت اديم السماء طوبى لمن قتلهم او قتلوه .

خوشحالي ده هغه چا لره چې دوي مړه کړي او یا ددوي له لاسه شهید شي .

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۳۵۵:

حدثنا عبدالله حدثني ابي حدثنا اسحاق بن يوسف عن الاعمش عن بن ابي أوفى قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الخوارج هم كلاب النار .

داد جهنم سپي دي دا اوله فرقه حروريه د خوارجو وه او د هغې په ذم کې چند روايات وه.

دولس (۱۲) ډلې دي .

فأولهم الازرقية . اول ترې ازرقيه ده دې ته ازارقه وايي .

التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۴۹ :

منهم الازارقة وهم اتباع رجل منهم يقال له أبو راشد نافع بن الازرق الحنفي .

ازارقه ورته ځکه وايي چې داد نافع بن ازرق الحنفي تابعدار وه لکه وهابيان د محمد بن عبدالوهاب نو په کار خو دا نه وه چې وهابيان ورته ويلي شي خو معروفه شوه د هغه محمد پلار ته منسوب شول ، دغه شان دلته هم دي ددوي اصل امير نافع دي خو د نافع پلار ازرق نو ميږي .

ولم يكن للخوارج قوم اكثر منهم عددا واشد منهم شوكة .

خوارجو کې له ده نه غټه ډله د چا نه وه او زيات طاقت هم د چا نه وه ددوي عقيده داده:

قالوا لا نعلم احدا مؤمنا وكفروا اهل القبلة الا من دان بقولهم .

ددوي قول به چې چا منلو هغه مسلم وه او دې نه اخوا ته ټولو ته يې کافر ويلي، احاديثو کې دوي باندې رد راغلې دي .

المعجم الكبير جلد ۷ صفحه ۳۱۷ هغه مخکې چې حديث کې تير شول چې د دمشق مسجد ته چې کوم سرونه راوړل شول نو هغه د ازارقه خوارجو ول ، ابو غالب وايي :

جاءت رؤوس الازارقة سبعين رأساً فأقيموا على درج دمشق سبعة ايام فمضت ثلاثة ايام من السبعة .

اعلان دا شوي وه چې دا به اوه (۷) ورځې پراته وي .

وكان اليوم الرابع . څلورمه ورځ وه .

فجاء أبو أمامة فركع ركعتين عند سارية وقال كلاب النار ثلاثاً شر قتلى تحت ظل السماء .

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۳۸۲ سعيد بن جمهان وايي عبدالله بن ابي اوفی ته راغلمه .

محجوب البصر . ضعيف شوې وه نظر د هغه .

فسلمت عليه قال لي من انت فقلت انا سعيد بن جمهان قال فما فعل والدك .

پلار دې څنګه دي .

قال قلت قتلته الازارقة . هغه خو خوارجو کې ازارقه وو شهيد کړي دي .

قال لعن الله الازارقة لعن الله الازارقة حدثنا رسول الله ﷺ انهم كلاب النار قال

قلت الازارقة وحدهم ام الخوارج كلها .

ټول دي که يوازې ازارقه دي .

قال بل الخوارج كلها قال قلت فان السلطان يظلم الناس ويفعل بهم .

دا بادشاه کله ظالم وي نو څنګه به يې کوي د هغه مقابله کې به نه پاڅيږي .

قال فتناول يدي فغمزها بيده غمزة شديدة .

زما دا لاس يې ونيوه زور يې ورکړو .

ثم قال ويحك يا ابن جمهان عليك بالسواد الأعظم عليك بالسواد الأعظم .

بادشاه که ظالم هم دي خو دا ټول مسلمانان غلي دي دوي سره ملګري شه د هغه مقابله کې قيام مه کوه ، شر مه جوړوه .

دويمه ډله الاباضية : وهم اتباع عبدالله بن اباض .

ګوره دا تابعدار د عبدالله دي خو پلار يې اباض نو ميږي نو اباضيه ورته وايي هغه پلار ته منسوب دي .

وهابيانو اوس دا خوره کړې ده چې مونږ ته وهابيان ځکه وايي چې منسوب دي دا وهاب د خدای صفت دي نو د خدای والا خلک دي نو دوي د خدای والا نه د عبدالوهاب والا خلک دي خو کاشکي صحيح عبدالوهاب والا وي د هغه د ځوي والا خلک دي خو په پلار

یې مشهور شوې دي.

اصل کې دا محمد چې د عبدالوهاب ځوی وه چا نه پیژنده محمد په عربو کې د عبدالوهاب په نوم مسمی شو پلار یې معروف انسان وه

ثم هم فیما بینهم فرق. خپلو کې ډلې لري.

وکلهم یقولون ان مخالفیهم من فرق هذه الأمة کفار لا مشرکون ولا مؤمنون ویجوزوون شهادتهم.

له ازارقه وو نه لرې نه دي ازارقه د عامو مسلمانانو شهادت هم نه قبلوي وايي دا مشرکین دي.

ویحرمون دماءهم في السر. او خپلو کې چې ناست وي سره وايي چې وینه تویول یې حرام دي.

ویستبحونها في العلانیة. چې جنګ یې راشي بیا یې وژني.

ویجوزون مناکحتهم. او د اهلسنت سره نکاح روا ګڼي هغه ازارقه دا هم روا نه ګڼي دویم قول علامه قرطبي ذکر کوي چې اباضیة دا وه.

قالوا من اخذ بقولنا فهو مؤمن ومن اعرض عنه فهو منافق.

دا اباضیه نن صبا چې دي د مسقط عمان قاضي القضاة اباضي دي او هلته د جامع مسجد امامان ټول اباضیان دي دا اباضیه هلته معروفه ډله ده زه چې کله نوي مسقط ته لاړم نو هغه خلکو ما ته وویل دلته څه خلک دي اباضیان ورته وايي زما خیال ته دا راغله ما وویل دا به بازیان وي عبدالله بن باز ما وویل دا به ده ته منسوب وي.

قابوس د هغوي بادشاه دي د عمان دا اوسني تقریباً ۲۸ کاله کیږي خپل پلار یې قتل کړې د هغه په ځای ناست دي او خپل ځامن یې چې کله زلمي شي نو برطانیه ته یې ولیږي بیا پرې په رسمي طریقې سره د مسقط ویزه بنده کړې وای دا بیا ما وژني نو ځامن خپل ملک کې نه پرېږدي ټول په لندن کې دي نو دا بادشاه هم ډیر سخت اباضي دي هلته په هره ښاریه کې یو غټ مسجد جوړ وي هغې ته مسجد قابوس وايي تاریخي مسجد وي په هره ښاریه کې یو جوړ کړې وي په عربو کې د مسجد نبوي او د حرم د مکي مکرمې نه غیر هغه خو جدا

دي نور په عربو کې يا په بل ملک کې داسې مساجد چا نه دي جوړ کړي لکه قابوس چې جوړ کړې او ډيرې خرچې پرې کړي تقريباً هر مسجد په ديرش جريبه کې جوړوي او غټه مکتبه هم په کې وي او ۱۵ علماء وي هغوي ته تنخوا هم ورکوي.

نو زه لاړم مکتبي ته چې ننوتم يو غټ کتاب مې په نظر راغې ۲ جلد تاريخ الاباضية چې هغه مې راواخيسته چې مطالعه مې کړو نو راته معلومه شوه چې دا خو بازيان نه دي اباضيان دي.

هلته چې زمونږ څه خلک دي هغوي خو نه پوهيږي هغوي ما ته وويل دلته څه خلک دي بازيان ورته وايي چې دوي پسې مونځ کيږي که نه کيږي نو بيا چې ما تحقيق وکړو نو دا اباضيان وه او دا خپل تاريخ يې ټول راخيستي وه چې کوم علماء محدثين دوي کې تير شوې وه باقاعده د هغوي تاريخونه يې ذکر کړې وه او ددوي اُمراو چې کوم جنګونه کړې وه هغه د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زمانې نه واخله تر اوسه پورې مستقل تاريخ په کې پروت وه.

بيا مې يوه رساله پيدا کړه په عربو کې چې عبدالله بن باز د مسقط په قاضي القضاة چې اباضي دي په کفر باندې ليکلي وه چې دا کافر دي يوه غټه رساله يې ليکلي چې اباضيان کافر دي خو ستا د سعودي وهابيانو خوارجو نه بيا دا ښه دي ما دواړه ليدلي دي اباضيان متدين دي د هغوي په نسبت شيخان دي نوافل کوي د ماښام نه بعد د مازديګر نه وروسته ناست وي تسبيحات وايي.

داسې دي لکه د وهابيانو صوفيه چې وي تر ډيره وخته چې ماته معلومه نه وه ما ورباندې د صوفيه وو ګمان کوه ما وويل چې دا به کومه سلسله کې داخل وي د هر مانځه نه وروسته ډير طولاني اذکار کوي اوراد وايي.

(۳) دريم جماعت والثعلبية. قالوا. هغوي وايي:

ان الله عز وجل لم يقض ولم يقدر. الله تعالى نه څه فيصلې کړي او نه يې تقدير جوړ کړې.

(۴) څلورم: الخازمية. التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۵۵:

فمنهم الخازمية وهم الاكثرون. دا ډير زيات دي.

منهم وافقوا اهل السنة في القدر والاستطاعة والمشيئة. دوي موافقت د اهل سنت لري.

في القدر والاستطاعة والمشيئة.

فيقولون لا خالق الا الله ولا يكون الا ما يريد والاستطاعة مع الفعل ويقولون بتكفير

القدرية بهذه المسائل التي ذكرناها.

ليكن فساد دوي کې داده:

ولكن يكفرون عثمان وعلياً والحكمين وقالوا لا ندري ما الايمان والخلق كلهم معذورون.

پنځم جماعت: الخلفية الفرق بين الفرق جلد ۱ صفحه ۲۵ ددوي تسميه را اخلي:

وهم الذين قاتلوا حمزة ابن أكرك الخارجي.

دا هغه خلک وه چې مخکې تیر شو چې د هراة په علاقه يې جنګ وکړو او ۳۰۰۰۰ ديرش زره کسان په کې مړه شول دا خلفيه وه زما په ګمان دا خلفيه چې دي دوي ته اوس سلفيه وايي دا نوم يې ورته ألته کړو ځکه بعضې رايو کې سره شريک دي.

قاتلوا حمزة ابن أكرك الخارجي في ارض كرمان. دا اتباع د خلف وه خلف يو سړي وه.

ذكر الخلفية منهم هم أتباع خلف الذي قاتل حمزة الخارجي والخلفية لا يرون القتال الا

مع امام منهم.

وايي جنګ به سره د امام نه کوي.

وقد كفوا أيديهم عن القتال. جنګونه يې بند کړي وه.

لفقدهم من يصلح للامامة منهم. وايي څوک سړي نشته چې د امامت قابل شي او جنګ د هغه رايه لاندې وشي.

وصارت الخلفية الى قول الازارقة في شيء واحد وهو دعواهم ان اطفال مخالفيهم في النار.

ازارقه وو به هم دا خبره کوله چې دا مشران خو يې جهنميان دي خو دا واړه ماشومان د اهل سنت هم کافر دي دا هم جهنميان دي نو دې وايي چې دې خبره کې خلفية قول د ازارقه وو ته ذهاب کړي.

وزعموا ان من ترك الجهاد من ذكر او انثى كفر .

ګمان کوي چې تارک د جهاد کافر دي دا غلاط خوارج اوس هم دې عقيدې ته رسيدلي دي چې ډير غټ غټ محدثين او مشائخ دي هغوي ته ډير بد نسبتونه کوي .

(٦) شپږم جماعت : الكوزية . قالوا ليس لأحد أن يمس أحداً . يو سړي بل نه شي مسحه کولې .

لانه لا يعرف الطاهر من النجس ولا ان يؤاكله حتى يتوب او يغتسل .

(٧) جماعت الكنزية : قالوا لا يسع احدا ان يعطي ماله احدا لانه ربما لم يكن مستحقاً بل يكنزه في الأرض حتى يظهر اهل الحق .

وايي جائز نه دي چې يو سړي بل ته مال ورکړي وايي مستحق نشته بلکې ځمکه کې به يې خزانه کړي حتى يظهر اهل الحق .

(٨) جماعت : الشمراخية . قالوا : لا بأس بمس النساء الاجانب . پردي جينکي مسه کول ځه باک نه لري .

لانهن رياحين . دوي کشمالي دي بويه وه يې .

(٩) جماعت : والأخنسية : جزء حديثي في احاديث ذكر الخوارج جلد ١ صفحه ١٠٣ :

اخلسية اصحاب اخنس بن قيس وهم يتبرؤون من كل من لا يوافقهم ولا يسكن في بلاد مخالفهم . څوک چې ورسره موافق نه دي هغوي نه بيزار دي د هغوي په ملک کې اوسيدل روانه ګڼي بل يې دا عقيده ده .

قالوا لا يلحق الميت بعد موته خير ولا شر . مړي پسې له مرګ نه وروسته نه خير رسي او نه شر د ايصال ثواب منکر دي .

(١٠) جماعت والحكمية : قالوا من حاكم الى مخلوق فهو كافر . مخلوق ته فيصله چا يوړه وايي دا کافر دي .

دا اوسني وهابيان او جماعة المسلمين دا د خوارجو په حکميه کې راغلي دي دوي بار بار هر ځای کې د دې پرچار کوي چې مخلوق ته فيصله وړل کفر دي دا چې کوم ائمه مونږ

حاکمان ګرځولي په فیصلو د دین کې او تقلید ته شرک وایي بنیادي خبره د دوي هغه اصل د خوارجو دي چې لا حاکم الا الله ، د الله نه سوا بل حاکم نشته دي او د بل چا فیصله کول او ریدل منل دا کفر او شرک دي داد حکمیه فرقي عقیده ده .

(۱۱) جماعة د معتزله وو دي دا معتزله د قدریه وو نه هم دي او د خوارجو نه هم دي دا دوه جماعته دي : **قالوا اشتبه علینا امر علي ومعاویة فنحن نتبرأ من الفریقین .**

دوا ړو نه مونږ بیزاریو پاکستان کې مودودیان په دې نظر باندې دي دواړو پسې خبرې کوي او دواړو نه بیزاري ښکاره کوي چې دا اوله تفرقه امت کې وای دوي جوړه کړې وه العیاذ بالله .

(۱۲) جماعت والمیمونیة . التبصیر في الدین جلد ۱ صفحه ۲۴ :

ومن جملة العجاردة فرقة یقال لهم المیمونیة ولا یعدون من فرق المسلمین لانهم یجوزون التزوج ببنات البنات .

د لور لخوا لمسي سره نکاح روا ګڼي .

ویبیحونه وذلك خلاف ما علیه المسلمون .

الفرق بین الفرق جلد ۱ صفحه ۲٦۴ **الفصل السادس عشر من هذا الباب في ذکر المیمونیة من الخوارج وبیان خروجهم عن فرق الاسلام هؤلاء اتباع رجل من الخوارج الشخریة کان اسمه میمونا وکان علی مذهب العجاردة من الخوارج وقالوا بتکفیر علي وطلحة والزبیر وعائشة وعثمان وقوله بتکفیر اصحاب الذنوب وانه اباح نکاح بنات الاولاد من الاجداد وبنات اولاد الاخوة والاخوات .**

خورزي او وریرې دا ټولې به یې روا ګڼلي دا ۱۲ فرقې د خوارجو وي .

وانقسمت القدریة اثنتي عشرة فرقة :

قدریه ۱۲ فرقې دي .

مخکې له دې نه چې د دغو فرقو نومونه درته ذکر کړم او د هغوي د عقائدو ذکر درته وکړم څه احادیث د قدریه وو په ذم کې درته ذکر کوم چې نفرت مو سوا شي .

الابانة عن شريعة الفرقة الناجية ومجانبة الفِرَق المذمومة جلد ۲ صفحه ۱۰۳ داد کتاب نوم دي تاسو ته مخکې ترغيب ددې کتاب درکړي وه د حافظ ابن بطة حنبلي :

عن ابن عمر رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم سيكون في امتي مسخ

زما امت کې به مسخه راشي د خلکو نه به خنزيران او شادو ګان جوړ شي

و ذلك في القدرية والزندقية . دا مسخه به په قدريه فرقي کې کيږي زنادقه دي .

دويم حديث :

عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتقوا القدر فانه شعبة من النصرانية .

قدريه فرقې نه ځان وساتي دا يوه ډله د نصرانيانو ده .

دارنګې المعجم الكبير للطبراني جلد ۱۵ صفحه ۳۰ :

عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ما بعث الله نبياً قط .

يو پيغمبر خدای تعالی ليږلي نه دي .

إلا وفي أمته قدرية ومرجئة . مګر قدريه او مرجئه به لري .

يشوشون عليه أمر أمته . په دغه پيغمبر به يې هغه اتفاق د امت مشوش کړې وي او په دې امت کې به يې تشويشونه پيدا کړې وي .

الا وان الله عزوجل لعن القدرية والمرجئة على لسان سبعين نبياً .

خبردار خدای تعالی په لسان د (۷۰) پيغمبرانو باندې قدريه او مرجئه لعنتي کړې دي . اصول السنة لابن ابي زمنيني جلد ۱ صفحه ۲۹۷ کې زياتوي :

آخرهم محمد صلى الله عليه وسلم.

المعجم الاوسط جلد ۴ صفحه ۲۸۱ :

عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم صنفان من امتي لا يردان عَلَيَّ الحوض .

دوه ډلې دي زما امت کې ما ته په حوض ته ورود نه کوي .

ولا يدخلان الجنة . او جنت ته به هم لاړ نه شي .

القدرية والمرجئة .

المعجم الاوسط جلد ۴ صفحه ۲۸۱ :

عن انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ القدرية والمرجئة مجوس هذه الامة

فان مرضوا . كه دوي مريضان شول .

فلا تعودوهم . بيمار پرسي يې مه كوي .

وان ماتوا . كه مړه شي .

فلا تشهدوهم . جنازې مونځ ته يې حاضري مه كوي .

السنة لابن ابي عاصم جلد ۱ صفحه ۱۴۷ :

عن عكرمة عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال صنفان من امتي ليس لهم في الآخرة نصيب القدرية والمرجئة .

التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۲۱ په دې كې د صحابه وو هغه روايات را اخلي :

وظهر في ايام المتأخرين من الصحابة خلاف القدرية .

دوي را پيدا شول .

وكانوا يخوضون في القدر والاستطاعة كمعبد الجهني وغيلان الدمشقي وجعد بن درهم وكان ينكر عليهم من كان قد بقي من الصحابة كعبدالله بن عمر وعبدالله بن عباس وعبدالله بن ابي أوفى وجابر وانس وابي هريرة وعقبة بن عامر الجهني وأقرانهم وكانوا يوصون الى أخلافهم .

دوي صحابه وو به خپلو وروستنو ته وصيتونه كول .

بأن لا يسلموا عليهم . چې په دې قدريه وو سلام مه اچوي .

ولا يعودوهم ان مرضوا . بيمار پرسي يې مه كوي .

ولا يصلوا عليهم اذا ماتوا . چې كله مړه شي جنازي پرې مه كوي .

ثم ظهر بعدهم في زمان الحسن البصري بالبصرة خلاف واصل ابن عطاء الغزال في القدر

وفي القول بمنزلة بين المنزلتين ووافقه عمرو بن عبيد فيما احدثه من البدعة فطردهم الحسن البصري من مجلسه .

ددې جماعت اول چې دي الاحمرية دي :

وهي التي زعمت ان في شرط العدل من الله ان يملك عباده امورهم .

خداى تعالى به هله عادل ثابت شي چې بنده ګانو ته پوره اختيار ورکړي په خلف کې پوره مالکان يې کړي .

(۲) دله الثنوية : وهي التي زعمت ان الخير من الله والشر من الشيطان .

التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۹۰ :

ان المجوس والثنوية قالوا بخالقين اثنين . ثنويه فرقه ددوه خالقانو قائل وه يو وايي د خير او بل د شر شر يې شيطان ته منسوبه وه .

(۳) المعتزلة وهم الذين قالوا بخلق القران وجحدوا صفات الربوبية .

(۴) والكيسانية : التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۳۰ :

وأما الكيسانية فهم اتباع مختار بن ابي عبيد الثقفي .

دا هغه وه چې بيا يې د پيغمبري دعوی کړې وه مختار الثقفي دا په زمانه د مصعب بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې چې کله په عراق ګورنر وه د عبد الله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورور .

او دې وخت کې عبد الملک بن مروان چې معاوية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بنو اميه نه وفات شو ځوي يزيد يې له ځان نه اعلان وکړو هغه لږ وخت لپاره وه چې کله هغه مړ شو بيا مروان اعلان وکړو چې هغه مړ شو عبد الملک بن مروان شو بيا د هغه نه بعد د هغه ځامن راغلل ددې مروان دوه ځامن وه چې يو عبد العزيز وه بل عبد الملک وه ددې عبد العزيز ځوي چې وه عمر بن عبد العزيز وه هغه ته بيا اومه (۷) رتبه کې بنو اميه وو کې امارت ورسيدلو نو يو په کې عادل راغلې دي .

معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ديخوا ته ۱۰ امراء ددوي راغلي دي ټول ظلمه دي يو د بل نه بانديدي سواد عمر بن عبد العزيز نه چې هغه ټول امت په عدالت باندې بيژني او ثاني عمر لقب ورکوي نو دې بنو اميه وو بيا ډير ظلمونه کړې دي ددوي د ظلم عظيمه انتهاء دا وه چې

په تولو منابرو د مسلمينو باندې د جمعې په دويمه خطبه کې اهل بيت او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته سب او کنځل کيدل دا په هر امام لازم وه چې چا به دا نه کول هغه امام يې حلالوه بيا به يې وويل چې ته د هغوي ملګری يې او زمونږ مخالف يې خو دومره وه چې بنوعباس اهل بيت چې وه نو دا يې وژل نه خو محبوس کړي وه.

ددوي د کور جيني به چې چيرته واده شوله نو دوي به نظر لاندې ساتله هغه به يې ډيره محبوسه ساتله چې دا چيرته بچي يې بيا تحريک جوړ نه کړي ډيره زياته پابندي کې به يې ساتله بيا دې کې وليد بن عبدالملک راغې سليمان بن عبدالملک راغي دا سلسله روانه وه بيا عمر بن عبدالعزيز راغي آخري د بنو اميه وو نه بيا مروان حمار راغي دا ډير ظالم وه د هغه پسې بيا د بنو عباسو نه يو کس د اهل بيتو نه چې عمر يې کم وه کشر وه خو ډير بد معاش وه او ډير ظالم هم وه هغه د بنو أميه وو په خلاف پاڅون وکړو او خلک هم د بنو اميه وو نه ډير تنګ شوې وه نو هغه چې پاڅيدلو خلکو پسې قيام وکړو يو دم د بنو أميه وو دوره يې ختمه کړه بنو عباس پرې راغلل چې راغلل نو د غه اولين بادشاه د بنو عباسو اعلان وکړو چې د بنو اميه وو ځوانان خو مړه کړي وګو که د دوه ورځو ماشوم وي هم يې قتل کړي او ښځي وينځي کړي.

او همداسې ورسره وکړه چې د بنو اميه وو د دوه ورځو ماشوم يې هم ژوندي پرې نه خودلو بس تکړه په بنو اميه وو کې هغه وه چې دا ملکونه يې پريښودل او لاړ ترې نه او يا يې انکار وکړو چې زه د بنو اميه وو نه يم نو سخت مرګ ورکې بنو عباس وکړو بيا دا بنوعباس تقريباً زيات او کم ۳۰۰ کاله چليدلې دي.

نو مختار بن ابي عبيد الثقفي چې وه هغه وخت کې رابهر شو چې کله عبدالله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حرمينو باندې د امارت اعلان کړې وه او عراق خراسان په افغانستان باندې مهلب بن ابي يوسف چې د خوارجو مقابله کې لوي مجاهد تير شوې دي ده هم د عبدالله بن زبير سره بيعت کړې وه.

او مصر هم د عبدالله بن زبير سره بيعت کړې وه د يمن خلک هم د هغه په بيعت کې وه زيات بيعتونه له عبدالله بن زبير سره شوې وه عبدالملک بن مروان سره صرف شام وه او دويمه رتبه کې په شام باندې زبردستي وکړه او له هغوي نه يې په زور بيعتونه واخيستل.

عراق هم د عبد الله بن زبیر سره وه په دې باندې د مصعب بن زبیر رضي الله عنه والي وه نو بیا عبد الله بن زبیر رضي الله عنه د لته وه چې مختار الثقفي پیدا شو د مختار الثقفي چې وه اول یې د مهدیت دعوی وکړه وروستې بیا د نبوت دعوی وکړه بیا مصعب بن زبیر دې په یو جنګ کې ونیولو پهانسي یې کړو مختار الثقفي نو دا هغې ته اشاره کوي .

واما الكيسانية فهم اتباع مختار بن ابي عبيد الثقفي الذي كان قام يطلب ثأر الحسين بن علي بن ابي طالب .

اول پاڅون یې د دې لپاره کړې وه چې د حضرت حسین رضي الله عنه بدل دې واخیستل شي.

وهم الذين قالوا لا ندري هذه الافعال من الله او من العباد ولا نعلم أيثاب الناس بعد او يعاقبون .

(۵) ډله د قدریه وو والشیطانیة : دا ډله الفرق بین الفرق جلد ۱ صفحه **۵۳** کې ذکر کوي :

الشيطانية منهم هؤلاء اتباع محمد بن النعمان الرافضي الملقب بشيطان .

ددوي د مشر شیطان لقب وه نو دوي ته یې شیطانیة فرقه ویلي .

قالوا ان الله تعالى لم يخلق الشيطان . دوي به ویل خدای تعالی هر څه پیدا کړي خو شیطان یې نه دي پیدا کړي هغه خپله پیدا شوې دي .

(٦) والشريكية قالوا ان السيئات كلها مقدرة الا الكفر .

(٧) والوهمية قالوا ليس لأفعال الخلق وكلامهم ذات ولا للحسنة والسيئة ذات .

دا منکر تَلل د اعمالو نه دي دا وايي څه ذات نه لري څه شي تلل کیږي .

(۸) ډله والزبرية : **قالوا كل كتاب نزل من عند الله فالعمل به حق ناسخا كان او منسوخاً .**

یهودیت ، نصرانیت تورات انجیل زبور باندې عمل به یې جائز ګڼلو .

(٩) والسعدية زعموا ان من عصى ثم تاب لم تقبل توبته . د عاصي توبه وايي نه قبليږي .

(١٠) والناكثية : زعموا أن من نكث بيعة رسول الله صلى الله عليه وسلم فلا إثم عليه .

بيعت چې چا مات کړو ګناه نه لري .

(۱۱) القاسطية : تبعوا ابراهيم بن النظام في قوله من زعم ان الله شيء فهو كافر .

که چا وويل چې خدای تعالی شي دي نو کافر کيږي .

(۱۲) الصلتية : التبصير في الدين جلد ۱ صفحه ۵۶-۲۶ :

ومنهم الصلتية وهم أتباع صلت بن عثمان وقيل صلت بن أبي الصلت وهؤلاء يقولون انا نوالي كل من كان على مذهبنا .

که زمونږ د مذهب موافق وي موالات ورسره کوو .

ولكنا نتبرأ عن اطفالهم الى ان يبلغوا . اودا ماشومان يې چې دي هغوي نه مونږ بيزار يو ترڅو چې بالغان شي ، چې بالغان شي .

ونعرض عليهم الإسلام فيقبلوه يريدون به عرض مذهبهم .

يعني مونږ ورته خپل مذهب پيش کوو که ماشومانو بلوغ نه بعد قبول کړو بيا موالات ورسره کوو ګڼې ترک موالات دي .

وانقسمت الجهمية اثنتي عشرة فرقة :

(۱) المعطلة : زعموا أن كل ما يقع عليه وهم الانسان فهو مخلوق و ان من إدعي أن الله يرى فهو كافر .

که وايي چا وويل چې د خدای تعالی په ورځ د قيامت ديدار کيږي نو دا وايي کافر دي.

(۲) والمريسية : قالوا اكثر صفات الله مخلوقة .

(۳) والملتزقة جعلوا الباري سبحانه في كل مكان .

دوي وايي خدای تعالی په هر ځای کې ده .

زمونږ عوام هم دا خبره کوي چې خدای تعالی په هر ځای کې ده دا خبره غلطه ده ددوي مقصد ښه دي چې کوم مقصد لري خو تعبير د خپل مقصد نه نه شي کولې دوي وايي چې خالق په عرش ناست ده او مکان مه ثابتوي ورته منکر د مکان دي من الله تعالی خو چونکې د هغې نه تعبير نه شي کولې خدای تعالی په هر ځای کې ده نو دا ځای ته مکان وايي که نه يې

وايي يو عرش ورته نه مني او هر ځای دي ورته مکان مکان کړو ځمکه دي ورته ومنلو اسمان دي ورته ومنلو .

دوي په خپل زړه کې روغه خبره کوي خو د خپلو الفاظو نه صحيح تعبير نه شي کولی ، دې باره کې ۳ نصوص متضاد راغلي : ﴿الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى﴾ ظاهر د نص بدون د تاويل نه استوی ثابتوي .

﴿أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الأَرْضَ﴾ دا في السماء ظرف د من لپاره کړو کنه او هغه عبارت د ذات الله نه دي نو دا ايات دا ثابتوي چې اله العالمين يې في السماء کړو او هغه ايات يې على العرش کړو .

وهو الله في السموات وفي الارض . که څوک وايي زه تاويل کومه هو الله دي معبود دي في السمواة وفي الارض نو چې دلته تاويل کوي نو تاويل خو هلته هم کيږي .

عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا تاويل منقول دي :

الرحمن على العرش استوى ، اى استولى .

تفسير ابن السعود چې کوم دي د الرحمن على العرش استوى معنى په ۸ سيپاره کې د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په استولى سره نقل کړې ده نو تاويل نه بغير دا دري اياتونه متضاد ښکاريږي يو ايات يې في الارض ثابتوي بل يې في السماء ثابتوي بل يې على العرش ثابتوي اوس که يو سړي وايي على العرش دي في السماء في الارض نه دي ددې دوه اياتونو نه انکار راغلو .

که يو سړي وايي في السماء دي على العرش نه دي في الارض نه دي دې ۲ اياتونو نه انکار راغلو ، که يو سړي وايي چې في الارض دي في السماء نه دي على العرش نه دي دې نه انکار راځي مسلمه عقيده دا شوه چې دا اياتونه به د متشابهاتو نه شي ددې نچوړ به دا شي چې خالق کائنات کې موجود دي .

ابن حجر عسقلاني رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د خدای تعالى نه سوال کول په أين سره کول هم جائز نه دي ، چې چيرته دي دغه سوال به هم نه کوي ته خو د ذات الله تفکر کوي او تفکر د

ذات الله خو ممنوع دي هلته تفکر نه شي کولې د دې په ځای صفات الله کې تفکر وکړه.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته څه یهودیان راغلل او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یې وویل چې مونږ ته د خپل رب نسب بیان کړه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وژړل حتی چې غشي پرې راغله نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وویل چې زه درته د لمر نه شم ویلي چې د لمر حقیقت څه شي دي زه به د خالق د ذات تاسو ته څه وایمه نو د خالق په ذات کې تفکر ممنوع دي د هغه نه په اَین سره سوالونه ممنوع دي دا ثابتیږي چې خالق موجود دي.

اوس که چا وویل چې علی العرش نه دي دا خبره غلطه ده داسې به نه وایي چې علی العرش نه دي د الرحمن علی العرش استوی مخالفت راځي، که چا وویل چې في السماء نه دي د ءآمنتم من في السماء مخالفت راځي، که چا وویل چې في الارض نه دي د هو الله في السموات وفي الارض مخالفت راځي نو مکانونه مه ثابتوي مه ځمکه مه اسمان مه عرش دا مکان کوه مه ورته خو انکار هم مه کوه چې علی العرش نه دي في السماء نه دي في الارض نه دي ذې نه هم انکار مه کوه.

بس نچوړ یې دا شو چې باري تعالی په کائناتو کې موجود دي او که وهابیان دلیل کې دا پیش کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د معراج په شپه بره تللي وه هلته خدای تعالی وه دا خو هسې بې ځایه استدلال دي ځکه چې موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ کوهِ طور ته تللي وه له اُوني اواز راغلې وه چې اني انا الله. اوس دلته څه تعبیر کوي ټول د متشابهاتو نه دي نو دا دلیل د في الأرض نه شي کیدلې او هغه دلیل د في السماء نه شي کیدې دا دواړه مکانونه دي حادث دي یو وخت کې دا نه وه خالق وه نو هغه وخت کې د خالق باره کې څه عقیده لرل په کار وه اوس هم هغه په کار ده.

یواقیت الجواهر کې امام شعراني رَحِمَهُ اللَّهُ دغه ایاتونه را اخلي او ډیر ښه جواب کوي وایي چې څوک دې کې مشوش وي هغه دې دا تفکر وکړي چې یو وخت کې عرش نه وه اسمان نه وه ځمکه نه وه څه هم نه وه خالق وه نو وه څنګه چیرته وه عقل په کې کار نه کوي چې نه یې کوي اوس هم دغه شان عقیده جوړه کړه چې خالق موجود ده په کائناتو کې باقي تفکر د ذات نه مونږ ممنوع یو چې خالق موجود ده په کائناتو کې باقي تفکر د ذات نه مونږ ممنوع یو ذات کې به یې سوچ نه کوو بطور مثال العیاذ بالله چې لاسونه به یې څنګه وي ستر کې

به يې څنګه وي دا د مجسمه وو عقيدې نه سړي راکاږي بلکې بت پرستي ده .

(۴) جماعت د جهميه : الواردية : قالوا لا يدخل النار من عرف ربه ومن دخلها لم يخرج منها ابداً .

څوک چې په ګناه ورشي بيا ترې نه شي وتلې خو عارف نه شي تلي هغوي ايمان عبارت د معرفت نه ګرځوي .

(۵) والزنادقة : قالوا ليس لاحد ان يثبت لنفسه رباً .

يو سړي ځان ته رب نه شي ثابتولې .

لان الاثبات لا يكون الا بعد إدراك الحواس .

وايي ځکه اثبات نه راځي وروسته د إدراك الحواس نه .

وما لا يدرك لا يثبت . چې شي حواس نه درک کوي نو منل يې نه دي په کار نو د رب نه منکر دي دا .

(۶) والحرقية : زعموا أن الكافر تحرقه النار مرة واحدة ثم يبقى محترقاً ابدا .

يو ځل به يې وسوزوي بيا به جهنم کې سوزيدلي پراته وي .

لا يجد حر النار . بيا دوباره نه پيدا کوي حرارت د اور .

(۷) والمخلوقية : زعموا أن القرآن مخلوق .

(۸) والفانية : زعموا أن الجنة والنار يفنيان . دا به فنا کيږي .

ومنهم من قال لم يخلقا . بعضې وايي چې دا بالکل لا پيدا شوې هم نه دي .

(۹) والعبدية : جحدوا الرسل وقالوا انما هم حكماء . د رسولانو نه انکار کوي وايي دا هوښيار خلک وه .

(۱۰) والواقفية : قالوا لا نقول ان القران مخلوق ولا غير مخلوق . مونږ ورته نه مخلوق ويلي شو او نه غير مخلوق .

(۱۱) والقبرية : ينكرون عذاب القبر والشفاعة . دا د عذاب قبر او شفاعت منکر دي .

دلته پاکستان کې دا ډير زيات دي عثمانيان ورته وايي ، ښکاره د عذاب قبر منکر دي او دا پنجپيريان هم د عذاب قبر منکر دي دوي په بل شکل انکار کوي .

دوي وايي قبر کې هيڅ هم نشته دې روح يا عليين ته لاړ شي تنعم هلته دي او يا سجين ته لاړ شي تعذيب هلته دي سجين کې منو خو په قبر کې نه منو ، دوي وايي هغه روح ته تکليف ورکول کيږي باقي تنه دده خرابه شي ضايع شي ده ته څه عذاب نشته دي دا ختموي او دا ميت بلا روح وي او زمونږ اهلسنت دا وايي چې صحيح ده روح دده سجين ته لاړو او يا د نيک عليين ته لاړو خو د دغه روح له دغه تني سره يو ربط شته دي د هغه ربط په وجه دغه تنه تنعم هم حاصلوي او دغه تنه عذاب هم حاصلوي او په هغې پوهيږي درکي کوي او د هغې مثال د لمر دي چې اثر يې ښکاره دي په ځمکه کې او لمر په کومه دونيا کې ده .

(۱۲) جماعت : واللفظية : قالوا لفظنا بالقرآن مخلوق .

وانقسمت المرجئة اثنتي عشرة فرقة :

(۱) التاركية : قالوا ليس لله عزوجل على خلقه فريضة سوى الايمان به . صرف ايمان دي نور څه نشته او چې ايمان چا قبول کړو .

فليفعل ما شاء . چې څه کوي بس کوي دي .

(۲) والسائبية : قالوا ان الله تعالى سيب خلقه ليفعلوا ما شاءوا . دا هم هغه اولې دلې ته قريب دي ، وايي خلک يې خوشي کړي چې څه کوي هغه به کوي .

(۳) والراجية : قالوا لا يسمى الطائع طائعاً ولا العاصي عاصيا لأنا لا ندري ماله عند الله تعالى .

نه به نيک ته نيک وايي نه به بد ته بد وايي مونږ ته معلومه نه ده چې عند الله يې څه فيصله ده .

(۴) والسالبية قالوا الطاعة ليست من الإيمان .

(۵) والبهيشية : قالوا الايمان علم ومن لا يعلم الحق من الباطل والحلال من الحرام فهو كافر . غير عالم كافر گڼي .

(٦) والعملية: قالوا الايمان عمل.

(٧) والمنقوصية: قالوا الايمان لا يزيد ولا ينقص. كم ايمان.

الايمان الكامل الذي هو مترادف مع الإسلام.

کوم ایمان چې مترادف د اسلام سره دي چې ایمان کامل دي چې هغه سبب دي لپاره د نجات من النار بالکل د اور نه دي خلاصوي هغې ته لا يزيد ولا ينقص وايي نو دا مرجئه دي بيا احناف چې کوم قول کوي دغه ایمان نه يادوي هغوي ایمان مطلق يادوي ایمان کامل نه يادوي .ایمان خو کمال ته په عمل رسیږي هغه مترادف له اسلام سره دي عمل زیاتیږي نو ایمان خپله زیات شو یو ایمان مطلق دي چې هغه د خلود د جهنم نه ناجي دي نه د نفس جهنم نه هغه ایمان يزيد وينقص قول امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ کړې دي.

(٨) والمستثنية: قالوا الإستثناء من الإيمان.

(٩) والمشبهة: قالوا بصر كبصر ويد كيد.

(١٠) والحشوية: قالوا حكم الاحاديث كلها واحد. حکم د احادیثو یو دي.

فعندهم ان تارك النفل كتارك الفرض.

(١١) الظاهرية الذين نفوا القياس. هغه دي چې قياس نفي کوي وايي چې قياس نشته دي داد مرجئه (١١) ډله ده نن صبا وهابيان هم دې کې دي.

(١٢) والبدعية: اول من ابتدع هذه الاحداث في هذه الامة.

وانقسمت الرافضة اثنتي عشرة فرقة:

(١) العلوية: أن الرسالة كانت إلى علي وأن جبرائيل اخطأ.

(٢) والأمِرية قالوا إن علياً شريك محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في أمره. چې رسالت دي.

(٣) والشيعة: قالوا إن علياً رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وصي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ووليه من بعده وإن الأمة كفرت بمبايعة غيره. تمام صحابه کافر کوي نعوذ بالله.

(٤) والاسحاقية: قالوا أن النبوة متصلة الى يوم القيامة. دوي د ختم نبوت منکر دي.

وكل من يعلم علم اهل البيت فهو نبي .

(٥) والناووسية : قالوا علي افضل الأمة فمن فضل غيره عليه فقد كفر .

(٦) والامامية : قالوا لا يمكن أن تكون الدنيا بغير إمام من ولد الحسين .

وإن الإمام يعلمه جبريل عليه السلام فاذا مات يبدل غيره مكانه . دوي وايي يو امام به خامخا وي .

(٧) والزيدية : قالوا ولد الحسين كلهم أئمة في الصلوات فمتى وجد منهم احد .

وايي چې كله حسيني او سيد موجود وي .

لم تجز الصلاة خلف غيرهم برهم وفاجرهم .

نيک وي که بد وي خو چې حسيني سيد موجود وي بل چا پسې مونځ جائز نه ده .

(٨) والعباسية : زعموا أن العباس كان أولى بالخلافة من غيره .

(٩) والتناسخية : قالوا الأرواح تتناسخ .

دا په دوي کې صوفيه دي قائلين دي د ارواحو د تناسخ چې دا روح يو نه وځي ځي چيرته نه دا وايي بل کې د ننه شي وايي نبنه يې دا وي چې هغه سړي ډير مالداره شي دا دي بنه سړي روح په کې ننوتلې وي د هغه برکات په ده ښکاره شي .

(١٠) والرجعية : زعموا أن علياً وأصحابه يرجعون إلى الدنيا وينتقمون من أعدائهم .

(١١) واللاعنة : يلعنون عثمان وطلحة والزبير ومعاوية وابا موسى وعائشة وغيرهم .

(١٢) والمتربصة : تشبهوا بزي النساك ونصبوا في كل عصر رجلاً ينسبون اليه الامر يزعمون انه مهدي هذه الامة فاذا مات نصبوا آخر .

ثم انقسمت الجبرية اثنتي عشرة فرقة :

(١) فمنهم المضطرية : قالوا لا فعل للادمي بل الله يفعل الكل .

بنده څه فعل او کسب نه لري څه چې دي نو خداى تعالى يې کوي نو دغه عقيده د جبريه وو مضطريه فرقې ده چې هر څه خداى تعالى کوي بنده هيڅ نه شي کولې دا د اهلسنت

عقیده نه ده اهلسنت دا عقیده لري د ټولو اشیاو خالق خدای تعالی دی .

ددوي مقابله کې قدریه وو کې معتزله دي چې هغوي د **شر خالقین عباد گڼي او د خیر خالق الله** گڼي او شیطان وایي خپله پیدا شوې دي د کفر خالق بنده گڼي د زنا ، **غلا خالق بنده** گڼي دا په دې کې چې د خدای تعالی تنزه دوي ثابتوي چې ولې **نسبت د قبیح خلق هغه ته** وکړو هغه خو ډیر پاک ذات دي نو اهلسنت په وسط کې راغلل چې **دټولو اشیاو خالق الله** تعالی دي والله خلقکم وما تعملون .

او د ټولو اشیاو کاسب او کولو والا دا بنده دي هر څه خدای کوي دا **غلطه خبره ده هر** څه خدای تعالی پیدا کوي څو مره کارونه چې دي دا مخلوق ته سپارلې شوي **که خیر دي او** که شر د خیر نه صلوات دي خو خالق ته یې نسبت د کولو نه کیږي د پیدا کولو یې کیږي او د شر مثال د غلا او زنا ده خو خالق ته یې نسبت د کولو کفر دي مخلوق ته یې نسبت کیږي که دا څوک وایي چې هر څه د خدای په اراده باندې کیږي نو دا خبره صحیح ده .

جمیع افعال العباد بارادته ومشیته . داد شرح عقائد متن دي ټول کارونه د بنده گانو د خدای تعالی په ارادې باندې دي په مشیت باندې دي .

عند اهلسنت لا کما زعمه الجبریة ان لیس للعبد فعل اصلاً .

خو دلته به لږ ځان پوهوي چې هر څه د خدای تعالی په اراده کیږي دلته د اهلسنت سره د جبریه وو یوه بله ډله ده معمولي فرق لري هغه فرق دادی چې جبریه وو کې یوه ډله خو داده چې بالکلیة مخلوق څه نه شي کولې .

دویمه دله داده چې هغوي وایي هر څه د خدای په اراده کیږي او مخلوق د خدای له ارادې نه بغیر څه شي نه شي کولې خو د خدای تعالی دا اراده بیرته د خیله په دې کسب کې گڼي او د خدای تعالی په اراده دا بنده مجبور گڼي دا بیا جبریه دي دا هغه فرقه ده **لو شاء الله اطعمه** مونږ ته وایي چې غریبانو ته روټي ورکړه .

که د خدای خوښه وای طعام به یې ورکړې وای کنه دا چې مونږ طعام نه ورکوو دا خو د خدای اراده نه ده شوې گوره هغه خپل کار کې به یې د خدای اراده دخیله کړه او ځان به یې پرې مجبور کړو الملل والنحل کې امام شهرستاني رَحِمَهُ اللّٰهُ ذکر کوي وایي د غه جبهم چې دي

داد ارادې و الا وای داد مشرکينو جماعت دي دغه ایات یې پیش کړي دي؛ وهل هذا الا تصریح بالجبر. د غسې خبرې چې څوک کوي چې د خدای په اراده کیږي او اراده بیرته کسب کې دخيله گرځوي وایي دا سوچه جبر دي دا صراحت په جبر سره دي هر څه د خدای تعالی په اراده باندې دي خو اراده د خدای تعالی مؤثره خلق کې ده په کسب کې نه ده.

د شرح عقائد متن چې پوره و کتل شي نو بیا درته ښکاره کیږي د خدای تعالی اراده مؤثره په خلق کې ده په کسب کې نه ده لکه زه یو شي را اخلم دلته زما په دې زړه کې یو قصد راځي دا کار لاما کړي نه دي زما دې زړه کې قصد راشي زه اراده و کړم هغه اراده نه چې معي د فعل سره ده هغه اراده په نوم د قصد مصمم سره چې زه یې زړه کې راولاړه کړم چې زه څنګه اراده و کړمه زما هغه اوله اراده هغه د قصد قلبي اراده یادومه اثر لا هیڅ هم نه دي ښکاره عمل لا نه دي شوې دې شي او چتول یو عمل دي زه دې زړه کې اراده کوم قصد کوم چې زه به دا شي را اخلم.

شرح عقائد څه لیکي:

عقیب ذلك یرید الله تعالی الخلق.

چې زه څنګه ددې قصد و کړم دغي نه وروسته خدای تعالی ددې خلق اراده وکړي زما د پاره دا کار پیدا شي نو زه هغه اراده استعمال کړم چې کومه معي مع الفعل ده را او چت یې کړمه نو دا شي داخل شي تحت القدرتین وتحت الارادتین ارادة الله تعالی من حیث الخلق والایجاد وارادة العبد من حیث الکسب والاکتساب. زما کار کسب دي او د خالق کار ایجاد دي نو چې هر څه د خدای په اراده کیږي دا سمه عقیده ده خو ددې نچوړ دادی چې خدای تعالی د کل اشیاء خالق دي ددغه الفاظو په ځای د هغه الفاظو تعبیر وکړه صحیح ده کنه هر څه د خدای تعالی په اراده کیږي د الله اراده مؤثره په خلق کې ده نه په کسب کې نو چې په خلق کې ده نو د الله تعالی د ارادې په خلق کې د تاثیر مقصد هم دغه دي چې دا شي پیدا کوي.

نو لنډه وایه چې هر څه خدای تعالی پیدا کوي جبریه وو سره اهل سنت ډیر فرق نه لري تقریبا ۱۹-۲۰ فرق دي دغه جبریه چې کوم اراده اراده په کې یادوي چې هغه کوم اراده نه

يادوي د هغوي فرق ژمونږ سره خو بداهتاً ضروري فرق دي او هغه خو نحن نفرق بين حركة البطش وحركة الارتعاشي بالبداهة ، د ګوزنډوالي حرکت او د بطش حرکت دا خو بداهةً فرق لري کوزنډو الا اختيار نه لري زه اختيار لرم هغه مضطرية فرقې چې کومه عقيده ساتلي هغه خو فرق لري چې مخلوق څه نه شي کولې هغه خلک چې اراده په کې يادوي د هغوي سره بيا د اهلسنت فرق ډير عميق دي او ډير معمولي باريک فرق دي هغوي ددې ارادې له وجې نه دا مخلوق مجبور وګڼه او هغه تقدير چې په ازل کې شوې دي د هغې د لاسه يې حرکات د عبادو وګرځول .

او اهلسنت څه کار کوي چې ددې تقدير له وجې نه حرکات د عبادو نه دي بلکې دحرکاتو د عبادو د تقدير ريکاډ شوې دي دغو مره معمولي فرق دي په کې غړيدل هم جرم دي خو که دې خلکو ډا خبرې نه کولې نو مونږ به ولې کولې دفاعي حالات دي چې مونږ يې استعمالوو ګڼې چونکې دا تکلم د تقدير په باب کې فقهاء شنيع ګڼلي امام ابي يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ قاضي ابي يوسف دربار ته راغي څه علماء په همدې مسئله نختي وه او هارون الرشيد بادشاه ورته وايي قاضي صاحب فيصله وکړه څادريې وځنډه ترې روان شو وايي نن قضاء ته کينمه هم نه دا وايي داسې بنه کار کې نه دي لګيا چې زه يې فيصله وکړم په دې کې به يې فيصله نه کوله .

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي دې مسئله کې چې بحث کوي وايي مخ ورته تور کړي او په اوښ يې سور کړي او دا مخ يې د لکي خوا ته کړي او د لکي د اوښ په خوله کې ورکړي او د چپړو هار ورته واچوي په غاړه کې بازار کې وګرځوي چې څوک تقدير کې غړيږي دا به يې سزا وي علماء دومره دې کې بحث بد ګڼي دغه جهالو دغه مسئله زير بحث کړه .

مونږ د مجبورۍ نه دې ته راغلو ګنې زه خپل شاګردان دې نه سخت منع کومه چې دا مسئله زيرِ بحث مه ګرځوي او انتهائي ژوره مطالعه د علم کلام چې نه وي په کې ګمراه کيږي نه رسيږي هغه حق ذهن ته دي .

شيخ حسن جان رَحِمَهُ اللَّهُ به يو مثال ورکوه او ډير عام فهم مثال به يې ويلو هغه دا مثال ورکوي چې شيشه به يې ځان ته ونيوله دې شيشه کې به يې سر وخوزوه حرکت به يې ورکړو هلته په شيشه کې به هم سر وخوزيدلو دا چې کوم خلک اراده يادوي او جبريه دي او

اهلسنت ددوي مينځ کې دومره فرق دي جبري وايي، وايي دا زما سر ځکه خوزېږي چې هغه شيشه کې تصوير خوزيدلي دي د هغه د لاسه زه خوزېږمه اهلسنت وايي چې تا دا سر نه واي چوزولې هغه شيشه کې نه خوزيدلو خو ستا د خوزيدلو نه هلته خوزيدل راغلل د غه شيشه کې تصوير د غه مثال د تقدير دي.

جبري وايي چې تقدير کې څه شو د هغې نه زه مخالفت نه شم کولې ولې هغه ما خوزوي دغه وخت کې که مونځ ليکلي وي زه مونځ کومه او که زنا يې ليکلي وي زنا کومه زما په کې څه اختيار دي د زنا په وخت کې به يې مونځ راته ليکلې واى کنه ماته به يې ټول مونځونه ليکلې واى زنا به يې نه ليکلي ګورئ ځان خو يې مجبور کړو کنه د تقدير د لاسه يې ځان مجبور کړو.

اهلسنت وايي چې خداى تعالى په تا عالم وه ازلاً چې ته بد بخته به په دغه وخت کې زنا کوي ځکه يې درپسې وليکله خو د هغې د لاسه په تا زنا نه ده شوې تا په خپل اختيار باندې کړې ده ضرور دي چې دلته يو فرق وشي په مينځ کې او د خداى تعالى د تقدير د لاسه ځان ونه خوزول شي داسې مثال يې دي ګوري زما نه دې کامرې ريکارډ وکړو او صبا تاسو په ويډيو کې ګوري او هغې کې زه خوزېږم خو زه دلته خوزيدلې يمه چې هلته ريکارډ شوې دي کنه نو داسې خو نه ده چې زه د ريکاډ له وجې نه حرکت کوم زما له خوزيدو نه ريکاډ جوړ دي.

هغه تقدير د غه شان تصوير دي د غه شان معامله ده د غه شان ريکاډ دي دا ريکاډ زمونږ د خوزيدو نه جوړ دي خو د ريکاډ د لاسه زمونږ خوزيدل نه دي نو جبريه مونږ سره دغه فرق لري هغوي وايي دا هر څه تقدير کې دي که هغه نه وايي نو مونږ به دا کارونه نن نه کول ځان مجبوروي ورباندې مثال يې د ونې ورکوي چې باد پرې راشي خوزېږي کنه نه خوزېږي دا محض د جبريه وو مثال دي ونې سره ته کله مماثل يې هغه اختيار نه لري اراده نه لري عزم نه لري ته اختيار لري عزم اراده لري کله مثال د قلم سره ورکړي چې کاتب يې خوزوي او خوزېږي ګنې نه خوزېږي دا جهال اميان تبليغيان دا هم د محراب خوا ته دا مثالونه عوامو ته ورکوي.

- نو ته کله د قلم په شان يې قلم کې حرکت نشته جماد دي اختيار نه لري انسان اختيار لري ډيره خطرناکه فرق ده. **لعنة المرجئة على لسان سبعين نبياً.**

د مرجئه وو شرحه ملا علي قاري رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي :

والحق أن المرجئة هم المجبرة الذين قالوا أن ليس للعبد فعلاً اصلاً .

حقه داده چې مرجئه جبريه فرقه ده هغه ده چې وايي بنده څه نه شي كولې .

اويا (۷۰) پيغمبرانو په دې جماعت باندې لعنت ويلې دي .

(۲) والأفعالية : قالوا لنا افعال ولكن لا استطاعة لنا فيها .

زمونږ كارونه شته خو طاقت په كې نه لرو .

وانما نحن كالبهائم نقاد بالحبل . او مونږ د بهائمو په شان يو چې راخكلي كيږو حبل نه مراد تقدير يا دوي تقدير مو راكاږي .

تبليغي جماعت والا كې چې كوم جهال دا وايي چې هر څه خداى كوي مخلوق څه نه شي كولې دا په جبريه وو كې مضطرية فرقه ده كوم طالبان او علماء ددوي چې اراده اراده وركې يادوي هر څه د خداى په اراده كيږي او ځان بيا هم مجبور ګڼي او مثالونه د جبريه وو پيش كوي هغه دا فعالية فرقه ده افعال مني ځان ته خو اختيار په كې نه مني .

(۳) والمفروغية : قالوا كل الاشياء قد خلقت والأن لا يخلق شيء .

هر څه مخكې پيدا دي اوس څه نه پيدا كيږي .

(۴) والنجارية : زعمت ان الله تعالى يعذب الناس على فعله لا على فعلهم .

د خلكو په اعمالو تعذيب نه دي خداى تعالى چې تقدير كې څه جوړ كړې وي د هغې موافق تعذيب دي .

(۵) والمنانية : قالوا عليك بما يخطر بقلبك فافعل ما توسمت منه الخير .

وايي څه چې دې په زړه كې راځي په هغې عمل كوه يعني **استفتي قلبك استفتي نفسك وان اخطاك المفتون .**

دا خو نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ دا امر كړې وه خو داسې چا ته يې كړې وه چې قلب يې صفا وه نفس تزكيه وه هر سړي خو يې نه شي كولې دا د له تهول داسې وايي نه نه فتوو پسې مه ځه زړه ته متوجه شه .

(٦) والكسبية قالوا لا يكتسب العبد ثواباً ولا عقاباً.

(٧) والسابقية: قالوا من شاء فليعمل و من شاء فلا يعمل فان السعيد لا تضره ذنوبه والشقي لا ينفعه بره.

تقدير ته ځان سپاري.

(٨) والحبية قالوا من شرب كأس محبة الله تعالى سقطت عنه عبادة الأركان.

چا چې پياله د محبت د خداى تعالى وڅکله ساقط شو له ده نه عبادت د ارکانو.

(٩) والخوفية قالوا من أحب الله تعالى لم يسعه أن يخافه لأن الحبيب لا يخاف حبيبه.

څوک چې خداى تعالى سره محبت لري جائز نه دي ده لره چې ترې وډار شي لان الحبيب لا يخاف حبيبه.

(١٠) والفكرية قالوا من ازداد علماً أسقط عنه بقدر ذلك من العبادة.

علم چې زياتيږي عبادت تر ورو ورو ساقطيږي.

(١١) والخشبية قالوا الدنيا بين العباد سواء لا تفاضل بينهم فيما ورثهم أبوهم آدم.

د اسم د خلقيانو مذهب دي زر زمين شريک دي د شريک خبره کوي چې دا ځمکي دي ټول يو شان تقسيم شي.

(١٢) والمنية قالوا منا الفعل ولنا الإستطاعة.

کارونه هم زمونږ نه دي او استطاعت هم زمونږ نه دي، يعنې دا مونږ خپله پيدا کړي دي قدريه وو سره يې لږ فرق شته وايي کارونه منا زمونږ نه دي مونږ يې کوو خو دې سره چې کوم طاقت دي خداى نه دي راکړي په زنا باندې طاقتونه بلکې دا مونږ خپله پيدا کړي دي.

اوس ددې فرقې په رد کې څه روايات ذکر کوم:

سنن ابي داؤد جلد ۴ صفحه ۳۵۷:

حدثنا موسى بن اسماعيل حدثنا عبدالعزيز بن ابي حازم قال حدثني بمنیٰ عن ابيه عن ابن عمر عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال القدرية مجوس هذه الأمة إن مرضوا فلا تعودوهم وإن

ماتوا فلا تشهدوهم .

دا مخکې هم تير شوې دي .

دويم روايت کې فرمايي جلد ۴ صفحه ۳۵۷ :

حدثنا محمد بن كثير اخبرنا سفيان عن عمر بن محمد عن عمر مولى غفرة عن رجل من الانصار عن حذيفة قال قال رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لكل أمة مجوس ومجوس هذه الأمة الذين يقولون لا قدر من مات منهم فلا تشهدوا جنازته ومن مَرِضَ منهم فلا تعودوهم وهم شيعة الدجال وحق على الله ان يلحقهم بالدجال .

المجالسة وجواهر العلم جلد ۳ صفحه ۲۱۸ :

حدثنا عباس بن محمد الدوري حدثنا عثمان بن زفر حدثنا ابو معشر عن سعيد عن أبي هريرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لكل أمة مجوس ومجوس هذه الامة القدرية فان مرضوا فلا تعودوهم وان ماتوا فلا تشهدوهم وان لقيتموهم في طريق فالجئوهم الى اضيقه .

که په لاره په مخه درغله تنګوي يې د کافرو سره چې کوم تشدد په کار وي .

داد يهودو باره کې هم راځي چې په لاره په مخه درغي تنګي ته يې ور جوړ کړه يعنې : اسې لار مه ورکوه سم يې تنګي ته برابر کړه تکليف يې کړه ، اوس انګريزان مونږ تنګوي لارې راباندې بندوي انګريزان پوهيږي چې د نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ دې خبره کې څه مقصد شته دي څه حديث اوس دوي عملي کړو په مونږ باندې .

دا غلبه به څه وخت د پاره وي خو دائمي به نه وي نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ دُعا کړې وه چې زما په امت به غير نه مسلط کوي دا دُعا قبوله شوې وه دا تسليط د څه ايامو دي په څه مواطنو متعددو دي په ټولو نه شي راتلې .

ټوله دنيا باندې ذو القرنين عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ بادشاهي کړې ده سليمان عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ بادشاهي کړې د مؤمنينو نه ، بخت نصر کړې ده او نمرود کړې ده .

اخري چې په ټوله دنيا بادشاهي کوي عيسى عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ به يې کوي نو زمونږ تله پرې درنه شوه زمونږ به دري بادشاهان په دنيا بادشاهي وکړي او د کفارو به دوه بادشاهان

بادشاهي په توله دنیا وکړي.

دارنګې الذریة الطاهر للدولابي جلد ۱ صفحه ۱۸۳:

حدثني احمد بن يحيى الصوفي حدثنا ابراهيم بن محمد بن ميمون عن محمد بن حسين بن علي بن حسين عن ابيه عن جده عن النبي ﷺ قال يكون بعدي ثلاث فرق.

ما نه بعد دري فرقې به راشي:

مرجئة، حرورية و قدرية فان مرضوا فلا تعودوهم.

چې کله مریضان شي بیمار پرسي یې مه کوي.

وان ماتوا فلا تشهدوهم.

که مړه شول جنازي ته یې مه ورځي.

وان دعوا فلا تجيبوهم.

که دعوت یې درکړو نو دعوت یې مه قبلوي خوراج هم په دې کې راغلل.

دا مسئله د الفرق بین الفرق وه باقي د ایصال ثواب رایه د اهلسنت وه مقابل یې اهل زیغ وه کرامت د اهلسنت رایه وه مخالف یې معتزله دا په دغې جماعاتو کې راغلل، دارنګې عذاب قبر چې حق دي د اهل سنت رایه ده منکر ددې دغه جماعت تاسو ته ذکر شول دارنګې مثبتین د قیاس اهلسنت دي او نافیین د قیاس اهل ظواهر دا یوه ډله او جماعت په دغې کې راغې.

دغه شان نور بعضې مسائل چې هغه ثبت د سلفو کوي د اسلافو کوي یا خپل جماعت نه خارج کافر ګڼي چې دا اتفاقي د خوارجو عقیده ده هغه په دوي کې شته نو همدغه جماعات دي چې عقیدوي مخالفت د اهلسنت والجماعة سره لري او انتهائي زیات توجه دې مسئلې ته ورکول په کار دي چې باید سړي د اهل سنت تائید وکړي او د اهل زیغو مقابله وکړي باقي رفع الیدین امین بالجهر دا څه فروعي اختلافات د ائمه وو په مینځ کې دي داد یو جانب بل ته ګمراه نه شي ویلي او نه دا ضلالت دي بیا هم.

مسئله د الفرق بین الفرق خلاصه شوه.

مسئلة علم الغيب :
التحقيق في علم الغيب

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا﴾ (سورة كهف آيت :٦٥)

بله مسئله نزاعي چې زير بحث ګرځو مه هغه مسئله د علم الغيب ده الى غير الله تعالى ته يې اثبات څنګه دا مسئله يوه سخته او پيچيده مسئله ده او متضاد نصوص په کې ښکاريږي كوم خلک چې مطلقاً نافيين دي د علم غيب د مخلوق نه هغوي هم استدلالات د قرآن عظيم الشان د نص نه او د چند صحيح احاديثو نه كوي او كوم خلک چې مثبتين دي عبادو ته د علم غيب د څه برخې هغوي هم د قرآن عظيم الشان نه نصوص پيش كوي او د صحيح احاديثو نه اخذ كوي خو مخکې له دې نه چې مونږ خپلې موضوع ته راځو نو دا خبره مسلمه ده بيننا وبين الخصم چې كوډګرو ته كاهنانو ته او پيريانو ته د غيبو علم نشته دا مسلمه خبره ده مونږ چې كوم اثبات جزي كوو د څه علم عبادو خواصو لره نو د هغې به دا معنى نه وي چې كاهن ته يې ثابته وو يا يې پيري ته ثابتوو پيريانو ته كاهنانو ته په اتفاق بيننا و بين الخصم علم غيب نشته او څو مره ځايونو کې چې رد په علم غيب راځي اكثرا دا رد په كهانت باندې وي او رد د كلي علم غيب د نفي وي تفصيلي كلي او رد د علم غيب ذاتي وي.

نو زه اولاً هغه نصوص چې خلک د مطلق علم غيب نه انكار كوي او وايي كه چا مخلوق ته د غيبو څه برخه هم ثابته كړه د علم كافر دي مشرک دي د هغوي استدلالات د قرآن عظيم الشان د نصوصو نه چې هغوي يې پيش كوي د قرآن عظيم الشان متعددو نصوصو کې د غيب د علم د مخلوق نه نفي شوي خو په كومو الفاظو کې چې نفي شوې داد غيب معرف په الف لام غيب منكر چيرته هم په قران عظيم الشان او نصوصو کې د مخلوق نه نفي نه ده ثابته غير معرف په الف لام سره.

الإيرادات :

سورة الانعام آيت نمبر ۵۰:

﴿قُلْ لَآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ اللَّهِ﴾ محبوبه خلكو ته داسې وو ايه نه وايم تاسو ته چې خزانې له ما سره دي.

﴿وَلَآ أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ او نه وايم تاسو ته چې زه په غيبو پوهيږمه.

﴿وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ﴾ او نه وايم تاسو ته چې زه فرشته يمه.

﴿إِنْ أَتَّبِعُ﴾ اتباع نه كومه.

﴿إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ﴾ مگر د هغې چې وحي كيږي إِلَيَّ.

﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ﴾.

دارنگې سورة الاعراف آيت ۱۸۸:

﴿قُلْ لَآ أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا﴾ مطلق راغلي بدون د استثناء نه زه ځان لره د ضرر او نفعې مالک تام نه يم دلته استثناء راځي: ﴿إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ﴾

نو چې كوم ځاى كې مطلق دي هغه به په دې مقيد شي هر ځاى كې به دا قيد لگوي كه د خداى تعالى اراده او مشيت وي بيا د نفعې او ضرر ملكيت راته شته كه مشيت د الله نه وي بيا نشته دا مسلمه خبره ده كه څوک نبي اكرم ﷺ ته داسې ملكيت او اختيار ثابتوي چې په مقابل د مشيت الله تعالى كې دا مقدم گڼي نو دا خو سره د مسلمان عقيده نه ده بعضې خلک داسې نظر لري كه د خالق يو كاريو شان خوښ وي او نبي عليه السلام د هغې خلاف وغواړي نو دده به منل كيږي او هغه به خپله خوښه ورته ماتوي.

نو دغه غلطه خبره ده د نبي عليه السلام ارادې او اختيارات د خالق په اختيار مقدم گڼل داد مسلمان عقيده نه ده دا جدا خبره ده چې دې د خداى تعالى په دربار كې يو محبوبيت لري څه دعوات خو يې قبلوي چې څه وغواړي هغه مني ليكن دې نه اختيار تام كلي ثابتول چې گڼې دې مختار كل دي او چې دې څه وغواړي هغه به كيږي ولو كه هغه د اله اراده نه وي نو دغه غلطه عقيده ده.

نو دې ځای کې بیا نفي راځي :

﴿وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ که واي چې په غیبو پوهیدې .

﴿لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ﴾ طلب د کثرت د خیر به ما کړې وه .

دارنګې سورة یونس آیت ۲۰:

﴿وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ﴾ غیب او د هغې علم الله سره دي .

دارنګې سورة هود آیت : ۳۱:

﴿وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ زه په غیبو نه پوهیږم .

دارنګې سورة النمل آیت : ٦٥:

﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ﴾ ووایه خلکو ته علم نه لري مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ څو مره مخلوق چې دي دا ټول علم نه لري الْغَيْبَ په غیبو باندې .

﴿إِلَّا اللَّهُ﴾ غیر د الله نه .

﴿وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ﴾ دوي علم نه لري چې کله به دوي پورته کیږي یعني بعث بعد الموت د قیامت علم خاصه د باري تعالی ده دا نصوص چې دي ادله یې قویه د نافیینو د علم دي له مخلوق نه اوس که دلته تاسو وګوري په (۵) آیتونو کې چې نفي راغلې ده د الْغَيْبَ راغلې ده ګوره ټول معرف په الف لام نفي کیږي دغه ځای کې مفسرین کرام راجح تاویل دا را اخلي چې مراد له الف لام نه الف لام استغراقي دي :

﴿لَّا يَعْلَمُ﴾ علم نه لري .

﴿مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ﴾ په هر فرد د افرادو د غیب علم باندې .

نو چې هر کله دلته نفي د هغه کلي استغراقي وشوه په بعضې مغیباتو چې من عند الله چا ته علم ثابتیږي د هغې سره هیڅ تضاد نه لري کل غیب تفصیلي جزي چا ته نشته دي .

دویمه داده څو مره چې نفي راځي په هغه نفي کې نفي ذاتي ده .

علم غیب په دوه قسمه دي : (۱) ذاتي ، (۲) عطائي . یو هغه دي چې عطاء من الله دي چې الله یې چا ته ور کړي نو معنی دا چې ذاتاً څوک د دې علم نه لري ځکه اصلاً چې غیب د لته مونږ زیر بحث گرځولې دي نو د لته غیب په هغه څیز باندې دي چې د هغې درک حواس خمسه یې ظاهره نه شي کولې او د هغې په حصول باندې اسباب ظاهري عادي مستعمل نه وي.

فلهذا په دغه تعریف باندې بیا ترې نه موسمیاتو والا چې څه اخبارات ور کوي هغه د غیب نه بهر شول او په هغې د دغه علم اطلاق نه کیږي ځکه هغوي ظاهري اسباب لري د هغې اسبابو نه دوي ته څه نا څه پته لږي.

تفسیر ابن جریر طبري دې آیت کریمه باندې ﴿وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ﴾ ذکر کوي :

أی ولا ادعي علم الغيب . زه د علم غیب دعوی نه لرم.

فإني لا أعلم إلا ما علمني الله . زه علم نه لرم مگر هغه چې ما ته زما رب علم راکړې دي.

نچوړ د دې څه شو چې نفي د ذاتي یې له ځان نه کړي نه د عطائي چې زه خپل نه لرم کوم څه چې لرم نو علمني الله ما ته الله راکړې دي چې څه ثابت دي عطاء ده چې کوم نفي دي ذاتي دي دا هغه یو جواب ته اشاره ده چې د لته د لا یعلم هغه کس ته نسبت کیږي هغه مدعي لره چې څوک یې دعوی کوي چې دوي نه لري ذاتاً علم.

روح المعاني جلد ٦ صفحه ٢٤٢:

ولا أعلم الغيب إلّا بإعلامه سبحانه .

زه په غیبو علم نه لرم مگر د خدای تعالی په اعلام که هغه علم راکړي بیا شته.

د دې د عبارت نچوړ هم دا چې ذاتي نفي دي زه مدعي له خپل ځان نه د غیبو د علم نه یم څه چې دې نو ما ته راکړي شوې دي دا هغه اول جواب ته ما دا دوه حوالې پیش کړي چې د لته نفي د غیب ذاتي راغلي ده رد نه دي په عطاء باندې.

دویم جواب چې د لته الف لام استغراقي دي روح المعاني جلد ۱۰ صفحه ۲۲۲ په دغه آیت باندې : ﴿وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ﴾ ښکلي تفصیل کوي :

واستشكلت هذه الآية مع ما صح انه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أخبر بالمغيبات الجمة .

يو غټ اشکال واقع شو ددې آيت کريمه د هغو رواياتو سره چې په هغې کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د جمعې غفيرې يعنې د ډيرو مغيباتو خبر ورکړې دي او دا نفي کوي او هغه علماء محدثينو من اعظم معجزات النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه گرځولې دي .

واختلف في الجواب . علماء اختلاف لري د تطبيق جواب نه دي د آيت نه به څوک جواب وکړي يعنې دغه آيتونه او هغه روايات چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د غيبو خبرو نه ورکړې دې تطبيق څه دي .

فقيل . چا دا جواب کړي :

المفهوم من الأية نفي علمه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ اذ ذاك بالغيب المفيد لجلب المنافع ودفع المضار .

کوم ځای کې چې نفي راغلي ده دا هغه علم ده ي چې هغه جلب د منافعو دفع د مضاراتو ده.

دې ته اشاره ده :

وما يعلمه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من الغيوب ليس من ذلك النوع .

او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کوم غيوب علم لري هغه ددې نوعې نه ، نه دي هغې کې دفع د مضراتو جلب د منافعو نه ده نو نفي دې ځای کې راغلې دا يو جواب شو . بيا وروسته وايي :

وقيل . چا ويلي :

المراد نفي استمرار علمه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ الغيب .

نفي استمراري راغلي ده .

ولو كنت أعلم و مجيء كان للاستمرار شائع .

كان د استمرار د پاره شائع کثير دي .

ولو كنت أعلم . که زه په دائمي استمراري طريقه مي علم لرلې .

لاستكثرت من الخير . دا بله اشاره شوه .

دريم جواب کوي :

وقيل المراد بالغيب وقت قيام الساعة.

مراد دلته د غيب نه فقط د قيامت د ورځې علم دي هغه هيڅا ته هم نه دي ورکړې شوې حتى نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم نه دي ورکړي شوې.

څلورم جواب کوي:

الْ في الغيب للاستغراق. الف لام په الغيب کې استغراقي دي.

وهو صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يعلم كل غيب.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په هر غيبو نه پوهيږي نفي د کلي تفصيلي ده.

فان من الغيب ما تفرد الله تعالى به. خداى تعالى په کې متفرد دي.

كمعرفة كنه ذاته تبارك وتعالى. هيڅا ته د هغې علم نشته.

وكمعرفة وقت قيام الساعة.

پنځم تاويل کوي: اللباب التاويل للخازن هغه را اخيستي:

في الجواب عن ذلك انه يحتمل ان يكون قاله عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ على سبيل التواضع والادب.

وايي ممکنه ده چې شي دې دا قول د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ عاجزي وي.

والمعنى لا أعلم الغيب إلا أن يطلعني الله تعالى عليه ويقدره لي.

زه علم غيب نه لرم مګر که خداى تعالى اطلاع راکړي نو بيا شته.

تاسو ته ما هغه لږه تکره ترې را اخيستي:

واختار بعضهم الاستغراق أي لا يعلم من في السماوات والارض كل غيب إلا الله فانه سبحانه يعلم كل غيب لانه الأوفق بالمقام.

دا په هغه ځاى باندې.

قل لا يعلم من في السماوات والارض الغيب الا الله.

په هغه ځاى يې دا تفضيل کړې دي.

ولو كنت أعلم الغيب لأستكثرت من الخير.

هغه عبارت وه چې مخکې ما ذکر کړه.

وجوز بعضهم ان یکون منهم من یعلم بعض الغیوب.

بعضې علماء جواز ورکوي چې انبیاء کې څوک دي په بعضو غیب پوه شي.

ففي بیان قواطع الاسلام تألیف العلامة ابن حجر بعد الرد.

بیا لیکي چې علامه ابن حجر په دې باندې رد کړي په هغه چا:

علی من أکفر من قیل له اتعلم الغیب فقال نعم.

ته په غیبو پوهیږې هغه ووېل نعم، بعضې علماء وایي دا کافر شو نو ابن حجر صاحب پرې رد کړي چې دې ته کافر مه وایي هغه به بعضې مغیبات یادوي.

لأن فیما قاله تکذیب النص وهو قوله تعالی: ﴿وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ﴾ (الانعام آیت: ۵۹)

و قوله تعالی: ﴿عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ﴾ (الجن آیت: ۲۶-۲۷)

استثناء وشوه نو په دغه استثناء کې رسل ته څه ورکول کیږي کنه نو:

فالخواص یجوز أن یعلموا الغیب في قضیة او قضایا.

خواص چې رسل او انبیاء دي اولیاء دي جائز دي چې په غیبو باندې دي علم ولري په یوه قضیه او په ډیرو قضایاوو کې.

کما وقع لکثیر منهم واشتهر والذي اختص به تعالی انما هو علم الجمیع وعلم مفاتح الغیب المشار الیها بقوله تعالی: ﴿وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ﴾.

دا مراد دي دا ددوي د استدلالاتو نه د چند تفاسیرو اقوال په جواب کې مونږه ذکر کړل چې مراد د دغې مغیباتو نه مغیبات ذاتي علم دعوی کول دي بدون د توسط دې نه چې دا من عند الله وي او یا استغراقي نفي شوې دي یا غیب استمراري دي د انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ علم کله وي کله نه وي.

گاهي با پاي اعلا نشينم گاهي با پاي پشت پاي خود نه بينم

نو دغه تعبير ترې نه کول په کار وي کومو شعراء چې په شعرونو کې ددې نه مزيد څه نسبتونه کړي دي هغه دي محمول شي په حالات د سکر او فنا في الرسول د هغوي باندې اقتداء دي ناجايزه شي لکه بعضې شاعران دا وايي چې زري زري نه خبردار دي ولې نه يې مني دا شعر زره زره علم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ثابتول دا علم کلي تفصيلي دي داد اسلافو رايه نه ده مفسرين په دغه رايه رد کوي بعضې مغيباتو علم دي د کل نه دي نو دا شعر غلط دي په قانون د شريعت کې او البته صاحب ددې يو عاشق وه که فنا في الرسول کې ترې بې اختياره دا الفاظ وتلې وي تقليد يې نارو ا دي بل څوک دې نه وايي.

او دغه شان ومن علومک علم اللوح والقلم نو د هغې دا معنى کول چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ علم په لوح قلم کې هم څه حصه شته خو صحيح دي او که دا سې وايي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ علم ډير زيات دي او دا لوح او قلم د هغې نه يوه حصه ده يعنې د هغه خو دومره علم دي دا ترې يوه حصه ده نو دا غلط تاويل دي په دغه ځای باندې يعنې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په علومو کې د لوح او د قلم څه علم هم شته هغه تقدير علم هم بعضې اوقاتو کې خدای تعالى ورکړې دي دا مسئله اختلافي ده چې انبياء ته د تقدير علم ورکولې شي او که نه بعضې علماء يې ردوي بعضې ثابتوي ليکن مثبتينو د پاره قوي دليل د سورة يوسف د حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ او قيديانو چې کوم خوبونه ليدلي وه او ده بيا د هغې تعبيرونه ورکړې وه نو بيا ده جواب ورکړو:

﴿قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ﴾.

فيصله کړې شوې وه نو قضاء يې شوې ده نو که ده سره د قضاء علم نه واي نو څنګه مخکې د وقوع ددې کار نه هغه مخکې نه اعلان کوي چې دا فيصله په قضاء کې شوې ده چونکې قضاء يو تقديري يو پټ ځای دي د صوفيه وو د اهل کشف اقوالو ته په کې ډير اعتبار دي.

امام رباني مجدد الف ثاني رَحِمَهُ اللَّهُ د هغه دا رايه ده چې عام متکلمين وايي قضاء دوه دي: (۱) معلق ده، (۲) مبرمه ده، په مبرمه کې د عبادو دخل د دعاء نه وي او مطلب دا چې په هغې کې که څوک دعا او هم کړي مبرمه فيصله پرې تغير نه خوري او هر چې معلق ده:

لا يرد القضاء الا الدعاء.

قضاء نه شي ردولې مګر دعاء يې ردوي. روايت د ترمذي شريف دی.

نو دا هغه قضاء يې مبرمه نه ده دا معلق قضاء ده دا په دعاء ګانو بدلیږي.

امام رباني رَحِمَهُ اللهُ وايي چې عام متكلمين دوه قضاء ثابتوي معلق مبرمه ليكن دې وايي چې زه وايم چې د معلقې او مبرمې په مينځ كې يوه دريمه قضاء ده چې هغلته د اخص الخواصو دعاء كار كوي او د هرچا دعاء په كې كار نه كوي بيا يې دې د پاره يو مثال ويلي وي.

زمونږ په علاقه كې يو سړي ما ته راغې چې دعاء راته وكړه چې زما ځوي وشي واي زه چې مراقبه كې كيناستم معلق قضاء كې دده لپاره د ځوي څه ذكر نه وه او هر چې مبرمه وه هغې كې د چا دعاء كار نه كوي نو ما ورته وويل چې ستا ځوي نه كيږي واي ده ما ته وويل چې ته څنګه د خداى تعالى دوست يې چې ستا په خوله يو ځوي ما ته نه راكوي واي دا پيغور يې ډير بد پيغور راكړ وخت په وخت به د سائل دا پيغور ما ته رايادیده او په ما به ډير زيات خفګان راتلو چې دا يې څه عجيبه خبره وكړه.

يو كال تير شو يو كال بعد يې د يو ولي مزار ياد كړي دې سره خوا كې تيريدمه ما ته القاء وشوه چې ورشه دغه صاحب ما ته وسيله كړه هغه ستا مشكل به پوره شي واي لاړمه چې هغه مې وسيله كړو ورته واي القاء راته وشوه چې هغه سړي ته زيري وركړه خداى تعالى به ځوي وركړي واي لاړمه هغه ته مې زيري وركړو هغه ته خداى تعالى ځوي وركړو واي زه پوهه شومه چې د معلقې هغلته خو ما مراقبه كې وكتل دده د پاره څه نه وه مبرمه كې خو دعاء كار نه كوي نو زه پوهه شومه چې د معلقې د مبرمې مينځ كې يوه دريمه قضاء هم مخفي ده چې د خاصو اولياو دعاء په كې كار كوي او د هرچا يې نه كوي.

دا چې قضاء ګانې دې دري شي نو دا چې مونږ څومره هم دنيا كې ګورو قضاء ګانې دري دي د خالق قضاء په مخلوق قياس هم ښه نه وي خو دې كې به فوائد وي د اقانونو نه هم عقلاء جوړ كړي وي افغانستان كې ابتدائيه ده مرافعه ده بيا تميز دي پاكستان سيشن دي بيا هائيكورټ دي او سپريم كورټ دي نو قضاء ګانې دلته هم دري دي هلته هم دري دي هر ځاى كې چې ګوري دري وي نو بيا داسې وي دا نورې قضاء ګانې څه د پاره وي يوه فيصله

وکړه بس خلاصه شوه دې کې د سفارش کار وي یو په کې تحقیق پوره وشي بل په کې سفارش چې کار وشي نو دې د پاره دا بعضې اوس ګوره چې په افغانستان کې چې ابتدائیه فیصله وکړي مرافعې ته لاړ شي مرافعه فیصله وکړي تمیز ته لاړ شي تمیز کې سفارش کار کوي که نه یې کوي سفارش پیش کړه ورته دلته به یې مجرم ثابت کړې وي د اعدام فیصله به وي هلته به یې معاف کړي نو دا په هغه دعاګانو هغې کې فرق راشي خو چې کله تمیز فیصله وکړه ګویا کې دا هغه مبرمه قضاء شوه بیا په کې څه نه چلیږي البته باچاء وقت لره څه اختیارات په هغې کې هم وي خالق خو مختارِ کل دي کولې شي چې په قضاء مبرمه کې هغه څه تغیر راولي را دې ولي د هغه خپل اختیار دي، خو کله په عامو اوقاتو کې په هغې کې تغیر نه راځي دا هغه نصوص وو چې دوي ترې نه استدلالات کوي.

اوس دا نصوص یقیناً که ظاهر ته وګوري د مفسرینو شرحې ته و نه ګوري همدغه ددوي دعوی ثابتوي چې مخلوق ته د غیبو علم نشته خو لیکن قرآن عظیم الشان کې څه ډیر نصوص دي چې مخلوق ته بیرته ددې څه حصه ثابتوي نو قران کریم به ټول منو داسې نه چې نیم را واخلو او نیم پرې وجنګوو:

المِراء في القران کفر.

حدیث شریف کې راځي قرآن کریم کې جګړه کفر دي نو جګړه شیخ عبدالحق محدث دهلوي رَحِمَهُ اللهُ وايي چې جګړه داده چې یو آیت د بل ټکراو جوړ کړي معارضه پرې جوړه کړي معارضه نشته تطبیق یې وکړه.

سورة کهف آیت: ٦٥:

﴿فَوَجَدَا عَبۡدٗا مِّنۡ عِبَادِنَآ ءَاتَيۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا﴾.

معروف قول دادی چې خضر عَلَيۡهِ السَّلَامُ.

﴿وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلۡمٗا﴾.

ورکړي وه مونږ ده لره د خپل جانب نه علم.

زمونږ بعضې حنفي علماء پاکستان کې او اکثر په افغانستان کې دړي داسې فکر جوړ کړي ده چې اثبات د علم غیب نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ ته دا د بریل عقیده ده او نفي ګڼې د دیوبند عقیده ده حقیقت کې هغه حقیقت دوي هم منې چې د کوم ځا عقیدې جوړې دي کشف منې اولیاء ته

الهام مني تلقي بالقلب مني ورته د انبياء علیهم السلام وحي منامات صحیحه په څو طریقو چې د علم د حصول هغه لارې دي هغه ټولې مني شان عزت دا هرڅه مني خو بس :

کونه علماً ، دغه ټکي نه مني واي نه دا انباء ده اخبار ده او دا اظهار دي دې ته علم نه ویل کیږي نو دا نصوص مونږ هغه خپله حنفي علماء ته هم ښکاره کوو چې د قرآن عظیم الشان په اصطلاح او د محدثینو مفسرینو په اصطلاح باندې د اولیاء دغې علم ته علم غیب ویل شوي دي نو بیا محض ضد مه کوي له بریلویانو سره چې دوي ورته علم وایي مونږ ورته علم نه وایو انباء هم ورته ویل شوي ده :

﴿ ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ﴾.

او اخبار هم ورته ویل شوي دي اظهار علی الغیب هم ورته ویل شوي دي اطلاع علی الغیب هم ورته ویل شوي علم هم ورته ویل شوي نو دا ټول اطلاقات یو دي فقط دومره چې ذاتي یې مه مني عباد و ته عطاء یې کړي او بل دا چې کلي تفصیلي مه مني جزئي یې کړي یوه خبره شته کلي اجمالي په انواعو باندې ثابت دي نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته په دې کائنات کې چې څومره نوعې د مخلوقاتو وې ددې علم وه په یو وخت کې ورکړې شو روایت د دارمي شریف دي :

فعلمت ما في السموات وما في الارض.

وروسته به د احادیثو باب کې راشي په اسمان او ځمکه کې چې څه وه زما پرې علم راغې.

او دویم حدیث د مصنف عبد الرزاق دي په هغې کې را اخلي :

فعلمت ما بين المشرق والمغرب.

او روایت د مسلم دي :

ان الله زوى لي الارض فرأيت مشارقها ومغاربها.

مشرق مغرب د ځمکي مې ولیدل نو له دغو نه کلي اجمالي د انواعو ثابتیږي لکه اوس مونږ ته پته نشته چې په بحر کې څو نوعه ماهیان دي او څو نوعه مخلوق دي لیکن محمدي عربي ته دا علم وه چې دلته څومره نوعې مخلوق دي په ځنګل کې څومره نوعې د مخلوقاتو

دي ته علم نه لري هغه ته دا علم وه خو يو علم كلي تفصيلي په فرد فرد جزي جزي دي دغه د بريلويانو عقيده ده بريلويان دا وايي چې د خداى تعالى د علم او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د علم هيڅ فرق نشته يو شان علم دي فقط فرق يې دي په ذاتيت كې او په عطايت كې چې دا عطايي دي او هغه ذاتي دي نور چې څومره په دې كائنات كې څه دي څومره اوني دي د اونو څومره پاڼي دي څومره كاڼي دي څومره ګياه ګاني دي او څومره شګې دي ددې ټولو علم واي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته شته دي دا لكه محبت كې ورخواړه شوي نو صراط مستقيم بين الافراط والتفريط دي نه به زياتي كوي نه به كمې كوي.

زمونږ دغه عقيده نه ده د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د ټولو انبياو علم په نسبت سره ما او تا ته عالم او مخلوق ته چې واخلي نو بيا خو ددې ټول مخلوق نه زيات دي خو بيا دا ټول علم را واخلي په مقابل د علم الله كې داسې وي لكه څنګه چې درياب كې يو څاڅكي وي علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د ټولو انبياو د ټولو انسانانو په مقابل د علم الله تعالى كې په اقليت او اكثريت كې داسې دي لكه هغه چې بحر شي او دا څاڅكي شي او امام رباني رَحِمَهُ اللهُ فرمايي دا مثال هم د الفاظو د تنګي د لاسه ورکول كيږي ګنې واي دا تمثيل هم تام نه دي ځكه چې دغه څاڅكي خو ددې بحر نه دي كنه او علم د مخلوق حادث دي او علم د باري تعالى قديم دي دغه مثال څنګه وركوي واي دې نه اخوا د الفاظو تنګي ده مونږ الفاظ نه لرو خلك څنګه پوهه كړو چې دا علم د هغې علم څومره كم دي ذا فقط تفصيل د قلت او كثرت دي نو علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د عام مخلوق د علم په مقابله كې هم دغومره ډير دي لكه چې هغه بحر واخلي د ټول مخلوق بيا څاڅكي وي دا هم صحيح ده.

خو بيرته علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مقابل د علم الله كې دومره كم دي لكه څاڅكي چې د بحر سره مثال لري نو داسې به نه وايي چې دا علم په كليت كې او په هر تفصيلي جزي جزي كې د خداى تعالى په شان علم دي خو فقط په عطا او ذات كې فرق لري نه عطائيت او ذاتيت كې.

يو فرق لري په كليت او جزئيت كې بل فرق لري چې علم ددې خو اصو په بعضې مغيباتو دي كله ترې نفي شي نه وي ورسره او بل دا چې غير استمراري دي او علم د خداى تعالى استمراري دي هغه كلي تفصيلي دي دا كلي تفصيلي نه دي كومو ځايونو كې چې د

کلي فهم کيږي هغه حمل دي په کلي اجمالي د انواعو باندې .

فعلمت ما في السموات والارض .

انواع د عالم کلاً ورته کشف شول .

رأيت مشارقها و مغاربها .

ځمکه مشرق مغرب ټول يې وليدل.

هره مسئله کې يو خوا ډانګ دي بل خوا پړانګ دي څه دوي و خوړو څه هغوي و خوړو هغوي د نفس حقيقت نه انکار کوي د انبياء د شان او عظمت او د اولياء د کمال نه انکار کوي او دې اړخ ته چې دي دا ځوانان په کې دومره ور خواږه شي چې خبره بل ځای ته ورسوي نو هغه عقيده هم بيا جوړه نه وي مينځ مينځ کې ځي خپله په لاره سمه بيا مومي او زمونږ د افغانستان علماء چې دې هغوي اوس کلک د ديوبند په مينه مست شوې دي چې بريلوي وويل چې علم شته دي نو فرق وکړه هغه به کلي وايي ته جزي و وايه کتبو را اخيستي کنه :

﴿وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا﴾ .

زاد المسير في علم التفسير جلد ۴ صفحه ۲۳۸ بعضې چاپونو کې جلد ۵ صفحه ۱۱۸ دې ځای کې :

قال ابن عباس اعطاه علما من علم الغيب ..

ورکړي وه خدای تعالى خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته څه علم د غيب نه .

که نفسِ عبد ته د علم غيب ثبوت ته شرکي عقيده و وايي نو د :

﴿ وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴾ سره به څه کوي دا خو ټکراو لري دا علماً ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په علم غيب شرحه کړو نو دا دا ثابتوي چې مخلوق ته علم غيب شته :

لا يعلم من في السموات والارض الغيب الا الله .

نشته ټکراو جګړې جوړوي جګړه مه جوړوه تطبيق وکړه نفي د ذاتيت وکړه اثبات د عطاء وکړه نفي د کليت استغراقي وکړه اثبات د جزي وکړه او يا کلي اجمالي على النوع .

څومره تفسيرونو په دې ځای کې له دې نه علم غيب اخيستي دي :

الوجيز للواحدي جلد ۱ صفحه ۴۷۶:

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا اى اعطيناه علماً من علم الغيب .

تفسير ابن كثير جلد ۵ صفحه ۱۷۹ :

وكان رجلاً يعلم علم الغيب .

وه خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ يو سړي چې علم غيب يې لرلو .

تفسير بيضاوي جلد ۳ صفحه ۵۱۰ جمهور په دې دي چې دا خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ وه په علماً باندې شرحه كوي :

مما يختص بنا ولا يعلم الا بتوفيقنا وهو علم الغيوب .

هغه علم ورکړو چې هغه خاص مونږ پورې دي هيڅوک د هغې علم نه لري مګر که مونږ توفيق ورکړو بيا وي هغه علم الغيوب دي دا مونږ ده ته ورکړې وه .

تفسير قرطبي جلد ۱۱ صفحه ۱٦ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا اى علم الغيب .

البرهان في علوم القرآن جلد ۴ صفحه ۲۹۰ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا اى من العلم الخاص بنا وهو علم الغيب .

هغه علم چې مونږ پورې خاص دي چې علم غيب دي هغه مو ورکړې وه څه حصه د هغې.

تفسير ابي السعود جلد ۵ صفحه ۲۳۴ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا خاصاً لا يكتنه كنهه ولا يقادر قدره وهو علم الغيوب .

هغه علم چې د هغې كنهه چا ته پته نه لږيږي اندازه يې نه لږي چې هغه علم غيب دي.

تفسير واحدي جلد ۲ صفحه ٦٦٧ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا اى اعطيناه علما من علم الغيب .

تفسير بغوي جلد ۳ صفحه ۱۷۳ :

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا اى علم الباطن الهاما.

دا علم باطن وه په القاء الهام سره .

تفسير فتح القدير جلد ۳ صفحه ۲۹۹ :

وعلم الله سبحان من علم الغيب الذي استأثر به.

دا هغه علم د باري تعالى چې علم الغيب دي ده ته يې ترې نه څه ورکړه.

ابجد العلوم جلد ۲ صفحه ۴۶۹ د علم لدني تعريف کوي:

والعلم الذي تعلمه العبد من الله تعالى من غير واسط ملك.

دا هغه علم دي چې حاصل يې کړي بنده د خداى تعالى نه بغير د واسطې د فرشتې نه.

د بعضې علماو مشائخو نه مونږ ته طالبان حکايت کوي هغوي دا وايي دا علم غيب نه ده دا وحي وه نو دا علماء خو زمونږ مدرسين دي بخاري تدريس کوي د وحي اقسام طالبانو ته بيانوي چې وحي يو اځې بو اسطة جبرائيل ته نه ويل کيږي:

اوحينا الى ام موسى.

مور د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته مونږ وحي وکړه نو دا راتلل د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ خو نه وه دا وحي په معنى د الهام سره وه مونږ دې ته الهام وکړو په زړه کې.

﴿فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ﴾.

زده يې کړي د رب خپل نه کلمې دا تلقي بالقلب وه کله وحي په تلقي د قلب سره وي کله په زړه کې القاء الهام وي کله منامات صادقه وي او کله فراست کشف وي کله په غوږونو لري خبره اوريدل وي کله په پوزو د نيکانو خکلي رائحه د بدن هغه بدبوي حس کول وي په ځو طريقو لاري د دغې علم وي يو اځې واسطه د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده.

تفسير النسفي جلد ۲ صفحه ۲۲:

وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا يعني الاخبار بالغيوب وقيل العلم اللدني ما حصل للعبد بطريق الالهام.

حاصل شي بنده ته بطريق الالهام سره.

تفسير روح المعاني جلد ۹ صفحه ۴۷۵:

اى علما لا يكتنه كنهه ولا يقادر قدره وهو علم الغيوب.

د علم غيب اطلاق يې پرې کړې دي.

تفسير ابن كثير جلد ۳ صفحه ۸٦ په دې کې د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما طويل حديث د حضرت خضر عليه السلام واقعه کې ابن عباس رضي الله عنه خپلو شاګردانو ته شرح کوي د تفصيل د دې واقعې نو بيا فرمايي :

وكان رجلاً يعلم الغيب .

وه حضرت خضر عليه السلام چې علم يې لرلو په غيب باندې .

دويم دليل د نص قرآني نه چې د بعضې مغيباتو علم خواصو ته وي .

سورة يوسف آيت : ۴۹ :

﴿ ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴾ .

د دې نه مخکې کوم تعبير چې شوې دې دا خو يې د خوب نه تعبير ورکړې دې چې هغه چاغ غويان او خوار غويان چې هغه چاغ غويان راغله هغې نه کومه اشاره يې چې ورکړې ده بعضې علماء تعبيرات د خوبونو هم په غيبو کې يادوي هغې ته خو څه اشاره موجوده وي هغې اشارې نه دوي فهم وکړي د فراخ سالي اول کلونه او د قحطي دا روستني کلونه د غې ته علم غيب نه دي ويلې شوي چې د تعبير کړي دي ځکه دې ته په هغه خوب کې اشاره موجوده وه هغه خوار غويان چې وه دغه کلونه د قحطي وه چاغ غويان چې وه کلونه د فراخ سالي وه چې ۷ کاله به باران په تاسو وي بيا به ۷ کاله قحطي راشي بيا چې څه تاسو کرلي وي هغه به ټول ختم شي لړ تُخم به پاتې شي هغه خوب دې نه اخوا ساکت دي اشاره نشته دي له ځان نه دا خبره ورته کوي :

﴿ ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ ﴾ .

بيا به راشي وروسته له هغې نه کال .

﴿ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴾

د خلکو دعاء به قبوله شي بيا به په هغوي باران وشي او بيا به په هغې کې نچوړوي دوي خپلو انګورو لره باغونه به بيرته بنه شي .

دې ځای باندې تفسير ابن جرير طبري جلد ۷ صفحه ۲۳۲ ذکر کوي :

وهذا خبر من يوسف عليه السلام للقوم عما لم يكن في رؤيا ملكهم .

دي نه اخوا يوسف عَلَيْهِ‌السَّلَامُ چې كوم اخبار وركړې دي د بادشاه په خوب كې دي ته اشاره نه وه.

ولكنه من علم الغيب الذي آتاه الله.

داد علم غيب وه هغه علم غيب چې خداى تعالى يوسف عَلَيْهِ‌السَّلَامُ ته وركړې وه داد غيبو څه علم وه چې ده ته خداى تعالى وركړې وه چې دو مره وخت بعد به بيا داسې مسئله راځي.

دريم دليل: ﴿مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِندَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ﴾

احاطه نه شي كولې دا فرشته ګان او عباد.

﴿بِشَيْءٍ﴾ په څه شي.

﴿مِنْ عِلْمِهِ﴾ له علم الله نه چې علم غيب دي كه احاطه كوي.

﴿إِلَّا بِمَا شَاءَ﴾ بعضې هغه چې د خالق خوښه وي نو كه مطلق د نفي قايل شو نو د الا بما شاء استثناء به هيڅ فائده ونه كوي احاطه نه شي كولې په څه شي د علومو غيبي وو باندې چې انكار مه كوه بلكې نفي د ذاتي وكړه د كلي تفصيلي استغراقي وكړه.

﴿إِلَّا بِمَا شَاءَ﴾ مګر په بعضې هغه اشياو چې د خالق خوښه وي هغه وركوي.

تفسير بغوي جلد ١ صفحه ٣٤٣ ﴿إِلَّا بِمَا شَاءَ﴾ په دغه ځاى باندې ذكر كوي:

يعني لا يحيطون بشيء من علم الغيب إلا بما شاء أن يطلعهم عليه.

مګر هغه چې د خالق څه خوښه شي په هغې اطلاع وركړې ورته.

څلورم دليل: سورة نساء آيت: ١١٣:

﴿وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾.

نازل كړي خداى تعالى په تا باندې كتاب او حكمت علم يې دركړي تا ته هغه.

﴿لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾ چې د ستا پرې علم نه وه هغه يې دركړي.

تفسير ابن جرير الطبري جلد ٧ صفحه ٤٨٠:

﴿وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾ ددې معنی کوي :

من خبر الأولین والأخرین وما کان وما هو کائن.

علم یې درکړو هغه چې تا ته علم نه وه هغه خبر د اولینو د آخرینو د ما کان او کائن څه چې شوي وه تر دغه هغه علم یې درکړو.

فکل ذلك من فضل الله علیك یا محمد من خلقك.

دا یې په تا احسان وه نو دغي ته علم وویلې شو خبر د اولینو او آخرینو ته او د ماکان هغه علم یې ده ته ورکړو دې ځای نه بعضې بریلوي حضرات استدلال کوي چې ماکان کل الاشیاء شو بس ذراتو ذراتو علم شو تعصب او ضد نه وي په کار او بې ځایه اعتراضات هم د خلکو راګرځول نه وي په کار دا زمونږ خپل فقهاء چې دعوی د علم غیب ته کفر وایي زه وروسته د هغوي عباراتو نه پیش کوم اوس خپلو فقهاء ته به څه محمل ګوري که نه به یې ګوري که ستا دا عقیده شي چې د بعضې مغیباتو علم دي هیڅ مشکل نشته او که ستا د کل مغیباتو علم وي د خپلو فقهاء عبارت ته هیڅ لاره نه شي جوړولې دغه رنګ نبي اکرم ﷺ یو طرف وایي :

تعرض عليّ اعمالکم.

عمل مو ما ته پیش کیږي.

ان کان خیراً فحمدت الله عزوجل وان کان شراً فاستغفرت لکم.

که نیک وي زه ثناء وایم که بد وي زه بخښنه ستا د پاره غواړم.

ددې نه معلومیږي چې د امت اعمالو نه خبریږي او هغه ورته پیش کیږي.

بلخوا روایت د بخاري شریف دي زه به د حوض کوثر په غاړه یمه صحابه به را روان وي هغه زمانه واپس کړي شي زه به آواز وکړمه :اصحابي اصحابي ، ما ته به وویلې شي :

لا تدري ما احدث بعدك. تا ته علم نشته تا ته پته نشته چې تا نه بعد دوي د څه احداث کړې وه.

دا هغه جماعات دي چې مرتد شوې وه نو هلته لا تدري ورته وويلي شي تا ته علم نشته نو چې ته د جزي قائل شي چې بعضې اوقاتو کې شته بعضې کې نشته هيڅ اعتراض نشته دغلته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ثابتوي هلته ترې نفي شوې دي او که ته د کلي استغراقي قائل شي نو د لا تدري د پاره هيڅ جواب بيا نه لري په کلي استغراقي کې خو چې يو روايت کې نفي ثابته شوه بس د هغې د پاره ستا استغراق ختم شو ځکه ته خو د تفصيلي جزي په هر فرد قائل يې کنه نو چې قائل يې که يو ځای کې درته نفي ثابته کړه بيا در سره لاره نشته دي بيا به دعوی مني ورسره ځکه ستا استغراق خو يې ختم کړو .

دوي بيا څه وايي ما ته يو بريلوي راغلي وه وايي ستا ډيره ښه عقيده ده خو په علم غيب کې ته د کلي قائل نه يې ما ورته وويل د کلي خو څوک هم قائل نه دي د اسلافو کتابونه وګوره ته ما ته داسې يو عبارت پيش کړه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ علم غيب کلي لري د يو چا قول پيش کړه هم يې زه منم علم لري په جميعو مغيباتو باندې دا پيش کړه ځه دا خو چيرته چا نه دي را اخيستي ولې ځان نه داسې رايه ثابتوي بيا هغه ما ته وويل چې :

علم آدم الاسماء كلها .

کل راغي د کل اشياء علم ثابت شو چې ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به طريقِ اولی دي ما ورته وويل چې ګوره دا کل مفسرين يو څه پورې لړوي يا د اولاد هغه نومونه ياد وي يا د بعضې سامانونو نومونه ياد وي هغې پورې خاص کوي ذرات نه يادوي ، وايي دلته خو کل راغلې دي ظاهره کې ما ورته وويل زه به درته کل وښايم په نصِ قرآني کې او بيا به ته خپله هلته تاويل کوي د بلقيس باره کې راځي :

﴿أُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ﴾ ورکړې شوې وه بلقيس ته د هر شي نه .

نو کل خو راغي اوتيت هم راغې اوس څه معنی شوه چې علمِ غيبي څه ورکول شوې وه چې ددې د بادشاهي سره يې تعلق لرلو د هغې بادشاهي چې څه ته ضرورت وه هغه ټول اسباب دې سره وه .

نو آخره کې ما ته وايي ستا خپل نظر دي زما خپل نظر دي خو دا کوم ځای کې چې لا تدري ته پيش کوي يا نور دا ټول نسيان دي دا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دې وخت کې هير شوې وه لکه

د يو سړي قرآن كريم ټول ياد وي او بيا ترې نه يو ځاى له ياده ووځي نو داسې خو نه ده چې علم يې نشته علم يې شته خو له ياده يې وتلې ده دا كوم چې روايات د نفي دي نسيان باندې حمل دي.

نو ما ورته وويل په اسلافو كې داسې يو قول پيدا كړه چې هغه دا ستا قول كړې وي ستا قول خو نه شم منلي ته خو خصم يې داسې قول پيدا كړه چې يو چا ويلې وي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نفي د علم چيرته راغلي ده نو دا حمل ده په نسيان باندې بالكل ما ته مسلمه ده خو يو قول هم داسې نه شي پيدا كولې په اسلافو كې او دغه مونږ چې كوم د جزي اثبات كوو بعضې ثابتوو بعضې نفي كوو دا خو زه وخت په وخت تاسو ته تفاسير ښايم چې زمونږ اسلافو هم دغه تطبيقات كړي دي كومو ځايونو كې چې د علم نسبت راغې نو زمونږ حنفي علماء چې اخبار او انباء مني او علم ورته نه وايي هغوي دې هم په دې باندې ځان پوه كړي چې اطلاق د علم پرې ناروا نه دي مفسرينو كړې يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ ته يې علم غيب ثابت كړې دي خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته يې ثابت كړې دي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته په دغه ځاى كې خبر د اولينو آخرينو ته علم ويل شوې دي.

دارنګې تفسير بغوي جلد ۲ صفحه ۲۸٦ بعضې چاپو جلد ۱ صفحه ۴۷۹: ﴿**وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ**﴾ دا وايي دې كې تاويلين دي **من الأحكام** يو قيد دا چې د احكامو علم دركړي شو دا معروف تاويل دې دلته.

دويم دا **من علم الغيب وعلمك ما لم تكن تعلم**، علم الغيب هغه چې تا ته علم نه وه هغه دركولې شو چې علم غيب دي.

پنځم دليل: سورة الانعام آيت: ۷۵:

﴿**وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ**﴾

دارنګې مونږ وښودلي ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عجائبات د ځمكو او اسمانونو دي د پاره چې شي د موقينينو نه.

تفسير القرطبي جلد ۷ صفحه ۲۳ يا جلد ۷ صفحه ۱۷ دلته تاسو هغه خپله نحوي قاعده متوجهې كړي:

نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ.

باب د رؤيت کې چې کله متعدي مفعول واحد ته شي رؤيت بصري وي او چې کله متعدي مفعولينو ته شي نو دا رؤيت قلبي علمي وي دې ته د افعالو قلوبو رؤيت هم وايي ځکه نو دې ځای کې متعدي دی مفعولينو لره. نحن فاعل دی ابراهيم مفعول اول دی ملکوت مفعول ثاني ده او تعديت د باب د رأيت چې مفعول ثاني ته بدون د حروف جر نه وشي بالذات وشي نو دا رؤيت قلبي وي په معنی د علم باندې.

دارنګې نُرِي مونږ علم ورکړو ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د عجائباتو د اسمانونو او د ځمکو نو دا علم شو ده لره دا رؤيت د سترګو نه دی بلکې دا علم دی دا رؤيت قلبي دی مکاشفه ده مکاشفه چې کوم رؤيت وي هغې وخت کې دوي ورته سترګې پټوي تاسو به صوفي کتلې وي چې د کشف دعوی کوي سترګې پټوي لکه خوب چې ګوري سترګې دې پټې وي دا ليدل وي خو زما او ستا خوبونه په شيشه د نفس کې وي دې کې د خل شيطاني ډير زيات وي او خوبونه د انبياو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او د خواصو دا په شيشه د قلب کې وي چې هغې نه تعبير په مکاشفې کيږي او زما او ستا خوب نه تعبير په کشف کيږي کشف کې د خل شيطاني وي او مکاشفه کې د خل شيطاني نه وي نفس د شيطان اډه ده په وجود کې شيطان تيار ناست وي هر قسم ته غلط غلط خوبونه په تا ليدلې شي هر چې قلب دی:

جاثم على قلب بني آدم.

د خواصو قلوب ذاکر وي چې هر کله ذاکر شي:

اذا ذكر خنث. شيطان ترې وتښتي چې وتښتي هلته چې څه وليدل شول بيا هلته د خل شيطاني نه وي نو دا حالات ده ليدلي وه نو قرطبي صاحب فرمايي په مذکوره صفحه:

أراد به ما في السماوات من عبادة الملائكة والعجائب وما في الارض من عصيان بني آدم.

اسمان کې عبادت د ملائکو او عجائبات يې وليدل او علم يې پرې راغي په ځمکه کې عصيان د بني آدم وه د غه وخت کې چې دا کشف ورکړې شو تمامه دنيا کې چې څوک په زنا او لواطت اخته وه په هره ګناه ده وليدل يو دم دا ټول ورته کشف شول.

فكان يدعوا على من يراه يعصي فيهلكه الله.

چا به چې ګناه ګوله ده به وليده نو ښيري به يې ورته وکړي هغه به هلاک شو .

فأوحى الله إليه يا إبراهيم أمسك عن عبادي .

وحي ورته وشوه ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ بند کړه د ښيرو زبان دي زما د عبادو نه .

أما علمت أن من أسمائي الصبور .

زما په اسماو کې صبور راغلې دي زه صبر کوم .

دوي لره دغه معنى چې ذکر شوه مروي ده د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مرفوع حديث کې دغه معنى پرته ده .

چا وويل معنى يې داده :

كشف الله له عن السماوات والارض .

اسمان او د ځمکي نه ورته څه کشف شول .

حتى العرش واسفل الارضين .

عرش او ۷ ځمکي ښکته دا ټول ورته کشف شول .

وروي ابن جريج عن القاسم عن ابراهيم النخعي قال : فرجت له السماوات السبع فنظر اليهن حتى انتهى إلى العرش وفرجت له الأرضون فنظر اليهن ورأى مكانه في الجنة فذلك قوله آتيناه أجره في الدنيا .

دغه وه چې دنيا نه يې د جنت مقام وليدو .

دا آيت کريمه د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د علم ثبوت کوي چې هغه ته د اسمان او ځمکي د عجائباتو علم ورکړې شو .

شپږم دليل : سورة يوسف آيت : ۳۷، دوه قيديان ورته راغلل خوبونه يې ليدلي وه :

﴿إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ﴾

دي اوس هغوي ته خپل يو کمال ښايي چې زه د غيبو داسې يو علم لرمه نو ستاد خوبونو په تعبير څنګه نه پوهيږمه .

نو اول ورته خپل کمال ښايي او کمال نه بعد ورته دې کمال کې هغوي ځان ته متوجه کړل هغې نه بعد ورته خپله عقيده ښايي هغې نه بعد ددوي په عقيده رد کوي دوي مشرکين وه دعوت د خير ورکوي او بيا په آخره کې ددوي د خوب تعبير ذکر کوي و فرمائيل يوسف عَلَيۡهِ السَّلَامُ :

﴿لَا يَأۡتِيكُمَا طَعَامٌ﴾ نه به راځي تاسو ته ډوډي .

﴿تُرۡزَقَانِهِۦٓ﴾ هسې ډوډي چې درکولې شي تاسو لره هغه .

﴿إِلَّا نَبَّأۡتُكُمَا بِتَأۡوِيلِهِۦ﴾ مګر خبر درکومه تاسو ته په تعبير د هغې باندې .

﴿قَبۡلَ أَن يَأۡتِيَكُمَا﴾ مخکې د راتلو د طعام نه تاسو ته سهر کې خبر درکوم چې غرمه طعام داسې را روان دي غرمه به خبر درکوم چې ماښام طعام داسې را روان دي دا ټول اخبار د غيب نه دي .

يو ميلمه راغلي وه زما هغه ته مې دا ځاى پيش کړو وايي دا خو اخبار دي او اخبار خو زه منم ما ورته وويل لږ صبر خو وکړه :

﴿ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّيٓ﴾ دا هغه کمال دي چې ما ته زما رب علم راکړي دي .

ګوره اخبار هم ورته وويلې شو علم هم ورته وويلې شو .

﴿إِنِّي تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ﴾ اوس عقيده ورته ښائي .

تفسير قرطبي جلد ۹ صفحه ۱۹۱ بعضې چاپونو کې صفحه ۱۲۵ ده دا ليکي :

وكان هذا من علم الغيب خُص به يوسف عَلَيۡهِ السَّلَامُ.

دغه څه چې دلته بيان شول دا علم غيب وه چې خاص شو په دې سره يوسف عَلَيۡهِ السَّلَامُ ده ته ورکړې شو .

نو خص به يوسف دا معنى نه چې بل ته جائز نه دي **خص به يوسف في ذلك الوقت** دغه وخت کې ده ته ورکړې شو .

۷- نمبر : سورة يوسف آيت نمبر : ۹۶ آيت نمبر ۸۶ کې حضرت يعقوب عَلَيۡهِ السَّلَامُ يوه خبره کړې وه :

﴿قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾

دا مخکې ذکر شوې وه دا دعوی ده کړې وه د بچو مخکې زه علم لرم چې دې دا علم ماته من الله عطائي شو هغه لا تعلمون چې تاسو نه لري.

﴿فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا﴾ کله چې راغې بشير قميص يې د يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخ واچوه بينا شو.

﴿قَالَ﴾ ده وفرمايل:

﴿أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾.

دا هغې ته اشاره وه چې په آيت نمبر ۸٦ کې ده دا دعوی کړې وه نه مې وه درته ويلې زه علم لرم من الله هغه چې تاسو يې نه لري.

نو ﴿إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ﴾ يې ويلې وه دعوی يې کړې وه أَعْلَمُ هغه صادقه شوه دغه د غيبو خبره د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته علم په نص قرآني کې وويلې شو چې دا زه علم لرم من الله.

ددې نه بعد بعضې هغه اطلاقات چې اظهار على الغيب اطلاع على الغيب انبأ عن الغيب تعبيرونه ترې شوې علم غيب جزي عطائي همدغه معبر دي په تعبير د اطلاع على الغيب سره، انباء عن الغيب سره اظهار على الغيب سره اخبار على الغيب سره دا ټول اطلاقات يو شان دي خو اطلاق د علم هم پرې کيدې شي.

سورة آل عمران آيت ۴۹، حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دعوی کوي:

﴿وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾

خبر به درکومه هغه چې تاسو يې خوري هغه چې ذخيره کوي يې په کوټو کې دا د غيبو خبرا وه دې نه تعبير په انباء سره وشو همدغه انباء په نورو نصوصو مونږ ثابته کړه چې علم ورته وويلې شي ځکه اخبار او انباء سبق علم غواړي چې علم نه وي کله اخبار کيږي.

حکایت :

ما ته دوه ملایان یو وخت کې راغلي وه نو هغوي دا وويل چې مونږ انباء او اطلاع منو خو مونږ ورته علم نه شو ویلې بیا ما ورته دا نصوص پیش کړه نو هغوي ما ته وويل چې تاسو دې علم غیب ته عطائي وایي ما ورته وويل ها و داسې منطقیان شان یې ځان ګڼلو وایي عطاء خو دې ته ویلې شي چې سلب الشيء عن النفس واعطاءه الی الغیر ، ځان نه شي سلب کول او بل ته ورکول چې عطائي شو نو معنی دا چې خدای تعالی د ځان نه سلب کړي دې او بل ته یې ورکړې دې .

نو ما هغوي ته ددې خبرې په دوه قسمه جواب وکړو یو په نقض باندې او دويم مې صحیح محمل ددې ورته وښودلو چې په مختصر کې د عطاء یو تعریف به په حاشیه کې وي چې سلب الشيء عن النفس واعطاءه الی الغیر خو عطاء په دوه قسمه ده یو عطاء ده په ذوي الاعیانو کې بل عطاء ده په اعراضو او صافو کې عطاء په اعیانو کې همدغه تعریف دې چې سلب د شيء دې د نفس نه او اعطاء ده غیر لره مثال دا قلم دې دا پانړه ده یا موبائل دې مثال په طور داد اعیانو نه دي عین دي دا چې ته چا ته عطاء کوي نو نه شي کیدلې چې تا ته دې هم پاتې وي هغه سره دې هم وي خپله تا نه لاړ هغه ته ورکول شو نو سلب الشيء عن النفس .. واعطاءه الی الغیر داد عطاء په اعیانو کې تعریف دې .

هر چې د عطاء تعریف دې په اعراضو او صافو کې هغلته دا تعریف نه صحیح کیږي چې سلب د ځان اعطاء غیر لره زه دیو مسئلې علم تا ته درکوم نو زه په هغې کې معلم ستا یمه مثال په طور تا ته مې چې درکړو نو زما علم خو لا پسې قوي شو کنه له ما نه خو علم سلب نه شو نو دا خو مسئله د علم ده د اعراضو نه ده د او صافو نه ده خالق چې چا ته ورکړو نو دا معنی نه شوه چې ځان نه یې سلب کړو بل لره یې ورکړو .

دا هغه تحقیقي جواب د مختصر دا عبارت دې چې دوي د عطاء تعریف دغه کوي خو دوي دا وويل چې هلته خو دا فرق په کې نشته دې چې دا عين دې دا عرض دې ما ورته وويل چې نشته زه به نقض وکړمه ته په علم ظاهر کې عالم یې او که نه یې وایي چې یمه ما ورته وويل دا علم چا درکړي وایي خالق راکړې دې ما ورته وويل ستا دا نقض هلته هم وارد دې

چې ځان نه يې سلب کړي تا ته يې درکړې دي چې څه جواب هغه ځای کې ستاوي هغه جواب په علم غيب کې زما ده.

دوارو نه چې لاره ورکه شوه نو دا يو په کې لږزيات منطقي شان وه وايي زه خطاء شومه دا علم ظاهر مونږ ته خالق نه دي راکړي چې انکار يې وکړو ما ورته وويل چې ښه خالق نه دي درکړې وايي نه ما ورته وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي :

انما انا قاسم والله يعطي.

زه قاسم يمه خدای تعالى يې ورکوي.

دا څه شي يادوي همدغه علم يادوي کنه علمين يادوي هغه د ورکولو والا دي قسمت يې زه کومه نو په دغه تعريف باندې کله اعتراض درباندې بيا ونه کړي چې عطاء خو دې ته وايي چې سلب د شي نفس نه و اعطاءه الى الغير داسې يو عجيب قوم دي چې ته نصوص پيش کوه دلائل پيش کوه او دوي به يو شي پسې کلک اونښلي تا به ايات پيش کړې وي.

اوس د مختصر د حاشيې په دې عبارت د علمناه من لدنا علما د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د علم الغيب مقابله چيرته کيږي دا کوم انصاف دي بيا د هغې يو ښه محمل پيدا کړه کنه هغه خو ښه علماء وه د هغوي عبارت ته يو ښائسته محمل پيدا کړه چې دا عطاء ده په عين کې نه په عرض کې بس صرف ضد او عناد دی دا کوم علماء چې وايي دې وخت کې مناظرې ناروا دي سمه خبره کوي ځکه مناظره خو د احقاق الحق او ابطال الباطل لپاره وي چې جانبينو ته يو دليل نه وي معلوم بل يې پيش کړي هغه يې تسليم کړي اوس جګړه ده ته دلايل وايه هغه به مخکې نه ستا دليل د پاره ستا خبره خو دسره نه مني او نه حق مني ولو که دا حق په نصوص اياتونو ثابت وي خو دې وايي چې زه په څه شکل دده د دلائلو جواب پيدا کړم.

نهم دليل : دارنګې سورة آل عمران آيت ۱۷۹ :

﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ﴾ نه دي خدای تعالى چې اطلاع درکړي تاسو ټولو ته په غيبو باندې.

نفي راغله بعضې خلکو غوندې نفي کلي به کوي چې بالکل نه ورکوي لږ هم نه ورکوي چا ته هم نه ورکوي داسې نه ده.

﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِن رُّسُلِهِ مَن يَشَاءُ﴾ لیکن خدای تعالی غوره کوي د رُسلو نه هغه چې خوښه يې وي.

﴿فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ﴾

نو دا ثابتوي چې کل ته دا علم نه ورکوي که ورکوي بعضې خلکو ته يې ورکوي او دا ثابتوي چې غيب کلي تفصيلي نه ورکوي، که ورکوي په بعضې مغيباتو کې يې ورکوي.

لسم دليل: دا رنګې سورة جن آيت نمبر :۲٦:

﴿عَالِمُ الْغَيْبِ﴾ الله په غيبو عالم دي.

﴿فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا﴾ غلبه نه ورکوي خدای تعالی په غيبو علم باندې يو کس لره.

نکره في سياق النفي راغله يوه ته هم نه ورکوي که استثناء نه واي بس دلته بيا مسئله جوړيدله کوم ځای کې چې نفي راغلي ده غيب معرف راغلي ده لا يعلم غيباً داسې الفاظ نشته چې نکره في سياق نفي راشي چې بيخي د يو غيب علم هم نشته غيب استغراقي کلي يادوي الف لام په کې استغراقي که دې ځای کې نفي راغله مطلقاً.

﴿فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا﴾ يو ته غلبه نه ورکوي.

که اوس دلته استثناء موجوده نه واي بيا مسئله ګرانه وه بيا به هيچا ته هم د علم نه قائل کيدې خپله استثناء موجوده ده:

﴿إِلَّا مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ﴾ چې غوره کړې د يو رُسل نه هغه ته څه ورکوي بيا اظهار على الغيب دې نه تعبير په انباء هم کيدې شي.

يولسم دليل: سورة آل عمران آيت نمبر: ۴۴، د مريمې بي بي او د ذکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ د حالاتو بيان يې کړې دي بيا فرمايي:

﴿ذَلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ﴾ داد اخبار د غيب نه.

﴿نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ﴾ ته نه وې له دوي سره هغه وخت.

﴿يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ﴾ تاسو وي نه هلته.

دا ټول نصوص يا په درجه د انباء کې وي يا د هغې نه تعبير په اطلاع يا د هغې نه تعبير په اظهار او يا په علم سره تعبير ورنه ترې شوې دي.

دغه يولس (۱۱) نصوص دلائل ددې دي چې مخلوق خواصو ته څه حصه ددې شته دي هغه اياتونه چې مخکې ما پيش کړل دليل ددې دي چې نشته دي اوس تکراو مه کوه تطبيق خودبخود دې ته جوړيږي چې نفي د الغيب معرف استغراقي راغله کل غيب مه منه او اثبات د بعضې مغيباتو وکړه او نفي د ذاتي وکړه اثبات د عطاء وکړه چې علم من الله يا من لدنا دا ټول تصريحات ددې دي چې عطائي دي ذاتي نه دي.

دلته دوه مستند روايات زه ذکر کوم چې د چا هم دې مسئله کې شک وي دا دې وګوري او انتهائي دې وويريږي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په علم دې اعتراض نه کوي اولين اعتراض د رحمة للعالمين په علم غيب باندې داد مديني منورې منافقانو کړې دي.

تفسير بغوي جلد ۲ صفحه ۱۴۰ د ﴿لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ ددې آيت کريمه شرحه کې:

وقال السدي رَحِمَهُ اللَّهُ قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عرضت علي امتي في صورها في الطين. پيش کړې شو زما امت ما ته په خپلو صورتونو کې په يوه ختمه کې ديوال کې مراد د طين نه ديوال دي.

كما عُرضت على آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ. لکه آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې پيش شوې وه دغه شان ټول امت ما ته هم پيش شو.

وأُعلمتُ. علم راکړې شو ما ته د:

من يؤمن بي ومن يكفر بي. زما امت کې چې څوک په ما کفر کوي او څوک په ما ايمان راوړي ددې ټولو علم راکړې شو، ګوره تعبير د علم کوي.

فبلغ ذلك المنافقين. وه رسيد له دا خبره منافقينو ته.

فقالوا استهزاءً. قول يې وکړو د ټوکو او مسخرو په نيت.

زعم محمداً أنه يعلم من يؤمن بـه ومـن يكفـر . گمـان نبـي عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې كـوي چـې مـن يؤمن به ومن يكفر به باندې دې علم لري دا هغه يادوي .

من لم يخلق بعد. چې تر اوسه پيدا نه دي .

ونحن معه وما يعرفنا . مونږ ورسره يو مونږ نه پيژني قيامته پورې چې امت را روان دي دعوى كوي چې مؤمن او كافر باندې زه علم لرم .

اعتراض منافقانو وكړو :

فبلغ ذلك رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا پيغام لاړو چې منافقان داسې خبره كوي .

فقام على المنبر . خبره پيچيده وه او ضروري وه منبر ته پرې پورته شو غته اجتماع يې جوړه كړه .

فحمد الله واثنى عليه . د خداى حمد او ثناء يې وويله .

ثم قال ما بال اقوام طعنوا في علمي . څه چل دي قوم لره چې زما په علم طعنې لگوي .

دا علم د غيبو وه قيامته پورې مؤمن د كافر نه بيلول دا علم د غيبو دي او تعبير هم په علم سره كيږي او بيا وايي اعتراض هم زما په علم كوي څه چل دي قومونو لره طعنه لږوي زما په علم .

لا تسألوني عن شيء . پوښتنه مه كوي زما نه باره د څه شي كې هغه .

فيما بينكم وبين الساعة . ستاسو نه تر قيامته پورې .

الا أنبأتكم به . مگر خبر به دركومه .

څنگه دعوى يې وكړه ده مبارك به ډيره عاجزي كوله دا اظهارات يې نه كول خو وه ورسره څه علم ددې چې كله منافقينو اعتراض وكړو نو ودريده نن نه قيامته پورې چې د څه خبرې پوښتنه كوي وكړي ، به خبر دركوم .

فقام عبدالله بن حذافة السهمي فقال من ابي يا رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ؟. پلار مې څوك دي .

قال حذافة . عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوه شو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په جلال دي .
دا همغه روايت دي چې هغه کوم روايت کې راځي چې ما يو خوا بل خوا صحابه وو ته وکتل په څادرونو کې سرونه ټيټ کړي وه ژړل يې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه خفګان باندې خفه وه عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پاڅيده .

بل روايت کې راځي چې راغي د التحيات په شکل ورته کيناستلو يا ودريدلو .

فقال يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضينا بالله رباً وبالاسلام ديناً وبالقرآن اماماً وبك نبياً فاعف عنا عفا الله عنك .

مونږ ته عفوه وکړه خداى تعالى به تا ته او ستا امت ته عفوه وکړي .

فقال النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فهل انتم منتهون ؟

تاسو منعه شوې طعنه به زما په علم بيا نه لګوي خلکو وويل چې نه به لګوو .

ثم نزل عن المنبر . بيا د منبر نه را کوز شو .

فانزل الله تعالى هذه الآيات : ﴿لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ .

ددې شان نزول کې امام بغوي رَحِمَهُ اللهُ دا را اخيستي دي دا ډيرو نورو تفاسيرو هم را اخيستي دي نو چې کوم څوک هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په علم کې شک لري دا روايت دي ستر ګو ته ونيسي دده شکوک به ختم شي او داد منافقانو طعنه وه په علم د محمدي عربي باندې هسې نه چې په نفاق کې راشي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پرې هغه وخت خفه شوي دي که اوس هم پرې څوک طعنه لږوي نو په مرقد کې به له دغه امتي نه ناراضه او خفه شي .

بعضې حضراتو د بريلويانو نه چې دلته افراط نه کولې نو مونږ به دغه الفاظ هم دلته نه ؤ ويلي چې دومره لري او دومره نه لري دا هم ما ته سوء ادب ښکاريږي دا مسئله بالکل زير بحث ګرځول نه دي په کار زمونږ لا څه علم دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د علم به مونږ اندازې ولږوو وروسته به تاسو ته روايات راشي او مخکې هم تاسو ته ما اشاره وکړه په نسبت د مخلوق د علم به بيا علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دومره زيات ګڼي لکه هغه چې بحر وي او د ټول مخلوق علم ورته څاڅکي وي هغه به دومره زيات ګڼي خو داسې به نه وايي چې دا مقابل د علم الله کې مساوي دي نه د هغې مقابل کې بيا ډير قليل دي .

دويمې واقعې ته ګورئ چې اعتراض په دې علم چا کړي دي کتاب المغازي د واقدي جلد ۱ صفحه ۱۰۹ : تبوک ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ را روان دي يو منزل کې شپه راغله صبا شو اوښان خړيدل ورکه شوه اوښه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ.

فضلت ناقة النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **القصواء . فخرج اصحابه في طلبها** . صحابه کرام د هغې په طلب کې ګرځيږي.

وعند رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **عمارة بن حزم** .د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره عمارة بن حزم موجود دي.

عقبي بدري . عقبه اولى يا ثاني کې شرکت کړې وه.

قتل يوم اليمامة شهيداً وكان في رحله . دده په ډله کې زيد بن اللصيت وه دا ډلې ډلې او کورني وي.

احد بني قينقاع . يو رجل د بني قينقاع نه وه.

كان يهودياً . اصلاً يهودي وه.

فأسلم . اسلام يې راوړو.

فنافق . منافق شو.

وكان فيه خبث اليهود وغشهم . د يهودو هغه بدي په کې وه.

وكان مظاهراً لأهل النفاق . دي مظاهر د اهل نفاقو نه وه.

فقال زيد وهو في رحلِ عمارة عند النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. په دې وخت کې عمارة بن حزم موجود نه وه هغه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره وو هلته ځان ته ډلي دي خيمي يې وهلې دي او په دې ډله کې زيد بن اللصيت منافق موجود دي دې زيد بن اللصيت دا خبره وکړه:

اليس محمد يزعم أنه نبي ويخبركم عن خبر السماء . آيا دعوى نه کوي چې پيغمبر دي او د اسمان خبر درکوي.

وهو لا يدري اين ناقته. پوهيږي نه چې اوښه يې چيرته ده ګوري دا اعتراض په علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې منافق وکړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ جلال کې راغلو.

فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. چا ورته وويل:

ان منافقاً يقول. منافق وايي.

إن محمداً يزعم أنه نبي وأنه يخبركم بأمر السماء ولا يدري اين ناقته واني والله ما أعلم إلا ما علمني الله وقد دلني عليها.

زه قسم بالله علم ذاتي نه لرم که څه دي ما سره ما ته زما رب علم راکړي دي ګوري بيرته يې استثناء وکړه ذاتي نه لرم که دي ما ته زما رب علم راکړي.

وقد دلني عليها. اوښه باندې ما ته ښودنه کړي ده چې چيرته ده.

وهي في الوادي في شعب كذا وكذا الشعب اشار لهم اليه. اشاره يې هم ورته وکړه هغه فلاني ناو کې ده.

حبستها شجرة بزمامها. ددې په غاړه يا پوزه کې چې کوم پړي دي هغه د اوني په جرړه کې نښتي دي هغه ما ته را روانه ده خو دې اوني حصاره کړې ده.

فانطلقوا حتى تأتوا بها. امريې وکړو لاړ شي رايې ولې.

فذهبوا فجاءوا بها. ورغله رايې وستله همغه شان وه چې کوم نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې اخبار کړي وه.

دا واقعه او ددغې منافق دا اعتراض دلائل النبوة للبيهقي رااخيستي جلد ۵ صفحه ۲۳۲ امام بيهقي يې په دليل د نبوة کې را اخلي دا علم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دليل د نبوت ګرځوي منکريې د نبوت منکر دي داد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د شان منکر دي.

فتح الباري جلد ۱۳ صفحه ۳۶۴، أسد الغابة د ابن اثير جلد ۱ صفحه ۲۰۶، البداية والنهاية جلد ۳ صفحه ۲۹۴، الكامل في التاريخ د ابن اثير جلد ۱ صفحه ۳۴۲، الوافي بالوفيات جلد ۴ صفحه ٦٨، تاريخ ابن خلدون جلد ۲ صفحه ۵۰، تاريخ الامم والملوک جلد

٢ صفحه ١٨٤، تاریخ الاسلام للامام الذهبي جلد ٢ صفحه ٦٤١، دې ټولو کتابونو دا حواله را اخیستي چې دې منافق دا اعتراض کړي دلته لفظ د علم دي : والله ما اعلم الا ما علمني الله .

دریم روایت سنن الدارمي ذکر کړي جلد ٢ صفحه ١٧٠ باب في رؤية الرب تبارك وتعالى في النوم . په خوب کې د خدای تعالی دیدار کیدې شي او که نه ؟

اخبرنا محمد بن المبارك حدثني ابوالوليد حدثني ابن جابر عن خالد بن اللجلاج وسأله مكحول ان يحدثه قال سمعت عبدالرحمن بن عائش يقول سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول رأيت ربي في أحسن صورة .

داد متشابهاتو نه دي .

قال فيم يختصم الملأ الأعلى . ما ته يې وفرمايل ملأ الاعلى په څه کې جګړه کوي .

فقلت انت اعلم يا رب . ما ورته وویل ای ربه تا ته علم دي .

قال فوضع كفه بين كتفي . کف بلا کیف يې د دواړو اوږو مینځ زما کې وضعه کړو .

فوجدت بردها بين ثديي . د هغې یخوالې مې د سینې مینځ کې بیاموندو .

فعلمت ما في السموات والارض . علم مې راغې په هغه اشیاء چې په اسمانونو کې وه او په هغو شیانو چې ځمکه کې وه اسمان او ځمکه کې چې څه وه په هغې مې علم راغې .

له دغه ځای نه د کلي تفصيل استدلال بعضې حضرات کوي خو دا هغه کلي اجمالي دي على الانواع په ټولو انواعو د عالم باندې ده ته علم ورکړې شو دې نه وروسته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تلاوت کړو دا ایات :

﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ .

دارنګې مونږ ښودلي وه ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عجائبات د اسمانو او د ځمکو .

دا ایات يې ولې پیش کړو د استشهاد لپاره چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د اسمان او ځمکې د عجائبو علم خدای تعالی ورکړې وه بعيده يې ګڼې انکار ترې کولې شي نه يې شي کولې نو دغه شان زما په علم کې ولې شک کوي چې هغه ته يې ورکړو خو ما ته يې هم دا علم راکړو دا

ایات یې د دلیل د پاره پیش کړې دي.
د مسند ابي یعلي په روایت کې راځي جلد ۳ صفحه ۱۰۲:
فعلمتُ ما بین المشرق والمغرب. د مشرق او مغرب په مینځ کې چې څه وه په هغې مې علم راغې.
فقال. بیا یې ما ته وفرمایل:
یا محمد فیم یختصم الملأ الاعلی؟ قلت في الکفارات. کفارات څه شي دي.
المشي علی الاقدام في الجمعات واسباغ الوضوء في المکروهات وانتظار الصلواة بعد الصلواة الی الصلواة فمن حافظ علیهن عاش بخیر ومات بخیر وکان من ذنوبه کیوم ولدته امه.
جګړه په دې باندې کوي چې کوم سړي د جمعې لمونځ ته قدمونه وړدي ددې قدم چې کوم اجر دي ملأ اعلی چې کمې فرشتې دي جګړه یې وي یوه وایي دا زه د قبول ځای ته وړم بله وایي زه یې وړمه او دارنګې اسباغ الوضوء في المکروهات په سخت ژمي کې هغه طولاني اودس کوي چې سم پوره اودس وشي او کوم ځای پاتې نه شي او انتظار د **صلواة بعد الصلواة الی الصلواة** ددې چې کوم اجر دي یو مونځ نه بعد بل مونځ ته سړي انتظار کوي:
فمن حافظ علیهن عاش بخیر ومات بخیر. په دې دري کارونو چې څوک محافظت وکړي او همیش یې وکړي.
عاش بخیر ومات بخیر وکان من ذنوبه کیوم ولدته امه.
داسې به پاک شي نو دغه وخت پورې **فیم یختصم الملأ الاعلی**. علم ورته نه وه چې د هغوي فرشتو په څه شي کې جګړه ده او چې کله دغه علم ورکړې شو نو بیا ترې تپوس وشو نو متصل علم ورته پیدا شو بیا یې د هغې اظهار وکړو.
دا حدیث تفسیر ابن جریر د طبري جلد ۷ صفحه ۲۴۷ کې را اخیستي، ابن کثیر جلد ۴ صفحه ۲۵۱، مجمع الزوائد جلد ۷ صفحه ۱۷۶، مسند احمد جلد ۱ صفحه ۳۶۸، مسند شامیین جلد صفحه ۳۴۵، مسند ابي یعلی جلد ۴ صفحه ۴۷۵، الاحاد و المثاني جلد ۵ صفحه ۴۹، مسند عبد ابن حمید جلد ۱ صفحه ۲۲۸، تمهید د ابن عبد البر جلد ۲۴ صفحه

۳۲۳، تذکرة الحفاظ جلد ۱ صفحه ۳۸۷، طبقاة المحدثین باصبهان جلد ۳ صفحه ۴۶۳، معجم الصحابة جلد ۲ صفحه ۱۰۲ دي، ټولو کتبو دا حدیث په مذکورو حوالو ذکر کړې دي.

ددې روایت حوالې مې ځکه زیاتي ذکر کړي چې دا زمونږ په دعوی دال دي چې:

فعلمت ما في السموات والارض.

لفظ د علم استعمال شوې اسمان او ځمکه کې چې څه وه زما پرې علم راغې.

دارنګې صحیح مسلم معرب بیروت چاپ جلد ۷ صفحه ۹۴ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۲۶۳ جوړیږي خپل سند سره د حضرت انس ابن مالک رضي الله عنه روایت دي:

ان رسول الله صلی الله علیه وسلم خرج حین زاغت الشمس. زوال نه بعد.

فصلی لهم صلواة الظهر فلما سلم قام علی المنبر فذکر الساعة ذکر ان قبلها اموراً عظاماً ثم قال من احب ان یسألني عن شيء فلیسألني عنه.

د چا چې خوښه وي ما نه څه تپوس کوي ودي کړي.

فوالله لا تسألونني عن شيء الا أخبرتکم به ما دمتُ في مقامي هذا.

قسم بالله تپوس به نه کوي مګر خبر به درکوم ترڅو چې په دغه ځای باندې یم.

دا روایت دلائل النبوة د اخبار عن الغیب کې محدثین پیش کوي نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته دغه وخت کې تر قیامته پورې اشیاء کشف شول او چیلنج یې ورکړو چې څوک څه قسم تپوسونه ما نه کوي نو وي کړي.

دارنګې صحیح مسلم بیروت چاپ جلد ۵ صفحه ۱۴۵ د پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۸۵ سره موافقت لري دغه علم چې دوي ته ورکول کیږي کله په تلقي بالقلب سره وي کله منامات وي کله فراست وي کله په زړه کې القاء الهام وي کله کشف د سترګو وي کله د غوږونو د سماع د بعید نه وي کله د لاس په مس سره وي لاس وروړي پته ورته ولږیږي دا کیږي دا تر خاصې تړ انبیاء نه وي چې هغوي پورې خاص وي خواصو عبادو د اولیاء ته اوس هم کیږي.

زمونږ د والد ګرامي کورني واقعه :

زمونږ والد ګرامي ته دا فراست او کشف دي چې هغه په لمس د يد سره هغه وايي زه نه پوهيږمه خو چې د چا لاس راکړو او دري خبري د خولې نه رابهر شوې ۲۴ ساعتو کې چې ترې څه ګناه شوې وي هغه زما مخې ته راشي چې دې سړي دا ګناه کړې ده دې وخت کې هم دا خلک شته دي خو دا ټول هغه څه دي چې د اولياء د تصوف د خلکو سره ملاويږي دا په کافيه، جامي او منطقو کې نشته چې ته يې هلته لټوې .

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دي نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

غزا نبي من الانبياء . يو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ غزا ته روان دي .

فقال: وي فرمايل، غالباً سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ وه .

لقومه . قوم خپل ته .

لا يتبعني رجل . ما پسې به نه راځئ هغه سړي .

قد ملك بضع امرأة وهو يريد ان يبني بها . مالک د بُضع ذ امرء دي واده يې لا نه دي کړي کوژدن شوې ده د بنا اراده لري .

ولما يبن . تر اوسه پورې بناء نه وي کړي يعنې چې کوژدن يې کړې وي واده يې نه وي کړي هغه دې ما پسې نه راځي دا ولې جهاد ته بو تلل يې ناروا نه وي دا ډير بي غيرته وي چا چې کوژدن نه وي کړي دا په غيرت کې اول نمبر دي دويم هغه څوک چې واده يې کړې وي او څه وخت يې وتلې وي .

دا کوژدن يې چې شوې وي او واده يې نه وي کړي دا ګوري جهاد ته بو نه ځي دا تجربه مونږ کړي ده د طالبانو امارت کې مونږ ابتدائي ايامو کې چهار آسياب ته تللي وو مونږ سره هم په کې يو تللي وه نو چې کله مونږ تعارض ته تللو نو دومره سوالونه يې ما ته کړي دي وايي مولوي صاحب د خداى لحاظ وکړه ګوره کوژدن مې کړي او واده مې نه دي کړي نو هغه کال زما د لوي دوري وه نو دا حديث ما ته راغي ما وويل دا وګوره پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي چې چا کوژدن کړې وي واده يې نه وي کړې ما پسې دې نه راځي هغه نه شي کولې دا

ځوانان چې واده یې نه وي کړې داد امر تابع وي چې څه دي ورته وویل همغسې کوي ځکه دوي سره دا سوچ نه وي چې ما نه به بنځه او بچي پاتې شي.

ولا آخر قد بنی بنیانا ولما یرفع سقفها . او هغه سړي به راسره هم نه ځي چې آبادي یې روانه کړې وي چت یې پرې نه وي اچولې چې نیم زړه یې د کور سره وي.

ولا آخر قد اشتری غنماً او خلفاتٍ وهو منتظر ولادها . او هغه سړي به هم راسره نه ځي چا چې ګډان اخیستې وي او بنان یې اخیستې وي او هغه بلاربې وي او منتظر د اولاد د هغې وي چې دا به لنګیږي بیا روان شو غزا ته.

فأدنی للقریة حین صلاة العصر . هغه کلي ته ورغې د مازیګر د لمانځه وخت وه او یا قریب د هغې ته.

فقال للشمس انتِ مأمورة وانا مأمور . لمر ته مخاطب شو ورته وي ویل ته هم ماموریې په غروب باندې او زه هم ماموریم په جهاد باندې.

اللهم احبسها علي شیئاً . ما ته یې لږ حصار کړه چې دا غزا خلاصه شي ځکه مې مخکې وویل چې غالباً دا به سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ وي چې معروف قول د هغه نه منقول دي چې لمر ورته را اعاده شوې وه یا خو هغه ته اعاده شوې وه ده ته محبوس شوې دي.

فحبست علیه . لمر ورته محبوس شو په ځای ورته ودرید لو.

دا دده معجزه شوه عادت خدای تعالی خپل ورته مات کړ او خرق دعادت یې وکړو لمر یې په ځای ورته ودروه خالق درولي ده نه دي درولې خو دده په دعا او لاس باندې شوې دي دا دده معجزه شوه.

حتی فتح الله علیه قال فجمعوا ما غنموا . تر دې چې فتحه یې ورکړه ده لره الله په هغه باندې وي ویل را جمعه کړي څه مو چې نیولي دي هغه وخت کې خو چا مال غنیمت خوړلې نه شو دا خو دي امت لره جائز دي دا به یې راغونډ کړو د هوا نه به اور راغلو دا به یې وسوزول دا به دلیل د قبول د جهاد وه.

فاقبلت النار لتأکله . اور راغې چې دا وخوري.

فابت ان تطعمه . او راغې منع یې راوړه چې وخوري دا غنیمت وي نه خوري .

فقال فیکم غلول . د غه پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ اعلان وکړو تاسو کې خیانت دي چا درکې خیانت کړې دي .

فلیبایعني من کل قبیلة رجل . هره قبیله کې یو سړي دي ما ته لاس راکړي .

فبایعوه . هغوي بیعت وکړو .

فلصقت ید رجل بیده . ټچ شو لاس د یو کس د ده د لاس سره .

فقال فیکم الغلول . تاسو کې دي خیانت د لاس نه ورته معلومه شوه ما درته وویل چې د کشف ډیرې لارې دي چې څنګه یې لاس ورکړو ورته معلومه شوه چې خیانت تا کړي دي یعنې ستاسو قبیلې والا کړې دي .

فلتبایعني قبیلتك . ستا ټوله قبیله به اوس بیعت راسره کوي اول یې دا مشران د قبیلو راغونډ کړي وه .

فبایعته قال فلصقت بید رجلین او ثلاثة فقال فیکم الغلول . تاسو کې خیانت دي .

انتم غللتم قال فاخرجوا له مثل رأس بقرة من ذهب . هغوي د غوایې د سر او مره سره زر پټ کړي وه ورته راوي ویستل .

قال فوضعوه في المال وهو بالصعید . میدان وه .

فاقبلت النار فاکلته .

زما دې ځای نه استدلال دي چې ګورئ د لته واسطه د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده بلکې دا په یوه بله طریقه دي غیبونه خدای تعالی علم ورکړو چې لمس د ید وه .

دارنګې صحیح مسلم بیروت چاپ جلد ۸ صفحه ۱۷۱ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۳۹۰ سره سمون خوري :

عن ابي اسماء عن ثوبان قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إن الله زوی لي الارض فرأیت مشارقها ومغاربها .

یقیناً خدای پاک را غونډه کړه ما ته ځمکه نو د ځمکي مشرق او مغرب مې ولیدل.

وان امتي سیبلغ ملکها ما زُوِیَ لي منها. چې څومره ځمکه ما ته راغونډه وه زما امتیان به دغې ته رسیږي.

دارنګې صحیح المسلم جلد ۸ صفحه ۱۷۷ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۳۹۲ جوړیږي:
دجال د زمانې قصه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي دغه وخت کې مقابلي د دجال ته:

فیبعثون عشرة فوارس طلیعةً. لسو (۱۰) آسونو والا یوه ډله به را پورته شي.

قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اني لاعرف أسماء هم وأسماء اٰبائهم.

زه پیژنمه نومونه د هغوي نومونه د پلارانو د هغوي.

والوان خیولهم. او رنګونه د آسونو د هغوي.

دا نوم خو به ورته په وحي وویل شي خو دا رنګ د اس دلیل ددې دي چې ده ته کشف شوې وه دا صحنه ټوله پیش شوې وه ده ته.

هم خیر فوارس علی ظهر الارض یومئذٍ او من خیر فوارس علی ظهر الارض یومئذٍ.
دغه وخت کې به په مخ د ځمکه باندې غوره مجاهدین د آسونو والا دغه وي.
دارنګې صحیح مسلم جلد ۸ صفحه ۱۶۳ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۱۰۲، د بدر میدان د جنګ نه مخکې.

ثم انشأ یحدثنا عن اهل بدرٍ. راوي وایي مونږ ته هغه صحابي د بدر واقعه بیانوله.

فقال إن رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یرینا مصارع أهل بدر.

راښودل مونږ ته هغه ځای د راغورزیدو د اهل بدر.

بالامس. بیګا د شپې راوښودل چې ابوجهل به صبا دلته پروت وي، عتبه به دلته پروت وي او شیبه به دلته پروت وي.

یقول هذا مصرع فلان غداً ان شاء الله. ځای د پریوتو د فلاني به صبا دغه وي ان شاء الله.

قال فقال عمر فو الذي بعثه بالحق ما اخطئوا الحدود التي حد رسول الله ﷺ. هيڅ خطاء نه شول هغه حدود چې نبي عليه السلام پرې کرخې رابنکلې وي همغه ځای کې پراته وو صبا ته.

دارنګې صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۳۲، اسماء بي بي فرمايي زه راغلم.

فاذا الناس قيام. خلک ولاړ وه.

فقالت سبحان الله قلت آية. ما عائشې بي بي ته وويل آيا څه نشانه يا خبره ده.

فاشارت برأسها اى نعم فقمت. زه هم ودريدم داد صلواة کسوف مونځ دي ډير اوږد وه.

حتى تجلاني الغشي. په ما غشي غالبه شوه.

فجعلت اصب على رأسي الماء. په سر مې اوبه اچولې ما تاسو ته ويلي وه چې د اسماء بي بي غشي په بخاري کې په وسط د مانځه کې ثابته ده هغه دا روايت دي دوي د اسماء بي بي په رد د غشي کې پيش کوي چې دې استعاذه ويلي وه دې باندې خپله هم غشي راغلي ده.

فحمد الله عز وجل النبي ﷺ واثنى عليه ثم قال ما من شيء لم اكن أريته. نه وه يو شي چې ما ليدلي نه وه.

الا رأيته في مقامي. مګر دغه ځای کې هغه ما وليدل.

حتى الجنة والنار. جنت او جهنم مې وليدل.

نو دا نبي اکرم ﷺ ته کشف تام د جنت او جهنم دغه ځای کې شوې دي.

دارنګې صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۲۲، وروسته وخت کې د چا د مرګ قصه داد غيبو خبر دي داد نبي عليه السلام صحابوو ته د غيبو علل بنودلي دي.

فقال كنا نحمل لبنة لبنة وعمار لبنتين لبنتين فراه النبي ﷺ. وليده نبي عليه السلام هغه لره.

فينفض التراب عنه. خاوري ترې وڅنډلي.

ويقول ويح عمار تقتله الفئة الباغية. وژني به ده لره يوه ډله د باغيانو.

نو هغه علت د مرګ یې ورته بیان کړو چې دې به کله مري او څه مسئله کې به مري او د چا د لاسه به مري هغه یې بیان کړو.

دارنګې صحیح البخاري بیروت چاپ جلد ۵ صفحه ۱۸۲، موتی غزوه ته نبي اکرم ﷺ صحابه لیږلي وه په دغه ځای کې مختصر تفصیل یاد کړي:

خمس لا یعلمهن الا الله. چې هغې ته مفاتیح الغیب ویلې کیږي داد مفاتیحو د غیب نه دي لا یعلم الا هو.

دغه ځای کې د عبد الله ابن مسعود او د محققینو رایه داده چې دا خمس مختص دي بذات الله تعالی او بعضې مفسرین په دغې کې فقط د قیامت علم مختص ګڼي تر ذات الله او دې نه اخوا دا څلور چې دي نو په هغې کې څه تاویلات ذکر کوي.

یو دهغې نه ماذا تکسب غدا دا یادوي چې په طریقې تامې تفصیلي سره چا ته نشته دي او بعضې مغیبات خالق ورکوي بعضو لره یو د هغې نه:

لا تدري نفس بأي أرض تموت. نه پوهیږي نفس چې په کومه ځمکه به دې مري.

نو دې ځای کې تاویل دادی چې یو بأي أرض تموت دي بل بأي أرض تدفن دي بل بأي أزمنة تموت دي بل بأي علة تموت دي بأي أرض تموت دا خاصه د باري تعالی ده د جمهورو په نزد بعضې علماء لکه امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ د احنافو نه هغه وايي چې نه دا خاصه د خدای تعالی نه ده خپل تعلیم باندې عبادو ته ورکوي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یې ددې علم ورکړې وه چې ته به چیرته وفات کیږي داد هغه رایه ده.

خو جمهور وايي چې نه بأي علة تموت دا خاصه نه ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وویل چې باغیان به دې وژني دا علت د مرګ وه.

بأي أزمنة تموت. په کوم وخت کې به مري دا خاصه نه ده ډیر خواصو ته ددې علم ورکول کیږي چې ته به دغه وخت کې مري او بأي أرض تدفن په کوم ځای کې به دفن کیږي دا خاصه نه ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي:

مابین بیتي ومنبري روضة من ریاض الجنة. زما د کوټې او منبر په مینځ کې ریاض

الجنة ده.

دويم حديث کې فرمايي :

مابين منبري و قبري روضة من رياض الجنة . زما د منبر او د قبر په مينځ کې رياض الجنة دي.

تطبيق يې دادی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته معلومه وه چې زما کوټه به زما قبر جوړيږي يو معنی ده نو دغه علم ده ته ورکول شوې وه چې ته به دغه کوټه کې دفن کيږې ځکه يې مخکې د هغې نه تعبير په دې سره کړې چې مابين منبري وقبري ومابين منبري وبيتي، زما د کوټې او منبر مينځ کې رياض الجنة دي او زما د قبر او د منبر مينځ کې رياض الجنة دي.

مخکې يې له دې نه د قبر تعبير کړې دي نو بأي علة تموت دا خاصه نه ده بأي أزمنة تموت دا خاصه نه ده بأي أرض تدفن دا هم خاصه نه ده، ګورئ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته علم ورکول شو چې دا کوټه ستا مقبره ده او دغه شان حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د شهادت نه دري ورځې مخکې ودريدلو جنت البقيع کې او دغه ځای ته ودريدلو چې کوم ځای کې دفن دي وايي په دې ځای کې :

لعله يدفن في هذا الموضع رجل صالح . دلته به يو ښه سړي دفن شي، دري ورځې بعد دې په کې دفن شو.

بأي أرض تدفن دا هم ورکول کيږي بأي أرض تموت محققين وايي چې دغه خاصه ده چيرته به مري دا نه ورکول کيږي او ريشتيا نه معلوميږي چې د سړي ساه به چيرته خيژي خو دې کې د محققينو دغه رايه ده او د اکثرينو دغه رايه ده خپله طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ مشکل الاثار عبارت به زه تاسو ته وروسته ذکر کړم هغه وايي چې دغه علم هم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورکړې شوې وه.

بل يعلم ما في الأرحام . خدای تعالی علم لري په هغه څه چې په رحمونو کې دي نو په دې کې تفصيل دادی چې ما في الارحام هغه وخت کې چې دوي کې ساه واچولې شي نو هغه بيا ما في الارحام نه وي من في الارحام وي د څلورو مياشتو نه بعد دا خاصه د باري تعالی نه دا

څلورو میاشتو نه مخکې چې عبارت د هغې نه په ما سره کیږي دا خاصه د باري تعالی ده په نزد د اکثرینو محققینو باندې .

د حضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنهُ چې هغه خپلې لور حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا ته ویلي وه چې دا مال بیا تقسیم کړه په دوه ورونو او دوه خویندو باندې هغې ورته وویل وروړ مې محمد دي او عبد الرحمن دي او خور مې یوه ده چې اسماء بي بئ ده دوه خویندي کوم دي نو صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنهُ ورته فرمایي زما هغه بله بي بي چې حامله ده د هغې لور پیدا کیږي هغه درته یادوم ، وروسته به عبارت راشي .

نو اوس که څوک اعتراض کوي چې دا نه منمه ځکه دا خو مخالف شو د نص ، قرآن مخالف نه دي دغه وخت کې دغه جیني د څلورو میاشتو نه غټه وه دا **ما في الارحام** نه وه **من في الارحام** وه او د **من في الارحام** علم خو نن صبا دا ډاکټران پرې پوهیږي دا ټسټونه چې کوي معائنه وکړي بیا تا ته وایي چې هلک دي یا جیني دا خو د قادیانانو اعتراض دي .

قادیاني دا اعتراض کوي په قرآن کریم چې العیاذ بالله دې کې دروغ راغلي دي یو دغه اعتراض کوي قادیانیان وایي چې قرآن کریم وایي چې علم دد ې خدای تعالی سره دي او نن صبا ډاکټران پرې پوهیږي .

نو د هغې جواب به دا وي چې **یعلم ما في الارحام** کې ما د غیر ذوي عقلو د پاره دي څلورو میاشتو پورې ساه ورکې نشته غیر ذي علم دي کله چې ده ته ساه واچول شوه دا **من في الارحام** شو بیا او **یعلم من في الارحام** دا خاصه نه ده ذکر شوې **ما في الارحام** خاصه ده څلورو میاشتو نه بعد ده کې ساه واچول شوه دا **من في الارحام** وګرځیده .

یو قادیاني چا راوستلي وه هغه هم دا خبره وکړه ما همدا جواب ورته وکړو ما ورته وویل ته په دې څه پوهیږي ته خو جاهل یې دا ما وایي **من** نه وایي **ما في الاحام** ما ورته وویل د څلورو میاشتو پورې معلومات کولې شي د دنیا ډاکټران دې خواري وکړي یعلم ما في الارحام څلورو میاشتو پورې د نر او ښځې بیلیدل نه کیږي .

هغه بیا یو بل اعتراض وکړو وایي دا نطفه مخکې په پیاله کې اچوي بیا یې وړي هلته یې ټیسټ کوي او وو ایي چې دا د نر نطفه ده دا د ښځې نطفه ده یعنې که دا رحم ته لاړه نر ترې

پیدا کیږي یا ښځه ترې پیدا کیږي مخکې نه ورته معلومات کیږي وایي هغې سره څه کوي ما ورته وویل بیا هم په قرآن کریم ایراد او اعتراض نشته دي ځکه دا ډاکتران پوه شول په **یعلم ما في الفیاني** (پیالي) باندې او خدای تعالی عالم دي په **یعلم ما في الارحام** باندې نر دې شي دا نطفه چې رحم ته ولویږي بیا دې څلورو میاشتو پورې معلومه کړي وای بیا خوې معلومات نه کیږي چې کله رحم ته لاړه او د هغې مشیمه پرې راغله بیا تر څلورو میاشتو د دنیا یو ډاکټریې هم نر او ښځه نه شي بیلولې او څلورو نه اخوا چې بیلیږي دا **من في الارحام** دي **ما في الارحام** نه دي نو چې هر کله انګریز جوړه کړي آله باندې د هغې کشف کیدې شي نو خالق خاصو عبادو ته د هغې کشف څنګه نه شي ورکولې.

او د قرآن کریم سره یې ټکراو هم نه راځي غلطه ترجمه مه کوي بیا به درباندې دا سیاسي خلک او ډاکټران اعتراض نه کوي دا ډاکټران او تعلیم یافته خلک زمونږ د غلطو عقیدو ته رسیدلي دوي د پاره یو بل قسم لیټري چرې رواني دي دعاء شته د عاء نشته دي دا دې طالبانو لپاره انګریزانو راویستلي دي د وهابیانو په خولو باندې دا خو زمونږ او ستاسې دې سره تعلق دي غټ ډاکټران او غټ افسران هغوي ته چې کوم شبهات په لیټرو چروکې برطانیه دلته اسلامي لباس کې را دننه کوي هغه څه بل قسم اعتراضات دي هغه ورته دا شیان مخې ته کوي وګورئ قرآن کریم کې دروغ راغلل دا او هغه په داسې څیزونو یې د هغوي دا ذهن له قرآن کریم نه اړوي بل دین ته یې جوړوي.

دا ډاکټر مسعود څوک بې دینه پاکستان کې دي دده داسې نظریه ده چې هغه دین چې نبي عَلَیۡهِ السَّلَامُ راوړي دي دې زماني سره نه لږیږي مونږ به یو جدید دین دنیا ته خلکو ته ښایو او دا جماعت اسلامي د پاکستان چې ده دا هم څه بل قسم دین جوړول غواړي هغه دین چې پخواني دي دوي وایي هغه به خپلې زمانې سره لږوي د جماعت اسلامي نوي ایجاد چې وشو نو علامه اقبال هغه وخت کې ژوندي وه او ابوالاعلی مودودي دا کالجیان او کم عمره هلکان ځان سره کړي وه دلته جلسه هلته جلوس دا شیان شروع ویل.

نو بیا کالجیان لاړل او علامه اقبال ته کیناستل وایي چې عالم خو هغه عالم وي چې دا دین د خپلې زمانې سره لږوي او مونږ ته مودودي دا تعلیم راکوي چې باید خپلې زمانې سره مونږ دا دین ولږوو تاسو هغه پخواني دین په دې وخت کې نافذوي دا در سره کله کافرمني

وايي علامه اقبال سر ټيټ کړې وه سرېې را اوچت کړو دا کشران هلکان وه وايي څه مقصد مو دې وايي مقصد مو دادی چې ته ولې دا فيصله کوي علامه اقبال د مخلوط تعليم سخت مخالف وه چې هلکان او جينکي دې ګډ تعليم وکړي علامه اقبال به په سرکاري سطحه ددې مخالفت کولو نو دغو هلکانو ورته وويل چې ته د هغه زمانې دين مه راوله دې زمانې کې باک نه کوي چې هلکان او جينکي دې يو ځای کلاس کې ناست وي.

نو علامه اقبال ورته وويل چې ښه دا دين د خپلې زمانې سره ولړوم وايي چې هاو وايي چې ښه خپلې زمانې سره يې ولړوم نو په کار داده چې تاسو هلکانو ته هم برقې درواچوم ددې معنی دا شوه دين د خپلې زمانې سره لړول خو دې ته نه وايي چې واړي ورسيتې کړه هلکان او جينکي يو ځای کينوه چې څه سره کوي دين د خپلې زمانې سره لړول خو دا معنی ده چې دا خبرې او دا قوانين سخت کړه کلک يې کړه هغه وخت کې چې څه ناڅه مسجد ته خلک تللې وي تعليم ته تللې وي هغه وخت کې دومره عياشي نه وه اوس دې زمانه کې سخت کړه دا قوانين مه پرېږده دا وايي چې دين د خپلې زمانې سره لړوم نو کالجيانو هلکانو ته به هم برقې ور په سر کړم ځکه دا سپين سپين هلکان دي که دا بغير د برقو ځي نو دا به چيرته نور هلکان پرې اخته شي ټول يې وايي په شرمونو وشرمول نو دا مودودي جماعت پاکستان کې چې دي بل شان دين راوستل غواړي پاکستان کې.

موتی غزی هغه مذکوره صفحه باندې نبي اکرم ﷺ حضرت زيد حضرت جعفر عبد الله بن رواحه رضي الله عنه مامور کړل دې هر يوه ته يې وويل که دا شهيد شو نو دا به امير وي که دا شهيد شو نو اول يې حضرت زيد رضي الله عنه ټاکلي وه وايي که دا شهيد شو حضرت جعفر رضي الله عنه به امير وي او که دا شهيد شو نو عبد الله بن رواحة رضي الله عنه به امير وي.

کتاب المغازي ليکلي وايي چې کله دوي تلل نو کورونو ته لاړل او پخه مخه ښه يې واخيسته او بي بيانو ته يې وويل چې نبي اکرم ﷺ په يو جهاد کې هم امير سره دا نه دي ويلې که دا شهيد شو نو دا دې امير وي نو هغه چې دا اشاره کړي مونږ بيا نه راځو زمونږ او ستاسو ملاقات به ورځ د قيامت کې کيږي پخې اجازې يې واخيستې د نبي اکرم ﷺ هغه خبره باندې ددوي پوره يقين وه چې ده وويل همد عمري کيږئ دومره د هغوي يقين وه د نبي عليه السلام په خبرو تصديق يې وکړو.

د بخاري شريف واقعه ده خيبر ته روان وه په لاره باندې وايي څوک نشته ده چې څه اشعار ووايي چې دا خلک را ګرم شي جزباتو کې شي نو يو صاحب راغې هغه اشعار شروع کړل ډير خوندور اشعار بخاري را اخيستي دي نبي اکرم ﷺ و فرمايل:

رَحِمَهُ اللهُ. خداى تعالى دې پرې ورحميږي.

حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: کاشکې دا الفاظ يې دلته نه واى ويلي او دا کس به باقي پاتې واى مونږ ته به يې نا اشنا اشعار ويلي په غزواتو کې ولي صحابه وو ته پته وه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به محکې د چا باره کې رَحِمَهُ اللهُ هغه به شهيد کيدلو.

دې غزى کې همغه شاعر وه چې لاړ بيا شهيد شو په خيبر کې د بخاري واقعه ده نبي اکرم ﷺ چې څنګه اشعار واوريدل وايي رَحِمَهُ اللهُ، نو دا اشاره ده، ده ته څه کشوف او حالات کشف کيدل د خپل امت او د صحابه وو نو چې کله هلته غزوې ته هغوي لاړي نو حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنډا لاس کې ونيوله جهاد شروع شو نبي اکرم ﷺ د خپل کور نه رابهر شو دې مبارک خپله تللي نه وه دې مينځ کې ډيره فاصله وه دې مدينه منوره کې وه را بهر شو او په منبر باندې کيناستلو او صحابه کرام چې څوک پاتې وه په مسجد نبوي کې يې راغونډ کړل مبارک وفرمايل چې:

أخذ الراية زيد فأصيب، ثم أخذها جعفر فأصيب، ثم أخذها عبدالله بن رواحة فأصيب.
جنډا حضرت زيد لاس کې ونيوله شهيد شو، بيا حضرت رواحة ونيوله شهيد شو.

وعيناه تذرفان. سترګو مبارکو نه يې اوښکي روانې وي او ژړل يې.

حتى أخذ الراية سيف من سيوف الله. جنډا د خداى تعالى د تورو نه يو توري او چته کړه.

حتى فتح الله عليهم. فتحه پرې راغله.

صحابه حيران وه چې دا به اوس څوک وي چې څنګه هغوي راورسيدل البداية والنهاية دا واقعه را اخلي وايي هغه يو په دوي کې مخې ته راغې او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عرض کوي چې زه به تاته واقعه بيان کړمه.

رحمت عالم ﷺ ورته فرمايي ته يې بيانوي که زه يې درته بيان کړمه وايي تاسو يې بيان کړي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ټوله قصه ورته بيان کړه نو هغه ورته قسم خوري داسې دي

بیان کړه لکه ته چې مونږ سره وي هیڅ هم نور نه دي پاتې شوې همدغسې شوې وه او بیا صحابه کرامو زر زر پوښتنې وکړي چې دا څلورمه جنډه چا اوچته کړه هغوي ورته وویل چې خالد ابن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

نو کومو احادیثو کې چې دلته راغلي دي چې اخذ الراية خالد بن وليد هغه روایت بالمعنی شوې دي اصل کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سیف من سیوف الله ویلي وه نو هغه خالد بن ولید وه نو چا د هغه نه تعبیر په دې سره کړي دي دا هغه کشف وه ده ته چې مدینې منورې کې ورته د غزوه موتی کشف ورته وشو او دې ځای کې مؤرخین دا هم را اخلي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا وفرمایل چې اخذ الراية زید وړاندې شو بیا مخې ته لاړ چې مخې ته لاړ وایي شیطان ورته راغې او ورته وایي چې مړ کیږي ده د هغه هیڅ لحاظ ونه ساته پرې ورغې شهید شو د جنت دننه کیدو کې هم هیڅ سستي رانه غله.

حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې جنډه واخیسته شیطان ورته راغې ورته وویل چې شهید کیږي دا دنیا یې ورته رایاده کړه هغه ورته التفات ونه کړو ور مخکې شو نو شهید شو جنت ته لاړو او په جنت کې الوځي دا طیار چې ورته وایي دغه وخت کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ترې تعبیر کړي وه او حضرت عبدالله بن رواحة ته چې شیطان راغې لږ خپه نیولي شو بیا واپس شیطان ته یې التفات ونه کړو وي رټلو ور مخکې شو شهید شو د جنت په ننوتلو کې هم لږ وروسته شو انصارو باندې.

دا الفاظ ښه هم نه وه لګیدلي په دې ځای کې ځکه عبدالله بن رواحة رضي الله عنه انصاري وه او دا دوه صحابه کرام مهاجرین وه چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده باره کې ولې داسې وویل تاسو دې ته سوچ وکړي چې هغه میدان کې څه دا خو دا صحنه ورته ټوله کشف شوله دغه وخت کې شیطان هم ولیده شیطان خو دننه زړه ته بیا راځي د وسوسې زړه ته راځي حضرت زید ته زړه کې وسوسه کوي هغه هم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کشف شوه بیا حضرت زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ته جواب ورکوي رټي دا شیطان او مخکې کیږي هغه هم کشف شوه او چې بیا شهید شو او متصل جنت ته داخل شو هغه هم کشف شو بیا دغه شان حضرت جعفر بیا دغه شان حضرت عبدالله بن رواحة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا دلیل دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کشوف وه او څه علوم وه چې خدای تعالی ورکړي وه عامو خلکو ته په هغه انداز نه وه.

دارنګې صحيح البخاري جلد ۴ صفحه ۹۱ عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي :

كان على ثقل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رجل يقال له كركرة .

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په بار باندې يو سړي مقرر وه كركرة نوميدلو .

فمات . مړ شو .

فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هو في النار فذهبوا ينظرون اليه فوجدوا عباءة قد غلها . يوه شړې يا كمبل هغه ده غلول په هغې كې كړي وه .

نو دا مخكې نه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې اخبار وركړو هغه ته پته وه چې دې به په كوم حال وي خو دا دليل د كفر خو نه شو كنه .

دې نه بعد به بعضې علوم دوي به وايي چې هغه وخت كې وه د وفات نه بعد ورته نشته دي .

فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۷۲ ، د دمشق فتحه وه او د دمشق په پنځه دروازو باندې صحابه كرام ډلې ډلې پراته وه يوه دروازه باندې ابو عبيدة ابن الجراح ، ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دده لښكر كې دغه ځاى كې وه دا ډيره طولاني واقعه ده دې واقعه ذكر كوي :

إن ابا عبيدة رأى في منامه أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول له . صبا ته چې دمشق فتحه كيږي ابو عبيده خوب ګوري نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته خوب كې فرمايي :

تفتح المدينة إن شاء الله تعالى في هذه الليلة . بيګا ته به دا ښار فتحه شي .

فقلت يا رسول الله اراك على عجل . ما ته جلتي كې ښكاريږي .

قال . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته فرمايي .

لأحضر جنازة ابي بكر الصديق . جلتي ځكه كوم چې د حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنازه كې حاضر شمه .

قال فاستيقظت من المنام . د خوب نه بيدار شومه ګوري دا خوب د صحابي دي او ليدلي يې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دي :

من رأني في المنام فقد رأى الحق ان الشيطان لا يتمثل بي. كه ته خوب كښ نبي اكرم ﷺ وګورئ نو شيطان په هغې شكل نه شي راتللې.

خو دې كښ د علماو اختلاف دي چې: **شكل مدفون في المدينة المنورة المذكور في الشمائل.** دغه شكل كښ نه شي راتللې كه بالكل ويلې نه شي بعضې علماء وايي شكل مخصوص كښ نه شي راتلي او بعضې وايي بالكلية ويلي نه شي داسې چې زه پيغمبر يمه بهر حال يو اختلاف خو شته دي كه ته خوب كښ نبي عليه السلام وګورئ كه د هغه علماء قول مراد وي چې شكل مخصوص مراد دي.

نو ستا خوب كښ خو شبهه راغله چې كيدې شي تا په شكل مخصوص نه وي كتلې اوس ابو عبيده رضي الله عنه چې نبي عليه السلام خوب كښ وګورئ نو هغه خو شكل مخصوص پيژني كنه د هغه خو ملاقات شوې دي هغې كښ دا شبهه هم ختمه شوه ته چې خوب وګوري ما ته يې بيان كړي يوه بله شبهه ده كيدې شي تا دروغ ويلي وي هسې ما ته شيخي ثابتوي.

اوس خوب حضرت ابو عبيدة رضي الله عنه ليدلي:

الصحابة كلهم عدول، دروغ نه وايي دا شبهه هم ختمه شوه نو صحابي په خوب كښ د محمد مصطفى ﷺ كتل دا قوت لري لكه څنګه چې په ويښه باندې د رحمت عالم د زبان حديث درته پيش كړي دومره زور لري نو دادى څوك نه وايي چې داد خوب قصه ده خوب دې خو خوب د حضرت ابو عبيدة رضي الله عنه دي او په خوب كښ محمد عربي ﷺ ليدل شوې دي په دې كښ هيڅ قسم شبهه نور نه پيدا كيږي هغه ورته عرض كوي:

لأحضر جنازة ابي بكر الصديق رضي الله عنه. نو يو د صحابه وو علم ور كول شو چې د مشق كښ دوي په غزا لګيا دي صبا ته چې كو مه فتحه كيږئ د هغې نه يې مخكښ خبر ور كړو او دغه شان جنازې د ابو بكر الصديق رضي الله عنه كښ حاضري وكړه.

لأحضر لفظ ته متوجهې شي د نبي اكرم ﷺ څه حضور ثابتيږي خو دا حضور ذاتي نه دي بلكې روح يا مثل د روح دي داد محققينو قول دي نبي عليه السلام حاضر دي او ناظر دي دا يوه لانجمنه مسئله ده او بريلويانو ډير زور هم دې مسئلې ته وركړې دي او بعضې علماء ترې چټ انكار كوي بالكل چې د هغه روح د حضور قول دې وكړو هم كافر كوي دې نو

هغسې مه کوه ځکه :

لأحضر جنازة أبي بكر الصديق . د صديق اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنازه کې د نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضور په دې روایت ثابت دې .

دا رنګې المستدرك على الصحيحين للحاكم جلد ۴ صفحه ۲۰ :

اخبرني ابو القاسم الحسن بن محمد السكوني بالكوفة حدثنا محمد بن عبدالله الحضرمي حدثنا ابو كريب حدثنا ابو خالد الاحمر حدثني رزين حدثتني سلمیٰ قال دخلت على ام سلمة وهي تبكي .

حضرت سلمى رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته ورغلم هغې ژړل دا هغه ورځ ده په کربلا کې د حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت شوې دې زه ورغلم دا په ژړا وه .

فقلت ما يبكيك . ما ورته وويل څه شي دې ژړوي .

قالت رأيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في المنام يبكي . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مې په خوب کې وليدلو ژړل يې .

وعلى رأسه ولحيته التراب . په سر او ږيره مبارکه يې خاورې وې ګردجن وه .

فقلت مالك يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . څه در باندې شوي يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

قال شهدت قتل الحسين آنفاً . د حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قتل ځای ته حاضر شوې ومه .

اوس دا شهود دلته په کومه معنی اخلي دا هم همغه د حضور معنی ده چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روح يا په مثل د روح بعضې مواضعو ته حاضري کولې شي او دلته د غلاطو بريلويانو له مونږ سره فرق شته هغه دا غلاط بريلويان دا وايي چې هر کور او هر سړي سره په دائمي استمراري طريقه باندې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روح موجود دې هغوي داسې عقيده ساتي هغوي وايي هر کور هر ځای کې موجود دې همغه څه خبره کتبو را اخيستي ده خو دوي په هغه مينه کې ورننوتي دي خبره ترې بل ځای ته تللې ده افراط کوي نو نفس حضور نه انکار مه کوي د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نفسِ حضور روحي په بعضې مواضعو کې چې خدای پاک وغواړي د خدای جَلَّ جَلَالُهُ خوښه شي تللې شي او دا حضور بعد الوفات هم ثابت دې او دغه

لقاء د ژوندي له مرو سره په دې لوي دليل ملاقات د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دي له انبياء سره په ليلة المعراج هغوئ دنيا نه تللي وه دا ملاقات څنګه شوې وه، دغه شان لقاء هم ورسره كيږي اولياء ورسره ملاويږي سترګې مشي کوي.

تفسير روح المعاني د ﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ﴾ ددې په شرحه کې دا مسئله تفصيلي چيړلي ده او پوره تفصيل يې کړې دي هلته مراجعه وکړي او په هغې کې بيا د يو ولي الله حال را اخيستي دي وايي هغه وايي چې ۲۴ ګينټو کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سترګو رپ قدرې ما نه پناه شي وايي زه په خپل ايمان ويريږم دومره دائمي ملاقات زه ورسره کومه او دغه شان د شيخ عبد القادر جيلاني رَحِمَهُ اللَّهُ واقعه يې را اخيستي ده چې بغداد کې دې په منبر کيناسته او رعب پرې راغې او نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وايي مخامخ راغې ما ته ودريدلو.

افتح فاك يا بُني. خوله دې خلاصه کړه وايي چې خوله مې خلاصه کړه (۷) ځل يې په خوله کې لاړې راکړې او بيا يې دا واقعه را اخيستي ده چې حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغې هغه ٦ ځل په خوله کې لاړې راکړې دا واقعه تفسير روح المعاني را اخيستي ده، دا د هغه کرامت شو دا ترې ثابتوي چې د انبياء اولياء ارواح تر قبره يا تر عليين محبوس نه دي جنت ته ځي د عرش لاندې سجده لږوي عليين کې وي روضې مبارکې او د قبر سره يې تعلق وي عامو مجالسو ته ددوي حضور په شکل د يو ذات باندې کيږي دا څه ممنوع نه دي دې کې بيا غلو افراط کول چې هر کور او هر سړي سره او هر وخت کې موجود دي دې باندې چا قول نه دي کړي چې هر سړي سره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روح دي د هيچا قول دا سې نشته سواد دغو غلاطو نه دوي به داسې قول کړې وي مخکې پرې چا نه دي کړي.

ما يو بريلي ته وويل چې ستاسو دا عقيده ده چې دې مجلس کې اوس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ موجود دي وايي هاو ما ورته وويل بيا ستاسو نه غټ بې ادبه بل څوک نشته دي ځکه:

﴿لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ﴾ ستاسو دا عقيده هم ده چې دلته موجود دي او چغې څومره ډيرې وهي دا خو غټ بې ادبه هم تاسې يې چې عقيده دې دا ده چې دلته موجود دي خو غلي شه ادب وکړه بيا چغې څه د پاره وهي څومره چغې بيا ددوي په مجالسو کې وي.

نو نه پوهيږم چې دوي د چا قول را اخيستي دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په هر کور او هر ذات سره دي او هر سړي سره دي ته څه وايي نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونږ نه په دې خوشحال شي چې مونږ د هغه په شان کې مبالغه وکړه په دې نه خوشحاليږي هغه مبارک فرمايي حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته چې ستا په محبت کې به يو قوم ګمراه شي او ستا په عداوت کې به هم ګمراه شي.

نو داسې خلق شته چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په محبت کې ګمراه شوې ګوري هغه ډله به هم پيژني هغې ته به مو سوچ وي چې هغه څوک دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره مينه کوي او په مينه کې ګمراه شوي دي نو هغه دغه افراط والا دي چې زياتي کوي چې هغه د صراط مستقيم نه بل طرف ته ذهاب کوي دغه واقعه د ام سلمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا چې:

شهدت قتل الحسين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، تاريخ الخلفاء د امام سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ جلد ۱ صفحه ۱۸۲، امام ترمذي معرب بيروت چاپ جلد ۵ صفحه ۶۵۷، معجم الکبير د طبراني جلد ۱۷ صفحه ۱۹۲، دلائل النبوة د بيهقي جلد ۷ صفحه ۴۸، ذخائر العقبي جلد ۱ صفحه ۱۴۸، اسد الغابة جلد ۱ صفحه ۲۶۶، البداية والنهاية جلد ۸ صفحه ۲۱۹، تاريخ الاسلام للامام الذهبي جلد ۵ صفحه ۱۷، دا ټولو کتابونو په دغه مذکورو صفحو د ام سلمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا دغه حديث ذکر کړې دي.

دارنګې البداية والنهاية جلد ۶ صفحه ۳۲۹ په دې کې حضرت عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې بندي شو نو د بنديانو نه فديې غوښتلې کيدې ده ته يې وويل چې فديه راوړه ده وويل:

لا مال له. زما خو څه مال نشته څه به راوړمه.

فقال له. رحمت عالم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمايي:

فأين المال الذي دفنته انت و أم الفضل تحت أسكفة الباب.

تا او ام الفضل چې د کور د دروازې د درشل د لاندې کنده ويسته او مال مو په کې پټ کړو هغه مال څه شو او دا هغه وخت کې شوې وه چې دې جنګ ته را روان وه پيسې ځان سره راوړې بيا ور روان شو هسې نه چې زه مړ شمه هغه ځای کې بي بي ورته دروازه کې ولاړه وه کنده يې وکنسته او په هغې کې يې مال پټ کړو دلته خو بل څوک نه وه کنه يو اځې نبي اکرم

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مدينه منوره کې ددې حال کشف شو.

فقال والله يا رسول الله ان هذا شيء لم يطلع عليه غيري وغير ام الفضل الا الله عز وجل.

د خدای تعالی نه سوا پرې بل څوک خبر نه وه ما او هغه پرې خبر وو بس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته الله پاک ددې علم ورکړو.

دارنګې تاريخ الخلفاء جلد ١ صفحه ١٨٢:

واخرج البيهقي في الدلائل عن ابن عباس قال رأيت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بنصف النهار أشعث أغبر.

نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غرمه وه رابهر شو په خپو يې څه نه وه سر مبارک باندې هم څه نه وه.

وبيده قارورة. په لاس کې شيشه وه.

فيها دم. په هغې کې وينه وه.

فقلت بأبي و أمي يا رسول الله ما هذا؟. دا څه شي دي.

قال هذا دم الحسين وأصحابه. داد حضرت حسين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د هغه د ملګرو وينه ده.

لم ازل التقطه منذ اليوم فاحصي ذلك اليوم فوجدوه قتل يومئذ. هغه ورځ ما په نښنه کړه په کومه ورځ چې دې مبارک راوتي وه همغه ورځ باندې بيا دې شهيد شوې وه.

داد حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حالات نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وفات نه بعد هغه ته دا کشف شوې دي.

دارنګې السيرة النبوية لابن هشام جلد ٣ صفحه ١٦٠ د بدر غزی ته دوي روان دي په لاره کې قافله واړوله يو سړي په لاره روان دي.

فسألوه عن الناس فلم يجدوا عنده خبراً. تپوس يې ترې وکړو چې د ابوجهل ملګري چيرته دي يا د ابوسفيان قافله هغه وويل ما ته څه پته نشته.

فقال له الناس سلم على رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. خلکو ورته وويل راشه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته سلام وکړه.

قال. هغه اعرابي ورته وايي.

او فيكم رسول الله قالوا نعم فسلم عليه ثم قال ان كنت رسول الله فاخبرني عما في بطن ناقتي هذه.

که ته پیغمبریې زما ددې اوښې په خیټه کې څه شي دي بچي نر دي که ښځه ده څه شي په کې دي.

قال له سلمة بن سلامة بن وقش رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. سلمه بن سلامه ابن وقش راوړاندې شو عرض کوي:

لا تسأل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دا پوښتنې مه کوه.

واقبل علي. ما ته را مخامخ شه.

فانا أخبرك عن ذلك. دا خبر خو به زه هم درکړم درته چې دې کې څه دي.

نزوت عليها ففي بطنها منك سخلة. تا پرې ورټوپ کړي دي تا نه په دې کې څه شي دي هغه اعرابي ته وايي تا ددې اوښې سره بد کاري کړې ده او ستا نطفه په کې پرته ده.

نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو د حياء نه ورته څه ونه ويل او صحابي مبارک ته کشف وشو هغه ورته دا حال ښکاره کړو.

فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مه افحشت على الرجل. ډیر بد کنځل دې ورته وکړه نو صحابه وو ته هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ له خاطره بعضې حالات کشف شوې دي.

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۲۲۸:

حدثنا عبدالله حدثني ابي حدثنا يزيد بن هارون حدثنا حماد بن سلمة عن الزبير ابي عبدالسلام عن ايوب بن عبدالله بن مكرز عن وابصة بن معبد قال اتيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وانا اريد ان لا ادع شيئاً من البر والاثم الا سألته عنه.

ما زړه کې دا راوستل چې د خير او د شريوه خبره هم نه پريږدم نن د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه په کې تپوس کومه.

واذا عنده جمع . چې راغلم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره جمعه د صحابو و ناسته وه .

فذهبت اتخطي الناس . د خلکو په اوږو مې خپې اړولي روان ومه .

فقالوا إليك يا وابصة عن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إليك يا وابصة .

صحابه کرام آواز کوي لرې شه یا وابصة د خلکو په اوږو خپې اړوي .

فقلت انا وابصة دعوني . پرېږدي .

ادنو منه . چې ورنېږدې شمه .

فانه من احب الناس الي ان ادنوا منه . چې نېږدې شمه نو ما ته به ډېره ښه وي .

فقال لي . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي .

ادن يا وابصة ادن يا وابصة . رانېږدې شه ، رانېږدې شه .

فدنوت منه . ورنېږدې شومه .

حتى مست ركبتي ركبته . زما زنګنونه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د زنګنونو سره ولږېدل .

دا مشائخ مريدان ځان ته په همدا اسې شکل ځان ته کينوي .

فقال يا وابصة أخبرك ما جئت تسألني عنه او تسألني . زه خبر درکړم چې څه ته راغلې يې که ته رانه تپوس کوي .

فقلت يا رسول الله فاخبرني قال جئت تسألني عن البر والاثم . دې ته راغلې يې چې د خير او شر پوښتنه کوي د بر او اثم .

قلت نعم فجمع اصابعه الثلاث . درې ګوتې سره غونډې کړې جوختې کړې .

فجعل ينكت بها في صدري . دا درې ګوتې زما په سينه کې وهلې لکه بعضې طالبان وايي دا پيران ولې مريدانو ته په سينه کې ګوتې ږدي .

ينكت بها في صدري ويقول يا وابصة إستفت نفسك البر . بر څه شي دي .

ما اطمأن اليه القلب واطمأنت إليه النفس والاثم ما حاك في القلب وتردد في الصدر وان

أفتاك الناس. اګر که خلک فتوی در کړي خو ته استفتاء د نفس او قلب نه کوه دا هغه وخت کې نفس او قلب صفا وي.

نو داد وابصة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو سوچ وه له ځان سره نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته ښکاره کړه چې ته نن په دې خيال باندې راغلې وي.

دارنګې المستدرك على الصحيحين جلد ۳ صفحه ۵۲ په دې کې د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دي هغه د ابوذر غفاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ واقعه ده چې له غزې نه پاتې شوې وه يو ضعيف اوښ چا ورکړې وه بيا روان وه بيا هلته نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چا وويل چې يو سړي را روان دي چې دا به څوک وي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل:

كن اباذر. شه اباذر دا چې را روان يې ابوذر شه هغه چې را نيزدې شو رشتيا ابوذر غفاري وه بيا نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

رحم الله اباذر يمشي وحده. مزل يوائې کوي.

ويموت وحده. يوائې به وفات کيږي.

دغه اخبار د غيب دي چې دا به يوائې وفات کيږي دا خو ډير وروسته دې د عثمان ذي النورين په خلافت کې ربذي ته لاړ د فتنې په دور کې او هلته ځان ته وفات شو.

ويبعث وحده..

ډير وخت تير شو بيا ربذي ته لاړو هلته چې همدغه شان وفات شو بيا د دفن يې څوک نه وه عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عراق نه را روان وه او هغه يې بيا جنازه وکړه دفن يې کړو نو هغه ځای کې بيا ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وفرمايل:

فاستهل ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يبكي. چغې وهلې په چغو يې ژړا کوله.

فقال. وويل يې:

صدق رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يرحم الله اباذر يمشي وحده ويموت وحده ويبعث وحده.

نو دا هغه اخبار د غيب دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د ده د وفات قيصه ورته معلومه وه چې په څه شکل به وفات کيږي.

دارنګې حلية الاولياء جلد ٦ صفحه ١٠١ :

حدثنا سليمان بن احمد حدثنا بكر بن سهل حدثنا نعيم بن حماد حدثنا بقية عن سعيد بن سنان حدثنا ابوالزاهرية عن كثير بن مرة عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ ان الله عز وجل قد رفع لي الدنيا .

خدای تعالی دا دنیا ما ته راو اوچته کړه .

فأنا أنظر اليها وإلى ما هو كائن فيها الى يوم القيامة . ما ورته کتل تر قیامته پورې چې څه کیږي دې ټولو ته مې کتل .

كأنما انظر الى كفي هذه . لکه زه چې لاس ته ګورمه .

جليان من امر الله عزوجل جلاه لنبيه . داد خدای تعالی هغه تجلي و کړه او هغه څه یې ښکاره کړل خپل نبي لره .

كما جلاه للنبيين قبله . لکه مخکې انبياء ته چې خدای تعالی دا ښکاره کړي وه دغسې ما ته هم ښکاره کړل دا هغه کشف تام شو .

دارنګې شرح مشكل الآثار جلد ٧ صفحه ٣٢٣:

قوله ﷺ ما بين قبري ومنبري روضة من رياض الجنة . وعلى ما في سواه ما بين بيتي ومنبري روضة من رياض الجنة .

و ايي دد ې تطبيق څه شي دي .

فكان تصحيحهما يجب به ان يكون بيته هو قبره . چې دده کوټه د همده قبر دي .

ويكون ذلك علامة من علامات النبوة جليلة المقدار . دا و ايي علامه د طبق نبوة شوه چې مخکې نه اخبار ورکړې دي .

لان الله عزوجل قد اخفى على كل نفس سواه ﷺ .

له نورو يې پټه کړې ده ته يې ښکاره کړه .

الأرض التي يموت فيها بقوله عزوجل في كتابه : ﴿ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ﴾

(لقمان آيت : ٣٤).

فاعلمه . علم ورکړو .

عزوجل . خدای تعالی .

الموضع الذي فيه يموت والموضع الذي فيه قبره حتى علم ذلك في حياته . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته په حيات کې ددې علم حاصل شو .

وحتى أعلمه من اعلمه من امته فهذه منزلة لا منزله فوقها زاده الله شرفاً وخيراً .

ده دا تطبيق وکړو ، زه درته يو تطبيق کوم : ارض تموة دا علم خاصه ده په نزد د محققينو باندې دلته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د ارض تدفن علم ورکول شوې هغه بل تاويل دې دويم چې د جمهورو قول کې خلل را نه شي .

دارنګې سنن الکبرى جلد ٦ صفحه ١٧٨ صديق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وصيت کوي تقسيم کړه ذا مال دې هغه څوک دي :

وانما هو اخواك واختاك . دوه دي ورونه دي دوه دي خويندي دي .

قالت فقلت . عائشه بي بي فرمايي ما ورته وويل :

يا ابتاه هذه اسماء فمن الاخرى . دا اسماء ده بله خور مې کومه ده .

قال : وايي .

ذو بطن ابنة خارجة اراه جارية . هغه ابنت خارجه د هغې په خيټه چې ده په هغې مې ګمان د جينې دي .

دا حديث شرح السنة جلد ٨ صفحه ٣٠٣ شرح مشکل الآثار جلد ١٥ صفحه ٢٩٢ ، مصنف عبد الرزاق جلد ٩ صفحه ١٠١ کې دا حديث را اخستې دي او مصنف عبد الرزاق دا الفاظ زيات کړي :

و ذو بطن ابنة خارجة قد ألق في نفسي أنها جارية فأحسنوا إليها . خدای تعالی زما په زړه کې القاء وکړه چې دا جاريه ده .

په دې آخره کې د فتح الباري د ابن رجب يو ښکلي مضمون دي او ددې ټولو رواياتو تطبيق کوي چې کوم ځای کې منع راغلې او کوم ځای کې اثبات راغلې ددې مقصد څه شي دي خاصتاً د خمس لا يعلمهن الا الله په دې کې ابن رجب تفصيل کوي چې دا ټول په يو حکم کې نه دي اګر که سلفو کې محققين وايي دا خاصې د باري تعالى دي خو دې په کې فرق کوي دې وايي چې دې کې فقط د قيامت علم خاصه د باري تعالى ده ددې نه ځوادا نور علوم چې دي دې کې تاويل کوي وايي خدای تعالى په تعليم سره ورکوي څه حصې ددې.

فتح الباري لابن رجب جلد ٦ صفحه ٣٤٢، باب لايدري متى يجيء المطر الا الله.

حضرت ابو هريره رَضِيَاللَّهُعَنْهُ د نبي عَلَيْهِالسَّلَامُ نه روايت کوي:

خمس لا يعلمهن الا الله.

دا حديث امام بخاري هم په کتاب الايمان کې را اخيستې دي اول کې دا روايات ذکر کوي:

قال النبي صَلَّىاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ مفاتح الغيب خمس لا يعلمها الا الله لا يعلم احد ما يكون في غدٍ الا الله ولا يعلم احد ما يكون في الارحام ولا تعلم نفس ما تكسب غدا وما تدري نفس بأي أرض تموت وما يدري أحد متى يجيء المطر قد سبق في الباب المشار اليه الاشارة الى اختصاص الله بعلم هذه الخمس التي هي مفاتح الغيب التي قال فيها ﴿وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ﴾ (الانعام آيت: ٥٩)

اوس وايي:

وهذه الخمس المذكورة في حديث ابن عمر ليس فيها علم الساعة. دې کې د قيامت علم نه دې ذکر شوې بلکې ذکر د متى يجيء المطر بدل الساعة عبارت راغلې دي.

وهذا مما يدل على أن علم الله الذي استأثر به دون خلقه لم ينحصر في خمس.

وايي د بخاري د ابن عمر په روايت کې د قيامت علم دغې پنځو کې نه دې راوړل شوې نو چې هغه را واخلې شپږ شول، وايي ددې نه پته ولګيده چې دغه علوم چې خدای تعالى پرې خاص دي پنځه نه دي.

بل هو اکثر من ذلك . دا ډیر دي .

مثل علمه بعدد خلقه . دا ټول عدد د مخلوق څومره دي وایي دا دلته ذکر نه ده او دا خاصه د باري تعالى ده .

کما قال ﴿وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ﴾ (الانعام آیت : ۵۹)

دا خاصه د باري تعالى ده کلي تفصیل چې څوک عقیده ساتي دا ځای پرې رد کوي.

ومثل استئثاره بعلمه بذاته وصفاته واسمائه .

په کنه د ذات باندې دا علم د هیچا نشته دي هغه هم دې پنځو کې ذکر نه دي .

﴿وَلاَ يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا﴾ (سورة طه آیت : ۱۱۰) .

وفي حدیث ابن مسعود في ذکر اسمائه . او استأثرت به في علم الغيب عندك .

هغه اسم چې تا ځان سره خاص کړي په علم غیب کې او ستا اسم دي او مونږ ته پرې علم نشته د هغې په وجه سوال درنه کوم نو چې هر کله علوم خاصه د باري تعالى پنځه نه شو زیات دي نو دا پنځه دلته ولې راغلل .

وانما ذکرت هذه الخمس لحاجة الناس الى معرفة اختصاص الله بعلمها والعلم بمجموعها مما اختص الله بعلمه وکذا العلم القاطع بکل فرد فرد من افرادها .

ګوري فردي علم قاطع علم دا خاصه د باري تعالى ده .

واما الاطلاع على شيء يسير من افرادها بطريق غير قاطع بل يحتمل الخطاء والاصابة فهو غير منفي .

هغه منفي نه دي ترې نه په دغه پنځو کې هم منفي نه دي سوا د قیامت د علم نه .

لانه لا يدخل في العلم الذي اختص الله به ونفاه عن غيره .

ولې خاصه د باري تعالى علم تفصیلي قاطع دي او غیر ته یې چې ورکړو دا بعضې اشیاء باندې شو .

وتقدم ايضاً ان النبي ﷺ اوتي علم كل شيء الا هذه الخمس.

يعني ذاتي يې نشته.

فاما اطلاع الله سبحانه له على شيء من افرادها فانه غير منفي أيضاً وهو داخل في قوله تعالى: ﴿عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ﴾ (سورة الجن آيت : ٢٦-٢٧).

ولكن علم الساعة مما اختص الله به.

قيامت علم خاص دي تر ده پورې هغه يې چا ته نه دي ورکړې.

ولم يطلع عليه غيره كما تقدم في حديث سؤال جبريل للنبي ﷺ وكذلك جملة العلم بما في غد.

د صبا ورځې په ټولو ځيزونو علم دا خاصه د باري تعالى ده.

وقد قالت جارية بحضرته ﷺ وفينا نبي يعلم ما في غد فنهاها النبي ﷺ عن قول ذلك.

ولې يې منع کړه ځکه دلته وهم د ما راغې.

وفينا نبي يعلم ما في غد.

دا ما د عموم د پاره دي او استغراق د پاره دي نو په دغه وجه باندې جملة العلم د ما في غد يې ورته ثابت کړو دغه افراط دي ځکه يې منعه کړه.

وقد خرجه البخاري في النكاح و اما العلم بما في الارحام فينفرد الله تعالى بعلمه قبل أن يأمر ملك الارحام بتخليقه وكتابته.

دا څلور مياشتې دي.

ثم بعد ذلك. بيا د څلورو مياشتو نه بعد.

قد يطلع الله عليه من يشاء من خلقه. بعضې عبادو ته په دې اطلاع ورکوي.

كما اطلع عليه ملك الارحام. هغه خو هم مخلوق دي ملک د ارحام چې پوښتنه کوي يا

الله ذكر دي كه انثى دي خالق ورته وايي ذكر دې نو علم يې راشي په دغه وخت کې هغه خو هم خالق نه دي مخلوق دي چې كومه فرشته په دغه وخت مقرره ده خو هغه وخت کې پرې پوه شي چې كوم وخت کې ده کې روح واچول شي.

فان كان من الرسل فانه يطلع عليه علماً يقيناً.

هغې کې خطاء نه وي.

وان كان من غيرهم من الصديقين والصالحين فقد يطلعه الله تعالى عليه ظاهراً كما روي الزهري عن عروة عن عائشة ان ابابكر لما حضرته الوفاة قال لها في كلام ذكره انما هو اخواك واختاك قالت فقلت هذا اخواي فمن اختاي؟ قال ذو بطن ابنة خارجة فاني أظنها جارية.

بل روايت کې راځي:

قد القي في روعي انها جارية فاستوصي بها خيراً فولدت ام كلثوم.

هغه يې بيا وزيګوله.

واما علم النفس بما تكسبه غدا وبأي أرض تموت ومتى يجيء المطر فهذا على عمومه لا يعلمه الا الله واما الاطلاع على بعض افراده فإن كان بإطلاع من الله لبعض رسله كان مخصوصاً من هذا العموم.

نو بيا يې بعضې اوقاتو کې ورکوي:

كما أطلع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على كثير من الغيوب المستقبلة وكان يخبر بها فبعضها يتعلق بكسبه مثل اخباره انه يقتل امية بن خلف.

ده مخکې خبر ورکړې وه چې اميه بن خلف به زه وژنمه نو دا خو دده کسب دي **ما في الغد** باندې خو په بعضې اشياء دي:

واخبر سعد بن معاذ بذلك امية بمكة. سعد بن معاذ اميه ته وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ داسې فرمايلي وژني به دې.

وقال امية: والله ما يكذب محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وويل امية قسم په الله محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دروغ نه وايي همغه وه د احد ميدان كې ووهه او چې كله رابغ مقام ته ورسيده مړ شو .

واكثره لا يتعلق بكسبه . ډير كارونه د ما في الغد د بيان كړې دي هغه دده كسب پورې تعلق نه لري .

مثل اخباره عن الصور المستقبلة في أمته وغيرهم وهو كثير جداً .

وقد أخبر بتبوك انه تهب الليلة ريح شديدة . بيګا ته يو سخت باد راشي بيا يې وويل يو غت كافر به مړ كيږي بيا مدينه منوره كې د منافقانو يو مشر وه سخت غټ كافر وه هغه مړ شوې وه په دې شپه او هغه باد راوالوتو .

نو نچوړ د ټول بيان دا چې دغه پنځه خاصې نه دي دې پنځو نه اخوا څه نورې هم شته دي هغه هم د خداى تعالى په خواصو كې دي خو بعضې مغيبات چې مخلوق ته ترې وركوي د هغې سره څه مقابله نشته دا يې د هغه متأخرينو رايه پيش كړه هر چې اسلاف دي عبد الله ابن مسعود او ابن عباس رضي الله عنه هغه خمسه خاصه د باري تعالى ګرځوي او څه علماء هغوي په تعليم د خداى تعالى عباد و ته څه بعضې اشياء د هغې نه هم وركولې شي .

دا مسئله د علم غيب وه په آخره كې څه حوالې زمونږ د فقهاو چې په دې مسئله باندې څه ردود كړي دي نو د هغې د پاره يو تطبيق به ذكر كوو :

بحر الرائق جلد ۵، ۷، صفحه ۱۷ كې وايي :

والظاهر ان ادعاء ظن الغيب حرام وليس بكفر بخلاف ادعاء علم الغيب فانه كفر .

د ګمان د غيبو چې امكان دي چې صبا باران وشي وايي دا حرام دي داسې دي نه وايي د عوامو عقيده پرې خرابيږي خو كفر نه دي او كه چا دعوى د علم غيب وكړه وايي كافر كيږي .

او دغه رنګې حاشية ابن عابدين جلد ۴ صفحه ۲۴ په هغې كې د بزازي نه نقل كوي :

يكفر بادعاء علم الغيب . په دعوى د علم غيب سړى كافر كيږي .

او دا رنګې د تتارخانې عبارت هم په دغه صفحه كې پيش كوي د دغې عباراتو چې زمونږ فقهاء دي ته نسبت د كفر كړې دي يا ملا علي قاري شرحه فقه اكبر كې كړې دي دعوى د علم غيب ته يې كفر ويلي دي يا لكه مخكې چې چا راليږلي وه د قاضي خان په حواله چې

چا نکاح تړله او ګواه یې په کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او خدای تعالی ګرځول وایي دا کفر دي ځکه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یې عالم بالغیب وګڼه دا یې ورته علت ګرځولی دی ددې تولو نچوړ حاشیه ابن عابدین جلد ۴ صفحه ۲۴۳ کې هغه تفصیل سره بیان کړي دي.

هغه وایي مطلب في دعوى علم الغيب په دعوی د علم غیب کې نچوړ او رساله:

قلت وحاصله ان دعوى علم الغيب معارضة لنص القرآن فيكفر بها.

د علم غیب دعوی که چا وکړه چې زه عالم بالغیب یمه نو وایي داد نص قران مخالفه ده پرې کافر کیږي.

الا اذا اسند ذلك صريحاً أو دلالتاً الى سبب من الله كوحيٍ او الهامٍ.

مګر که چیرته نسبت ددې علم غیب یې او که یو سبب ته چې هغه سبب وحي ده یا الهام دي بیا کفر نه دي نو دلته خپله پته ولګیده چې زمونږ فقهاء مدعي د علم غیب ته کافر ویلي دي معنی دا چې علم غیب ذاتي ثابتوي که چیرته یې عطاء من الله وګڼله په طریقې د وحې چې د وحې ډیر اقسام دي یا په طریقې د الهام سره نو هغې ته بیا کفر نه ویلې کیږي.

دده له عبارت نه نچوړ دغه راووته نو ر په علم غیب ذاتي باندې راغې یا په کلي تفصیلي استغراقي فردي باندې راغې او اثبات چې وشو هغه علم غیب جزي شو عطائي کله وي کله نه وي بعضې اوقاتو کې خدای تعالی ورکوي بعضې اوقاتو کې نه ورکوي او دا که څوک وایي چې علم نه شي ویلي نصوص پرې مونږ پیش کړل چې د علم اطلاق پرې باندې کیږي البته داسې الفاظ وویل: ان النبي عالم بالغيب دا اطلاقات نه کتابونو کې شته نه مفسرینو را اخیستي دي په داسې الفاظو باندې نسبت نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ښه نه دي ځکه وهم د علم غیب کلي په کې کیږي او د ذاتي دعوی په کې راځي بلکې داسې به سړي وایي چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بعضې مغیباتو علم لري انه عالم الغيب دا چیرته هم کتبو ده ته نه دي ویلې.

بل دا صفت د خدای په صفاتو کې عالم الغیب والشهادة راغلي نو مخلوق ته چې په دغه الفاظو نسبت و نه شي نو دا به ښه خبره وي.

مسئله د علم غیب خلاصه شوه

مسئلة الذكر بالجهر:

التحقيق في مسئلة الذكر بالجهر:

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ﴾ (سورة البقرة آيت : ۲۰۰)

بله مسئله چې زير بحث يې ګرځوو هغه مسئله د ذکر بالجهر ده عوامو خواصو کې ددې خبرې پر چار شوې دي چې په زوره ذکر ناروا دي يا بدعت دي او زړه ور خلک ورته حرام هم وايي او صوفيه کرام چې د هرې طريقې وي د هغوي مجالس د ذکر جهر نه خالي نه وي نو د علماء له خوا نه په اهل د تصوف باندې دا عظيم اعتراض دي چې تاسو ذاکرين بالجهر يې او ذکر جهر يا حرام يا ناجائز يا بدعت دي نو دلته د مستدلينو د نفي د ذکر بالجهر چې کوم استدلال دي له کوم آيت نه يا له کومو احاديثو نه په آخره کې له هغې نه جوابونه په اقوالو د محدثينو کې ذکر شوې دي.

نچوړ او خلاصه دا چې د ذکر بالجهر او بالخفيه متعلق متضاد روايات په احاديثو کې موجود دي لکه د قرائت بالسر او قرائت بالجهر ددې دواړو متعلق روايات شته دي او کله چې په احاديثو کې متضاد روايات موجود شي د هغې احسن طريقه داده چې په مينځ کې تطبيق وکړې شي که نه شي کيدې بيا دې فيصله په تعارض باندې د سند په لحاظ سره دې جرحه وشي چې کوم قوي يې هغه دې معمول به وګرځيږي په مقابل کې ضعيف دې متروک شي مسئله د ذکر بالجهر کې متضاد روايات دي نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه بعضې مواضعو کې منع راغلې ده او بعضې کثيرو رواياتو کې ترغيب راغلې دې د هغې تطبيق امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ او دارنګې ابن حجر عسقلاني ابن حجر هيتمي علامه مناوي او زمونږ بعضې فقهاء جلال الدين سيوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ عبد الحي لکهنوي رَحِمَهُ اللّٰهُ په دې سره کړې دي چې دا دې حمل کړې شي په اختلاف الاحوال والاشخاص سره هغه اشخاص چې هغوي د کاملينو او مکميلينو نه وي او هغوي د مستغرقينو نه دي او اهل د فناء تامې وي او طرفة العين وساوس خطرات شيطاني د هغه په صحبت ذکر کې قلب ته نه طاري کيږي نو د هغه لپاره

افضل خفيه ده او هغه روايات د ترک جهر دي ده ته مخاطب شي او کوم صوفيه او ذاکرين چې هغوي دوام مستغرقين نه دي فناء تامه نه لري او په صحت د ذکر کې دوساويسو خطراتو شيطانيه وو نه محفوظ نه دي نو د هغوي لپاره افضل ذکر جهري دي چې په هغې کې نشاط راځي په هغې کې غفلت ختميږي يقظت راځي وساويسو خطراتو شيطانيوو نه په کې اجتناب راځي نو د هغوي باره کې بيا ذکر جهر بهتر دي يعنې روايات د ترک جهر دي حمل شي په بعضې اشخاصو کاملو مکملو باندې او کوم چې مثبت د جهر دي هغه دي حمل شي په عامو اهل ذکرو باندې او دارنګې دويم تطبيق د غه علماء په اختلاف د مجالسو باندې کوي باختلاف الاحوال والاشخاص که مجلس د تالیینو للقرآن وه مجلس د علم د طلباء وه او د مونځ کوونکو وه نو دغه وخت کې جهر نه ترک جهر بهتر شو ځکه دا مفضي ګرځيږي ضرر لره نائم ته مريض ته مصلي او قاري ته طالب ته نو بيا ترک جهر بهتر دي که دغه چند موانع نه وه چرته بيا هغه روايات دي معمول به وګرځيږي کوم کې چې ترغيب جهر ته دي بيا هغه افضل دي .

اقوى استدلالات د نافيينو د جهر د ﴿وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ﴾ نه دي او دارنګې حديث د بخاري او د مسلم چې صحابه کرام د غزوي نه واپس را روان وه هغوي **هللنا وکبرنا** مونږ **لا اله الا الله الله اکبر** وويل نبي اکرم ﷺ وفرمايل :

إربعوا على انفسكم . نرمي راولي په ځانونو باندې .

انكم لاتدعون اصم ولا غائباً انه معكم انه سميع قريب. تاسو کوڼ يا غائب نه بلکې داسې ذات بلي چې مجيب دي او سميع دي .

له اقوى ادلهوو د نافيينو د پاره دا حديث دي په آخر د بحث کې به زه دد ې آيت او حديث نه جوابونه له طرف د مثبتينو نه ذکر کړم .

د قرآن عظيم الشان نه چې کوم مثبتين د ذکر جهر اثبات کوي هغه د سورة بقرې آيت نمبر ۲۰۰ په دې اعتبار چې **العبرة لعموم الالفاظ لا لخصوص السبب** ، د ظاهر د نص نه اخذ کوي :

﴿فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ﴾

کله چې پوره کړه تاسو مناسک د حج خپل بس یادوي خدای تعالی په شان د ذکر ستاسې اباءلره.

﴿أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا﴾ بل اشد ذکراً.

﴿فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ﴾ بعضې د خلکو نه هغه دي چې وايي.

﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ﴾ يوائې دنيا غواړي آخرت کې برخه نه لري معروف تفسير په دغه ځای کې دادی چې دوي به له اداء د حج نه بعد په بعضې مراکزو د منی او د حرم کې اودريدل او د خپلو اباء تاريخ به يې په بلند آواز سره اعلانول نو رب کريم د هغې په رد باندې چې تاسو د اداء د حج نه بعد مخکې مو څنګه پلاران او د هغوي کارنامې مو مذاکره کوله اوس:

﴿فَاذْكُرُواْ اللّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءكُمْ﴾ تاسو ذکر الله کوي په شان د ذکر ستاسې اباءلره.

نو ذکر ددوي اباءلره په خفيه مجالسو نه وه په جهري مجالسو وه تشبيه د ذکر الله يې ورکړه د ذکر د اباء سره په جهر کې لکه هلته مو چې څومره جهر کوه د غه شان اوس په ذکر الله جهر وکړي.

بل اشد ذکراً. دا ددغې تاويل تائيد کوي بلکې د هغې نه اشد ذکر وکړي دا ذکر داسې يو عبادت دي چې اګر که فقهاء زياتو مواضعو کې عام علماء مفسرين محققين **العبرة لعموم الالفاظ لا لخصوص السبب** ته ترجيح ورکوي خو فقهاء کله هم د مسئلې اخذ د عام لفظ نه، نه کوي فقهاء چې ايات څه باره کې نازل وي بس همغه مسئله ترې ثابتوي.

ګورئ دا ايات کريمه هغه کسان ﴿يُحَارِبُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ﴾ چې هغوي د خدای تعالی او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره جګړه کوي جزا ددوي څه شي دي.

﴿أَن يُقَتَّلُواْ أَوْ يُصَلَّبُواْ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلافٍ أَوْ يُنفَوْاْ مِنَ الأَرْضِ﴾

دا څلور جزاګانې دي اوس ظاهر نص ته چې ګورې هر هغه څوک چې **محارب الله ورسوله** وي نو سزا يې داده چې يا يې قتل کړه يا يې اعدام کړه يا لاس او خپه ترې اُلټه کټ کړه او يا يې جلا وطن کړه.

او بل حدیث مبارک کې راځي :

من عادى لي ولياً فقد اذنته بالحرب .

په اتفاق د علماء محدثینو سره د اولیاء دشمن محارب الله او محارب الرسول دي لیکن یو فقیه هم دلته دا فیصله نه شي کولې چې د اولیاء دشمن محارب الله او محارب الرسول دي نو فلهذا سزا یې ﴿يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ﴾ آیت خو شته دي داسې خو حکم دا پرې نه چسپانیږي دا ولې ځکه فقهاء چې دي هغوي عموم د الفاظو ته نه ګوري دغه شان سود خور په اتفاق د علماء نص قراني نه ثابت دي چې اطلاق د محارب الله پرې شوې دي لیکن حکم د سود خور ﴿أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ﴾ دا نه دي ولې ځکه دا آیت کریمه نازل په حق د قطاعو طریقو کې دي نازل چې د چا باره کې دي نو عموم د لفظ ته فقیه ونه کتل خصوص د سبب ته یې وکتل خو دا فقهاء داسې دي .

هر چې محدثین او مفسرین دي هغوي بیا ترجیح عموم د لفظ ته ورکوي نه خصوص د سبب ته نو دې ځای نه اخذ د ذکر جهر په اصطلاح د فقهاء صحیح نه دي ځکه آیت نازل دي په حق د هغه اذکارو او تکبیراتو کې چې په ایامو تشریق کې وویلې شي په ایامو تشریق کې چې کوم تکبیرات دي نو هلته پرې حاجیان هم جهر کوي او په نورو ملکونو جامع مسجدونو کې د مانځه نه بعد ټول خلک په جهر سره تکبیرونه وایي نو دا چونکې نازل په حق د ایامو د تشریق کې دي او فاذکروا الله کې ذکر د مندوباتو نه دي او دلته فاذکروا الله کې ذکر واجب مراد دي ایامو تشریق کې چې د امام له یاده وځي او یو د مقتدیانو نه یادوي نو وریادوي به یې نو خامخا به هغه ذکر کوي .

په اتفاق د علماء د ایامو تشریق وروسته د صلواتو نه دا ذکر واجب دي داد وجوب اخذ د کوم ځای نه کوي د فاذکروا نه وایي دغه ایات نازل په حق د ذکر د ایامو د تشریق کې دي نو په اصطلاح د فقهاء باندې دا عام استحبابي ذکر جهر اخذ ددې ځای نه صحیح نه دي ځکه چې دا نازل شوې دي په حق د ایامو تشریق د واجبو تکبیراتو متعلق دي استحبابي عام اذکار ددې نه اخذ کول دا اخذ د عموم لفظ نه دي نه د خصوص السبب نه او فقهاء عموم اللفظ ته ترجیح نه ورکوي خصوص السبب ته ترجیح ورکوي .

او هر چې مفسرین دي محدثین دي د هغوي اصطلاح داده چې اعتبار عموم د لفظ ته دي نه خصوص د سبب ته نو په اصطلاح د مفسرینو محدثینو باندې دې نه ذکر جهر ثابتیږي او رد خو نه شي کیدې چې ګڼې ایات به ذکري جهر رد شو رد نه دي فقط په ایامو د تشریق کې په زوره ذکر واجب وه.

نو لا اقل دا خو ترې ثابتیږي چې د ایامو تشریق نه غیر دي واجب نه وي جایز خو شو جواز خو ترې ثابتیږي که جائز نه واي نو امرِ غیر جائز په دغه خاصو د عبادت ورځو کې باري تعالی پرې امر ولې کوه دا خو ورځې د عبادت دي الله پاک دغه ورځې د عبادت لپاره خاص کړې دي نو دغه د عبادت په خاصو ورځو کې خالق په ذکرِ جهري باندې امر ولې وکړو نو هر کله چې هلته واجب شو نو د هغې نه خارج واجب چې نه دي دلیل د جواز خو جوړیږي چې دا ذکرِ جهر جائز عمل دي.

که دا غیر جائز عمل واي نو دا غیر جائز عمل په ایامو مخصوصو کې خالق واجب کولو بیا ولې یو شي ناجائز دي او ته د هغې نه د عبادت خوند اخلي درجه د وجوب ته یې رسوي نو اصلاً ذکر جهر خو جائز دي چې جائز دي په دغه وخت کې په خاصو ایامو کې چې رد په رواج د مشرکینو باندې راشي چې هغوي به په دغه وخت کې د اباء مذاکره کوله عام مسلمانان دي د اله مذاکره وکړي دغه وخت کې نو دغه علت په وجه باندې چې په مشرکینو رد راشي او د مؤمنینو یو شعار اوچت شي نو دغه ذکر په دغه ایامو کې واجب شو ددې نه خارج ناروا نه دي دلیل د جواز خو شو چې جائز دي.

زاد المسیر في علم التفسیر جلد ۱ صفحه ۱۹۳ کې زما دغې تاویل ته اشاره کوي په دې کې تاویلات دي یو :

ان اهل الجاهلیة کانوا اذا اجتمعوا بالموسم ذکروا افعال ابائهم وایامهم وانسابهم في الجاهلیة فتفاخروا بذلك فنزلت هذه الآیة وهذا المعنی مروي عن الحسن وعطاء ابن ابي رباح ومجاهد.

جلال الدین سیوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ په ذکرِ جهر باندې یوه رساله لیکلي ده د هغې نوم دي **نتیجة الفکر في الجهر بالذکر** او عبد الحي لکهنوي رَحِمَهُ اللّٰهُ پرې رساله لیکلي ده د هغې نوم

دي : سباحة الفكر في الجهر بالذكر ، دا دواړه رسالې متداولې مونږ ته را رسيدلې رسالې دي .
روح المعاني جلد ۸ صفحه ۴۷۸ باندې د ذکر جهر متعلق د بعضې فقهاء نور رسائل ذکر کوي : وقد الف شيخ ابراهيم الكوراني رَحِمَهُ اللّٰهُ دې ذکر کوي في تحقيق هذه المسئلة جوړې کړي .

رسالتين جليلتين . دوه ډيرې ښکلې رسالې يې جوړې کړې دي محمود آلوسي د ذکرِ جهر متعلق ليکي شيخ ابراهيم الكوراني د يوې نوم دي : نشر الزهر في الذكر بالجهر ، او د دويمې نوم دي اتحاف المنيب الاواه بفضل الجهر بذكر الله ، تقريباً دا څلور رسائل په ذکرِ بالجهر باندې د اسلافو نه راپاتې دي او ليکلې شوې دي د سيوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ د دغه نتيجة الفكر في الجهر بالذكر چې کوم په الحاوي للفتاوى په جلد ۱ صفحه ۳۷۵ باندې دغه رساله موجوده ده عنوان يې دادی : نتيجة الفكر في الجهر في الذكر .

بسم الله الرحمن الرحيم الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى

سائل تپوس کوي .

سألت اكرمك الله عما اعتاده السادات الصوفية من عقد حلق الذكر . تپوس کوم الله دې عزت درکړي د هغه څه نه چې صوفيه وو ساداتو عادت جوړ کړې دي چې جوړوي حلقې د ذکر .

والجهر به في المساجد . په جوماتونو کې په هغې کې په زوره ذکرونه کوي .

ورفع الصوت . اوچتوي اواز .

بالتهليل . په لا اله الا الله سره .

وهل ذلك مكروه أو لا ؟ دا مکروه دي که نه دي .

دا سائل سوال کړې وه .

الجواب : سيوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ جواب ورکړو :

انه لا كراهية في شيء من ذلك . دغه ذکرِ جهري کې په هيڅ کې هم کراهيت نشته .

وقد وردت احاديث تقتضي استحباب الجهر بالذكر. څه احاديث وارد دي چې هغه مقتضي ددې دي چې په زوره ذکر مستحب دي.

واحاديث تقتضي استحباب الإسرار به. څه نور احاديث وارد دي چې هغه متتضي ددې دي چې پټ ذکر مستحب دي.

والجمع بينهما. جمع په مينځ ددې دواړو روايتينو کې داده:

ان ذلك يختلف باختلاف الأحوال والأشخاص. دا مختلف دي دا حکمونه په اختلاف د حالاتو او شخصونو کې يو شخص د کملو نه وي هغه باندې غفلت نه راځي.

وساوس خطرات شيطاني نه لري هغه ته هغه رواياتو باندې عمل په کار دي چې هغې استحباب د خفيه ذکر راغلې وي يو سړي ته وخت په وخت وسوسې زړه ته راځي هغه چې ذکرِ جهر ونِه کړي دغه شيطان تبنتي نه د مجلس نه نو ددغې شخص د پاره ذکرِ جهر بهتر شو دغه شان احوال دي مصلي او نائم مريض وغيره موجود وي بيا خفيه بهتر دي که دغه نه وي بيا جهر بهتر دي.

كما جمع النووي بمثل ذلك بين الأحاديث الواردة باستحباب الجهر بقراءة القرآن والاحاديث الواردة باستحباب الاسرار بها. امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ د قرآن عظيم الشان جهر او اسرار کې چې احاديث متضاد بنکاري په دغه طريقه جمع کړې دي چې داد اشخاصو پورې تعلق لري او د احوالو پورې.

وها انا أبين ذلك فصلاً فصلاً. بيا په دغه رساله کې سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ د ٢٥ احاديثو نه قوي استدلالات وي زه يې ذکر کوم.

(١) صحيح البخاري جلد ١ صفحه ٢١٣، امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ باب لړوي: **باب الذكر بعد الصلواة،** ذکر د لمانځه نه بعد دې کې حديث ذکر کوي:

ان ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أخبره. چې مولى ابن عباس دي حکايت کوي چې عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ما ته خبر راکړو.

ان رفع الصوت بالذكر. اوچتول د اواز په ذکر سره.

حين ينصرف الناس من المكتوبة. کله به چې راوګرځيدل خلک د فرض لمانځه نه.

كان على عهد النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وه په زمانه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې آواز اوچتول په ذکر باندې د فرض لمانځه نه وروسته رواج وه.

وقال ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كنت اعلم اذا انصرفوا بذلك اذا سمعته. دده عمر کم وه بعضې وخت کې چې دې حاضر شوې نه دي او په کور کې پاتې شوې د جمعې نه نو دغه وخت کې دې وايي:

كنت اعلم اذا انصرفوا. د نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات په وخت دده عمر ۱۵ کاله وه نو چې سوچ وشي د هجرت په اولو ايامو کې به دې ۵ کلن وه بيا ۵ کاله د هجرت دوره تيريږي دې ۱۰ کلن وه دده عمر کم وه داد هغه وخت قصه کوي چې دې کشر دې ٦ يا ۷ کلو دې.

وقال ابن عباس كنت اعلم اذا انصرفوا بذلك اذا سمعته. زه به پوهيدمه چې دوي به د لمانځه نه راوګرځيدل په دغه ګرځيدو د لمانځه ددوي باندې څنګه به پوهيدمه.

اذا سمعته. چې ما به دا ذکر واوريدو مسجد کې به يوه زنګاوه د ذکر لاړه په دې به زه هلته خپل کور کې پوه شومه چې جمعه راوګرځيده.

دا حديث بخاري راخيستي او ټول كتب الحديث يې را اخلي.

صحيح مسلم جلد ۲ صفحه ۹۱ کې ذکر کړي، مسند احمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۳٦۷، صحيح ابن خزيمع جلد ۳ صفحه ۱۰۲، کې هم دا حديث ذکر کړې دي.

امام بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ په بخاري کې د ذکر متعلق دوه متضاد بابونه لږولي دي يو دا باب دي چې: باب الذكر بعد الصلوة، په دې کې د رفع د ذکر هغه احاديث معلوميږي او دا ترې فهميږي چې امام بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ د جهر قائل دي ځکه باب کې حديث جهري را اخلي چې کوم د جهر اثبات په کې کيږي.

دويم باب امام بخاري لږوي هغه په كتاب المغازي کې دي: باب ما يكره من رفع الصوت بالتكبير، په الله اکبر کې جهر مکروه دي له دغه باب د امام بخاري نه بعضې محدثين لګه ابن بطال المالکي ځای په ځای به تاسو په حاشيو کې اربعوا على انفسكم د

حديث په حاشيه باندې قال ابن بطال رفع الصوت بالذكر مكروه به قال عامة السلف ، دا سې عبارات پيدا كيږي د ابن بطال مالكي نه هغه د ابن بطال مالكي او د ابن حجر عسقلاني په فهم د ترجمو د امام بخاري كې په رايه كې اختلاف دي .

ابن بطال مالكي وايي چې دغه باب امام بخاري ولړوه چې باب ما يكره من رفع الصوت في التكبير نو دې د جهر بالذكر مخالف دي ابن بطال ترې دا فهم كوي ، ابن حجر عسقلاني وايي نه امام بخاري چې كوم دي باب الذكر بعد الصلوة ولګوه او دلته يې د كراهيت نسبت تكبير ته وكړو په باب المغازي كې .

نو ابن حجر صاحب دې ته ترجيح وركوي چې د امام بخاري رايه د جهر د ذكر ده البته كله چې دوي بيا جهاد ته روان وي د جهاد د روانګي په وخت كې چې كله دوي ځي هلته د الله اكبر نعرې چې دي هغه مخيلي دي چې دوي كې نشه رانه شي لكه كله سړي په جذبه كې راشي په كثرت بيا نو نشه كې رائحي بيا امام بخاري د جهاد په صف كې د الله اكبر د جهر مخالف دي د ابن حجر صاحب دا رايه ده .

فتح الباري ابن حجر عسقلاني جلد ٦ صفحه ۱۳۵ باندې : باب ما يكره من رفع الصوت في التكبير ، د امام بخاري باب را اخلي لاندې ترې خپل قول ذكر كوي :

اورد . راوړي دي امام بخاري .

فيه . په دې كې حديث د ابي موسى .

كنا اذا اشرفنا على واد هللنا وكبر . دا همغه دي چې نافين ترې استدلال كوي مونږ به چې راښكاره شو په يو وادي باندې لا اله الا الله به مو ويلي او تكبير به مو ويلي .

إرتفعت اصواتنا . آوازونه به مو اوچت كړي وه .

بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ آواز راباندې وكړو :

اربعوا على انفسكم وسيأتي شرحه في كتاب الدعوات قوله اربعوا بفتح الموحدة اى ارفقوا . نرمي وكړي په ځانونو باندې .

قال الطبري . طبري وايي . فيه كراهية رفع الصوت بالدعاء والذكر وبه قال عامة السلف

من الصحابة والتابعين انتهى.

اوس ابن حجر صاحب څه وايي:

وتصرف البخاري يقتضي ان ذلك خاص بالتكبير عند القتال. ابن حجر صاحب وايي دا طرز او طريق د ترجمې د بخاري تقاضا ددې کوي چې دا کراهيت مختص دي تر تکبيره عند القتال.

واما رفع الصوت في غيره. له دغه وخت نه غير په بل ځای کې اواز اوچتول په ذکر يا په تکبير.

فقد تقدم في كتاب الصلوة حديث ابن عباس أن رفع الصوت بالذكر كان على العهد النبوي اذا انصرفوا من المكتوبة وتقدم البحث فيه هناك.

نو اوس د ابن حجر صاحب له دې عبارت نه څه نچوړ راوځي دا ترې راوځي چې دې وايي امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ چې کومه ترجمه لږولې ده د کراهيت د رفع الصوت في التكبير دا مختص تر قتال ده هغه وخت کې دې مکروه ګڼي هر چې له دې نه بغير بل وخت کې ده هغه د ابن عباس صاحب د جهر حديث يې چې ذکر کړې دې هغې نه دده رايه معلوميږي چې دې د جهر قائل دي.

حديث د اربعوا على انفسكم عبدالحي لکهنوي رَحِمَهُ اللهُ په سباحة الفكر کې او دارنګې محدثين مجاب ګرځوي په دې سره چې دا امر تشفيقي دي تشريعي نه دي دا فقهاء دي الفقهاء اعلم بمعاني الحديث، او دلته لفظ د اربعوا دلته يې دا نه دي ويلي چې واخفوا يعني کړي آوازونه دا سې نه وايي اربعوا معنى ارفقوا له رفقت نه دي نرمي نه دي شفقت نه دي په ځان لږ نرمي راولي او دغه عمل چې شوې وه له غزوې نه واپسي کې شوې وه او دوي چغې وهلي جهاد ستړي کړي وه سفر ستړي کړي وه او نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل تاسو آوازونه نرم کړي.

نو عبدالحي لکهنوي رَحِمَهُ اللهُ وايي چې دا امر تشريعي نه دي چې ته له دې نه نهي ثابته کړي او جهر ته مکروه ووايي دا امر تشفيقي دي د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوي رحم او

شفقت راغلې.

ددې داسې مثال دي مثلاً يو معروف شيخ چې د هغه قول خلکو ته مقبول وي هغه ناست دي ذکرِ جهر کيږي ډير په دې آخره کې يو نوي کس مجلس ته راغې ذکري جهر باندې ذاکرين ستړي شوې دي او دلته دا شيخ ورته وايي بس دي نور بند کړي ذکر دا نوي چې دې مجلس ته راغې هغه خبره خوره کړه چې فلاني شيخ هم د ذکري جهر مخالف دي زه ورغلم خلکو ذکري جهر کوه هغه بند که نو څنګه يې بند کړه ناجائز يې ګڼلو نه ناجائز يې نه ګڼله خلک ستړي وه شفقت يې پرې وکړو.

فقهاء دغه وايي چې د اربعوا على انفسكم، امر نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تشريع نه ده کړي چې دا ګڼې ناروا دي ولې کوي بلکې دا شفقت دي په دې صحابوو باندې چې غزې کې ستړي شوې يې په لاره ستړي يې په ځان لږ نرمي راولي که تاسو يې پټ هم وکړي ستاسو خالق خو يې اوري نو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دغې نهي امر اربعوا هغه وجه فقهاء حمل کړه په تشفيق باندې نه په تشريع باندې.

دارنګې شرح النووي على مسلم جلد ۲ صفحه ۳۶۰ حديث د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وارد بالجهر چې امام مسلم ذکر کړي امام نووي پرې شرحه کوي:

هذا دليل لما قاله بعض السلف انه يستحب رفع الصوت بالتكبير والذكر عقب المكتوبة.

دليل د بعضې سلفو چې وايي مستحب دي اوچتول د اواز په تکبير سره په ذکر سره وروسته له فرضو نه.

وممن استحبه من المتأخرين ابن حزم الظاهري. هغه مستحب ګڼلي دي.

دارنګې شرح سنن ابي داؤد عبد المحسن العباد جلد ٦ صفحه ۱۲۲:

والمقصود من هذه الترجمة. مقصود له دې ترجمې نه چې باب الذكر بعد الصلواة دي.

اثبات التكبير والذكر بعد الصلاة وانه يرفع بهما الصوت. آواز به پرې اوچتوي.

وذكر التكبير لانه جاء في الرواية الاولى وجاء في الثانية الذكر وهو اعم من التكبير لان الذكر يشمل التكبير وغير التكبير.

نو يو حديث كې تكبير راغې او بل كې ذكر راغې نو بعضې وايي چې مراد له ذكر نه هم دا تكبير دي او بعضې يې عاموي چې نه ذكر عام دي تكبير خاص دي هغه هم مراد دي عام اذكار هم مراد دي.

مشكوة المصابيح مع شرحه مرقات جلد ۳ صفحه ٦١٧ هغه كې ليكي:

لكن قوله التكبير اخص من هذه الرواية. چې هغه ذكر دي.

لانه الذكر أعم من التكبير فيحتمل أنهم كانوا يرفعون الصوت بالتكبير والذكر كليهما

په دواړو باندې رفع د صوت كړې ده.

فيكون الحديث دليلاً على استحباب رفع الصوت بقول: الله اكبر مرةً او مكرراً.

دغه شان: و بأذكار أخرى عقب المكتوبة. دا مستحب شو.

دارنګې احكام الأحكام شرح عمدة الاحكام جلد ۱ صفحه ۲۱۴ هغې كې ذكر كوي:

فيه دليل على جواز الجهر بالذكر عقيب الصلاة والتكبير بخصوصه من جملة الذكر.

(۲) دليل صحيح ابن حبان جلد ۹ صفحه ۱۱۲ كې ذكر كړې دي:

اخبرنا عمران بن موسى بن مجاشع حدثنا عثمان بن ابي شيبة حدثنا سفيان عن عبدالله بن ابي بكر عن عبدالملك بن ابي شيبة حدثنا سفيان عن عبدالله بن ابي بكر عن عبدالملك بن ابي بكر عن خلاد بن السائب عن ابيه يبلغ به النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

حديث مرفوع كوه.

قال أتاني جبريل. جبريل راغې.

فامرني. ما ته يې امر وكړو.

ان امر اصحابي. چې زه خپلو صحابه وو ته امر وكړمه.

ان يرفعوا اصواتهم بالاهلال. چې آوازونه دې اوچت كړي په اهلال سره ياپه تلبيې سره، په نزد د فقهاء دې حديث نه اخذ صحيح نه دې ځكه وارد شو په حق د تلبيه كې او د نيت د احرام كې.

ليکن په نزد د محدثينو او مفسرينو باندې چې هغوي عبرت عموم د لفظ ته ګوري نه خصوص د سبب ته اخذ ترې کيدې شي ځکه امام سيوطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ دې حديث نه د جهري ذکر اثبات کړې دي.

(۳) دليل: شعب الايمان جلد ۲ صفحه ۱۰۰ ابن الادرع وايي چې دويمه شپه وه د نبي اکرم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره زه رابهر شومه زه پيره دار ومه.

فوجدني أحرس. زه يې مونده کړمه چې ما پيره کوله.

فاخذ بيدي. زما لاس يې ونيوه.

فانطلقت معه. زه ور سره لاړمه.

فمر برجل في المسجد يصلي. تير شو په يو سړي په مسجد کې مونځ کوه.

رافعاً صوته. آواز يې اوچت دي دا هغه روايت دي چې د هغه نه د أه أه آواز کيږي وروسته روايات پرې دال دي.

قال قلت يا رسول الله عسى ان يكون هذا مرائياً. دا به ريا کاروي.

قال. نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ وفرمايل.

ولكنه اواه. دا كثير التأوه والادي يا راجع الى الله دي.

قال فذهبت بعد ذلك انظر. ما ورته کتل.

من هو. چې څوک دي.

فاذا هو. وه مې کتل هغه وه.

عبدالله ذوالنجادين بالنون. ليکن ابو احمد وايي:

انما هو البجادين، قال البيهقي رَحِمَهُ ٱللَّهُ. دا ذو البجادين وه چې د شپې ذکر يې کوه د خولې نه يې آه آه آواز ختلو مونځ يې کوه بيا ترې أه أه چغې ختلې وي.

نو ما نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ته وويل چې دا به رياکار وي وايي نه دا او اه دي ددې خدای ته رجوع ډيره ده.

فيض القدير شرح الجامع الصغير جلد ۱ صفحه ۵۸۵، احاديث متضاد چې كوم راغلي د ذكري جهر متعلق هغې کې تطبيق كوي:

واجيب بأن الاخفاء افضل حيث خاف الرياء. اخفاء په ذكر بهتره ده هغه وخت کې چې يره دريا وي.

او تأذى به مصل او نائم. مونځ كوونكي او نائم پرې تكليف كيږي.

والجهر افضل. او جهري ذكر افضل دي.

في غير ذلك. بغير د دغه وخت نه.

لان العمل به اكثر. ځكه عمل په دې باندې ډير زيات دي يعنې ډير خلک جهري ذكر كوي.

ولان فائدته تتعدي الى السامع. فائده يې عامه ده سامعينو ته.

ولانه يوقظ قلب الذاكر. د ذاكرينو زړه راويښه وي.

ويجمع همه الى الفكر. مراقبې لره يې بوځي.

ويصرف سمعه اليه ويطرد النوم. شړي خوب لره.

ويزيد في النشاط. ذوق او نشاط کې زيادت راولي.

همدغه حديث ذكر كوي هغې باندې بيا شرحه كوي سنن ابي داؤد جلد ۳ صفحه ۱۷۴ بيروتي معرب چاپ جابر بن عبد الله همدغه مخکني حديث ذكر كوي چې دا ذوالبجادين وفات شوې وه.

قال رأى ناس ناراً في المقبرة فجاءوا. وليدو اور خلكو په مقبره کې ورته راغلل.

فاذا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في القبر واذا هو يقول: ناولوني صاحبكم. راكړي ما ته چې په خپلو لاسونو يې دفن كړمه.

فاذا هو الرجل الذي كان يرفع صوته بالذكر. دا هغه سړي وه چې په زوره ذكر به يې كوه دا صحابه وو کې معروف وه په جهري ذكر باندې.

المستدرك على الصحيحين للحاكم جلد ١ صفحه ٥٢٢ د حضرت جابر رضي الله عنه روايت دي:

أن رجلاً كان يرفع صوته بالذكر. يو سړي وه چې هغه به اواز په ذكر اوچتوه.

فقال رجل. يو سړي ورته وويل.

لو أن هذا خفض من صوته. كه ده دا آواز ټيټ كړي واي.

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم فانه أواه. دې كثير التأوه دي يا راجع الى الله دي.

قال فمات فرأى رجل ناراً في قبره فأتاه فاذا رسول الله فيه وهو يقول: هلموا الى صاحبكم فاذا هو الرجل الذي كان يرفع صوته بالذكر.

دا ټول روايات يوه معنى وركوي، معجم الكبير للطبراني جلد ٢ صفحه ٢٥٢ كې هم دا حديث ذكر كړي.

(۴) دليل: صحيح البخاري جلد ٩ صفحه ١٧٨ كې حديث د ابي هريرة موجود دي:

من حديث ابي هريرة انا عند ظن عبدي بي. زه په نيز د گمان د بنده يم په ما باندې.

وانا معه. زه له ده سره يم.

اذا ذكرني فان ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي وان ذكرني في ملأ.
كه ما په ډله كې يادوي.

ذكرته في ملأ خير منهم وان تقرب الىّ شبرًا تقربت اليه ذراعاً وان تقرب الي ذراعاً تقربت اليه باعاً وان اتاني يمشي اتيته هرولة.

الحاوي للفتاوي للسيوطي جلد ١ صفحه ٣٧٦ كې دې حديث نه وروسته ليكي:

والذكر في الملاء لا يكون الا عن جهر. ډله كې ذكر نه وي مگر په زوره وي دې نه اخذ كوي چې داد حلقې ذكر ترې ثابت شو كه څوك مې په ډله كې يادوي زه يې د فرشتو په ډله كې يادومه.

(۵) دليل: الحاوي للفتاوى جلد ١ صفحه ٣٧٦، هغه معروف حديث د مسلم او حاكم ذكر كوي:

اخرج مسلم والحاکم واللفظ له عن ابي هريرة قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان لله ملائكة سيارة فضلاء يلتمسون مجالس الذكر في الارض. دا ذاکرین او صوفیه چې دي دا ډیر مظلوم قوم دي دوي هیچا سره کار نه لري او خلک دوي پسې خبرې کوي.

او چې څومره فضائل په ذخیره د احادیثو کې دوي لري د یو فن والایې هم نه لري یو مجاهدین او بل ذاکرین دوي ذخیره د حدیثو ډیره زیاته لري د خپل عمل په فضیلت جهاد باره کې چې ولړیدي دومره زیات فضائل دي که دې واوریدل بیا به دد نیا یو عمل هم خوند در نه کړي ته به وایي چې یوائې جهاد کوم.

که د ذکر فضائل دي واوریدل نو دومره فضائل دي چې بیا د جهاد نه هم افضل ثابت شوې دي ذکر نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو ته فرمايي: داسې عمل درو ښایمه چې هغه له دې نه هم بهتر وي چې تاسو کې یو کس سخا کوي د یو طرف نه تر مشرقه روان وي او هم داسې پیسې ویشي او دې نه هم بهتر عمل وي داسې عمل درو ښایمه چې جهاد کې توره راخیستې وي لاس کې توره ماتیږي بله را اخلي د هغې نه هم بهتر وي وای چې وښایه دا څه شي دي وايي ذکر الله یادا الفاظ دي چې دا ژبه دې د خدای له ذکر نه وچه نه شي.

نو داسې صریحو الفاظو کې د جهاد په مقابله کې د ذکر فضیلت راغلې، دي د هغې لویه وجه داده چې:

المجاهد من جاهد نفسه.

او ذاکرین چې کوم دي ددوي مقصد هم مجاهده له نفس سره وي نو په هغه عظیم جهاد کې دوي هم لګیا دي دادي مجاهدین په حقیقت کې خو چونکې انسان د عالم صغیر ډانچه ده او په دې ډانچه کې کافر شیطان دي او منافق نفس دي نو دا راپورته شوې دي دغه کافر او منافق د خپل وطن چې ډانچه ده دده ملک دي دا تنه دینه دا دوه فره کوي نو دوي سره جهاد کوي او هر چې مجاهدین دي هغوي په عالم کبیر کې جهاد کوي د کفارو او منافقینو سره ملک چې کومه عامه دنیا ده هغه صفا کوي ترې نه تزکیه د نفس ته جهاد نه ویل دا هم جرم دي.

خو تزکیه د نفس جهاد بیا د هغې جهاد؛ پاره مانع ګرځول دا خو اعظم جرم دي چې وايي زه تزکیه کې لګیا یمه په ما ګنې بل جهاد نشته دي نه دا تزکیه به دې نه خلاصیږي نو دا

خو بيا د تبليغيانو تزكيه شوه ۱۲۰ کاله وشول تزكيه خلاصه نه شوه جهاد به كله بيا ته کوي که صوفيه وو كې هم څوک په دې نظر باندې وي چې زه په جهاد باندې لګيا يمه ما باندې ګنې بل جهاد نشته نه جهاد لازم دي که لساني کوي که مالي کوي که باليد کوي دې نه به کيني نه.

نو دغه فرشتې يادوي.

يلتمسون مجالس الذكر في الارض. هغه ظلم د صوفيه سره په دې روان دي چې علماء کيني طالبانو ته دا احديث په ځان چسپانوي دا طالبان وايي چې را غونډ دي دا په ذکر کې داخل دي کنه نو نه په شريعت کې دې ته مجلس د ذکر وايي او نه عرف کې دې ته مجلس د ذکر وايي ته يو بيګانه سړي د طالبانو درس کې کينوه هغه بيا خلکو ته دا حکايت چې زه هم ذکر کې ناست وم يا د ذکر جلسه کې ناست وم عرف ته ډير اعتبار دي.

په اصطلاحات شرعيه وو کې اصطلاح د شرعې به يا د لغت نه ثابتوي يا به يې د عرف نه ثابتوي نو اهل الذكر نه لغتاً په اهل علمو اطلاق کيږي په اهل تبليغ يې اطلاق نه کيږي په اهل جهاد يې اطلاق نه کيږي هغه ځان ته فضائل لري د هغې لپاره علماء ځان ته کتابونه ليکلي دي د ملا صاحب ژبه نرمه ده هر خوا تاويږي نو چې کله دې ځای ته راورسيږي نو بيا ځان نه اهل ذکر جوړ کړي هغه ټول د ذکر فضائل په ځان چسپانوي.

بيا چې کله د اهل علمو فضائل راشي هغې کې بيا صوفي ذاکر کله ځان سره داخلوي هغه خو د سره ورکوي نه وايي دا خو يې زه ياد کړې يمه ذاکر خو وايي د سره په کې دي نه نا هر چا ته خپل فرضيت دي نبي اکرم ﷺ د هر عمل خپل ترغيبات بيان کړې دي محدثينو د هر عمل د پاره خپل بابونه لږولي دي فضائلو د ذکر باندې خپل باب دي چې باب دي نو دا ذاکرينو ته شامل دي نو دا ظلم کيږي د صوفيه وو ذاکرينو سره.

فاذا اتوا على مجلس ذكر حف بعضهم بعضا باجنحتهم الى السماء. کله چې دا فرشتې راشي په مجلس د ذکر باندې تاوي کړي بعضې د بعضو نه وزرې خپلې اسمان ته ورسيږي.

فيقول الله من أين جئتم. له کوم ځای نه راغلي.

فيقولون جئنا من عند عبادك يسبحونك ويكبرونك ويحمدونك ويهللونك.

سبحان الله الله اكبر او **الحمد لله** يې ويلي او **لا اله الا الله** يې ويلي.

ويسألونك. سوال يې درنه کوه.

ويستجيرونك. او پناه يې غوبنتله له جهنم نه:

فيقول ما يسألون وهو اعلم. څه يې غوبنتل رانه الله عالم دي ييا هم ترينه سوال کوي تائيد د پاره.

فيقولون يسألونك الجنة فيقول وهل رأوها؟ فيقولون لا يارب فيقول فكيف لو رأوها؟ثم يقول و مم يستجروني وهو أعلم بهم؟ فيقولن من النار فيقول وهل رأوها فيقولون لا فيقول فكيف لو رأوها ثم يقول اشهدوا أني قد غفرت لهم وأعطيتهم ما سألوني واجرتهم مما استجاروني فيقولون. فرشتي عرض کوي:

ربنا ان فيهم عبدًا خطاء. بنده خطا کار په کې وه.

جلس اليهم وليس منهم فيقول وهو ايضاً قد غفرت له هم القوم لا يشقى بهم جليسهم.

دا سيوطي رَحِمَهُ اللهُ ذکري جهري کې را اخيستي دي استدلال په دې باندې کوي چې دلته دا کومې فرشتې چې دي دا کراماً کاتبين نه دي چې دا خفيه عمل او جهري عمل ټولو له حافظې دي نو عامې فرشتې چې ستا د يو عمل درک کوي نو وروسته له سماع نه يې کوي چې دوي جهر نه واي کړي فرشتو دا څه واوريدل چې دلته مجلس د ذکر دي.

سيوطي رَحِمَهُ اللهُ ترې استدلال په دې شکل کوي دا فرشتو واي دا مجلس څنګه پيدا کړو وايي دا يې په جهر پيدا کړو چې دوي هلته ذکري جهري کو نو فرشتې دا مجلس را پيدا کړي چې دغه ځای کې ذاکرين لګيا دي.

(٦) دليل: اخرج مسلم والترمذي عن ابي هريرة وابي سعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **قال قال رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **ما من قوم يذكرون الله.**

نشته يو قوم چې د الله ذکر کوي.

الا حفتهم الملائكة، مګر فرشتې د رحمت وزرې تاوه وي دوي نه.

وغشيتهم الرحمة. او پټوي رحمت دوي لره.

ونزلت عليهم السكينة . نازليږي په دوي سكينه د ارامي .

وذكرهم الله فيمن عنده . د فرشتو جماعت کې يادوي .

دې نه هم اجتماعي حلقهء ذکر ثابتوي .

(٧) دليل : دارنګې المستدرک على الصحيحين للحاكم جلد ١ صفحه ٦٧٧ :

عن ابي سعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : اكثروا ذكر الله حتى يقولوا مجنون . زيات کوي ذکر د خدای تعالی تر دې چې ووايي دا خلک : **انت مجنون** ، ته ليوني يې .

امام حاکم د حديث د ذکر نه بعد دا ذکر کوي چې صحيح الإسناد دي .

وابو الهيثم سليمان بن عتبة العتواري من ثقات اهل مصر .

که جرحه پرې کوي مه کوه .

مسند احمد بن حنبل هم دا حديث ذکر کوي جلد ٣ صفحه ٧١ ، الدعاء للطبراني جلد ١ صفحه ٥٢١ ، الدعوات الكبير د بيهقي جلد ١ صفحه ١٧ ، شعب الايمان جلد ٢ صفحه ٦٤ ، صحيح ابن حبان جلد ٣ صفحه ٩٩ ، مسند ابي يعلى جلد ٢ صفحه ١٣٠ ، دې ټولو کتابونو دا حديث ذکر کړې دي چې **اکثروا ذکر الله حتى يقولوا مجنون** .

وروسته د سيوطي رَحِمَهُ اللهُ قول د اخذ ما ذکر کړي دي چې اخذ په دې طريقه دې نه کوي چې ته جهري ذکر ونه کړې تا ته څوک مجنون نه وايي پټ ذکر چې کوي تا ته خو ولي او بزرګ وايي ته ځان ته کينه ذکر کوه تا ته څوک ليوني وايي تا ته به هله ليوني ويل کيږي چې ته جهر په ذکر وکړې او رښتيا هم چې مونږ په عرف کې ګورو چې څوک جهر په ذکر کوي هغوي ته تسميه د مجانينو شوې ده خفيه ذکر والا ته چا تر اوسه مجانين نه دي ويلي .

(٨) دليل : دارنګې الزهد لابن المبارک جلد ١ صفحه ٣٦٢ :

اخبرنا عبدالله بن المبارك قال اخبرنا سعيد اخو حماد بن زيد عن عمرو بن مالك عن ابي الجوزاء قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دا حديث مرسل دې سند کې څه جرحه نشته فقط مرسل دې اوس دا خبره چې مراسيل د

تابعينو مقبول دي او که نه؟

په نزد د جمهورو باندې د تابعينو کل مراسيل مقبول دي په دې کې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ تفرد کړي دي چې د دري تابعينو مراسل منم د نورو نه منم: (۱) حسن بصري، (۲) سعيد ابن المسيب، (۳) ابن الشهاب الزهري رَحِمَهُمُ اللهُ، دا دري امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ مني نور نه مني خو داد هغه تفرد دي د جمهورو رايه نه ده، امام احمد، امام مالک، امام ابو حنيفة، امام بخاري، امام مسلم، ابي داؤد، ترمذي، نسائي دا کل محدثينو په نزد مراسيل مقبول دي.

داد جمهورو رايه ده چې مرسل د تابعي مقبول دي داد خير القرون نه دي بياد ابو الجوزاء غوندې چې معروف شيخ د احاديثو وي او هغه قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ووايي دا خو څه جرم نه دي.

البته په معارضه کې که يو حديث متصل پيدا شي نو بيا به له هغې نه په درجه کې کم وي خو دې ته منقطع نه ويل کيږي دې ته مرسل ويل کيږي دا په اخر د سند کې راوي ساقط شوې وي تابعي راپاځيدلي په حديثِ مرفوعه يې مسنده کې صحابي ترک کړې دي نو دغه په نزد جماهيرو مقبول دي.

يو بله انقطاع ده مثلاً د ابو الجوزاء نه ښکته ابو حماد بن زيد مثال بطور د عمرو بن مالک سره لقاء نه وي او دلته يو راوي ترک شي دې حديث ته منقطع وايي دا حديث ضعيف دي د منقطع او مرسل به فرق کوي نو دې حديث ته که هر څو ضعيف ويلي ناپوهي يې کړې ده محدثين دې ته مرسل وايي او مرسل عند الجماهير د تابعينو مقبول دي.

قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكثروا ذكر الله عزوجل حتى يظن المنافقون انكم مراءون. زيات کوي ذکر د خدای تعالی تر دې چې منافقان گمان وکړي چې تاسو ريا کار يې.

دې ځای نه هم امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ دا اخذ کوي چې ريا نسبت په تا باندې وروسته له جهر نه کيږي که ته خفيه لګيا يې تا ته څوک ريا کار نه وايي خو يره په کار ده حديث دا هم ثابتوي چې ذاکر ته ريا کار ويل داد منافق کار دي دومره ذکر وکړي چې منافق در ته ريا کار ووايي.

نو معلومه شوه چې ذاکرينو ته د رياکار نسبت کول دا نسبت د منافقينو لخوا نه وي که عقيدوي نه وي نو عملي نفاق کې به راشي نو ذاکرينو ته رياکار مه وايي .
دغه دواړه احاديث چې ما ذکر کړل فيض القدير د علامه مناوي په جلد ۲ صفحه ۱۰۸ کې نقلوي ذکر کوي وايي :

ان ما اعتاده الصوفية من عقد حلق الذكر . هغه چې عادت جوړ کړې صوفيه کرامو د ذکر حلقې جوړوي .

والجهر به في المساجد . مساجدو کې په هغې جهر کوي .

ورفع الصوت بالتهليل . لا اله الا الله په زوره وايي .

لاكراهية فيه . هيڅ کراهيت په هغې کې نشته .

ذكره في فتاوى الحديثية قال وقد وردت اخبار . څه احاديث وارد دي .

تقتضي ندب الجهر بالذكر . چې هغه مقتضي د استحباب د ذکر بالجهر دي .

واخبار . څه اخبار نور وارد دي .

تقتضي الاسرار به . چې هغه تقاضا د پټ لوستو کوي په ذکر باندې .
او جمع بينهما داده :

ان ذلك يختلف باختلاف الأحوال والأشخاص . دا اشخاصو احوالو کې مختلف دي روايات د سر او پټ د کملو سره ولګوه او د جهر عامو مجالسو کې ولګوه نشاط راولي او دغه شان احوالو ته وګوره بيمار نائم مصلي موجود وه روايات د ترک د جهر باندې عمل وکړه او که دا نه وه نو جهري وکړه .

كما جمع النووي به بين الاحاديث الواردة بندب الجهر بالقرآة والواردة بندب الاسرار بها. تلاوت کې چې کوم د جهر او خفيه ترغيب راغلي دي هغې کې چې کوم تطبيق شوې دي امام نووي کړې دي همغه تطبيق دلته هم دي بيا حديث ذکر کوي :

اكثروا ذكر الله حتى يقول المنافقون أنكم مراءون أي إلى أن يقول إن اكثاركم لذكره إنما هو رياء وسمعة . دومره ذکر وکړي چې ستاسو د ډير ذکر له وجې نه منافقين ووايي چې دا

خو ریاء او سمعت دي.

لا اخلاصا یعني اکثروا ذکره. ډیر ذکر کوي.

وان رموکم بذلك. اګر که دوي تاسو باندې فتوی د ریاکار کوي.

فانه لا یضرکم. دا تاسو ته ضرر نه کوي.

کیدهم شیئاً والله مع الصابرین الذاکرین. صابرین خو ډیر غټ تعبیر دي که هر قسم تاپې پرې خلک لږوي ریاء کار خو لا وړه تاپه ده ډیرې غټې غټې تاپې پرې خلک لږوي داذکرِ جهري د صوفیه وو هغه منفور عمل دي د علماء طالبانو او خواصو عوامو مینځ کې. چې طالب او عالم داسې ګمان کوي چې صوفي سره به ذکرِ جهري کې یو دلیل هم نه وي یعنې دایې هغه عمل دي چې دوي ته منفور عمل دي چې هغه دوي بالکلیه ناجائزګڼي دومره دلائل په کې صوفیه لري او د فقهاء محدثینو تائیدات په کې لري پاتې شو هغه اعمال ددوي چې هغه ممدوح دي او دوي ته مقبول دي نو هغې کې به یې څنګه نه لري لکه فضائل د ذکر.

الحاوي للفتاوی للسیوطي جلد ۱ صفحه ۳۷۶ کې دا حدیثین را اخیستې بیا وایي:

ووجه الدلالة من هذا والذي قبله ان ذلك إنما يقال عند الجهر دون الاسرار. دا تا ته ریا کار او لیوني ویل هغه وخت کې کیږي چې ته جهر وکړې نه اسرار د اسرار په وخت کې نه تا ته څوک لیوني وایي نه ریاء کار.

(۹) دلیل: دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۳ صفحه ۱۴۲:

حدثنا عبدالله حدثني ابي حدثنا محمد بن بكر اخبرنا ميمون المرائي حدثنا ميمون بن سياه عن انس بن مالك عن رسول الله ﷺ قال ما من قوم اجتمعوا. نشته یو قوم چې را غونډ شي.

یذکرون الله. د الله ذکر کوي.

لا یریدون بذلك. مقصد په دې سره نه وي.

الا وجهه. مګر رضا د باري تعالی.

الا ناداهم مناد. اواز کوونکې اواز ورته کوي :

من السماء. له اسمان نه.

أنْ قوموا مغفورا لكم. پاځي مجلس نه بخښنه درته شوې ده.

قد بُدِلت سيئاتكم حسنات. ستاسو سيئات په حسناتو بدلې شوې.

داد اجتماعي ذکر دليل دي چې په جمعه او حلقه کې ذکر دا جائز دي ، ډیر حمقاء دا خبره کوي چې مسجد ته ځي او د ذکر حلقې ته ځي خدای په کور کې یادوه حلقې ته څه ته ځي نو دا روايات د هغه اجتماعي ذکر فضيلت ثابتوي يو ځای کې ذاکرين را غونډ دي د هغوي حلقه کې کيناستل افضل دي.

(۱۰) دليل : دارنګې صحيح ابن حبان جلد ۳ صفحه ۹۸ :

اخبرنا عمر بن محمد الهمداني قال حدثنا ابو طاهر قال حدثنا ابن وهب قال اخبرني عمرو بن الحارث عن دراج أبي السمح عن أبي الهيثم عن أبي سعيدٍ عن رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال يقول الله جل وعلا.

ورځ د قيامت کې به د اله العالمين لخوا نه اعلان کيږي :

سيعلم اهل الجمع اليوم من اهل الكرم. د حشر د ميدان د جمعې مخلوق چې څومره دي دوي به زر دي نن پوه شي.

مَن اهل الكرم. اهل د عزت څوک دي.

فقيل. چا وويل نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ته.

من اهل الكرم يا رسول الله؟ قيامت کې خو به اعلان وشي نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ يې حکايت کړې اعلان به وشي چې اهل د عزت څوک دي خلک به يې وپيژني ، صحابه وو کې چا عرض وکړو :

من اهل الكرم يا رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال أهل مجالس الذكر في المساجد. دا هغه خلک دي چې په مساجدو کې ذکرونه کوي دا اهل الکرم دي.

امام سیوطي رَحِمَهُ اللَّهُ عجیب محدث دي اخذ کوي بعید محدث دي مجتهد نه دي فقیه هم دي کوم محدث چې فقیه وي د هغه ذهن ډیر کار کوي مسئله ډیر ژور ځای نه را اوباسي اوس دا دوه دري احاذیث یې را اخیستي دي دې نه هم جهر ثابتوي.

(۱۱) دلیل: العظمة د ابو الشیخ اصبهاني جلد ۵ صفحه ۱۷۱۷:

حدثنا محمد بن عبدالله بن مصعب حدثنا ابن ابي عمر حدثنا سفیان عن مسعر عن عون بن عبدالله رَحِمَهُ اللَّهُ تعالى قال ان الجبل. غر.

لینادي الجبل. دې بل غره ته آواز کوي.

باسمه. په نوم سره.

یا فلان. اي فلاني غره.

هل مر بك الیوم لله ذاکر. نن ورځ په تا باندې د خدای تعالی ذاکر تیر شوې دي.

فان قال نعم. که هغه ووایي چې هاو تیر شوې دي.

استبشر. نو زیرې ورکړي دا غر هغه ته زیرې ورکړې چې زیرې قبول کړه چې په تا هم نن ذاکر تیر شوې دي نو بیا عون بن عبدالله د تائید لپاره چې څوک وایي دا چیرته کیدې شي چې غر دې غر ته خبرې وکړي دا ایات ولوستلو:

﴿تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ﴾. داسې غلطه خبره کوي مشرکینو قریب دي چې اسمانونه ترې ټوټه شي.

وقال أیسمعون الزور ولا یسمعون الخیر. نو دا کیدې شي چې الزور دي اوري او غیر ددې نه دي نه اوري چې هر کله د هغوي شرک اوري او قریب دي چې اسمان یا غر ترې ټوټه کیږي نو د غه شان ذکر د خیر او د الله هم اوري او په هغې دوي خوشحالیږي.

(۱۲) دلیل:

اخرج ابن جریر في تفسیره عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ في قوله فما بکت علیهم السماء والارض. اسمان او ځمکي په دوي ژړا ونه کړه.

قال: وایي.

ان المؤمن اذا مات بكى عليه من الارض . نو ځمکه پرې ژاړي .

الموضع الذي كان يصلي فيه ويذكر الله فيه . هغه دوه ځليونه پرې ژاړي په کوم ځای چې مونځ کړي او په کوم ځای چې د الله ذکر کړي .

واخرج ابن ابي الدنيا عن ابي عبيد قال ان المؤمن اذا مات نادت بقاع الارض . دا ټوټه د ځمکي چغې کړي .

عبدالله المؤمن مات فتبكي عليه الارض والسماء . ټول پرې ژاړي .

فيقول الرحمن ما يبكيكما على عبدي ؟ آسمانونو او ځمکو زما په دې بنده څه شي وژړولې .

فيقول ربنا لم يمش في ناحية منا قط الاهو يذكرك . زمونږ په دې ساحه يو ځای کې به يو همروان نه وه مګر ستا ذکر به يې کوه دا خو اجتماعي ذکر نه دي انفرادي دي اوس سيوطي رَحِمَهُ اللهُ دې نه جهر ثابتوي .

الحاوي للفتاوى جلد ۱ صفحه ۳۷۷ وجه الدلالة من ذلك ان سماع الجبال والارض للذكر لا يكون الا عن الجهر به. وايي که دې پټ لګيا وايي غرونو څه واوريده ځمکي څه واوريده دا سماع د ځمکي او غرونو دې ذکر لره دليل د جهر دي چې داده په زوره ذکر کړې دي .

مسند ابن الجعد جلد ۱ صفحه ۲۵۳ د محمد رَحِمَهُ اللهُ قول پيش کوي :

كان محمداً يقوم من الليل فيتوضأ ثم يدعو فيحمد الله عزوجل ويثني عليه ويشكر له يرفع صوته بالذكر . د شپې به يې په زوره ذکر کولو .

فقيل له لم ترفع صوتك ؟ چا ورته وويل ولې اوچتوي آواز په ذکر باندې يعنې په زوره ذکرولې کوي .

قال ان جاراً لي اشتكى فرفع صوته بالوجع وانا ارفع صوتي بالنعمة . وايي زما ګاونډي دي هغه مريض شوې دې نو هغه په درد سره چغې وهي نو په هغې کې ناشکري د خالق ده بس ما وويل راځه ګاونډي دي د ناشکري چغې وهي ته ذکر باندې چغې ووهه چې دا په نعمت باندې خوشحاليده .

ددې نه بعد د محدثينو عبارت او تطبيقات او بعضې نصوص چې مخالفين ترې نه استدلال كوي د هغې جوابات مذكور دي .

فيض الباري شرح صحيح البخاري جلد ١ صفحه ٢٣٩ : انا عند ظن عبدي بي الخ،
ديكې دې خبرې كوي چې چا دلته دا ثابته كړي چې په زوره ذكر بهتر دي چا دا ثابته كړي چې خفي ذكر بهتر دي دې وايي دا حديث دې نه ساكت دي البته د اجتماع د ذكر دليل دي جانبين دې ترې اخذ نه كوي .

بحث الناس فيه ان الذكر بالجهر افضل او بالسر ؟

په زوره بهتر دي كه پټ بهتر دي دروا او ناروا خبره نه كوي د بهترې خبره كوي :

قلت : وهذا البحث في غير موضعه بل تخليط للمراد فان الحديث ناطق بأن الله تعالى يعامل كلاً بحسب ظنه فليس فيه الا الجزاء من جنس العمل فمن ذكره في ملأ يذكره في ملأ عنده لانه جزاء عمله وكذا من ذكره في نفسه يذكره في نفسه لانه جزاء يوازي عمله فلا تعرض فيه الى الافضلية .

دې كې د افضل د جهر او افضل د سر څه مسئله نشته .

مشكوة المصابيح مع شرحه مرقاة المفاتيح جلد ٧ صفحه ٧٧١ : وان ذكرني في ملأ ، له دې نه د جهر اثبات كوي هغه وايي :

وفيه دليل على جواز الذكر بالجهر . ده په زوره ذكر جواز ترې ثابتيږي .

واختلفوا في ذلك . دې كې علماء مختلف دي .

فمنهم من منعه مطلقاً . چا مطلقاً منعه كړې ده .

ومنهم من جوزه مطلقاً . چا مطلقاً جائز كړې ده .

ومنهم من فصل كصاحب الفتاوى الخيرية . تفصيل يې كړې دي كه نائم مصلي مريض وغيره لره تكليف وه نه دې كوي كه نه وه جائز شو .

الفتاوى الفقهية الكبرى د ابن حجر هيتمي جلد ١ صفحه ١٧٦ :

وسُئل رضي الله عنه عما اعتاده الصوفية. هغه چې صوفيانو عادت جوړ کړي.

من عقد حِلَق الذکر والجهر به في المساجد. د ذکر حلقې جوړوي او جهر پرې کوي په مساجدو کې.

هل فيه کراهة. په دې کې کراهت شته.

فأجاب بقوله: لا کراهة فيه. جواب يې ورکړو په دې قول سره چې: کراهت نشته دي په کې.

وقد جمع بين احاديث اقتضت طلب الجهر. لکه: وان ذکرني في ملأ ذکرته في ملأ خير منهم. رواه البخاري، دا مقتضی د جهر دي.

والذي في الملأ لا يکون الا عن جهر وکذا حلق الذکر وطواف الملائکة بها وما فيها من الاحاديث فان ذلک کله انما يکون في الجهر بالذکر. دا ټول دال په جهر ذکر باندې دي.

واخرج البيهقي مر برجل يرفع صوته قلت يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عسى ان يکون هذا مرائياً. دا به ريا کاروي لکه مخکې تير شو.

قال لا ولکنه اواه.

نو څه احاديث د جهر مقتضي دي هغه دادی:

واخرى. څه نور روايات.

اقتضت طلب الاسرار. د پټ ذکر مقتضی دي.

بان ذلک يختلف باختلاف الاشخاص والاحوال کما جمع النووي رَحِمَهُ اللهُ بذلک بين الأحاديث الطالبة للجهر بالقراءة والطالبة للإسرار بها فحينئذ لا کراهة في الجهر بالذکر البتة حيث لا معارض بل فيها ما يدل على استحبابه. معارض نشته بلکې په دې کې هغه روايات دي چې دليل د استحباب د جهر دي.

اما صريحاً او التزاماً. يا صريحاً يا التزاماً.

ولا يعارض ذلك خير الذكر الخفي. دا معارض د هغه حديث نه شو چې خير الذكر الخفي، غوره ذکر خفي دي.

كما لا يعارض احاديث الجهر بالقران بخبر السر بالقرآن كالسر بالصدقة. اسرار په صدقه راغلي په جهر هم جائز ده.

﴿إِن تُبْدُواْ الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ﴾ نو خيرا لكم خو دليل د نفي د جهر نه شو چې په ښكاره باندې كني نا روا دي كه ريا راتله هغه خو خارجي علت شو.

وقد جمع النووي بينهما بأن الاخفاء افضل حيث خاف الرياء او تأذى به مصلون او نيام. والجهر افضل في غير ذلك لان العمل فيه اكثر ولان فائدته تتعدى للسامعين ولانه يوقظ قلب القاري ويجمع همه الى الفكر ويصرف سمعه اليه ويطرد النوم ويزيد النشاط فكذلك الذكر. دا خو د تلاوت متعلق وه دغه شان ذکر هم دي، على هذا التفصيل.

او هر چې دا آيت دي : ﴿وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ ، الآية﴾

اجيب عنه. دې وايي زه جواب ترې كوم.

بانها مكية. دا آيت مكي دي.

كاية الاسراء. په شان د ايات د سورة اسراء چې :

﴿وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا﴾ وقد نزلت.

دا نازل شوې دي په هغه وخت کې :

حين كان صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يجهر بالقرآن. هغه به قرآن کریم کې جهر کوه.

فيسمعه المشركون. مشرکينو به اوريدلو.

فيسبون القرآن. کنځل به يې كول قرآن کريم لره.

ومن انزله. هغه ته به يې كنځل كول نو مامور شو په ترک الجهر باندې سداً للذريعة.

نو واذكر ربك في نفسك. تلاوت ته اشاره ده چې ته تلاوت پټ كوه.

كما نهى عن سب الاصنام. لکه د کنځلو د بتانو نه منع شوې وه.

وقد زال هذا المعنى اشار لذلك ابن كثير في تفسيره.

نتيجة الفكر في الجهر بالذكر د سيوطي رَحِمَهُ اللهُ جلد ۱ صفحه ٦ کې ذکر کوي:

﴿وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ﴾ قلت. زه وايمه.

الجواب عن هذه الايات من ثلاثة اوجه: الاول: انها مكية كآية الاسراء: ﴿وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَ تُخَافِتْ بِهَا﴾ وقد نزلت حين كان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يجهر بالقرآن فيسمعه المشركون فيسبون القرآن ومن انزله فامر بترك الجهر سداً للذريعة كما نهى عن سب الاصنام لذلك في قوله تعالى: ﴿وَلاَ تَسُبُّواْ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللهِ فَيَسُبُّواْ اللهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾

دغه شان دلته منع شوې وه په مدينه منوره کې دا حکم نه دی پاتې ختم شوی دی.

الثاني: ان جماعة من المفسرين منهم عبدالرحمن بن زيد بن أسلم شيخ مالك وابن جرير حملوا الاية. حمل کړې دا ايات.

على الذاكر حال قراءة القرآن. کله چې تلاوت کيږي دغه وخت کې پټ ذکر کوه.

وانه امر له بالذكر على هذه الصفة تعظيماً للقران ان ترفع عنده الاصوات ويقويه. او مقوي ده دغه دويم تاويل اتصال ددې ايات دې دې ايات پورې:

﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ﴾ دا يې دې پورې متصل کړې دی وايي دا اتصال يې ددې دليل دی چې دغه تاويل ته ترجيح ورکوي.

الثالث: ما ذكره الصوفية أن الأمر في الآية خاص بالنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الكامل المكمل واما غيره ممن هو محل الوساوس والخواطر الردية فمأمور بالجهر لانه اشد تأثيراً في دفعها.

په دفع د وساوسو کې په ذکرِ جهري کې تاثير زيات دی نو دا وايي په حق د کملو کيدي

واذكر ربك دا وايي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته خطاب دی يا هغه خلکو ته دا خطاب دی

چې له کاملينو نه وګرځيږي چې هغه ته د وساوسو خطره نه وي او چې چا ته دا خطره وي او غفلت پرې راځي نشاط ختم وي ذوق ختم وي هغه بيا مامور دی په جهر باندې.

قلت: سيوطي رَحِمَهُ اللهُ وايي:

ويؤيده من الحديث ما اخرجه البزار عن معاذ بن جبل. وايي دې حديث ته گوره همدغه تائيد ثابتيږي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صلى منكم بالليل فليجهر بقراءته. د شپې چې څوک مونځ کوي قراءت په جهر کوي.

فان الملائكة تصلي بصلاته. ستا د مونځ سره فرشتې لمونځ کوي.

وتسمع لقراءته وان مؤمني الجن الذين يكونون في الهواء. مؤمنان د پيريانو چې کوم په هوا دي.

وجيرانه معه في مسكنه. دلته چې کوم اوسيږي.

يصلون بصلاته ويستمعون قراءته. وأنّه دي چې دې **.يطرد.** شړي.

بجهره بقراءته عن داره وعن الدور التي حوله فساق الجن ومردة الشياطين. په جهري تلاوت سره د خپل کور او د گاونډيانو نه فساق د جن و مردة الشياطين شړي دې نه اخذ کوي چې په ذکرِ جهري کې د شياطينو شړل شته نشاط شته د وساوسو ختميدل شته.

نتيجة الفكر في الجهر بالذكر جلد ۱ صفحه ۸ کې به تاسو يو روايت پيدا کړئ په تفاسيرو کې د سند په لحاظ سره ضعيف دي چې عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه مسجد ته راغې مختلف روايات دي په کې يو په کې دا دې چې هغوي ذکر په زوره کولو او ده ورته، وويل:

هؤلاء مبتدعين.

بل روايت داسې راځي چې هغوي په کاڼو باندې ذکر کولو وايي دا څه شي کوي دې باندې وايي مونږ حسنات شمارو په دې باندې وايي تاسو ته پته نشته چې سيئات شماري په يو يو کاڼي سره سيئات شماري صحابو و داسې نه کول ختم خواجگان باندې رد راغلو دغه شان متضاد روايات ابن مسعود رضي الله عنه نه دي خو د سند په لحاظ سره قوي نه دي ضعيف دي نو سيوطي رحمه الله په دغه مذکوره صفحه باندې جواب ورکوي.

ثم رأيت ما يقتضي انكار ذلك عن ابن مسعود. ما هغه روايات وليدل چې مقتضي د انکار د ابن مسعود دې له ذکر نه او له حلقو د ذکر نه نو جواب کوي په معارضې سره.

قال الامام احمد بن حنبل في كتاب الزهد حدثنا حسين ابن محمد حدثنا المسعودي عن عامر بن شقيق عن ابي وائل قال هؤلاء الذين يزعمون .داخلک داسې ګمان کوي .

ان عبدالله كان ينهى عن الذكر . عبد الله بن مسعود خلک د ذکر نه منع کول:

ليكن ما جلست عبدالله مجلساً قط . زه د عبد الله سره کله هم ناست نه يم .

الا ذكر الله فيه . مګر ذکر يې کړې دي . سيوطي رَحِمَهُ اللهُ دا دې لپاره پيش کوي چې دغه روايات د سند په لحاظ د هغې په مقابله کې قوي دي چې څوک يې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په رد د ذاکرينو د حلقې باندې پيش کوي بل هلته ابو موسى اشعري او عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هغه ضعيف روايت کې هم نسبت د دې کوي چې دا تاسو ګناه شماري او ابو موسى اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وايي چې والله انه لخير . قسم بالله دا خو خير دي نو دې ځای کې چې د ابن مسعود عمل نه دين جوړوي داد دويم صحابي ابو موسى اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې په قسم سره دې کار ته د خير نسبت کوي هغې نه ولي استدلال نه کوي .

او يا يې تطبيق وکړو نو تطبيق يې داد ی چې د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا حال دې حمل شي په اخص الخواصو باندې اخص الخواص څوک دي اخص الخواص هغه دي چې مأمورات د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټول په ځای راوړي افعال يې په ځای راوړي منهياتو نه يې منع شي بيا دويمه مرتبه کې چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په کوم رواياتو کې صحابه وو په روايت العدم کې پيش کړي چې دا کار يې نه دي کړې د هغې نه اجتناب وکړي بيا دريمه مرتبه کې چې کومو رواياتو کې سکوت راغلې دي بالکلية هغه شي ثابت نه وي نو هغه شي نه هم دې ځان وساتي .

امام رباني رَحِمَهُ اللهُ چونکې د اخص الخواصو نه دي هغه وايي په بدعت حسن کې هم نور نشته دي نو داد اخص الخواصو کار دي چې هغه بايد دومره متبع د سنتو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ شي لکه امام رباني رَحِمَهُ اللهُ چې کوم کار هغه نه وي کړې نو هغې ته هم بيا ونخلي هغې نه هم ځان وساتي چې کوم يې نه وي کړي او چې تا ٦٠٠ سنت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په صحيح احاديثو ثابت هغه درنه پاتې دي او يو کار را پيدا شي هلکه دا يې نه دي کړې زه يې نه کومه هغه خو وروستي رتبه ده هغه کوم يې چې کړي هغه خو خپل کړه يو ځل بيا وروسته دې ته راشه چې دا

کاریې نه دي کړي زه یې نه کومه دا خو روستي خبره ده د کملو کار دي د کمال مجتنبینو د بدعت نه کار دي چې هم حسن نه ځان ساتي هم سیئه نه ځان ساتي دا د اخص الخواصو کار دي.

نو عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه د هغه اخص الخواص نه دي چې هغه فعلي سنت د نبي علیه السلام یې تول په ځای راوړی دي دې نه بعد دویمه رتبه کې یې شروع کړې ده چې دا کار یې نه دي کړې زه یې نه کومه هغه په دې مقام کې دي او د ابو موسی اشعري رضي الله عنه فتوی عامه ده.

والله انه لخير. دا کار ښه کار دي د خدای ثناء وایي تسبیحات وایي تهلیلات وایي که په کاڼو یې شماري که په هر شي باندې شماري هغه د کاڼو شمارل هم د نبي علیه السلام په زمانه کې موجود وه ابو داؤد شریف باب الذکر بالحساب باب لړولې دي نبي علیه السلام یو بي بي باندې راغې او هغې د کهجورو زړي راټول کړې وه په هغې لګیا وه تسبیحات یې وویل نبي علیه السلام منع ونه کړه چې دا کار بدعت دي یا څه جرم دي بلکې دا الفاظ یې وویل چې داسې یو څیز وښائم درته چې هغه جامع د ډیرو اذکارو وي په هغې کې ډیر اجر وي بیا یې څه خصوصي الفاظ ورته وښودل چې بي بي غریبې ځان ډیر ستړې کړې دي او د غه الفاظو کې ثواب ډیر دي که دا چیرته ناروا وای نو دا ښځه به یې منع کړې وي د زړو د ذکر نه.

نو د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه دا قول خو ضعیف دي سنداً که قوي هم شي هغه د اخص الخواص سره لړیږي زمونږ او تاسو کې تاسو یې که زه یم که خاصکر پنچپیریان دي دوي دې را واخلي یو اځې بخاري دې اول نه آخره پورې وګوري چې دوي نه څومره ماموراتد نبي علیه السلام ترک شوې دي څومره افعال هغه کړې دوي په ځای نه دې راوړي څومره تقریراتو باندې ثابت څیزونه دي دوي پرې قول نه دي کړې.

دا خو بیا وروستي خبره ده چې دا کار یې نه دې کړي زه یې نه کومه دا خو وروسته خبره ده هغه کوم امر یې نه دې کړي زه یې نه کومه دا خو وروسته خبره ده هغه کوم امر یې چې کړې هغه په ځای راوړه نو قول د ابن مسعود رضي الله عنه دې اخص الخواصو سره ولړیږي چې بدعت کې نور نشته که حسن وي که سیئه وي باید اجتناب ترې وشي او قول د ابو موسی اشعري رضي الله عنه دې عامه فتوی شي:

انه لخير. دا د خیر عمل دي.

عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه فقاهت به مني فقه د هغه خپل مقام لري ليکن څو څيزونو دي يو په فن د قرائت کې دده قرائت بيا د متواترو نه، نه دي او د قرائت په باب کې چونکې دې عالم وه دا علماء اکثر قرآن کريم يې پوخ نه وي روايت بالمعنى ډير کوي دا عالمان چې کوم قاريان وي تاسې يې قرائت واوري ډيرو ځايونو کې متشابه ته چې لاړ شي په معنى يې جوړوي بيا هغه معنى ته ګوري بس جوړوي.

نو دغه شان ده نه هم ډيرو ځايونو کې روايات بالمعنى شوې دي نو امت يې نه قبلوي د قرائت په باب کې قرائت شاذه لري متواتره نه دي او بيا نور څه تفردات هم لري چې امت هغې کې ده پسې ذهاب نه کوي من جمله د هغې نه چې مونږ رکوع کوو نو زنګون نيسو څلور واړه مذاهب متفق دي په نيولو د زنګون باندې او عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې نه افضل دادی چې د دواړو پتونانو مينځ کې به لاس ومنډي او وه به يې نيسي د هغه دومره سخته رکوع ده چې ډيره ګرانه ده.

داد ابن مسعود رضي الله عنه رايه ده او داد دده تفرد دي امت کې څوک ذهاب نه کوي ابتداء کې دا عمل وه خو بيا منسوخ شوې دي او عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي منسوخ نه دي هغه افضله ده او دا جائزه ده چې مونږ يې کوو خو هغه چونکې ګرانه ده چا پرې عمل نه شو کولې.

ددې نه بعد به د امام ابو حنيفه رحمه الله قول ډيرو طالبانو ته شکوک پيدا کړې وي چې هدايه وغيره را اخيستې ده:

ان الجهر بالذكر بدعة يا ان الجهر بالتكبير بدعة دا عبارت زمونږ په فقه کې پيدا کيږي نو په هغې باندې هم لږ ځان پوه کړي امام ابو حنيفه رحمه الله فقيه دي هغه خبرې د اصولو موافق کړې دي دا چې اوس خلک د هغه په خبرو نه پوهيږي بل شي ترې جوړوي داد خلکو نقصان دي.

امام ابو حنيفه رحمه الله وايي کوم اعمال چې دين کې معروف دي مثلاً طواف مثلاً مونځ يا عيدين دا خپل احکام لري خپل اصول لري خپل چوکاټ لري د خارج نه چې کوم شي ثابت نه وي ته يې په دې کې داخلولې نه شي همدا وجه ده چې حجر اسود او رکن يماني په طواف کې مس کولې شي.

زمونږ احناف وايي كه ركن عراقي او شامي دې مس كړو نو مكروه دي وايي دا نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ نه دي مس كړې هغه حديث د بخاري د معاويه رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ شته دي چې هغه به عراقي او شامي دواړه مسحه كول ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ پرې اعتراض هم كړې وه چې دا ته څه كوي هغه ورته وويل:

لم يكن في البيت شيء مهجور. په بيت كې يو ګوټ هم مهجور نه دي هر يو د بركت نه ډك دي زه يې مس كولې شم.

د يو صحابي رايه هم پرې شته بيا هم زمونږ فقهاء وايي مكروه دي ولې وايي هغه ځكه وايي چې دا طواف زمونږ په دين كې يو حكم دي يو عمل دي دا حدود لري دا احكامات لري ددې په داخل كې د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ چې كوم كار ثابت نه وي زائد څوك نه شي زياتولې نو په حالت د طواف كې د ركن عراقي او شامي مس د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ ثابت نه دي نو مكروه دي بيا چې كله دې طواف خلاص كړو نو بيا خو د كعبې دا څلور ركنونه پرېږده هسې ديوال ته يې لاس وړه باب ته يې لاس وړه.

دا تا ته وايي نه چې كله دې طواف خلاص كړو بيا به ملتزم ته لاړ شي هغه درشل د كعبې پورې به كلك ونخلي بيا خو جائز دي خو صرف په عمره او حج كې چې دا اعمال دي احكام دي حدود لري احكامات لري امرِ زائد دې كې د ننه كول زمونږ اصول نه مني.

نو دغه شان دا عيد چې دې دا احكامات لري د عيد په احكاماتو كې دا دی چې په لوی اختر كې به چې كله روان عيدګاه ته يې نو جهر به په تكبير باندې كوي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ وايي چې هر كله وړوكي اختر راشي نو دواړه اختر په احكاماتو كې جهر بالتكبير په طريق كې نشته ځكه دا ثابت نه دي نو هغه لان الجهر بالتكبير بدعة يا بالذكر بدعة دغه ځای كې يادوي.

لان الجهر بالتكبير بدعة في الطريق الى المصلىٰ في يوم الفطر. په ورځ د واړه اختر چې عيدګاه ته ځې په دې لاره جهر بالتكبير بدعت دي يا مكروه دي ولې وايي ځكه داد احكامو د عيد نه، نه دي عيد يو عمل دي چو كاټ لري حدود لري احكام لري دواړه اختر احكامو كې جهر بالتكبير نه دي راغلې چې نه دي راغلې نو ته د ځان نه يو حكم په كې نه شي د ننه كولې

دې ته جائز مه وايه او ياران څه وايي قياس دې وشي غتې اختر باندې هغلته جائز دلته هم جائز نو زما دغو عباراتو ته فقهاء اشارات کړې دي .

البحر الرائق شرح کنز الدقائق جلد ۵ صفحه ۲۱۱ : ولا يكبر في طريق المصلی عند ابي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ . واړه اختر کې تکبيرات به نه وايي په لاره په نزد د امام صاحب باندې ولې .

اى حکماً للعيد . چې داد عيد له احکامو نه وګرځيږي په دغه نيت به يې نه وايي .

ولكن لو كبر لانه ذكر الله تعالى يجوز ويستحب . که دې الله اکبر وايي په واړه اختر کې په لاره او د احکام العيد نه يې نه ګرځوي نو بيا مستحب عمل دې دا عبارت ثابتوي چې امامنا دا قول د مکروه چې کړې دي داد احکام العيد باره کې وايي چې داد واړه اختر له احکامو نه مه ګرځوي لکه خطبه يې د احکامو نه ده د خطبې سماع يې له احکامو نه ده تکبيرات يې له احکامو نه دي .

دغه شان په دې طريق کې تکبيرات په لوي اختر کې له احکام العيد نه دي او په واړه اختر کې له احکام العيد نه ، نه دي هغه د خپلو اصولو موافق صحيح خبره کوي چې واړه اختر کې دا نه دي ثابت نو داد حکامو نه مه ګرځوي .

دارنګې تبيين الحقائق شرح کنز الدقائق جلد ۳ صفحه ۹۹ ، امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ وايي زمونږ زمانه کې عام خلک د واړه اختر کې په دې تک ييراتو اخته دي جهر پرې کوي په زوره يې وايي وايي زما دا فيصله ده چې خلک مه منع کوي خلک هسې هم نيکي نه کوي دغه څه نيکي يې شروع کړې هغه پرې تاسو بند کړې هغه د يارانو مذهب ته يې ترجيح ورکړې چې واړه اختر کې دې هم روان وي په لاره جهر دې کوي .

قال الطحاوي : والذي عندنا . هغه چې زما په نزد فيصله ده هغه داده :

انه لا ينبغي . مناسب نه ده .

ان يمنع العامة . چې منع کړې شي عام خلک .

من ذلك . له ذکرِ جهري نه .

لقلة رغبتهم في الخيرات . د خلکو په نيکي کې رغبتونه کم شوې دي دغه لږې لږې نيکي

یې شروع کړې دي او په دې کې ته ورته خبرې پیدا کړي چې دا دې بدعت وکړو نو خلک به بالکلیة د اعمالو نه واړوي لکه خیراتونه دا خلک چیرته کوي خو چیرته دا یو نیم خیرات وکړي هغه پرې ته بند کړي نور خیرات خو هسې هم نه کوي هغه پرې ته بند کړي د خیر اجتماعات خو نه لري چیرته د میلاد په نوم را غونډ شي د خدای د دین خبرې اوري هغه پرې ته بند کړي نو وایي رغبتونه خیراتونو ته کم دي اذکار او عبادات کم شوې دي نو دغه یوه نیمه ورځ چې خلک دا کار کوي نو منع کول یې نه دي په کار.

قال وبه نأخذ. مونږ په دې اخذ کوو داد یارانو فتوی هم ده.

وفي الفتاوى الظهيرية وعن الفقيه ابي جعفر انه يقول سمعت ان مشائخنا كانوا يرون التكبير في الاسواق في الايام العشر. زمونږ مشائخو جائز کړل تکبیرونه په بازارونو کې په ورځو ۱۰ کې.

وفي المجتبى وذكر ابوالليث ان ابراهيم بن يوسف كان يفتي بالتكبير في الاسواق في الايام العشر قال الهندواني وعندي. زما په نزد.

لا ينبغي ان تمنع العامة من ذلك. نه ده مناسب چې عام خلک له دې نه منع شي.

لقلة رغبتهم في الخيرات وبه نأخذ هذا في جمع التفاريق. مختلف اقوال راغلې د هغې جمع په دې کې شوه.

قيل لابي حنيفة رحمه الله ينبغي لاهل الكوفة وغيرها. کوفې او غیرِ کوفې خلکو ته په کار دي.

ان يكبروا ايام التشريق في الاسواق والمساجد. په ایامو تشریق کې به بازارونو او په مسجدونو کې تکبیرونه وایي.

قال نعم. وایي هاو په کار ده چې وي وایي.

په اخره کې د شامي عبارت زه تاسو ته ذکر کوم چې شامي دا ټول عبارات را اخیستې او نچوړ یې ترې را ویستلې دي رد المختار جلد ۱ صفحه ٦٦٠ : **مطلب في رفع الصوت بالذكر**

اقول اضطرب كلام صاحب البزازية في ذلك . وايي صاحب د بزازي دې باره کې مضطرب اقوال
کړي .

فتارةً قال . كله وايي .

انه حرام . په زوره ذکر حرام دي .

وتارة انه جائز . کله وايي دا جائز دي .

وفي الفتاوى الخيرية من الكراهية والاستحسان جاء في الحديث . هغې کې د کراهيت
قول دي .

علامه شامي وايي استحسانيه په کې داده : جاء في الحديث ما اقتضي طلب الجهر به،
احاديثو کې داسې روايات شته چې مقتضي د جهر دي هغه دا :

وان ذكرني في ملإ ذكرته في ملإ خير منهم رواه الشيخان وهناك احاديث . دلته نور احاديث
دي چې مقتضي طلب د اسرار دي .

والجمع بينهما بان ذلك يختلف باختلاف الاشخاص والاحوال كما جمع بذلك بين احاديث
الجهر والاخفاء بالقراءة .

ولا يعارض ذلك حديث خير الذكر الخفي لانه حيث خيف الرياء او تأذى المصلين او
النيام فان خلا مما ذكر . که دد ې نه خالي وه دغه ځای .

فقال بعض اهل العلم ان الجهر افضل لانه اكثر عملاً ولتعدي فائدته الى السامعين
ويوقظ قلب الذاكر فيجمع همه الى الفكر ويصرف سمعه اليه ويطرد النوم ويزيد النشاط .

بيا وايي :

وفي حاشية الحموي عن الامام الشعراني اجمع العلماء سلفا وخلفاً . علماء پخواني او
وروستني اجماع يې کړې ده .

على استحباب ذكر الجماعة في المساجد وغيرها . په مساجدو کې په زوره ذکر باندې
وغيرها .

الا ان يشوش جهرهم . مگر كه تشويش كې اچوي جهر د دوي .

على نائم او مصل او قاريء . هغه وخت كې بيا نه دي په كار .

بغية المسترشدين د شافعي فقهې كتاب دي جلد ۱ صفحه ۱۳۳ ، ذكر كوي :

لا يكره في المسجد الجهر بالذكر بأنواعه .

ځو مره قسم ذكر چې وي هغه په مسجد كې جهر په هغې د مكروهاتو نه ، نه دي بهر حال كيدې شي ډير فقهاء تاسو داسې هم پيدا كړي چې نسبت د كراهيت يې كړې وي خو نچوړ د هغې دادى چې كوم اقوالو كې كراهيت دي هغه دې حمل شي تر بعض الاشخاص او هغه دې حمل شي تر بعض المواضع چې مصلي نائم بيمار تالي طالب هغوي ته پرې ضرر نه وي كومو رواياتو كې چې جواز راغې هغه ما خلا د دغو مواضعو نه شو .

مسئله د ذكر بالجهر د لوې ښتن په مرسته خلاصه شوه .

مسئلة التحقيق في عصمة الأنبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ :

التحقيق في عصمة الانبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ :

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴾ (سورة ص آيت : ۸۲-۸۳)

مسئله د عصمة الانبياء هغه عظيمه اجماعي مسئله ده چې دې کې اربعة مذاهب فقهاء محدثين متكلمين بلكې معتزله هغوي هم قائلين د عصمت دي فقط په دې ۷۲ جماعاتو کې د اهل زيغو نه يو جماعت د خوارجو دي چې هغې ته جماعت د فضيليه خوارجو وايي هغوي د عصمت منكر دي او حتى کې قبل النبوة په انبياء عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې نسبت د كفر هم ورته جايز گڼي چې بعضې اوقاتو کې دوي نه كفر هم شوې عياذاً بالله .

پاکستان کې مودودي جماعت ددوي باني ابو الاعلى مودودي چې د هغه په رد باندې دې شنيعو عقائدو کې د ديوبند لوي لوي علماء او ددې زمانې هم ډيرو علماء پرې ردود کړې دي هغه په خپل تفسير تفهيم القرآن کې ډير زيات گستاخانه الفاظو سره د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ د عصمت عقيدې نه انكار کړې دې بيا په مرورد وخت سره چې اعتراضات په مودوديانو او ددې جماعت په باني ابو الاعلى باندې وشول نو د مردان د تفهيم القرآن د مدرسې مهتمم هغه بيا ددغې تهذيب وکړو او د هغې خرافاتو نه يې د خپل هغه مقتدىٰ او امام تفسير خالي کړو بيا هم په هغې کې څه اعتراضات چې نسبت د تنقيص صحابه كرامو ته موجود وه دري ځل تهذيب د هغې د افغانستان د حزب اسلامي په تنظيم کې بعضې علماء يو ځای شول او د تفهيم القرآن د مودودي پوره تهذيب يې وکړو .

نو كه نن صبا تاسو تفهيم القرآن د ابو الاعلى مودودي وگورئ کيدې شي هغه حوالې چې مخکې معصرينو دده په رد باندې او دده د عقائدو په رد باندې رسائلو کې پيش کړې دده په تفسير کې اوس پيدا نه شي نو د هغې وجه داده چې اصل تفهيم القرآن ماسره شته د ابو الاعلى اولنې تفهيم القرآن هغه مونږ پيدا كړې دي خو دغه تفهيم القرآن دري ځل اشاعت شوې دي يو ځل د مردان د تفهيم القرآن د مدرسې لخوا نه شوې هغې کې د عصمت د عقيدې خلاف چې ده څه ويلي وه هغه يې ترې لرې کړې دي او يو ځل د افغانستان حزب اسلامي

تنظیم شائع کړې دي په هغې کې بیا تنقیصات د صحابه وو څو مره بې کاره عقائد چې اعتراضات پرې شوې وه هغه ټولو نه یې صفا کړې دي خو اصلي تفهیم القرآن کې څو څو ځایه د انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته د کبائرو بلکې د کفر نسبتونه په خپلو عباراتو کې کړې دي.

دا موضوع ډیره طولاني ده او حصریې په چند ورقاتو کې ممکن نه وه ځکه چې قرآن عظیم الشان کې چې انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته څه نُسب شوې دي آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته څه د خطاء د سهوې نسبت یا حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کومه بد دعائي کړې وې او د هغې نه بیا حیاء کوي په ورځ د قیامت او د شفاعت نه ځان وروسته کوي او یا نسبت د کذباتو ثلاثه وو ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کوي او دارنګې نسبت د بعضې اعمالو حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَامُ لره اګر که واقعه معروفه دې کې چې دې د خپل فوجي اوریا ښځه باندې عاشق شوې وه او د هغه د قتل ارادې لرلې هغه محضې افتراء ده.

تفسیر روح المعاني په هغه ځای باندې: ﴿وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ﴾ دا ذکر کړې دي چې حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا فرمایي که دغه واقعه چا بیان کړه د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ په حالاتو کې چا دا قصه وکړه چې داد اوریا په ښځه عاشق وه او بیا یې هغه ته وویل چې دا طلاقه کړه هغه نه طلاقوله او بیا یې د فاع وزیر ته وویل چې جهاد ته دا سړي بوځه او په سختو تعارضاتو کې دې مخې مخې ته کوه چې شهید شي همغه شان یې وکړو هغه یې شهید کړو بیا هغه فرشته ګان چې د امتحان د پاره راغلي وه چې دده ۹۹ ګډې دي او زما یوه ګډه ده او دا وایي چې دا ماته راکړه چې سکیره پوره شي په ما باندې په خبرو کې غالب دي دا دې ته اشاره وه ځکه د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ ۹۹ بیبیانې وې او د هغه اوریا یوه بي بي وه هغه یې ترې خپله کړه.

دغه شان واقعه چې تفسیر یسیر را خیستې ده او بعضې کمزورو تفاسیرو په شان نزول دده ځای کې بیانه کړې ده محققین پرې رد کوي ابن کثیر روح المعاني وغیره سخت ردود پرې کوي.

په دغه ځای باندې روح المعاني دا عبارت نقلوي چې حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي چې یو سړي عام سړي باندې تهمت ولږوي نو هغه ته ۸۰ دُرې دي خو که په پیغمبرانو کې په چا داسې تهمت ولګوه نو ۱۶۰ درې دي نو حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي که دا واقعه چا بیان کړه خلکو ته نو ۱۶۰ درې دې ووهلې شي چې یو افتراء دروغ بل د خدای د

يو عظيم پيغمبر بې ادبي ورکې ده.

دغه شان سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ ته بعضې نُسب هغه افتراء ده دروغ دي بعضې چې حقيقت لري هغه مجاب دي نو چونکې دغه مسئله عصمت د انبياء منحصره نه ده ۱۴ ځايه تقريباً قرآن عظيم الشان کې انبياء ته څه نسبتونه دي هغه هر ځاى کې مفسرين د هغه ځاى نه خپل جوابات لري نو هغې طرف ته ما ذهاب ونه کړو فقط چند هغه نصوص مې راغونډ کړل چې د قرآن عظيم الشان نص په دې دال دي چې ابليس مخلصو عبادو ته څه نه شي ويلي.

او په اتفاق د علماو سره مراد له مُخلَص بالفتح نه هغه انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دي يو مخلصين دي بل مخلِصين، مخلص في خطر عظيم، هغه بيا هم په غټ خطر کې دي کيدې شي هلاک شي.

او مخلَص چې شي هغه معصوم دي نو دغه انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دوي ته د نزديکت د دوي د خرابولو ذلاتو نه ابليس چې کوم دي خپله بيزاري ښکاره کړې ده دغه روايات د مخلصينو نه د بيزاري چې دي او دغه نصوص مؤيد د عصمت د انبياء دي باقي به د نورو هغه محدثينو فقهاء عبارات چې په دې باندې اجماع ګاڼې نقل شوې دي امت دې باندې متفق دي چند حوالې به ذکر کړم:

سورة ص آيت: ۸۲: ﴿فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ او دا مسئله چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نه خو په اتفاق سره کفر قبل النبوة او بعد النبوة د هيچا قول هم نه دي سوا د فضيليه د خوراجو نه او هر چې کبائر دي په کبائرو باندې هم اجماع ده چې قبل النبوة او بعد النبوة له دوي نه کبائر نه دي شوې دريم صغائر دي صغائر قبل النبوة بعد النبوة په دې کې د متحققينو قول دادى لکه بدر الدين عيني وايي چې زما رايه داده چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نه قبل النبوة او بعد النبوة صغائر هم نه دي شوې او بعضې علماء هغوي بيا وايي چې قبل النبوة صغائر شوې دي خو بعد النبوة ترې نه صغيره شوې ده او نه کبيره شوې ده.

علماء محدثين فقهاء متکلمين دوي چې دا مسئله ثابتوي د عصمت د انبياء وايي ځکه دا دليل د صدق النبوة د دوي دي په دې دومره طول د ايامو کې دوي د هر څه نه پاک پاتې دي او هر چې معتزله دي هغوي متبعين د عقل دي نو هغوي څه وايي وايي د اعصمت د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ عقيده عقلاً ثابته ده که چيرته دوي معصوم نه شي نو د هر پيغمبر امت د دغه

پيغمبر په اتباع مامور دي لکه مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په اطاعت مامور يو نو چې هر کله مونږ په اطاعت مامور يو اوس دا امکان ولري عياذاً بالله چې د هغه نه صغيره يا کبيره شوې ده.

نو دا خو معصيت دي کنه او بلخوا مونږ مامور يو په اطاعت د هغه باندې نو که امکان د معصيت د نبي نه راشي عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نو امت به په دې معصيت کې هم د هغه تابعداري کوي کنه ځکه مونږ خو د هغه په اتباع مامور يو چې هغه څه کوي تاسو يې کوي که اوس امکان ولري چې هغه نه ګناه کبيرې نو د غه ګناه به د امت د پاره بيادين وي امت به يې هم کوي مونږ خو په اتباع مامور يو نو وايي عقلاً دا نه شي کيدې چې د انبياء نه دي څه ګناه وشي معتزله هم د عصمت قائل دي که چيرته ګناه د هغوي نه کيدې شوې نو امت به په اتباع نه مامور يدلې بيا به په معصياتو کې اتباع راشي نو راجحه داده چې غټو او وړو ټولو نه معصوم دي کوم نُسب چې شوې هغه نُسبو باندې به اطلاق د خطاء کيږي خو خطاء دوه معنى ګاڼي لري يوه خطاء په معنى د خطاء کاري سره ده او بله خطاء په معنى د سهوې سره خطاء په معنى د خطاء کارې سره نه ده انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته چې د څه شي نسبتونه شوي دي هغه به حمليږي په خطاء بمعنى السهو باندې هغه دوي نه سهوې شوي دي او نسيانات شوي دي.

بعضې کارونو کې به ډير ورخوږيږي هم نه د يو چا قول ته به بنه تاويل هم کوي بريلوي حضراتو ما پسې يوه خبره خوره کړې ده ډير ځاى په ځاى دا خبره ډنګيږي نو زه به خپله صفائي وکړمه يو بل ته دا خبره کوي موبايلونو کې ريکاډ کړې ده ما يادوي وايي دا دوه ډزي دي عقيده يې خرابه ده اوس هغه عوام خو نه شي قانع کولې په دې ځکه يې نه شي قانع کولې چې عقيده سرحد کې ما وروښودله دوي نه وه وروښودلې نو هغه عوام په څه دوکه کوي عوامو ته زما د غه ځاى را واخلي چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نه کوم کارونه شوي دي دا خطاء ګاڼي دي نو دلته نور خپل تفسير په کې شروع کړي وايي ګوره خطاء خو خطاء کاري ته وايي کنه پيغمبر ته يې خطاء کار ويلي د عوامو عقيده په مونږ خرابول غواړي نو خطاء يو په معنى د خطاء کاري دا خو ګناه ته ويل کيږي او بله خطاء په معنى د سهوې ده مونږ ده ته د خطاء نسبت د سهوې کوو د ذنب معنى د خطاء مه کوه او که ته وايي چې نسبت د خطاء نه دي شوې

روايت د مستدرك د حاکم د ٢ جلد د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث پرې دال دي:

لما اقترف ادم الخطيء . اطلاق د خطيئ وشو ورباندې که ونه شو دغه اوس جدا خبره ده چې دغه خطاء ته ته ګناه وايي خطاء کاري وايي او که سهوه وايي لکه څنګه چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دې حديث کې خطيئ راغله او دغه خطاء په معنى د ذنب سوء او خطاکاري نه اخيستل کيږي بلکې په معنى د سهوې سره نسيان سره نو زما په قول کې هم دغه واخله کنه ما مثلاً يو عبارت پيش کړو چې انبياء عَلَيْهِ السَّلَامُ نه خطاء کيږي ګناه نه کيږي چې ګناه نه کيږي دا خپله مقتضي ددې شو چې زه خطاء په معنى د ګناه نه اخلم کنه ته ولې خطاء تأويل د خطاء كاري ته اړوي دا خو ضد او تعصب دي نو ډيرو ځايونو کې دا پرچار شروع کړې دي چې دې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته خطاء کار وايي انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته خطاء کار نه هغوي نه ګناه نه کيږي چې څه ترې شوي هغه خطاء ده بمعنى سهوه والنسيان.

سورة ص آيت: ۸۲ ﴿فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ ۸۳: ﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ قسم مې دې وي په عزت ستا زه به سرکش کړم عباد ستا او بچيان د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ غونډ مګر عباد ستا له دوي نه چې دي مخلصان هغوي ته نسبت د اغواء نه ابليس بيزاري ښکاره کړه.

دارنګې سورة حجرات ايت: ۳۹: ﴿قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾.

دارنګې سورة الصافات: ﴿إِنَّكُمْ لَذَائِقُو الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ۝ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ﴾.

هغوي ته جزاء نشته ده کنه تاسو ته به بدل نه درکول کيږي مګر موافق د اعمالو ستاسې مګر عبادِ مخلصين چې کوم دي ذائقين د عذاب اليم هم نه دي او هغوي ته جزاء بالعمل هم هلته نشته دي نو دا الا استثنى د انکم د خطاب نه هم شوه او د ما کنتم تعملون هم شوه نو تاسو ته به د عمل موافق جزاء وي عبادِ مخلصينو ته به نه وي او تاسو به ذائقين د عذاب يې عبادِ مخلصين به نه وي.

دارنګې سورة الصافات آيت : ۷۳ : ﴿ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴾ هغه استثناء شوه .

دارنګې سورة الصافات آيت : ۱۲۷ ﴿ فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴾ اى لمحضرون عندنا في النار ، ﴿ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴾ .

دارنګې سورة الصافات آيت : ۱۵۸ : ﴿ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴾ په فتحې د لام سره انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دي .

کوم خلک چې د عصمت مخالف دي هغوي د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه واقعه پيش کوي او د هغې نه مفسرينو کرامو پنځه (۵) جوابونه کړې دي چې هغه به زه ذکر کړم :

﴿ وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ ﴾ قصد وکړو زليخي بي بي يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ ته قصد غلط .

﴿ وَهَمَّ بِهَا ﴾ ده به هم ورته قصد کړې واي .

﴿ لَوْلَا أَن رَّأَىٰ بُرْهَانَ رَبِّهِ ﴾ که يې نه وي ليدلې دليل د رب خپل .

نو دوي داسې وايي چې :

همت به وهم بها . هغې هم ورته قصد وکړو ده هم ورته قصد وکړو خو بيا يې برهان وليدلو نو خداى تعالى ترې راوګرځولو نو قصد خو يې وکړو ورته کنه دې ځاى کې مفسرين کرام (۵) جوابونه ذکر کوي :

د اول جواب خلاصه دا ده چې : الهَمَّ همين . هَمْ دوه معنى ګانې لري يو هَمْ دي په معنى خطرې د نفس سره او دويم هَمْ دي په معنى د عزم قلب سره د زړه قصد . هَمْ په معنى د خطرې سره بعضې علماء په انبياء باندې اطلاق ممنوع نه ګڼي چې نفس ته يوه خطره راغله وايي د هغې داسې مثال دي لکه په روژه کې به او به نه څکې قصد د اوبو څکلو به هم نه کوي چې زه او به څکم ليکن که په روژه کې يخې اوبه او داسې بنه د ليمبو شربت په پشکال کې ستا مخې ته څوک راوړي نو هَمْ راځي که نه راځي په معنى د خطرې د قلب سره يا د خطرې د نفس سره زړه ته يا دې نفس ته يوه شائبه او تکان راشي کنه چې اوس روژه نه واى دا مې څکلي

واي نو يو دغه هَمُ دي او بل دا هَمُ دي چې زړه نه را پورته شي چې يا ره داشي زه څکم دا کار کوم دا فرق لري.

د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ دا هَمُ چې وه په معنى د خطرې سره وه صرف راغله خو چې دليل يې وليد نو خطره هم ختمه شوه عزم يې نه دي کړې او عزم د زُليخي چې وه هغه په معنى د عزم القلب سره وه چې هغې دروازې بندې کړي د هغې حالات بدل وه نو هغه عزمِ قلبي وه هغه گناه وه او هَمُ د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کوم دلته ثابت شوې دي دا په معنى د خطرې د نفس سره لکه انسان چې ځوان وي شهوات ولري فرشته نه وي نو هغه خامخا په داسې حالاتو کې نفس ته يوه خطره راځي دا فقط هغه خطرې په معنى باندې هَمُ شوي دي دا يو قول شو.

تفسير زاد المسير جلد ٣ صفحه ٤١٥ : واختلفوا في همه بها على خمسة اقوال. اختلاف کړې په دې هَمُ کې هم بها کې خمسة اقوال دي:

احدها : انه كان من جنس همها فلو لا ان الله تعالى عصمه لفعل. دې چې وه په هَم د هغې کې وه که خدای تعالى ساتلې نه واي نو هم به يې کړې واي.

والى هذا المعنى ذهب الحسن وسعيد ابن جبير والضحاك والسدي وهو قول عامة المفسرين المتقدمين واختاره من المتأخرين جماعة منهم ابن جرير وابن الأنباري وقال ابن قتية لا يجوز في اللغة همت بفلان و هَمَّ بي وانت تريد اختلاف الهمين واحتج من نصر هذا القول بانه مذهب الاكثرين من السلف والعلماء الاكابر ...... فاما هو. هر چې يو سف عَلَيْهِ السَّلَامُ وه.

بيا لاندې وايي :

فعارضه. راپيښ شو ده ته.

ما يعارضه البشر من خطرات القلب وحديث النفس من غير عزم. دا راپيښ شول ورته.

فلم يلزمه هذا الهم ذنباً. هغه ذنب لازم نه شو په ده باندې د هغه هَمُ په وجه.

فان الرجل الصالح قد يخطر بقلبه. صالح بنده په زړه يې تيريږي چې دې روژه وي.

شرب الماء البارد. دا راشي نو دا محضې هَمُ وي او خطره د قلب او د نفس وي.

فاذا لم يشرب لم يؤاخذ بما هجس في نفسه وقد قال صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عفي لامتي عما حدثت به انفسها ما لم تتكلم او تعمل. امت ته مې عفوه شوې هغه چې نفسونه ته يې څه را پيښ شي چې خبرې يې نه وې کړې او عمل يې نه وي کړې.

وقال صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هلك المصرون، وليس الاصرار الا عزم القلب. قصدي قلب چې وشي مُصر وي بيا نو دې قول والا فرق وکړو په مينځ د حديث النفس کې او د عزم القلب کې نو هم د زليخې بي بي چې وه دا عزمې قلبي وه او هم د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ حديث النفس وه.

وسُئل سفيان الثوري ايؤاخذ العبد بالهمة؟ په هم نيول شته.

فقال اذا كانت عزماً. چې عزم وي شته دي.

قُلْ إِن تُبْدُوا مَا فِي أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ او تُخفوه. يا منسوخ دي او که منسوخ يې نه ګڼي نو په معنى د عزم قلب سره دي.

ويؤيده الحديث الصحيح عن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال يقول الله تعالى اذا هَمَّ عبدي بسيئة ولم يعملها لم اكتبها عليه. نه يې ليکم ورته.

فان عملها كتبتها عليه سيئةً. نو دغه هم په معنى د عزم قلب نه دي دا په معنى د حديث النفس سره دي.

واحتج القاضي أبو يعلي على أن همته لم تكن من جهة العزيمة وانما كانت من جهة دواعي الشهوة. په دې قول يې استدلال کړې. معاذ الله انه ربي.

دارنګې دا قول:

كذلك لنصرف عنه السوء والفحشاء دا اول قول شو چې هم همين دي هم د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ حديث النفس دي او هم د زليخې چې کوم دي په معنى د عزم قلب سره دي حديث النفس ګناه نه ده.

القول الثاني: انها همت بي. بي ورته هم وکړو.

ان يفترشها وهَمَّ بها . اي تمنها ان تكون له زوجة . ده هم قصد وكړو كه خاوند يې نه واي او دا زما بي بي واي . رواه الضحاك عن ابن عباس

والقول الثالث : ان في الكلام تقديماً وتاخيراً . دې كلام كې تقديم او تاخير دي .

ولقد همت به . بي بي ورته قصد وكړو .

وهم بها . ده به قصد كړې واي .

لولا ان رأى برهان ربه . كه دليل يې ليدلې نه واي تقديم او تاخير وكړه وايي دا جزا په شرط مقدمه شوې ده معنى داده :

لقد همت به و لولا ان رأى برهان ربه لهم بها . كه ده برهان نه واي كتلې نو ده به هَم كړې واي .

لولا راځي لپاره د انتفاء د ثاني له وجې د وجود د شيءاول نه كه ده دليل نه واي ليدلې نو هم به يې كړې واي ، خو چې دليل يې وليدلو نو هَم يې هم ونه كړو نو بالكل قصد يې نه دي كړې دا هم يو ښه تاويل دي اهل لغت خو به څه خبره كوي چې تقديم د جزا د لولا په لولا باندې مسموعه نه ده بس دغه د مسموعاتو نه شوه يو شي مسموع نه وي قرآن كريم كې موجود شي د اهل تفسير قول پرې پيدا شي دا قوي دليل دي .

ته مسموع چا ته وايي شعراء د عرب ته وايي د شعر د عرب لغوي يو قاعده ثابتوي او د نص القرآن نه يې نه ثابتوي دا خو بعيده ده دلته بعضو دا جرحه كړې ده چې تقديم د جواب د لولا په لولا باندې مسموع نه دي نو چيرته مسموع نه دي په شعر العرب كې نو شعر العرب كې نه دي نص القرآن كې دي كنه او اهل تفسير پرې قول كړې دي زما ټولو كې دا تاويل خوښ دي او دې ځای ته چې وګورئ همدا ورسره جوړيږي :

لولا ان رأى برهان ربه . كه ده نه وای ليدلې دليل د رب خپل نو څه به شوې وه جزا بيا څه ده چې هغه نه ده تفسير د جزا خو به دلته خامخا كوي دغه به وايي چې مخكې د جزا د لولا مسموعه نه ده نو وروسته خو مسموعه ده تقدير د جزا هغه را او باسه بله جزا دلته شته نه سوا ددې نه چې دا مخكې ورته جزا كړي نو هغې ورته هَم وكړو او كه ده چيرته دليل ليدلې نه واي

ده به هم هَم کړې واي خو چې دليل يې وليدلو هم يې ونه کړو دليل څه شي وه څوک وايي دليل هلته يو بوت وه زليخې پرې څادر واچوه نو دا ورته دليل شو چې ته بُت نه حياء کوې زه يې د خالق نه ولې ونه کړم څوک وايي دا دليل دې ډېر تاويلات دي دلته.

څوک وايي دليل دا وه چې دې وخت کې دا ويده د پرکالي په حالت کې وه دروازې پسې بندې شوې بي بي پرې راغله نو چې دې يې څنګه بيدار وه بره يې چې وکتل نو قدرتي په چت ورته ليکل شوې وه: انك من الانبياء، او دا عمل عمل دي د سفهاء داسې عبارت ليکل شوې وه واي دا ورته دليل شو که ده هغه دليل ليدلې نه واي لَهَمَّ ده به قصد کړې واي.

دريم دليل تفسير قرطبي ذکر کوي يعقوب عَلَيۡهِ‌السَّلَامُ همسا په لاس ورته رابښکاره شو همسا يې لاس کې وه سم په جلال وه ورته نو يو خوا ژړاګانې پسې کوي بلخوا روحي امداد ورسره کوي چې روحانيت يې دلته حاضريږي اودې له غټ مشکل نه خلاصوي، نو ايات ربها هغه د يعقوب عَلَيۡهِ‌السَّلَامُ همسا په لاس حاضري وه روحاً که٬ غه نه واي لَهَمَّ بها قصد به يې کړې واي دا بنائسته تاويل دي چې دا تقديم د جزاء شوې دي په شرط باندې.

والقول الرابع انه هم ان يضربها وهمت. هغې قصد وکړ غلط وهمَّ دې قصد وکړو وهلو د هغې ته ديکه کولو د هغې او له ځان لري کولو د هغې ته. ذکره ابن الأنباري.

والقول الخامس: وهم بها هم الفرار. ده د فرار قصد وکړو هغې هم قصد وکړو غلط او ده د منډې قصد وکړو. حکاه الثعلبي.

بعضې خلک چې د عصمت نه منکر دي هغوي بيا دې ايات نه استدلال کوي:

﴿وَإِنِّىٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ﴾ آل عمران آيت: ۳۶.

مور د مريم بي بي دعا کړې پناه نيسم په تا سره دې مريم بي بي اولاد ددې ته له شيطان رجيم نه په تاسره پناه غواړم نو حديث بيا دادی چې هر مولود مس د شيطان کوي خو دا دواړه شيطان نه وه مسه کړي.

نو معلومه شوه چې ټولو انبياء کې هم په تمسيس د شيطان راغې نو د هغې جواب دادې قاضي عياض په شفاء او امام نووي په منهاج کې وايي چې دغې دواړو ته د شيطان

مس قدري هم نه وه راغلې هر چې دې دواړو نه سواء انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ټول دي هغوي ته مس راشي خو مس مضر نه وي يعني ټول انبياء چې له مور نه پيدا کيږي ژاړي نه که څوک وايي اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ژړل ژړل يې خو هغه شيدو پسې ژړل او کې شوې وه مس د شيطان نه يې نه ژړل انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دلته دوي ته مس هم نه دې شوې د هغه مور د عا يې قبوله شوې وه بله دې نه سوا نور انبياء چې دې مس راځي خو مس مضر نه وي ضرر د مس څه شي دي دې به ژاړي او انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ چې څومره پيدا شوې دي نو دې انبياء نه ژړا نه ده ثابته نو مس پرې تاثير نه دي کړې نو د حديث دا مقصد چې دې دواړو ته تمسيس نه دي راغلې سوا له دې نه نور انبياء چې دې تمسيس راغې خو تمسيس مضر نه شو يعني دوي يې ونه ژړول همدا وجه وه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پيدا شو د نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پيدائش په وخت کې علماء دې باندې په دلائل النبوة کې بابونه لکوي دې مبارک په سجده باندې پريوت بيا يې سر مبارک اسمان ته پورته کړو بيا يې ګوته د شهادت اوچته کړه :

للحمد لله الله اکبر کبيراً الله اکبر کبيراً الله اکبر کبيرا والحمد لله کثيرا والحمد لله کثيراً و الحمد لله کثيرا، دې باندې قاضي عياض په الشفاء کې باب لړولي د نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکالمات يې په دغه وخت ثابت کړې دي داد نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دغه وخت سره د مس د شيطان نه هيڅ ضرر ونه ليدلو نه يې وژړل نه يې چغې ووهلې بلکې د خپل خالق ثناء يې ادا کړه او ګوته د شهادت يې وخوزوله او په سجده باندې پريوت نو انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته که مس راهم شي خو مس مضر نه دي دوي ژړوي نه په هغه وخت کې نو دې ايات نه او دې حديث نه که دوي استدلال کوي استدلال يې تام نه دي.

تفسير البغوي جلد ۲ صفحه ۳۰ دا حديث را اخيستې دي د حضرت ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په روايت سره :

. **سمعت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول ما من بني آدم مولود الا يمسه الشيطان حين يولد فيستهل الصبي صارفاً من الشيطان.** ماشوم چغې وهي له مس د شيطان نه.

غير مريم وابنها. نو هر ماشوم ژاړي انبياء عَلَيْهِ السَّلَامُ ژاړي نه نو مس تاثير ونه کړي هلته.

څه نور روايات چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي دي متعلق زه يې ذکر کوم مسند البزار جلد ۲ صفحه ۱۶۶ :

حدثنا سهل قال حدثنا محمد بن سليمان قال حدثنا اسماعيل بن زكريا مولى بني اسد عن محمد بن عون الخراساني عن عكرمة عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما من احد الا يلقي الله قد هم بخطيئة . يو بنده هم نشته مګر د الله سره به لقاء به په داسې حال کې کوي چې قصد د خطيء به يې کړې وي او عملها يا به يې خطيء کړې وي .

الا يحيى بن زكريا عَلَيْهِ السَّلَامُ فانه لم يهم بها ولم يعملها . نه يې قصد کړې دي او نه يې عمل کړې دي .

نو که دې ځاى نه دوي درته استدلال کوي چې هر يو به خداى تعالى سره ميلاويږي يا به يې خطيئه کړې وي يا به يې قصد کړې وي نو جواب به هغه اول ذکر کيږي چې :

الهم همين . يو هم په معنى د خطرې د نفس سره شو او بل هم په معنى د عزم القلب سره شو غير د انبياء چې څومره هم دي نو هغه ايات نه هم پته لګي .

﴿كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَا أَمَرَهُ﴾ ، هر ګز تول پوره نه کړه دي انسان هغه چې ده ته الله پرې امر کړې وه نو غير له انبياء نه يا عمل د خطاء شوې دي يا عزم قلبي د خطاء شوې دي هر چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دي هغوي نه هم په معنى د خطرې د نفس سره به راشي داد دوي هغه استدلالات دي چې د هغې نه مخکې کوم جواب چې وَهَمَّ بِهَا کې مفسرينو کړې وه هغه به د لته هم را معاد کيږي خپله نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره چې کوم قرين دي هغه اسلام راوړې دي يا تسليم دي ده لره هغه حديث زه ذکر کوم .

الدر المنثور في التفسير بالمأثور للسيوطي جلد ۱۳ صفحه ۲۰۷ :

واخرج ابن حبان والبغوي وابن قانع والطبراني وابن مردويه عن شريك بن طارق رضي الله عنه قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ليس منكم احد الا ومعه شيطان . يو هم په تاسو کې نه دي مګر شيطان ورسره وي .

قالوا ومعك يارسول الله . تاسو سره هم وي .

قال ومعي . ماسره هم دي .

الا ان الله اعانني عليه . ليكن خداى تعالى مدد كړي له ما سره په هغه باندې .

فاسلم . پس اسلام يې راوړي دي هغه زما چې كوم شيطان قرين دي الله ما سره مدد كړي اسلام يې راوړي نو دې ځاى كې يو تاويل د فاسلم دي .

دويم تاويل د فاسلم. زه په سلامتي يم له هغه نه صيغه د متكلم يې كړه اسلم يُسلم اسلاماً أسلم فاسلم ماضي كړه غائبه اسلم يسلم اسلاماً اسلم اى فهو أسلم. هغه اسلام راوړې. يا اسلم يسلم اسلم . متكلم واحده يې كړه .

فأسلم يعني عنه . زه په سلامتي يم له هغه نه يعنې ما ته څه ضرر نه شي رسولې دا دواړه تقديره محدثين ذكر كوي بعضې ترجيح دي ته وركوي چې دا فاسلم ده د اسلام راوړې دي .

واخرج مسلم وابن مردوية عن عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خرج من عنده ليلاً قالت فغرت عليه. ما ته پرې غيرت راغې څكه بني زياتې وي ما وويل ګني د بلې كوټې ته به تللي وي.

فجاء . راغې . فرأى ما أصنع فقال مالك يا عائشة اغرت . په غيرت كې راغلې يې .

فقلت وما لي لا يغار مثلي على مثلك . زما غوندې ځوانه جينې تا غوندې حسين جميل خاوند باندې چې په غيرت او غصه نه شي په څه شي به غصه شي .

عجيب جواب يې كړي يعنې زه ځوانه يمه او په ټولو بي بيانو كې ښائسته يمه او خاوند هم زما ستا غوندې حسين او جميل دي نو چې هغه ما نه په دې شپه ځي او بل ځاى ته ځي نو ما ته به غيرت پرې نه راځي .

فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أقد جاء شيطانك ؟. شيطان در ته راغلي دي .

قلت يا رسول الله أمعي شيطان ؟. ما سره شيطان دي .

قال نعم ومع كل انسان . هر انسان سره شيطان دي .

قلت ومعك . ما ورته وويل تا سره هم دي .

قال نعم . وايي هاو .

ولكن ربي اعانني عليه حتى اسلم . ليكن رب زما مدد وكړو له ما سره په مقابل د هغې کې تر دې چې هغه سلام راوړو ، يا اسلم ، زه د هغه نه په سلامتي شومه .

واخرج مسلم وابن مردويه عن عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما منكم من احد الا وقد وكل الله به قرينه من الجن .

خدای تعالى پرې قرين د جن نه مقرر کړې دي .

قالوا واياك يا رسول الله قال واياي . ما سره هم دي .

الا أن الله اعانني عليه فاسلم فلا يأمرني الا بخير . ددې .

فلا يأمرني الا بخير . ددې تکړې نه علماء دې ته ترجيح ورکوي چې دلته قرائت د فأُسلم نه د فأَسلم قرائت راجح دي يعني فاسلم د اسلام راوړې دي نو که فأُسلم شي معنى زه له ده نه به سلامتيا باندې يمه خو د اسلام نه دې راوړي .

نو چې هر کله اسلام قرين د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رانه وړو او دې ترې نه په سلامتيا شو نو بيا امر په خير څنګه کوي شيطان خو چا ته امر په خير نه کوي دا امر کوي ما ته په خير باندې محدثين دلته دا دليل قوي ګرځوي چې قرائت د فأَسلم راجح دي .

دا طالبانو کې دا مرض دي چې دوي ته کتب الحديث چې څو مره هم پيش کړي تسلي يې پرې نه کيږي لکه دا فنون نه يې که اوس دې ورته ويلي چې د قطبي په حاشيه فلاني ځای باندې دا خبره ذکر ده د حمد الله په هغه صفحه ذکر ده نو دې سمدستي ورته راويښ شي چې دليل اوس پيدا شو هغه ورته ډير مقصود وي .

او بل مې دا مرض دې طالبانو کې حس کړو چې حديث ورته وايه فقه ورته وايه خو چې وه دي وويل د ديوبند علماء داسې وايي يو دم به را برک شي چې اوس دليل پيدا شو نو دا خو مقلدين دي دا خو ادله نه دي هسې د تائيد لپاره وي خو دوي ته د ديوبند دا خبره ډيره معتمد ښکاري نو دا د هر چا مينه ده چې له چا سره يې مينه وي .

نو كه تاسو دې فنونو مدونه وو كې ګوري : ملا جلال مير زاهد باندې چې كوم عبدالحي لكهنوي صاحب يوه شرحه كړې ده حاشيه ده : **التعليق العجيب لحل حاشية شرح منطق التهذيب** نو په هغې كې تاسو وګورئ دا مسئله هغه ذكر كوي چې د ابليس يو كړوسي وه دا اعتراض را اخلي چې : ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ﴾ عالم ته رحمت شو نو په عالم كې خو ابليس راغې نو ابليس ته هم رحمت شو او كه نه شو نو دې ځاى باندې را اخلي :

بامتا ابن هيم ابن لا قيس ابن ابليس. راغې او نبي اكرم ﷺ باندې ايمان راوړو او څو سورتونه يې ترې نه زده كړو نو د ابليس په نسل كې هم رحمت وګرځيده څه خلك يې د عذاب نه خلاص كړه او دې نه هم پته ولګيده چې نبي عليه السلام خپل قرين اسلام راوړو نو نبي اكرم ﷺ رحمت د عالم د پاره شو كه په عالم كې د ابليس جماعت راشي هغوي كې هم څو د پاره رحمت وګرځيده .

واخرج ابن مردويه عن ابى عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ ما منكم من احد الا و قد وكل الله به قرينه من الجن قالوا و إياك يا رسول الله قال و اياي الا ان الله اعانني عليه فاسلم يا فاسلم .

دا روايات صحيح مسلم بيروت چاپ جلد ۸ صفحه ۱۳۹ ، مسند احمد بن حنبل جلد ۶ صفحه ۱۱۵ ، صحيح ابن خزيمه جلد ۱ صفحه ۳۳۰ ، الاحكام الشرعية للاشبيلي جلد ۳ صفحه ۲۸۶ ، العمدة من الفوائد و الاثار جلد ۱ صفحه ۱۱۱ ، كې ذكر كړې دي .

دلائل النبوة للبيهقي جلد ۷ صفحه ۱۰۱ ، شرحه كوي :

ولكن الله اعانني باسلامه او اعانني عليه حتى أسلم. خداى تعالى ما سره امداد كړې دي.

باسلامه . نو دا د فاسلم معنى يې كړې ده يا يې مدد كړي ما سره .

حتى اسلم . چې زه سالم شوم له هغه نه .

ولكن الله اعانني باسلامه ان كان هو الأصل يؤكد قول من زعم ان قوله فاسلم من الاسلام دون السلامة .

اسلم اسلام يې راوړي دي داد اسلام نه دي نه له سلامتيا نه يا دا أسلم جوړيږي سلامتيا نه چې شي يسلم أسلم نو دا قرائت د حديث به فاسلم يا فاسلم شي متكلم اسلم خو بيا د اسلام نه راځي فاسلم يا فاسلم.

وكان شعبة او من دون شك فيه و ذهب محمد بن اسحاق بن خزيمة رَحِمَهُ اللَّهُ الى انه من الاسلام. چې داد اسلام نه دي نو فاسلم شو.

واستدل بقوله فلا يأمرني الا بخير. دې نه يې استدلال كړې دي چې ما ته امر په خير سره كوي نو وايي:

ولو كان على الكفر لم يأمر بخير وزعم ابوسليمان الخطابي رَحِمَهُ اللَّهُ ان الرواة يرون فاسلم من الاسلام الا سفيان بن عيينة فانه كان يقول فاسلم اى اجد اسلامة منه.

سفيان ابن عيينه دلته اسلم وويل باقي رواة تول فاسلم وايي د اسلام نه يې اخلي وقال ان الشيطان لايسلم قط. دا حديث هم خاصتاً د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د عصمت متعلق دال شو چې ده مبارک نه څه هموم هم د ګناه نه دې شوي ځکه دده قرين دده موافق وه په خير يې ورته امر کړي په شر يې ورته نه دي کړي.

ددې نه بعد زه هغه اقوال ذکر کوم چې د عصمت اجماع يې را اخيستي ده:

فتاوى الحديثية لابن حجر الهيتمي جلد ۱ صفحه ۱۵۹:

ان الانبياء معصومون قبل النبوة وبعدها من الصغائر والكبائر عمداً وسهواً.

پيغمبران عَلَيْهِمُ السَّلَامُ معصوم دي قبل النبوة او بعد النبوة هم د صغائرو نه هم د كبائرو نه هم عمداً هم سهواً.

عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۱۵ صفحه ۴۵۶، د يحيى عَلَيْهِ السَّلَامُ قصه کوي که دا چا وويل چې حصور دلته په معنى ددې سره لا ذکر له وايي صحيح نه ده دا تاويل ځکه صحيح نه دي.

بل انكر حذاق المفسرين ونقاد العلماء وقالوا هذه نقصية وعيب ولا يليق بالانبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ.

د حصور أد غه ځای کې معنی داده :

وانما معناه انه معصوم من الذنوب اى لا يأتيها كانه حصر عنها . ګويا کې د ګناه نه محبوس وه د حصور معنی داده داسې نه وه چې ده شهوات نه لرل هغه خو عيب دي نقص دي .

تفسير القرطبي جلد ۱ صفحه ۳۰۸ ، د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په واقعاتو کې چند مسائل رااخلي، ۱۲ مسئله داده :

واختلف العلماء في هذا الباب هل وقع من الانبياء صلوات الله عليهم اجمعين صغائر من الذنوب . داسې صغائر :

يؤاخذون بها ويعاتبون عليها ام لا بعد اتفاقهم على أنهم معصومون من الكبائر . په دې خو اجماع ده چې کبائرو نه معصوم دي دې کې اختلاف دي چې صغائر ترې کيږي او که نه .

ومن كل رذيلة فيها شين ونقص . هره صغيره چې په هغې کې نسبت د عيب کيږي او د بدي کيږي او د نقص کيږي هغې نه هم معصوم دي اجماعاً .

عند القاضي أبي بكر وعند الأستاذ أبي إسحاق وقال جمهور من الفقهاء من أصحاب مالك وأبي حنيفة والشافعي انهم معصومون من الصغائر كلها كعصمتهم من الكبائر اجمعها .

لکه د ټولو کبائرو نه چې معصوم دي دغه شان له ټولو صغائرو نه هم معصوم دي ځکه مونږ مامور يو په اتباع ددوي باندې .

في افعالهم واثارهم وسيرهم امراً مطلقاً من غير التزام قرينة فلو جوزنا عليهم الصغائر . که مونږ پرې صغائر روا کړو .

لم يمكن الاقتداء بهم . بيا به ممکن نه شي اقتداي دوي پسې .

اذ ليس كل فعل من أفعالهم يتميز مقصده من القربة والإباحة أو المعصية .

ځکه د هغه په افعالو کې بيا څوک بيلولې شي چې قربت او اباحت يې کوم شو او معصيت يې کم شو مونږ خو په اقتدی مامور يو .

ولا يصح أن يؤمر المرء بإمتثال أمر لعله معصية .

دا خو بیا صحیح هم نه شوه چې یو څوک دي مامور شي په اقتدی د یو امر کیدې شي هغه معصیت وي .

بیا خو د انبیاء کل افعالو سره دا خطر پیدا شو چې دا به معصیت وي دا کار به یې کړې وي دا به معصیت وي بیا اقتدی پسې څنګه کوي :

لا سیما . خاصکر د هغه چا په اصولو باندې .

على من يرى تقديم الفعل على القول اذا تعرضا من الأصولين .

په اصولینو کې هغه علماء چې هغوي وایي فعل په قول مقدم دي ، نو د هغوي په نزد به دا اقتدیٰ څنګه شي .

یو قول دي بل فعل دي مونږ خو وایو چې قول مقدم دي بعضې اصولین وایي چې فعل مقدم دي تعارض کې نو د هغه چا په نزد باندې به بیا اقتدی څنګه شي .

قال الاستاذ ابو اسحاق الاسفرائني واختلفوا في الصغائر والذي عليه الاكثر ان ذلك غير جائز عليهم .

اکثر په دې دي چې صغائر هم پرې جائز نه دي .

وصار بعضهم الى تجويزها . بعضې علماء ذهاب کړې دي چې صغائر ترې کیږي .

ولا أصل لهذه المقالة . دې مقالې ته څه دلیل نشته .

وقال بعض المتأخرين ممن ذهب الى القول الاول الذي ينبغي ان يقال ان الله تعالى قد اخبر بوقوع ذنوب من بعضهم ونسبها اليهم وعاتبهم عليها واخبروا بها عن نفوسهم واشفقوا منها وتابوا وكل ذلك ورد في مواضع كثيرة لا يقبل التأويل جملتها وان قبل ذلك أحادها .

وكل ذلك مما لا يزري بمناصبهم وانما تلك الأمور التي وقعت منهم على جهة الندور وعلى جهة الخطأ والنسيان .

دلته خطاء په معنی د سهوې سره ده .

او تأويل دعا الى ذلك فهي بالنسبة الى غيرهم حسنات وفي حقهم سيئات .

ګوري لکه دا توريه خو دروغ نه دي دعامو خلکو باره کې جرم هم نه دي صديق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې د هجرت په وخت کې روان وه او نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکې وه په لاره يو کس پرې شک راغلو وايي دا رجل څوک دي نو صديق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وويل :

رجل يهدني الطريق . سړي دي مونږ ته لار ښايي .

نو دده په ذهن کې لاره د جنت ښودل وه د هغه په ذهن کې د مديني لاره واچوله نو دا توريه وه دا خو کذب نه دي ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې د ثلاثة کذبات نسبت شوې دي هغه ټولې توري يې دي همدغه شان توري کړې دي خو په حق د اخص الخواصو کې له دغه څيز نه تعبير په کذب وشو جنيد بغدادي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

حسنات الابرار سيئات المقربين .

يو شي به ابرار کوي حسنه به وي ليکن د اخص الخواصو لپاره به هغه سيئه وي نو دغه شان نسبت د ذم کړه شوې دي يا نسبت د خطاء شوې دي که د سيئه شوې دي که هر څه نسبتونه ورته شوې دي .

چونکې خلک اخص الخواص دي په دغه معنی باندې په حق د عوامو کې حسن دي ددوي په حق کې ترې نه تعبير دغې باندې شوې دي ساره بي بي ورسره وه ظالم بادشاه ته ورغې وايي دادې څه کيږي وايي دا مې خورده خو دا توريه وه کنه هغه ته يې ذهن کې خپله خور واچوله او په خپل ذهن کې خوردين مراد وه .

﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ﴾ .

وايي زه بيمار يمه نو هغوي ته يې ذهن کې ظاهري بيماري واچوله دده په ذهن کې هغه خرابي د طبيعت دده وه په شرک د هغوي باندې او په ميلو د هغوي باندې نو دغه شان دا توري دي ټولې .

﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ﴾ دا به يې دې مشر کړې وي نو دلته خو توريه نه وه هغوي خجل کول وه چې تبر دده بوت په غاړه کې پروت دي تاسو معبود هم ورته وايي چې مشکل در باندې راشي محافظ هم دي ګڼې نو اوس له ده نه تپوس وکړي چې دا بتان چا مات کړې دي .

﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ﴾ دې مشر کړي دي يو يې دا معنی ده .

بله یې دا معنی ده: ﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ﴾، دا به دې مشر کړی وي.

دې خبرو کې فرق دي دا کار دي بوت کړې دي بل دا به ګوري دي بوت کړې وي. دا فرق لري اګر که تعبیر یو شان دي معمولي نکته کې فرق دي سره د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د دغه ځای بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ دغه معنی ده دا به دې بوت کړې وي یعنې ده نه تپوس وکړي دا به دې کړې وي هغوي چې سوچ وکړو چې دا خو جواب نه شي راکولې خجالت شول دا خو حقیقت کې کذبات نه وه.

ما کذب ابراهیم الا ثلاثة کذبات.

ورځ د قیامت کې دومره پاک خلک دي چې بیا کله امت ورشي د شفاعت لپاره واي ما نه دري کذبات وویل شوي ما ته حیاء راځي زه د خالق د وړاندې شفاعت نه شم کولې.

اوس دې نه ته تعبیر په معصیت او ګناه باندې او حقیقت ته نه ګوري چې دا ګناه وه که نه وه ګناه خو نه وه کنه دا خو لا دلیل د عصمت او پاکي د دوي دي چې دومره پاک خلک دي چې توریه یې کړې ده ګناه یې نه ده کړي او بیا دومره حیاء ورځئ چې خالق ته خوله نه خلاصوي چې ما ته حیاء راځي نسبت د ذنب یا د هر څه چې شوي.

یغفر الله لك ما تقدم من ذنبك وما تأخر. نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خو نه مخکې ذنوب وه نه وروسته ذنوب وه نو دا همغه بعضې خطرات که نفس ته راشي هغه مراد وي او څه همو په معنی د خطر النفس سره هغه مراد وي حقیقت یا عزم قلب یا عمل د صغیرې دا نه وي مراد ار نه دوي دا کړې دي.

د ټولو انبیاء په واقعاتو کې چې صحیح محمل پیدا کړي همدغه شان واقعات وي د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په واقعه کې چې: لا تقربا هذه الشجرة. ګوري هذه کې اشاره شوې ده او آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه شجره نه وه خوړلې د دې هم مثل په بل ځای کې ولاړه وه دا دې وخت کې ده اجتهاد کړې وه دې اجتهاد کې دي خطاء شو یو غیر پیغمبر چې په اجتهاد کې خطاء شي.

فله اجر واحد. په حدیث شریف کې راځي یو اجر دي د هغه د پاره خو چونکې شان او عظمت یې ډیر لوي دي یو عتاب د دنیا کې راغې ورته چې د جنت نه پرې راکوز کړې شو ګنې چې دغه بوټي ته اشاره شوې وه دې نه یې اکل نه دي کړي.

قاضي ثناء الله صاحب ليکلي دا بل بوټي هم مثل ولاړ وه ده دا اجتهاد وکړو چې مشار اليه به خاص دغه بوټي وي نو عدددې به نه وي لا تقربا هذه الشجرة ، دې شجرې ته مه نزدې کيږه نو دې کې دا امکان شته دي چې دا انګور مراد وي يا غنم مراد وي يعنې غنمو ته مه ورنزدې کيږه انګورو ته مه نزدې کيږه ،

خو ليکن ظاهراً خو ترې دا فهميږي دغې بوټي د انګور ته مه ورنزدې کيږه نو ده خو د امر امتثال وکړو دغې بوټې ته ورنزدې نه شو هلته په جنت کې نور هم مثل بوټي وه هغې نه يې خوراک وکړو په اجتهاد کې خطاء شو که دا اوس پيغمبر نه واى بل څوک وايي خداى به يو اجر ورکړي وايي خو چونکې شان غټ دي بس په دغه معمولي خطاء بمعنى السهو باندې نسيان باندې دنيا کې عتاب پرې راغي .

جلالين په حاشيه کې ليکي وايي که آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته پته واي چې زما په اولاد کې به محمد مصطفى پيدا کيږي وايي دغه وته به يې سره دجړو خوړلي وه او دا هيڅ نقصان نه وه يو بوټي يې وخوړو د غنم دانه بهانه شولو بابا ته رحمان بابا وايي نو دا رابهر شو صحيح ده رابهر خو شو نو نقصان دې که ګټه ده ګټه ده کنه ګټه يې کړې ده خپله خو ترې رابهر شو .

شعر :

جنت ځاى د توالد تناسل نه وه ※ د غنم دانه بهانه شوله بابا ته

رحمان بابا وايي د خداى تعالى تقدير دا وه چې دا به بيا دومره اولاد به وي او جنت ددې شي ځاى نه وه د تقدير فيصله دا وه چې کافر به وي مسلمانان به وي جنت ته به ځي جهنم ته به ځي او جنت کې کافر څه کوي چې پيدا کيدل اولاد نه پيدا کيږي نو جنت ځاى د توالد تناسل نه وه نو د غنم دانه بهانه شوله بابا ته .

نو دې خو رابهر شو ليکن ګټه يې کړې ده که هلته واي يو ائې به وايي اوس چې واپس دننه کيږي څومره لښکر به بو ځي جنت ته ځان سره ډير عظيم لښکر به دننه کوي جنت ته يو ائې خو نه ځي داسې هر پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ .

که ترجمه تاسو کوي دې ځاى ته راشي يو ددې غلطو خلکو سره ترجمې مه کوي د هغوي الفاظ خراب وي غلط دي .

هغوي دغه ځای کې د آدم عَلَيۡهِ السَّلَامُ واقعه چې راځي او دا ايات راځي :

﴿إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾.

نو په دې ځای باندې امين الله وهابي يو بيان کې وايي : ﴿إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ حکيم ته حکيم يې په افعالو کې ته حکيم يې په صنعه خپله کې ته حکيم يې په ذنوبو د عبادو کې وګوره آدم عَلَيۡهِ السَّلَامُ نه ګناه وشوه ديکې دې هم غټ حکمت وه دا دده الفاظ دي.

نو د ځان نه دلته تفسير کوي ته حکيم يې په ذنوبو د عبادو کې بيا له ذم نه دآدم عَلَيۡهِ السَّلَامُ ذنب اخلي ځکه دې ځای سره زه دا ايات لګومه تعبير ترې نه په ذنب مه کوه په خطيء يې وکه په سهوه يې وکړه په نسيان باندې وکړه.

فنسيا ولم نجد له عزما . د آدم عَلَيۡهِ السَّلَامُ هغه تصفيه په خپله شوې ده.

فنسيا ولم نجد له عزما.

مونږ ده نه عزمي قلبي نه وه پيدا کړي په دې کار کې دغه شان د داود عَلَيۡهِ السَّلَامُ معروفه واقعه دغه نه ده چې خلک وايي داوريا په ښځه عاشق شوې وه فلان فلان تفوه ورباندې قصداً خطره د کفر لري بلکې د داود عَلَيۡهِ السَّلَامُ قول هلته معروف دادی چې ده يوه خبره کړې وه بادشاه وه د نيمې دنيا بچو ته يې ويلي وه چې ۲۴ ګينټې به تاسو په کور کې په شريکه سبحان الله الحمد لله د خدای ذکر کوي زه د بادشاهي په حال کې يمه بيا په صبا باندې به د بادشاهي ډيټې تاسو کوي زه به ۲۴ ګينټې د خدای ذکر کومه.

تر ډير وخته دده په کور کې دا سلسله جاري وه چې دده کوږ د خدای له ذکر نه لږ هم نه خالي کيدو او حتی چې کومه ورځ به دده د ذکر وه نو ډير پهره دارن به يې درولي وه چې ملاقات د پاره به هم څوک نه راپريږدي ځکه چې ما دا وعده له خالق سره کړي چې زما کور کې يو سيکنډ هم د خدای له ذکر نه خالي تير نه شي نو دا عمل جاري وه.

يوه ورځ يې له ډير ميني نه دا خبره په خوله راغله چې يا الله تا په ما ډير احسان کړې دي چې داسې بادشاهي دې راکړي عزت دې راکړي فوجيان دې راکړي خو يا الله ما هم په خپل کور کې ګوري يو سيکنډ هم خالي ستا له ذکره نه ، نه دي پريښې.

دغه خبره د خالق خوښه نه شوله چې تا ولې داسې ياده کړه چې ما د هغې بدل کې داسې کار کړې دي نو د هغې نه بعد بيا هغه فرښتې راغلې تصور المحراب نو دا ورځ خو دده د قضي نه وه دده د ذکر وه او بچي يې په قضي اخته وه او هغې کسانو سره د ډير طولاني بحث وکړو.

چې کله هغوي په ديوال واوښتل سوچ ورغې چې تا خو ويلي وه چې زه به يو سيکنډ هم په کور کې د الله د ذکر نه خالي نه پريږدمه ما خو دا فيصله وکړه او په فيصله کې ډير وخت تير شو نو دغه وخت کې :

﴿وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ﴾

هغه خپلې خبرې باندې بيرته خفه شو چې ما دا خبره ولې وکړه ګوري که دې کې سوچ وکړي دې کې څه ذم دده دا خو ګناه نه وه کنه داد خپل نعمت يو شکرانه يې ښکاره کوله خو خالق عجيب ذات دي خاصو عبادو سره عجيبي معاملې کوي .

دغه شان د يونس عَلَيْهِ السَّلَامُ حالتو ته که راشو هيڅ ګناه نه ده دري شپې ورځې به مسلسل دا قوم ته به دعوت ورکوي که سم نه شول دري شپې ورځې بعد بيا ترې وځه عذاب راځي دده دوه نيم شوا روزه تير کړل دريمه شپه يې هم تيره کړه .

صبح صادق کې چې تهجدونه را پاڅيده نو کلي نه ګرد چاپيره د اسمان نه اور راکوز شوې وه نو د الله د خشيت او د يرې نه چې دا عذاب کې زه هلاک نه شمه ده دا کلي پريخودلو بهر شو ترې نه دې وخت کې سوچ ته دا رانغلو چې تا ته خو دري شپې او دري ورځې مکملې ويلي شوي دې کنه او صبح صادق نه لمر ختو پورې دوه دوه نيم ساعته وي کنه ته په دې دريو شوا روزو کې دوه نيم ساعته مخکې ولې وتلي يې .

نو اوس هغه خو د خداى له يرې تللې وه کنه نو چې دې لاړ څومره تکليف يې دنيا کې پرې راوستلو کشتي پرې بنده شوله بيا د ماهي په خيټه کې څومره وخت پروت وه او بيا هلته د لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ، ددې ورد يې کوه کوه :

فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ .

خالق عجیب ذات دی وایي که ده ما ته د ماهي په خیټه کې تسبیح نه واي ویلې پروت به وه تر ورځې د قیامت پورې.

دلته د مسبحین یو معنی ده که ده د دنیا کې مونځونه ډیر نه کولې.

هسې که دا قصه سړي ټوله واوري او بیا نسبت د عصمت نه انکار کوي زه وایم ددوي دا ټول واقعات دلائل د عصمت دي او دلائل د پاکي ددوي دي چې دوي ډیر پاک خلک وه د هر قسم ګناه نه پاک خلک وه ګوري هغه یو قوم ته ولیږلي شو او دوه نیم ساعته یې د خدای له یرې نه دا کلي پریښودو او دې امت کې خو نور انبیاء نشته ختم نبوت دي او د هغې په ځای یوې علاقې ته یو عالم ولیږي.

او هم دغه عالم چې نن صبا د عصمت نه به انکار کوي یا به په شان د انبیاء کې خبرې کوي سرسایه ورنه کړي جومات یې پریښې وي ځرمنې ورنه کړي جومات یې پریښې وي دغسې په معمولي خبرو یې جومات پریښې وي بیا یو حنفي عالم دي محراب ته نه راولي بیا دا محراب داسې پریږدي چې صبا هغه د وهابي پنجپیري او د غلطي عقیدې په قبضه کې راشي نو دا قوم یې هلاکت اخروي ته ورکړو که وریې نه کړو چې امام خراب شو خو قوم خپله خراب دي کنه.

نو اوس ایاتونه نه نازلیږي کنه او دې امت نه د عذاب عامه رفعه شوې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د خاطره نو چې یونس عَلَيْهِ السَّلَام د خدای له یرې دوه ساعته مخکې ذهاب کوي او قوم هلاکت ته پریږدي هغه ته دا تکلیف ورکوي دنیا کې نو زمونږ او ستاسې به څه حال وي ددې علماء چې دا مساجد په معمولي دنیاوي لالچ لپاره پریږدي او دا قوم هلاکت اخروي ته غورځوي دا قوم دې هلاک شي خو زما خیټه دې مړه شي نو مونږ خو ټول په دغه ځیزونو کې اخته یو.

په دې نوم مونږ دلته نه یو ناست دې محراب کې چې دا زما قوم دي دا به زه اصلاح کومه د عقیدې اصلاح به یې کومه د عمل اصلاح به یې کومه زه مسئول ددې یم ما نه به ددې پوښتنه کیږي دغه فکر خو الا ماشاء الله ډیرو لږو خلکو سره وي.

ترغیبي خبرې مې ددې لپاره وکړې چې مساجد مه پریږدي په معمولي خبره باندې او چې بیا ډیر په کې تنګ شوي او دنیاوي ضروریات مو وه د کور خرچه یې نه درکوله نو خپل طالب خپل حنفي عالم هغوي ته پیدا کوي په مشوره بیا ترې نه ځي دا یو یو محراب چې

خالي کیږي د ډالرو په حساب سره امدن پرې وهاییانو ته راځي زما دا محراب دي ښار خو ډیر جوماتونه لري ډیر ځایونه دي کور نه دي واخلي جوماتونه دي جوړ کړي دي محراب کې څه خبره ده.

دلته زما یو مقتدي دې کوریې دي چې تقریباً نن صبا ۲۵ لاکه ارزښت لري او ۵۰ لاکه روپي ورته راوړي چې دا واخله دا ۲۵ لاکه ستا انعام دا ۲۵ لاکه دي د کور قیمت په دې به مونږ مسجد جوړ کړو مونږ سره به ته کار نه لري ته مونځ ته راځي راشه کنه مونږ سره کار مه لره دا ۲۵ لاکه په دې کور اضافه ولې ورکوي دا ټول پیښبور بل ځای کې مسجد نه جوړیږي خو دا صرف زما ددې محراب د مقابلې لپاره چې دلته یوه حنفي اډه ده چې ددې مقابلې به په څه شکل سره وشي دا یو اځې زما نه ستاسو مساجد هم داسې دي چې تاسو په کې یې باقاعده اخوانه ډالر را روان دي محرابونه قبضه کول غواړي ستاسو مساجد هم دغسې دي نو دا په معمولي قیمت مه پریږدي چې نیولي مو دي د خپل قوم مصلحین شي او که کله هم تنګیدې یو خپل حنفي عالم ورته راولي بیا ترې نه ځي.

دغه شان د موسی عَلَيْهِ السَّلَامْ نه چې خطاء شوې نو واضحه ده چې خطاء ده هغه خلاصي کوي د دوه کسانو او سړي مړ کیږي نو دده خو قصد د مرګ نه وه کنه نو چې دې ته خطاء نه وايي نور نو خطاء څه ته وویل کیږي نو څومره نسبتونه کوم ځای کې چې څوک عصمت نه انکار کوي هغه دغه شان دي که سوچ ورکې وشي هغه حقیقت کې د هغوي پر عصمت دلائل دي او دهغوي د شان او عظمت دلائل دي نو امام قرطبي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي:

فهي بالنسبة الى غيرهم حسنات وفي حقهم سيئات.

د جنيد بغدادي ددې قول شرحه چې **حسنات الابرار سيئات المقربين**، زما په نظر چې مراد له حسناتو نه بدعات حسنه شي او مراد له سيئاتو نه يعنې هغه څيز چې ابرار هغې ته بدعت حسنه وايي د مقربو عبادو په نزد هغه سيئات دي هغوي بالکل بدعت کې حسن نه مني خو پنجپيريان درته نه يادوم دا خو ټول فساق سره جمع شوې دي دا چې کوم قريب عباد دي چې هغوي مسنونات فعلي قولي ټول په ځای راوړي امام رباني رَحِمَهُ اللَّهُ په بدعت کې حسن نه مني وايي نور په کې نشته خو څومره متبع د سنت دي ٦٣ کلو ته چې ورسيده خواص مريدان يې راغونډ کړل وايي زما په علم کې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامْ څومره اختياري سنن راغلي

ما يو هم نه دي پريښي ما عملي کړې دي خو دا دري شپيتو ٦٣ کالو کې دا وفات خو زما په اختيار کې نه دي خو زما په خپل خالق دا يقين دي چې هغه دومره غيرتي دي چې د خپل حبيب سنت يې څوک ژوندي کړي نو دا غير اختياري پرې هغه ژوندي کوي نو تاسو مې راغونډ کړي کيدې شي زه درنه لاړ شمه په همدغه مياشت کې د ننه بيا امام رباني رَحِمَهُ اللهُ وفات شو دا اوس اتباع د سنت وه چې دومره کمال اتباع وه چې هغه غير اختياري سنت پرې خداى تعالى خپله پوره کړل د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اتباع د سنتو پسې لاړ شه ښه خبره ده بخاري را اخلي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې به حج ته تللو نو په هغه لار به تللو چې په کومه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تللې دي کوم ځاى کې چې ناست دي هلته يې ناسته کړې کوم ځاى کې چې مونځ کړې هلته به يې مونځ کولو نو کوم وهابي دا کار کړې دي د اتباع د سنتو دعوى چې کوي دا کار يې نه دي کړې زه يې نه کومه نو چې کوم يې کړي هغه خو راټينګ کړي يو ځل کنه هغه کوم يې چې نه دي کړي بيا يې نه کوي هغه روستي مرتبه ده هغه هم ښه خبره ده خو چې کله پوره سنت عملي شي.

تفسير قرطبي جلد ٢ صفحه ١٣٠ وَتُبْ عَلَيْنَآ إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ شرحه کوي:

وهم انبياء معصومون. نو چې دوي معصوم دي د تُب علينا څه معنى شوه.

فقالت طائفة طلباً لتثبيت والدوام لا أنهما كان لهما ذنب. نه چې دوي ګنهګار وه.

قلت وهذا حسن. دا ښکلې تاويل دي.

تفسير ابن کثير جلد ٥ صفحه ٣٥٦:

قلت أما الأنبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ فكلهم معصومون مؤيدون من الله عز وجل وهذا مما لا خلاف فيه بين العلماء المحققين من السلف والخلف.

تفسير فتح القدير للشوكاني جلد ١ صفحه ٣٨١:

والانبياء معصومون من الكبائر ومن الصغائر التي فيها رذيلة اجماعاً.

هغه صغيره چې د نقص نسبت کوي ورته هغې نه هم په اجماع سره معصوم دي.

تفسير الرزاي جلد ١٠ صفحه ١٢٦:

الآية دالة على ان الانبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ معصومون عن المعاصي والذنوب لأنها دلت على وجوب طاعتهم مطلقاً فلو أتوا بمعصية لوجب علينا الاقتداء بهم في تلك المعصية فتصير تلك المعصية واجبة علينا .

البحر المحيط جلد ۸ صفحه ۲۱۴ :

قال ابن عطية واجمع العلماء على ان الانبياء عليهم الصلاة والسلام معصومون من الكبائر ومن الصغائر التي هي رذائل .

عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۲۶ صفحه ۲۳۶ :

والأنبياء معصومون من الكبائر بالاجماع واختلف في جواز وقوع الصغيرة .

اختلاف دي په جواز د وقوع د صغيرې د دوي کې چې صغيرې ترې نه کيږي او که نه.

قلت مذهبي . دې وايي زما رايه داده :

أن الأنبياء معصومون من الكبائر والصغائر قبل النبوة وبعدها .

مخکې له نبوت نه او وروسته له کبائرو او صغائرو نه معصوم دي .

والذي وقع من بعضهم شيء يشبه الصغيرة . چې مشابهي د صغيرې دي .

لا يقال فيه . نه شي ويلي په هغې کې چې د اګناه ده .

الا انه . مګر وويلې شي .

ترك الافضل وذهب الى الفاضل . ترک د افضل يې کړي او ذهاب يې فاضل ته کړې .

اكمال المعلم شرح صحيح مسلم للقاضي عياض جلد ۱ صفحه ۳۷۲ احاديث ذکر کوي بيا وروسته وايي :

وفي هذا دليل على صحة قول المحققين أن الكفر لا يصح قبل النبوة على الأنبياء وان نبينا وسائرهم معصومون منه من سائر المعاصي ثابت والايمان من صغرهم الا ترى كيف حشي صدره وقلبه حكمة وايماناً من صغره .

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه سينه چې اپريشن شوه هغه څنګه د حکمت نه او د ايمان نه ډکه شوې وه هغه يې پرې دليل ګرځوي.

﴿ مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ ﴾ هغې نه هم بعضې خلک استدلال کوي:

ولا الايمان باندې تفسير روح المعاني وګوري هلته ښکلي جواب دادی چې مراد له ايمان نه صلواة دي دوه يمه ۲ سيپاره کې ايات راځي:

﴿ مَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ﴾ خدای ستاسو مونځ نه ضائع کوي يعنې چا چې هغه مخکې بيت المقدس ته مونځونه کړې دي د هغې استفسار شوې وه چې هغه څنګه شول ايات نازل شو: ﴿ مَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ﴾ اى صلاتكم. نو ما كنت تدري ما الكتاب ولاالإيمان ولا الصلاة.

د مانځه تفصيل در ته ياد نه وه.

اكمال المعلم شرح صحيح مسلم للقاضي عياض جلد ۱ صفحه ۳۷۲:

ولا خلاف ان الكفر عليهم من بعد النبوة غير جائز عليهم انهم معصومون منه واختلف فيه قبل النبوة والصحيح انه لا يجوز كما قدمناه قبل هذا واحتججنا عليه ثم اختلف في المعاصي فلا خلاف ان كل كبيرة من الذنوب لا تجوز عليهم وانهم معصومون منها واختلف مشائخنا وغيرهم هل ذلك من طريق العقل او الشرع فذهب الاستاذ ابو اسحاق ومن تبعه ان ذلك ممتنع من مقتضي دليل المعجزة وذهب القاضي ابوبكر فيمن وافقه ان ذلك من طريق الاجماع وذهبت المعتزلة الى ان ذلك من طريق العقل ونفور النفس عنهما.

بيا خو نف ت ترې نه راځي چې دوي نه معصيات وشي اتباع يې خلک نه کوي.

دارنګې قاضي عياض اكمال المعلم جلد ۱ صفحه ۳۷۳ کې ليکي:

وكذلك لا خلاف أنهم معصومون من الصغائر. وړو نه هم معصوم دي.

التي. هغه. تزري بفاعلها. چې نسبت د عيب فاعل ته کيږي.

وتحط منزلته وتسقط مروءته. د هغه حسن او حسن خلق ساقطوي.

واختلفوا في وقوع غيرها من الصغائر منهم فمعظم الفقهاء والمحدثين والمتكلمين من

السلف والخلف على جواز وقوعها منهم . يعني قبل النبوة مخکښې د نبوت نه هغه صغيره چې هغه د عيب نسبت نه کوي په ذات دده کښې واي د هغې نسبت يې جائز کړې دي .

وحجتهم ظواهر القرآن والأخبار وذهب جماعة من اهل التحقيق والنظر من الفقهاء والمتكلمين من ائمتنا الى عصمتهم من الصغائر كعصمتهم من الكبائر .

وان منصب النبوة . او منصب د نبوت . يجل . اوچت دي .

عن مواقعتها . له وقوع د صغائرو نه .

جملة ومخالفة الله عمداً وتكلموا على الأحاديث الواردة في ذلك وتأولوها . کوم روايات چې د داود عَلَيْهِ السَّلَام وغيره په خطيئاتو کښې څوک نقلوي په حديثو کښې خبرې دي .

وان ما ذكر عنهم من ذلك انما هو ما كان منهم على تاويل او سهو او غير اذن من الله في اشياء اشفقوا من المؤاخذة بها . اذن ورته نه وي شوې لکه يونس عَلَيْهِ السَّلَام تلي دي د يري د لاسه .

واشياء كانت منهم قبل النبوة وهذا هو الحق لما قدمناه . حقه داده چې له صغائرو نه هم دوي پاک دي .

شرح سنن ابن ماجه جلد ۱ صفحه ۲۷۰ ، نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي : اني لأستغفر الله . زه په ورځ کښې ۱۰۰ ځل استغفار وايمه يا دا اياة : واستغفر لذنبك وللمؤمنين والمؤمنات ثم الإستغفار منه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مع انه قد غفر له ما تقدم من ذنبه وما تأخر ليس لمغفرة الذنوب. ددې لپاره نه دي .

فان الانبياء عليهم الصلاة والتسليمات معصومون من الكبيرة والصغيرة على الاصح ولكن لا يخفى أنه لا بد للنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من معاشرة الأمة لتبليغ الاحكام .

وايي دا استغفار د څه لپاره دي وايي دا دې لپاره دي چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ د تفكر او د مراقبې مع الله حال باندې مامور دي چې دوي به هميشه مستغرق وي في صفات الله هلته مامور دي په دعوت د خلکو چې څنګه دعوت د خلکو ته متوجې شي هغه استغراقي حال يې پاتې شي چې پاتې شي دا دوي استغفار په دغه حال باندې وايي اله ته په دې ناراضه مه شي

رانه چې زه خوستا هغه استغراق او تفکر ته پیدا و مه خوستا د عبادو په دعوت کې مې لږ وخت صرف کړو نو ستا طرف نه مې توجو عبادو ته شوه وایي دا په دغه حالت استغفار وایي په ذنوبو یې نه وایي نو دې وایي چې هغوي دې د پاره استغفار نه وایي چې ګنې ګناه تري شوي ده دوي معصوم دي.

ليكن لا بد للنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من معاشرة الامة لتبليغ الاحكام. دوي به معاشرت له امت سره کوي د رسولو او د احکامو لپاره.

وفيصلة خصوماتهم وتعليم ادابهم ففي هذه الحالات لا بد له من مناسبة بينه وبين الخلق وهذا الاشتغال بالخلق يصرفه اړوي ده لره.

عن المشاهدة التامة في الجملة. هغه مشاهده او استغراق نه يې راواړولو عبادو ته.

لأنه نقص له. چې داده د پاره نقص دي.

بل هو غاية مقاصده ولكن يحصل به الفتور في الحالة السابقة فيلتجي الى الله تعالى بالاستغفار لطلب الحالة السابقة. کوم کې چې استغراق تام او شهود وه.

فيض القدير د علامه مناوي جلد ۳ صفحه ۲۴۰:

امنت بالله وملائكته وكتبه ورسله وبان لله رسلاً ارسلهم الله الى الناس لإرشادهم الى ما فيه مصلحة معاشهم ومعادهم وهم معصومون من الذنوب كبيرها وصغيرها.

وايي دا به يې عقيده وي چې خداى تعالى عبادو د اصلاح د پاره رسل راليږلي دي او دې سره به يې دا عقيده وي چې دوي معصوم دي د كبيرې او صغيرې نه نو هله ايمان په رُسُل باندې راغې او كه چيرته يې دا عقيده وي چې رُسل يې راليږلي دي خو معصوم نه دي وايي دا په امنت بالله کې په ورُسله باندې يقين رانغي نو ګويا کې عقيده د عصمت يې له مؤمن به نه کړه چې رُسل ته به د عصمت عقيده ساتي نو دا به هله ايمان بالرسل وي.

نو دا چند اقوال وه د علماو په تلاش سره ما پيدا کړل نو د غه نچوړ ثابتوي چې اجماعاً دوي له صغائرو او کبائرو نه دوي پاک دي.

مسئله د عصمت الانبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ خلاصه شوه.

مسئلة الدعاء بعد السنة :

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴾ (البقرة آيت : ۱۸٦)

بله مسئله متنازع فيها بيننا و بين المنكرين مسئله د دعاء بعد السنة ده او بله وره جزئيه د عاء بعد الجنازة ده ددې دواړو مينځ کې به ضمني فاتحه خواني او د مړي په کور کې مړي ته دعاء کول مخکې د صلوة الجنازة نه هغه به هم ثابت شي .

مخکې له دې نه چې په خپلو مباحثو کې شروع وکړم، نو ستاسو د ذهن خلاصولو لپاره دغه تفصيل ذکر کومه چې کومو څيزونو کې د بدعت د راتلو امکان شته او کومو څيزونو کې بدعت نه شي راتلې .

او که راشي هغه بدعت مذمومه نه دي زمونږ او ستاسو اصولين مأمور به لره دوه معروف قسمونه ذکر کوي چې يوه مأمور به مؤقته ده او بله مأمور به مطلقه عن الوقت ده کومه مأمور به چې مطلق عن الوقت وي هلته توقيت د شارع نه، نه وي چې شارع توقيت نه دي کړې نو توقيت تعين او تعين د توقيت دلته لازم شو په مکلف باندې او کوم چې مأمور به موقته ده هغلته يو طرف ته امر شوې وي .

ثانياً د امر د تعميل او د امتثال وقت متعين وي په شرعه کې که مکلف له ځان نه دغې مأمور به مؤقتې ته وخت وټاکي نو بدعت لازم شي ځکه کون غير شارع شارع شي اصلاً د بدعاتو د قباحت د ذم او رد لويه وجه داده چې په بدعاتو کې کون غير شارع شارع ګرځيږي دې امت باندې د څيزونو لازمولو والا ذات اله العالمين دي يا محمد مصطفى ﷺ چې دواړه شارعين دي بل هيچا ته ددې اختيار نشته دي چې هغه په امت باندې قوانين لازم کړي نو دا الزام د ما لم يلزم چې فقهاء بدعت ګڼي.

ددې وجه هم داده چې غير شارع شارع ګرځيږي په غير باندې يوه خبره لازمول دا حق د شارع وه او دغه غير شارع نه دي دا حق ددې نه لري چې په چا باندې څه څيزونه لازم کړي ولو که هغه شيخ د طريقت وي په مريدانو باندې څه څيز لازمولې نه شي بدون د تعين د شارع نه .

كه اسباق ورته ورکوي نو دا به درجه د وجوْب نه وي مستحب به يې ګڼي په دې به د خپل مريد ذهن خلاصوي او مريد چې په هغې دوام امتثال کوي نو په مستحباتو باندې دوام ممنوع نه دي خو عقيده به يې دا نه وي چې دا امر لازم دي نو يو مأمور به موقته شوه.

او بل مأمور به مطلق عن الوقت مأمور به موقته هلته توقيت د شارع نه وي که مکلف بنده ځان نه وخت وټاکي نو غير شارع به شارع وګرځيږي د قباحت د ذم د علت چې کوم علت دي هغه به مينځ ته راشي.

او کوم چې مطلق عن الوقت ده هغلته توقيتات او تعينات په مکلف وي مثال د پاره مأمور به مطلق عن الوقت لکه تلاوت القرآن، تلاوت القرآن د مأموراتو نه دي: ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ کې امر پرې شوې دې توقيت دلته د شارع نه نشته.

نو چې هر کله د شارع نه تعين د وخت نشته نو تعين د وخت د مکلف او ممتثل کار شو چې څوک کله هم تلاوت کوي د کومې سپارې کوي د کوم سورت کوي دې کې بدعت نه لازميږي که څوک په يو وخت کې تلاوت شروع کړي او د هرې سپارې شروع کړي نو دا به ممتثل د ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ ګرځيږي هغه امر باندې دغه کس امتثال وکړو هر چې مرتبه فرضي ددې امر ده او د وجوب ده هغه په داخل الصلوة کې ده.

هر چې خارج د صلوة نه دي نو تلاوت مستحب دي هغه هم دې نه ثابت دي دغه استحبابي امر کې ته ممتثل ګرځيږي که ته هر وخت کې تلاوت کوي که دورځې کوي که د شپې دا مأمور به غير موقته ده دغه شان ته صدقات دي:

﴿وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ﴾

خيراتونه وکړې مخکې له راتلو د مرګ نه ستا دا طول زمن د عمر يې وګرځوه وخت د اداء د نفقاتو ورځ وي که شپه وي.

هر څوک هر وخت کولې شي چې خيرات وکړي په دې کې بعضې وخت کې صدقه کولو ته که څوک نسبت د بدعت کوي دا ناپوهي د هغه ده په خپلو اصولو باندې ته په مأمور به غير موقته کې توقيت ستا کار دي څه مأمور به موقتي دي د موقتي لپاره مثال لکه مونځ:

﴿أَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ کې پرې امر شوې دي:

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا﴾ کې د شارع له خوا نه تعين د وخت راغلي دغه پنځه وختونه چې شارع ټاکلي دي دې نه اخوا ته بل څوک وخت نه شي ټاکلې که يې وټاکه نو بدعتي دي.

مثلاً اوه (۷) بجې يو څوک د سحر لمونځ کوي نو تپوس ترې وکړه چې وقتي کوي او که قضائي کوي که نوم د وقتي يې اوه (۷) بجو کې د سحر لمونځ ته ورکړو نو دا بدعتي دي کار خو ښه کار کوي مونځ کوي په اوقات مکروهه وو کې هم نه کوي دې وخت کې خو جائز دي ذات کې خو يې څه قباحت نشته دي کنه نو دې وخت کې بيا دا مونځ ولې ناروا شي بدعت دي دَې دې شارع له ځان نه شريعت جوړ کړو شارع دا وخت نه دي ښودلي او دې يې بنايي ځکه دا مأمور به موقته وه توقيت د شارع نه وه د بل هيچا توقيت په کې دخل نه لري که يې وکړو نو بدعت لازميږي.

دغه شان من جمله د هغې نه صوم رمضان دي:

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ﴾ سره يې فرضيت دي.

﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾ يا ﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ سره تعين د وخت دي که څوک په بله ورځ باندې د رمضان روژه نيسي او وايي دا د رمضان په نيت باندې نيسمه دا بدعتي دي اجر نشته بدعاتو کې.

دارنګې حج دي نو حج دا د مفروضاتو نه دي:

﴿وَأَتِمُّواْ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّهِ﴾

ليکن: ﴿الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ﴾ شوال، ذي القعده او عشر ذي الحجة که دې ايامو نه غير څوک حج ته لاړ شي او ټول ارکان د حج په ځای راوړي نو دې ممتثل د اتمو الحج نه ګرځيږي بلکې لا بدعتي ګرځيږي.

خلاصه دا چې په مأمور به موقته کې توقيت مکلف ته نه وي سپارلې شوې د شارع نه وي له ځان نه توقيتات مستلزم بدعت لره دي په مأمور به مطلق عن الوقت کې توقيت د شارع نه، نه وي سپارل شوې مکلف ته که هغه په هر وقت ادا کوي بدعت نه لازميږي که دې اصل پسې څوک لاړ شي نو دعاء بعد سنت کې به هيڅ دليل ته هم ضرورت پرې پيدا نه شي.

هغه مقابل جانب نه به دا تپوس کوي چې دعاء بعد السنة تاسو مأمور به ګڼي که غیر مأمور به ګڼي که وي ویل چې غیر مأمور به ده : ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً﴾ سره دعاء مأمور به نه ګرځیدلې ده نو بیا تپوس وکړي چې مأمور به په غټ تقسیم سره په دوه تقسیمه شوې ده مطلق عن الوقت او موقته دا مأمور به موقته ده که مطلق د وقت نه ده که ده وویل چې موقته ده نو توقیت یې د شارع نه ثابت کړه لکه مونږ په مانځه کې په روژه او حج کې ثابت کړو ته په دې کې توقیت د شارع نه ثابت کړه چې د هغه وخت سره جائز شي او د هغې نه اخوا څوک ممتثل د امر د ادعوا ګرځي هغه بدعتي شي که تا نه تپوس وکړي چې ته یې غیر موقته ګڼي او تعمیم د وقت ورته ثابتوي یعنې مطلق یې ګڼي تا سره څه دلیل دي اولین دلیل چې تاسو سره مذکور دي : ﴿أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ﴾ دا دلیل د اطلاق دي قبلوم دعاء د دعاء کوونکي کله چې ما ته دعاء کوي .

دا اذا د عموم الاوقات لپاره دي دا دلیل ددې شو چې کوم وخت کې هم څوک دعاء کوي رب کریم قبلوي په دعاء کې اوقات مکروهه بیخي نشته دي دا ستاسې د ذهن خلاصولو لپاره مادا خبره وکړه چې د ډیرو خلکو نه مو اوریدلي چې دا بدعت او دا بدعت هسې اصولو کې کوم څیز چې مطلق عن الوقت وي بدعت نه لازمیږي هلته کوه ته که داسې بدعت لازم شي تعلیم القرآن مطلق عن الوقت دي :

خيركم من تعلم القرآن وعلمه .

او په تعلیماتو باندې اوامر موجود دي خو مطلق عن الوقت دي که څوک په کوم وخت کې تعلیم القرآن کوي بدعتي نه دي او که څوک په داسې مطلق عن الوقت کې دلائل غواړي چې نه بالفعل د رحمت عالم نه ثبوت غواړمه.

نو زه به لنډ راتاو شمه وبه وایم چې په ۷:۳۰ بجې د سورة یس تلاوت جائز دي او که نه دي جائز که وایي چې ناجائز دي دا خبره به معقوله وي که غیر معقوله به وي که وایي چې جائز دي او دلیل غواړي نو د رحمت عالم نه به ۷:۳۰ بجو کې تلاوت ثابت کړه سورة یس پریږده مطلق تلاوت ثابت کړه .

دغه رنگې د تعليم القرآن اداري په شوال ۲۰ يا ۲۵ شروع کيږي که دې ته لاړ نه شي چې دا مطلق عن الوقت دي دلته توقيتات په مکلف باندې دي بدعت نه لازميږي که هسې صوري لفظي يو بدعت دي خو حقيقت کې دا بدعت مذموم مقبوح نه ګڼلې کيږي که دا ونه وايي يو څوک به اعتراض وکړي چې د مدارسو کوم طرزونه دي په شوال کې ۲۰ يا ۲۵ آغاز د تعليماتو کوي بدعت دې ګڼې دا مونږ ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ثابت کړي چې په شوال کې درس شروع کړې وي خو نه يې دي کړي .

دغه شان ماخوستن چې دوي کومې ترجمې شروع کړې دي وکړي اعتراض چې ستا په سنتو او بعد سنة دعاء باندې اعتراض کوي ته د هغه په ترجمې اعتراض وکړه وايي دا ته چې کومه ترجمه کوي دا بدعت ده که وايي چې سنت ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه بعد صلوة العشاء درس ثابت ده هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو به د عشاء مونځ نه وروسته ډير په جلتي تللو ويده کيدو به وخت به يې نه ورکوه بلکې منع يې کړې ده د سمر بعد العشاء نه د ماخوستن نه يې وروسته له خبرو نه منع کړې ده اگر که سمري علمي بعضې محدثين جائز ګڼي خو هسې له ده نه د اثبوت وغواړي چې ماخوستن نه وروسته ترجمه مونږ ته ثابته کړه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه بالفعل نه شي ثابتولې .

دغه شعبان کې چې ټول مدارس ترجمه شروع کوي او د رمضان په آخر کې ختموي دې لپاره مونږ ته څه ثبوت راکړي په قرونو ثلاثه وو کې اوس ددې ديوبند د زمن نه ديخوا چې ددې ايجاد شوې دې نه مخکې مونږ ته وبنايه نه شي بنودې خو ددې ټولو جواب به دا وي چې مونږ دا مأمور به تعليمات غير موقت مطلق ګڼو او په مطلق کې توقيت په مکلف وي د شارع نه، نه وي په هر وخت چې ته تعليم کوي جائز دي او په هر وخت ترجمه کوي جائز ده په هر وخت کې چې ته مدرسه جوړوي او درس په کې کوي جائز دي څه خلاف دې کې نه راځي .

حکايت :

يو کال زمونږ دلته د مناظرې کورس وه د چارسدې نه يو مولوي صاحب راغلې وه ميلمه وه د لغمان وه بنه مدرس ملا وه د شپې ناوخته بره چت کې شور وه ما د يو طالب نه تپوس وکړو چې څه مسئله ده وايي ميلمه راغلې طالبانو سره يې مناظره شروع کړې زه ورغلم ورسره کيناستم داسې متعصب غوندې انسان وه منونکې هم نه وه هغه بحث هم

ورسره فضول وه لکه مناظره وه او بحث يې نه کوه هسې مجادله مکابره وه نو طالبانو ورسره ډير وخت نه ځان سترې کړې وه نو ما ورته لنډ وويل چې مولوي صاحب ته دعاء مأموربه ښکني که غير مأمور به يې ګڼي ؟

وايي مأمور به يې ګڼم ما ورته وويل چې تا خو به اصول ويلې وي حسامي وغيره دا مطلقه ده که موقته ده ؟

سړي سوچ کې شو وايي څه مقصد دې دي ما وويل مقصد دادی که دا مطلق وي توقيت په مابانديې دي چې زه يې کله هم کوم نو بدعت ولې شو که مؤقته وي توقيت ته ونبايه سړي خو پوه شو که اوس ورته مطلقه وايم دلته خو مې راګيروي وايي دا خو مؤقته ده ما ورته وويل دليل د مؤقتې راکړه .

وايي نبي اکرم ﷺ فرمايي چې تاسو کله مسجد ته دننه کيږې نو دا دعاء به کوي او چې را بهر کيږې دا دعاء به کوي تشناب ته ځې داد دعاء کوي او چې را بهر کيږې دا دعاء کوي دا توقيت شو کنه نو ما ورته وويل چې مولوي صاحب دې ته تقيد ويلې شي او توقيت ورته نه شي ويلې دا نبي اکرم ﷺ تمکين ښودلي تعين د مکان يې کړې دي تعين د وقت يې نه دي کړې سوچ پرې وکړه .

وايي نه دا توقيت دي ما ورته وويل توقيت تعين الوقت ته وايي وقت يې نه دي ښودلي مکان يې ښودلي دي ضد يې کوه نو ما ورته وويل چې سحر کې سړې مسجد ته راځي دعاء به څه وي دعاء يې ذکر کړه ما ورته وويل چې بيا د شپې راځي څه دعاء ده وايي همدغه به وي .

ما ورته وويل چې مازيګر راځي وايي همدا به وي ما ورته وويل تمکين دي کنه توقيت نه دي که توقيت واي نو د ورځې به يوه دعاء وه د شپې به بله دعاء وه کنه دا خو يې مکان ښودلې چې دې مکان کې دا دعاء وکړي البته تقيد ورته ويل کيږي د دې مطلق يو څه تقيد وشو خو په توقيت سره نه په تمکين سره مکان يې معين شو .

بيا يې شور جوړ کړو ما ورته وويل چې زه تا نه تپوس کومه دعاء جائز ده که نه ده جائز که جائز وي دا طالبانو سره چيړ ولې.کوي وايي نه دا جائز نه ده ما ورته وويل غير جائز ده

وايي هاو ما ورته وويل چې خلاصه خو به دې ويلې وي غير جائز هم قسمونه لري : حرام ، يې هم قسم دي ، مکروه يې هم قسم دي دا يې کوم قسم دي .

وايي دا مکروه ده ما ورته وويل چې د مکروه زمونږ شريعت تعريف ښودلې فقهاء د مکروه څه تعريف کوي وايي چې دليل ظني کې نهي ثابتوي ما ورته وويل دليل ظني څه شي ته وايي وايي خبرِ واحد ته وايي ما ورته وويل مونږ ته وښايه نهي مکروه ته وايي دليل ظني باندې نهي غواړي نهي مونږ ته وښايه .

بيا يې توپونه شروع کړل چې دا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده کړې ما ورته وويل چې دا نه کول وجودي دي که عدمي دي وايي دا عدم دي ما ورته وويل چې دليل موجد د شي ته ويل کيږي وجود د شي ، شي لره فرعه ثبوت د مثبت له وي ته بل ته په يو شي وجود ورکوي خپله خو به عدمي نه وي کنه عدم څنګه دليل کرځوي دليل خو داسې يو شي وي چې هغه بل ته ثبوت ورکوي نو خپله به څنګه ثبوتي نه وي وجودي به نه وي نو دليل پيش کړه وجودي دليل پيش کړه دا مه وايه چې دا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده کړې .

ما ورته وويل چې څه دا پيش کړه چې يو صحابي ويلې وي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا عمل نه دي کړې دا وښايه مونږ ته روايت العدم پيش کړه چې يو صحابي د عدم روايت کړې وي دا روايت العدم عدمي نه دي دا وجود لري خپله او يو عدم الرواية دي چې په يو ځيز کې روايت نه وي دا عدم محض دي عَدم محض له سره دليل نه شي کيدلې ځکه وجود نه لري چې وجود نه لري نو دعوی به څنګه ثابتوي .

بيا ډير خفه شو وايي تاسو ميلمنو ته هم دا عزتونه ورکوي دا کوي هغه کوي په بل اړخ باندې لاړ سم لغمان چل وه لغماني وه نو ما ورته وويل چې ګوره شور تا جوړ کړې وه ته ځان ته عالم وايي مدرس وايي دا طالبان دي ددوي عقائد خرابوي او راځي زمونږ اداري ته مونږ خو اوس هم ډير قدر در کړو که دا بل ځوک وي نو مونږ پرې کوتکونه اچول ما ورته وويل چې ته ډير خوشحاله شه مونږ ستا ډير قدر کړې .

بيا څه وخت وروسته په چارسده کې د دستار فضيلت جلسه وه هلته لاړمه سرډيرو کې جلسه وه د غه مولوي صاحب چا خبر کړې وه هغه علاقه کې چيرته به وه نو راغې چې کله راغلو نو وجود يې لړزيدلو رپيدلو د غصې نه او شونډې هم ښوريدلې او .زه خو ورته متوجه

ومه چې سړي خو هغه زړه غصه په ما سره وي خو داسې ورو ځان رانزدې کوي او د دوی په وخت کې راغلو ما سره خوا کې کیناستلو .

وایي صیب اعتراض نه کومه خو ځان پوهه ومه وجود یې همغسې رپیدلو نو ما ورته وخندل ورته مې وویل ځان لږ کنټرول کړه وکړه خیر دې دا خو علمي خبرې دي ما او تا به یې کوو سره نو رعب نور هم پرې راغلو او لړزه یې زیاته شوله وایي چې د علم غیب خبره تا سو کوي او ملا علي قاري صاحب لیکلي دي چې مخلوق ته څوک علم غیب ثابتوي کافر کیږي د بحث خپله طریقه وي نو ما خو له دده سره مناظره نه کوله هسې دې مې غلي کوه .

ما ورته وویل دا کفر امرِ قطعي دي که ظني دي وایي قطعي دي ما ورته وویل چې امرِ قطعي په څه ثابتیږي وایي دلیل قطعي باندې ما وویل قول د ملا علي قاري دلیل قطعي دې ستا په نزد چې کفر پرې ثابتوي سړي بیا غصه شو تهوپونه یې شروع کړل وایي ته ملا علي قاري نه مني ما وویل ګوره زه یې منمه خو په الوهیت نه .

وایي ته ملا علي قاري صاحب نه مني ما ورته وویل نه یې منمه پیغمبریې نه منمه خو ما نه تپوس وکړه چې زه یې کومه رتبه کې نه منمه زه یې منمه یو مقلد فقیه او تقلید د مقلد غټ هلاکت دي چې څوک د مقلد تقلید کوي دده خپله خبره چې قال ابوحنیفة په کې نه وي قال ابویوسف په کې نه وي ما ته هیڅ اهمیت نه لري زه خو دده مقلد نه یمه زه خو د احنافو او د حنفیت تهول مقلد یمه .

وایي نو څه دلیل تا سره په دې باندې ما ورته وویل چې د خالق سوا بل هیڅا ته هم دغه علم ثابتول شرک دي وایي چې هاو ما ورته وویل :

﴿وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا﴾ .

زاد المسیر کې ابن عباس صاحب ترجمه کوي ای علم الغیب ، مونږ خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته علم غیب ورکړې وه ما وویل دا خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ خالق نه وه مخلوق وه علم غیب قرآن کریم ورته ثابت کړي او د علماء معنی ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په علم غیب سره کړې .

په زاد المسیر کې ۱۹ تفاسیرو همدغه معنی کړې په علم غیب کې به یې زه پیش کومه خو دې ځای کې د زاد المسیر د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول ورته پیش کړو سړي ډیر ګرم شو وایي چې نه مونږ به د ملا علي قاري صاحب قول نه څه جواب کوو مونږ خو احناف یو کنه ما ورته

وويل ته وريسې روان يې جوابونه ترې نه کوه زه وريسې روان نه يم نو جواب څه د پاره وکړمه.

ما ويلې دي چې ملا علي قاري صاحب دا ښه خبره کړې ده البته تا ضد وکړو عناد دې وکړو تا اول نه وويل ځان پوهه ومه وروسته دې شور جوړ کړو او خلک دې نور هم په ځان خبر کړه نو ما هسې ستا علم اندازه کوله چې ستا د غه علم دې تول تا سره ما بحث نه کولو.

په دې موضوع د ملا علي قاري صاحب قول ته الحمد لله مونږ ښکلې محمل لټوو د هغه مقصد علم ذاتي کلي دي هغه داسې وايي که چا دعوی وکړه چې زه په غيبو پوهيږمه داسې الفاظ هغه وايي نو دلته نفي د علم غيب ذاتي کلي ده يو سړي ځان ته علم خپل ثابتوي عطاء من الله يې نه ګڼي دغه.

او چې کوم عطاء من الله يې د هغې مينځ کې ډير ځيزونه توسط کې راځي د جبريل عَلَيْهِ السَّلَامْ د وحي امکان شته تلقي بالقلب من الله شته رؤيا منام حسنه په کې شته فراست شته، شرح صدر شته ډيرو طريقو باندې د هغې حصول کيږي.

او بيا په اکبرپوره کې زما څه دوستان وه هغوي ته يې ويلي وه چې ما خو له ده سره مناظره وکړه زه يې ورته ياد کړې ومه په علم غيب مسئله کې او بيا يې له ما نه معافي وغوښتله او معافي په آخره کې ده غوښتې وه او ما ته يې وويل چې ستاسو ډيره ښه رايه ده او زما خوښه شوله دا الفاظ يې آخره کې وويل.

المبحث الأول : الاستدلالات من القرآن الكريم :

(١) دليل سورة بقرة آيت نمبر ١٨٦ :

﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ﴾ يا رسول الله ﷺ كله چې تپوس كوي ستا نه عباد زما باره كې په لفظ د أقريب ربنا فنناجيه ام بعيد فنناديه نو جواب وركړه : ﴿ فَإِنِّي قَرِيبٌ ﴾ نو دُعا كې جهر نه خفيه افضل دي :

﴿ ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ﴾ دليل ددې دي اجتماعي دعاء كې چې خلک پرې آمين وويلې شي جواز شته دي د رفعې قبلوم دعاء د دعاء كوونكي .

﴿ إِذَا دَعَانِ ﴾ كله هم چې ما ته دعاء كوي .

تاسو كه قرآن عظيم الشان وګوري :

﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ﴾ .

دې ځاى سره به تاسو ته وقف په نظر راشي استحبابي ﴿ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ﴾ دا وقفونه ولې راغلل دا خو هم لويو امامانو لږولي دي وقف لازمه چې كوم ځاى كې راشي نو هغلته اكثراً مقولة العبد د مقولة الله نه بيله شوې وي كه څوک ونه دريږي نو تمام مضمون خرابيږي .

او وقفونه استحبابي چې دي هغلته كله چې په دې ثاني كې احتمالات كثيره وي نو دوي وقف استحبابي كوي يا كيدې شي داد ما سبق سره تړ شي او كيدې شي جدا شي او كله وقف استحبابي د وجې د تعدد د نزول نه وي دغه مخكې د وقف نه شان نزول يو وي د وروستني شان نزول جدا وي .

د شان نزول د تعدد د وجې نه دوي په مينځ كې وكړي لوستونكي پوهـ كړي اشارت وركړي چې دلته څه بله مسئله كې نازل دي دې ځاى كې دا وقف په دغه معنى شوې دې ولې ﴿ فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ ﴾ د دواړو متكلم باري تعالى دي فَإِنِّي قَرِيبٌ فَإِنِّي أُجِيبُ دعوة الداع، بيا څه ضرورت دي وقف لره مقوله خو نه جدا كيږي يوه مقوله ده د باري تعالى نه .

دا شان نزول جدا دی هغه شان نزول عطاء ابن ابي رباح اول شان نزول دادی چې د اُبي بن کعب په روایت سره :

قال قال المسلمون یا رسول الله أقریب ربنا فنناجیه ام بعید فننادیه . فأنزل الله تعالی :
﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ﴾ (تفسیر در المنثور جلد ۲ صفحه ۲۶۰)

واخرج وکیع و عبد بن حمید و ابن جریر و ابن المنذر وابن ابي حاتم عن عطاء بن ابي رباح: انه بلغه لما انزلت .ده ته دا روایت را رسیدلې دي چې هر کله نازل شو :

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ هغه آیت نازل شو چې سورة غافر ۶۰ نمبر آیت دي.
قالوا : صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض کوي :
لو نعلم اي ساعة ندعوا . کاش چې مونږ پوهـ شوې واي چې خالق نه کوم وخت کې دعاء کوو د تعین د وخت سوال يې وکړو .

فنزلت : ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ﴾ الی قوله : ﴿يَرْشُدُونَ﴾ نو دغه تکړه په کې نازله ده چې : ﴿أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ﴾ کله هم چې ما ته دعاء کوي .
اوس شان نزول ته گوري :

لو نعلم أي ساعة ندعو؟ . کاش مونږ ته معلومه واى .لو شرطي نه دي لو تمنائي دي جزاء نه غواړي .

لو نعلم أي ساعة ندعو؟ . کاش مونږ ته معلومه وې چې کوم ساعت به مونږ دعاء کوو دا علم کاش راکړل شوې وای جواب راغې :

﴿أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ﴾ قبلوم دعاء د دعاء کوونکي اذا دعان کله هم چې ما ته دعاء کوي صحابه کرام سائلین د تخصیص الوقت دي آیت کې جواب د تعمیم الوقت نو آیت دلیل دد ې شو چې دعاء د مطلقاتو نه ده په وقت کې .

دغه شان نزول چې د أي ساعة ندعو سره دا نازل شوې دي تفسیر ابن کثیر جلد ۱ صفحه ۵۰۶ کې نقل کړې ابن جریر طبري جلد ۳ صفحه ۲۲۴، فتح القدیر د شوکاني جلد ۱ صفحه ۲۴۳، تیسر العلي القدیر لاختصار تفسیر ابن کثیر جلد ۱ صفحه ۱۹۸کې ذکر کړي .

شان نزول مې ددې لپاره ذکر کړو چې تاسو ته طریقه د اخذ واضحه شي چې دا دوي سوال کړې دي چې مونږ کله دعاء کوو تخصیص غواړي توقیت غواړي آیت کې تعمیم دي اطلاق دي چې وقت دې ته نشته دي ، کله هم چې تاسو کوي رب کریم به یې قبلوي په استجماع د شرائطو سره چې اودس بهتر دي قبلې ته ناسته بهتره ده رفع د ایدیو عند الصدر په کې ده توسلات دي په صلحاو باندې صفائي د باطن ده له محرماتو نه ډیر څیزونه دي چې هغې سره به قبلیږي چې هغه نه وي نه به قبلیږي .

تاسو چې دا زیر بحث کړځوي د منکرینو سره او دا ایات استدلال کې پیش کوي نو طرز او طریقه د اخذ به ستاسو دا وي دا ایات چې پیش کوي مقابل جانب نه به تپوس کوي رب کریم فرمائي :

﴿أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ﴾

وایي ددې ترجمه راته وکړه هغه نه تپوس وکړه قبلوم دعاء د دعاء کوونکي کله چې هم ما ته دعاء کوي نو اوس وایي تا نه تپوس کوم بغد السنة او بعد الجنازة یې قبلوي او که نه .

که وایي چې نه یې قبلوي استثناء وبنایه مونږ ته چې بل آیت یا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یا بل چا استثناء کړې وي چې دا دوه وختونه مستثنی دي دې وخت کې نه قبلوي اوس وایه چې قبلوي او که نه که وایي چې قبلوي یې نو بدعت څنګه شوه او که وایي چې نه یې قبلوي استثناء وبنایه مونږ ته .

طریقه د استدلال به مو داسې وي که خپل ددې زمانې مشائخ یې درته پیش کړه هغه ته وایه تا استثنی د مطلق نه وکړه او استثناء د مطلق نه تقید د مطلق وي ولې مطلق خو عام شي کل افرادو ته بعد السنة او بعد الجنازة ته هم دا عام شو ته چې ترې استثناء کوي حصر د مطلق دې وکړو تر بعضې افرادو حکم دي شامل نه کړو تر بعضې افرادو دا تقید د مطلق شو او تقید د مطلق نه دي مګر نسخه د مطلق د حکم ده د بعض افرادو نه او نسخ د مطلق قطعې به کیږي په قطعي باندې وایه د رستمي او د بشاوري په قول باندې نسخه څنګه کوي دا دې کوم اصل راوړو ددوي په قول هم چیرته نسخه کیږي .

دې به وایي نه ، چې صیب دا خو عام دی ، عام نه څنګه دلیل نیسي ورته وایه تا خو اصول الشاشي قدري هم نه ده ویلې اول د استدلالاتو نه کتاب الله ، کتاب الله لره شل اقسام

دي خاص دي عام دي مشترک مؤول دي نو دا عام دلیل دي کنه که عام دلیل نه واي نو څنګه قرآن کریم د اقسامو مستدلو وو نه عام ګرځوي.
دا خاص عام مشترک مؤول داد تمام قرآن کریم اقسام نه یادوي چې ته په قصص د موسی علیه السلام کې هم دا جوړ کړي دا ۵۰۰ آیتونو کې دا قسمونه جوړ دي په ثناء کې دا نه جوړېږي په قصص کې نه جوړېږي دا په څه شي کې جوړېږي کوم چې ترغیبات د عقائدو ورکوي چې زیاته حصه په دې لږېدلي ده په هغې کې دا نه جوړېږي دا چې کوم دي په احکاماتو کې دي کوم آیتونه چې په احکامو کې نازل دي هغوي کې قرآن کریم شل (۲۰) قسمه کېږي حقیقت مجاز ظاهر نص محکم الخ

دویم دلیل: پاره ۳۰ سورة انشراح آیت ۷–۸: ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۷ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ۸﴾ کله چې فارغه شوي نو ځان ستړې کړه فانصب معنی فاتعب او رب کریم ته خپل میلان او رغبت پیدا کړه.
اله العالمین عجیب ذات دي بس اجمال کوي د خلکو اندازه لږوي چې خلک اوس څه کوي ځکه قرآن عظیم الشان نه اخذ کول داد عقلاو کار دي وللعاقل تکفیه الاشارة، اشاره ورته بس وي او کم عقل ته کوتک وي کوم چې حمقاء دي پرې نه پوهېږي هغوي ته یې جهاد فرض کړې واي کوتک پسې را واخلي: ﴿جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ﴾ منافق ته یې باللسان را واخله او کوم چې عقلاء دي هغوي ته اشاره بس ده.

اذا فرغت. چې کله فارغه شوې.
فانصب. نو ځان ستړي کړه فاتعب.
اوس دا یې ونه ښودل چې د څه شي نه فارغه شوي دا یې هم ونه ښودل چې ځان په څه شي کې ستړې کړه کله چې فارغه شوې ځان ستړي کړه مفسرین کرام فراغت من امور الدنیا او ستړتیا په امورو د دنیا کې دا خو بالکل نه مرادوي.
ولې ځکه باري تعالی د شان نه په داسې أوامرو باندې امر بعید دي هغه دې سره امر نه کوي دا معنی ونه کړي اذا فرغت چې د تاټکي چلولو نه فارغه شوې فانصب په روټي خوړلو کې ځان ستړي کړه، امکان خو شته دې تاویل خو هیڅ نه دي مراد دا تاویل ځکه د شان د

باري تعالى سره دغه شانته امر بعيد دي چې هغه دې خلكو ته په دنياوي كارونو كې د سترتيا امر و كړي نو هغه نه دي مراد نو فراغت به هم له امورو د آخرت نه وي او سترتيا به هم په امورو د آخرت كې وي هغه مراد شو .

يا لا أقل فراغت به له امورو د دنيا نه وي او سترتيا به په امورو د آخرت كې وي دا هم مراد كيدې شي لكه بعضې مفسرينو اخيستي اذا فرغت ، چې كله فارغه شوي له امورو د دنيا نه ، فانصب ، ځان سترې كړه په عباداتو كې چا دا اخيستي دي ترې نه ، چا ويلي دي : اذا فرغت ، كله چې فارغه شوې له جهاد نه نو فانصب ، ځان سترې كړه په ذكر كې وغيره دعواتو كې .

چا ويلي اذا فرغت چې فارغ شوي من الصلوة فانصب ، فاتعب في الدعاء ، ځان په دعاء كې سترې كړه دا چې بعضې مراد دي او بعضې نه دي مراد ټول مراد كيدې شي خو دغه ديني تاويل به اخلي مونږ دغه ځاى كې دغه تاويل نه اخذ كوو .

چې كوم چا دا تأويل كړي : اذا فرغت من الصلوة فاتعب في الدعاء ، چې د مونځ نه فارغه شوي نو دعاء كې ځان سترې كړه مونږ دې ځاى نه استدلال لرو دا تأويل منقول دي له عبدالله بن عباس او د امام قتادة او د ضحاك نه دوي نه منقول دي تفسير ابن جرير الطبري جلد ۲۴ صفحه ۴۹۷ دغه ايات تأويلاً را اخلي :

اختلف اهل تأويل في تأويل ذلك فقال بعضهم معناه : اذا فرغت من صلواتك فانصب الى ربك في الدعاء وسله حاجتك . نو سترې كړه رب كريم ته ځان په دعاء كې كله چې فارغ شوي له مانځه نه .

دارنګې په صفحه ۴۹۸ كې بيا ذكر كوي : د حضرت قتادة روايت پيش كوي :

اذا فرغتَ فانصب الى ربك فارغب ، قال أمره اذا فرغ من صلواته ان يبالغ في دعائه .

حضرت قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې كله مونځ نه فارغيږي مبالغه في الدعاء به كوي په دعاء كې به ښه كوشش كوي .

همدغه تاويل تفسير قرطبي هم ذكر كړي دي جلد ٢٠ صفحه ١٠٨ او دا يې منسوب كړي حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته :

قال ابن عباس وقتادة فاذا فرغت من صلاتك فانصب اى بالغ في الدعاء وسله حاجتك .

او تفسير الدر المنثور ذكر كړي : جلد ١ صفحه ٥٨٥٦ .

تفسير الكشاف ذكر كړي جلد ۴ صفحه ٧٧۴.

تفسير اللباب لابن عادل جلد ١ صفحه ٥٣٠٦ .

تفسير الماوردي جلد ٦ صفحه ٢٩٨ .

او په تفسير ماوردي كې دغه مذكوره صفحه كې دا هم زيات كړي دي :

وفيه قال الضحاك . نو ضحاك هم پرې قائل شو .

تفسير النسفي جلد ۴ صفحه ۴٠ ، او تفسير ابي السعود جلد ٧ صفحه ٣٠، احكام القرآن للجصاص جلد ٥ صفحه ٣٧٣ ، غريب القرآن لابن قتيبة جلد ١ صفحه ٥٢۴ ، دې ټولو دا ذكر كړي .

دارنګې سورة المؤمنون پاره ٢۴ آيت نمبر ٦٠ دا دوه آيتونه دي كې پيش كومه چې د دعاء په كولو باندې وروسته د فراغت د مانځه نه هم امر شوې دي دعاء په عامة الأوقات كې چې شرائط يې پوره وي رب كريم يې قبلوي اوس دا خبره چې څوک دعاء نه كوي د هغوي باره كې قرآن عظيم الشان كې ذم شته د كولو باره كې څوک ذم نه شي بنودلې ، او دارنګې دعاوالا پسې چې څوک مسخرې كوي د هغوي د پاره قرآن عظيم الشان كې ذم شته خو د كولو د دعاء والا ذم قرآن عظيم الشان كې څوک نه شي ښودلي .

د سورة مؤمن ٦٠ نمبر آيت پاره ٢۴ :

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾.

هغه كسان چې هغوي كبر كوي له دعاء زما نه عن عبادتي عبادت دلته په معنى د دعاء سره دي ځكه مخكې ترې دعاء ذكر ده : ان الذين يستكبرون عن عبادتي ، هغه كسان چې كبر

کوي د دعاء زما نه، سيدخلون داخل به شي جهنم ته داخرين، خوار او ذليله.

نو متکبر د دعاء نه د هغوي باره کې وعيد راغلې دي دوي به يو وخت کې بعد السنة او بعد الجنازة نه منله اوس په کې اهل حديث ته هم بدعت وايي هغه هم نه کوي بيا به يې يو وخت کې اجتماعي او انفرادي خبره کوله اوس تاسو جمله اهل حديثو ته متوجه شي انفرادي دعاء هم نه کوي بالکلية دعاء نه کوي نه يې ځان ته کوي او نه يې په جمع باندې کوي دا هسې مخکښې بانې وي ددوي.

دارنګې سورة المؤمنون ۱۰۸،۱۰۹،۱۱۰ نمبر آيتونو کې جهنميان او اشقياء چې جهنم ته ګذار کړې شي رب کريم د هغوي حکايت عبادو ته دنيا کې کوي چې ددوي حال به څه وي.

﴿قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ﴾ له طرفه د باري تعالى نه مالک د جهنم به جهنميانو ته وايي کوري شي بعيد شي ژور کوز شي په دې جهنم کې.

﴿وَلَا تُكَلِّمُونِ﴾ ما سره خبرې مه کوي، سوال زاري هم مه کوي دا اشقياء چې جهنم ته لاړ شي رب کريم دوي ته اوس علت وايي چې تاسو مې دې جهنم ته ولې راوستي.

﴿إِنَّهُ﴾ شان دا ضمير شان کړه.

﴿كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِي﴾ وه يوه ډله د عبادو زما نه.

﴿يَقُولُونَ﴾ چې ويل به يې دغه دعاء:

﴿رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ﴾ دا دعاء ده دا دعاء يې ويله.

﴿فَاتَّخَذْتُمُوهُمْ سِخْرِيًّا﴾ وونيوه تاسې دغې دعاء والا په مسخرو باندې دومره مسخرې مو وکړې.

﴿حَتَّىٰ أَنسَوْكُمْ﴾ چې ددوي د استهزاء ياد ويسته تاسو نه.

﴿ذِكْرِي﴾ ذکر زما.

﴿وَكُنتُم﴾ او وې تاسو.

﴿مِّنْهُمْ﴾ دې دعاء د ذکر والا پورې.

﴿تَضْحَكُونَ﴾ خندا گاني به مو کولې.
دا عمل هغه زمانه کې مشرکينو کړې وه چې د مؤمنانو مانځه او دعاء دې پورې استهزاء کړې وه دې زمانه کې چې مونږ څو مره ګورو دې علاقات جاتو کې همدا طرز او طريق دعاء پورې د استهزاء او داعيينو پورې د ضحک چې کوم دې د دغه منکرينو د دعاء کار دې که اشاعتيان دې او که اهل حديث دې او که نور دې.
تفسير روح البيان جلد ٦ صفحه ٧٨ کې د دې ترجمه کوي:

فاتخذتموهم سخريا اي مهزوًا بهم اي اسكتوا عن الدعاء . او چپ پاتې شول له دعاء نه.

بقولكم ربنا الخ . په دې قول دا دعاء نه کوي.

لانكم كنتم تستهزؤن بالداعين بقولهم ربنا آمنا الخ دې دعا والا پسې تاسو مسخرې کولې.

وتتشاغلون حتى انسوكم . تر دې چې ياد ويسته دې استهزاء.

فإن انفسهم ليست سبب الانساء ذكري . ضمير د انسو خو دوي ته راجع دې دې داعيينو ته خو هغه سبب د ياد ويستلو . انساء، نه جوړيږي بلکه استهزاء د هغوي چې کوم ده سبب د دې جوړه شوه.

اي ذكركم اياي والخوف مني والعمل بطاعتي من فرط اشتغالكم باستهزائهم ﴿وَكُنتُم مِّنْهُمْ تَضْحَكُونَ﴾ وذلك غاية الاستهزاء.

دا رنګې ١٩ پاره سورة الفرقان آيت نمبر ٧٧:

﴿قُلْ مَا يَعْبَأُ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا﴾
څه کوي په تاسو باندې رب ستاسې که چيرې نه وايې دعاء ستاسې تاسو هيڅ اهميت نه لرلو نو عذاب به يې دربانديې راوستلې وه دا چې نه يې راولي دا د داعيينو برکت دې.

نچوړ او خلاصه دا شوه چې د بعد الصلوة استدلال لپاره قرآن کريم نه د اذا فرغت فانصب نه به استدلال کيږي او د دعاء د تعميم د پاره، اجيب دعوة الداع اذا دعان نه به استدلال

کیږي او دا چې مسخرې څوک دعا والا پسې ګوي د هغوي د پاره دغه وعيد کافي دي که څوک د خالق نه يريږي او دا ايات واوري نو کله به هم دعاء والا پورې مسخرې ونه کړي.

المبحث الثاني :

الاستدلالات من الاحاديث النبوية :

دې کې مونږ سره چند مباحث دي :

(١) اولاً : الدعاء بعد الصلواة مطلقاً باب لګوو ، د مانځه نه وروسته دعا په دې کې به د منکرينو دغه پرچار ختم شي چې هغوي د خلکو ذهن کې دا اچولې چې ګنې اسلافو يا احاديثو کې د مانځه نه بعد د دعاء څه ذکر نشته.

اوس مونږ ګورو چې څومره رواياتو کې مانځه نه بعد دعاء باره کې قولي، روايات يا تعليمات د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ يا د صحابه وو افعال موجود دي دغه وخت کې به دوي سره چون چرا کې فقط دا خبره پاتې شي چې دا په هيئت الاجتماع وه که په انفراد وه نو بل باب به ولږيږي په دعاء بهيئة الاجتماع باندې چې هيئت الاجتماعي دعاء څه جرم نه ده هغه ځان ته جائزه ده او بل باب ولګيږي په تثليث د دعاء باندې په تکرير د دعاء ثلاثاً باندې نو دعاء بعد الصلواة مطلقاً اول باب شو په دغه باب د احاديثو کې :

صحيح مسلم جلد ۴ صفحه ۲۰۷۳ بيروت چاپ :

حدثنا سعيد بن أزهر الواسطي حدثنا ابومعاوية حدثنا ابومالك الأشجعي عن ابيه قال كان الرجل إذا أسلم علمه النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصلاة.

کوم يو کس به چې ايمان راوړو نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ به د مانځه چل وروښوده.

ثم أمره أن يدعوا بهؤلاء الكلمات.

امر به يې ورته وکړو مونځ چې وکړي نو بيا دعاء کوه په دې کلمو سره.

اللهم اغفر لي وارحمني واهدني وعافني وارزقني.

دا حديث مونږ ته دا ښايي چې رحمت عالم اعرابو لره په وقت د تجديد د ايمان کې اولين تعليم په عمل کې د صلواة ورکړي خو د صلواة سره يې د دعاء چل هم ورښودلي مونځ کوي خو دعاء به هم کوي .

دارنګې حلية الاولياء جلد ۳ صفحه ۲۰۹ تاسو الحمد لله ټول علماء ياستي چې کوم يو حکم يو مستحب يو سنتو ته شامل شي ثابت شي هغه حکم بيا په دې سننو کې عام وي په مانځه کې د فرضو او سنتو يو څه فرق شته په اداء کې باقي د سنتو په درميان کې څه فرق نشته دي سنت بيا ټول په يوه طريقه ادا کيږي .

مثلاً که تاسو د سحر د سنتو نه بعد دعا ثابته کړي نو دا دليل ددې شو چې د سنتو رواتبو نه بعد دعاء جائز ده ځکه د سحر سنت هم د رواتبو نه دي کنه او دا تخصيص په کې نشته دي چې د سحر سنت د مانځه نه مخکې جائزه ګڼمه او که د مانځه نه وروسته وي ناجائز به وي نو فرق يې څه شي دي سنت ټول يو حکم کې پراته دي کنه لا اقل که د فرضو نه بعد شي او دليل د سنت نه بعد پرې نيسي دليل به تام نه وي خو که د سنتو نه بعد ثابت شي که هر سنت وي د نورو سنتو حکم به همغه وي تهجد سنت دي د هغې نه بعد ثابت شي د سنتو کل حکم پرې ثابت دي .

د اختر مونځونه عندهم سنت دي اګر که عندنا واجب دي ددوي په نزد سنت دي د هغې نه بعد چې دعاء ثابته شي د کل سنتو حکم پرې ثابتيږي سنت ټول په يو حکم کې وي که داسې ونه کړي نو زه چيلنج ورکومه ټولو منکرينو ته چې د ماښام په مانځه کې په سنتو کې د فاتحې لوستل جائز دي که ناجائز دي که وايي چې جائز دي او لازم دي ما ته داسې خاص ځاى کې وښايه د ماښام سنتو کې که بل کې يې ښايې زه به انکار کومه ترې نه وايم چې ناماښام کې وښايه نو دا خو هريو سنتو کې چې يو سړي ضد او عناد کوي دا بانې جوړيږي او جمله دين نه به انکار راشي بيا خو چې هر کله په يو سنتو کې مسئله ثابته شي داد کل سنتو حکم وي بيا :

عن داؤد بن علي بن عبدالله بن العباس عن ابيه عن جده رضي الله عنه قال بعثني العباس الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فاتيته ممسيا وهو في بيت خالتي ميمونة رضي الله عنها .

فرمايي نبي عليه السلام ته خپل پلار حضرت عباس رضي الله عنه وليږلم مابنام وه د ميموني بي بي رضي الله عنها په کوټه کې نمبر وه او زما خاله وه.

قال فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلي من الليل. داد شپې مونځ دي.

فلما صلى الركعتين قبل الفجر.

د صبا يې سنت شول نو چې کله يې دا مونځ وکړو.

قال. وي ويل:

اللهم اني أسئلك رحمة من عندك تهدي بها قلبي وتجمع بها شملي وترد بها الفتي وتلم بها شعثي وتصلح بها ديني وتحفظ بها غائبي وترفع بها شاهدي.

دا دعاء يې وکړه د سحر د سنتو نه بعد دعاء ثابته شوه دا دعاء بعد السنة ده د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم نه بالفعل او حکم د سننو واحد وي دغه فرق په دې کې چې دي سنت سره منم او دې ته نه منم دا تعصب دي.

سوال: د هرې مسئلې دعوى که مونږ ته وښودلې شي چې مونږ به يې څنګه رددو.

جواب: ما يو وخت کې دا کورس مناظره په طرز او طريق د مناظرې باندې به درس کولو فان قيل که داسې ووايي نو داسې به وي داسې يو طرز به وه بيا دې زيبريه جامعه کې زمونږ څه شاګردان وه اهل حديث هم دې کورس کې داخل وه هغوي دا چل ياد کړې وه نو بيا به يې زمونږ طالبان په کې راګيرول بيا ما وويل دلائل به وايمه او بعضې خاصو مسئلو کې لکه تقليد چې هغه ډير زير بحث ده مدارسو کې هغه بيا په هغه طرز بيانومه دعوى ردمه دعوى کې مباحثه څنګه په څه طريقه کيښودل کيږي په هغه طرز به يې بيانومه خو هره مسئله کې آسانه طريقه تاسو ته د بحث داده چې يو په مقابل جانب مدعي ثابتوي هغه به تا ته ډيرې چغې وهي دعوى دې څه ده.

وايي زه غريب سړي يمه ستا په قول بدعتي يمه او ستا په قول لا علم نا پوهه يمه، مقلدين تاسو علماء هم نه ګڼي تاسو خو مجتهدين يې پوهان يې قرآن او حديث باندې عالمين يې تاسو راته دا مبارکه رايه لږ واضحه کړې ستاسو څه رايه ده.

که هر څومره په تاراتاويږي خو ته به په نرمه ده نه رايه را اوباسي چې ستا څه رايه ده دُعاء بعد السنة جائز ګڼي او که ناجائز سوال به داسې کوي بدعت بدعت ناجائز ګڼي که ناجائز خلاصه خو مونږ ويلي کنه أمور يا جائز وي يا ناجائز وي بدعت خو چې وو ايي بدعت کې خپله پنځه قسمونه دي بيا به هلته يوه ګينته چير کوي چې دا کوم بدعت دي هغه مه چيره جائز ګڼي که ناجائز که جائز وي مسلمه که ناجائز وي.

وايه صاحبه لږ رتبه ورته ورکړه کومه درجه کې ناجائزيې ګڼي کفريې ګڼي که شرک يې ګڼي که حرام يا مکروه يې ګڼي درجه ورکړه ورته په هر شي يې چې قول وکړو کولې نه شي ګوري.

ما څو ځايونو کې دوي راتينګ کړي دي بيا چې هوښيار وي ځان اوباسي خو که بيا يې هم قول وکړو چې مکروه ده نو په دغه وخت پر دي بيا دعاء بعد السنة مکروه ده بس هغه وبالله مناظره بيا نور چون چرا ورسره مه کوي ورته وايه صاحب د مکروه يو شرعي تعريف راته وکړه شرعي تعريف خو ورسره نه وي اهل حديث به لږ تنګوي.

وايي دا مکروه دي هغه به وايي هاو وايه چې دا مکروه په شريعت کې څه ته ويل کيږي شرعي تعريف د مکروه څه دي ما ثبت بدليل ظني نهيه هلکه دا فقهاء کړې دي تقليد لازميږي مشرک کيږي دا مه کوه قرآن او سنت کې د مکروه تعريف راته وښايه، مکروه څه ته وايي ښودې يې شي درته چې اصول ونه مني فقه ونه مني تعريفات به د کومه کړي حرام به په څه پيژني مکروه به څه ته وايي فرض به څه ته وايي واجب سنت به څه ته وايي دا خو ټول ائمه وو ښودلي کنه دا چې نه مني نو دا يو څيز هم بيا نه شي منلي بس ناجائز به ټول کفر مکروه په يو شان ناجائز ګڼي بيا رتبه په کې نه شي جوړولې.

او په جائزو کې به فرض واجب او مستحب ستا په نزد يو شان وي بيا دا اوس معقول دين دي که غير معقول دين دي خپله پرې پوهيږي نو وايي د مکروه شرعي تعريف راته وکړه نو نه شي کولې دلته به هم راګيريږي وايي څه عرفي اصطلاحي تعريف د فقهاء وکړه راته ما ثبت بدليل ظني نهيه وايي دا ظني دليل عندك څه شي دي قول الفقيه ظني دليل جوړيدلې شي نه شي جوړيدلې قول الصحابي جوړيدلې شي نه خبر واحد د نبي عليه السلام مرفوع حديث به

وي متصل به وي منقطع به نه وي معضل معلق به نه وي ضعيف به نه وي صحيح السند به وي يا به لغيره وي يا به حسن لذاته وي يا به لغيره وي دا ځلور د مقبولاتو نه وي او خبر واحد به وي حتى کې عزيز او مشهور هم په دې کې داخل دي.

ما په اصولو کې ويلي وه چې حديث په دوه قسمه ده متواتر خبر واحد خبر واحد بيا په درې قسمه دي مشهور دي عزيز دي غريب دي مشهور چې درې درې سند باندې ورسوي بيا هم خبر واحد دي بيا هم مفيد د علم ظني دي د علم قطعي نه دي ماثبت بدليل ظني نهيه دا مکروه ده بس ته نور قلار کينه او ده ته وايه چې اوس ما ته بنايه دعاء بعد السنة ته دې مکروه ويلي دليل ظني باندې نهي غواړې ته يې هم داسې تعريف کړه ظني دليل کې نهي وښايه پيدا به يې کړې درته چې ورکړې چيلنجونه او قيامت هم راشي رابه وړې يو دليل په نهي کې نه شي ښودلې درته چې ښه دې ستړې کړو.

وايي پريږده د صحابي قول کې نهي وښايه هم زه يې منم اګر که دليل ظني نه دې زه يې منم وښايه چې نه يې شي ښودلې اربعة ائمه وو کې د يو امام په فقه کې را ته نهي وښايه هم درسره منمه يې اسلاف فقهاء پريږده متاخرينو فقهاء کې را ته نهي وښايه.

خو ۱۲۰ کاله مخکې تصنيف دې خوا نه ځکه د ديوبند او بريل نزاع راغلې ده دې نه دې خوا دليل دې نه منمه هر بحث کې به ۱۲۰ کاله نه ديخوا کتاب ورسره نه مني دلته ضد او عناد راغلې ډيرې خبرې د بريل له ضده ديوبند ناجائزې کړې دي او ډيرې خبرې د ديوبند له ضده بريل ناجائزې کړې دي دا تعصبات سره شوې دي کوم کار چې ديوبندي کړې که سم کار وي هم بريلوي ورسره نه دې منلې کوم کار که بريلوي کړې که هغه سم کار وي هم ديوبندي ورسره نه دي منلې نو دا يوه غټه نزاع جوړه شوې دې امت کې تفرقه ده.

نو دغه طريقه باندې بحث ورسره جوړ کړه ته به کيني دلايلو ميدان ته به هغه وغورځوي که بيا يې مکروه ثابت نه کړې شو تا نه يې دلائل غوښتل واي ته ووايه چې دعاء بعد السنة مکروه نه ده بيا دعوی زه ږدم دلائل به زه وايمه اوس خو زه سائل يمه ته مدعي يې او که دا يې درته ويلي چې دليل په نافي باندې وي نه په مثبت باندې وايي د ځان نه لګيا يې دا اصل را ته وښايه دليل په مثبت وي نه په نافي.

که دا خبره یې درته وکړه دا خبره نشته په کتبو کې خبره داده چې دلیل په مدعي وي نه په سائل ته مدعي جوړ شوي یې کنه دلیل په تا دي او س ته د حکم ایجابي نه یې د حکم سلبي مدعي یې دعاء بعد السنة لیس بثابت یا غیر جائز دا دعوی ده کنه خو صرف ایجابي نه ده سلبي ده ته د دې دعوی مثبت یې زه سایل یمه او دلیل په تا باندې دي چې بنه دي سترې کړو او دې ته دې جوړ کړو چې بس ما ثابته نه کړې شوه.

څه وایي چې ثابته دې نه کړې شوه نو دعاء بعد السنة مکروه نه ده شرک کفر حرام خو دي هسې هم نه دي وزته ویلي مکروه دي ویلي وه مکروه نه ده ناجائز به یا حرام وي یا کفر یا شرک وي یا مکروه چې دا مکروه هم نه شوه نو خپله غیر جائز نه شوه نو چې غیر جائز نه شوه نو جائز خپله شوه ما ته د دلیل څه ضرورت دي څه خپل کار کوه نو چې غیر جائز نه دي جائز خپله شوه کنه دواړه خو نه شي جمع کیدلې او که غیر جائز وي رتبه ورکړه ثابت یې کړه.

نو هغه روایت د ابن عباس رضي الله عنه چې د سحر سنتو نه بعد نبي علیه السلام دعاء کړې ده صحیح ابن خزیمه جلد ۲ صفحه ۱۶۵، مسند بزار جلد ۱۱ صفحه ۳۹۴، المعجم الکبیر للطبراني جلد ۹ صفحه ۱۵۱، دعوات الکبیر للبیهقي جلد ۱ صفحه ۵۱ کې راخیستي دي او روایت د ترمذي چې کوم راغلې دي بیروتي چاپ جلد ۵ صفحه ۴۸۲ کې هغې کې د سحر د سنتو ذکر نشته صلواة مطلق راغلې نو هغه کې تهجد هم داخل شو:

عن ابن عباس رضي الله عنه انه کان ربما بات عند النبي صلی الله علیه وسلم فکان النبي صلی الله علیه وسلم اذا فرغ من صلواته جلس فدعاء بهذا الدعاء اللهم اني اسألك ان تهب لي.

خو چونکې دعاء همغه دعاء ده دا دې هم حمل شي په بعد سنن باندې.

امام بیهقي په جلد ۱ صفحه ۵۱ کې باب لګوي: **باب الدعاء بعد الفراغ من رکعتي السنة قبل صلواة الفجر**، د سنتو د فجر نه بعد دعاء باندې باب لګوي بیا دا حدیث ذکر کوي:

دارنګې حلیة الاولیاء جلد ۴ صفحه ۲۳۵ معراج ته نبي علیه السلام روان وو موسی علیه ته ورسیدلو:

فأتیت علی رجل قائم یصلي. راغلو یو شخص ته ولاړ دې مونځ کوي.

فقال: من هذا معك یا جبرئیل؟

مونځ يې چې خلاص کړو دا څوک دي يا جبرائيل عليك السلام .

قال هذا أخوك محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرحب بي و دعا لي بالبركة . مرحبا يې راته وويل او دعاء يې راته وکړه .

دا دې مونځ وشو د مانځه نه وروسته دعاء ده او انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ خواص دي که عوام ټول وګوره دنيا نه چې لاړ شي مکلفات ختم شي فرض ختم شو څه چې کوي نوافل وي نو دا دعاء بعد النوافل ده او د نوافلو او د سنتو يو حکم دي .

و قال سل لأمتك اليسر قال فقلت من هذا يا اخي يا جبريل قال هذا اخوك موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ. نو موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ د نفلو نه بعد دعا کړې ده .

دارنګې د ضحى مونځ د سنتو نه دي ، حلية الاولياء جلد ۸ صفحه ۳۲۶ :

عن أنس بن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال كنت مع رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في سفر فصلى السبحة ثماني ركعات .۸ رکعته د ضحى لمونځ يې وکړو نوافل .

فقال لما انصرف . کله يې چې مونځ خلاص کړو .

إني صليت صلاة رغبة ورهبة وسألت ربي ثلاثاً . درې سوالونه ترې وکړل .

فاعطاني اثنتين ومنعني واحدة . را يې کړه درې او منع يې کړو يو .

سألت ربي أن لا يبتلي امتي بالسنين ففعل . هغه درې معلوم دي چې زما امت په قحطي مه هلاکوه .

وسألته أن لا يظهر عليهم عدوهم ففعل . زما په امتيانو باندې دشمن ما غالب کوه په دائمي طريقه ففعل .

وسألته أن لا يلبسهم شيعاً فأبى علي . او دا سوال مې وکړو چې دوي خپلو کې سره ټوټه کوه مه انکار يې رانه وکړو قبوله نه شوه نو دلته د ضحى د مانځه نه وروسته دعاء شوې ده او درې دعا ګانې شوې دي نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړي او دا نوافل دي حکم د نوافلو واحد دي.

دارنګې حلية الاولياء جلد ۲ صفحه ۳۰۱ :

عن أنس ابن مالك رضي الله عنه قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا سلم من صلاته. كله به چې نبي عليه السلام سلام وګرځوه.

ومسح جبهته بيده اليمنى. تندي مبارک به يې په ښي لاس باندې مسحه کړو.

وقال بسم الله الذي لا اله الا هو الرحمن الرحيم اللهم. وريسې طويله دعاء ده ما اختصار کړې دې بيا به يې دا دعاء وکړه نو دا دعاء ده بعد التسليم سلام به يې چې وګرځوه نو دعاء به يې کوله د دوي هغه جزيه پرې باطليږي چې دوي بالکل د سلام نه بعد نن صبا د دعواتو منکر دي دې رواياتو سره د دوي څه چون چرا نشته سوا د دې نه چې وايي به دا انفرادي ده اجتماعي به وروسته راشي باب پرې لګوم.

دارنګې دعاء لابن فضيل جلد ١ صفحه ١٩٦، ١٤٦:

حدثنا ابن فضيل حدثنا العلاء بن المسيب عن ابيه جاء رجل الى عبدالله بن مسعود. ابن مسعود رضي الله عنه ته يو شخص راغې.

فقال اني لا اصل الى امرأتي. بي بي ته رسيدګي نه شم کولې کيدې شي نوي وَاده يې کړې وه.

قال له توضأ ثم صل ركعتين. اودس وکړه دوه رکعته لمونځ وکړه.

ومُرها ان تصلي خلفك. او بي بي ته هم امر وکړه چې تا پسې وروسته مونځ وکړي دا نوافل دي.

فاذا فرغت من صلاتك. چې مونځ نه فارغ شوې نو دا دعاء وکړه:

اللهم بارك لي في اهلي وبارك لاهلي في وارزقني منهن وارزقهن مني اللهم ما جمعت بيننا فاجمع بيننا في خير واذا فرقت ففرق في خير.

نو دا تعليم ورکول دي د مانځه د نفلو او خپله بي بي ځان پسې ودرول دي او د هغې نه بعد دعاء ده چې خاوند او ښځه به دواړه د دغې نفلي مونځ نه وروسته دعاء کوي په شريکه.

دارنګې مسند احمد جلد ٣ صفحه ٣٢٤:

حدثنا حسن حدثنا ابن لهيعة حدثنا ابو الزبير عن جابر ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال اذا ثوب بالصلوة فتحت ابواب السماء واستجيب الدعاء .

اثابت د مانځه چې کله وشي د اسمان دروازې خلاصې شي دعاګانې قبليږي که دا څوک وايي چې دعاء خو مطلق ده هر وخت يې کوه دغه وختونه دي ولې خاص کړې دي د مانځه نه وروسته وغيره ځکه چې دې وخت کې دعاء بنه قبليږي اقامت چې وشي د اسمان دروازې خلاصې شي .

دا رنګې حلية الاولياء جلد ۳ صفحه ۵۴ دې حديث ته لږ متوجه شي چې دا څومره صريح دي په دعاء بعد الصلواة کې :

حدثنا احمد بن خالد بن مسرح الحراني حدثنا معلل بن نفيل الحراني حدثنا محمد بن محصن العُكاشي حدثنا الاوزاعي قال سمعت سليمان بن حبيب المحاربي يقول سمعت ابا امامة الباهلي يقول قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا اقيمت الصلاة فتحت ابواب السماء واستجيب الدعاء .

اقامت چې وشي د آسمان دروازې خلاصې شي دعاء قبليږي .

فاذا انصرف المنصرف من الصلاة . چې کله مونځ کوونکې راګرځيدونکې له مانځه نه راوګرځيږي .

ثم لم يقل . او دعاء ونه کړي چې :

اللهم أجرني من النار ، اللهم ادخلني الجنة ، اللهم زوجني من الحور العين . دري دعاګانې وشوې يوه طلب د خيرات وشوه دويمه اجتناب د شرونو نه وشوه او دريمه مطالبه د حاجاتو شوه .

دا پنجپير ملا چې وه دا ډير مداري وه چالاکه وه نو ما يې يو کيسټ اوريدلو نو هغې کې خندا ګانې کړې وې دي اهل سنتو پسې نو بيا په دې خنداګانو کې دې ته راغلې وه وايي اخوند به ودريږي يو دعاء به وکړي نخرې کوي ورپسې بيا به وايي وايي دعاء خير لکه هغه اخونان اواز کوي کنه نو هلکه هغه مخکې دې وايي د شر دعاء کړې چې اوس د خير دعاء

کوي نو دا تعصب دي مخکې هم د خیر وه دا هم د خیر ده هغه خیر اخروي دي دا خیر دنیوي دي فرق وکړه کنه هغه اخروي خیر وه اوس دنیوي خیر غواړي دغلته درې دعاګانې دي کله چې منصرف د مانځه نه رواګرځیږي .

ولم يقل: او ونه وايي دا دعاء چې : **اللهم اجرني من النار ، اللهم ادخلني الجنة ، اللهم زوجني من الحور العين قالت النار**. نو اور ورته وايي دا دعاء نه کولو والا ته اور وايي جهنم پرې آواز کوي :

يا ويح هذا . يا هلاک شي .

اعجز أن يستجير الله من جهنم . عاجز دي دا سړي چې د جهنم نه پناه وغواړي د خدای تعالی نه پناه وغواړي د جهنم نه .

وقالت الجنة . جنت هم پرې آواز وکړي .

.**يا ويح هذا** . ای هلاک شي .

اعجز أن يسأل الله الجنة . عاجز دي له دې نه چې وغواړي له خدای تعالی نه جنت .

وقالت الحور العين . حور عين د جنت نه پرې اواز وکړي .

يا ويح هذا . يا هلاک شي .

اعجز أن يسأل الله ان يزوجه من الحور العين .

عاجزه يې د دې نه چې د نکاح د حور العين سوال دې کړې واي دا صريح په :ې کې چې مونځ کوي نو دعاء کوه چې دعاء نه کوي :

اذا انصرف المنصرف من الصلوة ولم يقل .

ګوري درې دعاګانې دي نچوړ به يې څه وي .

اللهم اجرني من النار ، استعاذه ده له شرونو نه .

وادخلني الجنة . طلب دي د خير اخروي .

وزوجني من الحور العين .

دا هم اخروي طلب دي خو تعلق تريو څه نفساني امورو لري نو دا دري واړه بيا پرې آوازونه کوي دا به څوک وښايي چې چا دعاء وکړه جهنم پرې آواز کوي چې هلاک شي او يا جنت پرې آواز کوي چې هلاک شي نه.

اذا انصرف المنصرف من الصلاة ولم يقل، دعاء يې ونه کړه نو دا دعاء به کيږي.

دا حديث سنن الکبرى د نسائي را اخيستي جلد ۹ صفحه ۳۳، مسند ابي يعلى را اخيستي جلد ۴ صفحه ۱۳۶ کې معجم الکبير د طبراني را اخيستې جلد ۷ صفحه ۱۰۹، معجم الاوسط را اخيستې جلد ۹ صفحه ۸۳، مسند الشامي را اخيستې جلد ۲ صفحه ۴۱۰، موجبات الجنة د ابن الفاخر الاصبهاني جلد ۱ صفحه ۵۳، باب لړوي: باب في حال من ينصرف في الصلوة ولم يسأل الله الجنة، حال د هغه چا بيانومه چې مونځ وکړي را وګرځيږي او دعاء د جنت ونه کړي دده حال څه دي نو حال يې هغه دي چې کوم بيان شو.

دارنګې الدعاء للطبراني جلد ۱ صفحه ۱۶۷:

حدثنا محمد بن الفضل السقطي حدثنا سعيد بن سليمان عن ابي حازم عن سهل بن سعد رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ساعتان تفتح فيهما ابواب السماء.

دوه وختونه دي د آسمان دروازې په کې خلاصوي.

ويستجاب فيهما الدعاء عند الأذان بالصلاة وعند الصف في سبيل الله عزوجل. چا دا مختص کړي فقط تر آذانه او څه فقهاء دا عام ګڼي دغه ټول وخت د مانځه پورې چې دغې کې دعا قبليږي زمونږ له هغه ځای نه استدلال دي.

دعاء د پاره درود شريف لوستل ضروري دي دليل پرې دغه حديث مبارک دي جزء بي بي يوه زنانه ده هغې ليکلې دي تفسير يې ليکلې دي جلد ۱ صفحه ۴۵:

حدثنا ابو علي اسماعيل بن العباس بن محمد الوارق ببغداد حدثنا الحسن بن عرفة العبدي حدثني الوليد بن بكر ابو خباب عن اسلام الخراز عن ابي اسحاق السبيعي عن الحارث عن علي عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ما من دعاء الا بينه وبين الله عزوجل حجاب.

داسې دعاء نشته مګر مينځ دده او د خدای تعالی کې څه حجاب وي.

حتى يصلي على محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . تر دې چې درود ووايي .

فاذا صلى على محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انخرق الحجاب واستجيب الدعاء . دعاء قبوله شي .

واذا لم يصل على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يستجب الله الدعاء . خداى تعالى دعاء نه قبلوي نو درود لوستل ورسره ضروري شول .

امين الله بشاوزي وهابي فتاوى ليکلي د بريلويانو مشرکينو نبنې يوه نبنه يې داده چې امسا به ګرځوي بله نبنه يې داده پټکي به يې په سر وي همسا د ټولو انبيا و سنت دي .

﴿ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّأُ عَلَيْهَا ﴾ . هغه د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ حالات ښکاره دي پټکي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه متعددو آحاديثو کې ثابت دي او بيا وايي دغه فتاوى کې چې امام به :

﴿ إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ﴾ ووايي او مقتديان به يې درود وايي داد بريلويانو مشرکينو نبنه ده آخر کې وايي دوي پسې مونځ نه کيږي داددوي فتاوى ده او دا يې انصاف دي احاديث څه وايي چې درود ونه وايي نو دعاء دې نه قبليږي او دې وايي چې درود وايي نو بريلوي مشرک درنه جوړيږي .

دارنګې شرح د ابن بطال جلد ۱۹ صفحه ۱۲۶ :

وروي عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال وضعت الصلوة في خير الساعات . مونځونه چې وضع شوې په بهترين وختونو کې وضع شوې .

فاجتهدوا في الدعاء دبر الصلواة . د مانځه نه وروسته په دعاء کې کوشش کوي د دبر اطلاق مخکې د سلام نه هم کيدې شي او بعد هم کيدې شي .

دارنګې سنن ابي داود جلد ۱ صفحه ۵۶۱ :

حدثنا ابوعوانة عن عثمان بن المغيرة الثقفي عن علي بن ربيعة الاسدي عن اسماء بن الحكم الفزاري قال سمعت علياً رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يقول كنت رجلاً اذا سمعت من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديثاً نفعني الله منه بما شاء أن ينفعني واذا حدثني أحد من اصحابه استحلفته فاذا حلف لي صدقته قال وحدثني أبو بكر وصدق أبو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انه قال سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول ما من عبد يذنب ذنبا .

داسې بنده نشته چې ګناه وکړي.

فیحسن الطهور. اودس ښکلې کړي.

ثم يقوم فيصلي ركعتين. دا فرض نه دي غير فرض دي.

ثم يستغفر الله الا غفر الله له. نفلي مونځ وکړي او د هغې نه بعد دعاء وکړي مګر خدای تعالی به بخښنه ورته کوي.

دارنګې ابي داؤد جلد ۱ صفحه ۴۹۹ رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

الصلاة مثنى مثنى. دا فرضي نه يادوي نوافل غير فرضي دي مونځ دوه دوه رکعته دي طريقه يې داده:

ان تشهد في كل ركعتين. هر دوه رکعتو کې به کيني تشهد به کوي.

وأن تَبَاءَسَ. عاجزي به کوي.

وتمسكن. او ځان به فقير حسابوي.

وتقنع بيديك، اى ترفع. او چتوي به لاسونه.

وتقول. ته به وايي:

اللهم اللهم فمن لم يفعل ذلك فهي خداج. چا چې دا کار ونه کړو مونځ يې ناقص دي.

اوس ګندا څوک حملوي د سلام نه په مخکې دعاء نو داد چا مذهب دي چې د سلام نه مخکې په دعاء دې په رفع د لاسونو قائل شي د هيچا مذهب هم نه دي.

د تقنع بيديك لاسونه به اوچت کړي ددې جملې نه معلوميږي چې داد سلام نه وروسته ده مونځ به وکړي او فرض هم نه دي نوافل دي دوه دوه رکعته دي سنت دي.

فمن لم يفعل ذلك. که دا کار چا ونه کړو.

فهي خداج. نو مونځ يې ناقص دي.

دا حديث سنن دار قطني را اخيستې جلد ۲ صفحه ۲۸۹ کې سنن الکبری د بيهقي را اخيستې جلد ۲ صفحه ۴۸۸، دارنګې المعجم الکبير د طبراني جلد ۱۳ صفحه ۲۲۹:

عن عبدالله بن نافع بن العمياء عن ربيعة بن الحارث عن الفضل بن العباس رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الصلاة مثنى مثنى تشهد في كل ركعتين وتضرع وتخشع وتمسكن وتقنع بيديك يقول ترفعهما الى ربك.

لاسونه دې اوچت کړي.

تستقبل بوجهك وتقول يا رب يا رب فمن لم يفعل ذلك فهو خداج.

تستقبل بوجهك. مخ ته به دا لاسونه مخامخ کړي بطون د لاسونو به مخ ته شي او وايي به يا رب يا رب يعنې دعاګانې به کوي.

دا حديث مشکل الاثار جلد ۳ صفحه ۱۲۴، دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۲ صفحه ۴۴۲، د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت مذکور دي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من لا يسأله يغضب عليه. څوک چې د خالق نه سوال نه کوي خالق په غضب وي هغه ته.

دا عام دي ځکه چې هر څوک سوال نه کوي هغه په کې داخل دي ټولو افرادو لره عام دي يو ځاي کې عامه دعاء شروع ده او يو څوک دعاء نه کوي هغه دغه حکم کې داخل دي هغوي عاجزي کوي خپل خالق ته او دا کسيې نه کوي.

دا تبليغي حضرات هم داسې وي دوي به امام پسې ودرېږي مانځه نه بعد هغه پاڅيږي بسنتو ته او دې به شروع وي سبحان الله الحمد لله دې ته به نښتې وي او ايات کرسي به وايي نور خلک به سنت کوي دومره شيخ نه دي چې دې دومره ذاکر دي دا فقط هغه وروسته دعاء بهيئت الاجتماع چې کيږي هغې نه ځان پټوي چې وروستو له هغو سره ګير نه شمه.

چې کله امام او خلک دعاء ته لاسونه پورته کړي او دعاء شروع شي نو دې به ودريږي. سنتو ته بيا دده ضمير دادی مونږ ورته بدعتيان ښکارو دې چې دا قبلې ته مخامخ بعد الفرض ناست دي ځان سني ګڼي مونږ به وروسته د حضرت عمر رضي الله عنه فتوى پيش کړو چې جلوس سلام نه بعد مخامخ قبلې ته دا بدعت دي دا ځاي پريږده بهر ته چيرته لاړ شه ته چې دې صف کې ناستيې قبلې ته مخامخ او دا طول مکث کوي دا بدعت دي.

دې ته فقهاء مکروه وايي حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته بدعت وايي نو خپله په بدعاتو کې اخته دي او ځان بيا متبع سنت ګڼي او مونږ ورته بدعتيان ښکارو.

دارنګې الدعاء للطبراني جلد ۱ صفحه ۲۹، انس ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي:

عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فيما يذكر عن ربه عزوجل.

دا حديث قدسي شو:

يا ابن آدم إنك ان سألتني أعطيتك وان لم تسألني غضبت عليك. اي بني آدم که ته غواړي در کومه يې که نه يې غواړې درته په غضب باندې يمه.

عموماتو کې دوي داخل دي ورته داسې استدلال کوه دا دواړه حديثين ضم کړه او پيش يې کړه چې څوک دعاء نه کوي خالق ورته په غصه وي حديث مونږ پيش کړو ته مونږ ته دا جزيه وښايه چې څوک بعد السنة او بعد الجنازة څوک دعاء کوي او خالق ورته په غصه وي که داسې خاص نه شي ښودلې عام وښايه که څوک دعاء کوي نو رب ورته په غصه وي لکه مونږ چې عام ښايو چې دعاء څوک نه کوي خالق ورته په غصه وي هغه ته او چې څوک يې کوي:

اجيب دعوة الداع اذا دعان، په هغه رحمت نازليږي دا چې دعاء لپاره ثناء او درود وويل مخکې لازمي دي.

سنن الترمذي جلد ۵ صفحه ۵۱۶ بيروتي چاپ دا معروف حديث دي ټولو کتبورا اخيستې دي، فضالة بن عبيد يې راوي دي.

قال بينا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قاعد اذا دخل رجل فصلى فقال اللهم اغفر لي وارحمني.

دې ځای کې اګر که بعضې محدثين دا را اخلي چې داد تشهد دعاء ده محدثين دي فقهاء دي په قول يې اعتماد په کار دي خو لږ سوچ هم ورکې په کار دي چې دوي دا خبره د سلام نه په مخکې دعاء حملوي دې وروستني جواب ته ګوري او مخکني الفاظو ته سوچ نه کوي:

اللهم اغفر لي وارحمني اذ دخل رجل فصلى. را داخل شو يو سړی پس مونځ يې وکړو.

فقال. پس وي ويل:

دا فاء د څه د پاره وي د تعقیب مع الوصل لپاره وي کنه ما وویل چې محدثین دا په قبل السلام حملوي چې ده تشهد کړې او هغلته یې درود نه دي ویلې دعاء یې کړې ده نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام راغو ښتې طریقه یې ورته ښودلې ده.

خو زه وایم که دې الفاظو ته وکتلې شي یو اځې هغې پورې خاص کول نه دي په کار دا په بعد السلام هم حملیدلې شي څنګه:

اذ دخل رجل فصلى. مونځ یې وکړو.

فقال. پس وي ویل نو دا فاء د تعقیب مع الوصل لپاره ده.

دا دلیل ددې دي چې دا دعاء یې د سلام نه بعد کړې ده یو د فاء نه معلومیږي، دویم دا چې تشهد په دعاء کې جهر د هیڅا مذهب هم نه دي هغه خو سړي پټه وایي نو چې پټه یې وایي خلکو ته څنګه معلومه شوه چې درود یې ونه ویلې یا یې ویلې او هر چې د سلام نه بعد دعاء ده په هغې باندې خلک جهر هم کوي کله، بهر حال دواړه دې مراد شي محدثین اخیستې مونږ رد نه کوو.

فقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عجلت ایها المصلي. ای مونځ کوونکي جلتي دې وکړه دعاء خو یې کړي وه بیا هم ورته وایي جلتې دې وکړه.

اذا صلیت. کله دې چې مونځ وکړو. فقعدت. پس کیناستې.

فاحمد الله بما هو اهله. ثناء و وایه. وصل علي. په ما درود و وایه.

ثم ادعه. بیا ترې دعاء غواړه. ثم صلى رجل آخر بعد ذلك. بیا یو بل سړي مونځ کوه.

فحمد الله. ګوره دلته هم فاء د تعقیب مع الوصل لپاره ده پس ثناء یې وویله.

وصلى على النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. درود یې وویل چې درود یې خلاص کړو.

فقال له النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ایها المصلي ادع تجب. غواړه دعاء قبلیږي.

محدثین دا د قبل السلام پورې لګوي خو دې الفاظو نه د بعد السلام اخذ کیدې شي چې هغې ته دې هم دا عام شي د هغې نه بعد هم په کار داده چې سړي جلتي ونه کړي هغه شخص خو دعاء کړې ده دوي خو دعاء هم نه کوي منډې وهي، هرولة باب جاري کوي.

دارنګې سنن الترمذي جلد ۵ صفحه ۵۲٦ ، حضرت ابي امامة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يې راوي دي:

قال قيل لرسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أي الدعاء أسمع ؟ كومه دعاء بنه قبليږي .

قال جوف الليل الآخر ودبر الصلوات المكتوبات .

دې ځاې نه اهل حديث څه استدلال نه شي كولې ځكه هغوي يې د فرضو نه وروسته هم نه مني خو اشاعتيان وايي فرضو پسې شته دي سنتو پسې نشته دي نو بيا دې ځاى نه دليل نيسي له دې نه په څو طريقو تاسې جواب كولې شي :

يوه دا چې دلته تپوس د اي الدعاء أسمع شوې دي كومه بنه قبليږي دا دواړه وبنودلې شو اوس دا دليل ددې كيدې شي چې دې دواړو نه اخوا دعاء ناروا ده د اسماعيت وختونه وبنودلې، شو نو دليل ددې خو نه دي چې دې نه غير په بل وخت كې ناجائزه شوله د شپې دعاء اسمع ده نو دا ددې دليل شو چې د ورځې ناروا ده يا دُبر المكتوبة اسمع شوه نو دا ددې دليل شو چې بعد السنة ناجائزه شوله حديث خو له دې نه ساكت دي كنه دا تعصب محض دي چې يو سړې دې نه استدلال كوي په عدم جواز د دعاء بعد السنة باندې او كه څوك دا استدلال كوي نو زه به دا استدلال وكړم چې جوف الليل ذكر ده جوف النهار ناجائزه ده دا به څنګه استدلال وي نو يو طريقه د جواب داده چې دلته اسماعيت بنودلې شوې ده او دا دليل ددې نه وي چې ګنې بغير ددغه وختونو نه بالكل قبليږي نه نفي د اسماعيت چې راغله نو نفي د نفس قبول خو ثابته شوه .

او دويم دا چې دبر الصلوات المكتوبات داد دُبر لفظ يلي جزء من الشي باندې اطلاق كيږي اګر كه دُبرِ اضافي چې واخيستلې شي په معنې د بعد اطلاق كيدې شي اصلاً دُبر يلي جزء من الشي وي هغه وروسته د خوا نه چې د چا نه جزء وي هغې ته دُبر ويلې شي حقيقي معنى يې داده او اطلاق په بعد باندې او بعد السلام باندې حقيقت نه دي مجاز دي .

لكه تاسو د دُبر معنى په يلي جزء من الشي سره وكړي او اشاعتي يې نه مني چې نه دا معنى يې نه ده وايه چې دا معنى يې نه ده نو ته دُبر لري او كه نه يې لري كه نه يې لري وايي ته خو څه بله بلا يې او كه لري يې نو داستا نه جزء دي كه نه دي كه نه د صدر بي بيانو غوندې

ترې دي ځان پورې ترلي دي خو يلي جزء من الشيء ته دُبر ويلې شي كنه چې د وروسته خوا نه وي او جزء وي دا دبر دي نو دبر الصلوة المكتوبة د سلام نه مخكې چې كومه دعاء كيږي هغې ته شامله ده :

اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة الخ او لكه په نورو حديثو كې مذكورې دعاګانې شته دي هره دعاء چې وي دغه وخت نبي اكرم ﷺ ښودلي دي چې دا دعاء اجوبه ده اسمع ده دلته ښه قبليږي باقي دې نه غير بل وخت ناجائز نه ثابتيږي هغه هم ښه قبليږي خو دا ډيره ښه قبليږي دغه يې مقصد دي .

او دريم تاويل دې دا شي كه د دُبر معنى مجازي واخيستلې شي په معنى د بعد سره بعد هم بعديت يې حقيقي نه شي اضافي شي نو بيا دُبر په معنى د بعد باندې شو بعد حقيقي مه اخله اضافي واخله نو بعد السنة چې دې وكړه هغه بعد الفرض ده دبر المكتوبات بعد المكتوبات يا به يلي جزء اخلي .

هغه ما چې مخكې كومه معنى كړې نو ستا په دعوى دليل نه دي بيا او يا به يې مجازي معنى اخلي مجازي معنى د دُبر بعديت دي دغه بعديت بيا حقيقي اخلي او كه اضافي دا اضافي واخله ولې چې حديث دعائشې بي بي سره تكرار رانشي چې :

كان النبي ﷺ اذا سلم لا يقعد إلا مقدار اللهم انت السلام منك السلام تبارکت یا ذالجلال والاکرام .

د ترمذي حديث دي ، نبي اكرم ﷺ سلام نه بعد قعود نه دې كړې سوا د دغې الفاظونه او ته ترې دلته دا ثابتوي چې بل ته يې تعليم دا وركړې چې دعاء اجوبه ده نو بايد كړې واي كنه نو تطبيق به دا شي چې دغلته به يا دُبر په قبل السلام حمل شي چې دا د دبر خپله معنى ده يا كه دُبر په معنى د بعديت سره شي نو بعديت يې بعديت حقيقي مه اخله مجازي يا اضافي واخله د بعديت اضافي په بعد السنة باندې اطلاق كيږي .

لكه دا سنت بعد الفرض دي دا دعاء بعد السنة ده نو دا دعاء بعد الفرض شوه كه قبل الفرض شوه خو بعد الفرض شوه كنه خو بعديت حقيقي اتصالي نه دي اضافي دي دغه يوه

واسطه ترې نه لرې کړه بعد الفرض خو شوه کنه.

نو که دې دړته وابې چې بعديت اضافي نه منم نو ته ورته بيا دليل کې قرآن عظيم الشان نه ۲٦ پاره سورة احقاف پيش کړه د پيريانو حکايت دادی مونږ ايمان راوړې دې هغه پيريان چې قوم ته لاړل دعوت چلوي مونږ ايمان راوړو په څه مو ايمان راوړو په يو کتاب باندې چې نازل شوې دې . من بعد موسی . وروسته د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه .

۲٦ سيپاره کې لفظ د من بعد موسی راغلې دې اوس قرآن عظيم الشان من بعد موسی نه دې که من بعد عيسی نه دې دې باندې اطلاق د من بعد موسی په بعديت اضافي کيږې که بعديت اضافي وانخلې حقيقي اتصالي اخلې.

نو دا بيا من بعد عيسى دې نو دا اطلاق د من بعد موسى پرې څنګه وشو خو عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ بعد موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دې قرآن کريم بعد عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دې واسطه لرې کړه نو بعد موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ خو صرف بعديت اضافي شو.

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۵ صفحه ۳۹:

ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يقول في دبر كل صلاة اللهم اني اعوذبك من الكفر والفقر وعذاب القبر.

دا دعاء تاسو ته مخکې ما ذکر کړه چې دُبر يلې جزء من شيء سره واخله په قبل السلام يې حمل کړه دا دعاء ټولو کتب الحديث د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سلام نه په مخکې دعاء حمل کړې ده او لفظ د دُبر په کې راغلې دې دا مې دې لپاره دلته راوړه متصل چې دُبر په معنى د يلې جزء من الشيء سره په دغه حديث کې مذکور دې.

صحيح دې دُبر په معنى د بعد هم مذکور دې دبر الصلوة سبحان الله الحمد لله هغه په قبل السلام نه حمليږې خو هغه د دُبر حقيقي معنى نه ده مجازي معنى ده او د حقيقي معنى حمل چې امکان وي مجاز ته تلل دا د چا قول کيدې شي.

هرکله چې سلام نه مخکې دعاء اجوبه باندې ددې حمل کيدې شي څه ضرورت دې چې ته يې مجازي معنى اخلې مجاز ته تلل خو د ضرورت پر بناء وي حقيقت متعذر شي هغه ځاى

کې سرې مجاز ته ذهاب کوي او جمع بين الحقيقة والمجاز هم زمونږ اصل نه دي چې حقيقي معنی واخيستل شوه نو اوس مجازي د سره اخيستل کيږي نه .

دارنګې عمل اليوم والليلة جلد ۱ صفحه ۲۲۱ :

اخبرني علي بن محمد المربعي حدثنا ابراهيم بن القعقاع حدثنا عاصم بن يوسف حدثنا قطبة بن عبدالعزيز عن الاعمش عن عبيدالله بن زحر عن علي بن يزيد الالهاني عن القاسم عن ابي امامة قال مادنوت من رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في دبر صلاة مكتوبة ولا تطوع الا سمعته يقول .

نه يم نزدې شوې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته په وروسته د مونځ فرض يا نفل کې مګر ما ترې اوريدلې چې ويل به يې :

اللهم اغفر لي ذنوبي وخطاياي كلها اللهم انعشني واجبرني واهدني لصالح الاعمال والاخلاق فانه لا يهدي لصالحها ولا يصرف سيئها الا انت – دبر الصلاة عقبها – .

معنی يې دا کړې اهل لغتو وروسته د هغې نو دې تولو ځايونو کې دا دُبر په يلې جزء من الشيء باندې حمليږي هغې کې دا دعاء شوې ده .

دارنګې سنن الكبرى للنسائي جلد ۹ صفحه ۴۷ :

اخبرنا محمد بن عبدالله بن يزيد قال حدثنا ابي قال حدثنا حيوة بن شريح قال سمعت عقبة بن مسلم التجيبي يقول حدثني ابوعبدالرحمن الحبلي عن الصنابحي عن معاذ بن جبل ان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخذ بيده يوما ثم قال يا معاذُ والله اني لأحبك .

د حضرت معاذ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت ده چې يوه ورځ نبي عَلَيْهِ السَّلَام زما لاس ونيوه بيا يې وويل : والله زما له تا سره مينه ده .

فقال له معاذ بابي انت وامي يا رسول الله وانا والله احبك .

زه هم درسره مينه لرم .

قال . رحمت عالم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمايي :

أوصيك يا معاذ لا تدعن في دُبر كل صلاة ان تقول. وصيت درته كوم چې مه پرېږده وروسته د هر مونځ نه :

ان تقول اللهم اعني على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك واوصي بذلك معاذ الصنابحي. دا د حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاګرد وه.

واوصى به الصنابحي اباعبدالرحمن. چې دا دده شاګرد وه.

واوصى به أبوعبدالرحمن عقبة بن مسلم. دا حديث مسلسل شو.

اوس که هغه ځای کې دُبر الصلوة نه اشاعتي ضد کوي او بعديت معنى اخلي اويلي جزء معنى نه اخلي مجازي معنى ته ځي بيا بعديت هم اتصالي حقيقي په معنى اخلي اضافي نه مني نو دا لاندې روايت بيا ورته پيش کړي :

ما دنوت من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في دبر صلاة مكتوبة ولا تطوع الا سمعته يقول. دلته خو فرضو نه هم ثابته شوه او د نفلو نه هم ثابته شوه د نفلو خو تاسو نه مني هلته چې دُبر په بعديت حقيقي اتصالي اخلي خو دلته هم بيا اخلي کنه. اوس څه کوي قبل السلام باندې حملوي نو دا دري واړه استدلالات ستا او زما استدلال نه بهر شول.

زه يې بعد السنة قائل يم او ته يې بعد الفرض قائل يې او دا په قبل السلام حمل شو که حقيقي معنى نه اخلي مجازي اخلي نو چې مجازي اخلي زه بعد الفرض لره څه نا څه قائل يمه سحر مونځ به مراد وي دمازديګر مونځ به مراد وي او دا دوه ساعات خير د ساعاتو دي دعاء په کې اجوبه ده بعد الفرض دي شي خو في دبر صلاة مكتوبة ولا تطوع ته به بيا دې سره څه کوي بيا.

او دې ته به څه محمل ګوري بعدُ خو به بعديت يې حقيقي و اخلي اتصالي به واخلي بعد الفرض ته خو ما ځای پيدا کړو بعد السنة ته يې اوس ته پيدا کړه ته خو قائل ددې نه يې کنه.

ابن حجر په فتح الباري جلد ١١ صفحه ١٣۴ کې د ابن قيم عبارت نقل کړې دي چې ابن قيم په دعاء باندې رد کړې ابن حجر صاحب وايي چې حنابله او ابن قيم په دعاء رد نه کوي

هغه رد په دې کړې دي چې سلام پسې قبلې ته مخامخ طولاني مکث ناروا دي دا مه کوه نو دې د هغه جواب کوي:

وفهم كثير ممن لقيناه من الحنابلة ان مراد ابن القيم نفي الدعاء بعد الصلاة مطلقاً و ليس كذلك فان حاصل كلامه انه نفاه بقيد استمرار استقبال المصلي القبلة وايراده بعد السلام.

ابن قيم چې دعاء نفي کړې ده په دې قيد يې نفي کړې ده چې مصلي قبلې ته مخامخ کيني د سلام نه وروسته او دعاء کوي دا قبلې ته مخامخ ناسته نفي کوي.

واما اذا انتقل بوجهه. مخ راتاو کړي.

او قدم الأذكار المشروعة. يا مخکې ترې نه نور اذکار وکړي.

فلايمتنع عنده الاتيان بالدعاء. بيا ترې نه وروسته دعاء کول ممنوع نه دي د هغه په نزد.

دارنګې فتح الباري جلد ۵ صفحه ۲۵۴:

واستحب ايضاً اصحابنا واصحاب الشافعي الدعاء عقب الصلوات.

مونږ امامانو او د امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ شاګردانو دعاء د مانځه نه وروسته مستحب ګڼلې.

دارنګې صحيح البخاري جلد ۳ صفحه ۵۳:

حدثنا محمد بن المثنى قال حدثني خالد هو ابن الحارث حدثنا حميد عن انس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ.

دا هغه حديث دي چې د ام سليم کور ته نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ تللي وه او نفلي مونځ يې کړې وه او دعاء يې کړې وه په هيئت اجتماعي سره.

عن انس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ دخل النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على ام سليم فاتته بتمر وسمن. کهجوري او غوړي يې راوړل.

قال. رحمت عالم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب کوي.

أعيدوا سمنكم في سقائه. غوړي خپل لوښي ته واپس کړي.

وتمركم في وعائه فاني صائم. زما روژه ده.

ثم قام إلى ناحية من البيت فصلى غير المكتوبة . بيا پاڅيد يو طرف د بيت ته مونځ يې وکړو غير مکتوبه فرض نه دي ګوري دا نوافل او سنن دي .

فدعا . پس دعاء يې وکړه .

لأم سليم واهل بيتها .

دې ځای نه محدثين استدلال کوي چې نبي عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ ام سليم حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوي په شريکه د نفلو نه وروسته دعاء کړې ده دا دعاء بهيئت الاجتماع بعد غير المكتوبة .

دارنګې صحيح المسلم معرب بيروتي چاپ جلد ۸ صفحه ۱۷۱ :

حدثنا ابوبكر بن ابي شيبة حدثنا عبدالله بن نمير ح . تحويل د سند .

وحدثنا ابن نمير واللفظ له حدثنا ابي حدثنا عثمان بن حكيم اخبرني عامر بن سعد عن ابيه ان رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ اقبل ذات يوم من العالية . عوالي د مديني منورې باندې وي .

حتى اذا مر بمسجد بني معاوية دخل فركع ركعتين . دوه رکعته لمونځ يې وکړو ګوري دا فرض نه دي نوافل دي سنن دي .

وصلينا معه . مونږ هم ورسره مونځ وکړو .

ودعا ربه طويلاً . اوږده دعاء يې وکړه نبي اکرم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ سره د صحابوو مونځ کوي غير فرضي او د هغې نه وروسته دعاء کوي .

ثم انصرف الينا فقال صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ سألت ربي ثلاثاً فأعطاني ثنتين ومنعني واحدة.

دغه مبحث چې تير شو په دې کې مونږ دا ثابته کړه چې بعد غير المكتوبة نوافلو نه احاديثو مبارکه وو کې دعوات ثابت دي يا يې تعليم ورکړې يا يې بالفعل دعاګانې کړې دي بس دغه اعتراض به درنه پاتې شي چې ياره بهيئت الاجتماع نه وه هغه به وروسته راشي .

المبحث الثالث:

يكره المكث طويلاً في مصلاه بعد الفرض نحو القبلة:

دا باب په دې لګيدلې چې اشاعتيان مونږ ته دا تبليغي حضرات مونږ چې فرض وکړو نو پاڅيږو ځای بدل را بدل کړو يوه غلطي زمونږ عوامو کې هم شته چې کوم ځای کې فرض وکړي په هغه ځای کې سنت کوي تول آئمه په دې رد کوي نه امام ته هم په کار دي چې لږ يو خوا بل خوا او خوځيږي مخکې وروسته شي مقتديانو ته هم په کار دي چې لږ يو خوا بل خوا وخوځيږي مخکې وروسته شي مقتديانو ته هم په کار دي چې په خپلو کې ځای بدل را بدل کړي دې باندې ترغيبي احاديث موجود دي نبي عليه السلام فرمايي:

ايعجز احدكم اذا صلى أن يتقدم او يتأخر او عن يمينه او عن شماله يعني السبحة. سنن ابن ماجة جلد ٤ صفحه ٣٥٢.

عاجز دي ستاسو يو کس چې کله د مونځ نه فارغ شي چې بيا نفل او سنت کوي لږ مخکې شي يا وروسته شي عاجز دي له دې نه يعنې مه عاجزه کيږي له دې نه دا خو دومره سخت کار نه دي داسې يو څه ناڅه تقديم او تاخير وکوي ځای بدلوي.

اوس مونږ دا دريم مبحث په دې لږولې دي چې څوک سلام وګرځوي او بيا دې وخت کې دي دا تسبيحات وايي او طول مکث طرف د قبلې ته کوي دا بدعت دي مکروه دي دغه وخت ددې شيانو نه دي خاصتاً امام به دا کار نه کوي ډير امامان داسې دي چې اوږده ناسته کوي دغه ناسته ممنوعه ده هم په فقه حنفي کې هم په احاديثو کې راودي ګرځيږي ځای دې بدل کړي خو دغه ناسته به طولاني فرضو پسې نه کوي متصل.

سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۲۵ پاکستان چاپ جلد ۱ صفحه ۳۷:

حدثنا احمد بن منيع حدثنا ابو معاوية عن عاصم الأحول عن عبد الله بن الحارث عن عائشة رضي الله عنها قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا سلم لا يقعد الا مقدار ما يقول.

کله به چې نبي عليه السلام سلام وګرځو، نه به کيناسته مګر په اندازه ددې چې ويل به يې.

اللهم انت السلام ومنك السلام تباركت ذالجلال والاكرام.

همدا روايت مسند اسحاق بن راهويه را اخيستي جلد ۳ صفحه ۷۴۶، مسند السراج را اخيستي جلد ۱ صفحه ۲۷۴.

دې ځای کې يوې جزيې ته متوجهې شي هغه دا چې زمونږ دا سني علماء بعضې په دې ځايونو کې رفع د ايديو کوي لاسونه اوچتوي اللهم انت السلام سره لاس اوچتوي نو دا لاس اوچتول دلته جائز نه دي ولې عام اصول دا دي چې نبي اکرم ﷺ په دعواتو کې لاس اوچت کړي.

۲۴ صحيح احاديث پرې موجود دي په تسبيحاتو ثناء ګانو کې د لاسونو اوچتول نه دي ثابت په ثناء کې به لاس نه اوچتيږي په دعاء کې به لاس اوچتيږي اللهم انت السلام منك السلام تبارکت ذا الجلال والاکرام، ثناء محضه ده دې کې بالکليه د دعاء څه نشته دي.

که څوک اللهم ته ګوري نو دا خو ندا ده مقصود بالنداء نشته دي څه غواړي دلته فقط يا الله انت السلام يې يا الله منك السلام سلامتيا ده دا ټول خطاب دي د اله سره.

په الفاظو د خطاب کې ثناء ګانې دي نو چې هر کله دا ثناء محضه ده امکان د دعاء په کې بالکليه نشته دي او په ثناء ګانو کې رفع د لاسونو ثابته نه ده دې کې به لاس نه اوچتوي په دعاء کې که په احاديثو رفع د ايديو راشي او که رانه شي ته به بيا لاس اوچتوي بيا هيڅ د دعاء دغه ده چې رفع د ايديو به په کې وي دې سره يو بله جزيه هم ښکاره شوه چې په دسترخوان له ډوډې نه وروسته دعاء کول رفع د ايديو شته او که نشته دي که چيرته څوک په خپل دسترخوان ناست وي د هغې نه بعد به ستا الفاظ دا وي:

الحمد لله الذي اطعمني وسقاني وجعلني من المسلمين، نو دا ثناء ده دعاء نه ده او په ثناء کې د لاسونو اوچتول ثابت نه دي لاس به نه اوچتوي که چيرته په پردي دسترخوان ناست وي او د هغې نه بعد ا الفاظ وايي:

اللهم اطعم من اطعمني واسق من سقاني وغيره دعوات کوي نو هغه بيا دعاء ده او په دعاء کې د لاسونو اوچتول شته نو بيا لاس په کې اوچت کړه دا يې فرق دي او محضې ړانده مقلدين هم ځان نه مه جوړوي چې بس د نور الايضاح په آخر کې څوک دي څه پاڼړه يې ليکلي ده هغه ويلي دي آذان پسې دعاء کې د لاسونو اوچتول ناروا ده بدعت ده له ډوډې نه وروسته

دعاء کې د لاسونو اوچتول بدعت دي نه يې علت ويلي او هغه غريب هم په مطلب نه ده پوه شوې چې داولې نو تاسو ما په علت پوه کړي که چيرته دعاء وه که ثابته رفع هم نه وي د دعاء هيئت دادی چې لاسونه به اوچتوي او که چيرته ثناء وي بيا به يې نه اوچتوي.

د آذان پسې دعاء کې به لاس اوچتوي او که نه به يې اوچتوي نو هغلته که وګوري :

اللهم رب هذه الدعوات التامة والصلواة القائمة تر زياتو الفاظو پورې ثناء ده تغليب د ثناء ته که وګوري لاسونه مه اوچتوه او که چا اوچت کړه ناروا يې مه ګڼه ځکه اٰت محمد ن الوسيلة دعاء په کې راغلې دي دعاء تکړې ته که وکتلې شي رفع د ايديو ناجائز نه شوه د اصولو خلاف نه شوه بدعاتو کې نه راځي.

دا حديث چې ما ذکر کړو دې نه استدلال علامه سيوطي کوي او علامه سندي يې کوي په سنن نسائي شرحه حاشيه جلد ٢ صفحه ٤١٤ کې :

ما جاء عن عائشة انه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا سلم لا يقعد الا مقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنك السلام تبارکت يا ذالجلال والاکرام يحمل على ان المراد کان لا يقعد على هيئته مستقبل القبلة أو أنه لا يقعد في صلاة بعدها سنة کذا في حاشية السندي على النسائي جلد ٣ صفحه ٨٠.

نو دې وايي چې حمليږي دا په دې باندې چې مراد لا يقعد على هيئته مستقبل القبلة لا يقعد نه دي ناست .

او س احاديثو کې راځي چې د سحر مونځ نه بعد به ناست وه تر اشراقه پورې هغې سره څه کوي دلته وايي لا يقعد نه دي ناست.

وايي جواب دادی چې لا يقعد على هيئته مستقبل القبلة . قبلې ته مخامخ نه دي ناست دغو مره به يې وويل راتاوا به شو .

نو دا امام چې مخامخ طول مکث کوي خلاف راغې که رانه غي ددې سنتو او دا عدم الرواية هم نه دي ددوي په شان دا رواية العدم دي عائشه بي بي وايي دا عمل يې نه دي کړي دا خو دليل دي په دين کې .

ما سره د طالبي په دوره کې يو اشاعتي بحث وکړو ما ورته دا وويل عدم الرواية او روايت العدم روايت العدم دليل دي خو عدم الرواية دليل نه دي ځکه دا عدمي محض دي

وجود غیر ته نه شي ورکولی چې دعوی ده وایي زه به وښائم په هدایه کې چې عدم الروایة دلیل نه دي ځکه دا عدمي محض دي وجود غیر ته نه شي ورکولی چې دعوی ده.

وایي زه به وښایم په هدایه کې چې عدم الروایة به دلیل ګرځیدلی وي ما ورته وویل وښایه وایي هدایه لیکي چې د سحر سنت وشي د هغې نه بعد تر فرضو نفل مکروه دي لعدم فعل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او په عیدګاه کې د اختر د مونځ نه مخکې نفل مکروه دي لعدم فعل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، دا دواړه الفاظ د هدایې دي لعدم فعل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

نو ما ورته وویل په دې دواړو کې روایات شته دي د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په عیدګاه کې مونځ نه دی کړی نو دا عدم الروایة شو که روایت العدم دا روایت العدم دي صحابي روایت عدمي پیش کوي چې دا یې نه دي کړي دا خو دین دي دا خو دلیل دي په دعاء بعد السنة.

او بعد الجنازة کې دې څوک وښایي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا عمل نه دی کړی بیا خو دلیل دي عدم الروایة دلیل نه دي نو یو دا شو چې مستقبل القلبة نه دي ناست راتاو شوی دي دویم دا : انه لا یقعد في صلاة بعدها سُنة ، کوم مونځ چې د هغې پسې سنت وه نو لا یقعد نه دي ناست بلکې قیام یې کړی دی که دلته به یې کول دلته یې کړی دي حالت اقلي دا ثابت دي که به کور ته تلو کور کې کړي دي.

دارنګې حاشیة السندي علی النسائي جلد ۳ صفحه ۸۰ هم دا ذکر کوي :

سوال : افضل الذکر لا اله الا الله وافضل الدعاء الحمد لله ، الحمد لله ثناء ده دعاء یې ورته ولې ویلې ؟

جواب : دادی چې الحمد لله نه یادوي لکه مونږ او تاسو وایو الحمد لو ستل واجب دي نو الحمد واجب دي که سورة فاتحه واجب ده فاتحه واجب ده کنه خو دا الحمد لله د فاتحې نه کنایه ده کنه نو دې حدیث مقصد دا چې :

افضل الذکر لا اله الا الله وافضل الدعاء الحمد لله .

يعني افضل دعاء هغه ده چې په سورة فاتحه کې مذکوره ده چې اهدنا الصراط المستقيم هغه دعاء درته يادوي الحمد لله ته دعاء نه ويل کيږي هغه خو ثناء ده يعني افضل دعاء سورة فاتحه ده مراد له الحمد لله نه الفاظ مه اخله دا نوم وګرځوه د يو سورة لپاره هغه سورة يادوي.

دويم روايت چې طول مکث په مصلى باندې جائز نه دي صحيح البخاري جلد ١ صفحه ٢١٢ کې:

حدثنا موسى بنُ اسماعيل حدثنا ابراهيم بن سعد حدثنا الزهري عن هندٍ بنت الحارث أن أم سلمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قالت كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا سلم قام النساء حين يقضي تسليمه ومكث يسيراً قبل ان يقوم.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې سلام وګرځوه بي بياني وروسته صفونو کې وي هغوي به پاڅيدي سلام نه بعد.

ومكث. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به مكث وكړو.

يسيراً. لږ نو دا لږ مکث د طول مکث خلاف شو.

قبلَ أنَ يقوم.

مخکې د قيام نه پاڅيده به يا د قيام نه مخکې به لږ کيناسته.

دارنګې سنن البيهقي الكبرى جلد ٢ صفحه ١٨٢، دې کې د خلفاء عمل تاته ښايي:

اخبرنا محمد بن عبدالله الحافظ انبأ ابو جعفر محمد بن محمد البغدادي حدثنا يحيى بن أيوب المصري حدثنا سعيد ابن أبي مريم حدثنا عبدالله بن فروخ انبأ بن جريج عن عطاء عن انس بن مالك رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخف الناس صلاة في تمام.

تتميم سره به يې ارکان ادا کول خو آسانه مونځ يې کوه.

قال وصليت مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فكان ساعة يسلم يقوم.

ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره مونځ کړي دي په همغه ساعت کې چې سلام به يې وګرځوه پاځيده به.

نو طول مکث ددې حديث او ددې عمل خلاف دي چې هغه لږ مونځ کوي پاځيږي.

ثم صليت مع ابي بکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فکان اذا سلم وثب مکانه. سلام به يې چې وګرځوه ټوپ به يې کړو په دغه ځای کې.

کانه يقوم عن رضف.

تا به ويل چې په ګرم کاڼي يې خپه ايښي ده.

نو عمل دده هم د طول مکث خلاف دي چې دا کوم خلک اوږده ناسته کوي مخامخ قبلې ته.

دارنګې وروسته روايت پيش کوي:

قال کان ابوبکر الصديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اذا سلم قام کأنه جالس علی الرضف وروينا عن علي انه سلم ثم قام.

دارنګې عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۹ صفحه ۴۳۵:

کان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا سلم لم يقعد الا مقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنك السلام تبارکت يا ذالجلال والاکرام وقال ابن مسعود ايضاً کان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا قضي صلاته انتقل سريعاً جلت به اما ان يقوم. يا به ځيده.

واما ان ينحرف. مخ به يې راتاو کړو.

وقال سعيد بن جبير شرق او غرب.

مشرق مغرب ته هلته مشرق مغرب راځي ځکه قبله دا بل طرف ده نو مشرق يې طرف يمين راتلو او مغرب يې شمال طرف راتلو.

ولايستقبل القبلة.

يعنې اکثراً به قبلې ته مخامخ نه راتاويده.

وقال قتادة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کان الصديق اذا سلم کان علی الرضف.

صديق اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به سلام وګرځوه پاځيده به تا به ويل چې په ګرمو كانړو دي.

وقال ابن عمر الامام اذا سلم قام. امام چې سلام وګرځوي پاځي به.

وقال مجاهد قال عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جلوس الامام بعد السلام بدعة. ذ امام كيناستل له سلام نه وروسته بدعت دي.

البته زمونږ فقهاء دا طول مكث حملوي په مكروه تنزيهي باندې خلاف اولى باندې فقط د صحابه وو د طرز او طريق خلاف عمل يې وكړو.

الاختيار لتعليل المختار جلد ۱ صفحه ۷۲، د فقهې حنفي كتاب دي:

كل صلاة بعدها سنة يكره القعود بعدها. هر يو مونځ چې د هغې پسې سنت وي قعود بعدها مكروه دي. دا الفاظ مجمع الأنهر هم ذكر كړې دى په جلد ۱ صفحه ۱۹۴ كې.

بل يشتغل بالسنة. په سنتو به مشغول شي.

لئلا يفصل بين السنة والمكتوبة وعن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يقعد مقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنك السلام واليك يعود السلام تباركت يا ذا الجلال والاكرام.

ګوره دا الفاظ دي دومره كينه نور مه كينه.

ثم يقوم الى السنة. بيا به سنتو ته پاځي.

ولا يتطوع مكان الفرض. د فرضو په ځاى به نفل نه كوي لږ فصل دې وركړي ورته.

ولې ځكه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي:

ايعجز احدكم اذا فرغ من صلاته ان يتقدم او يتاخر بسبحته.

عاجز دي ددې نه چې فرض وكړي بيا نفل كوي چې لږ مخكې وروسته شي نه وي عاجز يعنې دا دومره سخت كار نه وي هريو يې كولې شي نو عملي يې كړي.

بيا وايي:

وكذا يستحب للجماعة كسر الصفوف.

جمعه باندې چې خلك ولاړ وي كسر د صفوفو مستحب دي صفونه دې مات كړي.

لئلا يظن الداخل انهم في الفرض.

نوي راتلونكي گمان ونه کړي چې دا گني اوس هم په فرضو ولاړ دي اقتداء پسې چيرته ونه کړي علت يې دادی.

دارنگې فقه العبادات جلد ۱ صفحه ۸۷ دي دا جواب کوټي چې هلته راغلل:

لايقعد. نه به کيناسته.

اوس هغه حديث چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سبحان الله الحمد لله آيت کرسي الله اکبر ددې ترغيبات ورکړې دي د هغې به څه جواب وي دې وايي:

ولا ينافي أمره صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المسلمين بالاذكار في دبر كل صلاة الاشتغال بالسنة اولاثم بالاذكار.

هيڅ منافات نشته کوم چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ امر کړې د مانځه نه بعد په اذکارو طريقه به يې داوي چې اول به سنت وشي بيا به اذکار ووايي.

ولو سبح عقب السنة لكان في دبر الصلواة. او چې کله سړي د سنتو پسې تسبيحات ووايي.

لكان في دبر الصلاة. دا د مانځه د فرض نه بعد شو.

همغه زما جواب دي چې بعديت اضافي شو قبل ختو نه دي دا هم بعد شو بعديت اضافي شو.

ويكره القعود. مکروه ده ناسته.

عقب كل فريضة بعدها سنة مؤكدة. وروسته د هغو فرضو نه چې وروسته ترې سنت مؤکده وي.

حتى يؤدي السنة ثم يشتغل بالأذكار لأنه يستحب الفصل بينهما بمقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنك السلام تبارکت واليك يعود السلام تبارکت يا ذالجلال والاکرام.

دا الفاظو باندې اوږدوي دې کې چې مزيد کوم الفاظ اخوندانو پيدا کړي هغه الفاظو په احاديثو کې شته خو په دغه ځای کې وارد نه دي.

او دا طول فصل فقهاء مكروه ګڼي دلته دې نه وايي لكه حينا ربنا بالسلام ادخلنا دار السلام الخ دا احاديثو كې شته دي خو دې ځاى كې نه دي وارد او هلته فصل مكروه دي نو هغه الفاظ دې ځاى ته مه راوړي بس دغه چې كوم ثابت دي دغه لوستل په كار دي او ددې په مقدار دې نه زياتيدل نه دي په كار .

بعضې د لا اله الا الله ذكر دلته كوي څه رواياتو كې شته ءي خو بيا دي اللهم انت السلام منك السلام پرېږدي ځكه طول فصل مكروه دي په هغه اذكارو دي اكتفاء وكړي چې طول فصل رلنه شي .

دلته چې دا كوم يكره زمونږ احنافو ويل دا كراهيت تحريمي نه دي دليل پرې الفقه على المذاهب الأربعة باب ذكر بعد الصلاة باب لږوي بيا په هغې كې د احنافو مذهب را اخلي .

يكره تنزيها نو دغه مطلق مكروه مكروه مقيد شو د فقهې په يو كتاب كې په مكروه تنزيهي سره نو ټوله فقه چې يكره راغې په تنزيه به حمل وي .

نو په فقه العبادات كې د اللهم انت السلام نه بعد به څه ووايي :

ثم يقول الى السنة وذلك لما روي عن عائشة رضي الله عنها قالت كان النبي صلى الله عليه وسلم اذا سلم لم يقعد الا بمقدار ما يقول اللهم انت السلام ومنك السلام تباركت ياذالجلال والاكرام .

او بيا وايي :

فلا ينبغي للمصلي ان يزيد عليه او على قدره .

دا لا ينبغي دليل د څه شي شو د كراهيت تنزيهي شو نه دي مناسب مصلي لره چې په دې الفاظو زيادت وكړي او يا ددې په قدر زيادت وكړي په نورو الفاظو كې دې نه زيادت به نه كوي :

ولم يثبت عنه صلى الله عليه وسلم انه فصل بين الفرض والسنة بالأذكار التي امر المسلمين بها الا في المغرب .

نه دي ثابت د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ نه چې د سنت او فرضو په مینځ کې دي په اذکارو فصل راوستلې شي مګر په مغرب کې .

دارنګې مراقي الفلاح شرح نور الایضاح جلد ۱ صفحه ۱۴۷ فرمایي :

القيام الى اداء السنة التي تلي الفرض متصلاً بالفرض مسنون.

پاڅیدل اداء د سنت ته چې فرضو پسې متصل دي مسنون أداء د سنت دي .

اي انه يستحب الفصل بينهما كما كان عَلَيْهِ السَّلَامُ اذا سلم يمكث قدر ما يقول اللهم انت السلام ومنك السلام واليك يعود السلام تباركت يا ذالجلال والاكرام .

دا دوه ټکي په کې زیات شول خو د فقیه په عبارت د نص الحدیث کې چې زیادت راشي دده قول ته به اعتبار نه وي د محدث قول ته به اعتبار وي .

انزل الناس منازلهم .

هر چا ته خپله رتبه ده یو محدث چې یوه فقهي جزیه د صاحب د مراقي په مقابله کې وکړي کله دومره اهمیت لري په فقه کې دې ماهر دي خو په نص الحدیث کې بیا دې هغه ته نه شي رسیدلې دلته دوه ټکي زیات شول .

اليك يعود السلام .

بل :

تباركت يا ذالجلال والاكرام . کې دا یا نشته دي په معروف حدیث کې .

تباركت ذالجلال والاكرام . لکه مخکې حدیث ذکر شو .

ثم يقوم الى السنة . بیا به سنت ته پاڅي .

قال الكمال وهذا هو الذي ثبت عنه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من الاذكار التي تؤخر عنه السنة ويفصل بينها وبين الفرض .

المبحث الرابع : الدعاء بهيئة الاجتماع :

دعاء بهيئة الاجتماع دليل د قرآن عظيم الشان چې تاسو نيسي د سورت يونس آيت ۸۸ او ۸۹ پرې دليل دي دلته موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دعاء كوي :

﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالًا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا عَن سَبِيلِكَ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰ أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴾

دا دعاء بنيري يې وكړې.

﴿ قَالَ ﴾ رب كريم ورته فرمايي :

﴿ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا ﴾ ستاسو دواړو دعاء قبوله شوه.

﴿ فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾

هلته لاړ شه.

قال موسى. دلته وايي :

اجيبت دعوتكما. دعاء موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ كړې جواب كې راځي دعاء ستاسې دواړو قبوله شوه هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ او موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ نو هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ خو دعاء نه وه كړې دده دعاء څنګه قبوله شوه مفسرين متفق دي دلته چې :

كان موسى يدعو وهارون يؤمن. موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دعاء كوله هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ امين ويلې.

والداعي والمؤمن شريكان.

دعاء والا او امين والا شريك في الدعاء دي.

نو دا دليل د دعاء بهيئت الاجتماع دي دعاء بعد الصلواة مخكې مونږ ثابته كړې ده شبهه دوي سره د دعاء بهيئت الاجتماع ده د دعاء بهيئت الاجتماع باره كې آيت هم وارد دي او حديث هم وارد دي چې جرم نه دي بلكې اجوبه ده كه هغه هر وخت وي كه بعد الصلاة وي كه قبل الصلاة وي خو انفرادي دعاء نه اجتماعي دعاء اجوبه ده.

سنن سعيد بن منصور التفسير جلد ۵ صفحه ۳۳۱ :

حدثنا سعيد قال حدثنا ابو معشر عن محمد بن كعب قال قال موسى ربنا انك اتيت فرعون وملأه زينة واموالاً في الحياة الدنيا الى قوله العذاب الاليم قال الله عز وجل قد اجيبت دعوتكما . قال كان موسى يدعو وهارون يؤمن والداعي والمؤمن شريكان .

دارنګې حلية الاولياء جلد ۳ صفحه ۲۲۶ :

حدثنا سليمان بن احمد حدثنا المقدام بن داؤد حدثنا حبيب كاتب مالك حدثنا هشام بن سعد حدثني زيد بن اسلم عن انس بن مالك قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما اجتمع ثلاثة قط بدعوة .

دري به راغونډ نه شي په دعا کله هم .

الا كان حقاً على الله . مګر حق ده په خدای تعالی دا :

ان لا ترد ايديهم . لاسونه به يې تش نه پريږدي تعميم سره څه کوي .

ما اجتمع ثلاثة قط . دري به کله هم راغونډ نه شي .

تعميم دي او که نه دي صلاة غير صلاة په کې نشته کله به هم راغونډ نه شي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ امت کې يادوي چې دري کسان به کله هم په دعاء راغونډ نه شي .

الا كان حقاً على الله ان لا ترد ايديهم . دا عام دي اوس د بعد الصلاة بهيئت الاجتماع . استثناء به دوي پيش کوي ددې عام نه چې پيش يې نه کړ دې عام کې داخل شو .

دارنګې حلية الاولياء جلد ۷ صفحه ۲۲۴ :

حدثنا ابو نصر محمد بن احمد بن ابراهيم الجرجاني حدثنا ابو القاسم بن عبيد القاضي حدثنا عبد الله بن قريش حدثنا بشر بن مرثد حدثنا اسماعيل بن يحيى حدثنا مسعر عن عطية عن ابي سعيد الخدري قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان الله تعالى يستحي من عبده اذا صلى في جماعة .

خدای تعالی حيا کوي د بنده نه چې په جمع مونځ وشي .

ثم يسأله حاجة . بيا ترې حاجت غواړي .

ان ينصرف حتى يقضيها . چې ودي ګرځي تر دې چې خدای تعالی ورته پوره کوي حاجت.

وايي چې په جمع مونځ وشي دعاء کوي خدای تعالی ته حياء ورځي چې دعاء يې قبوله نه کړي پوره کوي يې ورته.

دارنګې الدعاء للطبراني جلد ۱ صفحه ۸۵:

حدثنا محمد بن عثمان بن ابي شيبة حدثنا احمد بن يونس حدثنا عمران بن زيد التغلبي عن خطاب بن عمر عن الحسن عن انس بن مالك رضي الله عنه قال خرجت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم من البيت الى المسجد.

دې وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک سره را روان ومه د کور نه مسجد ته رابهرشو.

وقوم. يو قوم دي.

في المسجد رافعي ايديهم. پورته کړي يې وه لاسونه.

يدعون الله عزوجل. يو قوم راغوند دي په شريکه دعاء کوي.

فقال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم هل ترى ما أرى بأيدي القوم. اى حضرت انس رضي الله عنه ښکاري درته هغه نور چې زه يې ګورم په لاسونو د قوم کې په دې کې چې کوم نور او رحمت وريږي تا ته ښکاريږي.

فقلت ما ترى في أيديهم. ما عرض وکړو ته څه شي ګوري په لاسونو ددوي کې.

فقال نور. نور ګورمه.

قلت. ما عرض وکړو.

ادع الله تعالى أن يرينيه. ما ته هم دعاء وکړه چې ما ته يې هم وښايي.

قال فدعا. نبي عليه السلام دعاء وکړه.

فرأيته. ما هم وليدل هغه نور ما وليدو چې کوم د صحابه وو په لاسونو کې راپريوتو.

فقال. بيا يې عرض وکړو.

يا انس استعجل بنا . را تيز شه .

حتى نشرك القوم . چې مونږ دې قوم سره شريک شو .

فاسرعت مع نبي الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره راتيز کړو مزل زمونږ .

فرفعنا ايدينا . مونږ هم لاسونه اوچت کړل .

هيئت اجتماعي دعاء کې مو ځان شريک کړو دا فضيلت د هيئت اجتماعي دعاء ده.

دارنګې البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ٣٦١ : علاء بن عمر الحضرمي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د بحرين په غزوه باندې روان دې دا ډيرې عظيمې دشتې دي نو په دې کې را روان دي په يو ځاى کې دشته کې ننوتې دي او داسې ځاى ته داخل شوې دي چې اوس حيران دي چې مخکې څو اوبه به راشي او کنه که بيرته په شاه څو نو هم دري يا څلور ورځې مزل دي اوبه خلاصيږي .

اتفاق يې په دې راغې چې راځي مخکې به لاړ شو چې کوم ځاى ته ورسيدو چې بيا مخکې لاړل د اوبو پته ونه لګيدله او د دشتې د سر هم څه پته نه لګي او خلک هم نشته دي دوي روان دي نو چې اوبه ورسره خلاصې شوې اوس که بيرته واپس راځي نو مزل ډير زيات دي که مخکې ځي د اوبو څه امکان نشته دي نو همدلته يې واړول او په خپلو کې يو بل ته وصيتونه وکړل که زه مړ شومه د فلاني قرض دي راباندې وغيره يو بل ته يې وصيتونه وکړل د تندې د لاسه دې حد ته ورسيدل .

علاء بن عمر الحضرمي امير د قوم دي يو دم هغه جلال کې راغلو قوم يې راغونډ کړو وايي تاسو ولې په حقه نه يې راځي چې دعاء کوو دعاء يې شروع کړه .

نو صاحب د البداية هغه ذکر کوي ورته ګوري :

ولم يقدروا منها على بعير واحد . يو يو په يوه اوښ کيناستې نه شو د کمزورې د لاسه.

فركب الناس من الهم والغم مالا يحد ولا يوصف .

داسې غم او هم ته ورسيدل چې په وصف کې نه راځي ويلې نه شم درته .

وجعل بعضهم يوصي الى بعض فنادى منادي العلاء .

د آمير علاء بن عمر الحضرمي آواز کوونکي آواز وکړ.

فاجتمع الناس اليه فقال ايها الناس الستم المسلمين ؟ الستم في سبيل الله؟ الستم انصار الله ؟ قالوا بلى قال فابشروا فوالله لا يخذل الله من كان في مثل حالكم .

تاسو به خدای تعالی کله هم په خذلان کې وانه چوي .

ونودي بصلاة الصبح . د سحر د لمانځه آواز وشو يعني آذان وشو .

حين طلع الفجر فصلى بالناس . مونځ يې وکړو خلکو ته .

فلما قضى الصلاة . کله چې مونځ خلاص شو .

جثا على ركبته . کیناسته په زنګنونو باندې .

وجثا الناس . خلک هم په زنګنونو کیناستل .

ونصب في الدعاء . ځان يې ستړې کړو په دعاء کې .

ورفع يديه . لاسونه يې اوچت کړل .

وفعل الناس مثله . او خلکو هم لاسونه اوچت کړل دا دعاء بهيئت الاجتماع ده د سحر لمونځ نه بعد لګيا دي دعاء کوي .

حتى طلعت الشمس . لمر پر راوختلو او دوي لګيا دي .

وجعل الناس ينظرون الى سراب الشمس يلمع مرة بعد اخرى وهو يجتهد في الدعاء . دې په دعاء کې لګيا دي کوشش کوي .

فلما بلغ الثالثة . کله چې دريمې دعاء ته ورسيدل .

ګوري درې دعاګانې کړې بهيئت الاجتماع شوې دي .

اذا قد خلق الله الى جانبهم غديراً عظيماً من الماء القراح .

ګوري چې سوچه خالصې صفا سوچه اوبه په خوا کې دشته بنائسته ډنډ خدای تعالی راپيدا کړو دا ددوي کرامت وه .

فمشى الناس اليه فشربوا واغتسلوا.

دعاء بهيئت الاجتماع ثلاثاً درې ځل شوې ده .

دا خاصتاً رد په اهل حديثو دي چې هغوي د فرضو نه پس هم دعاء بهيئت الاجتماع ته بدعت وايي او ناروا يې گني.

المبحث الخامس : في تكرير الدعاء ثلاثاً :

صحيح مسلم معرب بيروت چاپ جلد ۵ صفحه ۱۷۹ مكي حالات ذكر كيږي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سجده باندې پروت دي كافران راغلل داوښې پيروان وغيره يې راوړل هغه واقعه دا:

ساجد ما يرفع رأسه حتى انطلق انسان فأخبر فاطمة. چا فاطمه بي بي خبره كړه.

وهي جويرية. هغه وړه ماشومه وه.

فطرحته عنه. څه يې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په اوږو مباركو اچولې ول هغه يې تري وغورځول.

ثم اقبلت عليهم تشتمهم. فاطمه بي بي كفارو ته مخامخ شوه كنځل يې ورته كول.

فلما قضى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلاته. كله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ خلاص كړو.

رفع صوته. آواز يې اوچت كړو.

ثم دعا عليهم. ښيري يې شروع كړي مونځ شوې د مانځه پسې دعاء او ښيري دي.

وكان. وه طريقه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ:

اذا دعا دعا ثلاثاً. كله به يې چې دعاء كوله دري دعاگانې به يې كولې.

واذا سأل سأل ثلاثاً. كله چې به يې سوال كولو دري سوالونه به يې كول.

اذا دعا دعا ثلاثاً. ابي داؤد كې د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دادى چا تپوس د دعاء كړې چې دعاء څه ته وايي هغه وايي دعاء دې ته وايي:

ان تقنع بيديك عند الصدرك ثم تمسح بهما على وجهك. لاسونه به د سينې په اندازه اوچت كړي څه به ووايي بيا به يې په مخ باندې راكاږي دا دعاء ده.

او يا دا رنگې عبارت دى:

ان ترفع يديك حذو منكبيك أو نحوهما.

نو شريعت کې د دعاء هيئت دغه دي ګوري چې تاسو ته صحابي په حديث مبارک کې حکايت وکړي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ صلی رکعتين دوه رکعته لمونځ يې وکړو اوس دې تا ته ونه وايي چې اودس يې هم ورته کړې وه قبلې ته مخامخ وه جامې يې هم پاکې وې او مکان هم پاک وه الله اکبر هم ويلې سورة فاتحه يې هم لوستلې نو دې ويلو ته خو ضرورت نه وي کنه خپله سړي پوهيږي چې هيئت د لمونځ څه دي همغه شان يې کړي د صلی رکعتين نه معلوميږي کنه.

کله چې راوي د حديث ووايي چې دعا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دعاء وکړه او هيئت د دعاء تاسو ته له احاديثو نه ثابتوي چې په تشهد به کيني قبلې ته به کيني اودس به دې وي لاسونه به دې د سينې په اندازه اوچتوي په مخ به يې راکاږي که اوس رفع د ايديو په کې صحابي ذکر کړه او که ذکر يې نه کړه دعاء ده داسې چې سړي په کې لاسونه اوچتوي چې لاسونه اوچت نه شي دعاء نه ده هيئت د دعاء نه دي برابر شوې نو دا ډير کم فهم انسان کار دي چې وايي فلاني روايت کې دعاء راغله خو رفع د ايديو نه ده راغلې.

اوس به رفع د ايديو ماته ښايي دا خو محض تعصب دي د دعاء هيئت بدون د رفع د ايديو نه څوک ښودلې نه شي هغه دعاء چې دعاء محضه وي او خارج له لمانځه نه وي هر چې داخل د لمانځه دي د هغې صور رفع د ايديو حرکاتو لره مستلزمه ده په يدينو باندې له دې وجې نه ترک شوې ده نو چې وي ويل:

اذا دعا دعا ثلاثا. دعاء به يې کوله دري دعاګانې به يې کولې اوس چې ما نه څوک حکايت کوي چې فلاني مولوي صاحب پسې مې لمونځ وکړو دري دعاګانې وکړي نو هغه د رفع د ايديو ذکر ما ته نه کوي خلک پوهيږي چې ده لاس اوچت کړې دي په مخ يې راښکلي دي ځکه هيئت د دعاء دغه دي په هره تکړه کې خو تفصيل څوک نه کوي او که داسې تفصيل غواړي نو بيا به يوه مسئله هم ثابته نه کړي لکه مخکې ما تاسو ته وويل چې د سحر د سنتو متعلق زه تپوس کومه چې د سحر په سنتو کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په اول رکعت دوه سجدې کړي که دري يې کړي او که يوه سجده يې کړې ده که ته وايي چې دوه سجدې يې کړي نو وښايه نه شي ښودلې سوال ده دې نه چې:

صلی رکعتین . خو د هغه دوه رکعتونو هیئت مونږ ته معلوم دي چې هر رکعت کې یوه رکوع او دوه سجدې کیږي دغه شان یې کړې دي نو دغه شان چې حدیث مبارک کې راغلل چې دعا رفع د ایدیو په کې خپله راغله دوي بیا څه وایي نه ددې دا مقصد دي چې رب اغفر لي رب اغفر لي نو لالا دا خو ددې معنی ده چې اذا سأل سأل ثلاثاً اذا دعا دعا ثلاثاً هغې ته معنی پیدا کړه دعا یې درې کړې په هر دعاء کې درې سوالونه کړي هغه سوال به یې درې ځل مکرره وو .

قال اللهم علیك بقریش ثلاث مرات .

ګوري داد سأل ثلاثاً د هغې تفصیل دي .

نو اذا دعا دعا ثلاثاً دې نه استدلال دي چې دعاء درې ځل په کار ده دغه ځای باندې منهاج وګوري امام نووي صاحب لیکي :

فیه استحباب تکریر الدعاء ثلاثاً .

په دې حدیث کې ثبوت ددې دي چې دعاء به درې ځل مکرریږي .

دارنګې صحیح مسلم معرب بیروت چاپ جلد ۷ صفحه ۱۴ :

حدثنا ابو کریب حدثنا ابن نمیر عن هشام عن ابیه عن عائشة قالت سحر رسول الله صلی الله علیه وسلم یهودي من یهود بني زُریق یقال له لبید بن الأعصم قالت حتی کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یخیل الیه انه یفعل الشيء وما یفعله .

دا هغه د سحر واقعه ده .

حتی اذا کان ذات یوم . یوه ورځ شوه .

او ذات لیلة دعا رسول الله صلی الله علیه وسلم ثم دعا ثم دعا . دعاء یې وکړه ، بیا یې دعاء وکړه ، بیا یې دعاء وکړه په دغه شپه ورته فرښتې راغلې او هغه سحر ختم شو .

همدغه روایت کې مذکور دي اوس که ته وایې چې دعا راغله خو رفع د ایدیو نه ده راغلې .

صحيح مسلم جلد ٣ صفحه ٦٤ ، عائشه بي بي فرمايي ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زما په نمبر کې وه د شپي رانه بهر شو دې سره دا غم پيدا شو چې د بلې بي بي کوټې ته نه وي تللې نيغه پسې رابهر شوه يو کوټه يې وکتله په هغې کې نشته بهر ته پسې راووتله بهر هم نشته ده بس پوه شوه چې جنت البقيع د صحابه کرامو مقبرې ته به تللې وي مقبرې ته پسې عائشه بي بي لاړه نو هغه واقعه را اخلي :

فجعلت دِرعي في رأسي واختمرتُ . ځان مې پټ کړو په خمار کې .

وتقنعت ازاري ثم انطلقت على اثره حتى جاء البقيع فقام فأطال القيام ثم رفع يديه ثلاث مرات . بيا يې درې ځل لاسونه اوچت کړل .

ثم انحرف فانحرفت فاسرع فاسرعت فهرول فهرولت . هغه راپسې رامنډه ما هم ترې منډه کړه .

فاحضر فاحضرت فسبقته . زه ترې مخکې شوم .

فدخلت فليس الا ان اضطجعت . هغه چې را دننه شو ما ډډه وهلې وه اوږده واقعه ده نو دې ځای کې رفع د ايديو ثلاث مرات راغله دعاء کې اوچتول د لاسونو درې ځل ثابت شو .

امين الله بشاوري وهابي نه استفتاء شوې درې دعاګانې څنګه دي نو جواب يې ورکړې دي وايي چې اذا دعا دعا ثلاثاً معنی دا چې رب اغفر لي ، رب اغفر لي ، رب اغفر لي ، دې کې د لاس اوچتول نه دي راغلي بيا ترې تپوس دا دويم حديث کې شوې چې دې روايت کې خو رفع د ايديو راغلې ده درې ځل وای دا په مقبره کې جائز دي خو په مسجد کې ناروا دي دا خو مجتهد صاحب دي کنه دده مقلدين شي چې د جهنم په غاړه مو ودروي نو دا دده اجتهاد دي چې په هديره کې يو شي جائز شي نو په مسجد کې ناجائز شي دعاء ده چې هلته ثابته شوه درې ځل نو اوس به بل ځای کې به ناروا وي بل متعصب به پيدا شي هغه به وايي چې په مدينه منوره جنت البقيع کې رفع د ايديو ثابته ده خو د رحمان بابا په هديره کې ناروا ده نو بيا به ورته دلته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ثبوت له کومه کړو .

دا هسې تعصبات دي او ضدونه دي تمکينات د عباداتو لپاره د شرائطو نه ، نه وي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه يو عمل يو مکان کې ثابت شو هغه بيا داسې نه ده چې په بل مکان کې به هغه

عمل ناروا وي بیا په بل ځای کې به هم هغه عمل همغه حکم لري نو رفع د ایدیو په دعاء کې ثابته شوه دري کرته امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ دلته تکریر د دعاء ثلاثاً او رفع د ایدیو في الدعاء ثلاثاً ثابتوي.

همدغه ځای باندې په منهاج کې خبره کوي حال دادی بشاوري دلته دا جواب کړي چې نه دا په هدیره کې شوې ده په مسجد کې ناروا بدعت ده او بیا چې په هدیره کې بو ځل لاس اوچتوي نو لاس دې په چوکه وهي او بدعتي درته وایي بیا یې یو ځل هم نه مني هغه بل اړخ ته یې بیا فتوی څه ده چې هدیره کې لاس او جتول روا دي هغه کله روا ګڼي بیا نو هدیره کې یو ځل رفع د ایدیو نه مني او چې دلته ونختل وایي دا په هدیره کې اوچت شوې.

دارنګې ابي داؤد جلد ۱ صفحه ۵۶۱:

حدثنا احمد بن علي بن سويد السدوسي حدثنا ابو داؤد عن اسرائيل عن ابي اسحاق عن عمرو بن ميمون عن عبدالله ان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يعجبه ان يدعو ثلاثاً ويستغفر ثلاثاً.

محبوبه ورته دا و چې دعا دري وکړي او دارنګې بخښني دري وغواړي.

آخره کې د فيض الباري عبارت درته ذکر کوم د ديوبند د علماء چې دوي وايي د ديوبند علماء دې ته بدعت وايي غلطه خبره کوي داد شاه انور شاه صاحب دي په فيض الباري جلد ۲ صفحه ۳۷۵ کې وايي:

ومع ذلك وردت فيه ترغيبات قولية. د قولي روایاتو ترغيبات په دعا کې ډير زيات راغلي دي.

والامر في مثله ان لا يحكم عليه بالبدعة. امر په مثل د داسې څيزونو کې چې قولي احاديث په کې وي دا دې چې په هغې دې حکم د بدعت ونه شي.

فهذه الأدعية في زماننا ليست بسنة بمعنى ثبوتها عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالفعل. په دې معنی چې بالفعل دغه دعاء مسنونه شي ثابته نه ده.

وليست ببدعة. بدعت هم نه ده.

بمعنى عدم اصلها في الدين. چې په دين کې اصل نه لري.

والوجه فيه ما ذكرته في رسالتي نيل الفرقدين ان اكثر دعاء النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان على شاكلة الذكر لا يزال لسانه رطبا به ويبسطه على الحالات المتواردة على الانسان من الذين يذكرون الله قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم ويتفكرون في خلق السموات والارض ومثل هذا في دوام الذكر على الاطوار لا ينبغي له ان يقصر امره على الرفع.

دغه شان روايات حملول په دې چې مرفوع روايت په کې غوارم نه دي په کار چې هر ځای کې دې مرفوع روايت وغواړي.

فانه حالة خاصة لمقصد جزئي وهو دعاء المسألة فان ذقت هذا نفس عن كرب ضاق بها الصدر لا ان الرفع بدعة فقد هدى اليه في قوليات كثيرة وفعله بعد الصلاة قليلاً.

رفع د ايديو ياد وي چې ته دلته رفع د ايديو بدعت وګڼي وايي داسې نه ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رفع د ايډيو د مانځه نه بعد قليله کړې ده خو ليکن دې کې قولي روايات ډېر زيات دي.

وهكذا شأنه في باب الأذكار والاوراد اختار لنفسه ما اختاره الله له وبقي اشياء رغب فيها للأمة فان التزم احدمنا الدعاء بعد الصلاة برفع اليد فقد عمل بما رغب فيه وإن لم يكثره بنفسه.

که چيرته په ځان چا لازمه کړه يو کس دعا له مانځه نه وروسته په لاس اوچتولو سره نو ده عمل وکړو په هغه احاديثو باندې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ترغيبات قولي په کې پيش کړې دي اګر که بالفعل خپله به يې ډېره نه وي کړي خو قولي روايات په کې ډير دي.

ګوري التزام راغې دلته الزام نه دي التزام بدعت نه وي دوي کله وايي دعاء بعد السنة لازمي ګڼل که څوک يې نه کوي هغه رټل دا څنګه دي دعاء بعد السنة يا هريو څيز چې وي د منذوباتو او مستحباتو نه هغه لازم ګڼل په دوه قسمه دي:

يو لازمول د هغې دي په ځان باندې او بل لازمول د هغې دي په غير باندې لازمول د هغې په ځان باندې د هغې نه تعبير په التزام کيږي افتعال باب لازمي دي، او لازمول په غير باندې د هغې نه تعبير په الزام کيږي.

التزام د مالم یلتزم بدعت نه دي دا معروفه ده په ژبو د خلکو باندې چې اصولو لیکلي دي چې التزام د ما لم یلزم بدعت دي التزام د ما لم یلزم بدعت نه دي الزام د ما لم یلزم بدعت دي په بل چا لازمول د هغه کار چې لازم نه وي بدعت ده ځکه دا لازم ثابتول په غیر درجه د وجوب او د فرض ده او دا حق د شارع دي ته نو څوک یې چې په غیر یو شي لازموي.

لکه ما مخکې دا خبره خلاصه کړې وه چې غیر شارع شارع ګرځي له دغې وجې نه بل څوک الزام نه شي کولې او هر چې التزام دي دا جائز دي التزام د ما لم یلزم بدعت نه دي دلیل په دې باندې تمام نذور او وفاء په نذر باندې.

لکه مثلاً زه اوس وایمه چې څه صبا ته دا کار زما که وشو چیرته نو په ما به چیلي لازم وي زه به یې حلالوم بیا را باندې واجب شو کنه التزام د ما لم یلزم په دغه ورځ باندې چیلي په ما لازم نه وه مستحب خبره وه او ما په ځان لازم کړه تمام نذرونو کې التزام د ما لم یلزم دي.

زمونږ فقهاء لیکي چې کله راغلي جمعې ته لږ وخت پاتې ده نو ستا په دې مسجد کې ناسته د جمعې تر وخت او اداء د صلاة پورې مستحبه ده خو که تا وویل چې زه به تر مانځه پورې معتکف یمه نه به اوځم وایي تا ته اجر د واجبو ملاویږي ځکه تا التزام د مالم یلزم وکړو تا باندې خو دلته دا ناسته لازمه نه وه او تا په ځان لازمه کړه نو التزام د مالم یلزم بدعت نه دي بلکې جائز دي او ترغیبات په کې شته:

احب الاعمال الی الله تعالی ادومها وان قل.

کوم چې دائمي کیږي استمراري کیږي دا عمل خدای تعالی ته ډیر محبوب وي اګر که لږ وي لږ عمل دې وي د رتبې په لحاظ مستحب شو لږ عمل دې وي د عدد په لحاظ رکعات دي قلیل وي خو دائم دي وشي نو په ځان چې څوک کوم شي لازموي هغه بدعت نه دي او هر چې دوام استمرار سره یې کوي لازم یې نه ګڼي دا خو احب الاعمال الی الله دي.

مونږ چې دعا بعد السنة کوو نو نه مو التزام په خپل ځان کړي او نه مو الزام په غیر کړي دي دا چې التزام مو په ځان نه دي کړې دلیل څه شي دي واجب یې نه ګڼو مونږ یې مستحب ګڼو که دا مونږ التزام کولې دې ته به مونږ واجب ویلې مونږ به نذر کړې وای په ځان باندې نو دا التزام نه دي بلکې عملي دائمي استمراري کوو، او عمل دائمي استمراري د مستحبو د روایت د مسلم نه ثابت دي:

احب الاعمال إلى الله أدومها.

او الزام هم نه کوو ځکه چې زمونږ د جمعې لمونځ او نور لمونځونه په احنافو کې چې قائلين د دعاء بعد السنة دي زما نه سر سخته په کې نشته دي زه په کې ډير کلک يمه او زما په مسجد کې دا طالبان او سيږي دوي ګواه دي چې کله مونځ وشي څومره خلک وي او چې کله دعاء کيږي نو څومره خلک وي يعنې زيات خلک له دعاء مخکې ځي نو ما په چا باندې رد کړې دي او څوک مې رټلي دي ولې ځکه ما ته معلومه ده چې دوي دعاء مني.

دا زما مقتديان دي دعاء جائز ګڼي چې جائزيې ګڼي مسئله د اتيان او ترک اتيان راغله کول مستحب نه کول جائز د جمعې په ورځ زمونږ د اهلسنت مساجد ډک وي په دعاء کې يو څو صفه پاتې وي دا دليل د دې دي چې مونږ الزام نه دي کړي.

يوه خبره ده چې بعضې وخت يو مستحب څيز من شعار اهل السنة شي او ترک د مستحب له شعار د من اهل زيغ نه شي نو هغه جزيه جدا ده چې نن صبا دعاء بعد السنة د اهل سنت احنافو نښه ده او د سنتو پسې دعاء نه کول د وهابيانو اشاعتيانو مودوديانو جماعة المسلمين نښه ده.

چې ته په يو نامعلومه مسجد کې مونځ وکړي او امام دعاء ونه کړي دليل د څه شي دي چې دا پنجپيري وهابي دي کنه نښه د هغوي ګرځيدلې ده نو چې هر کله د غلطو خلکو نښه ترک مستحب وګرځيده.

اوس به د دغې ترک مستحب نه داسې ځان ساتي لکه حرامو نه چې ځان ساتي او چې هر کله اتيان په دعا بعد السنة شعار د اهل سنت احنافو وګرځيده نو اتيان په دې مستحبو دومره په کلکه کوي لکه فرض چې سړي په کلکه کوي له دې وجې نه چې دا شعارات او نښې شوې.

دلته اوس معلوميږي چې دا اهل سنت دي او يا د اهل زيغ نه دي نو دوام استمرار پرې کوي التزام په ځان هم نه کوو خو بيا هم دوام استمرار کول په کار دي.

او الزامات على الغير عقيده مونږ نه ساتو الزام په غير بيا بدعت لره مفضي کيږي د هغې وجه دا وي چې غير شارع شارع ګڼلې شي:

بالفعل دغه دعا زمونږ فقهاء کې بعضې کتابونو را اخیستې ده لکه حلب الکبیر چې کبیري ورته وایي صفحه ۳۴۱ ده نور الایضاح را اخیستي په صفحه ۸۰ باندې، خلاصة الفتاوی را اخیستې جلد ۱ صفحه ۱۰۵ باندې، شرح الیاس را اخیستې صفحه ۲۵۱، رد المختار را اخیستې جلد ۱ صفحه ۴۹۴، عیني را ایخستې جلد ٦ صفحه ۱۲۲.

د بدعت حسنه لپاره د ما رآه المؤمنون حسن فهو عند الله حسن نه استدلال کیدې شي او دا رنګې د من سن سُنة حسنةً فله اجرها واجر من عمل بها نه استدلال کیدې شي.

دا عام مسلمانان دومره شرقاً غرباً په دعاء بعد السنة باندې لګیا وه شُذر نُذر ددې دور پیدا شول دوي ترې نه واړول نو دا دومره مسلمانان چې په دې کار راغونډیږي او کار وي هم حسن د اصولو مخالف هم نه وي او بدعت هغه بدعت مذموم وي چې په قرون ثلاثه کې اصل ونه لري او رافع للسنة وي چې ددغې نوي کار په کولو باندې یو سنت ترک کیږي دا بیا بدعت مذموم دي ځکه چې زوریې سنتو ته ورځي او سنت پرې خرابیږي او که داسې کار حسن وي چې په هغې کې سنتو ته څه نقصان نه رسیږي سنت پرې نه خرابیږي که دا بدعت شي هم لفظي بدعت به وي بدعت حسنه به وي بیا.

مسئلة دُعا بعد الجنازة :

دعاء بعد الجنازة چې یوه بله مسئله متنازع فیها ده دا تتمه د هغې مخکنی بحث ده اصولو کې مونږ دا ذکر کړل چې دعاء د مأمور به غیر موقتي نه ده او په مطلق عن الوقت کې توقیتات په مکلف باندې وي او په داسې امورو کې نسبت د بدعت ورته نه شي کیدې په دغه لحاظ سره دعاء بعد الجنازة هم شوه خپله دعاء بعد الجنازة من حیث ذات حسنه ده څه قباحت نه لري که چا دې ته مکروه ویلې وي یا یې بدعت ویلي وي یا یې بل څه نسبت کړې وي هغه قبیح لذاته به نه وي لغیره به وي لکه مثلاً په قیام باندې سره د بقاء د صفوفو نه بحر الرائق وغیره مکروه کړي ده چې مکروه ان تقوم بالدعاء بعد الجنازة چې ته په دعاء بعد الجنازة باندې قیام وکړي که وایو چې صاحب د بحر الرائق نفس دعاء ته مکروه ویلي ده نو مکروه خو نهي غواړي څه دلیل به په نهي دې پیدا کړي.

او که وایو چې نه قیام بالدعاء یې مکروه ګڼلي دي هغه کراهت نه حمل شي په تنزیهي باندې نه تحریم باندې او دلیل به ورته دا شي چې نوي راتلونکي انسان ګمان د پنځم تکبیر ونه کړي لکه مخکې د یو فقیه قول مونږ ذکر کړو چې فرضو پسې صفوف ماتول په کار دي ځکه چې نوي راتلونکي کس ګمان ونه کړي چې جمع باقي ده اقتداء ونه کړي.

نو کوم ځاې کې چې فقهاء نسبت د کراهیت دې دعاء ته کړې ده حملیږي به په قیام بالدعاء باندې په ولاړه دعاء کول او یا که نسبت ورته د کراهیت شوې دې په زمانه د تابعینو کې هم شوې دي نو هغه شورش جوړولو ته چغې او شور چې یو ځاې نه هم یو سړي چغې کړي چې دعاء وکړي او د بل ځاې نه هم چغې کړي چې دعاء وکړي دا شور ما شور په څو مواضعو کې محدثین تابعین مکروه ګڼي.

من جمله د هغې نه وخت د تلاوت القرآن دې په دې کې شور ماشور دا هغوي بد ګڼي من جمله د هغې نه جنازه ده کله به چې جنازه حاضره شوه طریقه معموله د صحابه وو تابعینو سکوت تام وه ډیر به غلي وه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به دومره غلي وه چې پټي به یې ځان سره شونډې مبارکې خوزولې څه به یې ویل هغه څه دعاء به یې چې کوله هغه به یې هم پټه کوله ښکاره به یې نه کوله.

نو دا طولاني سکوت داد مسنوناتو نه وه او دغلته شور جوړول لکه اکثر زمونږ په
جنازو کې يو کس پاڅيږي يوه بله قومي خبره په کې کوي دې نه د يو سياسي اجتماع په توګه
کار اخيستل کيږي دغه څيزونو سره تابعين مخالف وه حتی چې په تابعينو کې څه داسې وو
چې هغوي :

استغفروا لاخيكم غفر الله لكم .

دغه زمانه کې يو رواج جوړ شوې وه جنازه به روانه شوه د جنازې امام به معلوم وه د دې
اواز لپاره به خپل سړي مقرر وه هغه به دې جنازه کې روان وه او چغې به يې وهلې :

استغفروا لاخيكم غفر الله لكم .

بخښنه وغواړي مړي ته خدای دې تاسو وبخښي .

دا چغې به يې په کې وهلي اوس دا خبره خپله ثابته په آحاديثو کې ده چې :

استغفروا لاخيكم غفر الله لكم .

او سره له دې نه حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ دا مکروه ګڼي يا بعضې نور فقهاءيې
مکروه ګڼي نو د هغې وجه څه ده مکروه په معنی د قبيح لذاته غير جائز مه اخله دا مکروه
تنزيهي باندې حمل کړه مکروه تنزيهي کړه قبيح لذاته مه ګڼه قبيح لغيره يې کړه .

قبيح لغيره څنګه شوله وجې د خارج نه چې طول صمت دلته مسنون وه هغه فوت شو
خلک غلي پاتې نه شول په چغو اخته شول نو نچوړ دا دی چې نفس دعاء بعد الجنازة وي که
بعد السنة وي که بعد الختم وي که هر وخت کې وي اجتماع وي که غير اجتماع وي دا
ممدوحه ده قبيحه نه ده حسن لذاته ده که دې ته څه قباحت راځي نو د خارج نه به د راتلو
امکان په کې شته ده چې هغه په بعد الجنازة کې لکه په بعد الفرض کې کراهت راغلو نو
کراهت به تحريمي نه وي ځکه دعاء حسن لذاته ده دا به تنزيهي وي دلته څه خلل راغې .

فصل راغې بين الفرض والسنة دا خلل راغې يا څه خلل راغې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د روايت
العدم خلاف په کې وشو چې لا يقعد د هغه عللو له وجې نه کراهيت دلته لازم شو خو نفس
دعا حسنه ده نو مکروه تحريمي بعد الفرض ته هم نه شي ويلې .

دغه شان بعد الجنازة دعاء حسن ده که چا دې ته مکروه ویلې دي قول به یې حملیږي په کراهیت تنزیهي باندې دا به قباحت لغیره وي حسن به لذاته وي د وجې ددې نه چې قیام بالدعاء مکوه فقهاء دا لفظ وایي چې قیام بالدعاء مکوه نفسِ دعاء نه منع کوي او کومو تابعینو نه چې نقل دي چې هغوي بد ګڼلې دي :

استغفروا لاخیکم او په حدیث کې ثابت دي تاسو ته به حوالې راشي چې نبي عَلَيۡهِٱلسَّلَامُ د استغفروا لاخیکم آواز کړې دي او دلته دوي دا مکروه ګڼي نو دا حمل دي په شور ماشور جوړولو باندې چغې وهل ددې او دې لپاره سړي معلوم کول.

چونکې طول صمت په جنازه کې د مسنوناتو نه وه او دا شور چغې د هغې په خلاف دي او هر چې دعاء ده مړي ته فائده کوي که په هر وخت کې وي دلیل په هغې باندې د سورة حشر ۱۰ نمبر آیت دي :

﴿ وَالَّذِينَ جَاءُوا مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾.

وروسته له دوي نه چې کوم مؤمنین راځي په حق د سابقینو اسلافو او دنیا نه تلو اشخاصو کې به دوي دعاء داوي :

﴿ اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾

دا دلیل ددې شو چې نفس دعاء مړي ته فائده رسوي او رد راغې په دې کې په معتزله وو باندې، معتزله د دعاء قائل نه دي مړي لره هغوي وایي نفس ایصال ثواب ناروا دي او اهلسنت قائل دي بیا اهل سنت کې فرقتین راغلل.

جمهور ائمه د عبادت بدني د عبادت مالي د مشترک بینهما ددې تولو ایصاباً بخل جائز ګڼي او امام شافعي رَحِمَهُٱللَّهُ په عبادت بدنیو کې په صلاة قراءت تلاوت ددې ایصاباً اجازت نه ورکوي امام شافعي رَحِمَهُٱللَّهُ له اهل سنت نه په دې باندې قائل دي او جمهور ائمه دا ټول جائز ګڼي.

دې ځای باندې زه درته يوه حواله ذکر کوم شرح الصدور بشرح حال الموتی والقبور د امام سيوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ جلد ۱ صفحه ۲۹۷ :

واخرج ابي الدنيا عن سفيان قال كان يقال الاموات احوج الى الدعاء من الاحياء الى الطعام والشراب.

مړي دعاء ګانو ته احوج دي د احياو نه طعام او شراب لره يعنې دوي چې طعام او شراب ته احوج دي دې نه مړي دعاء ته احوج دي.

وقد نقل غير واحد الاجماع على ان الدعاء ينفع الميت.

غير واحد اجماع نقل کړې په دې چې دعاء نفع مړي ته رسوي.د ليل د قرآن عظيم الشان نه دا :

﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ﴾ الآية

بيا بل روايت پيش کوي :

واخرج ابن ابي الدنيا عن بعض السلف قال رأيت خالي في النوم بعد موته فقلت . ما ورته وويل.

ايصل اليك دعاء الاحياء قال اي والله يترفرف مثل النور. د نور په شکل را روانه وي.

مونږ ته پاتې شوه دعاء بعد الجنازة د قرآن عظيم الشان نه به استدلال کوي : **﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ﴾** نه هلته مخکې دلائل په دعاء بعد السنة کې : **فاذا فرغت من صلاتك فانصب بالدعاء**،دا عام دي بيا بالخصوص د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دويم قول: **اذا فرغت من الصلاة المكتوبة فانصب في الدنيا**، فرض مونځ نه چې فارغ شي دعاء کې ځان ستړي کړه.

په فرضو کې جنازه داخله ده د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د صلاة مکتوبه کوم تقيد چې بعضې مفسرينو را اخيستې هغې نه د دعاء بعد الجنازة لپاره ثبوت کيدې شي .

حکایت :

ما ته يو عالم راغلې وه ددوي هغه ما ته يې وويل دعاء بعد الجنازة نبي اکرم ﷺ کړې ده ما ورته وويل دلائل د شرعې څو دي وايي چې هر څو دي هغه خبره خو نه چيرمه دعاء يادوم دا يې کړې ده که نه يې ده کړې ما ورته وويل چې ته ما ته دلائل د شرعې ووايه دا ستا جواب په کې شوې دي دلائل د شرعې څو دي وايي دري دي کتاب الله سنت رسول او اجماع.

ما ورته وخندل ورته مې وويل وهابي يې خو داسې بې غيرته شان وهابي يې ځکه غيرتي وهابي اجماع هم نه مني هغه وايي کتاب الله او سنت رسول بس دوه مني ته خو بنه يې درې دي کړه نو ما ورته وويل چې کتاب الله دليل دې وايي چې هاو : ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ﴾ کله چې فارغ شي له عبادت نه ځان ستړي کړه دعاء کې ما ورته دا ترجمه وکړه ځکه يو قول دا هم شته ما ورته وويل دا جنازه عبادت ګڼې که نه يې ګڼې وايي نه دلته خو عبدالله بن عباس رضي الله عنه بله ترجمه کړې نو دومره لالاګان دي حافظې خو ترې خداى تعالى اخيستې دي کنه په دې اوس نه پوهيږې چې زما بحث په بعد السنة کې دي که په بعد الجنازة کې دي.

وايي دلته خو د ابن عباس رضي الله عنه بله ترجمه مروي ده ما ورته وويل څه ده او زما مقصد هم دا وه ما وويل چې دا ترجمه هم دې راته وکړې وايي چې :

اذا فرغت من صلاة المکتوبة فاتعب في الدعاء.

ما ورته وويل دا ترجمه صحيح ده وايي هاو ما ورته وويل د جنازې لمونځ فرض دي که نه دي يو دم کلک ونختنه وايي نبي عليه السلام کړې او که نه يې ده کړې ما ورته وويل چې دا ووايه چې يو اځې فعل الرسول دليل د نيا کې نه اخوا کتاب الله دليل نه دي په دې قول وکړه ووايه چې قول الرسول دليل نه دي تقرير الرسول دليل نه دي ووايه فعل الرسول دليل دي دا ووايه زه يې هغې کې بيا درته بنايم.

خو داسې اصل جوړ کړه چې د فعل الرسول نه سوا دليل نه منمه دا ډير د جاهلانو اعتراض دي چې وايي دا کار رسول الله مبارک ﷺ کړې دي که نه دې کړې دا اعتراض چې چا وکړو نو پوهه شه چې غټ جاهل دي او سه پورې په دې هم نه پوهيږې چې

ادله د شرعې ثبوت دي په دې هم لا خبر نه دي نو چې دا ثوک وايي چې ياره دا كار نبي عَلَيْهِ السَّلَام كړي كه نه يې دي كړې دده مقصد دادی چې كړې وي منمه يې كه نه يې وي كړې جائز نه شو نو دا به قول د هغه چا وي چې فعل الرسول به دليل ګڼي او د فعل الرسول نه سوا به هيڅ دليل نه ګڼي ، او داد هيڅا مذهب هم نه دي خپله دده قائل د قول مذهب هم نه دي نو استدلال دده آيت كريمه نه په دُعا بعد الجنازه كيدې شي .

بالفعل دعاء بعد الجنازة عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۱۲ صفحه ۱۶۴ د حضرت عبد الله بن ابي بكر روايت ده :

قال لما التقى الناس بمؤتة . موته كې چې كله جنګ شروع شو .

جلس رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على المنبر . هغه حالات ورته كشف شول .

وكشف له ما بينه وبين الشام فهو ينظر الى معتركهم .

دې كې رد د هغه چا وشو چې وايي دا وحي كيدله وحي نه وه دا ډارک كشف وه .

فقال أخذ الراية زيد بن حارثة . جنډا حضرت زيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لاس كې ونيوله .

فمضى . لاړو .

حتى استشهد . تر دې چې شهيد شو .

راوي وايي :

وصلى عليه . نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونځ د جنازې پرې وكړو .

ودعا له . دعاء يې ورته وكړه .

وقال استغفروا له .

تاسو هم ورته بخښنه وغواړي دغه مونځ د جنازې دي او دا دعاء ده وروسې د استغفروا له آواز دي اجتماعي دعاء ده .

وقد دخل الجنة وهو يسعى ثم اخذ الراية جعفر بن ابي طالب فمضى حتى استشهد فصلى عليه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ودعا له وقال استغفروا له وقد دخل الجنة فهو يطير فيها بجناحيه حيث شاء .

امام واقدي په المغازي کې هم دا حدیث ذکر کړې جلد ۱ صفحه ۷۶۲.

دارنګې المبسوط للسرخسي جلد ۲ صفحه ۴۴۷ دې کې روایت دي:

عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انهما فاتتهما الصلاة على جنازة فلما حضرا.

جنازه ترې تللې وه دوي حاضر شول.

ما زاد على الاستغفار له. زیادت یې په استغفار باندې ونه کړو.

دا ژمونږ احناف کوم ځای کې را اخلي تکریر د جنازې زمونږ احناف مکروه ګڼي دا ورته دلائل پیش کوي که تکریر په کار وای دوي به جنازه مکرره کړې وای.

نو ما زاد معنی زیادت یې ونه کړو یعنې تکریر یې ونه کړو فقط دعاء یې وکړه خو دعاء ممنوعه نه وه جنازې پسې دعاء ممنوعه نه وه هغه یې وکړه هر چې تکریر د جنازې وه هغه ممنوع وه وي نه کړو نو:

فلما حضرا ما زاد على الاستغفار له.

دا دوه کسان دي یو نه دي هغه اعتراض هم دفعه شو چې دا انفرادي شوې ده نو انفرادي نه شوه اجتماعي شوه.

وعبد الله بن سلام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فاتته الصلاة على جنازة. عبد الله بن سلام نه مونځ د جنازې فوت شو د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ جنازه وه.

فلما حضر. هر کله چې دې راغې.

قال ان سبقتموني بالصلاة عليه فلا تسبقوني بالدعاء له. اوس جنازه شوې دء دعاء پاتې ده.

دې نه معلومیږي چې په دغه وخت کې جنازې پسې دعاء کیدله آواز ورباندې کوي چې جنازه کې مو مخکې والې راباندې وکړو جنازه تیره شوه دومره صبر وکړي په دعاء کې مخکې والې مه کوي دعاء خو را نه مه تیروي.

دا ثابتوي چې دې زمانه کې دعاء کیده بعد الجنازة او جنازه ترې تیره ده او په دعاء باندې آواز کوي چې دعاء را نه مه تیروي.

بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع جلد ۳ صفحه ۲۸۶ کې هم دا حدیث ذکر کړې دي.

يو د جنازې نه مخکې دعاء ده بل د جنازې نه وروسته دعاء ده جنازې نه مخکې دعاء ته تعزيت ويلې شي که مړي ته بخښنه غواړي او که د مړي وارث ته دعاء کوي هغه هم جائز ده دليل په هغې باندې روايت د بخاري شريف دې معرب بيروتي چاپ جلد ۵ صفحه ۱۴ ابن ابي مليکة روايت کوي :

انه سمع ابن عباس رضي الله عنه وضع عمر على سريره . عمر فاروق رضي الله عنه په کټ واچولې شو چې کله شهيد شو په کټ واچولې شو .

فتكنفه الناس يدعون ويصلون قبل ان يرفع .

تکنف وضع د احد په اخر باندې کنف لره يو چې په بل لاس واړوي رش ورباندې جوړ دي خلکو يو بل باندې لاسونه اړولې وه پرې راټول شوې وه .

يدعون . دعاگانې کولې .

ويصلون . د رحمت دعاءيې کوله .

قبل ان يرفع . مخکې د اوچتيدو د کټ نه .

گوري رفع د جنازې نه ده شوې چې مقبرې ته يې وړي د هغې نه مخکې دعاء ده .

وانا فيهم . او ابن عباس رضي الله عنه فرمايي : زه هم په کې وم ما هم دا دعاء کوله .

فلم يرعني الا رجل اخذ منكبي . وه يرولم مگر دا چې يو سړي اوږې نه ونيولم .

فاذا علي . گورم چې حضرت علي رضي الله عنه دي .

فترحم على عمر . عمر فاروق رضي الله عنه باندې د رحمت دعاء وکړه . رحمك الله .

او بيا ورته مخاطب شو ورته وايي :

وقال ما خلفت احدا احب الي ان القى الله بمثل عمله منك . نه دې دَې پريښې احب الى الله چې هغه دې د خداى تعالى سره ملاقي شي تر مرکه دې دده په شان عمل عامل وگرځيږي .

منك . ستا نه يا عمر داسې خليفه دې پرې نه ښودلو يعنې ستا هم مثل عمل والا نشته دي .

وايم الله . قسم بالله .

ان كنت لاظن ان يجعلك الله مع صاحبيك.

قسم بالله زما گمان دادی قسم سره تاکید راغې چې تا به گرځوي خدای تعالی له دوه ملگرو سره د هغوي رفيق به په جنت کې يې.

داد يو چا باره کې حسن ظن سره قول کول جائز دي يقين سره نه شي ويلې او دې پرې قسم کوي دا دليل د تاکيد دي.

وحسبت اني كنت كثيرا اسمع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ډير ځل اوريدلي وه چې داسې به يې ويل.

ذهبت انا وابوبكر وعمر ودخلت انا وابوبكر وعمر وخرجت انا والخ.

داسې الفاظ دي يعنې هره خبره کې به يې دا دري خبرې کولې.

زه ابوبكر او عمر لاړو مونږ دري واړه را دننه شو يا لکه هغه بقري چې کومې خبرې کړې وي معجزه کې هلته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمائلي وه زه ابوبكر او عمر په دې يقين لرو داسې ډيرو خبرو کې به يې دا دواړه ځان سره شريکول دې نه قبل الجنازة قبل رفع سرير دعاء ثابتيږي چې دوي به دغه وخت کې دعاگانې کولې يدعون ويصلون قبل ان يرفع.

او هر چې دفن نه وروسته دعاء ده هغه هم جائزه ده د هغې روايت سنن الکبری د بيهقي دي جلد ۴ صفحه ۴۵ علقمة بن مرثد راوي ده:

قال صلى علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ على يزيد بن المكفف النخعي فجاء قرظة بن كعب واصحابه بعد الدفن فامرهم ان يصلوا عليه.

امر يې ورته وکړو دعاء ورته وکړي دا دعاء بعد دفن شوه د بعد دفن د پاره هغه آيت هم دليل دي.

لا تقم على قبره. مه اودريږه په قبر د منافق باندې دغه د څه شي د پاره دي.

للدعاء دي بعد الدفن قيام للدعاء وللتثبيت نو چې هر کله د منافق په قبر مه دريږه نو خپله ثابته شوه چې د مؤمن په قبر اودريږه.

لا تصل على احد منهم مات ابدا. مونځ د جنازې پرې مه کوه خو په مؤمن يې کوه.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۳ صفحه ۳۳۱ کې ذکر کوي: عمر بن سعيد رضي الله عنه فرمايي:

قال صليت مع علي على يزيد بن المكفف فكبر عليه اربعاً. مونږ مې وکړو د حضرت علي رضي الله عنه سره په يزيد بن مکفف باندې څلور تکبيره يې وکړل.

ثم مشى حتى اتاه. لاړ تردې چې راغې دې مړي ته.

فقال اللهم عبدك وبن عبدك نزل بك اليوم فاغفر له ذنبه ووسع عليه مدخله فانا لا نعلم الا خيراً وانت أعلم به. دا دعاء ده دا حضرت علي رضي الله عنه په يزيد بن مکفف باندې وروسته له جنازې نه کړې ده.

دارنګې بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع جلد ۳ صفحه ۲۸۵ تکرير د جنازې مکروه ګڼي احناف دليل وايي:

ولنا ما روي ان النبي صلى الله عليه وسلم صلى على جنازة فلما فرغ جاء عمر ومعه قوم. يو ډله راغله.

فاراد ان يصلي ثانياً. د دويمې جنازې اراده يې وه.

فقال له النبي صلى الله عليه وسلم الصلاة على الجنازة لا تعاد. مونځ په جنازه بيا نه راګرځيږي.

ولكن ادع للميت واستغفر له. دعاء ورته وکړه بخښنه ورته وغواړه.

نو دلته عمر فاروق رضي الله عنه يوازې نه دې ملګري ورسره.

قوم معه. ډله ده ورسره.

نو دغه وخت سره دعاء بعد الجنازة که ناروا وې ممنوعه وې نبي عليه السلام به د هغې نه هم خلک منع کړي واې نه دعاء بعد الجنازة جائزه ده نو د هغې يې ورته امر وکړو او تکرير د صلاة ممنوع وه د هغې نه يې منع کړل.

وهذا النص في الباب. صاحب د کتاب ليکي.

وروي ابن عباس وابن عمر رضي الله عنهما فاتتهما صلاة على جنازة فلما حضرا مازاد على الاستغفار له. زيادت يې ونه کړو سوا د استغفار او دعاء نه.

دارنګې د مړي پسې قبل الدفن دعاء کول یا بعد الدفن دعاء کول د هغه په حضور د هغه په غیاب ناروا نه دي صحیح مسلم جلد ۷ صفحه ۱۷۰ د ابي عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دي هغه یو شخص ته وایي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لاړ شه زما سلام ورته ووایه :

وقل له يقول لك ابو عامر استغفر لي . او ما ته بخښنه وغواړه .

قال واستعملني ابو عامر على الناس ومكث يسيراً ثم انه مات فلما رجعت الى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخلت عليه وهو في بيت على سرير مُرمل (أي مرمول) منسوج وعليه فراش . اثر جوړ کړې وه .

رمال السرير (أي السرير المرمول). دلته اضافت د صفت موصوف ته شوې دي .

بظهر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وجنبيه فاخبرته بخبرنا وخبر ابي عامر و قلت له قال قل له يستغفر لي . ...

ابو عامر مړ شو خو ما ته یې ویلي وه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ووایه چې ما ته بخښنه وغواړي .

فدعا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بماء فتوضاء منه ثم رفع يديه ثم قال . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوبه راوغوښتې اودس یې وکړو بیا یې لاسونه پورته کړل بیا یې وویل .

اللهم اغفر لعبيد ابي عامر . عبید یې نوم ده ابو عامر یې کنیه ده نو دا نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعد الوفات دعاء کړې ده .

دارنګې رد المختار جلد ٦ صفحه ۴۰۴ :

مطلب في القراءة للميت واهداء ثوابها له صرح علماؤنا في باب الحج عن الغير بأن للانسان ان يجعل ثواب عمله لغيره صلاةً او صوماً او صدقةً او غيرها كذا في الهداية بل في زكاة ايضاً التتارخانية عن المحيط الافضل لمن يتصدق نفلاً ان ينوي لجميع المؤمنين والمؤمنات .

ټولو پسې دي وبخښي .

لانها تصل اليهم . ځکه هغوي پسې رسي .

ولا ينقص من اجره شيء . دا اجر نه كميږي .

هو مذهب اهل السنة والجماعة . داد اهل سنت و الجماعة رايه ده .

لكن استثنى مالك والشافعي العبادات البدنية المحضة كالصلاة والتلاوة فلا يصل ثوابها الى الميت عندهما بخلاف غيرها كالصدقة والحج وخالف المعتزلة في الكل .

معتزله په ټولو کې مخالف دي .

وتمامه في فتح القدير اقول مامر عن الشافعي هو المشهور . مشهور قول يې دغه دي .

والذي حرره المتأخرون من الشافعية . د شوافعو متأخرينو فقهاء هغوي وايي .

وصول القراءة للميت . مړي ته يې ثواب رسي .

اذا كان بحضرته . چې د مړي سره وي هغه وخت کې .

او دعاله عقبها . ها ضمير جنازي ته راجع دي ، يا دعاء وشي دې مړي ته وروسته له جنازې نه .

ولو غائباً لأن محل القرآءة تنزل الرحمة والبركة والدعاء عقبها ارجي للقبول .

دا ها ضمير قراءت ته راجع کيږي عقبها قراءت ته راجع کيږي دعاء وروسته له قراءت نه ارجي للقبول ده .

ومقتضاه ان المراد انتفاع الميت بالقراءة لا حصول ثوابها له . دده مقصد دا نه وي چې ځان ته ثواب حاصلوي بلکې مقصد يې دا وي چې مړي ته يې ثواب ورسيږي .

ولهذا اختاروا في الدعاء ، اللهم اوصل مثل ثواب ما قرأته الى فلان . که ضمير د عقبها جنازې ته راجع شي بيا دعاء بعد الجنازة کې ثبوت شته او که قراءت ته راجع شي نو دعاء بعد القراءة ده .

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۳۵۶ :

عن عبدالله بن ابي اوفى وكان من اصحاب الشجرة فماتت ابنة له . لوريې وفات شوه .

وكان يتبع جنازتها على بغلة خلفها فجعل النساء يبكين فقال .

دلته څه بنځې وې هغوې شروع شوې ژړل يې عبد الله بن ابي او فی رَحِمَهُ اللهُ ورته فرمايي:

لاترثين. مرثيې مه وايې.

فان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهى عن المراثي فتفيض احدا كن من عبرتها ما شاءت ثم كبر عليها اربعاً. بيا څلور تكبيرونه پرې ووېل څلور تكبيرونه چې وشول.

ثم قام بعد الرابعة. څلورم تكبير نه بعد ودريدلو.

قدر ما بين التكبيرتين يدعو ثم قال كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يصنع في الجنازة هكذا.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به جنازه کې داسې کول څلورم تکبير نه بعد به يې دعا کوله نو څلورم تکبير نه وروسته خو جنازه خلاصه شي صرف امام قيام کولې شي دا نور خلک به قيام نه کوي دا نور چې قيام نه کوي فقهاء ولې رد کوي چې څوک وهم د پنځم تکبير ونه کړي دغه مسئله ده نور څه خبره نشته په کې.

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۲ صفحه ۵۲۹، حضرت ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې راوي دي:

ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نعى النجاشي لأصحابه. صحابه کرامو ته د نجاشي د مرګ اعلان وکړو.

ثم قال استغفروا له. بيا يې ووېل بخښنه ورته وغواړي.

ثم خرج باصحابه الى المصلى فقام فصلى بهم كما يصلي على الجنائز. كه دا استغفار جنازې نه بعد ثابتوي جنازه دعاء بعد الجنازة ده كه دا استغفار جنازې نه مخکې ثابتوي تعزيه للميت ده د مړي پسې د جنازې نه مخکې دعاء يوه خو به ثابتيږي يوه خو ثابته ده جنازې نه يې مخکې حملوي نو مړي ته مخکې دعاء ثابته ده كه جنازې نه وروسته حملوي د ثم معنى تراخي ته نه ګوري نو بيا دعاء بعد الجنازة ده.

دا چند روايت د دعاء بعد الجنازة متعلق ما درته ذکر کړل چونکې ذات د دعاء حسن دي قباحت دعاء ته د امرِ خارج نه راتلې شي نو هغه غير علت ته به ګوري چې هغه څه شي دي كه يو قوي علت وه كراهيت تحريمي بيا هم كيدې شي او كه قوي علت نه وه كراهيت به بيا تنزيهي وي.

چا چې دعاء بعد الجنازة ته مکروه ویلې دي قوي علت نه شي پیدا کولې که دا علت وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده کړي نو اول خو دا دلیل نه دي ځکه دلته روایاتو کې ثبوت هم راغلې که ثبوت را هم نه شي د یو صحابي قول نه شي پیش کولې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ داسې کار نه دي کړي چې روایت العدم شي او دلیل وګرځي او که عدم الروایة وي دلیل نه دي هغه عدم محض دي پاتې شو چې بیا زمونږ خپلو فقهاو ورته مکروه نسبت کړې دي هغه به حمل شي د بحر الرائق په دغه قول باندې چې:

لايقوم بالدعاء. په دعاء به قیام نه کوي.

او که څوک وايي چې حدیث تیر شو عبدالله بن ابي اوفی چې قیام کړې دي نو عبدالله بن ابي اوفی قیام کړي خو امام د جنازې دي امام د جنازې خو مخ راتاو کړي څوک پرې ګمان نه کوي چې مونځ د جنازې پاتې ده هغه دې راتاو شي وه دې دریږي خو دا خلک دې نور کیني صفوف دې مات کړي چې نوي خلک د پنځم تکبیر ګمان ونه کړي.

او که څوک وايي چې دا علت نه دي بل علت دي هغه دې مونږ ته بل علت پیدا کړي د کراهیت چې هر کله دُعاء حسنه ده د خالق نه که دا څوک وايي چې یوه دُعاء شوې ده بلې ته څه ضرورت دي نو تکریر د دعاء یوه له بلې وروسته څه جرم دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دري دري دعاګانې کولې، دا مسئله د دُعاء بعد الجنازة وه.

خلاصه دا چې قول د کراهت به حمل شي په تنزیهي باندې خارجي علت به ورته دغه شي چې قیام باندې وهم واهم ونه کړي د پنځم تکبیر او دې نه اخوا بل علت که چا ته معلوم وي هغه دې ویلې شي چې دا علت یې جوړیدې شي.

سوال: غائبانه جنازه څنګه ده.

جواب: دا مسئله اختلافي ده بین الائمه احناف یې جائز نه ګڼي یعنې مکروه یې ګڼي او نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کړې ده هغه ته کشف بین المسافات شوې وه دلیل ورباندې د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د هغه سریر ښکاریده نو هغه غائب نه وه په حاضر جنازه شوې ده.

مسئلة الدعاء بعد السنة والجنازة ختمه شوه

مسئلة الأمين بالجهر:

التحقيق في الامين بالجهر:

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ (الأعراف آيت: ٥٥)

بله مسئله چې زير بحث يې کړځو و هغه تحقيق دي په امين بالجهر کې مسئله د امين بالجهر چې شوافع او حنابله پرې قائل دي خو امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د خفيه د بهترۍ قائل دي او هغوي د جهر د بهترۍ قائل دي دا هم داسې مسئله ده چې د جانبينو په مينځ کې نزاع په جواز او عدم جواز کې نه ده که چا امين بالجهر ته مکروه ويلي دي حمليږي به په کراهت تنزيهي باندې لا ينبغي خلاف اولى خبره ده.

کومو مسائلو کې چې مذهبونه راشي دا ټول په حقه باندې وي څوک چې هريو پسې ځي تللي شي دا چې مونږ دې زمن کې جُهال اهل حديثو ته څه غضب او غصه کوو هغه ددې وجې نه، نه چې تا رفع اليدين او امين بالجهر ولې کړې د هغې لويه وجه داده چې هغوي دا دومره بې اعتماده ددې زمانې په شيخ الحديثانو دې مشائخو علماء باندې ولې دومره بې اعتماده دي چې هغوي سره د علم نه جهر نه کوي په امين باندې او دوي په دوه ټکي علم باندې مذهب پريښودو.

نو دا مسئله بيننا وبين الشوافع والحنابلة نزاعي ده زمونږ او د اهل حديثو مينځ کې نه ده دوي دې خبرې ته ذير شورش ورکړې دي.

نو تاسو ورته شورش مه ورکوي بيا هم که دا څوک وايي چې امين بالخفيه سره مونځ خرابيږي.

نو داسې خو يو وهابي هم نشته چې داسې ويلې وي خو بيا هم که کوم جاهل داسې خبره کوي د هغوي د دفاع لپاره مونږ دا مسئله زيرِ بحث کړه.

اولاً خپل دلائل دې کې راغونډومه او په آخره کې د خصم دلائل او د هغې نه څه جوابات يا چې په هغې کوم ايرادات دي هغه ذکر کومه:

امام بخاري رَحِمَهُ ٱللَّهُ د جهر د تامين امام او ماموم لره قائل دي دا يې رايه ده فلهذا په دې ترجمه لړولې ده په جلد ۱ صفحه ۱۹۸ کې باب لړوي : **باب ما جاء في التأمين بالجهر**، خو په دغه دعوى باندې ده سره دغه ځای کې هيڅ دليل نشته دي زمونږ شيخ د بخاري چې به دغه ځای ته راغلو وبه يې خندل وايي نن امام بخاري رَحِمَهُ ٱللَّهُ باندې څه چل شوی دي باب يې د خپل مذهب لړولې دي دلائل يې د احنافو شروع کړې دي ځکه ده چې کله دا باب لړولې دي نو اول دليل دا وايي چې :

قال عطاء آمين الدعاء . حضرت عطاء وايي چې امين دعاء ده .

نو دا يو دليل شو د امام بخاري لخوا په امين بالجهر باندې نو چې دې کې لږ سوچ وشي چې دا دليل دده شو او که د احنافو شو چې هر کله آمين دعاء ده نو :

﴿ ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةً ﴾ خو پټ يې وايه نو په جهر يې څنګه وايي دا خو د جهر دليل نه دي کنه د هغې نه بعد يې د عبد الله بن زبير رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُ تعليقي روايت بدون د سند نه ذکر کړې دي وهابيان دې مونږ ته ځکه نه پيش کوي چې دوي خو بې سنده خبره نه مني په دغه ځاي کې د امام بخاري او د عبد الله بن زبير په وسط کې سند نشته دي په بخاري کې نشته دي او دوي کې خو بعضې داسې محبين د بخاري شته چې د بخاري نه غير د بل چا روايت قبلوي هم نه کوم روايت کې چې ان للمسجد للجة راځي چې ابن زبير رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُ امامت کوه حرم شريف کې هلته به آمين ووېلې شو مسجد کې به زنګاوه لاړه نو دا تعليقي روايت دي دغلته بدون د سند نه په بخاري کې ذکر دي د هغې نه بعد يې بيا هغه حديث ذکر کړې دي :

اذا قال الامام غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين .

دا حديث امام بخاري رَحِمَهُ ٱللَّهُ پيش کړې دي نو که دې حديث ته وکتل شي دا خو زمونږ د احنافو دليل شو کنه دده دليل خو نه شي کيدې کله چې ووايي امام **ولا الضالين نو تاسو** وايي **آمين** نو تعليق د قرآءت د آمين د مقتديانو يې معلق کړو تر **ولا الضالين** د امام پورې نو که امام جهر په آمين کولې خو داسې ويل په کار وو :

اذا قال الامام ولا الضالين آمين فقولوا آمين .

کله چې امام آمین ووایي تاسو آمین ووایي دا یې نه ده پیش کړې دا یې پیش کړې چې کله امام ولا الضالین ووایي نو تاسو آمین ووایي نو معلومیږي چې امام به آمین په جهر نه وایي که جهر په آمین باندې وایي نو تعلیق د آمین د مقتدیانو تر آمین د امام پورې په کار وه تر ولا الضالین د امام نه وه په کار.

دا رایه د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ ده خو شواهد نه لري، که څوک وایي چې حدیث د وائل ابن حجر چې ترمذي ذکر کړې دي هغه حدیث دده په نزد مضطرب وه په دغه لحاظ دده په اصولو برابر نه وه نو نه مسلم را واخیسته او نه بخاري را واخیسته په دغه مثابت هغه صحیح نه وه او کوموځایونو کې چې د امام بخاري رایه وي شواهد نه لري نو دوي وایي چې د بخاري قول مونږ نه شو منلې بیا یې مونږ ته ولې پیش کوي.

کتاب الادب کې امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ باب لږوي: بَابُ الأُخْذِ بِالْيَدَيْنِ، سترې مشي په دواړو لاسونو باندې مستحب ده آدب دادی چې سترې مه شي په دواړو لاسونو کوه، حدیث په کې د عبد الله ابن مسعود د تعلیم د تشهد پیش کوي وایي دا حدیث یې په دعوی دلیل نه دي مونږ یې نه شو منلې اګر که ترجمه یې لږولې ده زمونږ دا عامو طالبانو کې هم دا یو نظر جوړ شوې دي چې امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ باب ولږوي د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ رایه د هغې خلاف وي نو دوي سره ډیر غم پیدا شي چې اوس د بخاري نه به مونږ څه جواب کوو نو د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ نه څه جواب کوي.

امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ یو مقلد انسان وه او امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ مجتهد انسان وه امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ ته جواب پیدا کړه چې ولې ده د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ خلاف کړې دي، امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته اوس ته دلائل ګوري چې دده خلاف یې ولې کړې دي هغه مجتهد دي څلور امامان مجتهدین دي او دا مقلدین دي محدثین دي خو فقهاء خو نه دي په هغه مثابت کې کنه.

اوس چې امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ باب ولږوه اوس تا سره غم پیدا شو چې هله امام صاحب د امام بخاري خلاف کړې جواب ورته پیدا کړې هیڅ جواب ورته مه ګوره ده ته جواب پیدا کړه چې د ولې د یو فقیه خلاف کړې دي نو دا وهم له ذهن نه او باسي.

امام بخاري امام مسلم امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ دوي نه دعوى د اجتهاد کړي او نه مجتهدين دي دا څه حنابله دي څه شوافع دي او کم په کې موالک دي شوافع په کې ډير زيات دي په دې محدثينو کې نو دا ټول مذهبونو کې داخل دي خو محدثين دي حافظين د احاديثو دي فقاهت ددوي د ائمه وو مقابله نه شي کولې.

د هر فن د پاره خپل خلک دي خپل رجال دي يو سړي په ټولو کارونو کې مه مخکې کوي بس حفظ الحديث په فن د آحاديثو کې امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ لره يو شان دي په فقه کې بيا نه شي کولې مقابله د هغوي نو ترجمه امام بخاري لږولې ده خو ترجمه باندې شواهد نه لري نو ګويا کې داد امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ خپل محضي قول د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ خلاف راغې نو اوس دده قول چې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ خلاف راشي نو قول څه الزامي حجت دي په امامنا باندې.

نو مونږ وايو چې امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ ليکلي چې حضرت عطاء فرمايي چې آمين دعاء ده که يو څوک وايي چې زه د عطاء قول نه منم چې آمين دعاء ده ځکه دوي خو ډير بې آدبه دي نو د هغه لپاره د سورة يونس ۸۸ او ۸۹ نمبر ايتونه دې پيش کړې شي:

﴿وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالًا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّوا عَن سَبِيلِكَ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰ أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ﴾ ۸۸.

قال موسى ربنا داد دعاء ده رب کريم ورته فرمايي:

﴿قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا﴾ قبوله کړې شوه دعاء ستاسې دواړو اې هارون عليک السلام اې موسى عليک السلام هغه مخکې آيت کې راځي، قال موسى دعا موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ کړې ده جواب کې راځي دعوتُکما ستاسې د دواړو دعا قبوله کړې شوه نو دواړو خو دعاء نه وه کړې دعا خو يو اځې موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ کړې وه جواب څه دي رحمت عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

کان موسى يدعوا وهارون يؤمنوا، هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ آمين ويلې او موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ دعاء کوله امين دعا شوه که دعاء نه وايي دعوتکما ورته ولې وايي نو دا ايات کريمه دليل دې

دي چې آمين دعاء ده نص قرآني نه ثابته ده او حديث د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ نه ثابته ده چې آمين دعاء
ده او د آمين معنى هم ده : استجب لنا اسم فعل دي په معنى د استجب لنا زمونږ
دعاء قبوله کړه .

هر کله چې آمين دعاء شوه هغه ايات ورته مخاطب شو ورته :

﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ (الاعراف آيت : ٥٥)

د لا يحب المعتدين څو معاني دي يو رد دي په جهر بليغ باندې چغي وهل په دعاء کې
خداى تعالى دې ته تجاوز في الدعاء وايي او دا نه خوښوي صحابه وو چغې نه دي وهلې
کومو رواياتو کې چې رفع راغلې ده هغه احاديث شته دي .

هغه راوي وايي چې زه پسې شا ته ولاړ ومه ما واوريده او دوي خو ترې نه سم درز
پورته کړي نو دا جهر بليغ دي دا هغه د نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ رفعې نه دا رفعه ثابتول دا خو هيڅ
موافقت نه لري هغه راوي وايي چې زه شاته ولاړ وم ما واوريدلو يلي په صف اول کې يو کس
اوريدلې دي دومره رفع شوې ده جواب د هغې بيا هم را روان دي او دوي څه قسم رفع کوي
او څه رقم ته چغه وهي نو دا جهر بليغ دي او دعاء ده او په دعاء کې دومره جهر لکه وهاييان
يې چې کوي يقينا دا اعتدى في الدعاء ده انه لا يحب المعتدين .

دليل د احنافو د پاره په خفيه آمين باندې مسند احمد بن حنبل جلد ۴ صفحه ۳۱۶ کې
دا حديث ذکر کړې دي :

حدثنا عبد الله حدثني ابي حدثنا محمد بن جعفر حدثنا شعبة عن سلمة بن سهيل عن
حجر ابي العنبس قال سمعت علقمة يحدث عن وائل او سمعه حجر من وائل .

دې عبارت ته تاسو ګوري ما د مسند احمد حديث ځکه راوا هم خيسته د ترمذي
حديث مې راوانه خيسته هغلته د امام بخاري څه اعتراضات امام ترمذي نقل کړې دا مې
تاسو ته عبارت کې وليکه چې تاسو ته د هغه اعتراض خود بخود دفعه شي .

قال سمعت علقمة يحدث عن وائل . حجر څه وايي ما د علقمه نه واوريدل چې هغه د
وائل بن حجر نه ما ته حديث بيان وه .

او سمعه حجر من وائل. او حجر دا خپل هم اوریدلي د وائل ابن حجر نه دلته دامام بخاري رحمه الله یو اعتراض دفعه کیږي ییا اشاره ورته کومه :

قال صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فلما قرأ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین قال آمین و اخفی بها صوته.

او ټیټ یې کړو په دې باندې آواز خپل.

ووضع یده الیمنی علی یده الیسری وسلم عن یمینه وعن یساره.

همدغه حدیث سنن الدار قطني را اخیستې دي جلد ۳ صفحه ۴۰۶، المعجم الکبیر للطبراني را اخیستې جلد ۵ صفحه ۴۲۰.

صحیح ابن حبان جلد ۵ صفحه ۱۰۹ د الباني شاګرد شعیب الارناؤط په دغه ځای باندې ابن حبان کې تعلیق کوي وایي :

اسناد قوي. سند د حدیث قوي دي.

رجاله رجال الصحیح. رجال د سند یې رجال د بخاري دي.

غیر حجر ابي العنبس واسم ابیه العنبس واثقه ابن معین. چې هغه یې توثیق بیان کړې دي.

وذکره المؤلف في الثقات. ابن حبان یادوي.

واخرجه الطیالسي. په مسند خپل کې په ۱۰۳۴ رقم باندې :

ومن طریقه البیهقي في السنن جلد ۲ صفحه ۵۷، واخرجه احمد جلد ۴ صفحه ۳۱۶، عن محمد بن جعفر والطبراني په کبیر کې جلد ۲۲ صفحه ۱۱۲، من طریق وکیع ثلاثتهم عن شعبة.

دا درې واړه د شعبه نه روایت کوي :

بهذا الاسناد وفیها قال حجر وقد سمعته من وائل. ما د وائل نه په خپله هم اوریدلې دي یعنې داد علقمه عن وائل او ما په خپله هم د وائل نه اوریدلې دي.

قال آمين واخفى بها صوته، واخرجه الطبراني جلد ۲۲ صفحه ۱۰۹ من طريق ابي الوليد او په صفحه ۱۱۰ کې من طريق حجاج بن نصير كلاهما عن شعبة عن سلمة عن حجر عن وائل وفيه ايضاً زيادة واخفى بهما صوته. همدغه حديث الحاكم ذكر كړي جلد ۲ صفحه ۲۳۲، وصححه على شرط الشيخين. ووافقه الذهبي. په تلخيص کې امام ذهبي موافقت کوي رد نه کوي چې صحيح نه دي.

قال الدار قطني في سننه جلد ۱ صفحه ۳۳۴ كذا قال شعبة واخفي بها صوته.

څو مره حوالې د کتبو الحديث چې ذکر شوې دي ټولو دا حديث د شعبة په روايت سره ذکر کړې دي او س د شعبه څو مره شاګردان دي په سند د مسند احمد کې محمد ابن جعفر راغې.

په سند د طبراني کې وکيع راغې او په سند د طبراني د معجم الكبير کې ابي الوليد راغي او په دويم سند کې حجاج بن نصير راغې نو حجاج بن نصير او ابو الوليد او وکيع او محمد ابن جعفر دا څلور واړه روايت کوي د شعبة عن سلمة ابن كهيل عن حجر ابي العنبس قال سمعت علقمة يحدث.

په هغې کې دادي:

واخفى بها صوته.

الايرادات:

مخالفين او خصم په دې څه اعتراضونه پيش کوي:

امام ترمذي په دغه ځای کې دري (۳) اعتراضه نقل کړې دي په نقل د امام بخاري سره چې د هغه قول يې نقل کړې دي، ۲ جلد صفحه ۲۷ بيروت چاپ:

قال ابو عيسى الترمذي وسمعت محمداً يقول حديث سفيان اصح من حديث شعبة.

چې امام بخاري دي.

يقول حديث سفيان اصح من حديث شعبة.

همدا حدیث دي د سلمة بن کهیل شاګردان شعبة دي او بل شاګرد یې سفیان دي شعبه د سلمه نه عن حجر عن علقمة عن وائل حدیث د اخفی بها صوته نقلوي او سفیان عن سلمة عن حجر عن وائل د مدا بها صوته حدیث نقلوي چې آواز یې پرې راښکلو نو وایي ما د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ نه واوریدل چې حدیث د سفیان اصح دي د حدیث د شعبة نه.

في هذا. په دغه باب کې.

په دې به ځان پوهه کړي چې دې دي ته اصح من حدیث شعبة وایي خو بیا یې هم په هغه مثابت یې صحیح نه ګڼي چې دې یې په خپل کتاب کې راواخلي هغه مرتبه کې صحیح یې نه ګڼي چې د کتاب د راخیستو قابل وګرځي ده چې کوم شرائط ویلې دي د بخاري په سندونو کې نو په هغه انداز باندې حدیث د امین بالجهر هم صحیح نه دي چې خپل کتاب کې ځکه باب یې را واخیسته او حدیث نشته او حدیث ورته بنه معلوم هم دي چې حدیث د سفیان حدیث د شعبة نه اصح دي اصح دي من شعبة او اصح دي في هذا الباب داد امام ترمذي طریقه ده هذا اصح شيء في هذا الباب ددې دا معنی نه شوه چې دا داسې صحیح دي چې مقابله یې نه شي کیدلې نه دې باب کې ټول کمزوري روایات دي نو نسبتاً دا په کې اصح دي.

دا معنی اوس امام بخاري اعتراض کوي چونکې رایه یې د امین بالجهر ده نو هغه روایت د آمین بالخفیه ته خو به لار ګوري کنه نو لاره یې دا ورته وکتله وایي:

واخطأ شعبة في مواضع من هذا الحدیث. ددې حدیث په چند مواضعو کې شعبة خطاء شوې دي.

اول ځای چې شعبة ورکې خطاء شوې دي.

فقال عن حجر ابي العنبس وانما هو حجر بن عنبس. امام بخاري وایي دې خطاء شوې دي.

انما حجر ابن العنبس. دا حجر ابن العنبس دي أبو العنبس نه دي.

ګوره وایي د سفیان په مقابله کې شعبة کمزورې شو کنه په سند کې وایي ددې سړي نوم کې غلطي وکړه دا حجر ابي العنبس نه دي دا ابن العنبس دي نو شعبة د راوي نوم صحیح

راخيسته خو كنيه يې ورته غلطه كړه د هغه كنيه ابن عنبس دي ده ترې كنيه ابو العنبس جوړه كړه دا اوس د شعبة حافظه د سفيان په مقابله كې كمزورې ثابتوي يو ه يې وايي دا غلطي كړې ده.

ويكني اباالسكن . د ده كنيه أبا السكن ده .

دويم : وزاد فيه عن علقمة بن وائل .

سند داسې دي :

سمعت علقمة يحدث عن وائل .

نو دويم اعتراض دا وايي دې سند كې د حجر او د وائل په مينځ كې د علقمة واسطه نشته ده په كې دا واسطه زياته كړه دا يې بله غلطي ده .

وانما هو عن حجر بن عنبس عن وائل بن حجر . سند داسې دي .

دريم : اصل عبارت دي :

وخفض بها صوته .

ده خفض بها صوته ويلې دي اصل عبارت دي : ومد بها صوته .

الجواب : عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۹ صفحه ۲۳۰ كې ددې اعتراض نه جواب كوي :

قلت تخطئه مثل شعبة خطأ . امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ چې مثل د شعبة ته خطاء وايي دا په خپله خطائي ده هغه دده له اساتذه وو نه دي د شيخ شيخ يې دي او دې هغه ته خطاء وايي :

وكيف و هو امير المؤمنين في الحديث .

او كه ته دا اعتراض كوي چې د حجر ابن عنبس په ځاى باندې ابو العنبس ويلې دي نو دا قول چې هو حجر بن العنبس و ليس بأبي العنبس ليس كما قاله . داسې نه ده .

بل هو أبو العنبس حجر بن العنبس.

دده كنيې دوه وې دې ابن العنبس هم دي ابو العنبس هم دي اباالسكن هم دي نو ډير خلك كله د ځوي په نوم يادېږي كله د پلار په نوم يادېږي ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د پلار په نوم

یادیږي ابو حنیفة د اولاد په نوم یادیږي نو دلته دده ځوي هم عنبس نو میده نو ځان یې مکنی کړو په ابا العنبس او دده پلار هم عنبس نو میده نو ځان یې مکنی کړو په ابن عنبس سره نو سړي خو یو دي کنه.

سفیان راغې وي ویل چې ما ته حدیث بیان کړې دي سلمة د چا نه یې بیان کړې دي د حجر ابن عنبس نه شعبة راغې چې ماته حدیث سلمة بیان کړو د حجر ابو العنبس نه.

نو څه اعتراض په کې وشو خو یو سړي دي کنه ابو العنبس یې هم کنیه ده ابن العنبس یې هم کنیه ده.

وجزم به ابن حبان في الثقات فقال كنيته كاسم ابيه.

دده کنیه په شان د نوم د پلار دده وه او دا خبره چې امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ وایي چې دا مکنی په اباالسکن دي.

لا ينافي ان تكون كنيته ايضاً ابالعنبس.

دا منافي ددې نه ده چې ګنې بله کنیه یې نشته.

لانه لا مانع ان يكون لشخص كنيتان.

دویم اعتراض یې دا کړې چې علقمة په مینځ د حجر او د وائل کې زیادت کړې علقمة نشته دي په سند کې:

وقوله وزاد فيه علقمة لا يضر لان الزيادة من الثقة مقبولة. هیڅ تاوان نه کوي ځکه دا زیادت د ثقه نه دي او مقبول دي.

ولا سيما من مثل شعبة. شعبه په شکل زیادت چې وکړي بیا او بل دا چې مخکې ما ورته اشاره وکړه دا حُجر ابي العنبس چې دې بالذات هم د وائل بن حجر نه اوریدلې دي او د علقمة عن وائل یې هم اوریدلې دي اول وخت کې د وائل بن حجر له ځوي نه اوریدلې وه هغه له پلار نه حدیث بیانول څه زمن بعد چې دده ملاقات یې له پلار سره وشو د پلار نه یې هم واوریدل.

نو تاسو سوچ وکړئ چې شعبة د سفیان په مقابله کې څو مره احفظ شو شعبة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه سند بیانوي چې مونږ ته سلمة دا حدیث دوه شکله بیان کړو، **عن عقلمة عن وائل یې**

هم بیان کړي دي او ډارک د وائل نه یې هم بیان کړې دي هغه دواړه روایت پیش کوي او سفیان دا یو پیش کوي چې کوم د وائل نه ډارک بدون د واسطې د علقمة نه دي او کوم چې واسطه د علقمة ده هغه نه پیش کوي خو هغه احفظ دي چې ټول سند ونه ورته یاد وه لکه مخکې روایت کې ورته ما اشارهو کړه :

يحدث عن وايل او سمعه حجر من وائل . خپله یې هم اوریدلې دي او د طبراني عبارت هم دي.

ثلاثتهم عن شعبة بهذا الاسناد و فيها قال حُجر و قد سمعت من وائل . ما د وائل نه خپله هم اوریدلې دي نو چې خپله یې هم اوریدلې دي اوس چې هر کله شعبة واسطه د علقمة راوړه دا څه زیادت خو نه دي او که وي هم نو د ثقه نه زیادت دي .

هر چې دریم اعتراض دي چې ده وخفض بها صوته ویلې دي یا اخفی بها صوته یې ویلې دي او دا په حقیقت کې ومد بها صوته دي .

وقال وخفض بها صوته وانما هو و مد بها صوته يؤيد ما رواه الدار قطني عن وائل بن حجر.

مونږ د وائل بن حجر د دار قطني بل سند لرو هغې کې هم دادی .

قال صليت مع رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فسمعته حين قال غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال آمين فاخفى بها صوته .

نو د غلته سند کې چې د خفض بها صوته دا معنى د اخفى سره لږي کنه یوه معنى ده د دواړو او که ته وایې چې دا مد بها صوته دي او د خفض ویلې غلطي یې کړې ده نو زه به وایمه چې دا خفض بها صوته دي سفیان چې مدبهاصوته ویلې غلطي یې کړې ده نو دا به انصاف وي چې دواړه دي ثقه ګان وي دواړه دي تقریباً په مثابت واحد کې وي عند المحدثین او یو دي یو متن او وایې ته دې د هغه متن ددې بل راوي د متن د لاسه ردوي بیا نو چې ردوي یې زه به د غه متن د هغې متن په وجه رد کړم یو سند دي یو راوي دي یو حدیث دي ته چې د خفض بها صوته رد کوي له وجې د مد بها صوته د سفیان د روایت نه زه به دا رد کړم له وجې د شعبة د

روایت نه بیا به څه کوي دا خو انصاف نه دي لا اقل دو مره به ویلي شي چې دا حدیث مضطرب دي تعارض دي په دې مینځ کې دده روایت د شعبة مذهب د حنفیت ثابتوي او روایت د سفیان مذهب د حنبلیت او شافعیت ثابتوي نو دا حدیث له درجې د استدلال د جانبینو نه ساقط شو نه به پرې هغوي استدلال کولې شي نه به یې پرې مونږ کولې شو که مونږ پرې استدلال کوو دوي به مد بها صوته را ته پیش کړي که دوي پرې استدلال کوي مونږ په ورته خفض بها صوته پیش کوو.

البته مونږ لا دا ویلې شو چې روایت د مد بها صوته کې مونږ سره داسې دلائل شته دي چې روایت د خفض سره جمعه شي هغه دوه تاویله دي یو تاویل دا دی چې د مد بها صوته معنی زه داسې نه کومه چې آوازیې پرې اوچت کړو زه د مد بها صوته معنی دا کومه چې نبي عَلَیۡهِ‌السَّلَام په دې همزه باندې مَد ادا کړو پټ یې ویلي که جهر یې ویلي دې نه ساکت دي مد بها صوته معنی داده آمین داسې بالمد یې ویلي په مد سره یې ادا کړو د جهر معنی نه کومه تر څو چې روایت د سفیان د روایت د شعبة سره موافق او خیژي پټ لوستلې دي خو بالمد یې لوستلې دي مد بها صوته آوازیې پرې رابنکلو یعنې دغه همزه چې کومه ده دا یې بالمد ولوستله دا لوستل او س دا تاویل چې په مد بها صوته کې چې جهر یې کړې دي یا مد بها صوته کې همزه بالمد یې لوستلې ده دا همزه بالمد لوستل د روایت د شعبة سره هیڅ منافات نه لري پټ یې لوستلې دي خو بالمد یې لوستلې دي زه دا تاویل لرم ولې تاسره به په روایت د خفض بها صوته کې څه تاویل پاتې شي ته هم په دې کې تاویل پیدا کړه.

دویمه داده که مد بها صوته کې جهر و منم چې داد جهر معنی ده نو زه په کې دا تاویل لرم چې نبي عَلَیۡهِ‌السَّلَام دې د پاره دا کار کړې وي تعلیماً للامة ولې زه به حدیث پیش کړمه چې نبي عَلَیۡهِ‌السَّلَام به دوه سکتې کولې یوه د الله اکبر سره سکته وه بیا به یې الحمد شروع کړه بل د ولا الضالین سره به یې سکته یې خفیفه کوله لږ به غلي کیده نو دغه وخت کې چې دا لږ غلي کیده نو دا څه شي ته غلي کیده مونږ وایو دلته یې امین پټ لوستلې دي نو حالت یې اکثري او عمل د نبي عَلَیۡهِ‌السَّلَام په دغه وخت کې چپ والي دي سکته یې خفیفه ده دا چې کوم روایات

شوي دي چې آواز يې را ښکلي دي تعليماً للامة لکه د بخاري شريف په حديث کې راځي نبي عَلَيْهِ السَّلَام به د ماسپښين په لمانځه کې کله په قراءت باندې څه حصه کې جهر وکړو او س د ماسپښين په لمانځه کې جهر هيڅ مذهب هم نه دی او د هيڅا مذهب هم نه دی ځکه د ماسپښين لمونځ چې کوم دی هغه پټ لوستل په کار دي .

او د بخاري په حديث کې نبي عَلَيْهِ السَّلَام پرې جهر کړې دی او س هلته به څه تاويل کوي سوا ددې تاويل نه چې كان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يعلمنا ، صحابه وايي مونږ ته يې تعليم راکړو چې زه په دغه مونځ کې څه قراءت لولم چې تاسو پوه شي که ټوله زندګي حيات د نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې د ولا الضالين سره سکته شوې وايي نو بيا به چا ته معلومه نه وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام دې سکته کې څه لولي .

فلهذا کله يې پرې جهر کړې دی تعليماً للامة نو ځه د مد بها صوته معنى که د جهر شي تاويل د تعليم لرم ولې ته د خفض بها صوته څه تاويل کوې نو مونږ د جمعې د رواياتينو لپاره د سفيان او شعبه مينځ کې د تطبيق دوه لارې لرو خو مقابل جانب د شعبة روايت د سفيان سره په جمعه کې هيڅ لاره نه لري سوا ددې نه چې بې ځايه اعتراضات يې وکړل چې د حجر ابالعنبس ويلې دي ويلې دې وي کنه همغه حجر دی مکنى په ابا العنبس دی او همغه ابن العنبس دی هيڅ خلل نشته دی سوا ددې نه چې سند کې علقمة زيات کړو له دواړو نه يې اوريدلې دي کنه زيادت دې يې کړي وي زيادت د ثقه مقبول دی سوا ددې نه چې مد بها صوته راغلې دي ده چې خفض ويلې هغه شاذ شو شاذ خو هغې ته ويل کيږي چې روايت د ثقه مخالف د اوثق نه راشي او شعبة سفيان دواړه اوثقان دي احفظ دي نو په دغه وخت کې چې د يو روايت د بل مخالف خيژي نو دې ته خو شاذ نه ويل کيږي کنه شاذ خو هغه وي چې يو ثقه دي بل اوثق دي دغه شاذ دا متن د اوثق نه مخالف راشي نو دا خو دواړه اوثق دي په اتفاق د محدثينو باندې که خامخا يو متعصب تعصب کوي نو په سند ددوي کې سفيان دی او سفيان يو معروف مدلس دی او ټول روايات د سفيان چې په دغه ځای کې راغلې دي نو هغه د سلمة بن کهيل نه عنعن کړې ده او عنعن د مدلس چې کومه ده دا خو وهابيان په سختي سره ردوي چې ردوي يې نو د سفيان عنعن دلته څنګه قبوله شوه او هر چې شعبة دی که څوک

وايي چې شعبة هم عنعن کړي عن سلمة يې ويلي دي شعبة ويلي چې د آسمان نه راپريوځم دا به قبوله کړم خو تدليس به ونه کړمه شعبه دا تدليس دومره بد ګڼلو جرم يې ګڼلو حتی چې ډيرو ګناهونو نه يې تدليس ته غټه ګناه ويلې دا يې ډير بد ګڼلو نو شعبه مدلس نه دي او هر چې سفيان دي مدلس دي او عنعن د مدلس عند کم مقبوله نه ده بيا صحيح حديث په امين بالجهر کې پيدا کړي دا په دغه معروف حديث باندې چې دوي هم ترې استدلال کوي او زمونږ علماو هم ترې استدلال کړې دي علامه نيموي رَحِمَهُ اللَّهُ يو منصف انسان دي تحقيق کوي خو ډير منصفانه انداز کې حديث د وائل بن حجر را اخلي **رواه احمد والترمذي وابي داؤد الطيالسي والدار قطني والحاكم و آخرون واسناده صحيح وفي متنه اضطراب .**

سند يې صحيح دي خو متن اضطراب لري هغه د سفيان او د شعبة اضطراب دي چې دا مد بها صوته شو که اخفی بها صوته شو نو ددغه اضطراب دفع يا په هغه طريقينو وکړه چې مونږ درته ذکر کړ يا لا اقل حديث د استدلال د جانبينو نه ساقط شو او بيا په صفحه ۱۲۶ کې علامه نيموي رَحِمَهُ اللَّهُ د علماو اقوال د شعبة متعلق را اخلي :

قال يحيی بن السعيد القطان ليس احد احب الي من شعبة .

هغه وايي ما ته شعبه نه زيات محبوب انسان بل په حديثو کې نشته دي .

امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي په العلل کې يحيی بن معين نه علي مديني وايي چې : ما يحيی بن معين ته وويل :

ايهما كان احفظ للاحاديث الطوال . په دې سفيان او شعبة کې لوي حافظ د حديثو طوالو کوم يو وه .

قال كان شعبة أمر فيها . يحيی بن معين را ته ويلي چې اوږدو سندونو او متنونو کې شعبة چې وه هغه ډير تيز رفتاره وه يعنې هغه به ډير ښکلي سند او متن بيانولو په مقابل د سفيان کې .

وقال يحيی بن السعيد القطان وكان الشعبة اعلم بالرجال فلان عن فلان وكان سفيان صاحب الابواب .

څو مره ښکلي قول يې کړې دي د سند په لحاظ سره که وکتل شي شعبة د سفيان نه مقدم دي او د فقهې په لحاظ که وکتل شي نو سفيان پرې مقدم دي ځکه سفيان په فقه کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ څه اخذ لرلو يعنې سفيان د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ رأيه ته مائله وه نو فقاهت او د باب ترجمه او سنن چې کوم بابونه وضعه کيږي وايي په هغې کې سفيان مقدم وه او هر چې سند په لحاظ او د حفظ په لحاظ بيا شعبة مقدم وه دلته خو مسئله د سند ده او د متن ده او بله دا چې:

شعبة لم يكن يدلس لا عن الضعفاء ولا عن الثقات. ده به بالكل تدليس نه کولو.

او ذهبي په تذكرة الحفاظ کې وايي:

قال ابوزيد الهروي سمعت شعبة يقول لان اقع من السماء فانقطع احب الي من ان ادلس

چې د آسمان نه راپريوځم او ټوټه شم دا به خوښه کړم خو تدليس نه خوښوم.

سره د دې نه چې مونږ سره د شعبة په روايت کې بعضې ځايونو کې دا الفاظ دي:

اخبرني سلمة بن كهيل. مدلس هم نه دي څه الفاظ د اخبار لري عنعن هم نه ده په بعضې سندونو کې لکه روايت د ابي داؤد الطيالسي کې:

واما الثوري فكان ربما يدلس وقد عنعن. هغه مدلس وه او عنعن يې کړې ده.

امام ذهبي په الميزان کې وايي:

سفيان بن السعيد الحجة الثبت متفق عليه مع أنه كان يدلس عن الضعفاء ويكتب عن الكذابين.

او حافظ ابن حجر په تقريب کې وايي:

وكان ربما يدلس. ده به کله کله تدليس کولو.

نو دغې روايت ته که وکتلې شي يو د سفيان قول ته تاويل پيدا شو چې تعليماً دې شوې وي نه دا چې تشريعاً د دائم لپاره عمل دي.

دويم دا چې مد دي په راښکلو د همزې معنى باندې شي چې همزه يې آمين سره وويلې شي.

دریم دا چې د سند په لحاظ سره وکتلې شي شعبة غیر مدلس دي عنعن یې که کړې هم ده په بعضې روایاتو د ابي داؤد کې اخبرني ویلې شوې دي .

او هر چې روایت د سفیان ثوري ته عنعن ده او دې ده مدلس او عنعن د مدلس مقبول نه وي نو که دغې ته وکتلې شي روایت د سفیان په مقابل د شعبة کې څنګه قبلیږي .

(۲) دویم روایت صحیح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۹۸ کې را اخیستې :

حدثنا عبدالله بن مسلمة عن مالك عن سمي مولى ابي بكر عن ابي صالح عن ابي هريرة ان رسول الله ﷺ قال اذا قال الامام غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين .

استدلال څنګه دي علامه نیموي وایي چې **قولوا آمين** یې معلق کړو تر قراءت د **ولا الضالين** که امام جهر په آمین کولې نو داسې ویل په کار وه چې امام ووایي **ولا الضالين آمين فقولوا آمين ولا الضالين آمين** پورې تعلیق نه ورکوي **ولا الضالين** پورې تعلیق ورکوي نو معلومیږي چې د امام د **ولا الضالين** سره آمین په کار دي او که امام جهر په **آمين** کولې نو تعلیق تر آمین په کار وه چې امام **آمين** ووایي نو تاسو **آمين** ووایي :

فانه من وافق قوله قول الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه .

امین الله وهابي چې ځان ته بشاوري وایي څه وخت مخکې یوه وړه رساله خوره کړې وه په هغې کې دې حدیث نه استدلال کړې وه د آمین د جهر دا حدیث چې په کومو ورقاتو د بخاري کې ذکر دي پاکستان چاپ د صفحې په اول کې نو دا صفحه آخر ته ورسوي سند یې په همدغه صفحه دي او حدیث په دا بله صفحه کې مذکور دي که دې نه جهر ثابتیږي نو هغې کې دا الفاظ دي :

اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا ولك الحمد . امام چې **سمع الله لمن حمده** ووایي نو تاسو **ربنا ولك الحمد** ووایي .

نو اوس به دا په خفي وایي او که په جهر ، دوي څه وایي ربنا ولک الحمد په زوره وایي که پټ به یې وایي .

همدغه شان الفاظ دي چې امام ولا الضالين ووايي فقولوا آمين تاسو آمين ووايي له دې نه يې جهر ثابت کړې دا خو تعليق د آمين د مقتدي تر ولا الضالين ورکه خو جهر د امام د آمين پاتې نه شو په کې کنه دا خو دليل د خفيه دي د آمين د جهر خو نه دي نو بشاوري دې حديث نه استدلال کړې که دې نه استدلال کوي چې قولوا آمين آمين ووايي نو په زوره يې ووايي نو جهر خو نه دي راغلې نو که خامخا ضد کوي نو مونږ به د بخاري بل حديث پيش کړو چې :

اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا ولك الحمد . اوس به مقتديان په ربنا ولک الحمد کې جهر کوي بيا او داد هيچا مذهب هم نه دي .

بيا يې ترغيباتو د جهري امين کې دا حديث پيش کړې وه :

من وافق قوله قول الملائکة غفر له ما تقدم من ذنبه .

نو محمد آمين صفدر او کاړوي ددې په مقابله کې ښه خواري کړې ده رسائل د محمد آمين دري جلدونو کې شائع دي ښه ښائسته يې ددغې خاصو مسائلو لپاره د تراويحو لپاره او د طلاق ثلاثه لپاره دا چند مسائل چې معروف دي دې لپاره پوره کار ورکوي نو هغه په دغه ځای کې يو ضحك هم دوي پسې کړې دي وايي عجيبه ده چې دا حديث د :

من وافق قوله قول الملائکة غفر له ما تقدم من ذنبه .

نه وايي وهابيان د آمين بالجهر استدلال کوي او حال وايي دادې چې تاسو سوچ وکړي چې د وهابيانو آمين هيڅ کله د فرشتو د آمين سره نه موافق کيږي نه په موضع کې نه په کيفيت کې په موضع کې ولې نه موافق کيږي دوي په جهر مونځونو او خفيه کې مقتدي لره فاتحه لازمه ګڼي خو دا لازمه نه ده چې هر مقتدي به تکبير تحريمه نيولې وي کيدې شي امام فاتحه وسط ته رسولې وي او مقتدي راشي چې اودريږي نو دوي وايي چې دا مقتدي به فاتحه وايي کله چې امام ولا الضالين وويل او مقتدي يې په فاتحه لګيا دي موافقت په موضع کې راغې رانغي ځکه امام آمين وايي او مقتدي په فاتحه کې لګيا دي اوس فرشتې خو د مقتدي آمين سره آمين نه وايي هغه خو د امام د آمين سره آمين وايي چې هغه آمين ويلې نو فرشتې آمين وايي .

نو د وهابيانو دغه آمين کله د فرښتو د آمين سره موافق شو په موضع کې دا خو هلته فاتحه باندې لګيا دي ولو بالفرض که دې مخکې هم رارسيدلې وي نو دا لازمه نه ده بعضې سپين ږيري سست وي امام پسې فاتحه نه شي رسولې هغه تيز وي او دې سست وي نو د هغه وهابي چې سست وي په مانځه کې او بوډا دي د هغه آمين هم د فرښتو د امين موافق ونه ختو دا خو په موضع کې نه شو .

او هر چې په کيفيت کې دي نو په کيفيت کې خو کله هم موافق نه دي ځکه وايي فرښتې د امام سره آمين وايي خو مونږ وانه وريده ځکه پټ يې وايي او وهابيان يې په جهر وايي وايي دا کيفيت کې مخالفت واي د وهابيانو آمين کله هم د فرښتو د آمين موافق نه خيږي نه په موضع کې نه په کيفيت کې او سمه خبره يې کړې ده مونږ د امام سره آمين وايو که مونږ وروسته هم راشو فاتحه لازمه نه ګڼو چې امام ولا الضالين وايي مونږ متصل آمين وايو فرښتې يې پټ وايي مونږ يې پټ وايو فرښتې يې د امام په معيت کې وايي مونږ يې هم د امام په معيت کې وايو .

(۳) دريم روايت : صحيح ابن خزيمة جلد ۳ صفحه ۳۵ :

حدثنا سعيد حدثنا قتادة عن الحسن ان سمرة بن جندب وعمران ابن حصين .

دلته شعيب الأرنووط او الباني لګيدلي دي **عن الحسن ان سمرة** نو څه وايي وايي **رجاله رجال الصحيحن** سند کې څه خبره نشته ثقات دي **غير ان الحسن مدلس وقد عنعن .** حسن بصري مدلس دي او عنعن يې کړې ده عنعن د مدلس قبوله نه ده او بيا يې آمين بالجهر کې د سفيان عنعن خپله پيش کوي .

مسئله د اسماء الرجال کې سخت تعصب شوې دي او روان دي په دې کې شغل مه کوي دې کې مه کوزيږئ داسې احاديثو ته به په دغې واهياتو باندې لتي ورکړې چې بيا به حيران يې د خيتې به تابع يې بيا چې ستا کوم نظر دي هغه حديث به قوي ثابت کړي او چې ستا د رايې مخالف دي ضعيف به يې ثابت کړي .

دا څه داسې په حقيقت بنا اقوال نه دي چې څوک ځنګه لګيدلي هغسې کړي اوس حسن بصري چې امام شافعي غوندې انسان يې مراسل قبلوي وايي که ده داسې ويلي چې

قال رسول الله ﷺ او ده سره يې سند ونه ويلې قبول دي ما ته نو يو اخې په عنعن باندې دې رد کول چې ده دلته عن ويلې دي .

نو حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

ان سمرة بن جندب وعمران ابن حصين تذاكرا . خپلو کې په خبرو وه .

فحدث سمرة . سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث بيان کړو .

انه حفظ عن رسول الله ﷺ . چې ده ياد کړي د رسول الله ﷺ نه .

سكتتين . دوه سکتې .

سكتة . يوه سکته .

اذا كبر . چې کله به يې تکبير ويلې .

وسكتة . او بله سکته :

اذا فرغ من قراءته عند ركوعه .

(۴) څلورم روايت مسند احمد بن حنبل جلد ۵ صفحه ۲۲ :

حدثنا عبدالله حدثني ابي حدثنا هشيم اخبرنا منصور ويونس عن الحسن بن سمرة بن جندب انه كان اذا صلى بهم سكت سكتتين . دوه سکتې به يې کولې .

اذا افتتح الصلاة واذا قال ولا الضالين سكت ايضاً هُنَيّةً . لږ به غلي شو .

فانكروا ذلك عليه . دوي پرې انکار وکړو .

فكتب الى ابي بن كعب . خط يې وليکه ابي بن کعب لره چې دې کې ما سره دا خلک لانجه کوي ستا څه رايه ده .

فكتب اليهما أُبي . ابي بن کعب خط راوليږه .

ان الامر كما صنع سمرة . حضرت سمرة بن جندب چې سکتې کړي دغه شان د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ طرز او طريق وه .

دا حدیث د سند په لحاظ سره صحیح دي دغه سکته کې اختلاف دي په حرمینو کې دا سکتې کیږي آمین باندې جهر هم کیږي نو نه پوهیږم چې هغوي به له دغې سکتې نه څه تعبیر اخلي کیدې شي هغه خلک چې قائلین د قراءت خلف الامام دي هغوي به وایي دا سکته دې د پاره کول په کار دي چې کوم بوډا یا روستې راغلې انسان هغه ما پسې فاتحه کې نه وي رارسیدلې چې راورسیږي نو زه وایم که په دې فکر باندې وي نو دا خو انتظار د امام للمأموم شو نو دا خو بیا مکروه دي امام مقتدي ته څنګه انتظار کوي یو سړي را روان دي ته وایي چې لږ انتظار کوم رکوع اوږدوم چې دې راسره رکوع ونیسي دا خو نه دي کول په کار.

زما ذهن ته دا خبره راځي ددوي په کتبو کې ما دا خبره نه ده لیدلې خو زما ذهن ته دویم تاویل دا راځي چې دوي دا سکته کوي نو کیدې شي چې دا مقصد یې وي په دا سکته کې چې دا فاتحه ولوستلې شوه دې کې تفکر په کار دي وه خو لوستل شوه خو په دې آیتونو کې یو تفکر په کار دي دا بیا بنائسته نیت دي بیا چې قراءت وشي بله سکته وکړي حرمینو کې دا رواج ده غلي ولاړ وي آمین وویلې شي بیا غلي وي بیا شروع شي نو دا سکته اوس هم هلته رواج ده.

خو احناف وایي چې دا سکته د انتظار د مقتدي لپاره نه ده دا سکته د کوم بل مقصد د پاره نه ده همدغه سکته کې آمین لوستل کیدلو دا لږه سکته وه غلي به شو د آمین د پاره.

(۵) پنځم روایت: المعجم الکبیر جلد ۸ صفحه ۱۹۵ دې کې دصحابه کرامو رایي دي:

حدثنا محمد بن عبدالله الحضرمي حدثنا احمد بن یونس حدثنا ابوبکر بن عیاش عن ابي سعد البقال عن ابي وائل قال کان علي وبن مسعود . حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

لا یجهران بسم الله الرحمن الرحیم . دوي به په بسم الله باندې په مانځه کې جهر نه کولو.

ولا بالتعوذ . اعوذ بالله باندې به یې جهر نه کولو.

ولا بآمین . په آمین به هم دوي جهر نه کولو.

الانصاف لابن عبدالبر همدغه روایت په دې الفاظو ذکر کوي جلد ۱ صفحه ۳۷:

عن ابراهيم عن علقمة والاسود عن عبدالله ابن مسعود قال ثلاث يخفيهن الامام .

دري څيزونه دي امام به يې پټ وايي :

الاستعاذة وبسم الله الرحمن الرحيم وآمين .

داد عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فتوی شوه اوپاس حديث د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عمل شو هغه يې فعلي روايت شو او دا يې قولي فتوی شوه .

(٦) شپږم روايت : شرح معاني الآثار جلد ۱ صفحه ۲۰۳ :

حدثنا سليمان بن شعيب الكيساني قال حدثنا علي بن معبد قال حدثنا ابو بكر بن عياش عن ابي سعيد عن ابي وائل قال كان عمر وعلي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا لا يجهران ببسم الله الرحمن الرحيم ولا بالتعوذ ولا بالتأمين .

حضرت عمر فاروق او حضرت علي المرتضى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا دوي به په دې جهر نه کولو .

(۷) اوم روايت : مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۵۳٦ :

حدثنا وكيع عن سفيان عن منصور عن ابراهيم النخعي قال خمس يخفيهن الامام .

پنځه څيزونه به امام پټ وايي .

الاستعاذة ، وسبحانك اللهم وبحمدك ، وبسم الله الرحمن الرحيم وآمين واللهم ربنا لك الحمد .

همدغه روايت مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۸۷ کې هم ذکر کړې دي .

ادله د مثبتينو د آمين بالجهر :

(۱) سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۲۷ ، هماغه حديث ذکر دي :

قالا حدثنا سفيان عن سلمة بن كهيل عن حجر بن عنبس عن وائل بن حجر قال سمعت النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرأ غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقال آمين ومد بها صوته .

هماغه سند دي ، هماغه الفاظ دي فقط هلته خفض بها صوته دلته مد بها صوته دي .

قال وفي الباب عن علي وابي هريرة . مرفوع حديث دا دوه پيش کوي .

قال ابو عيسى حديث وائل بن حجر حديث حسن. صحيح يې ورته څکه ونه ويلو چې متني اضطراب دي په کې په دې حديث بحث مخکې شوې دي چې دا متعارض دي.

(۲) دويم سنن الدار قطني جلد ۲ صفحه ۱۳۴:

حدثنا محمد بن اسماعيل الفارسي حدثنا يحيى بن عثمان بن صالح حدثنا اسحاق بن ابراهيم حدثني عمرو بن الحارث حدثني عبدالله بن سالم عن الزبيدي اخبرني الزهري عن أبي سلمة وسعيد عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا فرغ من قراءة أم القرآن رفع صوته وقال آمين. آواز به يې اوچت کړو آمين به يې وويل.

مخکې ترمذي ويلي:

وفي الباب عن علي وابي هريرة. په باب کې د ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي دا هغه د ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت شو.

جواب دادی چې ددې په سند کې اسحاق ابن ابراهيم راغلي او هغه ضعيف دي.

اسحاق بن ابراهيم بن العلاء بن الضحاك بن المهاجر الزبيدي ابو يعقوب بن ابي اسحاق الحمصي وهو اسحاق بن زبريق.

رتبه يې په نزد ابن حجر صدوق يهم كثيراً، ډير زيات به خطاء کيدو وهم کثير چې چاته پيښيږي دې ته سوء حافظه ويل کيږي د هغه حديث بيا ضعيف وي که تعدد د طرقو رانه شي حديث يې بيا ضعيف وي.

تاسو ته مخکې په اصولو کې ما ويلي وه چاته چې وهم کثير پيښيږي يو ضابط دي يو اضبط دي بل واهم دي، اضبط چې کوم دي اوثق وي د هغه روايت صحيح وي ضابط چې راشي حديث حسن ته راکوز شي واهم چې راشي حديث ضعيف وي بيا هغه وخت کې حسن لغيره کرځي چې تعدد د طرقو راشي.

وأطلق محمد بن عوف انه يكذب. محمد بن عوف نسبت د کذب ورته کړې دي.

نو چې کوم راوي ته نسبت د کذب وشي بيا هغه حديث د موضعيت خطره لري.

وقال النسائي: ليس بثقة.

حافظ په تهذيب التهذيب جلد ۱ صفحه ۲۱٦ کې دده حالات ذکر کوي :

وروي عن الاجري عن ابي داؤد ان محمد بن عوف قال ما اشك ان اسحاق بن زبريق يكذب . شک نه کوم چې اسحاق بن ابراهيم به دروغ ويل .

(۳) سنن ابن ماجة جلد ۱ صفحه ۲۲۸ دا دريم استدلال ددوي دي :

حدثنا محمد بن بشار حدثنا صفوان بن عيسى حدثنا بشر بن رافع عن ابي عبد الله ابن عم ابي هريرة عن ابي هريرة قال ترك الناس التأمين . خلکو آمين پريښودلو .

وكان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا قال غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال آمين حتى يسمعها أهل الصف الاول . چې اول صف به واوريدلو .

دا ددوي دليل کله دي دوي خو سمې چغې په کې وهي .

فيرتج بها المسجد . چې مسجد به پرې زنګاوه وکړه .

في الزوائد في اسناده ابو عبد الله لايعرف ، يو دا ابن عم ابي هريرة ابي عبد الله چې دي دا مجهول دي ، او دويم په سند کې بشر بن رافع دي ضعفه احمد وقال ابن حبان يروي الموضوعات ، ابن حبان ويلي موضوعي روايات به يې پيش کول .

والحديث رواه ابن حبان في صحيحه سند آخر قال الشيخ الالباني ضعيف . ددې په سند کې بشر راغلې دي .

ابن رافع بشر بن رافع الحارثي ابو الأسباط النجراني امام اهل نجران ومفتيهم . وقال المزي قال عباس الدوري عن يحيى بن معين حاتم بن اسماعيل يروي عن ابي اسباط الحارثي شيخ كوفي وهو ثقة قلت له هو ثقة ؟ ثقه دي .

قال يحيى يحدث بمناكير . منکر روايت به يې ويل .

وقال عبد الله بن احمد بن حنبل سألت ابي عن بشر بن رافع فقال ليس بشيء . هيڅ شي هم نه دي ضعيف الحديث دي .

وقال البخاري بشر بن رافع لا يتابع في حديثه. دومره ضعيف دي چې حديث يې متابعت کې هم نه شي راوړي يعنې که بل سند تا سره وي او د بشر ابن رافع روايت راوړي له وجې د تعدد د طروقو نه، حديث ضعيفه حسن لغيره ته وړي امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ وايي په بشر ابن رافع حسن لغيره هم نه شي ګرځولې دومره ضعيف دي لا يتابع دغه معنی ده چې مطابعت کې قول نه شي پيش کولې.

وقال الترمذي بشر بن رافع يضعف في الحديث، وقال النسائي بشر بن رافع ضعيف، وقال ابو حاتم ابو الاسباط بشر بن رافع الحارثي ضعيف الحديث منكر الحديث. منکر نه دي منکر دي يعنې دې ضعيف وه د ثقه ګانو مخالفت به يې کوه احاديث يې منکره يې لرل.

لا نرى له حديثاً قائماً. يو حديث هم روغ ده کې مونږ نه دې پيدا کړي.

وقال الحاكم أبو أحمد الحافظ ابو الاسباط بشر بن رافع الحارثي اليماني ليس بالقوي عندهم.

حافظ ابن حجر په تهذيب التهذيب جلد ۱ صفحه ۴۴۹ کې ليکي:

وحكى الحاكم عن الذهلي ايضاً ان ابا الاسباط هو بشر بن رافع وقال العقيلي له مناكير وقال الدار قطني منكر الحديث قال ابن عبد البر في الكنى والاسماء هو ضعيف عندهم منكر الحديث.

وقال في كتاب الانصاف: اتفقوا على انكار حديثه وطرح ما رواه وترك الاحتجاج به لا يختلف علماء الحديث في ذلك.

علماء د حديث دې کې څه اختلاف نه لري چې بشر بن رافع په سند کې راشي نو حديث په احتجاج کې روا نه دي چې پيش شي.

(۴) څلورم: المعجم الكبير للطبراني جلد ۱۸ صفحه ۳۳۴:

حدثنا ابراهيم بن هاشم البغوي حدثنا هدبة بن خالد حدثنا هارون بن موسى النحوي حدثنا اسماعيل بن مسلم عن ابي اسحاق عن ام الحصين عن جدته ام الحصين انها كانت تصلي

خلف النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في صف من النساء فسمعته يقول الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم مالك يوم الدين بلغ ولا الضالين قال آمين حتى سمعته وانا في صف النساء.

زه د ښځو په صف کې وم چې ما آمین واوریده.

ددې حدیث په سند کې اسماعیل بن مسلم راغلي دي ضعیف دي.

اسماعيل بن مسلم المكي ابو اسحاق البصري مولى حدير من الازد اصله بصري سكن مكة فلكثرة مجاورته بمكة قيل له المكي وكان فقيها مفتيا وقال المزي وقال عمرو بن علي كان يحيى وعبدالرحمن لا يحدثان عن اسماعيل المكي.

دې دواړو به ترې نه حدیث نه بیانول.

وقال صالح بن احمد بن حنبل عن علي ابن المديني سمعت يحيى يعني القطان وسُئل عن اسماعيل بن مسلم المكي. چا تپوس د اسماعیل بن مسلم مکي باره کې وکړو.

قيل له كيف كان في اول امره؟ قال لم يزل مخلطاً. خلطیت به پرې راتلو.

قال يحدثنا بالحديث الواحد على ثلاثة ضروب. یو حدیث به یې د ري قسمه راته بیانوه.

قال محمد بن جعفر ابن الامام عن اسحاق بن ابي اسرائيل سمعت سفيان يقول وذكر اسماعيل بن مسلم فقال كان يخطئ في الحديث جعل يحدث فيخطئ وقال ابوطالب قال احمد بن حنبل اسماعيل بن مسلم المكي منكر الحديث. وقال عبدالله بن احمد بن حنبل سمعت ابي يقول اسماعيل بن مسلم المكي ما روي عن الحسن في القراءات فاما اذا جاء الى مثل عمرو بن دينار واسند بها احاديث مناكير ليس أراه بشيء فكأنه ضعفه، ويسند عن الحسن عن سمرة بأحاديث مناكير. وقال عباس الدوري عن يحيى بن معين اسماعيل بن مسلم المكي ليس بشيء. هیڅ شي هم نه دي په آحادیثو کې.

وكذلك قال عثمان بن سعيد الدارمي وابو يعلى الموصلي عن يحيى وقال محمد بن احمد بن البراء وابو العباس القرشي عن علي ابن المديني اسماعيل بن مسلم المكي لايكتب حديثه.
حدیث لیکل یې هم نه دي په کار.

وقال عمرو بن علي اسماعيل المكي يحدث عنه اهل الكوفة الأعمش واسماعيل بن ابي خالد وجماعة وكان ضعيفاً في الحديث يهم فيه وكان صدوقا يكثر الغلط يحدث عنه من لا ينظر في الرجال. هغه څوک ترې احاديث بيانوي چې اسماء الرجال کې نظر نه لري.

وقال ابراهيم بن يعقوب السعدي اسماعيل بن مسلم واهي الحديث جداً. وقال ابوزرعة هو بصري سكن مكة ضعيف الحديث. وقال ايضاً سألت ابي عن اسماعيل بن مسلم العبدي فقال هو ضعيف الحديث مختلط قلت له هو احب اليك او عمرو بن عبيد؟.

کوم يو درته محبوب دي.

فقال جميعاً ضعيفان. دواړه ضعيف دي.

واسماعيل هو ضعيف الحديث وقال النسائي اسماعيل بن مسلم يروي عن الزهري متروك الحديث وقال في موضع آخر ليس بثقة.

قال الحافظ في تهذيب التهذيب جلد ۱ صفحه ۳۳۲:

وقال ابن حبان كان فصيحاً وهو ضعيف يروي المناكير عن المشاهير ويقلب الاسانيد. وقال الحربي كان يفتى وفي حديثه شيء. وقال الحاكم عن ابي علي الحافظ ضعيف. وقال البزار ليس بالقوي. وقال ابواحمد الحاكم ليس بالقوي عندهم. وذكره العقيلي والدولابي والساجي وابن الجارود وغيرهم في الضعفاء.

زمونږ کار دا نه دي يقين وکړي دا مې درته بيان کړه د ننه په قلب مې تياره راځي ځکه چې دا ما ته ښه کار نه ښکارېږي چې د يو حديث په سند کې د يو راوي د لاسه په هغه جرحه وشي اګر که د ومره ائمه وو پرې جرحې کړې دي خو دا ما هغه ددوي جامه واغوسته چې دوي ځای پر ځای زمونږ صحيح احاديثو ته ونښلي او دغه شان کار ورسره کوي سره له دې نه دې ته ضعيف خو الباني هم ويلي دي او په اتفاق د محدثينو استدلالات ددوي ضعيف دي سوا د روايت د وائل بن حجر نه هغه اول چې ما پيش کړو هغه مونږ سره هم قوي دي او دوي سره هم قوي دي خو صرف هغې کې معارضه د مد بها صوته د خفض بها صوته کې اضطراب

راغلې دي يا د استدلال نه ساقط دي جانبينو نه او يا دا چې دوي تاويل ددې حديث لري او زمونږ روايت نه ددې تاويل نه شي پيدا کولې دغه طريقه يې آسانه ده او بنه لاره ده.

باقي مسئله د ترجيح ده ددې ټولو رواياتو په کتلو سره او د حضرت علي او عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د هغوي په هغه وروستي شرحې سره چې هغوي شپه ورځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره جوخت ولاړ وه او ام الحصين په وروسته صف کې او حکايت په ضعيف حديث کې کوي د هغې نه دين جوړ شي يا د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فقاهت روايت په مقابل د عمر فاروق او حضرت علي او ابن مسعود کې څومره مثابت ولري نو دغه شان خپله هم علماء يې او طالبان يې ددې رواتو خپل يو انداز او جاج تاسو هم اخيستې شي چې روات ددوي څوک دي او روات زمونږ څوک دي او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ سره په دې صحابه وو کې فتوى د چا معي دي په دې کار کې.

نو مسئله صرف د ترجيح پاتې کيږي جانبين دلائل لري جانبين په حق باندې دي هغه جانب کې مذهبين موجود دي ګمراه ورته مه وايي پاتې شو کوم چې دلته اهل حديث دي نو اهل حديثو سره زمونږ نزاع دغه نه ده چې تاسو آمين بالجهر ولې ويلي دي او مه دې ته شورش ورکوي په دې اهل حديث خپله ګندګي پټوي دوي به زور ورکوي خو تاسو به زور نه ورکوي تاسو ددې په ځای باندې بنيادي مسائل ددوي راښيګوي.

حکايت :

زمونږ يو طالب په بشام کې په رفع اليدين له اهل حديثو سره مناظره ټاکلي وه د اتوار يکشنبې ورځ يې ټاکلي وه خو دومره دواړه جانبه ناپوهه وه چې د يکشنبې ورځ يې ټاکلي وه خو نه يې په کې وخت معلوم کړې وه چې څو بجې غرما يا ماسپښين او نه يې په کې ځای ښودلي وه چې مناظره به په کوم ځای کې او په څو بجو کيږي ليکل يې هم کړي وه خبره خلاصه وه خو دا يې نه وه ليکلي چې جانبين به کوم ځای ته سره راغونديږي داسې يو نيمګړي کاريې کړې وه ما پسې هغه زمونږ طالب راغې ما ورته وويل څه دې کړي.

وايي دغسې مناظره مې جوړه کړې ده ما هغه ته هم وويل چې ګوره تا ما سره کورس مناظره کړې ده او تا ته بار بار ما ويلي دي چې يو سړي کې دومره غټ ګوړ شته دي ته د ستنې سورې ته ولې ګوته نيسي دا خو ناپوهي ستا ده په وهابيانو کې غټې غټې سورې دي

مرداري عقيدې يې دي هغه ولې نه راتېنګوي چې تا رفع اليدين راتېنګ کړې دي دا داسې غټه ګمراهي ده چې ته په دې مناظرې کوي دا محدثين پرې تير شوې آئمه پرې تير شوې ذوق زما دا نه دي چې په دې مناظره وشي او په دې دې احد الجانب آخر ته ګمراه ووايي دا خو ما ته ډيره بې انصافي ښکاري وايي ما خو اوس تاکلي ده او ما ته يې چيلنج راکړې وه.

ما ورته وويل نو کوم ځای دې تاکلي دي څوک دې مناظرين وايي شيخ امين په کې مناظر دي او ابويزيد عبدالقاهر په کې معاون دي ما ورته وويل چې تا ورسره څوک مناظرين ليکلي دي وايي ما مولوي عبدالحليم مناظر تاکلي دي ما ته يې وويل وايي ته مې ورسره معاون تاکلي يې ما ورته وويل ليکل مو سره کړې خلاص دې وايي خلاص دي ما ورته وويل چې ليکل خلاص دي نو کوم ځای کې به مناظره کيږي.

وايي دا ځای خو مونږ نه دي ليکلي ما ورته وويل چې دا سړي خو به درته معلوم وي چې د چا سره دي چې مناظره تاکلي وايي دا خو په چوک يادګار کې غټ د کان لري معلوم دي راته وهابي دي او زمونږ رشته دار هم دي مړي ژوندي ته چې راشي چيلنجونه د مناظرې راکوي.

ما ورته وويل صحيح ده زه هم هغه وخت سره ګرم وم عمر مې کم وه ما ورته وويل راځه چې ځو رشکه کې د دې وهابي د کان ته ورغلو ورسره کيناستلو. ما ورته وويل چې تا زمونږ دې ملګري ته د مناظرې چلينجونه ورکړې دي وايي نه مولانا صاحب ما خو نه دي ورکړې ده چيلنج راکړې دي ما ورته وويل يا تا چيلنج ورکړې يا ده درکړې تاسو په څه خپلو کې سره نښتي يې وايي په رفع اليدين باندې دې.

طالب ما ته وويل چې دوي وايي چې رفع اليدين څوک نه کوي مونځ يې نه کيږي ما ورته وويل ګوره دا خبره دوي نه کوي وايي نه کوي يې ما هغه ته وويل رښتيا تاسې دا خبره کوي چې څوک رفع اليدين نه کوي کوي د هغه مونځ نه کيږي وايي نه چې دا خبره ما نه ده کړې رفع اليدين نه کول هم سنت دي خو کول يې هم سنت دي نو ما دې خپل طالب ته وکتل چې تا ته خو ما هلته ويلي چې دوي دا خبره د مناظرې ميدان کې بيا نه کوي چې رفع اليدين نه کول بې ديني ده يا يې مونځ نه کيږي دا نه وايي هغه وخت کې بيا تا خو دا ليکل ترې نه دې اخيستي.

ما هغه وهابي ته وویل چې تاسو مناظره تاکلې ده وایي هاو ما ورته وویل چې کله وایې د اتوار یکشنبې په ورځ باندې ما ورته وویل سحر که مازیګر وایي دا وخت خو مونږ نه دي معلوم کړې ما ورته وویل چې کوم ځای کې به مناظره کوي وایي ځای مو هم نه دي معلوم کړې.

ما ورته وویل نااشنا مناظره ده په کوم ځای کې به یې کوي بیا مې هغه ته وویل چې رفع الیدین نه کول څه دي وایي سنت دي ما ورته وویل ستا په نزد یې کول څه دي وایي سنت دي نو ما ورته وویل نه کول هم سنت شول او کول هم سنت شول ته خو په دې قائل یې کنه وایي هاو ما ورته وویل چې څوک یې نه کوي ته خو ورته ګمراه نه شي ویلې وایي نه چې څوک یې نه کوي ګمراه خو نه دي ما ورته وویل چې ستا او زده په مینځ کې خو ډیره معمولي نزاع راغله په نه کولو د سنت ته هم قائل یې او دې هم قائل دي کول سنت دي او که نه دي په دې کې اختلاف راغې ته به کولو ته سنت وایي او دې به کولو ته سنت نه وایي دا یوه نزاع راغله خو احد الجانب آخر ته ګمراه نه وایي.

ما ورته وویل چې ستا او زده په مینځ کې خو نورې هم ډیرې غټې مسئلې شته دي کنه وایي څه شي ما ورته وویل چې ستا استاذان څه وایي چې تقلید څه شي دي وایي شرک دي سم تیز پرې راغې او زده استاذان وایي چې تقلید واجب دي او س که دا شرک وي او ده ورته واجب ویلې وي ما ورته وویل دا مسلمان دي وایي نه او ما ورته وویل که دا واجب ثابت شول او تا ورته شرک ویلې وي نو ته مسلمان یې وایي نه.

ما ورته وویل په دې ولې مناظره نه کوي وایي دا خو سمه خبره ده په تقلید به مناظره وکړو ما ورته وویل راوړه کاپي، کاپي یې راوړه موضوع مې ورته بدله کړه د تقلید موضوع مې ورته ولیکله او خپل نوم مې هم ورته ولیکلو هر څه شرائط مې ورته ولیکل لاندې مې ورته ولیکل د وخت او د ځای تعین ستاسو خوښه ده که دې وویل چې د شیخ آمین مدرسې ته راشې مونږ به هلته درشو او وخت چې کله تاسو برابر شوې که بیګا ته تیاریې او که صبا ته تیاریې چې کله هم تیاریې مونږ تیاریو.

سړي لاړ وایي دا خو تاسو لیکل راکړه او زه به هلته مشوره وکړمه صبا ته به بیا لیکل درکړم صبا مې پسې طالبان ولیږل هغه کس نو چې شیخ آمین ورغلي بنه یې دباو کړې دي

چې دا تا ته چا ویلي چې ته دې مسائلو باندې خلکو سره مناظرې وتاکه په رفع الیدین خو دوي ډیر نیغ نیغ کیږي تقلید باندې بیا چیره مناظرې ته راځي هغه طالبانو ته یې ویلي وه چې شیخ امین صاحب باجوړ ته تللې دي په دعوت باندې تاسو به یو دوه ورځې صبر وکړي هغه طالبانو ته ما وویل اوس به یې پریږدي نه داد تینګې نه دي اوس بیا پسې لاړ شي چې لاړ وایي شیخ آمین صاحب خو ویلي ابویزید عبد القاهر سره تاسو دا مناظره جوړه کړې وه هغه سره یې وکړي او زه اوس دې ته تیار نه یم.

نو طالبانو له ما سره مشوره نه وه کړي او په خپل سر خوشي شوې دي غلام الله رحمتي سره هغه مدرس وه قاضي کلي کې هلته پسې ورغلې دي هغه ته ناست دي خط یې ورته مخکې ایښې دي چې دا فلاني کس پیژني هغه بله ورځ مسئله جوړه شوې په رفع الیدین کې د هغه مناظرې وخت نه وه تاکل شوې مسئله تقلید ته بیرته راغله او شیخ آمین وایي چې ابویزید عبد القاهر پسې لاړ شي.

هغه ورته نصیحتونه شروع کړي وه ورته یې ویلي چې زه بیګا شیخ آمین غوښتي وه مه چې داسې چیلنج راغلي ده او وایي ما ته یې ویلي چې دا مناظره ته وکړه وایي ما ورته ویلي چې عبد الحلیم مولانا سره به زه مناظره وکړمه او غلام حضرت مولوي سره به ته مناظره وکړي دا خبره خو مونږ بیګا خلاصه کړې ده دا خط کې د شیخ آمین سره د مولوي غلام حضرت نوم دي چې مناظره به دوي دواړه کوي.

او بیا یې وایي مونږ ته نصیحت شروع کړو چې طالبان یې دا کارونه پریږدي په دې طالبانو کې چې ما و رلیږلي وه یو ورته راشروع شوې وه وایي مولوي صاحب ستاسو په دې حال ژړا راشي چې په خولو څه فتوی لږوي او په منبرونو څه وایي او چې بیا وخت راشي ځان وباسي او حاضریږي نه یوه هفته کیږي مونږ مو ستړي کړي یو کله دوکانونو ته منډې وهو کله مدرسو ته راځو بس هغه ته یې ویلي وه چې شربت وڅکي دا مناظره زه نه شم کولې شیخ آمین پسې لاړ شي.

چې بیرته راغلل ما ورته وویل بد مو کړي چې ابویزید پسې تللې یاستې ستاسو هغه سره څه کار وه مسئله دوکاندار جوړه کړې ده دوکاندار راتینګ کړي چې شیخ آمین راولي او که بل کوم وهابي راولي دوکاندار راتینګ کړي بل چا سره مو څه کار دي ځي بیا لاړ شي

پسې دوکاندار ته مې بیا ولیږل چې ورغلي وه هغه ورته ویلي وه چې زه خو اوس مناظرې ته تیار نه یم ما ته لږ وخت راکړي بیا راشي .

څه وخت وروسته مې بیا طالبان ورولیږل هغه بیا وخت غوښتې وه دا سلسله همداسې شروع څلور پنځه ځل مې طالبان ورولیږل نو دهغه دوکاندار غټه ږیره ده دا لمن او جولي یې ورته نیولې وه چې د خدای لحاظ وکړي ما پرېږدي وایي چې مناظره نه کوي نو په زور خو نه کیږي زه څه وکړم شیخ آمین درسره مناظره نه کوي طالبان چې ما ته راغلل وایي داسې خبره کوي ما ورته وویل چې اوس به یې نه پرېږدي ما ورته وویل چې دا خو ستا کلیوال دي صبا بیا چیلنج درکوي هغه ته به ورشي چې دې خبرو نه به توبه وباسي بیا طالبان ورغلي وه ورته یې ویلي وه چې تا تقلید ته شرک ویلي وه او د امام صاحب په حق کې دې بې آدبي کړې وه او دې خبرو نه به توبه اوباسي هغه وایي توبه نه ویستله دې کې وایي شور جوړ شو دا نور دوکانداران هم را غونډ شول وې ویل چې څه خبره ده مونږ وایي ورته وویل چې داد امام صاحب په حق کې بې آدبي کړي هغه دوکانداران وایي ټول احناف وه او پرې راغونډ شول وایي سړي چې کله توبه وویستله نو بیا یې وایي خوشي کړو .

نو مقصد مې دادی چې زه نه وایم چې دې څلورو مسئلو کې مونږ ادله نه لرو یا مونږ مناظره چا سره نه شو کولې دا مطلب مې نه دي خو زه انتهائي د ائمه وو او د محدثینو د بې آدبي نه یریږمه که دې مسئله باندې تاسو مناظرې وتاکي ضد کې راځي په ضد کې چې راځئ هغه جانب ادله لري اهل حق دي محدثین دي فقهاء دي خپل مذهب به ثابتوي د نورو ائمه وو بې ادبئ به درنه وشي ایمان کې به دې فرق راشي نو دوي خو گستاخان دي بې آدبه دي په هیڅ هم بند نه دي تاسو خو داسې مه کوي کنه .

پاتې شو هغه مسائل چې ما درته مخکې زیر بحث کړې دي هغلته الحمد لله اربعة ائمه مونږ سره دي محدثین مونږ سره دي د امت اسلاف مونږ سره دي دوي سره هیڅ شي نشته دي په لا نسلم ناست دي چې بس نه منمه او نه دې ثابت هغه راتینګ کړي زیر بحث یې کړي دا مسئلې زیر بحث مه گرځوي .

دا چند جرحې مې کړې دي د نقل سره الله دې ما ته عفوه وکړي په دې کې زما خپله یوه خبره هم نشته دي چې چا کړې ما را اخیستي دي خو لکه زما زړه پرې خفه کیږي چې باید

حديث ته محمل ولټول شي زمونږ امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ وګوري په آحاديثو جرحې نه کوي بلکې حديث ته محمل لټوي بنائسته محمل ورته پيدا کړي څو مره روايات د رفعې د آمين بالجهر چې راغلي دي هغې نه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ تاويل د تعليم کوي چې داد نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دائمي استمراري عمل نه وه بلکې دا يې تعليماً کړې چې هغه خلک پوه شي چې په دې سکته کې څه کول په کار دي پاتې شو دا چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترې نقل کوي چې ما کوم روايات پيش کړل او کوم هغه حديث د وائل بن حجر چې د شعبه روايت دي دا يې عمل اکثري دي مجتهد خو د حديثينو مينځ کې دو مره حق به هم نه لري چې يو محمل پيدا کړي يو تاويل پيدا کړي د حديثو يو صحيح معنى را اوباسي دا حق خو هغوي لري چې دا ووايي کنه نو دا د احاديثو مقابله نه ده.

مسئله د آمين بالجهر خلاصه شوه

مسئلة سماع الموتى :

التحقيق في سماع الموتى :

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ۝ وَمَا أَنتَ بِهَادِي الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ﴾ (سورة النمل آيت : ۸۰-۸۱).

بله مسئله د سماع الموتى ده دا مسئله ما مخكې كورسونو د علم مناظرې كې ما زير بحث نه ده ګرځولې او د هغې لويه وجه دا ده چې په كومه مسئله كې صحابه كرام اختلاف ولري نو اصحابي كالنجوم فبأيهم اقتديتم اهتديتم .

بيا كه هر جماعت هر صحابي پسې لاړ شي نو احد الجانب آخر لره په كې د ضلال او د زيغ نسبت نه شي كولې او نه جائز دي چې وي كړي زمونږ معاصرينو علماو او مشائخو كې څومره حنفي حضرات څه خو ساكتين دي فقط په دغه لحاظ باندې چې بيا زما طالبان كميږي هغه څه چې قائلين دي په حق باندې نو هغوي بيا رفع اليدين آمين بالجهر څو فروعي مسائلو ته زور وركړي كوم علماء چې عقيده د اهلسنت پيژني او د هغې پر چار كوي نو هغوي بيا نور مسائل د اهل حديثو اشاعتيانو چې دا ستاسو په وړاندې مونږ زير بحث وګرځول هغه يوې ته هم اشاره نه كوي زيات نه زيات مسئله د سماع الموتى كې ونښلي عوامو او طالبانو ته ذهن كې دا واچوي چې ګنې پنجپيريان اشاعتيان او اهل حديث دا ګمراه په دې دي چې دوي د سماع الموتى منكر دي نو دا نظر غلط نظر دي.

د سماع الموتى مسئله اختلافي له زمانې د صحابه كرامو نه وه او كومه مسئله چې صحابه كرام هغې كې اختلاف ولري هر جانب على الحق وي مسئله د سماع الموتى كې مثبتين د سماع الموتى هغه هم په حق باندې دي هغه قول د محققينو دي هغه قول د اكثرينو دي او كوم چې نافيين د سماع الموتى دي هغوي هم په حقه باندې دي ځكه هغوي د پاره اقوى د مقتديانو نه بې بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ده چې هغه په مسئله د سماع الموتى كې د نفي قائله ده اګر كه عبد الحي لكهنوي رَحِمَهُ اللهُ عبارت په آخر ورقاتو كې چې زه به يې تاسو ته وروسته نقل كړم چې هغه بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لره رجوع ثابتوي قول د مثبتينو ته خو قول

معروف نه دي د غه خلاصه مقصد مې دا دی چې دا مسئله د سماع الموتی د دومره اهمو مسائلو نه نه ده او په دې کې دې احد الجانب آخر لره د ګمراه نسبت و نه کړي ځکه چې په دې کې اختلاف او سني نه دي د زمانې د صحابه کرامو نه دي .

پاتې شو أئمه چې کوم دي هغوي نه په دې کې د اثبات او د نفي څه خاص ذکر نشته دي حنفي فقه کې ابن الهمام د سماع الموتی نه منکر دي او په کلکه انکار کوي او هغه دا په امامنا باندې تپلې ده چې دا د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ مسلک دي .

نو د غه نسبت چې ابن همام امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته د نفي د سماع کوي د غې کې دې حق ته نه دي رسیدلې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ تصریحات د نفي د سماع نه لري فقط هغه یوه خبره کړې ده هغه دا چې یو سړي قسم وخوړ چې زه به مثلاً زید سره خبرې نه کومه او هغه مړ شو بعد الوفات یې له هغه سره خبرې وکړي نو دې حانث دي که حانث نه دي .

احناف وایي دې نه حانث کیږي دا د احنافو یوه جزیه شته ټولو متونو شروحو د فقهې او فتاوو راخیستې ده دې ځای نه ابن همام ذهاب کوي چې ځکه نه حانث کیږي چې د غه مړي څه اوري نه نو ده ګویا کې جماد سره خبرې کړې دي هغه زید چې په خبرو پوهیدو نو دا هغه زید نه دي نو زید د ده خبره اوریدلې نه ده نو دې پرې حانث نه ده .

شاه انور شاه کشمیري رَحِمَهُ اللَّهُ هغه په ابن همام باندې سخت رد کوي په د غه ځای باندې او وایي چې دې نسبت د نفي د سماع الموتی امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ لره کوي دا صحیح نه دي امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ نه قول د اثبات او د نفي د هیڅ نه دي راغلې ته د د غې جزیې نه استدلال کوي چې چا قسم وکړو .

زه به مثلاً زید سره خبرې نه کوم بعد الوفات خبرې وشوې حنث نه لازمیږي نو دا دلیل د نفي د سماع نه دي دا د احنافو یو مشهور اصل دي هغه دا چې بناء د أَيْمَانُ په عرف باندې ده په عرف کې هغه زید لره خلک ژوندي نه وایي هغه زید لره خلک سامع د کلام نه وایي په هغه عرف باندې دا قول بناء شوې دي نه دا چې په حقیقت کې د سماع نفي ده .

دا مقدماتي کلماتو کې ما دا خبره واضحه کړه چې احد الجانب آخر لره باید ګمراه و نه وایي چې د نافیینو سره بي بي عائشه صدیقه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا موجود ده او د مثبتینو سره عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ غوندې عمده اشخاص د صحابه وو موجود دي .

باقي قول د محققينو او اكثرينو دادى چې سماع الموتى ثابته ده ځکه وروسته عبارات به تاسو ته راشي چې حقه داده دا ثابت ده اختلاف يا قول د اکثرو داده چې دا ثابته ده.

نافيين د سماع الموتى په استدلال کې د قرآن عظيم الشان نه دوه آيتونه پيش کوي چې يو ايات د سورة نمل ۸۰ نمبر ايت او دويم د سورة الروم ۵۲ نمبر ايات او د دواړو مضمون قريب دي:

﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾ خطاب دي رحمت عالم لره يقيناً تاسو چې يې اورول نه شي کولې مړو لره.

﴿وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ﴾ او نه شي اورولي کڼو لره بلنه.

﴿إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ﴾ چې وګرځي هغوي شاه کوونکي تا لره.

﴿وَمَا أَنتَ بِهَادِي﴾ او نه يې ته هادي.

﴿الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ﴾ په هغه معنى د موصل الى المطلوب سره نفي راغلې ده.

او بل ځاى کې اثبات راځي: ﴿وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾.

﴿إِن تُسْمِعُ﴾ ته اسماع نه شي کولې.

﴿إِلَّا مَن يُؤْمِنُ﴾ مګر کولې شي هغه چا لره چې هغه ايمان لري.

﴿بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ﴾.

يا دويم آيت د سورة روم آيت نمبر ۵۲-۵۳:

﴿فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ۵۲ وَمَا أَنتَ بِهَادِ الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ۵۳﴾ (الروم آيت: ۵۲-۵۳)

دغه اياتينو نه استدلال د نافيينو دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ويلې شوې دي چې ته موتى وو ته اسماع نه شي کولې دليل په څه شکل باندې نيسي اصلاً دا ايات کريمه د موتى وو متعلق نه دي د مړو متعلق نه دي نازل په دې خو اتفاق دي بيننا وبين الخصم دلته

مسئله د مړو زير بحث نه ده اصلاً کفار مراد دي او تشبيه د کفارو ورکول شوې د مړو سره نو: ﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ﴾ ته اسماع نه شي کولې کفارو ته هغه کفار چې دي په شان د موتی وو دی.

نو تشبيه د کفارو ورکول شوې ده د موتی وو سره هغې نه تعبير په مړو شوې دي نو دوي دلته دا قاعده جاري کوي چې هر کله تشبيه د کفارو د مړو سره ورکړې شوه نو دا تشبيه ده په نفي د سماع کې او وجه د شبهي په مشبه به کې ازيد وي د مشبه نه نو ته اسماع نه شي کولې کفارو لره هغه کفار چې مشابه دي له مړو سره په نفي د سماع کې بلکې وجه د شبهې په مشبه به کې ازيد وي د مشبه نه نو ګويا کې ثابته شوه چې دا مړي په نفي د سماع کې ازيد دي له کفارو نه نو مړو ته نفي د سماع تاکيدي ثابته شوه چې بالکليه هغوي نه اوري په دې طريقه د هغوي استدلال دي نو ته اسماع کفارو ته نه شي کولې هغه کفار چې دي په شان د مړو دوي دا وايي يعنې په نفي د سماع کې نو کفار سماع نه شي کولې او ته ورته اسماع نه شي کولې نو بيا چې تشبيه د مړو سره شوه نو مړي خو په طريقِ اولی سماع نه شي کولې.

زاد المسير في علم التفسير جلد ۵ صفحه ۳۴ کې ددې وضاحت کوي چې دا ايت کريمه نازل حق د کفارو کې دي او تشبيه د هغوي موتی وو سره دي ايات کې مسئله د سماع الموتی د سره نه شته دي د بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها دا رايه وه دې رايه کې دا بالکل ظاهر پسې تللې ده:

انک لا تسمع الموتی قال المفسرون هذا مثل ضربه الله للکفار فشبههم بالموتی.

نو مشابه يې کړه کافران له مړو سره.

قوله تعالی: وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ. إِن تُسْمِعُ ته اسماع نه شي کولې.

مراد د نفي نه دلته اسماع افهام **الا من يؤمن باٰتنا.**

دا عبارت ما دې د پاره صرف نقل کړې دي چې دا ايت کريمه په حق د کفارو کې نازل دي په باره د مړو کې نه دي نازل مسئله د مړو دلته زير بحث نه ده او نه مړي مراد دي دلته کفار يادوي چې ته کفارو ته اسماع نه شي کولې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په مقبرو بيانونه نه کول چې ګنې مړو ته يې اسماع ګانې کولې چې ګنې د ايت شان نزول دا دی چې دې څه مړو ته لګيا وه ايت ورته راغي:

﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾ نه دي كفارو ته دعوت وركوي او هغوي ايمان نه راوړي.

آيت راځي:

﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾ ته كفارو ته اسماع نه شي كولې لكه مثال د ذاكر او غافل څه شي دي مثل الحي والميت مثال يې د ژوندي او مړي دي مثال د عمر فاروق او ابوجهل څه شي دي ﴿أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ﴾ هغه چې مړوه بيا مونږ ژوندي كړو دا عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي نو مړ خو نه وه كنه هغه مرګ دده چې وه حالت د كفر دده وه او احياء دده چې وه حالت د اسلام دده وه.

نو استدلال د منكرينو په دغه طريقه دي چې دلته تشبيه د كفارو له مړو سره ده او وجه د شبهې مشبه به كې ازيد وي د مشبه نه خو دا تشبيه د كفارو د مړو سره په نفي د سماع كې ده دوي داسې وايي.

جواب به دا وي په طريقينو باندې يو خو دا چې تشبيه د موتى وو ده له كفارو د موتى وو سره دي آيت كريمه كې دا په نفي د سماع كې نه ده بلكې په نفي د فهم او د جواب تسليمي كې ده كه ته وايي چې دا تشبيه د كفارو د موتى وو سره په نفي د سماع كې ده نو معنى دا شوه:

﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾ ته اورول نه شي كولې كفارو لره.

هغه كافران چې سماع نه لري دوي په نفي د سماع كې په شان د موتى وو دا نفس كذب نسبت دي قرآن كريم لره ددې معنى دا شوه چې كافران ټول كاڼه دي لكه مړي چې كاڼه دي نو دا بداهتا دروغ دي كافر لكه كاڼه دي لكه مړي چې كاڼه دي نو دا بداهتاً دروغ دي كافر لكه كاڼه دي تشبيه د كفارو له مړو سره دا په نفي د سماع كې چې وركوي كذب لازميږي مونږ ګورو چې كافران كاڼه نه دي نو دا تشبيه په نفي د سماع كې نه ده دا تشبيه ده په نفي د فهم كې او په نفي د جواب تسليمي كې لكن لا يجيبون يا لا يقدران يجيب قدرت نه لري چې واپس جواب دركړي او يا په نفي د فهم كې ده ته اسماع نه شي كولې كفارو لره هغه كفار چې په نفي د فهم د كلام ستا كې دي په شان د مړو نو دوي ستا د خبرې تسليم نه كوي لكه مړي ته

چې لګیا یې تسلیم نه کوي دوي ستا خبرې ته جواب تسلیمي نه درکوي لکه څنګه چې مړي ته جواب تسلیمي نه وي نو په دغه معنی باندې دا تشبیه شوې ده.

دویم دا چې دلته نفي د اسماع راغلي ده او نفي د اسماع مستلزم نفي د سماع لره نه ده.

﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ﴾ ته اسماع نه شي کولې.

اَسمع یُسمع تُسمع باب د افعال دي او هغه متعدي دي نو نفي د اکرام د غیر نه مستلزم نه دي دې لره چې هغه کریم نه دي.

دلته د نفي د اسماع ده چې ته اسماع نه شي کولې نو دا دلیل ددې نه دي چې نفسِ سماع هغوي ته نشته ایات هغې نه ساکت دي.

دریمه دا چې ﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾ خطاب نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دوي ته اسماع نه شي کولې دا خو یو مسلم حقیقت دي دا مړي په ځای پریږده مثلاً زه به تاسو ناستو خلکو کې یو ه ته وایم ته خبره اوري که نه یې اوري اوري کنه تا ته دا قوه سامعه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ درکړي که خدای تعالی درکړي؟ خدای تعالی درکړې ده کنه نو تا ته دا اسماع نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ده کړي بلکې خدای تعالی کړې ده صحیح ده ته ژوندې یې ښه اوریدل کولې شي زه ویلې شم چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تا ته اسماع نه ده درکړي بلکې خالق درکړي.

نو دا دلیل ددې شو چې ته سماع نه لري؟ نفي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د اسماع شوې ده دلیل د نفي د سماع خو نه دي کنه ته اسماع نه شي کولې خالق سماع ورکولې شي ته یې نه شي کولې نو دا خو په ژوندو کې هم قوه سامعه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دي درکړې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نفي د اسماع په ژوندو کې هم کیدې شي پاتې خو لا مړي شول بلکې ده ته دا قوه چې ورکوي پیغمبران یې نه ورکوي خالق یې ورکوي ورته:

﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ﴾ ته اسماع نه شي کولې.

وروسته تسلیم خپله کوي:

﴿إِن تُسْمِعُ﴾ ته اسماع نه شي کولې.

﴿إِلَّا مَن يُؤْمِنُ﴾ څوک چې مؤمن وي هغه ته بیا اسماع کولې شي.

يعني معنى دا ستا دا خبرې په ﴿مَن يُؤْمِنُ﴾ باندې اثر کوي هغوي ترې فهم اخلي هغوي جواب تسليمي درکوي او کوم چې کفار او موتی دي په شان د موتی وو دي هغوي ترې فهم نه اخلي هغوي جواب تسليمي نه درکوي زما دغو جوابونو ته تفاسير اشاره کوي :

التفسير المنير للزحيلي جلد ۲۰ صفحه ۳۱ :

والمراد من نفي الاسماع للموتى الاسماع الذي ان يعقبه اجابة وتفاعل وتفاهم.

نفي د هغه اسماع راغلې ده کوم اسماع پسې چې وروسته جواب وي او فهم وي ته هغه اسماع نه شي کولې چې هغوي ترې فهم واخلي او تا ته جواب تسليمي درکړي .

فلا يعارضه ثبوت السماع من جانبهم. دا معارض نه شو د هغه آحاديثو سره چې هغې نه ثابتيږي ثبوت د سماع د جانبه د مړو نه هغې سره هيڅ معارضه د آيت نشته دي لکه حديث کې راځي :

ان الميت يسمع قرع نعال المشيعين اذا نصرفوا عنه.

نو ددې او هغې په مينځ کې څه مخالفت نشته دي دلته نفي د اسماع ده هلته ثبوت د سماع دي .

دلائل د مثبتينو د سماع الموتى :

مخکې دلائل د نافيينو وه .

دليل د مثبتينو لپاره روايات د بخاري وغيره کتبو دي .

اول دليل : صحيح البخاري جلد ۵ صفحه ۹۷ معرب بيروت چاپ پاکستان چاپ باب الجنائز صفحه ٦٨ :

عن ابي طلحة ان نبي الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر يوم بدر باربعة وعشرين رجلاً من صناديد قريش.

ورځ د بدر کې امر وکړو ۲۴ کسان د مشرانو د قريشو نه چې مړه پراته وه د بدر ميدان کې .

فقذفوا. واچولې شول .

في طوي من اطواء بدر. په يو کوهي کې له کوهيانو د بدر نه.

خبيث مخبث. هغوي ته اشاره ده.

وكان اذا ظهر على قوم اقام بالعرصة ثلاث ليال. د رحمت عالم طرز او طريق دا وه کوم قوم باندې به چې غالبه شو د هغوي د وړاندې ميدان کې به يې درې شپې تيرولې داد زړه ور انسان کاروي.

فلما كان ببدر اليوم الثالث. دريمه ورځ چې راغله.

امر براحلته فشد عليها رحلها. امر يې وکړو چې ما ته اوښ برابر کړي زه ځم د جنګ ميدان ته.

ثم مشى واتبعه اصحابه وقالوا ما نرى ينطلق الا لبعض حاجة. زمونږ ګمان دا وه چې دې روان دي بعضې حاجت لره.

حتى قام على شفة الركي. په غاړه د هغه کوهي باندې ودريده.

فجعل يناديهم. آواز کوي.

باسمائهم. د هغوي نومونه اخلي.

واسماء آبائهم يا فلان بن فلان ويا فلان بن فلان ايسركم انكم اطعتم الله ورسوله.

آيا اوس به خوشحال نه وي که تاسو تابعداري د خداى تعالى او د نبي عليه السلام کړې وي.

فانا قد وجدنا ما وعدنا ربنا حقاً.
مونږ سره وعده د امداد او د نصرت وه هغه مونږ حقه بيا مونده.

فهل وجدتم ما وعد ربكم حقاً.
تاسو مونده کړه وعده د عذاب چې تاسو سره وعده حقه شوې وه خطاب مړو ته کوي.

قال. راوي وايي.

فقال عمر يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ما تكلم من اجساد لا ارواح لها.

خبرې کوي جسدونو سره چې روح نه لري.

فقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والذي نفس محمد بيده ما أنتم بأسمع لما أقول منهم. نه يې تاسې أسمع هغه څه لره چې زه قول کوم دوي ته منهم له دوي نه تاسو ددوي نه أسمع نه يې بلکې دوي در نه أسمع دي.

بل حديث به وروسته راشي هغې کې دا الفاظ زيات دي:

ولکن لا يقدران يجيب. قدرت نه لري چې جواب راکړي باقي دوي أسمع دي تاسو أسمع نه يې له اقوالو زما لره بلکې دوي أسمع دي له تاسو نه له وفات سره قوات د حس چې دي دا تيزيږي کمزوري کيږي نه يو عالم بيان کوه نو هغه وويل حقيقت د موت خو نه تاسو ځکلي او نه ما چې سره پوه شو څه حالات دي خو:

النوم اخ الموت. خوب د مرګ ورور او هم مثل دي.

نو ګويا کې خوب نيم مرګ دي په دې کې حواس ظاهره مړه شي او حوّاس باطنه فعال وي کار کوي نو وايي راځي چې دې خوب ته لاړ شو چې دې کې حواس کار کوي او که نه يې کوي تيزيږي او که کمزورې کيږي بيا يې مثال ورکړو وايي مقبره کې مړي د دنيا هر قسم کامرې دي پسې راوړي نه شي کشف کولې هر څومره کوشش چې وکړي وايي چې کله سړي ويده شي هغه مړ پلار يا ورور په خوب کې ګوري د هغوي سره ملاقات کوي د دنيا يوه آله يې هم نه را اخلي او خوب نه بعد يې دا نظر دومره تيز شي چې هغه مړي بيا هم ګوري ملاقات ورسره کوي.

دا دليل ددې دي چې دا خوب کې ستا دا نظر تيز شو د دنيا نه کم نه شو دنيا کې دې سترګو هلته کار نه کوه او د خوب نه بعد يې کار شروع کړ وايي چې دا نيم مرګ چې خوب دي دلته نظر دومره تيز شو نو هغه پوره مرګ کې به لا څومره تيز وي هلته نظرونه نور هم تيز شي دا حجابات مينځ کې ختم شي دا دې دنيا د پاره وي.

ما أنتم بأسمع لما أقول منهم. نه يې تاسو أسمع اقوالو زما لره ددوي نه بلکه دوي أسمع دي.

دا قوي دليل د مثبتينو دي نافيين به تاويلات کوي چې دا خو معجزه وه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او تاسو أسمع لما أقول، زه چې څه وايمه دا دې وخت پورې خاص وه نو دا خو داسې تقديرات دي چې خپلې رايې ته حديث رابنكل دي چون چرا په يو حديث کې خو څه ګران کار نه دي دليل پيش کوه او د هغې نه يو جواب کوه خو جواب بايد معقول وي په دې الفاظو کې کوم ځای کې تخصيص تر ذات المصطفى موجود دي په کوم ځای کې اشاره معجزې لره ده.

مطلب د حديث دا دی چې زه تاسو ته هم خبرې کوم نن مې دوي ته وکړي خو تاسو أسمع اقوالو زما لره منهم نه يې تاسو هم زما خبرې اوري دوي يې هم اوري خو تاسو ترې أسمع نه يې بلکې دوي أسمع دي او په دې باندې د نافيينو د هغه قول رد هم وشو دې حديث کې دا حديث ما دې پاره را واخيست اګر که دې کې الفاظ کم هم دي چې:

لا يقدر أن يجيب. قدرت نه لري چې جواب ورکړي.

بخاري بل ځای کې هغه روايت ذکر کړې دي ما هغه را وانخيست دا مې را واخيست ځکه چې په دې کې څه الفاظ موجود دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بعد ثلاثة ايام راغې دوي ته نافيين دا وايي چې څنګه مړ شي او دفن شي دې وخت کې چې فرشتې راشي وايي دې وخت کې دوي اوري بيا يې وروسته نه اوري نو دلته ثلاثة ايام تير شوې دي نکير منکر فرشتې ترې لا پخوا تللې دي هغه ترې نه تلې دي او دوي ته سماع ثابته ده.

(۲) دويم روايت: صحيح البخاري جلد ۲ صفحه ۱۱۳ باب الجنائز کې دا حديث مذکور دي حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دي:

عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال العبد اذا وضع في قبره. نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائي بنده چې کله کيخودلې شي قبر کې.

وتولي. خلک ترې وګرځي.

وذهب اصحابه حتى انه ليَسْمَعُ قرع نعالهم. دې اوري هغه ټکارې د نعل د دوي دوي اوس څه وايي د پښو غږ اوري د بل شي نه اوري نو دې کې کله دا راغلې چې بل نه اوري خو اشاره دې ته ده چې د پښو ترپاريو کمزورې اواز دي چې څوک په غوږ وه ډير کمزورې نه وي

هغه يې اوري نو دا مړي دومره اسمع دي چې هغه کشارې هم اوري چې خلک واپس راروان وي دلته چې څوک دا تاويل کوي چې د پښو ترپار اوري بل شي نه اوري.
دا بعينه داسې تاويل دي لکه يو سړي ووايي نعل خو نعلينو ته وايي نعال ځان ته يو قسم بوټ دي چې حديث کې نعال راغلو هغه اوري او د بوټانو ترپار نه اوري د چپړو هم نه اوري ځکه حديث کې نعال راغلې د حديث دا مقصد دي چې دوي أسمع دي حتی دوي چې دې هغه نعال د مشيعينو ډير کمزورې دي هغه هم دوي اوري.
اتاه ملكان فاقعداه فيقولان له. راشي ملکان ورته کيني له ده سره وايي ده ته.
ماكنت تقول في هذا الرجل محمد ﷺ. د نبي عليه السلام متعلق تپوس ترې نه کيږي دا حديث بخاري کې څو ځايه مکرر دي.
بل ځای الفاظ دادی:
ان الميت ليسمع قرع نعال المشيعين له اذا انصرفوا عنه.
هلته دا الفاظ دي يقيناً دا مړي اوري ترپارې.
نعال المشيعين له اذا انصرفوا عنه. دا خلک چې ترې راوګرځي دا اوري.
(۳) **دريم روايت:** عون المعبود شرح سنن ابي داؤد جلد ۳ صفحه ۳۷۲ کې ذکر کړي.
ابن عبدالبر تمهيد کې هم را اخيستې:
وقد صح عن ابن عباس مرفوعاً ما من احد يمر على قبر اخيه المؤمن. نشته يو کس چې هغه د يو مؤمن ورور په قبر مرور وکړي.
دويم روايت کې راځي:
بقبر الرجل كان يعرفه في الدنيا. چې دنيا کې پيژنده.
فيسلم عليه. سلام پرې واچوي.
الا عرفه. مګر هغه يې وپيژني.
ورد عليه. رد پرې وکړي وعليک ورته ووايي.

دليل د سماع دي ظاهراً ځکه چې هغه دده سلام وانه وري نو بيا څه پوه شو چې په ما چا سلام اچولې نو رد ځنګه وکړي نو دا دليل د سماع دي چې هغوي يې اوري ځکه جواب ورکوي.

(۴) څلورم روايت: روايت د الموطأ دي جلد ۱ صفحه ۲۸:

وحدثني عن مالك عن العلاء بن عبدالرحمن عن ابيه عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خرج الى المقبرة فقال السلام عليكم دار قوم مؤمنين وانا ان شاء الله بكم لاحقون.

دا روايت مسلم کې هم شته ټول كتب الحديث دا را اخلي چې کله مقبرې ته څوک ځي نو مرده ګانو سره به يې د سلام طرز او طريق څه وي نو دا الفاظ درته بنايي:

السلام عليكم دار قوم مؤمنين وانا ان شاء الله بكم لاحقون.

نو السلام عليكم دا هم خطاب دي ان شاء الله بكم دا هم خطاب دي دا ټول خطابات داسې خطابات دي چې هغه صاحب به يې اوري که نه يې اوري بيا ددې سلام څه فائده شوه چې هغه يې اوري نه.

دا داسې مسئله ده چې ابن قيم او ابن تيميه هغه هم له دوي نه په کې او وبنتي دي نور خو هره مسئله کې ددوي مقتديان هغه دواړه وي.

خو په دې مسئله کې ابن قيم هم قائل د سماع الموتى دي داد هغه كتاب دي الروح ددې په صفحه ۷ باندې:

المسئلة الاولى وهي هل تعرف الاموات زيارة الاحياء وسلامهم ام لا؟

مړي د ژوندو په ملاقات باندې دا ژوندي پيژني او که نه او سلام يې اوري او که نه.

دې کې بيا حديث شروع کوي اول حديث هم دا ذكر كوي:

ما من مسلم يمر على قبر اخيه كان يعرفه في الدنيا فيسلم عليه الا رد الله عليه روحه حتى يرد عَلَيْهِ السَّلَامُ. سلام جواب واپس کړي.

فهذا نص في انه يعرفه بعينه، ويرد عَلَيْهِ السَّلَامُ.

داد ابن قیم قول دي دا نص په دې کې دي چې دا یې بعنیه وپیژني چې هغه فلاني راغلې دي او وعلیك ورته وایي.

بیا حدیث ذکر کوي:

وقد شرع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأمته اذا سلموا على أهل القبور ان يسلموا عليهم سلام من يخاطبونه.

شریعت دادی داسې سلام وکړه خطاب په کې کوي نو ورته به وایي السلام علیکم دار قوم مؤمنین چې دا روایت د مسلم نسائي ابن ماجه مسند ابن حنبل د ټولو دي.

بیا ابن قیم وایي:

وهذا خطاب لمن يسمع ويعقل. دا خطاب هغه چا ته کیږي چې اوري او پوهیږي هم.

ولولا ذلك لكان هذا الخطاب بمنزلة خطاب المعدوم والجماد. که داسې نه وې نو دا خو بیا خطاب جماد ته شو یا معدوم ته.

یو څوک نشته او ته لګیا یې سلامونه اچوې دا خو د لیونو کار دي او یا سړي کاڼي ته لګیا دي سلام پرې اچوي یا یې بوټي ته اچوي.

دې نه بعد بیا اجماع نقلوي:

والسلف مجموعون على هذا وقد تواترت الاثار عنهم بأن الميت يعرف زيارة الحي له ويستبشروا به.

د سلفو اجماع په دې باندې ده چې مړي د ژوندو په زیارت پوهیږي چې سلام واچوي وعلیك وایي ورته په دې کې تواتر د آثارو دي.

(۵) پنځم روایت: ابن ابي الدنيا د کتاب القبور نه الروح ذکر کوي په دغه مذکوره صفحه ۷ باندې چې د ابن قیم تصنیف دي:

حدثنا محمد بن عون حدثنا يحيى بن يمان عن عبدالله بن سمعان عن زيد بن اسلم عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قالت قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ما من رجل يزور قبر اخيه.

نشته یو سړي چې زیارت قبر د ورور کوي.

ويجلس عنده الا استأنس به . هغه پرې ألفت حاصلوي .

ورد عليه حتى يقوم . چې سلام اچوي و عليک وايي تر څو چې ترې پاڅي .

(٦) شپږم روایت : فتح الباري دابن رجب حنبلي جلد ۲ صفحه ۵۲۹ کې ذکر کړې دي :

وروي ابو الشيخ الاصبهاني (في كتاب ثواب الاعمال) باسناد له عن عبيد بن مرزوق قال

كانت بالمدينة امرأة . مدينه منوره کې يوه زنانه وه .

يقال لها ام محجن . دا يې نوم وه .

تقم المسجد . چې هغې به جارو کوه مسجد لره .

فماتت . هغه وفات شوه .

فلم يعلم بها النبي صلى الله عليه وسلم . نبي عليه السلام پرې پوه نه شو چا ورته ونه ويل .

فمر على قبرها . تير شو په قبر د هغې باندې .

فقال ما هذا القبر ؟ دا قبر د چا دی .

قالوا ام محجن فقال : التي كانت تقم المسجد ؟ هغه جومات به يې چې جارو کوه هغه.

قالوا نعم فصف الناس وصلى عليها . صفونه يې جوړ کړو مونځ د جنازې يې پرې وکړو.

ثم قال . بيا نبي عليه السلام دې بي بي ته مخاطب شو .

اى العمل وجدت أفضل ؟ اي بي بي کوم يو عمل دې افضل بيامونده .

قالوا يا رسول الله أتسمع ؟ دا يې اوري .

قال ما انتم باسمع منها . تاسو ددې نه أسمع نه يې .

هغه څوک چې د بخاري په روايت کې دا تاويل کوي چې :

ما انتم بأسمع لما أقول منه .

جواب دا کوي چې دا معجزه وه لما اقول نه يې ثابتوي چې زما قول کې دوي تاسو نه أسمع دي د هر چا قول کې خو نه دي نو دلته خو لفظ د لما أقول هم نشته دي .

ما أنتم بأسمع منها . نه يې تاسو أسمع دد ې نه بلکې دا بي بي أسمع ده له تاسو نه .

فذكر انها اجابته قم المسجد .
وايي دا روايت هم شته دي په کې چې بي بي آواز وركړو ورته چې د جومات جاروکول په عباداتو کې افضل وه دې چونکې دا عمل زيات کړې وه ثمره يې وليدله .
دا واقعه فيض القدير شرح الجامع الصغير جلد ۱ صفحه ۱۱۳ کې هم ذکر کړې .

(۷) اوم روايت : المعجم الكبير للطبراني جلد ۱۵ صفحه ۲۹۶ :

حدثنا عمرو بن حفص السدوسي حدثنا ابو بلال الاشعري حدثنا يحيى بن العلاء عن عبد الاعلى بن عبد الله بن ابي فروة عن فطن بن وهب عن عبد الله بن عمير قال مر رسول الله صلى الله عليه وسلم على مصعب بن عمير حين رجع من أحد .
واپسي کې أحد نه چې راتلو مصعب بن عمير رضي الله عنه شهيد وه هغه ته ودريدلو .

فوقف عليه وعلى اصحابه . شهيدان وه .

فقال اشهد انكم احياء عند الله . گواهي كوم چې تاسو عند الله ژوندي يې .

فردوهم وصلوا عليهم . د جنازې مونځونه يې پرې وكړه .

فوالذي نفس محمد بيده لا يسلم عليهم الا ردوا عليه الى يوم القيامة . سلام به نه اچوي په دوي باندې يو کس مگر دوي به ورته وعليك وايي تر ورځې د قيامت پورې .

(۸) اتم روايت : المنامات د ابن ابي الدنيا را اخيستې جلد ۱ صفحه ۱۳ د عبد الرحمن بن ابي ليلى روايت دي .

قال : وايي .

الروح بيد ملك . انسان چې مړ شي روح يې په لاس د يو فرشتې کې وي .

يمشي مع الجنازة . جنازې سره روان يې .

يقول . وايي دا فرشتې دې انسان ته .

أسمع ما يقال لك . واوره چې څه ستا باره کې اوريدل کيږي ؟

نو دې يې اوري کنه څوک يې تعريف کوي څوک يې بې ځايه صفت کوي نو په هغې يې بيا رتې دا بې ځايه صفت لکه مرشو خو دا قطب دوران وه يادا غوث جهان وه دا قيوم زمان وه نو هغه چې دې مقام والا نه وي دا فرشته ورته وايي :

أسمع ما يقال لك . واوره څه درته وايي هغه چې ويلې شي تالره نو دا يې اوري ځکه ورته وايي :

فاذا بلغ حضرته دفنه معه . چې کله لحد ته ورسيږي روح ورسره دفن کړي .

شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور امام سيوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ جلد ۱ صفحه ۱۰۱ دا روايت ذکر کړې دي .

اهوال القبور جلد ۱ صفحه ۱۳۶ کې هم دا رواي تذکر کړې دي .

دغه اته روايت سماع ثابتوي موتى وو لره دې نه بعد د مفسرينو چند اقوال دي تائيداً .

دسماع په رابطه د مفسرينو اقوال :

روح المعاني جلد ۱۱ صفحه ۵۵ پوره تحقيق يې په دغه صفحه کړې دي او دا ټول احاديث يې ذکر کړې دي او پوره تحقيق سره يې دا مسئله ذکر کړې ده او په آخره کې وايي حقه داده چې سماع الموتى ثابته ده ، د جانبينو دلائل د جانبينو نه جوابات دا ټول يې ذکر کړې دي .

وذهبت طوائف من اهل العلم الى سماعهم في الجملة . يوه ډله د علماء ذهاب کوي سماع د موتى وو لره .

وقال ابن عبد البر ان الاكثرين على ذلك . اکثر علماء په دې دي .

وهو اختيار ابن جرير الطبري . دغه رايه چې سماع موتى ثابتوي اختيار مذهب د ابن جرير الطبري دي .

وكذا ذكر ابن قتيبة وغيره .

دارنګې اضواء البيان في ايضاح القرآن بالقرآن جلد ٦ صفحه ۱۲۹ :

ان سماع الموتى ثبت عن النبي ﷺ في احاديث متعددة ثبوتاً . د مړو سماع د نبي عليه السلام نه په ډيرو احاديثو ثابت ده د غه رواياتو ته اشاره ده .

لا مطعن فيه . چې څه طعنه هم پرې نشته .

ولم يذكر ﷺ أن ذلك خاص بانسان ولا بوقت . که دا څوک وايي چې روايت د بخاري خاص تر نبي عليه السلام وه د هغه اقوال يې اوريدل د بل نه اوري که دا څوک وايي چې :

ان الميت يسمع قرع نعال المشيعين . دا خاص دي تر د غه وخته پورې وروسته يې نه اوري نو دې وايي :

ولم يذكر ﷺ ان ذلك خاص بانسان ولا بوقت . دې تقيداتو ته څه ضرورت نشته .

دارنګې الفجر الساطع الزرهوني شرح البخاري جلد ۴ صفحه ۱۸ دې کې تاويلونه ذکر کوي .

وقال السهيلي : اذا جاز ان يكونوا في تلك الحالة عالمين جاز ان يكونوا سامعين . بي بي عائشې ته چې چا دا حديث پيش کړې وه نو هغې ترې نه تاويل دا کړې وه چې هغلته نبي عليه السلام أسمع نه دي ويلې عالمين يې ورته ويلې دوي عالمين دي ستاسې نه هغه الفاظ داسې دي نو دوي ترجيح روايت د عائشې بي بي ته ورکوي ليکن محدثين وايي چې عائشه بي بي دلته موجوده نه وه او دا نور راويان عمر فاروق رضي الله عنه دي موجود دي روايت د عائشې بي بي ته څنګه ترجيح ورکول کيږي په روايت د عمر فاروق رضي الله عنه هغه خپله اوريدلې عائشې بي بي د بل چا نه اوريدلي نو هلته لفظ دادی :

ما انتم بأسمع . بِأعلم نه دي بأسمع دي .

سهيلي جواب کوي که د عائشې بي بي قول ته مونږ لاړ شو چې :

ما انتم اعلم . دوي عالمين دي سامعين نه دي عالمين دي .

اذا جاز ان يكونوا في تلك الحالة عالمين جاز ان يكونوا سامعين . چې عالمين شول سامعين په خپله دي چې سړي پوه شي نو پوهه خو وروسته د سماع نه راځي يو څوک چې

خبره وانه وري پوه به په څه شي نو سهيلي د عائشې بي بي د قول جواب کوي اول خويې[1] بنه تفصيل کړې او ويلې دي چې د عائشې بي بي قول نه د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول ته ځکه ترجيح ده چې هغه موجود ده په دې محضر او دا عائشه بي بي نه وه د بل چا نه نقل قول کوي نو هغه ته ترجيح ده او روايت دواړه بخاري را اخيستې دي د عائشې بي بي يې هم را اخيستې دي د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يې هم را اخيستې.

بيا دويم جواب دا کوي څه دغه حال کې عالمين خو عائشې بي بي هم منلې دي چې دا خو يې ويلې دي نو چې عالمين شول.

جاز ان يكونوا سامعين واما استدلالها بالآيتين. که عائشه بي بي د آياتينو نه استدلال کوي.

إنك لا تسمع الموتى فاجيب عنه باجوبة احدهما ما سبق عن قتادة ان الله تعالى احياهم حتى اسمعهم.

خداى تعالى ژوندي کړل ورواييې رول.

قال مغلطاي، على تأويل قتادة فقهاء الامة وجماعة اهل السنة وعلى ذلك تأوله عبدالله بن عمر وهو راوي الحديث.

ثانيها ما ذكره المصنف هنا عن عروة ان محل نفي سماعهم حين استقرارهم في النار لا قبل ذلك.

کله چې دوي مستقر په اور کې وي هلته يې نه اوري مخکې د هغې نه يې اوري.

ثالثها ما قاله الاسماعيلي ان اسماعهم اي ابلاغ صوت النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لهم انما كان من الله لا من النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دې ته ما مخکې اشاره کړې وه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نفي شوې ده ابلاغ دې نه کوي خداى تعالى يې کوي.

هو كقوله تعالى: ﴿أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ﴾ اى الله هو يهدي ويوفق ويوصل الموعظة الى اذان القلوب لا انت.

رابعها ما قاله السهيلي ايضاً واوضحه ابن حجر ان المراد بالموتى وبمن في القبور في الايتين الكفار الاحياء مجازا شبهوا بالموتى في عدم انتفاعهم بما يسمعون اى أنك لا تسمع من هم في حال الموتى او في حال من سكن القبور وعلى هذا لا يبقى في الآية دليل على ما نفته عائشة رضي الله عنها أصلاً.

داد مړو خبره بيخي ده نه داد كفارو خبره كوي.

دارنګې اكمال المعلم شرح صحيح مسلم للقاضي عياض جلد ۳ صفحه ۲۰۳:

قد جاء الكلام على سماع الموتى اخر الكتاب ايضاً والصواب ما اثبتناه. تفصيل كوي تول قاضي عياض صاحب نو بيا آخره كې وايي حقه داده:

ما اثبتناه.

هغه چې سماع الموتی مونږ ثابته کړه دغه حقه ده.

دارنګې اكمال المعلم شرح صحيح مسلم للقاضي عياض جلد ۸ صفحه ۲۰۴:

قال القاضي عياض قال والذي يحمل عليه سماعهم هو ما يحمل عليه سماع الموتى في احاديث عذاب القبر وفتنته التي لا مدفع فيها.

داد عذاب قبر متعلق چې څومره روايات دي دا ټول دلائل د سماع دي چې هغې د پاره هيڅ دفاع نه كيږي.

وذلك باحيائهم أو إحياء جزء منهم د حياء جزء منهم يعقلون به ويسمعون.

يا يې ټول ژوندي كړي يا يې څه حصه ژوندي كړي چې پوه هم شي پرې اوري يې هم.

ويجيبون في الوقت الذي يريده الله تعالى.

كله چې د خدای تعالی خوښه وي هغه وخت كې جواب هم وركوي بيا رد د سلام كوي.

دارنګې شرح النووي على مسلم جلد ۹ صفحه ۲۵۳:

قال المازري قال بعض الناس الميت يسمع عملاً بظاهر هذا الحديث ثم انكره المازري وادعى ان هذا خاص في هؤلاء ورد عليه القاضي عياض.

ویلې دي چې دا هغې پورې خاص دي او د نبي عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ خبرې اوریدلې او قاضي عیاض پرې رد کړې دي.

وقال يحمل سماعهم على ما يحمل عليه سماع الموتى في احاديث عذاب القبر وفتنة التي لامدفع لها.

وذلك باحيائهم او احياء جزء منهم يعقلون به ويسمعون في الوقت الذي يريد الله.

هذا كلام القاضي وهو الظاهر المختار الذي يقتضيه احاديث السلام على القبور.

داد امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ خپل قول شو دغه سماع الموتی چې ثابته ده دا ظاهره ده دغه مختار قول دي دغه مقتضی ده احادیثو د سلام دي سلام چې اچوي دلیل د سماع وي که سماع نه وای نو سلام څه د پاره وو بیا.

د دیوبند د علماو اقوال په دغه مسئله :

العرف الشذي للكشميري جلد ۳ صفحه ۴۴۱، السلام عليكم دار قوم مؤمنين ددې شرحه کوي :

ظاهر حديث الباب وغيره من كثير من الاحاديث يدل على سماع الموتى. دا حدیث او دغه شان ډیر احادیث دې دلالت کوي په سماع الموتی باندې.

واشتهر على ألسنة الناس ان الموتى ليس لهم سماع عند ابي حنيفة. د خلکو په ژبه مشهوره شوې ده چې دا مړو لره سماع نشته په نزد د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ باندې.

دې اوس جواب کوي :

وصنف ملا علي القاري رسالة وذكر فيها ان المشهور ليس له اصل من الأئمة اصلاً. مشهوره داده چې د امامانو نه دې کې څه اصل نه دي موجود چې امام صاحب گنې دا قول کړې.

بل أخذ هذا من مسألة في باب الأيمان. قسم کې چې کومه مسئله ده ما مخکې ذکر کړه.

انه اذا حلف انه لا يتكلم مع فلان فمات الرجل فتكلم معه على قبره ميتاً لا يحنث.

دې نه یې استدلال کړې دي :

اقول. شاه انور شاه صاحب وايي زه جواب كوم.
ان وجه عدم الحنث ان مبني الأيمان على العرف واهل العرف لا يعلمون ان الموتى تسمع.
عرف كې دا معروف نه ده چې مړي ثه اوري.
والمحقق. تحقيق داده.
ان اباحنيفة لا ينكر سمع الاموات. هغه د سماع الموتى منكر نه دي.
وان خالف ابن الهمام. اګر كه په احنافو كې ابن همام مخالف دي.
وقال ان الموتى لا تسمع وان ذخيرة الحديث تدل على سمع الموتى وقال الشيخ ان الموتى لا تسمع ويستثنى منه سمع قرع النعال والسلام عليكم.
دارنګې اتحاف القاري جلد ۴ صفحه ۱۷:
وقال السهيلي عائشة لم تحضر وغيرها ممن حضر أحفظ للفظه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ.
بي بي عائشه موجوده نه وه نور موجود وه هغه چې لا يعلمون وايي يا لفظ د ما انتم باعلم وايي او هغوي باسمع وايي د نورو قول ته اعتبار دي.
وقد قالوا. نور صحابه روايت دا كوي.
يارسول الله اتخاطب قوماً قد جيفوا. د جيفوا معنى اى صاروا جيفاً فقال ما انتم باسمع لما اقول منهم واما نفيها سماع الموتى واثباتها العلم لهم فجوابه ان العلم لا يمنع من السماع.
علم خو مانع د سماع نه دي بلكې مثبت د سماع دي.
قاله البيهقي. دا قول امام بيهقي كړې دي.
دارنګې شرح بلوغ المرام صفحه ۱۲۳:
فاذا كان بصفة عامة لا يعرف الاسماء سلم عليهم بصفة الاسلام.
كه يو عام مړي وي كه نوم ورته ياد نه وي نوم دې نه اخلي.
دار قوم مسلمين يا مؤمنين دې ووايي.

اذ الموتى يسمعون . ځکه مړي خبره اوري .

دا رنګې النافع الکبیر د عبد الحي لکهنوي رَحِمَهُ اللهُ جلد ۱ صفحه ۲۷۲ :

والکلام قد وجهه اکثر الشراح بأن الکلام ما یخاطب به الأفهام والأسماع وهو غیر متصور في المیت وفهم منه بعض أصحاب الفتاوی انه مبني علی عدم سماع الموتی فنسبوه الی القدماء ومن ثم اشتهر بین العوام ان عند الحنفیة لا سماع للموتی والحق انهم بریئون عن ذلك . کما حققه ابن الهمام وغیره .

دا هغه مخکنې خبرې ته اشاره ده .

والمسئلة التي نحن فیها لیست مبنیة علیه بل علی ان الکلام والخطاب في العرف انما یطلق علی الخطاب مع الحي ومع المیت لا یعرف کلاماً والأیمان مبنیة علی العرف فلذا لا یحنث بالکلام مع المیت اذا حلف لا یکلمه .

وکیف ینکر قدماء اصحابنا سماع الموتی . څنګه به زمونږ مشران امامان انکار وکړي د سماع موتی نه .

مع ظهور النصوص الدالة علیه واجماع اکثر الصحابة علیه . نصوص پرې دال دي اکثر صحابه پرې راغوند دي .

وقد انکرته عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لکن قد زارت قبر اخیه عبد الرحمن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. دا د خپل ورور عبد الرحمن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زیارت ته تللې وه .

وخاطبت معه . او خبرې یې ورسره وکړې .

کما هو مروي في جامع الترمذي وغیره . هغه خبرې یې دا وې ورته اودریدله وایي د جنازې وخت کې نه ومه که وایي نو نه به وم درته راغلې خو د جنازې وخت کې نه وم اوس درته راغلمه خپل ورور سره خبرې کوي دا مخاطبه شوه په خبرو کې .

فعلم انها رجعت الی السماع . معلومه شوه چې دې رجوع سماع ته کړي که ددې اوس هم دا عقیده وایي چې زما ورور دا خبرې نه اوري بیا یې دا خبرې ولې کولې ورته چا سره یې

خبرې کولې خپل وروز سره یې خطاب کړې دي.

والعقل ایضاً یوافق السماع فان السامع والفاهم انما هو الروح وهو لا یفنى بالموة وفناء البدن لا یقدح في ذلك ولعلي قد ینکشف حقیة هذا الامر لمنکري السماع بعد موتهم وان طال انکارهم في حیاتهم.

آخره کې ښه غصه شوې وای زما دې په خپل علم قسم وي چې حقیقت ددې کار به منکرینو د سماع ته له مرګ نه وروسته ښه ښکاره شي اګر که په دې ژوند کې یې ډیر اوږد انکار د سماع الموتی نه کړې دي.

نو بعضې خلک د عائشې بي بي رجوع دغه ځای نه ثابتوي چې دې وروړ خپل عبدالرحمن سره خطاب کړې دي او چې نه یې اوریدلو ولې خطاب کولو چې په پوهیدو ولې خطاب کولو جماد ته خلک خبرې نه کوي لرګي ته چې څوک خبرې کوي او هغه پرې نه پوهیږي داد عقلاء نه، نه وي خو چونکې مسئله د ابتداء نه نزاعي ده د صحابه کرامو د زمانې نه په کې اختلاف شوې دي.

او ما زیر بحث کړه چې عقول د عوامو هغه حق مسئلې ته ذهاب راشي او د جمهورو رأي ته چې سماع الموتی ثابته ده.

پاتې شوه دا مسئله چې نافیین بالکلیة سماع نه مني او دیخوا بیا څه غلاط مونږ کې هم شته دي چې هغوي د سماع الموتی نه دا جوړ کړل چې څوک چیرته اولیاء ته چغې وهي نو دا دارک اوري دغه نظر غلط دي سماع الموتی نفس الامر کې ثابته ده بعید د مرده نه هم امکان لري که کرامتاً هغه ته خدای تعالی دا ورسوي هغه ستا حق کې دعاء وکړي مشکل حل شي نو د هغې معنی دا نه ده چې دنیا کې څومره چغې دي مرده ګان اوري چې څوک چیره چغه وهي نو پیر بابا یې اوري دغه اجازت عوامو ته مه ورکوي چې هغوي دې ځای نه چغې وهي یا پیر بابا راورسیږي او یا زما مشکل حل کړي ها خواص د صوفیه چې کله حال د مراقبه کې وي او یا په پوره تفکر کې وي او رابطه کې وي د خپل شیخ سره هغه نه بعضې استمدات روحي غواړي هغې ته شرک مه وایي هغه کتبو د تصوف او واقعاتو د سیرو کې معروف دي.

دليل ورباندې هغه حديث هم جوړيږي د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم روضې ته يو صحابي راغې.

يا رسول الله صلى الله عليه وسلم إستسق لأمتك فانهم قد هلكوا.

نو چا چې داآواز کړي دا هم منکر سړي نه دي دا بلال بن حارث مديني دي صحابي دي. هغه چا ته يې چې کړې هغه رحمت اللعالمين دي او دغه شان چا نه چې يو شي ورک شي نو آواز دي وکړي په جيګ آواز باندې:

يا عباد الله اعينوني. د خداى بنده ګانو زما مدد وکړي.

يو روايت کې راځي:

فان لله عبادا لانراهم. د خداى بنده ګان دي مونږ يې نه ګورو هغه به دا ښاروي ده ته راونيسي او راپيدا به شي.

دا روايت د مصنف ابن ابي شيبة دي په کتاب الدعاء کې مذکور دي او ددې حواله د توسل مسئله کې هم ذکر شوې او دا شان معجم الکبير د طبراني په جلد ۲ صفحه ۷۲ کې دا حديث مذکور دي چې حضرت ميمونه رضي الله عنها د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم سره په خدمت کې ده د شپې د تهجدو وخت دي نبي عليه السلام د اودس ځاى ته لاړو اودس يې کولو بي بي خدمت کې ولاړه ده او د اودس په ځاى کې نبي عليه السلام دا آواز وکړو:

لبيك لبيك نصرت نصرت.

خدمت کې حاضر يمه حاضر يمه امداد به دې وشي امداد به دې وشي.

چې را بهر شو بي بي ترې نه تپوس کوي تاسو چا سره خبرې وکړې؟ وايي هاو.

قال هذا راجز بني كعب يستصرخني. داد بني کعب د قبيلې راجز وه.

راجز چا ته وايي چې په ترنم کې شعرونه وايي د بني کعب د قبيلې يو شعر ويونکي وه.

يستصرخني. فريادي چغې يې ما ته وهلې.

نو نبي عليه السلام دلته نه امداد د هغه کړي دي نو د بعيد نه داسې څه آواز نبي عليه السلام ته يا اولياء ته خداى تعالى اورسوي بعضې اوقاتو کې دا کيدې شي دا څه بعيده نه ده داد هغه معجزه شوه اولياء ته که دغه شان آواز ورسيږي دا به د هغوي کرامت شي بعد الوفات ثابت

دي خو ددې دا معنى نه ده كنه چې تول عمر كې چې د خداى تعالى د اواز په ځاى به ته اولياء ته چغې وهي لكه بعضې شيعه ګان او بعضې غلاط متبعين د هغوي چې د يا الله په ځاى باندې د يا فلان ولي آواز بهتر ګڼي.

دا مسئله چې سدِ باب ونه شي بيا بل طرف ته رسي داد يا علي مدد چغه د شيعه ګانو شعار دي اوس مجالسو كې به انتهائي ځان ترې ساتي زه ډيرو ځايونو كې د بريلي حضراتو جلسې ته چې لاړ شمه دا چغه په كې وهي نو ښه په نرمه يې پوه كړم چې صاحبانو داد شيعه ګانو په جلسو كې دا اوازونه كيږي زه خو تاسو پيژنم چې اهلسنت ياستي شيعه ګان نه ياستي خو يو بل سړي دلته راشي او تاسو د يا علي مدد چغې وهي هغه خو سره نه پوهيږي چې داد شيعه ګانو جلسه ده كه داد اهلسنت جلسه ده نو ولې د شيعه ګانو نښې ځان كې راولي.

يو كس راته ويلي دادِ محبت لپاره مونږ وايو چې محبت ښكاره كوي نو د شيعه ګانو سره دا فرق وكړي چې نعره يې صديق ووايي نعره يې عمر ووايي نعره يې عثمان ووايي څلورمه مرتبه كې نعره يې علي ته راشي نو مونږ به پوه شو چې ترتيب د خلفاء تاسې مني نو چې تاسو نعره يې تكبير نعره يې رسالت او ډارک نعره حيدري او دا شعار هم د شيعه ګانو دي نو دا افراط او غلو دوي كوي او په دې باندې نور څه نه وي هغه خپل بابا ګان شيعه ګان خوشحاله وي په دغه ځاى كې دوي سره رابطه پته د سياسي تنظيم د شيعه ګانو وي چې دا ونه وايي بيا په دوي هغه فند بنديږي هغه كوم چې دوي ته حواله وي هغه شي وربانديې بنديږي بيا شيعه ګان خفه شي چې تاسو زمونږ دا نښې ولې په مجالسو كې نه ښكاره كوي نو مقصد مې دادی چې زه د خواصو د صوفيه وو يا غير صوفيه وو خواصو خواصو عبادو ته چې كوم آوازونه كيږي د هغې منكر نه يمه كرامتاً به يې اولياء ته هم خداى تعالى ور ورسوي وا به يې وري هغه به دوي سره امداد وكړي د امداد معنى دا چې مؤثرِ حقيقي په كې هغه نه وي خالق وي خو دې به دعاء وكړي هغه مشكل به حل شي نو دا ثابت دي نصوصو نه ترې استدلال كيږي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته خداى تعالى ورسوي دا بعضې حالات د امت دا اوازونه فريادي دا ورته رسيږي خو ددې دا مقصد نه دي چې دنيا كې كومه چغه ده هر ولي به يې

اوري ګوري چې مونږ دا جائز کړو چې ددې ځای نه پير بابا ته چغه روا ده چې يا پير بابا راورسيږي او ما سره مدد شي او يا فلاني بابا راورسيږي ما سره مدد شي.

نو که مونږ دې ته مطلقاً او عام جائز ووايو نو اول به پيربابا ته سماع تامه کلي ثابتوو چې دنيا کې چيرته آواز دې ده ته رسي نو بيا به دا عقيده هم ساتو نو دا کومه عقيده ده نو د سماع الموتی خو دا مقصد نه دی چې چيرته آواز نه دې هغوي يې اوري.

مثال يو څوک اوس خبره اوري او ددې کس کرامت شي لکه عمر فاروق رضي الله عنه صحابه وو ته لرې آواز ورسولې وه هغوي ډير لرې وه ور وايې ورولو دې نه اوس دا ثابتيږي چې دا صحابه هغه ځای کې وه د هر چا خبرې اوريدلې دا خو نه ثابتيږي د يو وقت لپاره کرامتاً د عمر فاروق رضي الله عنه خبره هغوي واوريدله خدای تعالی په دې قادر دې د لرې نه يې ورواوروله خو دا دليل د کلي سماع خو نه شو کنه چې دا صحابه هلته په غزا کې وه او دلته صحابه وو چې څه خبرې کولې او ټولې اوريدلې د کلي سماع دليل خو نه دې نو دغه شان کلي سماع به يو ځل ثابتوي او داد هيڅا عقيده هم نه ده.

دويم دا چې علم غيب يې کلي به ثابتوي پيربابا ته چې چا ته چغه وهي علم غيب کلي به ثابتوي چې هغه د ټولې دنيا په خلکو کلي علم غيب تفصيلي لري او د هر چا په خبرو پوهيږي نو که ستا د علم غيب کلي عقيده نه وي او د سماع کلي عقيده نه وي نو دې الفاظو ته به په کوم انداز کې جواب ورکوي او څنګه به يې جائز کوي نو زنانه عوام چې کوم دا وايي يا فلاني بابا راورسيږي زما مشکل پوره کړي نو دا پوهول غواړي داد هغوي ناپوهي وي نو يو خوا ډانګ دي بلخوا پړانګ دي يو خوا دې خلکو وخوړو چې انکار کوي د حقيقت د شي نه او بل خوا دې غلاطو افراطيانو داسې عقيده ترې جوړه کړه چې هغه بالکل د شيعه ګانو سره مترادفه عقيده ده نفس حقيقت د شي نه انکار مه کوي مددِ روحي کرامتاً ممکن دي شوې دي حديثونه ثابت دي.

حکايت :

عبدالقيوم باچا صاحب د قادرې شريفې پير وه ټول خلک يې پيژني خټکو پُل کې کور او خانقاه ده وفات شوې دي هغه ما ته حکايت کولو ضعيفه آخري عمر کې دي د خپل پلار مريد وه دي پلار يې د نيکه مريد وه او نيکه يې د سوات صاحب مريد وه وايي زمونږ نيکه

مونږ ته قصه کوله چې زه د حضرت سوات صاحب سره خدمت کې ومه تهجدو ته پاڅیده وایي ما ورته کوزنړي ونیوله وایي دا کوزنړي یې د غاړي نه ونیوه دا دیوال یې پرې اوشته وایي زه سخت ویرید مه بس په یخو اوبو یې اودس وکړو او ما دا کودړي راټول کړل وه مې ساتل میاشت یا میاشت نه کم وخت چې تیرید لو نو د هندوستان نه دده یو مرید را روان وه لاهور کې چیرته ځنګل کې او زمري پرې راغلې وه چې زمرې پرې راغلې نو هلته نه هغه آواز کړې دي حضرت سوات صاحب علیه الرحمة ته یا یې الله پاک ته آواز کړې چې دده په برکت مې خلاص کړه بس دلته حضرت سوات صاحب ته دا حالات کشف شوې دي له دې ځای نه یې پرې باندې ګوزار کړې دي وایي چې ما څنګه سوات صاحب ته چغه وو هله وایي چې ګورمه یوه کوزړي راغله او دا زمري په دې سر پرې ولګیده زمري مړ شو او هغه کوزړې ټوټه شوه هغه مرید یې هم د کوزړې کودړي راغونډ کړي.

او دلته د عبد القیوم باچا صاحب نیکه هغه هم دا راغونډ کړي وه وایي چې ما او هغه هغه تاریخ سره مقائسه کړو یو تاریخ وه همغه وخت زه دده د تهجدو په خدمت کې ولاړ وم چې دا مسئله پیښه شوه دې نه اوس انکار مه کوي چې دا نه شي کیدې مؤثرِ حقیقي په دې کې اِله العالمین دي د انګریزانو جوړ شوې شي میزائیل په سلګونو کیلو میټره مزل کوي یو ځای نه بل ځای ته نو خدای تعالی خو په دې باندې کامل قدرت لري چې یو شي ددې ځای نه ډیر لرې مسافې ته ورسوي د یو ولي په لاس مؤثرِ حقیقي په کې الله پاک وي مجازي نسبت ده ته کیږي کرامت دده شي له داسې حقائقو نه انکار مه کوي هغه چا چې آواز کړې مرید دي صوفي دي شیخ دي صاحب د مراقبې او رابطې دي هغه دې خپل شیخ سره په رابطه او تصور کې دا اواز کړې دي دیخوا نه دا مدد چې شوې دي دا هم دغه شان صوفي کامل دي اتفاقي مسلم شخصیت دي پاکستان کې حضرت سوات صاحب رَحِمَهُ اللهُ نو دا کیدې شي.

او له دې نه دا استدلال کول او عوامو ته دا نظر رو کول چې چیرته مشکل درباندې پیښیږي سوات صاحب ته چغې وهي یا شیخ عبد القادر جیلاني صاحب ته چغې وهي نو دا خو هیڅ انصاف نه دي د شیخ عبد القادر جیلاني رَحِمَهُ اللهُ دغه شان کرامات مسلم دي ډیر ځای ښکاره شوې دي.

شيخ الدولة گجراتي رَحِمَهُ اللّٰهُ مزار اوس هم هلته شته دي د هغه مريد هم دي چې هغه کشتي کومه ډوبيدله او د هغه په مدد باندې خداى تعالى مؤثرِ حقيقي دي خو دده په لاسونو باندې هغه د غرق نه ايستلې شوې ده.

يو واقعه ده د هغه په کراماتو کې مذکوره ده کراماتو نه انکار مه کوي دا حقيقت دي خو د هغې نه دا شي جوړول چې ته د مشکل په وخت کې خالق ته چغې مه وهه اوس شيخ عبدالقادر جيلاني رَحِمَهُ اللّٰهُ ته چغې وهه او يا يو بل ولي ته چغي وهه نو دا هله ووهه چې علم غيب کلي ورته ثابت کړه چې دا نه وي بيا يې هغه وخت کې ووهه چې ته هغې مراقبې ته ورسيږې او رابطې سره چې ستا پوره رابطه د هغه سره وي بيا يې هم ووهه چې دا صورتونه، نه وي نو عوامو ته د دې څيزونو اجازت شريعت نه ورکوي او هغه ذات ته د مشکل په وخت کې آواز کول په کار دي چې په تا علم کلي تفصيلي لري چې خالق دي ستا ممدِ حقيقي دي چې خالق دي ستا هره خبره اوري چې خالق دي نو هر مشکل کې مراجعه اله العالمين ته په کار ده او دا نور څيزونه چې دي دا صرف توسلات او سببونه دي لکه تفسير کابلي که چا سره وي هغه تاسو په اياك نعبد واياك نستعين باندې وګوري هغه وايي که چيرته اولياء وغيره سبب محض ګڼلې کيږي او مؤثر خالق ګڼلې کيږي دا ددې څه مخالفت نه دي استعانت د خالق نه دي خو دا په کې اسباب جوړ شي بيا څه ناروا نه دي.

الروح يو کتاب دي د ابن قيم صاحب ډير زيات آثار يې په دغه موضوع باندې را اخيستې دي په صفحه ۸ باندې ابن قيم په الروح کې سند سره روايت ذکر کوي:

حدثنا محمد بن حسين حدثنا يحيى بن بسطام الأصغر حدثني رجل من آل عاصم الجحدري قال رأيت عاصماً الجحدري قال رأيت عاصم الجحدري في منامي بعد موته بسنتين.

دوه کاله وروسته مې خوب کې وليده.

فقلت أليس قد مت. مړ نه يې.

قال بلى قلت فأين أنت. ورته مې وويل نو چيرته يې.

قال انا والله في روضة من رياض الجنة. د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه کې يمه.

انا ونفر من اصحابي . زما څه ملګري هم دي .

تجتمع كل ليلة الجمعة وصبيحتها الى بكر ابن عبدالله المزني . مونږ او زمونږ ملګري د جمعې په شپه باندې بکر ابن عبد الله مزني سره راغونديږو .

فنتلقى اخباركم . مونږ يو بل سره اخبار يو بل نه اخلو .

قال قلت اجسادكم ام ارواحكم . جسدونه مو راغونديږي که روحونه .

قال هيهات بليت الأجسام . جسدونه چې کم دي هغه زاړه شوې يې .

انما تتلاقى الارواح . روحونه ملاقات کوي .

قال قلت فهل تعلمون بزيارتنا اياكم . مونږ چې ستاسو زيارت ته راشو پوهيږي پرې .

قال نعم نعلم بها عشية الجمعة كلها . د جمعې په شپه خو پوهيږو .

ويوم السبت الى طلوع الشمس . او د هفتې (خالي) په ورځ تر سحر پورې يعنې د جمعې شپه او ورځ ټوله .

قال قلت كيف ذاك دون الايام كلها . نورې ورځې بيا داسې تفصيلې نه پوهيږي .

قال لفضل يوم الجمعة وعظمته . دا د جمعې ورځې فضيلت دي چې په دې ورځ مونږ پوره پوهيږو .

بيا په صفحه ۱۰ کې ليکي :

حدثني محمد حدثني احمد بن سهل حدثني رشد بن سعد عن رجل عن يزيد ابن ابي حبيب عن سليم بن عمير مر على مقبرة وهو حاقن . تش بول ورغلي وه .

قد غلبه البول فقال له بعض أصحابه لو نزلت الى هذه المقابر . دې مقبره کې کوز شه بول وکړه .

فبلت في بعضي حفرها فبكى . نو ده وژړل .

ثم قال سبحان الله والله اني لأستحي من الاموات . د مړو نه حياء راځي .

كما أستحي من الاحياء . لکه ژوندو نه چې حياء کوم .

ولولا أن الميت يشعر بذلك لما استحي منه. ابن قيم وايي كه چيرته دا مړي نه پوهيدې په ژوند خلکو باندې نو دې سړي حياء ترې ولې کوله سليم بن عمير رَحِمَهُ اللهُ ترې ولې بيا حياء کوله.

دغه شان بل روايت ذکر کوي:

قال يزيد بن هارون اخبرنا سليمان اليتمي عن ابي عثمان النهدي ان ابن ساس خرج في جنازة في يوم وعليه ثياب خفاف فانتهى الى قبره قال فصليت ركعتين ثم اتكأت عليه. ما پرې تکيه وکړه.

فوالله إن قلبي ليقظان إذ سمعت صوتاً من القبر. د قبر نه آواز راغې.

اليك عني لا تؤذني. لرې شه زما نه تکليف مه راکوه.

فانكم قوم تعملون ولا تعلمون. تاسو ژوندي داسې قوم يې چې عمل کوي خو علم يقيني نه لري.

ونحن قوم نعلم ولا نعمل. او مونږ مړي داسې قوم يو چې مونږ علم لرو پوهيږو په هر څه خو اوس عمل نه شو کولې.

ولأن يكون لي مثل ركعتيك احب الى من كذا وكذا.

که دغه دوه رکعته ما کولې شوي دا به د دومره دومره نه ما ته غوره وه دې وايي:

فهذا قد علم بأتكاء الرجل على القبر وبصلاته.

پته ولګيده چې دې سړي پرې تکيه وکړه پرې پوه شو او دا رنګې چې دلته يې مونځ وکړو نو هغه پرې پوه شو.

نور ډير زيات روايات دي کتاب دي متعلق را اخيستې دي وړوکي کتاب دي: الروح په دغه موضوع باندې خاصتاً لګيدلې دي پيدا يې کړي او دغه موضوع د سماع الموتى يې تفصيلي چيړلې ده.

موضوع د سماع الموتى خلاصه شوه

مسئلة التطوع في السفر :

التطوع في السفر جائز بل مندوب عند الجمهور :

بسم الله الرحمن الرحيم

نني بله نزاعي مسئله چې هغه د اوس نه نزاعي نه ده بلکې زمانه د صحابه کرامو کې هم څه نا څه اختلاف په کې شوي وه بیا وروسته فقهاء کرامو د هغوي نه هم څه متضاد اقوال نقل شوې دي چې هغه مسئله د تطوعاتو ده في السفر په سفر کې .

د سنتو د کولو او د نه کولو جزي فرعي مسئله ده ما زیرِ بحث ځکه وګرځوله چې اسلافو کې د هیڅ یو فقیه او محدث په دې باندې قول نشته چې په سفر کې سنت نه کول سنت دي دا جزیات بیخي په کتبو کې نشته او دا په اسلافو فقهاء محدثینو کې د هیچا قول هم نه دي .

تبلیغي جماعت او بالخصوص اهل حدیث سرکرده وو نن صبا دا خوره کړي ده چې سفر کې سنت نه کول هم سنت دي نو یو په سفر کې ترک د سنتو دي سره د اولویة د فعل نه او دویم په سفر کې ترک د سنتو دي سره د اولویة د ترک نه اسلافو کې ترک د سنتو د جواز قول سره د اولویة د فعل نه دا مذهب د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دي هغه به سفر کې سنت بعضې اوقاتو کې نه کول خو د هغې نه کولو هغه نچوړ خلاصه امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ ذکر کړې ده چې قائلین د ترک السنة هغوي عاملین بالرخصة دي قبول د رخصت يې کړې دي چې جواز د ترک شته دي سره د اولویة د اتیان بالسنة نه چې سنت کول بهتر دي .

او هغه خلک چې وايي چې سفر کې سنت نه کول سنت دي او خلک دوکه کوي په قول د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې مروي في البخاري دي نو دا دوکه ده او خلکو ته هسې تلبیس راوستل دي په خلکو باندې نو چونکې دا مسئله د هغې زمانې نه نزاعي وه په دې کې یو سنن رواتب دي او بل سنن غیر رواتب نهاري دي بل سنن غیر رواتب لیلي دي سنن رواتب رکعتين قبل الفجر او رکعتين بعد الظهر ، رکعتين بعد المغرب او رکعتين بعد العشاء دا دوه دوه رکعته د ټولو مونځونو نه وروسته سوی العصر .

دومره اختلاف شته دي د ظهر نه مخکې يا وروسته رکعتين رواتب کوم دي جمهور آئمه وايي چې څلور دي امامنا د جمهورو ملګرې دي امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي چې دوه دي امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ رواتب قبل الظهر دوه ګڼي نو د هغه په نزد رواتب لس (۱۰) شول قوي دليل د احنافو جمهورو د پاره هغه حديث دي چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دولسو (۱۲) رکعاتو ذکر کړې وه د هغې تعريف يې کړې دي بيا يې په هغې کې قبل الظهر اربعة ذکر کړې دي او دا دولس (۱۲) بدون د دې نه پوره کيږي هم نو يو دا رواتب شو.

امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ لره اختلاف مونږ سره لري بيا په اربعة رکعات قبل العصر کې امام مالک صاحب متفرد ده وايي داد رواتبو نه دي جمهور ائمه وايي چې دا د رواتبو نه، نه دي زوائد دي هغلته هم امامنا د جمهورو ملګرې دي نو يو د سنتو رواتبو خبره ده مؤکدات د مانځه نه مخکې وروسته چې کوم مونږ او تاسې عملي کوو.

دويم سنت غير رواتب دي تقسيم يې کړه ليلي لره او نهاري لره په نهاري وو کې صلاة ضحى راځي صلاة اشراق راځي اشراق او ضحى په نزد د محدثينو باندې شيء واحد دي او په نزد د صوفيا کرامو باندې دا مختلف مونځونه دي وخت د ضحى نن صبا دوي بجې اته نيمو بجو (۳۰-۸) نه بعد او وخت د اشراق متصل د طلوع الشمس چې صرف نيزه يا نيزتين اوچت شي د هغې نه بعد عدد کې هم فرق بنايي چې اشراق مونځ رکعتين دي د ضحى مونځ چې دي اقل يې څلور رکعته دي او اکثر يې دولس (۱۲) رکعته دي او يا د ماز يګر نه مخکې څلور رکعته دا نهاري شول او غير رواتب شول په قول د جمهورو باندې.

او يا رکعتين بعد زوال الشمس جمهور وايي چې دا غيرِ رواتب دي او امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي چې دا رواتب دي نو دا تطوعات شول نهاري غيرِ رواتب بل تطوعات دي غيرِ رواتب ليلي د هغې مثال په نزد د جمهورو باندې ثلاثة رکعات الوتر چې هغوي وترو ته سنت مؤکده وايي واجب يې نه ګڼي او دا رنګې د شپې تهجد شول چې د څلورو نه اتو رکعاتو پورې او په قول د بعضو تر دولسو پورې دا ليلي شول.

د صحابه کرامو زمانه کې چې په سفر کې د ترک سنتو قائل وه هغه يو اځې عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وه خو تاسو ته ما وويل چې هغه د ترک په معنى د قبول الرخصة قائل دي نه په معنى د اولوية د ترک لکه دوي چې وايي سفر کې سنت نه کول سنت دي دا الفاظ د حضرت

عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه دي د هغه د قول ترجمه او نچوړ امام ترمذي ذکر کړي دي تاسو ته به يې زه ذکر کړم.

د هغه د قول نچوړ قبول الرخصة جائز قدري دي چې ترک وشي نو اتيان افضل شو دا نور ډيرو فقهاو قول دي چې ترک جائز او اتيان افضل دي.

مونږ دا مسئله دلته چې نزاعي کړه رد په هغه فقهاء مقصد نه دي چې هغوي ترک جائز او اتيان افضل ګڼي نه هغوي خو فقهاء دي محدثين دي اهلِ حق دي او هغې باندې حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما قائل دي اصلاً مونږ دا نزاع هغه چا سره جوړوو چې هغوي ترک السنة ته سنت وايي.

يا په بله معنی سفر کې سنت نه کول سنت ګڼي او کول يې خلافِ سنت بدعت ګڼي دغه خطرناکه خبره ده ځکه دې باندې ډير زيات امت قائل دي اربعة آئمه قائل دي تقريباً لس تابعين قائل دي صحابه کرامو کې اکثرين قائل دي خلفاء راشدين پرې قائل دي او دوي دا خبره کوي چې سفر کې سنت نه کول سنت دي يعنې که چا وکړه نو خلاف سنت يې وکړو بدعت يې وکړو دا نسبت د بدعت صديق اکبر، عمرِ فاروق، عثمان ذوالنوين رضي الله عنهم عمده عمده صحابه دي په دې کې تاسو ته به اقوال راشي دا خو هغوي ته نسبت کيږي نو حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما د ترک السنة په معنی د قبول الرخصة قائل دي.

اوس دا خبره چې هغه د کومو سنتو د ترک قائل دي نو تاسو ته ما دري قسمه کړه رواتب او غير رواتب غيرِ رواتب ليلي نهاري هغه فقط د سنت رواتبه وو د ترک قائل دي هر چې غيرِ رواتب دي نو هغه عبدالله ابن عمر رضي الله عنه به تهجد کول په سفر کې ثابت دي له هغه نه او نهاري چې کوم مسنونات دي د زياغ د شمس نه بعد چې کوم رکعتين وغيره مسجد ته به چې ننوتلو تحية المسجد دا هغه نه دي ترک کړي په سفر کې هغې باندې اتيان کړې دي.

نو صرف د رواتبو باره د هغه يو قول منقول دي اوس د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه دا قول فقه معنی کې څنګه دي د چا قول ته خو لږ معنی کې هم ګوري فقه کې هم ګوري چې په فقه کې څومره اهميت لري.

اوس دي قائل د رواتبو د ترک دي او د غيرِ رواتبو د اتيان دي نو تاکيد په غيرِ رواتبو کې ازيد دي که په رواتبو کې ازيد دي دې ته هم سوچ په کار دي نو قول خو يې کړې دي خو

دا قول د فقاهت نه فقهي اجتهادي لحاظ سره د روند قول نه دي لکه ظاهر پسې تلل شوې دي.

که تاسو ترمذي کلکه مطالعه کړي په اربعة ائمه کې به تاسو ته د فقهاو د قول د روند والې په څه باندې معلومیږي چې کوم قول معنی کې فقه لري او کوم قول یې نه لري دې کې امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ ظاهر بین دي دده او د ظواهرو په فروعي جزئیاتو کې لږ فرق دي نصِ ظاهر پورې کلک نښتي او هغه جزیه په هغې فرعه او مسئله ثابتوي بیا دده په مقابله کې امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ صحیح ترمذي مطالعه کړي تاسو ته به ښکاره معلومه شي دده دړې واړو اقوال په فقه کې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته نه شي رسیدلې نو د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول شته بخاري کې مونږ لیدلې دي خو هغه رواتبو پورې تعلق لري غیر رواتبو د اتیان قائل دي.

او بله دا چې د رواتبو د ترک قول یې چې کړي په معنی د قبول الرخصة دي امام ترمذي پرې قول کړې نه په معنی د اولویة د ترک سره لکه دوي چې ترې کوم اخذ کړې دي او خپله قول د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د فقهې په لحاظ سره د روند ځکه نه دي چې په رواتبو کې ترک کول او په غیر رواتبو کې اتیان سره له دې نه چې تاکیدات په رواتبو کې ازید دي له غیر رواتبو نه.

دا چې دا مسئله عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د رواتبو د ترک قول څه شي نه کړې دي له دې نه یې کړې ویلي دي هغه رکعتین ورکړل په جمعه بیا یې دده وهله چا مونځ کولو سنت وایي دا خلک څه شي کوي وایي دا هغه سنت کوي:

لو کنت مسبحاً. که زه وایي نفل کوونکي وي نو ما به دا رکعتین اربعه رکعات کړې وي.

ګوره دده دا قول اجتهاد دده پورې تعلق لري ما نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صدیق اکبر عمرِ فاروق عثمان ذو النورین او حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کتلې وه چې زیادت به یې په رکعتینو نه کوه دا قول د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه مروي دي یعنې قبول د رخصت یې کړې دي ترک یې جائز ګڼلې دي.

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا چې له اقوای استدلالاتو د منکرینو نه دي د سنتو په سفر کې مختلفو طریقو باندې مُجاب دي:

مسئلة التطوع في السفر

يو دا چې عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عمر څو مره وه او ده سفرات د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره لږ کړي که ډير ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې د نيا نه ځي د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمر اتلس (۱۸) کاله دي د هجرت په ۱۷ مياشت سفرونه د غزواتو شروع شوې دي نو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولين سفر چې بدر ته شروع کيږي عمر د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نهه نيم کاله دي نو د نهه نيم کالو ماشوم څوک سفر ته بوځي .

همدا وجه وه چې دې د بدر غزا ته روان وه په لاره کې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماشومان ستنه ول عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې واپس کړو وايي ته ماشوم يې جهاد ته مه ځه اُحد غزا ته چې دې روان وه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماشومان ستنه ول عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې دلارې نه ستون کړو وايي ته ماشوم يې مه ځه .

نو يو د عمر په لحاظ سره بعضې سفراتو کې عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شرکت نه دي کړې چې نه يې دي کړي دا قول دده محمول شو په علم دده .

دويمه دا چې کله دده عمر زيات وه فتحه مکه حنين طائف بني مصطلق وغيره تبوک او نورو غزواتو کې شرکتونه کړې دي تللې دي سفرونو ته خو هغه غزوات دومره ګڼ تعداد کې وه مثلاً فتح مکي کې لس زره (۱۰۰۰۰) صحابه کرامو شرکت کړې وه او مثلاً دا زما مسجد چې ډير خلک را واخلي پنځه سوه (۵۰۰) کسان دې واخلي په پنځو سوو نفرو کې .

چې کله دا مسجد کې جلسه جوړوي سپين ږيرې مشران هم دد ې معلومات نه شي کولې چې امام او شيخ مونځ څنګه وکړو او څنګه يې ونه کړو او رکعات يې څومره وکړل په لسو زرو کسانو کې د هغه کم عمر والا چې معمول عام دا وه چې هغوي به په صف آخر کې دريدل دا به د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رکعات څنګه وشماري .

لکه تاسو خو به چيرته غټې جلسې ته تللې يې تاسو هلته د امام يا د يو بل شيخ رکعات کتلې وي چې څو رکعاته يې کړې دي سره دد ې چې تاسو به بنه مشران يې خو تاسو هغه صف ته رسيدلې شي چې هغه سره جوخت ودريږي .

نو هسې عامه طريقه او عقل نه چې کار واخلو په فتحه مکه کې لس زره صحابه کرام دي او عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د فتح مکې په ورځ اتم کال د هجرت دي او دې د څوارلسو (۱۴) کالو دي دغه شانته عمر والا به د مشرانو نه په صف آخر کې دريدل نو چې بل چا روايت

د اثبات و کړو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د سنتو ثبوت راغې بيا دده قول ته به اعتبار نه وي او کله چې بيا حنين ته لاړل بيا دولس زره (۱۲۰۰) وه بيا چې تبوک ته لاړل ديرش زره (۳۰۰۰۰) ول او س ديرش زره عظيمه اجتماع کې به د شيخ رکعات څوک وشماري .

دريمه داده دغه وخت کې چې عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او دريده او مونږ يې ورکړو بيا يې دده ووهله روايت د بخاري پرې قائل دي چې نور کسان ودريدل سنت يې کول دا زمانه خو زمانه د صحابه وو وه نو چې عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دده وهي او دا نور صحابه او تابعين قيام کوي چې ته د يو صحابي له ترک نه استدلال نيسي دا جمعه غفيره چې قيام کوي چې روايت د بخاري پرې دال دي هغې نه استدلال ولې نه نيسي دا لويه ډله خو ودريدله د بخاري روايت پرې دال دي تطوع يې کول ده وويل دا خلک څه شي کوي وايي سنت کوي او س دده قول چې دليل کې پيش کيږي د ترک لپاره د جمعې غفيرې نه استدلال ولې نه کيږي له هغوي نه .

څلورمه داده چې عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول نافي دي او مونږ چې او س روايات پيش کوو هغه د اثبات دي او بله دا چې د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول کې تعارض دي ترمذي د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه :

وروي عنه انه تطوع في السفر .

له ده نه دا ثبوت شته چې ده خپله تطوع في السفر کړې دي نو دده عمل متعارض شو .

اذا تعارض تساقط .

دا استدلال نه ساقط شو چې دغه يو روايت د ترک يې را اخلي چې ده بالفعل روايت ثابت دي هغه ولي نه را اخلي نو مونږ به لاړ شو د نورو صحابه وو رواياتو او معمولاتو ته هغې کې اتيان دي .

او پنځم به دا ووايم که د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د لا تُسلم په ډيري کيني او د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا قول دليل ګرځوي چې نه ده ويلي دي که زه متمم واي او مسبح واي ما به تتميم د رکعاتو کړې واي ما صديق اکبر او عمرِ فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وغيره نه دي کتلي چې هغوي دا کړې وي .

نو د عبد الله بن عمر رضي الله عنه دا قول مروي دي چې د ماښام د رکعتينو د مانځه نه مخکې بعد الاذان قبل الصلوة رکعتين ده به دا نه کول چا ورته وويل دا ولې نه کوي ؟ وايي ما نبي اکرم صلی الله علیه وسلم صديق اکبر ، عمر فاروق حضرت عثمان حضرت علي رضي الله عنهم لو پسې مونځونه کړي دي هغوي دا رکعات نه دي کړي نو زه يې څنګه وکړم چې داسې د عبد الله بن عمر رضي الله عنه يو قول او نور دين طرف او روایاتو ته نه ګوري او اثبات ته نه ګوري.

نو د عبد الله بن عمر رضي الله عنه داسې قول خو په ترک د رکعتينو قبل المغرب کې هم شته دي هغې نه دي بيا ولې دين جوړ کړې دي چې ستا په نزد هم مؤکدات نه دي رواتب نه دي يو امام هم رواتب ورته نه وايي ته به يې اولى ګڼې او مخالفين به يې ترک اولى ګڼي دغه نزاع به وي.

خو د اختلاف او د نزاع جوړولو لپاره هغې نه دي بيا داسې مؤکد سنت جوړ کړي چې څوک يې نه کوي بيا هغه ته هم بد نسبت کوي د بدعتي نسبت ورته کوي نو اصل مسئله داده چې کله صحابه کرامو کې څوک د يو څيز انکار وکړي مونږ به ګورو د اثبات اړخ چې د بل صحابي نه ثابت دي او که نه که ثابت وه نو اثبات مقدم دي په نافي باندې ولې ځکه قول د مثبت لره زائد علم دي په نافي باندې نافي څه علم نشته هغه به محمول شي په علم د هغه باندې هغه دې کتلي چې نه دي کتلي بل چا کتلې دي مثلاً داخل الكعبة کې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم رکعات کړي او که نه فتحه مکه کې دننه شوې وه رکعتين يې کړي او که نه يې دي کړي دا مسئله نزاعي وه په زمانه د صحابه کرامو کې په کې نزاع جوړه وه چا ويل کړې دي چا ويل نه يې دي کړي .

عبد الله ابن عباس رضي الله عنه ابتداء کې قائل وه چې دا يې نه دي کړي چا ورته وويل بلال حبشي رضي الله عنه دننه شوې دي په کې هغه د نبي علیه السلام سره ملګري وه دننه له هغه نه تپوس وکړي وايي چې څنګه رابهر شو عبد الله ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې اول زه لاړم بلال رضي الله عنه ته مې وويل چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دننه مونځ وکړو وايي ما ته يې وويل چې هاو هغه کومې پنځه ستنې چې دي هغه يې هم ياد کړې دي د هغه دري ستنو مينځ د جدار اړخ ته ولاړ وه دوه رکعته لمونځ يې وکړو .

مسئلة التطوع في السفر

اوس چې څومره روایاتو کې نفي راغله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دننه لمونځ نه دي کړي او بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د فقهي په لحاظ سره لويو لويو صحابه وو سره مقابله نه شي کولې په روايت کې خو دغه ځای کې ځکه کولې شي چې د کعبې مبارکې دروازه تقريباً دوه نيم ګزه اوچته ده څوک چې ورواورې اخواته نو پناه شي بيا په سترګو نه ښکاري لس زره (۱۰۰۰۰) صحابه کرام په حرم کې موجود دي فتح مکه ده اوس دلته به د هغه صحابي روايت مقبول وي چې څوک دننه معي دي او هغه بلال حبشي دي د يې ملګري وه.

نو دده روايت په لويو لويو صحابه وو دلته مقدم شو چې د هر صحابي نه روايت وشي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دي کړې دا قول يې محمول په علم شو ده نه دي ليدلې او روايت د بلال حبشي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ متفق شو.

امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ داخل الکعبه کې مونځ جائز ګڼي او ائمه وو کې د يو امام قول مې داسې پيدا کړو چې فرائض په کې جائز نه دي نوافل جائز دي قول يې کړې خو د فقاهت نه لرې دي.

ولې ځکه نوافل او فرائض په شرطيت د استقبال القبلة کې سره متحد دي داسې خو نه ده چې ګڼې فرض لره شرط استقبال د قبلې دي او نفلو کې قبله شرط نه ده دواړو کې قبله شرط ده چې دواړو کې قبله شرط ده چې نوافل وشول فرائض هم کيدې شي.

اوس مونږ دا صرف د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه قول څه جوابونه مختلفو طريقو باندې وشول خو قول د مثبتينو دا مقدم وي اثبات ته ګوري:

وقد ثبت من النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باحاديث صحاح وحسانٍ انه صلى ركعتين قبل الفجر والركعتين بعد الظهر.

نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په روایاتو صحاحو حسانو سره ثابت دي ده رکعتين قبل الفجر کړې دارنګې بعد الظهر ترې ثابت دي.

وما ترك الركعتين اذا زاغت الشمس.

چې هغه مونږ غيرِ رواتب ګڼو او شوافع يې رواتب ګڼي.

والركعتين بعد المغرب والركعتين بعد العشاء في السفر.

دا يې هميش کړې دي دا رنګې ثابت دي تطوع في السفر دا کوم ځاى چې تطوع راځي دا قبلها وبعدها رواتب يادوي.

عن عمر وعلي وعبدالله بن مسعود وجابر بن عبدالله وانس ابن مالك وابن عباس وابوذر رضي الله عنه انهم كانوا يسافرون فيتطوعون قبل المكتوبة وبعدها.

دوي رواتب سنن کړې دي د دومره صحابه وو په مقابله کې د عبد الله بن عمر رضي الله عنه قول به څومره اهميت ولري.

وكذا ثبت. په تابعينو.

عن القاسم بن محمد والاسود بن يزيد والحارث بن سويد وعطاء بن أبي رباح وطاووس والشعبي ومكحول والحسن البصري وابراهيم النخعي وعروة بن الزبير وعمرو بن ميمون وجابر بن زيد وابووائل انهم كانوا يتطوعون في السفر وهو قول مالك والشافعي واحمد بن حنبل واسحاق وابي ثور وابي حنيفة رحمهم الله.

نو څلور واړه اماما ن متفق دي چې اتيان افضل دي زمونږ د فقه حنفي بعضې فقهاء يو قول لري هغوي دا وايي چې حالت د سير کې ترک کيدې شي او په حالت د اقامت د سفر کې اتيان کولې شي خو د هغوي خبره به هم قبول د رخصت باندې حمل وي.

مثلاً يو کس پشاور نه ځي لاهور ته او هلته دد غه کس لس (۱۰) شپې دي نو دا کس خو هلته مقيم نه دي ځکه لس شپې خو اقامت نه وي نو چې هلته پروت دي دا يې حالت د اقامت دي دا چې ځي او راځي دا يې حالت د سير دي.

نو وايي په حالت د سير کې ترک جائز دي زمونږ فقه حنفي دې ته زور ورکوي او په حالت د اقامت د سفر کې بيا اتيان په کار دي.

الروایات المرفوعة في ذلک الباب :

اول رکعتین د فجر دي ثابت دي له نبي اکرم ﷺ في السفر :

ما ته دلته یو کس میلمه راغلې وه دې کې راسره نزاع وکړه وایي دا که په کار وای رکعتین به پوره شوي وای دا میلمستیا ده ما ورته وویل ضد او تعصب مه کوه دا سنت چې دي دا حق النبي ﷺ على الامة دي فرائض چې کوم دي دا حق الله تعالى على العبد دي نو په سفر کې اربعة رکعات نه رکعتین د رب کریم میلمستیا وه مسافر لره نو اله العالمین خپل حقوق معاف کوي د مخلوق حقوق خو چا ته نه معاف کوي سنت خو د نبي علیه السلام حق دي په تا باندې کله نبي اکرم ﷺ امت ته ویلي دي چې زما حق تاسو نه ساقط دي دا تاسو مه کوي هغه نه دي ویلي او سفر کې چې څلور دوه وو ته راغلې دي دا خالق داسې کړې دي :

﴿فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ﴾.

نو خپل حق یې کم کړو در ته ته مسافر یې په تکلیف کې به یې خپل حق یې دریاندې کم کړو د محمد مصطفی حق یې په امت نه دي کم کړي که هغه دا خپل حق کمولې مونږ ته به یې شریعت کې ویلي وای او دا خبره به یې ثابته کړې وای چې سفر کې تاسو سنن مه کوي او یا به یې خپله دا نه کولې امت ته به یې دا ښودلي وای بلکې خپله یې هم عملي کړې دي خو سړي ضدي شان وه میلمه وه.

وایي نه چې هر کله فرض کمیږي سنت ولې نه کمیږي نو ما ورته بیا وویل چې فرض خالق کم کړي خپل حق یې کم کړې دي سنت جدا شي دي هغه د نبي اکرم ﷺ حق دي په امت باندې هغه خالق نه دي کم کړي که یې کم کړې وي نص وښایه بس وایي چې فرض کمیږي سنت به خامخا مونږ پریږدو ما ورته وویل چې ښه سفر کې سنت نشته وایي نه ما ورته وویل چې فرض کوي نیت به څنګه کوي ؟ وایي څنګه چې فرض کیږي د غسې به کوم کنه.

ما ورته وویل چې نیت دې وکړو بیا به څنګه کوي لاسونه به کوم ځای کیږدي وایي نامه نه لاندې به یې ږدمه ما ورته وویل نامه نه لاندې لاس ایښودل څه شي دي وایي سنت

دي ما ورته وويل په سفر کې سنت نشته لاس به زوړند نيسي ما ورته وويل بيا به څه وايي
وايي سبحانك اللهم دا ثناء به وايم ما ورته وويل دا څه شي دي وايي دا سنت دي.
ما ورته وويل سفر کې سنت نشته دا هم پرېږده دغسې اعوذ بالله بسم الله سنت دي دا
هم پرېږده الله اکبر ويل سنت دي دا هم پرېږده ځکه په سفر کې فرض کميږي سنت به ورسره
کمه وو کنه نو چې خارج کې يې کموي داخل کې په يې هم کموي چې خارجي سنن متروک
دي نو داخلي خو په طريقِ اولى متروک دي کنه ځکه چې ميلمه يې.
ما ورته وويل چې ته ما ته اوس دا نچه برابره کړه د فرضو دا ته کوي څنګه تسبيحات په
رکوع او سجده کې سنت دي.
اوس اثبات ته ګوري چې څومره رواياتو کې دا ثابت دي رکعتين د فجر د نبي اکرم
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت دي:
صحيح ابن خزيمة جلد ۵ صفحه ۲۰ رقم د حديث دي ۱۱۹۶ بعضې چاپونو کې جلد ۲
صفحه ۴۸ ده: جماع ابواب صلاة التطوع في السفر، دا يو باب دې لګوي:
حدثنا محمد بن مسكين اليماني حدثنا يحيى بن حسان حدثنا سليمان وهو ابن بلال عن
شرحبيل بن سعد قال سمعت جابر بن عبدالله قال رأيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أناخ راحلته
ثم نزل فصلى عشر ركعات و أوتر بواحدة.

دا سفر دي لس رکعته يې وکړه او وتريې وکړه بواحدة.
دوي څه ترجمه کوي وايي يو رکعت وتريې وکړه خو پوهيږي نه لغت خو يې نه دي
ويلي.

اوتر بواحدة اوتر واحدةً، ددې فرق دي که داسې حديث دې پيدا کړو چې أوتر واحدةً
وتريې وکړو واحدةً رکعةً واحدةً صفت د موصوف به مقدر شي نو يو رکعت وتريې وکړه او
که اوتر دي په با متعدي کړو نو بيا يې معنى څه شوه اوتر.

نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عشرة ركعات شفع شفعه وه يعنې جفت جفت وه دا يې طاق وګرځول بواحدة په ضم د يو سره دوه دوه رکعته يې کول هغه شفعه وه.

دا آخري دوه رکعتو نيت يې چې وکړو دا يې طاق وګرځول په ضم د واحد سره نو دري شول د حديث دا ترجمه ده اوتر واحدة نه دي اوتر بواحدة دا روستي شفعه يې طاق وګرځوله په ضم د يو رکعت سره صلى ركعتين ركعتين ثم اوتر بواحدة.

خپله تفصيل شته دوه دوه رکعته يې کړي وه آخر کې دا دوه رکعته طاق وګرځول بواحدة په ضم د يو سره نو دري رکعته شول، ثم صلى ركعتي الفجر بيا يې دوه رکعته د صبا يې وکړل.

ثم صلى بنا الصبح. قال ابو بكر هذا خبر يصرح بأن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلى ركعتي الفجر في السفر والأخبار التي روينا ها في كتاب الكبير في نوم النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن صلاة الصبح حتى طلعت الشمس وانه صلى ركعتي الفجر ثم صلى الصبح.

نو دا باب لګوي باب صلاة التطوع بالليل في السفر على الارض دا سفري حال دي ابو بكر ابن خزيمه څه وايي هذا خبر يصرح بأن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلى ركعتي الفجر في السفر.

الثاني: ابن ابي شيبة مصنف خپل جلد ۱ صفحه ۳۴۲ کې رقم د حديث ۳۹۲۹ بعضې چاپونو کې جلد ۱ صفحه ۴۲۶ رقم د باب ۱۶۴:

حدثنا جرير عن قابوس عن أبيه عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قالت أما ما لم يدع صحيحاً ولا مريضاً في سفر ولا حضر غائباً ولا شاهداً تعنى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فركعتان قبل الفجر.

عائشه بي بي فرمايي هغه مونځ چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيماري کې هم پرېښې نه دي روغ والي کې هم پرېښي نه دي سفر کې هم پرېښي نه دي او حضر کې هم پرېښي نه دي غائب وه که شاهد وه پرېښي نه دي هغه کوم مونځ دي.

فركعتان قبل الفجر. دا يې يو حال کې هم پرېښې نه دي څو مره تعميم دي دې کې چې يو حال کې هم پرېښې نه دي.

الثالث: دریم دلیل په رکعتینو د فجر باندې هغه معروف حدیث دی چې کوم نبي اکرم ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه پیره دار مقرر کړې وه د شپې مزل کړې وه بیا دوی ویده شوې وه بلال رضي الله عنه په ناسته ویده شوې وه نبي اکرم ﷺ چې راپیدار شو ډیر په جلال وه بلال رضي الله عنه آواز ورکړو چې هغه ذات مې سترګې پټې کړې کوم ذات چې ستاسو سترګې پټې کړې غیر اختیاري وه کنه بس نبي اکرم ﷺ امر وکړو وایي دا وادي نه را اوچت شي وایي دلته شیطان دی بره چې لاړل هغلته ټولو ځان برابر کړو نو اول یې دوه دوه رکعته وکړل او بیا له هغې نه بعد د صبا یې مونځ وکړو.

دا حال د سفر وه یعنې وقتي پریږده چې په صورت د قضاء کې هم هغه دي سنت راګرځول تاکید که نه وایي سفر هم دي قضاء هم ده دا دلائل د تاکید دي چې ترک مه کوه په یو صورت کې هم وقتي لا څه چې وخت درنه لاړ نو په قضاء کې هم ته اعاده وکړه ددې داد سحر د سنتو د قضاء هم دلیل دي چې د سحر د سنتو قضائي په کار ده دا چې بعضې فقهائ وایي چې وایي دا خو سنت راګرځول شوې دي په اتباع او معیت د فرضو کې که یو اځې سنت قضا شي نو دې نه اعاده نه ثابتیږي.

اوس دا قول دي د فقیه خو د معنی نه ډیر لري دي نو سنت خو څه د فرضو نه وروسته نه دي چې ته ورته اتباع د فرضو وایي هغه خو د فرضو نه مخکې دي دا وایي قضاء شوې په معیت د فرضو کې نو معیت د فرضو سره راګرځیدل دا څه معنی لري که ځان ته درنه قضا شي نو تاکید دي علت دا مه ګرځوه چې ځکه یې راګرځول چې معي مع الفرض وه علت دا وګرځوه.

لانه کان مؤکداً اشد تاکیدٍ ځکه یې راګرځول چې دا ډیر کلک تاکید یې لرلو ځکه یې راګرځول دا علت وګرځوه که بیا انفرادي قضا شي او که معي د فرضو سره قضا شي اعاده به یې کوي.

د مصنف عبد الرزاق روایت پرې دال دي عبد الله بن مسعود رضي الله عنه راغې جمع ولاړه وه له ده نه سنت پاتې شو مانځه نه بعد کیناستلو لمر ختلو پورې مسجد کې لمر چې کله راوختلو نو پاڅیده رکعتین یې راوګرځول نو د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دغه عمل انفرادي سنت پاتې شوې دي او اعاده یې بعد طلوع الشمس شوې ده.

داد هغه فقهاو لپاره دليل کيدې شي نو هغه روايت ډير کتابونو را اخيستي دي سنن ابي داؤد جلد ۱ صفحه ۱۷۵ روايت د عمر بن امية الض
مري دي دا له ډيرو صحابه وو نه مروي دي نو يو په کې دي عمر بن اميه ضمري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي ده ته ساعي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلې شي داد نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د استخباراتو رئيس وه داسې رئيس نه وه چې ده لکه نن صبا کوم رياست لرلو خود استخباراتو کار ده کولو دې وايي :

كنا مع رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في بعض اسفاره فنام عن الصبح .

د صبا يې له مانځه نه اوده پاتې شو .

حتى طلعت الشمس فاستيقظ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال تنحوا عن هذا المكان .

له دغه ځايه لاړ شي .

قال ثم امر بلالاً فاذن ثم توضؤا وصلوا ركعتي الفجر ثم امر بلالاً فاقام الصلاة فصلى بهم صلاة الصبح .

نو دا سفر دي او وقتي څه چې د قضا په صورت کې رکعتين د فجر را ګرځول شوې دي.
يو مجاهد ورور راغلې وه مونږ کره لږ د اکابرينو نه وه نو هغه سنت ترک کړل ما ورته وويل دا کار مه کوه واي بس جائز دي زه څه نا روا خو يې نه ګڼم سفر دي مسافريم ما سره رساله وه کور کې هغه مې ورکړه ما ورته وويل دا لږ مطالعه کړه زه لاړم ډوډۍ ورته راوړم دا رساله يې کتلې وه ټوله ملا وه .
نو ما ته يې وويل واي ياره زما دې ذهن پرې خلاص کړو زمونږ خو واي داسې ذهن وه چې دا به ثابت نه وي چيرته نو ما ورته وويل تاسو کتب نه ګوري هوائي ګرځي کتب وګوري بيا درته پته لګيږي .
نو دا دريم روايت : مونږ د پنجاب د خلکو غوندې د دلائلو تکثير د عدد خوند نه راکوي دليل همدغه دريم دي کوم حديث چې مونږ را اخيسته اوس ددې حديث رُوات مختلف دي او مختلفو کتبو را اخيستې نو په دې سره احاديث زيات نه شول همدغه يو حديث دي .

دا علامه طاهر القادري صاحب کتاب ليکلي دي نو يوه مسئله ثابتوي واي په دې باندې مثلاً ۵۰ دلائل دي بيا چې يو حديث لسو صحابه وو نه مروي يې يا لسو کتابونو را اخيستې وي ترتيب ورته شروع کړي نو هغه خو ټول يو دليل شو ، لس خو نه شول.

نو دا د پنجاب د خلکو طرز دي چې هسې عدد زياتوي ورته نو دا اوس د عمران بن حصين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دي مسند احمد را اخيستې دي جلد ۴ صفحه ۴۴۴ ده :

ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان في سفرٍ فنام عن الصبح حتى طلعت الشمس فاستيقظ فامر فاذن ثم صلى ركعتين ثم انتظر حتى استقلت ثم امر فقام فصلى .

نو دا هغه سفر کې شوې دي دا حديث دار قطني هم ذکر کړې په جلد ۱ صفحه ۸۳۷ کې.

دريم روايت د حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي دليل هماغه دريم دي خو راوي جدا شو مسند بزار را اخيستې په جلد ۴ صفحه ۱۹۹ کې بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي :

انهم ناموا مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في سفر حتى طلعت الشمس فامر رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بلالاً حين قاموا فاذن ثم صلى ركعتين . دا رکعتين د فجر شوې دي .

څلورم روايت د عبد الله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي په دغه موضوع باندې مسند ابي يعلى الموصلى را اخيستې جلد ۵ صفحه ۴۳۰ کې د هغې الفاظ دادي .

پنځم روايت د ابي مريم معجم الکبير را اخيستې په جلد ۱۹ صفحه ۲۷۴ کې د هغې الفاظ هم دادي :

فامر بلالاً فاذن ثم صلوا ركعتي الفجر ثم صلوا الغداة .

الرابع : څلورم دليل د سحر په سنتو باندې :

جامع الاصول من احاديث الرسول جلد ۵ صفحه ۳۳۸۰ روايت ذکر کوي :

ذكرها رزين قال كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لايدع ركعتي الفجر في السفر .

نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سحر سنت په سفر کې نه پريښودل .

وكان يصلي على الدابة حيث ماتوجهت به في سفر القصر .

سفري قصر کې به يې نوافل په دا به کول کوم خوا به يې چې مخه وه دا مسئله نزاعي ده ځان ته فقهاء دې کې اختلاف لري.

څلورم دليل امام بخاري ذکر کوي جلد ۱ صفحه ۳۷۲ کې باب لګوي: باب من تطوع في السفر في غير دُبر الصلاة وقبلها، بيا ذکر کوي:

ركع النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ركعتي الفجر في السفر. سحر سنت نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سفر کې کړي.

دا څومره رواياتو نه د سحر سنت ثابت شول اوس عبد الله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څه فرمايي ما نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دي ليدلې چې په رکعتينو يې زيادت کړې وي دا دي ده اوس به دي ليدلې او څومره صحابه کرامو ليدلې دي نو محمول شو قول دده په علم دده نه دي ليدلي.

الثاني: قد ثبت ركعتين قبل الظهر من النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في السفر:

چونکې دا اختلاف دي امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ دا رکعتين رواتب ګڼي زمونږ امام صاحب څلور رواتب ګڼي حديث سنن ابي داؤد ذکر کړې دي جلد ۱ صفحه ۳۹۰ پاکستان چاپ جلد ۱ صفحه ۱۷۹:

حدثنا قتيبة بن سعيد حدثنا الليث عن صفوان بن سليم عن ابي بسرة الغفاري عن البراء بن عازب الانصاري قال صحبت رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثمانية عشر سفرا فما رأيته ركعتين اذا زاغت الشمس قبل الظهر.

اتلس (۱۸) سفرونه مې د رحمت عالم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کړې دي ما نه ده کتلې چې د زوال نه بعد دوه رکعته يې کله قضا کړې وي.

دا مې ذکر کړه ځکه چې عند الشوافع داد رواتبو نه دي او مونږ دا زوائد ګڼو زوال چې ختم شي دې وخت کې رکعتين کول مونږ د زوائدو نه ګڼو سحر چې لمر راخيژي مونځ مکروه شي چې کله جواز راشي رکعتين وکړه دليل د جواز به هم شي چې نور وخت د مونځونو شروع شو د شيخي زوال چې راشي مونځ مکروه شي زوال چې ختم شي رکعتين.

دا حدیث البانی په ضعیف ابي داؤد کې او په ضعیف ترمذي کې او شعیب الارنووط التعلیق خپل کې په مسند احمد باندې ویلې دي چې اسناده ضعیف ، اسناد ددې حدیث ضعیف لجهالة ابي بسرة ، سند کې ابو بسرة راغلې .

ما جواب کې لیکلي دي :

والحدیث ضعف البانی في ضعیف ابي داؤد و ضعیف الترمذي وکذا ضعفه شعیب الأرنووط في تعلیق المسند احمد وقال اسناده ضعیف لجهالة ابي بسرة لکن لعداوتهما مع السنة النبویة فقد ظلم وتعصب في ذلك لان الحدیث غریب کما قال الترمذي لکن الغربة لا تنافي الصحة .

غربت خو منافي د صحت سره نه دي رجال السند رجال الصحیحین دلته چې مونږ سره کوم رجال دي قتیبة بن سعید البغلاني ، بغلان ولایت کې دفن دي شیخ د بخاري دي اللیث بن سعد دا خو شیخ الکل دي صفوان بن سلیم د رجالو د دواړو نه دي براء بن عازب خو صحابي دي فقط ابي بسرة کې خبره ده رجال السند رجال الصحیحین سوی ابي بسرة الغفاري وابو بسرة ذکره العجلي وبن حبان في الثقات .

قال ابو عیسی حدیث البراء حدیث غریب سألت محمدا عنه فلم یعرفه الا من حدیث اللیث ابن سعد .ما د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ نه تپوس وکړو امام بخاري یادوي چې دا حدیث دي بل سند سره پیژندلې او که نه .

فلم یعرفه . امام بخاري ونه پیژنده سند ددې حدیث مګر د حدیث د لیث ابن سعد نه دا جهال ځان نه پوهوي دوي داسې کوي چې ما پو ښتنه وکړه .

محمداً عنه . د ابي بسرة نه دوي ضمیر ابي بسرة ته راجع کوي .

فلم یعرفه . ونه پیژنده امام بخاري دې ابي بسرة لره یعنې ابي بسرة امام بخاري ونه پیژنده نو مجهول شو اوس دا دوي غلطه ترجمه کوي .

ما د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ نه تپوس وکړو ، عنه ، د سند ددې حدیث چې دغه روایت چې ما درته بیان کړو دا دي که ته بل سند هم لرې .

امام ترمذي وايي امام بخاري لم يعرفه ونه پيژنده سند دڅې حديث.

الا من حديث الليث. سند كې ليث دي كه وكتل شي يعنې همدغه د ليث سند لرم بل سند ما سره نشته.

لليث ابن سعد عن صفوان بن سليم عن ابي بسرة عن البراء بن عازب. دغه سند يې ياد كړو چې دغه سند زه لرم.

ولم يعرف اسم أبي بسرة الغفاري.

امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ د ابو بسرة الغفاري نوم ونه پيژنده، البته:

ورآه حسن. حديث يې حسن وګڼلو نو حسن خو د مقبولاتو نه دي نو ضعيف ورته څنګه وايي ضعيف خو د مردوداتو نه دي په مسائلو كې.

ورآه حسن. ضمير د رآ مرفوعه چا ته راجع دي امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ ته او ضميرهٔ چا ته راجع دي دا ابي بسرة ته نا نص د حديث ته امام بخاري رآه حسن دا سند حسن وګڼه.

امام ترمذي وايي:

وروي عن ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان لا يتطوع في السفر قبل الصلاة ولا بعدها. دا ددوي استدلال دي.

وروي عنه عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه كان يتطوع في السفر ثم اختلف اهل العلم بعد النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

داد امام ترمذي عبارت دي ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه دوه روايته شول نه يې دي كړي او كړي دي دواړه ترې ثابت دي.

فرأى بعض اصحاب النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يتطوع الرجل في السفر وبه يقول احمد واسحق.ده ته دده روايت ثابت دي باقي مونږ چې تلاش وكړو مونږ د اربعة ائمه وو قول پيدا كړو.

ولم تر طائفة من اهل العلم ان يصلي قبلها ولا بعدها. يوه ډله د علماو داسې شوه:

ومعنى من لم يتطوع في السفر قبول الرخصة.

زما دې ځای کې مقصد دي چې امام ترمذي ويلي چې چا دا ويلي چې سفر کې سنت
نشته معنی يې قبول د رخصت ده.

فله في ذلك فضل كثير. البته په کولو کې بهتري ده خو نه کول جائز قدر دي.

وهو قول اكثر اهل العلم يختارون التطوع في السفر. اکثر اهل علم تطوع في السفر
مختار ګڼي.

دا پاس حديث امام احمد را اخلي په سنن خپل جلد ۴ صفحه ۲۹۲، ابن خزيمه په
صحيح خپل جلد ۲ صفحه ۲۴۴ کې ذکر کړي.

دا وضع اليدين على الصدر فوق السرة تحت السرة په دې کې مخالفين يو حديث پيش
کوي د صحيح ابن خزيمة نه چې هغې کې وضع راغلې على الصدر چې سند کې مؤمل بن
اسماعيل دي او منکر دي په قول د امام بخاري او متروک دي ضعيف دي حديث دوي څه
وايي بار بار ابن قيم هم ويلي.

دا اوسني وهابيان هم ليکي کتابونو کې نه ابن خزيمه په ځان لازمه کړې وه چې ضعيف
حديث به نه راوړو نو څنګه هغه راوړو که دا ضعيف واي هغه چې کتاب کې راوړو نو دا
صحيح دي نو اوس دا حديث ابن خزيمه په صحيح خپل کې راوړې دي ولې يې نه مني يو امام
به دا لازمه کړي په ځان چې زه به ضعيف حديث نه راوړم بيا هم راوړې شوې دي ډير روايت په
صحيح ابن خزيمه کې شته چې ضعيف دي اګر که ده دا ويلي وه زه به دا نه راوړم خو کله دده د
علم موافق به هغه ضعيف نه وه خو وروسته جارحينو چې کتلې نو ضعيف ثابت شوې.

دا رنګې امام ابو نعيم په حلية الاولياء جلد ۷ صفحه ۱۱۸ کې ذکر کوي سند سره د
عبدالله ابن عباس رضي الله عنه روايت دي:

انه سئل عن التطوع في السفر. ابن عباس رضي الله عنه نه چا تپوس وکړو د سنتو په سفر کې.

فقال سن رسول الله صلى الله عليه وسلم في الحضر الظهر اربعة وفي السفر ركعتين.

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم ماسپښين لمونځ څلور رکعته ويلي دي په سفر کې هغه دوه
رکعته ويلې دي د فرضو متعلق د سنتو متعلق هغه څه ذکر نه دي کړې.

فكنا نصلي قبلها وبعدها في الحضر ونصلي في السفر.

مونږ مخکې وروسته ترې نه مونځ کوو په حضر کې هم کوو په سفر کې هم کوو ځکه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې متعلق څه ويلي نه دي چې کوي يې يا يې مه کوي نو هغه پاتې شو په خپل حال باندې کوي به يې صرف دا څلور رکعته فرض کم شول .

داد عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فتوى ده اوس چې يو سړي وايي چې سفر کې سنت نه کول سنت دي ، که چا وکړو خلاف د سنت بدعت دي نو دا څومره صحابه وو ته دا نسبت راځي .

الثالث : څلور رکعته قبل الظهر :

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۴۲۶ هغه مخکې دوه رکعته وه دا څلور دي قبل الظهر .

حدثنا هثيم قال اخبرنا حسين قال سمعت عمر بن ميمون الاودي يقول كانوا لا يتركون اربعة قبل الظهر .

وه صحابه تابعين نه به يې پريښودل څلور رکعته مخکې له ظهر نه .

وركعتين قبل الفجر على حالٍ . په يو حال کې هم .

او امام ابن ابي شيبة ركعتا الفجر تصليان في السفر باب لګوي بيا دا حديث را اخلي.
سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۴۳۷ بيروت چاپ پاکستان چاپ جلد ۱ صفحه ۷۳ :

حدثنا علي بن حجر حدثنا حفص بن غياث عن الحجاج عن عطية عن ابن عمر قال صليت مع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظهر في السفر ركعتين وبعدها ركعتين .

مخکې ما تاسو ته وويل ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ثبوت راغلې دي مونځ مې وکړو د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د ماسپښين مخکې دوه رکعته او وروسته دوه رکعته نو له ماسپښين نه وروسته دوه رکعته ثابت شول .

. قال ابو عيسى هذا حديث حسن .

الرابع : وقد ثبت الركعتين بعد المغرب من النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في السفر :

مسند احمد جلد ۲ صفحه ۹۰:

حدثنا يحيى بن آدم حدثنا حسن يعني ابن صالح عن فراس عن عطية العوفي عن ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قال صليت مع رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في الحضر والسفر فصلى الظهر في الحضر اربعاً وبعدها ركعتين وصلى العصر اربعاً وليس بعدها شيء.

دا خو د حضر مونځ دي.

وصلى المغرب ثلاثاً وبعدها ركعتين وصلى العشاء اربعاً وصلى في السفر الظهر ركعتين وبعدها ركعتين.

وروسته دوه ركعت ثابت شول.

والعصر ركعتين وليس بعدها شيء والمغرب ثلاثاً وبعدها ركعتين والعشاء ركعتين وبعدها ركعتين.

دا حديث امام بغوي په شرح السنة جلد ۱ صفحه ۲۴۸ کې ذکر کوي.

امام طحاوي په شرح د معاني الآثار جلد ۱ صفحه ۲۷۹ کې را اخيستې دي.

محمد بن نسر المروزي په قيام الليل جلد ۱ صفحه ۵۵ کې هم ذکر کړې دي.

علامه طرطوسي را اخيستې په مسند خپل جلد ۱ صفحه ۲ کې ابن الاعرابي په معجم خپل جلد ۲ صفحه ۸۵ کې.

امام ترمذي را اخيستې په جلد ۲ صفحه ۴۵۰.

والخامس وقد ثبت الركعتين بعد العشاء من النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :

مسند احمد جلد ۲ صفحه ۹۰ همغه حديث دي مخکې چې ذکر شو الفاظ دادي :

وصلى المغرب ثلاثاً وبعدها ركعتين وصلى العشاء اربعاً وصلى في السفر الظهر ركعتين وبعدها ركعتين.

داد سنتو رواتبو نه شول.

اما غير الرواتب من التطوع ليلاً ونهاراً فقد ثبت منه عَلَيْهِ السَّلَامُ في السفر.

نهاري تطوعات غيرِ رواتبه اول د هغې نه صلاة ضحى نو سوچ دا کول په کار دي چې غيرِ رواتب يې په سفر کې نه دي پريښې نو رواتب خو بالتاکيد کول په کار دي.

صحيح البخاري جلد ۴ صفحه ۱۵٦۲ بيروت چاپ پاکستان چاپ جلد ۲ صفحه ۶۱۴:

حدثنا ابوالوليد حدثنا شعبة عن عمرو عن ابي ليلى ما اخبرنا احدا انه رأى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يصلي الضحى غير أم هانيء.

فتح مکه کې مونږ ته چا روايت نه دي کړي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ضحى مونځ کړې دي غير له ام هانئ نه اوس دد دې څه معنی شوه چې د ام هانئ روايت به نه قبلوي بلکه به يې قبلوي ځکه چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره فاطمه بي بي وه هغې ته وايي داپرده ونيسه غسل کومه هغې پرده نيولې دي مبارک غسل کوي د چا د خپو آواز راغې وايي څوک ده دا وايي ام هانئ ده د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خور چې غسل وشو راغې ام هانئ راوړاندې شوه وايي ما ته چا ويلي دي چې تا چا ته آمان ورکړي هغه مونږ نه قبلوو د ښځو امان نه قبلوو دلته دا هانئ چې وه ددې ځوي دا دې امان ورکړې وه بچ کړي يې وه د صحابه کرامو نه او خلکو نيولو بندي کولو يې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پرې راغې آواز پرې کوي خپلې خور ته وايي ستا آمانونه نه قبلومه دا خوره يې ده زه به يې نيسم دا به غلام وي نو ام هانئ د خپل ځوي سفارش کې راغله وايي څه کسان داسې خبره کوي رحمت عالم ورته تبسم سره فرمايي:

اجرتُ من اجرتِ يا اجرنا من اجرتِ.

تا چې چا ته پناه ورکړې ده بي بي مونږ هم ورکړې ده څوک يې نيولې نه شي.

نو دغه ځای کې ام هانئ موجوده وه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ضحى لمونځ اته (۸) رکعته وکړو.

نو دې روايت وکړو او خلکو ته يې حکايت وکړو نور څوک نه وه دننه نو دا روايت مقبول دې په نزد د امت لکه داخل د کعبه کې رکعتين د بلال حبشي رضي الله عنه نه غير بل راوي نه لري ولې بل راوي نه لري ځکه بل څوک هغه وخت کې دننه وه نه.

فانها ذکرت. دې ذکر کړي.

انه يوم فتح مكة اغتسل في بيتها. نبي عليه السلام دې په کوټه کې غسل کړې وه.

ثم صلى ثماني ركعات. بيا يې مونځ وکړو اته (۸) رکعاته.

قالت لم أره صلى صلاة اخف منها غير انه يتم الركوع والسجود.

دده مونځ به اوږده وه خو دومره لنډ مونځ باندې ما کله نبي عليه السلام نه وه ليدلې خو دومره وه چې رکوع او سجده يې ښه په تمام سره کوله نو دا ثابته شوه چې سفر کې نبي عليه السلام د ضحى لمونځ اته رکعته کړي.

ابن حجر په فتح الباري جلد ۲ صفحه ۵۷۹ کې د ابن ابي ليلى دا قول چې مونږ د بل چا نه دا روايت نه دې ليدلې ابن حجر صاحب وايي دا محمول دې په علم دده باندې باقي دا ثابت دې د نبي عليه السلام نه چې ده کړي دي او اخره کې دا ذکر کوي چې:

انه كان حينئذٍ يقصر الصلاة المكتوبة وكان حكمه حكم المسافر.

يعني دغه وخت کې مونځ کم کولو قصر يې کولو دې مسافر وه.

وثبت قيام الليل من النبي صلى الله عليه وسلم في السفر.

قيام الليل چې راشي له هغې نه مراد تهجد وي.

د فقهاو اصطلاح هم داده او په عرف کې هم داده حرمينو کې اوس هم قيام الليل کيږي د رمضان په اخري ايامو کې نو تهجد دې په جمعه يې کوي اته رکعته وهابيانو د تهجد او تراويحو فرق ونه کړو نو دې ته يې تراويح ويلې وايي تراويح اته رکعته دي.

المطالب العالية للحافظ ابن حجر العسقلاني جلد ۲ صفحه ۲۹۹ بعضې چاپونو کې جلد ۱ صفحه ۱۴۸ ده:

قال ابو يعلى حدثنا الازرق بن علي حدثنا حسان بن ابراهيم حدثنا يوسف عن ابي اسحاق عن حارثة بن مضرب عن علي رضي الله عنه قال لما اصبح رسول الله صلى الله عليه وسلم ببدر من الغد احيا تلك الليلة كلها وهو مسافر.

دې مسافر وه دا شپه يې ټوله په ويښه تيره کړه نو په دغه شپه يې قيام کړي وه مونځونه يې کړي وه تاريخي واقعات پرې دال دي چې دې په مانځه باندې ولاړ وه.

دارنګې:

وثبت التطوع في السفر على الراحلة من النبي صلى الله عليه وسلم.

الاوسط لابن المنذر جلد ۸ صفحه ۳۵۲:

حدثنا محمد بن صالح قال حدثنا محمد بن يحيى بن الضريس قال حدثنا محمد بن فضيل عن عبد الملك بن ابي سليمان عن سعيد بن جبير عن ابن عمر رضي الله عنه انه قال نزلت هذه الآية ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾ الآية.

دا آيات نازل شوي دي:

ان تصلي حيثما توجهت بك راحلتك في السفر تطوعا.

وايي دا په سفر کې د نوافلو په حق کې چې کوم خوا مخ کوي نازل شوي دي.

كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا رجع من مكة يصلي على راحلته تطوعاً.

دا ګوري د ابن عمر رضي الله عنه نه خپله هم ثابت دي چې غيرِ رواتب کول په کار دي هغه صرف رواتبو کې اختلاف کړې دي.

دا حديث سنن دار قطني هم ذکر کړې جلد ۲ صفحه ۲۲ خو هغه روايت د انس ابن مالک دي انس ابن مالک رضي الله عنه فرمايي:

ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان اذا سافر فاراد ان يتطوع للصلاة استقبل بناقته القبلة فكبر.

دارنګې:

وقد ثبت الركعتين عند توديع المنازل من النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في السفر.

توديع المنازل په سفر کې روانيې مانځه او روتيې ته دمه وکړي نو دغه ځای نه چې بيا سفر ته روانيږي نو نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د دې ځای مخه ښه په دوه رکعته لمونځ کوله دوه رکعت لمونځ به يې وکړو بيا به ترې لاړو.

صحيح ابن خزيمه جلد ۵ صفحه ۱۸ بعضې چاپونو کې جلد ۴ صفحه ۱۵۱ ده: باب التوديع المنازل بالصلاة باب لګوي:

حدثنا محمد بن ابي صفوان الثقفي حدثنا عبدالسلام بن هاشم نا عثمان بن سعد الكاتب وكان له مروءة وعقل عن انس بن مالك قال كان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا ينزل منزلاً الا ودعه بركعتين.

مخه ښه به يې ورسره په رکعتينو کوله.

عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په اتباع د سنتو کې ډير کلک وه نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې حج او عمري ته تللې سفر د مکې معظمې ۴ ځل کړې په مختلفو لارو تللې په مختلفو لارو راغلي په هر ځل کوم ځای کې چې دمي کړې دي دوه (۲) رکعت يې کړې ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوه شپيته (٦٢) حجونه کړې دي اول ځل به په هغه لاره تلو چې کوم پرې اول ځل نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تللې وه هغه ځای کې به يې رکعتين کول کوم ځای کې به چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رکعتين کړې وه.

بخاري آحاديث پرې دال دي مرور د وخت سره تقريباً څلويښت (۴۰) کاله بعد د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د حيات په زمانه کې خلکو هغه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د رکعتينو مسجد لږ لږ بدل کړي وه بخاري کې دوه ځايه دا ښايي ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تعليم خلکو ته ورکوي وايي هغه جيګ جيګ کانړي چې ولاړ دي هغه ځای کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دوه رکعته کړې وه دا مسجد چې جوړ دي دا ځای نه دي شاګردانو ته هغه صحيح ځای ښايي دغه ځای کې کړي هلته يې نه دي کړي اوس خو هر څه ورک دي.

دا نظام د وهابيانو چې پرې راغې هغه تاريخي مقامات يې ټول ختم کړي زما په دې کار زړه ډير خفه وه چې دا تاريخي مقامات دا خو د ختمولو څيز نه وه بايد چې دا ختم نه شي د غلطو

خلکو تاریخ ځکه مه ختموه للعبرة او د نیکانو تاریخ مه ختموه هغې کې اطمینان دي سکون دي چې خلک راځي ورته هغې کې تزکیه ده دلیل په دې باندې چې د بدانو تاریخ مه ختموه للعبرة.

اَلْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ. باري تعالی نجات ورکړو ورته کنه عبرة للامة.

نو دغسې د بدو خلکو څیزونه د عبرة لپاره ټوټې د عادیانو او ثمودیانو تاریخي مقاماتو کې اوس هم شته څو مره پیړې پرې تیر شوې څوک یې نه ختموي ځکه یې نه ختموي چې خلک ورځي ګوري یې چې خلک داسې کار ونه کړي.

البدایة والنهایة کې ابن کثیر ذکر کوي ته ګوره دا اثار اسلافو څومره ساتل بدر غزوې ته نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې تللې دي په لاره کې یو ځای کې قافله اړولې ده نو دا قافله یې چې اړولې ده نو کسان ۳۱۳ دي نو ټولو یو دیګ پوخ کړې دي ډوډۍ یې یو دیګ کې خوړلي په دې غټو غزاګانو کې خو په هر چا خپل خپل خوراک کولو دلته یو دیګ کې شوې ده هغه نغري ثلاثة الأثافي څه د پاسه څلور سوه (۴۰۰) کاله د ابن کثیر کیږي تقریباً څه د پاسه اته سوه (۸۰۰) کاله بعد د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه ابن کثیر وایي چې زه لاړمه هغې مقام ته ما هغه د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نغري هغه دري کاڼي ولیدل ګوري اته سوه (۸۰۰) یا څه د پاسه اته سوه کاله صحابه پرې راغلل تابعین محدثین فقهاء دا تاریخ یې ساتلې وه چې دا هغه نغري دې چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بدر په سفر کې په دې کټوې پخ کړې وه.

دومره اسلافو دا ساتلي وه او ابن کثیر وایي ما په سترګو او لیدلو هغه نغري اوس ورشه نغري پیدا کړه هغه لاره نه شي پیدا کولې چې په کومه لاره دوي تللې دي بلهٔ دا چې دې مواضعو تللو ته شرک وایي دا څه بلا راغلي ده سړي حیران شي ورته بیخ کندي د مسلمانانو یې وکړه.

یهودانو په جامه د اهل حدیثو غیرِ مقلدینو وهابیانو کې لویه بیخ کندي یې دا وکړه چې دا څلور مذاهبه په دین محمدي باندې کلک میخونه وه داسې مضبوط تړلي وه ټول خلک په دې کې راغونډ وه بس مذهب ته ضرورت نشته پراګنده خلک ترې بهر شول دغه دین یې ټوټه کړو په هر مسجد کې خپل مذهب جوړ دي لګیا دي چې څوک څه وایي هغه به

کوي او يهودو په دغه چانس باندې ډیر وخت نه کوشش کولو په جامه د وهابيانو کې پرې کامیاب شول.

پنځوس (۵۰) یا شپیته (٦٠) کاله بعد به نخرې وگوري اوس هم مونږ يوه یوه خبره عجيبه عجيبه اورو کراچي کې يوه ښځه ډاکټره پیدا شوله وايي تعداد د رکعاتو نص قرآني کې نشته دي وايي دا زه نه شم منلې څو رکعته وايي چې کوي وي کوي د خالق وايي دا مقصد دي چې ما ته سر تیټ کړي که یو ځل یې ټیټوي ورته او که پنځه ځل یې ټیټوي ورته داسې څه خبره نشته.

وقد ثبت من الصحابة انهم كانوا يسافرون فيتطوعون قبل المكتوبة وبعدها :

له صحابه کرامو نه د سفر د سنتو ذکر :

الاول : عمر الفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كان يتطوع في السفر ....

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۵ :

حدثنا شريك عن جابر عن سالم ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعمر كانا يتطوعان في السفر.

نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او عمر فاروق دواړو به په سفر کې سنت کول دا تطوع رواتب مراد دي.

البته که څوک اعتراض وکړي عن سالم دا خو مرسل شو روایت د سالم د ان النبي به مرسل شي خو روایت د سالم چې ان عمر كان يتطوع في السفر غیر مرسل دا خو متصل دي کنه د عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول چې نقلوي دا خو ارسال نه دي تابعي دي نو که د نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل نقلوي بدون الواسطه مرسل به شي.

والمرسلات مقبول عند الجمهور. مرسل د جمهورو په مذهب کې مقبول دي.

سوی الشافعي. امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ متفرد دي په دې اصل کې ټول محدثين مراسيل قبلوي مذهب د محدثينو دادی چې مراسیل د مقبولاتو نه دي بيا د تابعينو د سالم غوندې شو بيا هم جواب زه ذکر کوم :

اخرج ابن نسر المروزي في قيام الليل جلد ١ صفحه ٣١٦ بسنده عن سالم عن ابيه
شبهه دارسال ختمه شوه سالم عن ابيه پلار نه روايت كوي اتصال راغې.

الثاني: علي المرتضى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كان يتطوع في السفر.

الاوسط لابن المنذر جلد ٨ صفحه ٣٣٦:

حدثنا اسماعيل قال حدثنا ابو بكر قال حدثنا وكيع عن اسرائيل عن ابي اسحاق عن عاصم ان علياً كان يتطوع في السفر.

كه په معارضه كې څوک تاسو ته د مصنف عبد الرزاق يو روايت څوک پيش كړي ثوير بن ابي فاختة روايت كوي:

ان علياً كان لا يتطوع في السفر قبلها ولا بعدها. حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په سفر كې سنت مخكې وروسته نه كول نو ما جواب كړې.

ان ما رواه عبدالرزاق في مصنفه عن اسرائيل بن يونس عن ثوير بن ابي فاختة ان علياً كان لايتطوع في السفر ففي سنده ثوير بن ابي فاختة وهو ضعيف واه حتى رمي بالرفض والكذب.

په كذب او رافضيت باندې مرمي وه نو كه رافضيت څوک جرحه ګڼي مجروح شو كذب خو په اتفاق سره جرحه ده اقوال د ائمه وو په ثوير بن فاخته كې:

محمد بن عثمان بن ابي صفوان الثقفي عن ابيه قال سفيان الثوري كان ثوير من اركان الكذب. دا خو وايي سم د كذب ستن وه.

قال عباس الدوري عن يحيى بن معين ثوير ليس بشيء.

ثوير څه شي نه وه په حديثو كې.

ابو بكر بن ابي خيثمه عن يحيى روايت كوي: ضعيف، ثوير ضعيف دي.

ابراهيم بن يعقوب جرجاني ثوير باره كې ليكي: ضعيف الحديث.

ابوزرعة الرازي يې په شان كې ليكي: ليس بذاك القوي، ابو حاتم الرازي په حق كې ليكي: ضعيف.

امام نسائي وايي : ثوير ليس بثقة ، دار قطني وايي : متروك . ابو احمد ابن عدي وايي : نصب الى الرفض ضعفه جماعة .

دا روايات حافظ ابن حجر په تهذيب التهذيب جلد ۲ صفحه ۳۶ کې نقل کړې دي .

امام بخاري په تاريخ الاوسط کې وايي : قال ابن عيينة يضعفه ،ايوب سختياني وايي : لم يكن مستقيم الشان .

ابو احمد الحكم وايي : ليس بالقوي . يعقوب ابن سفيان وايي : لين الحديث ، علي بن جنيد وايي : متروك .

ابن حبان وايي :

يقلب الاسانيد حتى يجيء في روايت اشياء كانها موضوعة.

ابن جوزي په الضعفاء کې دي ذکر کوي او د جوزجاني نه نقل کوي : ليس بثقة ، دومره ائمه په ثوير بن فاخته جرحه کوي : چې هغه روايت د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه کړي : لا يتطوع في السفر قبلها ولا بعدها ، د مصنف عبد الرزاق روايت دي .

الثالث : عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان يتطوع في السفر .

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۴:

حدثنا حفص عن ليث عن مجاهد عن ابن عباس انه كان يتطوع في السفر .

الاوسط لابن المنذر هم ذکر کړې جلد ۸ صفحه ۳۳۵ کې :

الرابع : عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان يتطوع في السفر .

الاوسط لابن المنذر جلد ۸ صفحه ۳۳۹ :

حدثنا علي بن الحسن قال حدثنا عبدالله عن سفيان عن حماد عن ابراهيم النخعي روايت کوي :

قال كان عمر وعبدالله يتطوعان في السفر . عمرِ فاروق وعبدالله ، عبد الله چې مذکور شي په حديثو کې مراد ترې نه عبد الله ابن مسعود وي مطلقاً چې راشي .

دا حديث مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۵۵۹ کې ذکر کړی.

الخامس: انس ابن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان يتطوع في السفر.

ده به سفر کې سنت کول دا حديث المعجم الكبير د طبراني را اخيستې جلد ۱ صفحه ۲۴۵:

حدثنا محمد بن عبدالله الحضرمي حدثنا عثمان بن ابي شيبة حدثنا حفص بن عياث عن ابي اليمان قال رأيت انس بن مالك يتطوع في السفر وزاد ابن المنذر يتطوع في السفر قبل الصلاة وبعدها. نو دليل د رواتبو شو.

السادس: ام المؤمنين عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كانت تتطوع في السفر.

دا حديث مصنف ابن ابي شيبة را اخيستې جلد ۱ صفحه ۳۳۴:

حدثنا وكيع عن يزيد عن ابن سيرين ان ام المؤمنين كانت تتطوع في السفر.

بي بي عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به سفر کې سنت کول.

السابع: جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان يتطوع في السفر.

دا حديث الاوسط لابن المنذر را اخيستې جلد ۸ صفحه ۳۳۳، محمد بن قيس راوي دي:

قال دخلت على جابر بن عبدالله وهو يتطوع في السفر.

دا حديث مصنف ابن ابي شيبة هم را اخيستې جلد ۱ صفحه ۳۳۴.

الثامن: ابوذر الغفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان يتطوع في السفر.

الاوسط لابن المنذر جلد ۸ صفحه ۳۳۸:

حدثنا اسماعيل قال ثنا ابو بكر قال ثنا حفص بن غياث عن ليث عن مجاهد ان اباذر وعمر كانا يتطوعان في السفر.

په دغه صفحه کې دا هم مذکور دي:

وقال الحسن البصري رَحِمَهُ اللهُ كان اصحاب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يتطوعون في السفر.

حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ څه فرمايي صحابه وو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به سفر کې سنت کول.

الاوسط لابن المنذر جلد ۸ صفحه ۳۴۰ کې دا حديث مذکور دی :

حدثنا يحيى بن محمد قال حدثنا احمد بن يونس قال حدثنا زائدة عن هشام عن الحسن قال كان اصحاب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يسافرون فيتطوعون قبل المكتوبة وبعدها .

صحابه کرامو به سفر کې مخکې او وروستې سنت تول کول.

نو زه وايم :

هذه رأي الصحابة رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ في التطوع في السفر .

دا رايه د صحابه کرامو ده په نفلو کې .

قال الله في حقهم .

رب کريم دوي باره کې څه فرمايي :

﴿ وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ ﴾ الآية .

چا چې ددوي اتباع وکړه :

﴿ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ ﴾

جنت به هله تا ته تيارېږي چې ته متبع د صحابه وو شي .

وقد ثبت من التابعين وتبعهم انهم كانوا يتطوعون في السفر :

الاول : القاسم بن محمد رَحِمَهُ اللهُ دا کوم قاسم دي قاسم بن محمد بن ابي بكر من فقهاء المدينة السبعة .

سبعة فقهاء د مديني امام مالک رَحِمَهُ اللهُ به چې ددوي قول پيدا کړو د هيچا قول به يې نه اخيسته ځکه د صحابه کرامو زمانه کې دوي قضات پاتې شوې وه مفتيان پاتې شوه وه او ډير معتمد وه .

مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۵۶۰ :

عن عبدالرزاق عن معمر عن ايوب قال رأيت انا القاسم بن محمد يتطوع في السفر.
ايوب سختياني دي هغه وايي چې ما وليد قاسم بن محمد چې سفر کې سنت کول.
الثاني: طاوس رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ كان يتطوع في السفر.
مصنف عبد الرزاق جلد ٢ صفحه ٥٥٩:
عبدالرزاق عن جريج ومعمر عن بن طاووس عن ابيه انه كان يتطوع في السفر كما يتطوع في الحضر وكان يجمع بين الصلاتين.
دا بله جزي اختلافي ده.
شرح معاني الاثار جلد ٢ صفحه ٢٤٦:
حدثنا ربيع المؤذن قال حدثنا اسد قال حدثنا حاتم بن اسماعيل قال ثنا اسامة بن زيد قال سألت طاؤس عن التطوع في السفر.
تپوس مې وکړو د تطوع في السفر.
فقال وما يمنعك؟ وي ويل څه شي منع کوي تا دې مونځ نه.
فقال الحسن بن مسلم أنا احدثك. زه درته حديث بيانوم.
انا سألت طاؤساً عن هذا فقال قال ابن عباس رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ قد فُرِضَ لِرَسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصلاة في الحضر اربعاً وفي السفر ركعتين فكما يتطوع هاهنا قبلها ومن بعدها فكذلك يصلي في السفر قبلها وبعدها.
د ابن عباس رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ فتوى يې پيش کړه هلته چې مخکې وروسته کيږي دلته هم کيږي دا قصر فقط په فرضو کې راغلې دي په نفلو او سنتو کې نه دي راغلې.
الثالث: امام الشعبي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ كان يتطوع في السفر.
مصنف عبد الرزاق جلد ٢ صفحه ٥٥٩ عيسى بن ابي عزة راوي دي:
قال رأيت عامر الشعبي يتطوع في السفر قبلها وبعدها.
الرابع: مكحول رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ كان يتطوع في السفر.

جلد ۲ صفحه ۵۶۰ :

عبدالرزاق عن محمد بن راشد قال رأيت مكحولاً يتطوع في السفر قبلها وبعدها .

الخامس : عطاء بن ابي رباح رَحِمَهُ ٱللَّهُ **كان يتطوع في السفر .**

مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۵۵۹ ، ابن جريج روايت كوي :

عن عطاء قلت اذا سافرت فقصرت الصلاة اصلي قبلها ان شئت او بعدها ؟.

تپوس كوي ابن جريج له عطاء نه زه چې كله سفر كومه مانځه كې قصر كومه مخكې وروسته ترې نه سنت كومه .

قال : نعم . هغه وويل هاو .

آخذ بالرخصة والسنة .

عطاء دې شاګرد ابن جريج ته وايي سنت هم اخلمه رخصت هم اخلمه .

فاقصر . په فرضو كې قصر كومه دا مې اخذ بالرخصت وكړو .

ثم احب زيادة الخير فاتطوع .

دا اتباع د سنت شوه قصر رخصت او سنت كول دا اتباع سنت شوه .

السادس : سفيان الثوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ كان يتطوع في السفر :

مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۵۶۰ :

قال عبدالرزاق ورأيت انا الثوري يتطوع قبلها وبعدها يعني في السفر .

السابع : ايوب سختياني كان يتطوع في السفر :

مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۵۵۸ :

عبدالرزاق عن معمر قال سافرت مع ايوب . معمر وايي ما د ايوب سختياني سره سفر وكړو .

فكان لا يتطوع في الظهر والعصر بشيء لا يزيد على ركعتين ركعتين غير انه كان يصلي قبل الفجر ركعتين وبعد المغرب ركعتين وكان يصلي ركعات بعد العشاء وكان يوتر قبل ان ينام .

د ماسپښين يې ترک کړې دي شايد داد ايوب سختياني د ماسپښين لمونځونو کې د بعد الركعتين د رواتبو قائل نه وي او داد امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب هم دي.

امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ ماسپښين کې دا بعد د رکعتينو د رواتبو قائل نه دي او د قبل اربعة قائل دي او په مازديګر کې د څلورو قائل دي.

الثامن: الاسود بن يزيد رَحِمَهُ اللَّهُ كان يتطوع في السفر.

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۴:

حدثنا حفص عن حجاج عن عبد الرحمن بن الاسود ان اباه كان يتطوع في السفر وان عبدالله كان يتطوع في السفر.

التاسع: ابراهيم النخعي رَحِمَهُ اللَّهُ كان يتطوع في السفر:

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۴:

حدثنا هشيم عن يونس عن الحسن وعن مغيرة عن ابراهيم انهما لم يكونا يريان بأسا بالتطوع في السفر قبل الصلاة ولا بعدها.

سفر کې سنت دوي باک نه ګڼل يعنې دا يې ناروا نه ګڼل بلکې روا يې ګڼل.

العاشر: الحسن البصري رَحِمَهُ اللَّهُ كان يتطوع في السفر.

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۵:

حدثنا وكيع عن الربيع عن الحسن قال وافقنا اصحاب محمد فكانوا يصلون قبل الفريضة وبعدها يعني في السفر.

مونږ له صحابه کرامو سره ميلاو شوي يو په سفرونو کې هغوي مخکې وروسته د فرضو نه سنت کول.

الحادي عشر: عروة بن الزبير رَحِمَهُ اللَّهُ كان يتطوع في السفر:

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۵:

حدثنا حاتم بن اسماعيل عن هشام بن عروة قال وكان ابي يصلي على اثر المكتوبة في السفر.

هشام وايي زما پلار چې عروة دي ده به فرضو پسې په سفر کې سنت کول.

الثاني عشر: عمرو بن ميمون وابو وائل رَحِمَهُمَااللَّهُ كانا يتطوعان في السفر.

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۵:

حدثنا غندر عن شعبة عن اشعث قال صحبت ابي والاسود بن يزيد وعمرو بن ميمون واباوائل فكانوا يصلون ركعتين ثم يصلون بعدها ركعتين في السفر.

الثالث عشر: الحارث بن سويد وجابر بن زيد رَحِمَهُمَااللَّهُ كانا يتطوعان في السفر.

الاوسط لابن المنذر جلد ۸ صفحه ۴۰۳:

وممن روي عنه انه كان يتطوع في السفر.

ابن منذر په الاوسط مذكوره صفحه کې نچوړ ذكر كوي څومره تابعينو تبع تابعينو نه ثابت دي چې هغوي سفر کې سنت کړي نو وايي:

قاسم بن محمد والاسود بن يزيد والحارث بن سويد وعطاء بن ابي رباح وطاؤس والشعبي ومكحول والحسن البصري والنخعي وعروة بن الزبير وعمرو بن ميمون وجابر بن زيد وابو وائل وهو قول مالك والشافعي واحمد بن حنبل واسحاق وابي ثور واصحاب الرأي.

اصحاب الرأي نه مراد امام ابو حنيفه رَحِمَهُاللَّهُ دي محدثين دده فقه ته نه شو رسيدلې نو دې يې مسمى کړو په اصحاب الرأى باندې.

تطوع في السفر على رأى الفقهاء والمحدثين:

په حالت د سير کې زمونږ د امام محمد رَحِمَهُاللَّهُ نه ترک ثابت دي نو داسې غلو افراط هم نه دي په کار چې بعضې سفرونو کې د سير په حالت کې چا نه پاتې شي نو بيا پرې بد نسبت كول نه وي په کار ځکه چې امام محمد رَحِمَهُاللَّهُ په خپله هم په حالت د سير کې کله ترک کړې دي يوه خبره شته چې دې زمانه کې بالكلية ترک نه دي په کار ځکه چې ته په يو سفر کې په يو

مسجد کې سنت ونه کړي نو نن صبا سفر کې سنت نه کول داد وهابيانو نښه ګرځيدلې ده که ته يې هم ونه کړي نو تيار وهابي يې د هغوي نښه در کې راځي کوم کار چې د غلطو خلکو نښه وګرځيږي نو که هغه ښه کار هم وي ترک يې په کار وي او که د اهل سنت نښه وګرځيږي او مستحب عمل وي په مثل د فرضو باندې تاکيدي عمل يې په کار وي.

العرف الشذي شرح د ترمذي د شاه انور شاه کشميري الحنفي جلد ۲ صفحه ۸۸ ذکر کوي:

وفي البحر عمل محمد بن حسن انه كان لا يصلي الرواتب اذ كان في حال السير.

کله به چې سفر د سير او مزل وه رواتب به امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ ترک کړل.

وكان يصليها في حال النزول. کوم ځای به چې نزول د سفر وه ځو شپې به يې تيرولې بيا به يې کول.

درر الحكام شرح غرر الأحكام جلد ۲ صفحه ۱۰۳:

اختلف في السنن فقيل الافضل هو ترك الترخصة وقيل الفعل تقرباً.

فقهاء اختلاف کړي په سنتو کې چا ويلي افضل پريښود دل دي ځکه عمل بالرخصة دي چا ويلي چې کول دي ځکه عمل په تقرب دي.

قال الهندواني الفعل حال النزول والترك حال السير.

حالت د سير کې ترک ده او په حالت د نزول کې فعل دي.

قيل يُصلي سنة الفجر خاصة قيل سنة المغرب ايضاً كذا في المحيط.

چا وويل خاصتاً د صبايي سنت نه شي پريښودلی چا وويلي د مابنام خو داد فقهاو خپل اختلاف دي.

هغو مره نصوص چې پيدا شي بيا مونږ ته دداسې جُزيو عباراتو مونږ باندې الزامي حجت نه جوړيږي.

چې مونږ ته د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ او د اربعة ائمه او د تابعينو صحابه وو روايات مرفوعه ثابت شي بيا که يو فقيه زمونږ وه هم وايي نو مونږ خو بيا د دغه فقيه مقلدين نه يو ځکه مونږ د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مقلدين يو او د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ او د مجتهدينو في

المذهب قائل يو د هر يو عبارت د فقهې خو تقليد نه شي کيدلې.

البحر الرائق جلد ۵ صفحه ۸۸ په دې کې همغه د هندواني قول ذکر کول اخر کې وايي:

وفي التجنيس والمختار انه ان كان حال أمن وقرارٍ يأتي بها.

مختاره داده که حالت د امن او قرار وه راتله به پرې کوي.

لانها. ځکه دا سنت.

شُرعت مكملاتٍ. دا مكملات د فرضو نه دي.

والمسافر اليه محتاج. او مسافر دې ته ډير ضرورت لري.

وان كان حال خوفٍ لا يأتي بها لانه ترك بعذر. که د يرې وخت وه او جهاد کې وي مشکلات وه نو بيا دې سنت پريښودل شي ځکه دا پريښودل شول په عذر باندې.

حاشيه رد المختار جلد ۲ صفحه ۴۱ کې دا ليکي:

يأتي المسافر بالسنن اي بالرواتب. مسافر به په سنن راتلل کوي.

هو المختار. دا مختار د مذهبِ حنفي دي.

شرح د سنن ابن ماجه جلد ۱ صفحه ۷۵ عيني روايت د ابن عمر رضي الله عنه چې متضاد دي تطبيق کوي:

حديث النفي على الغالب من احواله وما رواه الترمذي على انه فعله في بعض الاوقات لبيان الاستحباب.

نو مستحب دا شو چې وشي.

والاوجه. مختاره داده:

ان يحمل حديث النفي على حالة السير وحديث الثبوت على حالة القرار كما هو المختار من مذهبنا.

عون المعبود جلد ۴ صفحه ٦٤:

وقد اتفق العلماء على استحباب النوافل المطلقة في السفر.

علماء متفق دي چې نوافل مطلقه په سفر کې غوره دي خو اختلاف یې کړی في استحباب النوافل الراتبة چې رواتب څنګه دي .

فتركها ابن عمر وآخرون واستحبها الشافعي واصحابه والجمهور .

د جمهورو په نزد باندې مستحب دي يعني کول یې غوره دي .

والدليل الاحاديث العامة في ندب الرواتب وحديث صلاته ﷺ الضحى يوم الفتح بمكة وركعتي الصبح حين ناموا احاديث اخر صحيحة .

بیا جواب کوي :

ولعل النبي ﷺ كان يصلي الرواتب في رحله ولا يراهُ ابن عمر .

کیدې شي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دا رواتب په خپله خیمه کې کول هر ځای کې به چې وه سوري به ورته جوړ شو .

ولا يراهُ ابن عمر . ابن عمر نه دي ليدلې رش به وه .

مخکې دې جواب ته ما اشاره کړې ده دده عمر کم وه ده نه دې ليدلې ده په خپل علم دا خبره کړې .

فان النافلة في البيت افضل ولعله تركها في بعض الاوقات تنبيهاً على جواز تركها .

دا زمونږ د بعضې فقهاو عبارات شول که د فقیه عبارت په دې حملوي چې حالت د سير کې ترک افضل دي خو عمده قول نه دي ځکه چې مونږ په سیر کې د نبي اکرم ﷺ نه نوافل على الراحلة ثابت کړه نو هغه دليل ددې دي چې په سیر کې هم نه دي پریښي .او که نه د فقیه قول په دې حملیږي چې حالت د سير کې جواز الترک دي نو بیا صحیح ده او که څوک افضلیت د ترک وایې نو غلطه ده ځکه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خو عمل په خلاف د افضل نه کوي ځان دې هم ستړې کړي او افضل دې نه شي نو په حالت د سير کې په سورلي د پاسه یې کړې دي نو دا دليل ددې دي چې حالت د سير کې هم افضل سنت دي ولې ترک یې جائز دي او په حالت د نزول کې افضل سنت دي او ترک یې هم نه دي په کار په حالت د قرار کې .

د فقهاو عبارات د مختلفو مذهبونو نه ذکر کوم :

الانصاف جلد ۳ صفحه ۳۹۹، المبدع جلد ۲ صفحه ۳۳۲، زاد المعاد جلد ۱ صفحه ۴۵۶، کتاب الام للشافعي جلد ۵ صفحه ۱۲۰، الرسالة للشافعي جلد ۱ صفحه ۳۲۱، فقه الصنعة جلد ۱ صفحه ۲۸۸، نيل الاوطار جلد ۳ صفحه ۲۶۸، تحفة الاحوذي جلد ۳ صفحه ۹۶ په هغې کې عجيب روايت ذکر کوي د ابن عمر رضي الله عنه د روايت جواب کوي چې دا ۶ شپږم جواب جوړيږي :

وروى مالك في الموطأ بلغ عن النافع ان عبدالله بن عمر كان يرى ابنه عبيدالله يتنفل في السفر فلا ينكر ذلك عليه .

وايي د ابن عمر رضي الله عنه ځوي عبيد الله به په سفر کې سنت کول ده به پرې رد نه کولو هيڅ به يې هم ورته نه ويلې نو دا دليل ددې شو چې دده په نزد هم جائز دي سفر کې ليکن اولی دده په نزد ترک وه دا دده په رواتبو کې يوه رايه وه او يا قبول د رخصت وه اولی اتيان وه.
آخره کې کومو محدثينو چې دې باره کې بابونه لړولې دي او په دې يې روايات ذکر کړې دي ځو مره کتابونه د حديثو په دغه مسئله باب لګوي نو شرم په کار اهلِ حديثو ته دي چې وايي مونږ د محدثينو خبرې منو او بيا دا جزيه چې ټول محدثين پرې قائل دي او دوي ترې انکار کوي .

وكثيراً من المحدثين بوبوا باباً في التطوع في السفر .

مجمع الزوائد جلد ۲ صفحه ۳۷۱ کې باب لګوي : باب التطوع في السفر قبل الصلاة وبعدها .

مطالب العالية د ابن حجر جلد ۲ صفحه ۲۹۸ کې باب لګوي : باب التطوع في السفر .

سنن الصغير للبيهقي جلد ۲ صفحه ۲۹۵ کې باب لګوي : باب الصلاة التطوع في السفر على الراحلة .

الاوسط لابن المنذر جلد ۸ صفحه ۳۲۸ کې باب لګوي : ذکر الصلاة التطوع في السفر قبل المكتوبة .

اتحاف الخيرة المهرة بزوائد المسانيد العشرة للبسيري جلد ۲ صفحه ۹۸ کې باب لګوي : باب في ذكر الأثر الذي روي ان الجمع بين الصلاتين من غير العذر من الكبائر مع ما دلت عليه اخبار المواقيت وما جاء من التطوع في السفر .

سنن دار قطني جلد ۱ صفحه ۳۹۵ کې باب لګوي : باب الصلاة التطوع في السفر .

صحيح ابن خزيمه جلد ۲ صفحه ۲۴۹ کې باب لګوي : جماع ابواب الصلاة في التطوع في السفر على الدواب .

بل باب لګوي : باب الصلاة التطوع في السفر قبل الصلاة المكتوبة .

سنن ابن ماجة جلد ۱ صفحه ۳۴۰ کې باب لګوي : باب التطوع في السفر .

سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۴۳۴ کې باب لګوي : باب ما جاء في التطوع في السفر .

سنن ابي داؤد جلد ۴ صفحه ۱۴۹ کې باب لګوي بيروت چاپ دا محدثين دي ټول په خپلو كتابونو کې دا مسئله په دې بابونو کې ذکر کوي .

دې ځای باندې مسئله د تطوع في السفر خلاصه شوه .

چې چا سفر کې سنت نه کول هغوي پوهه وي د صحابه وو دا نومونه یاد کړي چې دې صحابه کرامو نه ثابت دي دې ته ناروا مه وايي او دا تبليغي جهلا امراء چې دي دوي ډيره مضبوطه کړي دا خبره ځومره خلک چې دوي سره لاړ شي هغوي ته دا مسئله ورزده کوي سفر کې سنت نه کول سنت دي .

حکایت :

ما د کوهاټ اډې سره دې مسجد کې مې مونځ کوه د وزيرستان او ډيري غازي خان دې طرفونو باندې د تبليغي جماعت ځادر را خور دي دا نه بل شيخ الحديث مني او نه فقهاء مني بس تبليغي مني نو کوهاټ دې ځايونو کې هم تاثيرات زيات دي مونځ وشو دلته يو دوه تبليغي حضرات دي يو امير دي او بل يې ساده پټهان ځان سره کړې دي دې اميريې دوه رکعته لمونځ وکړو وتښتيده لاړ او دا ساده سړي چې وه ده خپل مونځ پوره کړو بهر زه هم ووتلم او دا سړي هم راووتلو دا امير صاحب ورته ډير سخت په غصه دي ورته وي ويل جاهل

يې کنه درته وايمه چې تبليغ کې سي روزي ولګوه چې علم زده کړي نه يې لګوي جاهله هغه ورته غلي غلي کيږي څه خبره ده ولي وايي ته نه پوهيږي دې باندې چې سفر کې سنت نه کول سنت دي بدعاتو کې دې ځان سترې کړو .

زه ورنږدې شوم او د امير په اوږه باندې مې لاس کيښودلو ورته وه مې ويل غصه سره کړه جاهل دې نه دي ته جاهل يې شريعت نه خبر هم نه يې ځان نه فيصلې کوي ته ملا يې ما ورته وويل .

وايي نه جي زه خو ملا نه يمه ما ورته وويل چې ملا نه يې داسې فيصلې څنګه کوي او خلکو ته جاهل وايي ، وايي زمونږ مشران داسې وايي کنه ما ورته وويل ستا مشران خو جاهلان دي چې دا خبره کوي هغوي چا ملايان کړه ستا مشرانو کې ملا له کومه شو خو ټول اُميان راغونډ يې کنده ته ما ته وښايه چې يو مرکزي شبِ جمعې ته دې دوي عالم تا کلې وي داسې عالم چې شيخ الحديث وي يا مفتي وي ټول کجاخيل را ټول شوې ياستې يو مو امير کړې وي بل مو کشر کړې وي داسې اُمراء دي .

ددوي ما ته يو چا حکايت کوه وايي د ډاګي مولانا صاحب وه او فضل سبحان مولوي صاحب وه دا لوي لوي علماء وه په دې مردان کې اوس مړ دي داد فنونو مدونه وو کتابونه به يې مدرسو ته ورکول يو خان وه او ډير سخي وه نو هغه بيا وروسته تبليغي شو چې تبليغي شو بيا کنجوس شو يوه روپۍ يې هم چا ته نه ورکوله .

دا شل يا ديرش کاله مخکې طالبان يې ټول پيژني ډير کتابونه به يې خلکو ته ورکول يوه شرح جامي ما ته هم د هغهَ راسره ده او مُهر د هغه ورباندې دي نو کله را ياد شي وايي دغه خان ډوډي کړي وه بريلوي او ديوبندي علماء يې اکثر راغونډ کړې وه د ډاګي شيخ صاحب هم په کې راغلې دي او فضل سبحان شيخ صاحب هم په کې راغلې دي څه ديوبندي څه بريلوي ټول راغلي وه .

وايي هغه وخت سره دا نزاع دومره ګرمه هم نه وه شل يا ديرش کاله مخکې ديوبندي او بريلوي علماء به په يو دسترخوان کيناستل سره يو بل ته کافر يا وغيره دا نسبتونه يې نه کول د احمد رضا خان بريلوي او اشرف علي تهانوي په زمانه کې هغه وخت کې لږ ګرمه شوې وه

بیا سړه وه دا اوس بیا ډیره ګرمه شوه دومره ګرمه شوه چې بالکل یو جانب بل جانب ته مسلمان نه وایي .

نو دا علماء وایي ټول ناست وه وایي چې کله دوډي وخوړل شوه نو د تبلیغیانو یو امیر وه دا امیر وایي د ډاګي شیخ صاحب ته وویل چې صیب دلائل د شرعې څو څلور دي کنه وایي چې هاو کتاب الله دي سنت رسول دي او اجماع او قیاس دي وایي اجماع دلیل دي کنه وایي هاو وایي هسې جې په دې ریونډ شریف کې هم اجتماع کیږي دا به هم دلیل وي کنه نو هغه دومره جاهل وه چې د اجتماع او اجماع فرق یې نه شو کولې .

نو دې مجلس کې زمونږ یو سیفي عالم ناست وه هغه ډیر حاضر جوابه او مناظر وه نو هغه وویل چې ما ورته وویل چې جاهله ته اوسه پورې د اجماع او اجتماع کې فرق نه شي کولې اجماع دلیل دي اجتماع خو دلیل نه دي کنه او د ډاګي شیخ صاحب وایي له ډیرې حیاء نه سر ټیټ کړو او خندل یې چې اوس دې جاهل ته څه ووایو .

نو وایي ما ورته وویل چې که هره اجتماع دلیل وي نو د کرپانې پُل شا ته دلته د میښو منډي ده ددې میښو هم ډیره غټه اجتماع کیږي نو دا به هم دین کې دلیل وي نو دا داسې شیان راغونډ شوې چې د اجماع او اجتماع فرق نه شي کولې .

زه په حرم شریف کې وم خپل حکایت کوم خلک به راتلل دا د حج د مسائلو پوښتنې به یې کولې دوستان به هر وخت لس یا پنځلس کسان راغونډ وه د پیښور د بالا ماڼي یو امیر د تبلیغیانو راغې دوه دري ورځې مسلسل راتلو .

بله ورځ ما ته وایي چې یاره زمونږ د پاکستان په خلکو خدای تعالی غټ رحم کړې دي مولانا صاحب ګوره ډیر احسان یې راسره کړې دي ما وویل چې ګنې دې به وایي چې هلته علماء ډیر دي او مدارس ډیر دي او یقیناً پاکستان د علم مرکز دي عربو او نورو ملکونو کې دومره علم نشته څومره چې دلته دي نو ما وویل دا به یاد وي خو ده دا خبره ډېره کوله او تکراروله یې چې غټ احسان یې راباندې کړې دي .

آخر یې د خولې نه رابهر شول وایي چې صیب ګوره مونږ دلته را شو او دومره مصرف هم وکړو او یو مونځ دلته په یو لاکه باندې دي او مونږ په پاکستان کې بالا ماڼي خپل کلي کې بستره واخلو شبِ جمعې ته روان شو یو مونځ په یو کم پنځوس کروړه قبلیږي دا څومره

عظيم احسان مونږ سره شوې دې بس زه پرې پوهشوم چې دا جاهل خو څه بله بلا ده بيا مې کينوه ما ورته وويل چې جاهله دا عقيده درته چا ښودلې ده دا ته څه وايې دا درته چا ويلې دې چې هلته يو مونځ په يو کم پنځوس کروړه دي .وايي دا زمونږ مشران داسې خبره کوي .بيا مې پوه کړو نصيحت مې ورته وکړو نو ما ته وايي چې مونږ څه خبر يو مونږ خو د خپلو مشرانو تابع يو ما ورته وويل توبه وباسه د رب کريم د خانه کعبې بې ادبي دې وکړه نو دا داسې خلک دي چې عجيب عجيب څيزونه په ترې واوري.

دې تبليغي حضراتو کې دا خبره ډيره معروفه ده څوک درکې امامان وي ما غوندې تيز پرې مه ورځئ هسې نه چې جومات نه مو وشړي خو په نرمه باندې په ښه طريقه باندې او مونږ سره نرمه لهجه په کار ده : ﴿فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا﴾ .

او که تاسو وايې چې ته څنګه له تيزئ کار اخلې نو زه بې اختياره کيږم کله کله ما کې د سيفيانو رګ دې هغوي لږ جزباتيان وي بيا وروسته زه هم پښيمان يمه خو الفاظ رانه غيرِ اختياري تيز شي .

امام رباني رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ د شيعه ګانو په کفر باندې يو کتاب ليکلې نو په دې مقدمه کې خبرې کړې دي دا امام رباني صاحب د عمرِ فاروق رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ په اولاد کې دې دې ته حضرتان ويلې شي نو په دې مقدمه کې خبرې کوي وايي چې قلم مې اوچت کړ چونکې زه عمري يمه د هغه په اولاد کې يمه وايي د هغه عمر رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ رګ راکې راوپاريدلو چې دا رساله مې وليکله د اساتذه وو او د مشائخو دا نسبي رګونه سړي کې کار کوي .

زمونږ شيخ چې وه په دې مسئله کې متشدد وه ډير زيات د اهل زيغ سره هيڅ قسمه نرمي نه هغه کړې او نه يې کوله وايي بس اهل زيغ دي په باطله دي اهل حق دي دوي نه جدا شي نو هغه رګ مونږ کې هم دي زما به بعضې الفاظ تيز وي تاسې دومره تيز په خپلو علاقو کې مه چليږي په نرمه باندې خو دا عوام دي نه پوهيږي پوهه کول يې په کار دي چې دا مسئله ددوي غلطه ده چې سفر کې سنت نه کول سنت دي دا بې بنياده خبره ده بلکې سفر کې سنت کول په کار دي .

مسئلة التطوع في السفر ختمه شوه د لوي خداى جَلَّ جَلَالُهُ په مرسته او کومک

مسئلة النداء الى الغائب :

اعوذ بالله من الشيطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم : ﴿ وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴾ الحج آیت : ۲۷.

بله مسئله چې زیر بحث یې ګرځوو هغه مسئلة النداء الی الغائب ده پاکستان کې دا ډیره معروفه ده ډیر مسلمانان په مساجدو کې په ګاډو کې د شِعار او د نبنې لپاره یارسول الله یا محمد لیکي .

اهل زیغ چې څو مره جماعات دي او حتی بعضې حنفي ورونه د نه مطالعې په وجه او یا بعضې د بریل د تعصب له وجې نه دې ته شرکي عقیده وایي او ځای په ځای یې مساجدو او ګاډو کې مونږ ګورو چې شعاراً یا محمد لیکلو سره د یا سره ظلم شوې وي هغه یې ترې کټ کړې وي نو اولاً دي مسئله کې تفصیل ذکر کوم چې په څو الفاظو سره نداء غائب ته کیږي او څه حیثیت لري او بریلوي حضرات دي هم دې ته متوجه شي چې دا ټول په یو مثابت کې نه دي .

د یا غائب ته دا آواز په څو طریقو باندې دي د نبي اکرم ﷺ په اسم مبارک کې او یا په صفت مبارک کې به دغه د یا استعمال او د هغې قسمونه ذکر کړو یو د الصلاة والسلام علیك یا رسول الله ، غائب چې نبي اکرم ﷺ دي د یا آواز ورته وشو څو صلاة او سلام وویلې شو په نیت د حضورِ خارجي جسدي سره نه بلکې په نیت د حضورِ علمي سره چې دغه ویونکي د صلاة او د سلام د خپل ذهن په کوټه کې رحمت عالم حاضر کړي متصور في الذهن یې کړي او دې ورته مخاطب شي السلام علیك یا رسول الله دا الفاظ ویل جائز دي باتفاق العلماء بین العرب والعجم وبین الدیوبندیة والبریلویة دې کې د چا هم څه نزاع نشته ده چې الصلاة والسلام علیك یا رسول الله په نیت د حضورِ علمي باندې چې ذهن کې متصور شي او مخاطب شي جائز دي .

البته بریلوي حضرات دا شِعار ګرځولې دي دیوبندیان بعضې یې نه وایي بعضې ورسره تعصب کوي دې ته پنجابي درود وایي نو دې الفاظو ته پنجابي درود ویل ظلم دي له

نن نه شپږ سوه (۶۰۰) کاله وړاندې علامه سمهودي صاحب تیر شوی دی په وفاء الوفا باخبار دار المصطفی صلی الله علیه وسلم جلد ۴ صفحه ۳۴۹ کې
هغه دا ذکر کوي چې صلاة او سلام په رحمت عالم باندې لوستل کیږي:

بصيغتين. په دوه صیغو سره.

صيغة الغياب وصيغة الخطاب. یو د غیاب صیغه ده بله د خطاب صیغه ده هر چې د غیاب صیغه ده هغه دا الفاظ دي چې صلی الله علیه وسلم هر چې د حضور او خطاب صیغه ده د هغې الفاظ دادي چې وو ایي: **الصلاة والسلام عليك يا رسول الله**، نو وایي دا دواړه جائز دي.

سواء كان قريباً معه او نائياً عنه. که سړی د روضې سره قریب وي او که د روضې نه لرې وي.

نو ویلې شي چې: **الصلاة والسلام عليك يا رسول الله.**

دا صرف دغه شبهه د دوی د فع کوم چې وایي دا پنجاب نه راغلي درود دي نه دا پخوا نه په عرب عجم کې معروف وه دا زمونږ او ستاسې ټول فقهاء دا مونږ ته تعلیم راکوي د آدابو د زیارت المصطفی تعلیم څه راکوي چې مونږ به و دریږو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته **السلام عليك يا شفيع المذنبين السلام عليك يا رحمة للعالمين**، ډیر الفاظ زمونږ د فقهې معروف کتاب عالمګیري او بحر الرائق او زمونږ شامي دي ټولو را اخیستې په آدابو د **زيارة المصطفى باب زيارة النبي** صلی الله علیه وسلم کې یې دا الفاظ لیکلي.

البته که یو وهابي دا خبره کوي چې دا الفاظ په آحادیثو کې نه دي راغلي نو هغه ته دا ویل په کار دي چې ته مانځه کې کوم تشهد کوي او بخاري د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه تشهد چې دا معروف تشهد او جماهیر پرې قائل دي تشهد دغه دي چې عبد الله بن مسعود نقل کړې دي نو په هغې کې الفاظ څه شي: **السلام عليك ايها النبي**، سلام دې وي په تا باندې یا نبي دا څه شي دي دا خو ستا تأویلات دي چې دا خو حکایت من الله تعالی او زه نقل کومه که تا حکایت من الله وکړو ته ممتثل د وسلموا تسلیماً د سره یې نه یې او دې ځای کې

صحابه کرام څه فرمايي : يا رسول الله عرفنا السلام عليك يا ايها الذين امنوا صلوا عليه وسلموا تسليماً امر راغلي دي امت لره په صلاة او سلام باندې.

ددې تشهد د تعليم نه بعد صحابه کرام عرض کوي :

عرفنا السلام عليك . مونږ تا باندې د سلام الفاظ وپيژندل چې هغه دادی چې : السلام عليك يا رسول الله .

کيف نُصلي . صلاة به څنګه وايو نو د درودِ ابراهيمي تعليم يې ورکړو .

په دې ځای باندې شامي بحر الرائق طحطاوي دا ليکي چې کله مصلي دې ځای ته راشي : السلام عليك أيها النبي دې به انشاء کوي اخبار به نه کوي انشاء به کوي ايجاد مالم يوجد احداث د مالم يحدث دې به وايي دلته ځان ته به نبي اکرم ﷺ متصور کړې زه درباندې سلام وايم ای د الله نبي دا نه چې دې حکايت من الله تعالى کوي او دې به ځکه دلته انشاء کوي چې دې ممتثل د امر د باري تعالى شي چې : وسلموا تسليماً.

که دې اخبار وکړي نو اخبار خو د عبادت نه عبادت نه دې مثلاً تا ته د اقيموا الصلاة امر متوجه دي او ته پنځه وخته لمونځ نه کوي او د غلام حضرت مولانا د مانځه قيصې خلکو ته کوي ته ممتثل جوړيږي ته په دې امر عامل جوړيږي امتثال څه ته وايي عمل بالامر ته په دې امر عامل جوړيږي.

امتثال څه ته وايي عمل بالإمر ته وايي ته په دې امر کله عامل جوړيږي تا ته د اقيمو الصلاة امر متوجه دي او ته زما د مانځه قيصې کوي ته د جبرائيل عليه السلام د امامت قيصې خلکو ته کوه ته د محمد مصطفى ﷺ د بيت المقدس هغه قيصې ورته کوه نو ته ممتثل پرې جوړيږي نه جوړيږي کنه هله به د اقيموا الصلاة عامل جوړ شي چې په خپله دا عمل وکړې چې دې ته مو سوچ وي ګورئ دوي دا غلط تأويل دلته کوي چې دا خو اخبار عن الله تعالى .

دا خو زمونږ حکایت کوو چې ته حکایت په دې ځای کې کوي نو ته ممتثل د وسلموا تسلیماً نه یې ځکه چې اخبار د عبادت نه چا هم عبادت نه دي ګڼلي خاصکر په او امرو کې چې درجه د فرض او وجوب لري هغلته خو حکایت او قصه د عبادت نه له سره عبادت نه دي .

مثلاً ما زر (۱۰۰۰) کرته درود ویلي په ما زر رحمته نازل شو تا زما د درود حکایت بل ته وکړو په تا دوه رحمته هم نه نازلیږي ته خو حکایت له درود نه کوي کنه ما سلام ویلي زه ممتثل د وسلموا تسلیماً نه یې ته زما د سلام قصه بل ته کوه نو ته خو ممتثل نه جوړیږې کنه کله چې دې ځای ته ته راشي : السلام علیك ایها النبي ، تا ته د غه آیت متوجه شي وسلموا تسلیماً .

اوس که ته مُنشي یې او صاحب د انشاء یې او مخبر نه یې نو ممتثل د امر یې تا سلام واچوه تا په آیت عمل وکړو او که تا دلته حکایتاً عن الله تعالی قصه دې وکړه نو وهابیان دلته څه تصور کوي مونږ خو چې دلته راشو دا تصور کوو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دې خپل ذهن کې راولو وو ایو رب کریم مونږ ته امر کړې دي ستا په ذات باندې د سلام السلام علیك ایها النبي سلام دې وي په تا باندې یا رسول الله .

مونږ داسې وایو وهابیان د څه تصور کوي دلته چې راورسیږي یا رسول الله زه درباندې سلام نه وایم ځکه بیا غائب ته یاء سره آواز راځي شرک لازمیږي فقط د رب کریم حکایت کومه چې هغه درباندې ویلي وه تشه قصه کومه نو دا به څنګه ممتثل د وسلموا تسلیماً شي .

نو که څوک وایي چې دا سلام په دې الفاظو ثابت بالحدیث نه دي نو دا ثابت بالحدیث په تشهد کې شته دي او که ته وایي چې نه دا خو داخل د مانځه کې راغلي خارج کې نه منمه نو ته خو دې ته د شرک عقیده وایي د حرامو عقیده وایي دا هم اوس د چا مسلک دي چې اله العالمین د مانځه په داخل کې په شرکیاتو امرونه کړې دي یا یې په حرامو امرونه کړې دي .

تحقیقي جواب دا دی چې الفاظ د دعاء د حمد الفاظ د سلام باتفاق العلماء مختص بالنص نه دي ته نرشه خطبه د جمعې جوړه کړه له ځان نه یې جوړه کړه تا ته جائز دي سره دي په آحادیثو ثابته نه وي تا ته جائز دي یا تقریر کوي او د تقریر نه مخکې خطبه لولي له ځان نه

یې جوړه کړه غلط الفاظ مه وایه تا ته جائز دي دغه شان صلاة او سلام په محمدي عربي مختص بالنص نه دي افضل جدا خبره ده چې بهتر درودِ ابراهیمي دي خو ته په خپلو الفاظو کې په رحمت عالم صلاة سلام ویلې شي.

دغه شان الفاظ د دعاء دي دا مختص بالنص نه دي ته چې دُعاګانې کوي نو دا ټولې دعاګانې په آحادیثو ثابتې دي کله ثابتې دي ته به پښتو کې دعاء کوي له ځان نه لګیا یې چا تا ته بدعتي ویلې دي چا له ګریوانه نیولې یې چې نبي عَلَیْهِ السَّلَامْ خو دعاء داسې نه وه کړې تا ولې کړې نو جواب څه شي دي الفاظ د دعاء مختص بالنص نه دي ته یې د ځان نه هم کولې شي.

دغه شان دا تاسو چې تقاریر کوي همدا وهابیان چې د جمعې خطبې لولي دا هر خطبه دي مختص بالنص په حدیث کې مونږ ته وښایې یا هر وهابي چې تقریر ته پاڅیږي او تقریر نه مخکې خطبه وایي نحمده ونصلي على رسوله الكريم یا دې نه اخوا ته څه نور الفاظ وایي دا وایي ثابت بالحدیث دي ددې جواب به څه شي وي الفاظ د ثناء مختص بالنص نه دي ته یې له ځان نه هم جوړولې شي.

دغه شان د صلاة او سلام الفاظ چې دي دا مختص بالنص نه دي که په نص راغلي فبها ګنې ته د ځان نه جوړ کړه خو چې د شریعت د اصولو مخالف نه وي ته هغه ویلې شي اولاً السلام علیك یا رسول الله نص نه ثابت دي که ثابت نه هم شي چیرته نو الفاظ د دعاء د صلاة د حمد مختص بالنص نه دي هغې کې یو سړي خپله هم دې ته الفاظ وضع کولې شي.

پاتې شوه دغه یوه جزیه چې یو سړي د دیوبندیت په مینه دومره مست وي چې هغه به وایي داد پنجاب نه راغلي درود ده نه یې منمه نو هغه ته ما د علامه سمهودي جواب ورکړو چې دا شپږ سوه (۶۰۰) کاله وړاندې هم ویلې شوې دي چې السلام علیك یا رسول الله هغه ته ما د عالمګیري او د شامي جواب ورکړو چې هغوي اداب زیارت المصطفى کې د السلام علیك یا رسول الله الفاظ ذکر کوي نو یو الصلاة والسلام علیك یارسول الله شو دا بهترین درود دي دا هغه درود دي چې یو عظیم سبب د ازدیاد د حب مصطفى دي که د چا په زړه کې د محمد مصطفى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ مینه کمه وي او غواړي چې زما زړه کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامْ مینه

زیاته شي نو دادي په صحیح حضور باندې د الصلاة والسلام علیك یا رسول الله دا ورد شروع کړي خو په حضور باندې رسول الله ﷺ مبارک ته دي په ذهن کې حضور ورکړي او مخاطب دي شي هغه ته بیا دې ګوري.

ما چې کله هم په کمال حضور باندې دا شروع کړي دي نو ما ذات د محمد مصطفی ﷺ بیا خوب کې کتلې دي الحمد لله یولس (۱۱) ځل ما د نبي اکرم ﷺ ملاقات په خوب کې کړې دي اله العالمین دي مونږ او تاسو ته بار بار نصیب کړي نو یو دا الفاظ دي چې الصلاة والسلام علیك یا رسول الله ﷺ دې کې شک مه کوي.

او که یو سړي وایي چې دیوبندیانو نه دي ویلې نو هغه د یاره مونږ د دیوبند په کتابونو کې معاصرینو کې مولانا حمد الله ډاګي صاحب پیش کوو چې په البصائر کې د الصلاة والسلام علیك یا رسول الله ویلو ته مستحب ویلې دي له ده نه چې لږ ور مخکې شي د هغه لپاره مونږ مولانا زکریا صاحب شیخ د داجوي صاحب پیش کوو چې هغه په تبلیغي نصاب کې په فضائل درود کې د الصلاة والسلام علیك یا رسول الله ته مستحب ویلې دي نو دا هغه کم چې د دیوبند په مینه مست دي کفی بهم قدوة دوي پسې دي اقتداء وکړي کنه.

دویم : یا رسول صلی الله علیك وسلم دا الفاظ د غه شان جائز دي لکه څنګه چې مخکې الفاظو کې کوم تقسیم ما وکړو فقط هلته صلاة او سلام مقدم یا رسول الله مؤخر او دلته یا رسول الله مقدم صلی الله علیك وسلم مؤخر یو ه معنی ده تاسو خو یې لږ معنی ته هم ګوري کنه.

یو امي سړي ما ته وویل چې دا صلاة او سلام څنګه دي نو هغه ته ما وویل په معنی یې پو هیږي وایي په معنی یې نه پو هیږ. مه خو خلکو را ته شک اچولې دي ما ورته وویل چې دې دا معنی ده چې په رسول الله ﷺ مبارک به په ذهن کې راولي وه به وایي چې ای د الله رسوله په تا دې درود او سلام وي.

ما ورته وویل که ته علم نه لري عقل خو لري کنه وایي هاو ما ورته وویل چې ته لږ سوچ وکړه چې دا تا بنه خبره وکړه او که بده واي دا خو سمه خبره ده نو دې کې څه شرک دي څه ګناه ده په کې او که ته دا وایي چې یو چا ته حضوري ذهني ورکول شرک دي بیا خو دې دا ټول مصنفین کافر کړه.

تاسو ويلې دي دا يا خو د خطاب لپاره استعمالیږي خو شرط په دې کې رؤيت بصري او حس يو اهل لغت هم نه دي ويلې ديوال اخوا چې يو سړي وي د حس نه غائب دي ته ورته يا وويلې شي کنه يا فلان يا زيد ولې ورته نه شي ويلې.

نو يا کې خو خطاب دي ليکن حس بصري په مخاطب کې چا نه دي شرط کړې په يا کې او په هذا کې څنګه دي واحد مذکر محسوس بالبصر ته ولې یې شرط کوي او دا خطبو کې چې کله مقدمو کې راشي اما بعد فهذه اما بعد فهذا الرسالة دا فهذه چې دا هر مصنف وايي تاسو پرې اعتراض کوي کنه چې کتاب خو نشته دي فهذه چا ته راجع کوي دا خو د واحد مذکر محسوس بالبصر د پاره وي.

نو هغه جواب څه شي کوي جواب دا کوي وايي دا هغه مرتبې ذهني ته راجع دي دا د کمال تيقن د علم د مصنف نه په ما سيأتي رساله باندې هغه معقول یې په مرتبه د محسوس ګرځولې او د هذا اشاره يې ورته کړې نو مرتبې ذهني کې يو چا ته حضور ورکولو ته د هذا اشاره جائزه شوه کنه نو چې هر کله فهذا کې حس بصري شرط وه او مرتبې ذهني حضور ته رجوع روا شوه.

نو په يا کې خو حس بصري بيخي شرط هم نه دي کنه نو بيا په کې حضور ذهني ورکړه او د يا خطاب وکړه ورته او که دا به هم شرک وي د رسول الله ﷺ مبارک په ذهن کې تصور به هم شرک وي عياذا بالله

دا به هم د چا رايه وي چې رسول الله مبارک به اوس مونږ په ذهن کې هم نه راولو ځان د پاره يا په هغه ته خطاب هم نه کوو نو يا رسول الله ﷺ او د الصلاة والسلام عليك يا رسول الله ﷺ دا څه فرق نه لري فقط يو کې صلاة مقدم دي بل کې خطاب مقدم دي دا يو شان جائز دي.

دريم : يارسول الله فقط چې صلى الله عليک وسلم ورسره ونه ويل شي نو يا رسول الله فقط دا دوه قسمه دي : (۱) يو شعاراً دي ، (۲) بل نداءً دي :

شعاراً دا روا ده نبنې د پاره چې نبنه وګرځيږي چې دې مسجد والا د کومې ډلې خلک دي یا بل ځای کې د نبنې لپاره ولیکلې شي نو شعاراً یا رسول الله بدون د نداء او مطالبې نه جائز دي دلائل به پرې راشي.

او بل یا رسول الله نداءً او وروسته له هغې نه څه الفاظ مذکور نه وي صلاة نه وي نو دا چغه ده بلا فائدې هيڅ فائده نه لري ولې په هره نداء کې مقصود بالنداء ذکر شرط دي او د مقصود بالنداء نه ده کړي اوس یو سړي وايي یا رسول الله معجزتاً نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته ورسیدله هغه واوریدله هغه تا ته مخاطب شو څه غواړي امتي امتي لا له ځان نه هم نه ده خبر نو امتي لږ وروسته بیا چغه کړي یا رسول الله هغه بیا ورته متوجهې شي څه غواړي امتي امتي بیا څه نه وايي نو چې دریم ځل ته دا چغه ووهي دا خو ته مسخرې کوي دا خو بیا مسخرې شوې ګوري یو شعاراً ده شعار مستثنی ده هغه بیل څیز دي.

یو نداءً دي نو نداءً وروسته به مطالبه د شفاعت بیا ذکر کوي چې مطالبه د شفاعت هم نشته او صلاة سلام هم نشته او محضِ یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو دا بې فائدې چغه ده دې څه فائده نشته دي.

او بل یا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي یا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم په دوه قسمه دي: (۱) شعاراً دي، (۲) او بل نداءً دي یا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شعاراً دا جائز دي په غزوه یرموک کې ۴۱۰۰۰ صحابه کرام او تابعین رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ شعار یا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلې حواله به وروسته راشي.

او (۲) بل نداءً دي نو نداءً یا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخص الخواصو لپاره چې محمد اسم ذات عالمي وانخلي په معنی د ستایلې شوي صفتي معنی یې واخلي جائز به شي په بعید تأویل سره خو نداءً قران کریم منعه کړې دې چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاتدعه مه بلي ده لره په شان د بلنې ستاسې بعضې بعضو لره.

ددې تفسیر ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا کوي لا تقولوا یا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، یا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مه وايي ځکه دا بې آدبي ده لکه ته چې یو چا ته په نوم اواز کوي نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اله العالمین مخلوق دي او هغه یې خالق دي نبي عَلَيْهِ السَّلَام عابد دي او الله پاک معبود دي تمام قرآن عظیم کې یې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د یا محمد آواز نه دي کړې دا

امت ته تعليم ورکوي يا ايها الرسول شته يا ايها النبي شته خو يا محمد ﷺ نشته که څوک وايي چې جوماتونو ياګاڼو وغيره چې ليکل شوې هغه شعار دي هغه نداء نه دي هغې ته ناروامه وايه هغه شعار ده د هغې منادی خو د سره معلوم هم نه دي چې دا نداء چا کړې ده او په نداء کې مقصود بالنداء ضروري وي هغه څه غوښتې دي هيڅ هم په هغې کې نه وي هغه نښه ده او د نبي لپاره يا محمد ويل جائز دي د بلنې او نداء په نيت باندې بې آدبي ده.

دا نچوړ ما بيان کړو اوس دلائلو ته ګوري :

اول دوه نصوص چې زه يې ذکر کوم دا زمونږ په دعوه دال نه دي بلکې د مخالفينو د دعوی بنياد نړوي مخالفين خو عوامو ته دا ذهن کې اچولې ده چې غائب ته د يا آواز شرک دي اوس دا چا ويلې چې غائب ته د يا اواز شرک دي هسې له ځان نه يوه خبره يې خوره کړې ده نو مونږ په دغه دوه نصوصو باندې ددوي دا اصل نړوو چې ستاسو دا خبره بې بنياده ده دروغ ده او له ځان نه ده چې غائب ته د يا اواز شرک دي.

اول سورة حج (۲۷) نمبر آيت : ﴿وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ﴾ اعلان وکړه ای ابراهيم عليک السلام خلکو کې د حج.

﴿يَأْتُوكَ رِجَالًا﴾ چې راځي به دا خلک تا ته پيدل.

﴿وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ﴾ په هر ضامر اوښ باندې.

ضامر او مضمر خو هغه اوښ او اس ته وايي چې ډيرې منډې ورکړي او د ډير تړلينګ د لاسه نرې شي نو ګويا کې دوي اوږده سفرونه کړي دي او د تړلينګ د لاسه خوار شوې وي ضامر ورته ويلې شي ﴿وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ﴾ په هر لاغر او خوار تعليم يافته اوښ باندې.

﴿يَأْتِينَ﴾ چې راځي به تا ته.

﴿مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ (سورة الحج آيت : ۲۷) د هرې ژورو لارو او نا وونو نه روان به وي ستا په طرف باندې امر راغې.

زاد المسير في علم التفسير جلد ۲ صفحه ۳۷۹ په دې ځاى کې مفسرين اتفاق لري کله ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ له بناء د بيت نه فارغه شو رب کريم ورته امر کوي چې اعلان وکړه چې خلکو کې خلک نشته دي څنګه اعلان وکړي .

فقال ابراهيم يا رب وما يبلغ صوتي ؟. آواز به زما نه رسيږي ورته .

قال اذن وعلي البلاغ . وکړة اعلان رسول په ما دي .

فصعد . پورته شو .

على جبل ابي قبيس . جبل ابي قيس ته .

قال . وي ويل .

يا ايها الناس ان ربكم قد بنى بيتاً فحجوه .

يا ايها الناس خلک نشته غائب دي او د يا آواز ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ کړې دي چې کوم سړي داوايي چې غائب ته د يا آواز شرک دي .

﴿ مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾

ته لا دنيا کې وي هم نه د سره د پلار په شا د مور په رحم هغې ته خداى تعالى ورسول.

فاسمع من في أصلاب الرجال وأرحام النساء . ټولو ته کوم چې د خداى تعالى په علم کې وه چې دا به حج کوي هغوي ته يې ورسول او هغوي هلته په لسان د حال ګويانه شول .

لبيك اللهم لبيك . نو دا لبيك اللهم لبيك دا په شاګانو د پلارانو کې هغه بچو چې کم حج کې نصيب وي چا چې پنځه ځل دغه وخت کې تلبيه ويلې هغه به پنځه ځل حج ته ځي .

عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به ٦٢ ځل تلبيه ويلې وه نو هغه ٦٢ ځل حج ته لاړو چې چا ثومره ويلي هغومره ځل به ځي او چې چا نه ده ويلې که بيت الله شريف سره نزدې او سيږي مکه مظمه کې هم حج به يې نصيب نه وي .

ما ته يو کس حکايت وکړو اولس (۱۷) کاله يې هلته تير کړې وه وايي زمونږ کفيل وه وايي هر کال به مونږ ورته ويل چې راځه ته خو دلته او سيږي مکه معظمه کې وه وايي ځه بل کال ته به يې وکړم وايي مړ شو خو حج يې ونه کړو مکه معظمه کې او سيږي او حج نه کوي نو

دا ځکه چې د هغه روح لبیک ویلې نه وي نو دا مونږ د دوي اصل ونږوه چې کوم سړي وایي چې غائب ته به یا سره آواز شرک دي او زمونږ په دعوی دال هم دي ځکه خلک نشته آواز ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ کړې دي دوي کله کله دا خبره هم کوي چې دا ژوندي دي دا مړدي.

ما سره یو وهابي په ګاډي کې بحث وکړو ما ورته وویل چې هسې د کارغه مړي قدر من دي که د انبیاء اولیاء مړي واي د انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ مړي ما ورته وویل چې زه به در ته د قرآن کریم نه درته ثابته کړم چې چکنې شوې کارغه ته هم یو پیغمبر په یا سره آواز کړي چکنې شوې به یې کارغه به وي خو بیا به هم په یا سره آواز ورته شوې وي نو بیا مې دا ایات ورته پیش کړو سورة بقرة آیت: ۲٦۰: ﴿قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ﴾ ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته امر دي څلور مرغان را واخله.

هغې کې اوه (۷) قوله دي چې هغه کوم مرغان وه.

﴿فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ﴾ ای فقطعهن ثم اجمعهن الیك. ټوټه ټوټه یې کړه ځان ته میلان ورکړه راغونډ یې کړه.

﴿ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا﴾ بیا وګرځوه په هر غره د دوي څه حصه.

﴿ثُمَّ ادْعُهُنَّ﴾ بیا وه بله دوي لره.

﴿يَأْتِينَكَ سَعْيًا﴾ راځي به تا ته په منډه باندې.

اوس یې چې دا چکني کړل په غرونو باندې کیښودل ورته وایي وي بله اوس کارغه څنګه بلې د بللو څه طریقه ده ټول مفسرین په دې ځای دا ذکر کوي:

یاغراب اءتني یا حمامة اءتني. هغه دي مړه دي چکني دي کارغه دي غائب دي هغه ورته آواز کوي که هر غائب او مړي ته په یا سره اواز شرک وي نو دې سره به څه کوو.

باره کې ما په ایف ایم **F.M** ریډیو د یارسول الله په موضوع بیان کړي وه نو دا ایات مې ویلې وه خو دا ډیر بې آدبه قوم دي شاکر منیر سره نوره لاره نه وه زما د ادلهو د جواباتو هلته ما ۱۹ دلائل مسلسل پیش کړې وه نو په صبا ورځ باندې دې زما د خبرو جواب کوي ډیر معقول جواب یې وکړو.

وايي دوي دا پيش كړل چې ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَامُ كارغه ته آواز كړې دي نو هغه خو دا كارغه رانيولې وه چكني كړې وه بيا يې ورته آواز كړې وه تاسو دا پيغمبران راونيسي ټوټه ټوټه يې كړي بيا ورته په يا سره آوازونه وكړي عياذاً بالله.

دا په ايف ايم باندې ددې بې دينه جواب وه چې ريكاټ شوې هم ده نو دا بيا ددوي جواب يې په مقابله كې دا خو ما ستا اصل ړولې ده ته د مناظرې په دلائلو او شواهدو څه پوهيږې كله مناظره كې سړي خپله موضوع باندې وايي كله د مقابل جانب بنياد ړوي زه ستا دعوى ړومه چې ته وايي يا سره آواز غائب ته شرك ده دغه شرك نه ده او ته وايي چې مړي ته په يا سره آواز شرك دي دا څو مره بې كاره خبره ده.

مقبرې ته چې لاړ شي دا مرده ګان غائب دي كه په سترګو يې ګوري ټول غائب دي ستا نه نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ تا ته طريقه او تعليم څه دركوي السلام عليكم يا اهل القبور نو دا غائب او مړي ته په يا سره آواز دي كه نه دي نو څنګه مړي او غائب ته په يا سره آواز شرك ګڼې.

دې نه وروسته مسلسل څه روايات د صحابه كرامو زمانه كې شعاري آوازونه ما ثابت كړې دي:

سنن ابن ماجه جلد ۲ صفحه ۳۹۵ هغه روايت د ضرير البصر چې نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ د توسل طريقه ورته ښودلې وه او د هغه سترګې جوړې شوې وي د هغې الفاظ دادى:

ويصلي ركعتين ويدعوا بهذا الدعاء: اللهم اني أسألك واتوجه اليك بمحمد نبي الرحمة يا محمد اني قد توجهت بك الى ربي.

هغې كې دا الفاظ دي: **يا محمد** صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يا رسول الله زه تا مخامخ كوم رب خپل لره او دې ځاى كې مونږ روايت **مستدرك** پيش كړې وه د توسل په باب كې چې دا دې صحابي په محضر د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ كې نه وه شوې بلكې دې بهر شو او دس يې وكړو مونځ يې وكړو څكه چې راوي وايي چې:

ما طال بنا الحديث. مونږ لا خبرې نه وې اوږدې كړې چې هغه سړي په مونږ را دننه شو نو دا رادننه كيدل دليل ددې دي چې:

وقد ابصر . نظريې جوړه چې وتلې وه بهر نو د نبي عَلَيهِ السَّلَامْ نه غائب دي يا غياب د ديوال نه اخوا او يا غياب د پاکستان نه لرې خو غائب خو شو کنه هغه خو مخامخ نه دي ناست او د يا محمد اني قد توجهت بك الى ربي ، وايي .

او بيا دغه الفاظ په وخت د عثمان ذي النورين دورِ خلافت کې د توسل په مسئله کې ما تاسو ته پيش کړې وه چې هغلته راوي د حديث بل صحابي ته دا ښايي عثمان بن حنيف ته چې هغه ته يې دا الفاظ وښودل چې داسې الفاظ ووايه ستا مشکل به پوره شي هغه بيا هلته دا الفاظ وويل :

يا محمد اني قد توجهت بك الى ربي .

نو په هغه ځای کې نبي اکرم دنيا نه تلې وه ده دا الفاظ د روضې په خوا کې نه دي ويلې بهريې ويلې دي هغې نه ثابتيږي .

دا حديث معجم الصحابة جلد ۴ صفحه ۱۴۸ کې را اخيستې په زيادت د لفظ د يا محمد اني توجهت بك سره ترمذي کې لفظ د يا محمد نشته ځکه مونږ دا د ابن ماجه نه پيش کړو .

صحيح ابن خزيمه جلد ۲ صفحه ۱۲۵ کې زيادت د لفظ د يا محمد په کې دي .

مستخرج الطوسي جلد ۲ صفحه ۴۴۷ ، مستدرك للحاكم جلد ۱ صفحه ۴۵۸ ، معرفة الصحابة جلد صفحه ۸۰ ، مسند عبد ابن حميد جلد ۱ صفحه ۱۴۷ ، مسند احمد جلد ۲ صفحه ۲۲۵ دا ټول دا ذکر کوي چې الفاظ دادی :

يا محمد اني توجهت بك .

البته که څوک وايي چې تا خو مخکې وويل چې دا خو آياتونو کې منعه راغلې ده . نو له هغې نه به يو جواب دا وي چې ممکن دی صحابي دا آواز هغه خت کې کړې وي چې کوم وخت کې دا ايات نه وه نازل شوې چې نبي عَلَيهِ السَّلَامْ ته داسې دعوت مه ورکوي لکه خپلو کې چې يو بل ته ورکوي .

دويمه دا چې هلته ما دا قيد ولګوه که اخص الخواص دا اسم اسم عالمي نه ګڼي صفتي معني ته يې اړوي او عالم وي او په دې پوهيږي نو د هغه لپاره بيا جرم نه دي يا محمد به يې په معنی د صفت کړي شوې سره اخيستې وي دا بعيد تاويل که وکړې شي نو بيا جائز کيږي.

او يا به دا خصوصيت د دغه صحابي شي دا حق خو د رسول الله ﷺ دي په امت باندې چې هغوي به ادب کوي يا محمد به نه وايي يا نبي الله يا رسول الله به وايي او دې صحابي ته يې خپله دا ښودلي نو بس دا خپل حق ده ورته معاف کړې دي کنه تعليم يې ورکړې دي.

دويم روايت صحيح مسلم جلد ۸ صفحه ۲۳۷ معرب بيروتي چاپ رسول الله مبارک چې مدينې منورې ته راغې هلته د شتو کې را روان دي او دلته د مدينې منورې خلک راوتلې دي:

فصعد الرجال والنساء فوق البيوت. سړي او زنانه د کوټو د پاسه وختل.

وتفرق الغلمان والخدم في الطرق. واړه ماشومان او غلامان په لارو د قباء کې سره خواره شول.

ينادون. چغې وهلې.

يا محمد يا رسول الله يا محمد يا رسول الله.

دا خو صحابه وه کنه دا خو محبت وه داد محبت نداء دوي خو دلته څه غوښتل نه دا صرف محبتي آواز دي دوي څه غوښتې نه دي دا نداء نه ده داد محبت لپاره دوي دا آواز کړې دي د جلوس په شکل رابهر شوې دي يا محمد يا رسول الله يا محمد يا رسول الله.

بريلوي حضرات چې ربيع الاول کې کوم جلوس اوباسي شاهد کې دا پيش کوي دا چې شاهد تر کوم ځايه مطابق دي او نه دي بيا هم يو اصل خو لري چې مونږ هم دغه خوشحالي کوو هغه مدينې منورې ته راغې په خوشحالي کې دوي يا محمد يا رسول الله نعرې وهلې دي

او مونږ چې دنیا ته محمد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نعمت را ښکاره شو مونږ هم په خوشحالي کې یا رسول الله نعرې وهو یو شاهد یو اصل یې د یو ځای نه راویسته اخذ یې ترې وکړو.

دریم روایت: الاربعون في التصوف للسلمي جلد ۱ صفحه ۵ د حضرت عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه ده د جمعې په ورځ په خطبه ولاړ دي.

یصیح. چغه وهي.

یا ساریة الجبل یا ساریة الجبل.

که غائب ته په یا سره آواز شرک شي عیاذاً بالله نو ساریة په دغه وخت کې نه وه هاون نومې مقام کې دوه میاشتې فاصله لرې وه نو غائب ته یې په یا سره اواز کړې دی.

فقدم رسول من الجیش فقال یا امیر المؤمنین لقینا عدونا فهزمونا فاذا صائح یصیح یا ساریة الجبل فأسندنا ظهورنا الی الجبل فهزمهم الله تعالی.

دا امداد دی کرامتاً اولیاء چې مدد کوي کرامتاً د هغې دغه شکل وي او غائب ته په یا سره آواز ترې ثابتیږي.

آمین الله وهابي فتاوی خپله کې دا حدیث را اخیستې دی او ویلې دي چې دې حدیث ته چا ضعیف ویلې حق ته نه دی رسیدلې خو هغه ځوک چې دلته د کشف ګمان کوي باطل دي وایي هغه ځوک چې وایي چې دلته عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته کشف شوې وه وایي دا باطله خبره ده وایي دا هسې دده په زړه کې راغله چې یوه چغه ووهه دا اوس دده خبره ده او دا ددوي مجتهد دی د وهابیانو.

نو د جمعې د خطبې په وسط کې هسې چغې وهل خو د لیونو کار وي چې ده په سترګو ونه لیدل او ده ته پته وه چې شکست ګئي ده صحابه شهیدانیږي راځه دا خطبه په ځای پریږده او په وسط کې له هغوي سره مدد او کومک وکړه او ده کشف کړې نه وه القاء ورته نه وه شوې هسې یې په زړه کې راغله چې راځه یوه چغه ووهه د خطبې په وسط کې ځوک هسې چغې وهي څه هسې چغه یې ووهله د فراست او د کشف نه به انکار وکړي د غائب د یا نه خو

انکار نه شي کولې کنه هسې چغه يې غائب ته وهلې ده مونږ هم هسې چغې وهو يا رسول الله
يا ولې شرک ورته وايي.

دارنګې البداية والنهاية جلد ۴ صفحه ۷۶ حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله شهيد
کيږي هغوي له هغه ځای نه رحمة عالم ته سلام راليږي آخري وخت کې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مدينه منوره کې موجود دي.

وفي مغازي موسى بن عقبة ان خبيباً وزيد بن الدثنة قُتلا في يوم واحد.

په يوه ورځ شهيدان شول.

وان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سمع يوم قتلا وهو يقول. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه واوريدل شول په
کومه ورځ چې دوي شهيدان شول ده مبارک فرمائل:

وعليكما او عليك السلام.

راوي شک کوي چې دا وعليك السلام يې يواځې خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ويلې که دواړو ته
يې ويلې دي نو په تاسو دواړو دې زما سلام وي اي خبيب او اي زيد دا خطاب دي د مدينې
منورې نه رحمة عالم حضرت خبيب ته کړې دي او هغوي په دې وخت کې شهيدان دي غائب
مړي ته يې د وعليك السلام خطاب کړې.

نو السلام عليك يا خبيب له مدينې نه هغه تنې شهيدې د حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته
محمد مصطفى کوي او که زه له دې ځای نه السلام عليك يا رسول الله وايمه دا شرک نو هغه
څنګه وه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې يو شهيد ته له بعيد نه وعليكما السلام وايي.

دا ډير بې دينه خلک دي کنه اوس د جماعتِ اسلامي يو ليډر دي صلاح الدين نوم يې
دي نو پنډي خوا ته چې ځې په دې جي ټي روډ دا ډيوالونه وګوري ځای په ځای يې ليکلي
وي صلاح الدين تيرے عظمت کو سلام، نو دا عربي ته واړوه څه معنی شوه: السلام عليك يا
صلاح الدين، نو صلاح الدين د غلته ديوال کې موجود دي چې دوي پرې سلام اچوي نو خپل
ليډر ته السلام عليك يا صلاح الدين جائز دي او السلام عليك يا رسول الله بيا شرک دي دا
د دوي انصاف دي.

دارنګې المغازي للواقدي جلد ۱ صفحه ۳۱۴ بي بي فاطمة الخزاعية صحابي ده:

قد ادركت. چې دې صحبت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ درک کړې دي.

تقول. دا وايي.

رأيتني وغابت الشمس بقبور الشهداء ومعي أخت لي. دغه زمانه کې به د شهداء زيارت ته زنانه تللې.

دا وربانديې دليل دي او س يې چې مونږ منع کوو د فساد له وجې نه، ما ته خپل ځان رايادېږي چې لمر راباندې پريوت د قبرونو د شهداء د أحد سره ما سره زما خور وه يعنې د شهيدانو سلام ته تللي ومه هلته راباندې ماښام شو.

فقلت لها. ما دې خور ته ووېل.

تعالي. راشه.

نسلم على قبر حمزة ولنصرف. هسې هم ماښام دې په دې لار به تيريدل د حضرت حمزه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سلام به وکړو بيا به ځو.

قالت نعم. وايي زما خور وفرمايل صحيح ده.

فوقفنا. وايي مونږ ودريدلو.

على قبره فقلنا السلام عليك يا عم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

داد چا نوم اخيستل د چا هغه ذات ته اشاره.

فسمعنا كلاماً. مونږ د قبر نه آواز واوريده.

رد علينا وعليكما السلام ورحمة الله. د حضرت حمزه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د قبر نه آواز وشو چې وعليكما السلام دا دليل د حيات د هغه دي نو دا غائب ته په يا سره آواز دي او بذاتِ خود هغه نوم اخيستې.

دارنګې حلية الاولياء جلد ۵ صفحه ۳۷۳، ټولو کتابونو دا حديث ذکر کړې دي ورځ د قيامت چې راشي په دغه ورځ باندې به ژړاګانې وي.

فيرفعون أصواتهم بالتحيب والبكاء . په ژړا او زګيروو باندې به اوازونه پورته کيږي.

فيقولون . دا خلک به وايي .

وامحمداه يا محمد اشفع لمن امر به الى النار من أمتك . يا محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) شفاعت وکړه هغه چا ته چې ستا امت کې د هغوي باره کې امر د جهنم شوې دي د هغوي شفاعت وکړه.

اوس دغه وخت کې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مقام محمود کې دي دا په کروړونو خلک به هلته دا چغې وهي وامحمداه يا محمد.

وهابي به هم دا چغې وهي خو که خوا کې دې يو معلوم وهابي ولاړ وه او يا محمد چغه يې ووهله يو ه بنه څپيړه هلته هم ورپورې کړه او بنه يې په رمباړو کړه چې تا خو به دا شرک ګڼه اوس څنګه چغې وهې .

دارنګې عمل اليوم والليلة لابن السني جلد ١ صفحه ٣١٩ په خپل سند سره ذکر کوي :

قال كنت امشي مع ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. زه د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره روان ومه.

فخدرت رجله . خپه يې زخمي شوه بوډي شوه .

فجلس . نو دې کيناسته .

فقال له رجل . چا ورته وويل .

اذكر احب الناس اليك . تا ته چې کوم څوک ډير ګران وي هغه رایاد کړه .

فقال . ده وفرمايل .

يا محمداه فقام فمشى . خپه يې بنه شوه بيرته روان شو .

دا حديث ادب المفرد کې امام بخاري هم را اخيستې دي او دا يې ترې ثابته کړې چې د چا خپه بوډي شي نو دې دي د يامحمداه اواز وکړي نو د خپې بوډي والې به يې ختم شي اوس د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ باره کې مو څه رايه ده هغه د شرک تعليم ورکوه د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې مو څه رايه ده.

دارنګې البداية والنهاية جلد ٦ صفحه ٣٥٧، جنګ يمامه چې له مسيلمة الكذاب سره شوې وه په دې کې د خالد بن وليد هغه زړه ورتيا ذکر کوي:

ثم وقف بين الصفين ودعا البراز. د صفونو مينځ کې ودريدلو اعلان کوي پهلواني ته راووځي.

وقال. وي ويل.

انا ابن الوليد العود انا ابن عامر وزيد. خپلو نيکونو ته اشاره ده.

ثم نادى بشعار المسلمين. بيا يې چغه کړه د مسلمانانو شعار چې په دغه ورځ څه وه نو په هغه يې چغه کړه.

وكان شعارهم. وه شعار ددوي.

يومئذ. په دغه ورځ.

يامحمداه. خالد بن وليد د مسيلمة الكذاب چې د خالق منکر نه وه د محمد مصطفى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ختم نبوت منکروه او د محمد مصطفى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شان منکر په مقابله کې خالد بن وليد د البراز د آواز نه بعد څه وايي يامحمداه.

اوس هم دا نعرې ورته مونږ ځکه وايو او په ديوالونو يې ځکه ليکو چې دوي د خداى جَلَّ جَلَالُهُ منکر نه دي خو شان د محمد مصطفى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منکر دي د نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شان نه مني ځکه ورته عاشقان د **يا محمد** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چغې وهي.

الكامل في التاريخ جلد ١ صفحه ٣٧٤ کې ليکي چې د يمامه په غزوه کې د صحابه کرامو شعار **يا محمداه** وه.

تاريخ الامم والملوک جلد ٢ صفحه ٢٨١ کې دا ليکلي دي ګوره داد نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه وروسته خبرې دي او دا ميدان لرې د يمامې دي.

او هغلته صحابه دي په دې ورځ اوه سوه (٧٠٠) قاريان شهيدان شوې دي هغه همدا ورځ وه چې صحابه راغونډ شول صديق اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې دا قرآن کريم را غونډ کړي قاريان شهيدانيږي صبا به قرآن کريم له مخ د دنيا نه لاړ شي نو دوي مجبور شول د قرآن کريم د جمعه

واري کوشش یې بیا وکړو نو دومره صحابه جمع غفیره صدیق اکبر رضی الله عنه عمرِ فاروق رضی الله عنه دوي غونډې اشخاص په کې موجود دي او ددوي په مخ کې شعار د مسلمینو د یامحمداه دي ګوري څه غو بنتل شوې هم نه دي صلاة سلام نشته مطالبه نشته دې ته نداء نه وایي دې ته شعار وایي.

لکه مخکې ما تاسو ته وویل چې یا محمد د شعار په نیت جائز دي په جوماتونو کې که لیکل شوي وي یا په ګاډو کې لیکل شوې وي وغیره مقاماتو کې نو مه یې ورانوي دا نداء نه ده دا صلاة سلام نه دي دا شعار دي نښه ښایي چې زه له هغه جماعت نه یم چې شان د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم قائل دي.

او رشتیا هم چې مونږ کوم مسجد ته لاړ شو نو چې په هغه مسجد کې دا الفاظ لیکل شوې یې نو مونږ ښه پوهه هغه سړي پسې لمونځ کوو او چې کومو کې دې نه دا یا کټ شوې یې بس مونږ ګډوډ شو چې دې سړي کې کار شته دي چې دا یایې ترې کټ کړې وي څکه نښه ده.

زه بعضې حقائق بیانومه نو کوم خلک چې ما ته بریلوي وایي هغه دا بیان واوري دا چې واوري بس بریلویان نو په هغوي کې هم لږه ساه پیدا شي او خوځیږي چې بس اوس شیخ غلام حضرت ایله مسلمان شو تر اوسه خو وایي دیوبندي کافر وه نو ایله مې په دې باندې مسلمان کړي کله وایم چې دا موضوع له سره نه چیړمه چې تاسو ما په دې مسلمانوي له سره دا چیړم نه.

خو لکه حقیقت دي له دې مسئلې سره ظلم شوې دي زمونږ دې احنافو کې روان دي خاصکر د افغانستان علماء چې دوي دې مسئله کې تحقیق نه کوي د بریل په ضد کې را شي دې نه چټ انکار کوي په مجلس کې دي چې د یا رسول الله اواز وکړو نو د ځان ضاربین به هم شمار نه کړي چې څو مره ګوزارونه به درباندې کیږي.

او حقیقت داسې نه دي دا ظلم کیږي داد صحابه کرامو له زمانې نه چې کله د هغوي د منکرِ خدا سره مقابله وه نو الله اکبر نعره یې وهلې لا اله الا الله یې ویلې او د منکرِ محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره یې چې مقابله راغلې ده عیسوي سره د یرموک په میدان کې چې د

خالق منكرين نه وه د محمد مصطفى ﷺ منكرين وه نو دوي شعار بدل كړو يا محمد نعره دوي شروع كړه او دغه شان د يمامه په ميدان كې دوي د يا محمد نعره شروع كړه دا دهغه چا شعار دي چې كوم ځوک په مقابل د شان مصطفى ﷺ د منكر كې مخامخ كيږي نو دا نعره به وهي .

دارنګې البداية والنهاية جلد ۷ صفحه ۱۰۴ ، عام الرمادة چې كله راغلو د عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه كې :

عن عاصم بن عمر بن الخطاب ان رجلاً من مزينة عام الرمادة سأله أهله ان يذبح لهم شاة.

چا ورته وويل چې دا ګډه حلال كړه هغه ورته وويل دا تندي وهلې .

ليس فيهن شيء . څه په كې نشته جيګريې ختم دي .

فالحوا عليه . مجبوريې كړو دا مبالغه في السوال يې وكړه .

فذبح شاة . ګډه يې حلال كړو .

فاذا عظامها حمر . د هغې هغه هډوكي هم سره شوې وه .

فقال . نو ده وويل .

يا محمداه . ذبحه يې وكړه چې دننه يې وليد چې د ګډه دننه هډوكي اينه ختم دي نو دې وخت كې چغه كړه **يا محمداه** .

نو دا اوازيې ولې كړې دي چې يا رسول الله باران وغواړه راته دغه حل دي چې څاروي دې حد ته رسيدلې دي .

فلما أمسى. هر كله چې شپه شوه نو خوب كې نبي اكرم ﷺ يې وليده ورته وايي.

ابشر بالحياة . زيرې قبول كړه په حيات .

مراد له حيات نه سبب د حيات دي چې هغه اوبه دي .

جعلنا من الماء كل شيء حي إيت عمر . عمر فاروق رضي الله عنه ته ورشه .

فاقره مني السلام . وايه زما له خوا هغه ته سلام .
نو دا دې د مشکل په وخت کې دې صحابي د يامحمداه آواز کړې دي .
دارنګې الكامل في التاريخ جلد ۱ صفحه ۴۷۸ هغې هم دا راخيستې دي ، او تاريخ الامم والملوک جلد ۲ صفحه ۵۰۹ کې هم دا حديث را اخيستې ، دارنګې البداية والنهاية جلد ۸ صفحه ۲۱۰ ، د کربلا ميدان کې چې کله شهيدان وشول د حضرت حسين رضي الله عنه خور بي بي زينب بنت علي رضي الله عنه .

وندبت زينب اخاها الحسين واهلها . خپل وروړ ندبه يې بيان کړه .

وهي تبكي . او هغې ژړل ويل يې .

يا محمداه يا محمداه صلى عليك الله وملك السماء هذا حسين بالعراء مزمل بالدماء .

په وينو ککړې دي .

مقطع الاعضاء . ټوټې ټوټې دي .

يامحمداه وبناتك سبايا . لمسې او لورګانې ستا هغه چې کوم دي بنديانې دي .

وذريتك مقتلة . بچې دې شهيدان شوې دي .

قال فابكت والله كل عدو وصديق . وايي دغه لښکر کې دښمان وه که دوستان ټولو پرې وژړل ددې په ژړا باندې .

نو بي بي زينب د کربلا له ميدان نه د يامحمداه آواز کوي که داد شرک آواز وي عياذاً بالله دې ته به يې نسبت څنګه شي .

همدغه آواز الكامل في التاريخ جلد ۲ صفحه ۱۷۸ کې او تاريخ الامم والملوک جلد ۳ صفحه ۳۷۶ کې هم ذکر کړې دي .

دارنګې تاريخ الاسلام د امام ذهبي جلد ۸ صفحه ۵۲۵ د ابو حيرة الرعيني حالات بيانوي :

قال ابن لهيعة كان أبو خيرة يقرأ القرآن في كل يوم وليلة مرتين .

دده حالات بيانوي نو دې وايي چې ددغه وخت امير چې وه د مصر چې حوثره نوميده .

يخطب. خطبه يې لوستله.

ويبكي. او ژړل يې.

فوق المنبر فقال ابو خيرة. ابو خيره ورته راپاڅيده ورته وي ويل:

يا محمداه ارفع رأسك فانظر ما فعلت امتك بعدك. يا محمداه سر دې راپورته کړه چې امتيان دې وګوره چې څه کوي.

يا هذا اتق الله فان الله يقول: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾.

منبر باندې هغه ژړل او دې هغه ته وايي او هلته آواز دا کوي: يا محمداه ارفع رأسك، سر دې اوچت کړه چې امتيان دې څه کوي.

دارنګې شعب الايمان جلد ٦ صفحه ٦٠:

اخبرنا ابو علي الروذباري حدثنا عمرو بن محمد بن عمرو بن الحسين بن بقية إملاءً حدثنا شكر الهروي حدثنا يزيد الرقاشي عن محمد بن روح بن يزيد البصري حدثني ابو حرب الهلالي قال حج اعرابي فلما جاء الى باب مسجد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ابو حرب هلالي وايي چې يو بدوي راغې حج ته باب مسجد رسول الله ته چې راغې.

اناخ راحلته فعقلها. او بنه يې چو کړه او عقال يې ورته وکړو.

ثم دخل المسجد حتى اتى القبر. روضې ته راغې ودريده مخ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته.

فقال بأبي انت وامي يا رسول الله جئتك. مور او پلار مې درنه قربان شه راغلې يم تا ته.

مثقلاً بالذنوب. درون يم په ګناهونو او په خطاياوو باندې.

مستشفعاً بك على ربك لانه تعالى قال في محكم كتابه: ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ﴾ وقد جئتك بابي انت وامي مثقلاً بالذنوب والخطايا استشفع بك على ربك ان يغفر لي ذنوبي وان تشفع في ثم اقبل في عرض الناس وهو يقول.

بیا یې خلکو ته مخ کړو وي ویل :

یا خیر من دُفنت في الترب اعظمه فطاب من طیبه الأبقاع والاکم

نفس الفداء بقبر انت ساکنة فیه العفاف والجود والکرم

ای غوره د هاغه چا چې تُربې د هغه هډوکي دفن کړي د چا تنه چې دفن ده هغه ټولو کې غوره نو دا خو ټول مخلوق کې غوره شو بس خوشبویه شوي له خوشبویې د هغې نه ټوټې د ځمکې او غونډي ګانې یا جیګ کورونه دا ټول پرې خوشبویه شوې د مدینې منورې نفس مې قربان شه له هغه قبر نه انت ساکنة په هغې کې عفاف په هغې کې سخا او کرم دي.

او په بل روایت کې دی :

یا خیر من دُفنت بالقاع أعظمه فطاب من طیبهن القاع والاکم

دلته یې اختصار کړې ابن کثیر همدغه واقعه ددې آیت په شرحه کې را اخیستې د عصبي په روایت سره چې زما سترګې سره ورغلي رسول الله ﷺ مبارک خوب کې راغې راته یې وفرمایل :

الحق الاعرابي. دې بدوي ته ځان ورسوه او ده ته بشارت د مغفرت وکړه چې ده ته بخښنه شوې ده.

دارنګې فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۱۹۷ د یرموک په میدان کې ۴۱۰۰۰ صحابه کرام او تابعین موجود دي او ددوي شعار دي شعار یوم الیرموک یې عنوان دي الشعار، چې دلته شعار څه وه.

قال عبدالرحمن وکان خالد اماما في حملته. په حمله کې دې زمونږ مخې ته وه.

ونحن من ورائه. مونږ وروسته وو.

وکان شعارنا. زمونږ شعار وه :

یا محمد یا منصور امتك امتك. یا محمد زمونږ شعار وه.

دارنګې فتوح الشام جلد ۱ صفحه ۲۴۰ :

وکعب بن ضمرة قلق علی المسلمین. جهاد دي په مسلمانانو باندې یو تیز آواز وکړو.

فجاهد عنهم وهو يجول بالراية. جهادي وکړو او جنډه يې په لاس کې تاوولـه راتاووله.

وينادي. چغې يې وهلې.

يا محمد يا محمد.

دادې صحابي دې د جنګ په ميدان کې د کفارو مقابله کې قومندان د جهاد دې يا محمد نعرې وهي.

دارنګې فتوح الشام جلد ۲ صفحه ۲٦۵ په دې صفحه کې د بونسی فتحه ذکر کوي په دې فتحه کې دا وايي چې:

وكان شعار المسلمين تلك الليلة ينادون يا محمد يا محمد يا نصر الله. دا شعار وه د مسلمينو په دغه شپه باندې چې چغې وهلې **يا محمد يا محمد.**

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱۰ صفحه ۳۹۰ ابن عباس رضي الله عنه يې راوي دي:

قال ان لله ملائكةً فضلاً سوى الخلق. د خدای تعالی څه ملائک دي سواد مخلوق عام نه دا خاص ذي.

يكتبون ما سقط من ورق الشجر. د ونو پاڼې ليکي.

فاذا اصابت احدكم عرجة في سفر. چا ته چې په سفر کې تکليف پيدا شو.

فليناد. چغې دې ووهي.

أعينوا عباد الله رحمكم الله. مدد وکړي زما اې د خدای بنده ګانو الله دې په تاسو رحم وکړي.

هغه فرشتې چې په اوراقو د شجرو مقررې دي نو شجر خو هر ځای کې وي نو دغلته هغه فرشتې شته دي نو چې مشکل درباندې راغې وايي دا آواز وکړه:

اعينوا عباد الله رحمكم الله. زما مدد وکړي اې د خدای بنده ګانو هغه څوک دې فرشتې دي نو فرشتو نه به مدد وغواړي مدد به درسره وشي.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱۰ صفحه ۴۲۴:

مایقول الرجل اذا ندت به دابته أو بعیره في سفرٍ. په سفر کې چې د چا اوښ لیوني شي او دده نه لاړ شي نو دا به څه کوي.

حدثنا یزید بن هارون قال اخبرنا محمد بن اسحاق عن ابان بن صالح ان رسول الله ﷺ قال.

رحمت عالم وفرمایل:

اذا نفرت دابة احدکم. کله چې په نفرت کې شي دابه ستاسو کې د یو کس.

او بعیره بفلاة من الارض. په ځمکه کې په دشته کې.

لا یری بها احداً. څوکویني نه.

فلیقل اعینوني عباد الله فانه سیعان. ای د خدای بنده ګانو زما مدد وکړي دده مدد به وشي.

دا غائب ته د یا آواز دي او عباد الله دلته څوک دي که ملائک اخلي که رجال الغیب اخلي اولیاء اخلي دغه مراد دي.

دارنګې مصنف ابن ابي شیبة جلد ۱۲ صفحه ۳۲:

حدثنا ابو معاویة عن الاعمش عن ابي صالح عن مالك الدار قال وکان خازن عمر علی الطعام قال اصاب الناس قحط في زمن عمر رضي الله عنه فجاء رجل الی قبر النبي ﷺ.

یو سړي راغې قبر د نبي علیه السلام ته دا بلال بن حارث المزني دي چې تحقیق یې په مسئله د توسل کې تیر شوې دي.

فقال یا رسول الله استسقِ لأمتك فانهم قد هلکوا. امت لپاره باران وغواړه دوي هلاک شو.

فاتی الرجل في المنام فقیل له. نبي علیه السلام دي شخص ته خوب کې راغې.

إئت عمر فاقرئه السلام واخبره انکم مستقیمون. باران به درباندې وشي.

دارنګې النجوم الزاهرة في ملوک مصر والقاهرة جلد ۳ صفحه ۲۱۷ په هغې کې اشعار راخلي:

الا یا رسول الله یا اکرم الوریٰ — ومن جوده خیر النوال ینیل

خبردار یا رسول الله اکرم د خلکو ستا د سخا نه هر قسم انعامات حاصلیږي.

دارنګې شذرات الذهب في اخبار من ذهب جلد ۱ صفحه ۳۰۲:

یا اکرم الناس من عجم ومن عرب — ویا ذوي الفضل والاحسان والحسب

ای اکرمه د خلکو په عرب او عجم کی ای ذوي الفضل د د احسان او په حسب کې.

عقد الجمان في تاریخ اهل الزمان جلد ۱ صفحه ۲۷۶: د قاضي تقي الدین بنت اعز هغه عود قضی ته واقعه بیانوي:

ولما قرب اوان الحج قصد الحجاز وقفى أمره إلى أن أتى مدينة النبي ﷺ وكان قد سبق من مكة بأيام واقام في الحجرة النبوية.

د نبي علیه السلام په روضه کې مقیم شو.

وقد صنف قصيدة. او دلته یې جوړه کړه یوه قصیده، دلته یې اشعار ولیکل.

مدح فيها النبي ﷺ والتزم. او دا یې په ځان لازم کړې وه.

ان لا ينشدها الا وهو واقف على باب الحجرة.

ډیر اوږده شعرونه وه سل (۱۰۰) بیته یې لرل.

او دا یې په ځان لازم کړه چې دا خو مې جوړ کړل دلته خو زه به رسول الله مبارک ته مخامخ سلام ته ودریږم دا به ورته وایمه دا تاریخ بدر الدین عیني لیکلي دا ډیر عمده تاریخ دي عقد الجمان في تاريخ اهل الزمان داد بدر الدین عیني دي نو وایي:

على باب الحجرة مكشوف الرأس. لوڅ سر ودریده.

وكان ينشدها ويكثر الاستعانة على من ظلمه. چا چې پرې ظلم کړي وه د هغوي خلاف یې مدد غوښتو ډیر زیات.

والتزم لا يرجع حتى يسمع بما يسره.

او دا يې ويلې وه چې دا سل (۱۰۰) كريز نعت او شعر به هغې پوري به يې وايم او لوڅ سر به ولاړ يم تر څو چې د روضې نه آواز وا ورمه هغې پوري به دا وايمه.

ويعلم ان حاجته قد قضيت. و ايي داسې زما حاجات پوره كيږي.

وهي قصيدة طويلة منها قوله: يا اكرم الثقلين بل يا سيد الكونين

اي اكرمه د ثقلينو د انس او جن اي سرداره د كونينو.

دعوة موقن بك مهتدي. زه تا پسې روان يمه او په سمه لاړ يم او موقن په تا باندې يم.

دا سل بيتونه وه.

ولم يزل ينشدها ويستغيث. او مدد يې غوښتو.

إلى أن رأى في نومه ان حاجته قضيت فركب مع الركب. خوب يې چې وليده بيا روان شو.

امام جامي رَحِمَهُ اللّٰهُ د نحوې امام دي د يوسف زليخې په اوله صفحه ده يو شعر ويلې دي:

دي مهجوري بر آمد جان عالم ترحم يا رسول الله ترحم

دا شعر دې يو اځې يا رسول الله نه دي بلكې د ترحم سوال هم شوې دي.

او د ديوبند په علماو كې دا خلك داسې وايي چې دا آواز د ديوبند او بريل نزاعي دي دا غلطه ده داد پنجپير د اهل سنت نزاع ده دا وس پنجپيريان ځان ته ديوبنديان وايي ديوبنديان يې دوكه كړي ځان سره.

نو د ديوبند علماء كې نفحة العرب مصنف اعزاز علي ديوبندي هغه يو كتاب ليكلي په نوم د تاريخ المصنفين سره د امام جامي حالات په كې وګوري نو واقعه را اخلي وايي چې دې كله حج ته تللو نو د مدينې منورې ګورنر ته رحمت عالم خوب كې راغې او دې يې معرفي كړو ورته چې داسې يو سړي را روان دي ما ته يې ډارك مه راپريږده.

هغه ګورنر په لاره كې ولاړ دي د هغه وخت خو سم ګورنران وه د نن زمانې غوندې وهابيان نه وه دا خو خوب ګوري نه او كه يې وګوري بيا به وايي دا اضغاث أحلام دي عياذاً بالله

هغه لاړو د قباء لاره کې ولاړ دي پیاده خلک را روان دي امام جامي يې وپيژنده راکوز يې کړو ګورنر ګمان وکړو چې دا ګني غټ مجرم دي زولني لاس خپو کې ورته واچولې بندي يې کړو په صبا شپه باندې بیا ورته رحمت عالم خوب کې راځي وايي زما دا عاشق دې ولې بندي کړې دي.

وايي تا وويل چې دا مه راپريږده ما وويل چې دا به مجرم وي مجرم نه دی ده په عجمو کې زما په مينه کې يو شعر ويلې دي وايي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خوب کې دا شعر ورته وويل:

ترحم یا رسول الله ترحم ذي مهجوري بر آمد جان عالم

وايي دا شعر يې ويلې او دا يې له دومره مينې نه ويلې دي که په دې جذبه زما روضې ته ودريږي او دا شعر راته ووايي نو زما غيرت نه برداشت کوي چې زه لاس ونه باسم او له ده سره په لاس ستړي مشي ونه کړمه.

تاريخ المصنفين اعزاز علي ديوبندي د ديوبند عالم دي د امام جامي حالاتو کې دارا اخيستي ده دغه شعر په وجه يې دده تعريف کړې دي ورته چې ده دا شعر ويلې دي په دې کې د **ترحم يا رسول الله** آواز دي که د ديوبند علماء د يارسول الله آواز سره مخالف وي نو څنګه په خپلو کتبو کې د **يا رسول الله** دومره تعريف را اخلي.

نو دا نزاع د پنجپيريانو ده له اهلسنت سره نو وايي بيا لاس ورکول مې نه غوښتل چې امت کې فتنه جوړه شي او فتنه جوړيږي ډير خلک بيا انکار کوي دا نه شي راويستلې او دا يې نه دي راويستلې له حقيقت نه انکار راځي نو دا دی جامي صاحب هم دا آواز کړې دي.

دغه شان شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ اطيب النعم في مدح سيد العرب والعجم يوه قصيده ليکلې ده په اشعارو کې او د هغې په صفحه ۸ کې په هغې کې دې شعر وايي:

ينادي ضارعاً بخضوع قلب وذل وابتهال والتجاء

رسول الله يا خير البرية نوالك ابتغي يوم القضاء

نو رسول الله يا خير البرية دا دده الفاظ دي.

شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ د هند نه چغه وهي يا خير البرية په شعر کې، دا رنګې قصيده برده چې عرب عجم کې معروفه ده.

اوس وهابیان وايي چې داد شرکیاتو نه دکه ده عیاذا بالله د هغې الفاظ هم دادی :

یا اکرم الخلق ما لي من الوذُ به — سواك عند حلول الحادث العمم

غټې حادثې او بلاګانې چې راشي زه چې پناه یا اکرم الخلق په بل چا نیسم ولې به يې نیسمه.

دارنګې قصیده د زین العابدین کې راځي :

یا رحمة للعالمین ادرك لزین العابدين.

او قصیدة النعمان چې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ لیکلي په اشعارو کې له ما سره وه چا رانه پته کړه هغه کې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ وايي :

یا سید السادات جئتك قاصداً — ارجو رضاك واحتمي بحماك

ای سید السادات تا ته راغلې یم ګوره مدینې منورې ته راتلل د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ بقصد الزیارة وه کنه.

جئتك قاصداً، ارجو رضاك. ستا رضا لټومه.

واحتمي بحماك: په خپله ساتنه کې مې وساته.

دا چند روایات د یا محمد او یا رسول الله باره کې چې راغلې وه هغه پیش شول دغه تعصب له ذهن نه وباسي په مساجدو کې یا مه ورانوي داد شعار او نبنې لپاره لیکل شوې دي او جائز دي څه باک نه کوي.

سوال : شیخ حسن جان صاحب نه چا تپوس وکړو د یا رسول الله متعلق هغه وویل بریلویانو ته ناجائز دي او مونږ ته جائز، دې خبره کې کومو باریکیو ته اشاره ده؟

الجواب : ما نه ولې تپوس کوې زه څه عالم بالغیب خو نه یمه چې دې هغه د زړه په رموزو عالم یمه چې دې کې څه ته اشاره کړې ده ته به يې شاګرد يې له هغه نه به دې تپوس کړې وه چې دې خبره کې ستا څه ته اشاره ده خو کیدې شي دغې خبرې ته يې اشاره کړې وي چې څوک په استمداد کې اولیاء مُمدي حقیقي ګرځوي دا په شان د شیعه ګانو عقیدې د شرک ته مفضي کیږي که هغې ته يې اشاره کړې وي نو صحیح ده دا څومره انبیاء او لیاء نه

مددونه چې غوښتل شوې دي دا په شکل د تسبب او توسل باندې وي دا ممدِ حقيقي نه وي ممدِ حقيقي اله العالمين دي او که چا په استمداد کې دا وساطه حقيقت ته ورسوله نو دا عقيده شرکي ده دا په شان د شيعه ګانو دي.

ګورئ زه ايران ته تللې وم مونږ او تاسو په ګاډو کې ليکو الله نګهبان يا خدا حافظ دا ليکو او په ايران کې په ګاډو دا ليکل شوې يې علي نګهبان، د هغوي دا الفاظ دي.

او بله دا چې زه له شيراز نه تهران ته روان ومه دا ډير اوږد سفر دي او يوائې ومه تقريباً يوه ورځ مزل جوړيږي نو زه په سفر کې ومه او يوه بوډۍ ښځه په يو بازار کې شپه وه ګاډي ته راوختله سوالګره وه نو سوالګره چې راوختله نو دا زمونږ د پاکستان افغانستان سوالګر چې سوال کوي نو وايي الله دې وبخښه څه راکړه نو هغې بوډۍ سوالګرې وويل:

علي ترا ببخش چيزي بتي، علي دې وبخښه څه راکړه.

نو ګورئ دا هغه څه دي چې د خالق مقابله کې دوي مؤثرِ حقيقي ګڼلي دي هغوي هم دیا علي او ازکوي خو هغوي يې ممدِ حقيقي ګڼي دتسبب او توسل په معنی باندې نه استعمالوي هغه مفضي کيږي عقيدې د شرک لره.

ممکن د شيخ حسن جان صاحب دې ته اشاره وي که څوک په دې استمداداتو کې نبي اکرم ﷺ مؤثرِ حقيقي ګرځوي اولياء مؤثرِ حقيقي ګرځوي بيا دا جائز نه دي دا چې کوم ويل شوې دي يا شعارونه دي يا محبتاً دي يا استمداد د خواصو دي چې هغوي اهل د مراقبې دي يا يې د روضې سره کړې دي نو هغه کې بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام مؤثرِ حقيقي نه ګرځوي هغه سبب او وسيله ګرځوي په دغه معنی باندې.

مسئلة النداء الی الغائب ختمه شوه

تبليغ الجاهل و النساء :

التحقيق في تبليغ الجاهل والنساء :

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : ﴿ قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴾ سورة يوسف آيت : ١٠٨.

بله زير بحث مسئله تبليغ الجاهل و النساء دي مسئله کې تولو نه اول هغه افتراء دفعه کومه چې کومه خاصتاً په سيفي حضراتو پسې او د باړي حضرت صاحب باندې او خصوصاً په ما باندې تبليغي جماعت والا جوړه کړې ده هغه دا خلکو ته دا وايي چې دوي د تبليغ منکرين دي.

نو مونږ او زمونږ اساتذه او شيوخ چې دي د تبليغ منکر نه يو مونږ تبليغ فرض ګڼو او منکر د فرضو ته مونږ کافر وايو البته مونږ د دغه مشن منکرين يو.

تبليغ شريعت فرض ښودلې کفائي شرائط يې ښودلي دي د پاره يې چوکاټ ښودلې طرز او طريق يې ښودلې دا وظيفه د چا ده هغه خلک يې ښودلي د هر کجا خيل کار نه دي دا يې ښودلي دي نو هغه مونږ منو.

خپله يې هم الحمد لله کوو او زمونږ شيوخ هم مبلغين وه هر چې مسئله د دغه خاص مشن ده او دين راغونډول دغه چوکاټ لره چې دا سبيل الله ګڼل او دې نه اخوا سبيل الشيطان ګڼل دا حماقت او جهالت دي مونږ د دغې منکرين يو نو تبليغ د فروضو کفايه وو نه دي باتفاق المسلمين.

نو اوله نزاع د تبليغي جماعت علماء سره زمونږ دا ده چې هغوي دې ته فرض عين وايي دا په اجماع د مسلمانانو باندې په اتفاق د مسلمينو باندې تبليغ فرض عين نه دي فرض کفايه دي خو اختلاف په دغه ځای کې دي چې دا فرض کفايه په څه حصه معينه د امت باندې دي چې سکوت د باقينو پرې راځي.

او که دا فرض په حصه غير معينه باندې دي دې کې علماء مختلف دي دا هيچا هم نه دي ويلې چې دا فرض عين دي البته دا فرض کفائي دي چې زه به تاسو ته په دې اقوال ذکر

کړم بیا چې فرض کفائي دي اختلاف دې ځای کې دي چې دا د امت په حصه معینه چې علماء دي په هغوي فرض دي او که دا په حصه غیر معینه باندې فرض دي.

دې کې اختلاف دي جمهورو علماء مشاهیر محققین دې ته ذهاب کوي چې دا فرض کفایه دي بیا فرض کفایه په حصه معینه باندې دي چې علماء دي یعنې په عوامو بالکلیة فرض نه دي نه فرضِ کفائي نه فرض عین.

دا چې فرض کفایه دي په حصې معینې باندې په علماء باندې دي نو چې په دوي فرض شو نو معنی دا شوه چې دې علماو کې بیا یو کس تبلیغ کوي ددې نورو علماو رقبه پرې خلاصه ده او چې یو یې هم نه کوي د ټولو غاړه پرې بنده ده دا فرضِ کفائي په حصې معینې باندې چې علماء دي.

او دویم قول دا دی چې فرضِ کفائي دي خو په حصې غیر معینې باندې نو معنی دا چې عالم یې وکړي د عوامو غاړه پرې خلاصه شوه نو هغوي ترې دا معنی جوړه کړه چې فرض کفایه دي په کل احد احد باندې او اول قول دا شو چې فرضِ کفائي ده خو د علماو په جماعت باندې په هر احد د سره نه ده امي ته د سره خطاب متوجه نه دي نو دا فرض کفایه دي دلیل په فرضیت کفایه ددې باندې چې عین نه دي کفائي دي آیاتین دي:

اول: ﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً﴾ ینفرُ د نفیر نه دي نفیر یو لفظ دي په مقابله د عیر کې عیر ویل کیږي قافلې د تجارت لره نفیر ویل کیږي قافلې د جهاد لره.

﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً﴾ نه دي په کار مؤمنانو ته چې لاړ شي جهاد ته په غونډه باندې یعنې نفیر جهاد ته په غونډه وکړي دا ورته نه دي په کار.

﴿فَلَوْلَا نَفَرَ﴾ ولې نه ځي.

﴿مِن كُلِّ فِرْقَةٍ﴾ د هرې ډلې نه.

﴿مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ﴾ دوي کې یوه طائفه.

﴿لِّيَتَفَقَّهُوا﴾ چې فقه حاصله کړي.

﴿فِي الدِّينِ﴾ په دین کې یعنې یوه ډله دې علم پسې لاړه شي.

﴿وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ﴾ دغه فقهاء چې دي دوي باید وویروي قوم خپل هغه مجاهدین.

﴿إِذَا رَجَعُوا﴾ کله چې را واپس شي دا مجاهدین.

﴿إِلَيْهِمْ﴾ دوي لره د جهاد نه.

﴿لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ ښائي چې یره قبوله کړي.

دا ایات کریمه تا ته دا ښایي چې امت به څه عوام څه علماء کوم چې طالبین د فقه علماء دي دا به مبلغین شي کوم چې عوام دي هغه په نفیر جهاد ته وځي جهاد نه چې واپس هغوي راغلل دا فقهاء به هغوي ته انذار وکړي هغوي به په احکامو د جهاد هم پوهـ کړي په هره مسئله به یې پوه کړي دوي به نصیحت کوي.

﴿لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ کیدې شي هغوي انذار قبول کړي.

دور دومره بدل شو جهاد ته ایستل د عوامو په کار وه عوامو جهاد پریښوده چې جهاد یې پریښود علماء طالبانو ویل چې اوس کار خرابیږي دې منصب ته دوي ودریدل کنه په زمانه د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې هغه زمانه کې به هم جهاد ته علماء تلل خو کارنامې یې په کې معروفې نه وي معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څومره معروف عالم وه یمن ته یې قاضي لیږي ما ته یې د جهاد کارنامه وښایه داسې نه چې جهاد ته نه تلو ډیرو جهادونو ته تللې دي خو کارنامې یې کمې دي.

دغه شان عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صف د جهاد کې برخه آخیستې خو کارنامې مشهورې نه دي دغه شان نور صحابه چې کوم فقهاء دي صدیق اکبر عمرِ فاروق عثمان غني ددوي د جهاد کارنامې کمې ښکاري نو داسې نه چې جهاد یې نه دې کړي جهاد یې کړې دي خو ددوي شهرت علمي زیات دي.

بیا د فقهې علم او فتوی میدان چې راشي بیا د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوچت مقام دي دغه شان د معاذ بن جبل خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د فقهې میدان ته چې راشي څه فتوی جاري کړې دي څومره کمې دي هیڅ شهرت دلته نه لري باب د جهاد کې بیا څومره معروف دي.

نوډ صحابه وو زمانه کې هم د خواصو او عوامو فرق وه عوام به یې لیږل جهاد ته او خواص مشغول په فقه باندې وه چې کله به یې حاصل کړو نو بیا به یې هغه نورو ته رسیدګي

د دين كوله نو چې هر كله عوامو جهاد پريښودلو .

دا اوس چې كوم علماء او طالبان ولاړ دي له مجبوري نه ولاړ دي چې دوي هم تري نه كيني او عوام يې هم نه كوي نو څه به تري نه جوړ شي او هر چې انذار دي هغه د فقهاء كار د؛ او د علماو كار دي نو ملايانو تبليغ پريښود .

نو عوامو وويل چې تاسو تبليغ نه كوي مونږ به دا كار شروع كړو نو هغوي راپاڅيدل دي منصب ته ودريدل خو په حقيقت كې ملايانو تبليغ نه دي پريښي دا خو ددوي جواب دي چې تاسې تبليغ نه كوي .

نو څكه مونږ شروع كړې دوي تبليغ د دروازو ټكولو ته وايي دوي تبليغ د كوڅې ګشت ته وايي دوي تبليغ سې روزي چيلي او چار ماه ته وايي نو دا خو دددوي خپل ايجاد دي دا خو د تبليغ طرز او طريق په اسلافو كې هيچا هم نه دي ښودلې سوى ددوي مشر الياس نه دا خوده شروع كړي .

نو دغه آيت كريمه تا ته دا ښايي چې څه نفر به تفقه ته ځي او څه نفر به جهاد ته ځي نو دا ددې دليل شو چې نه جهاد فرض عين دي هغه صورت مستثنى دي چې كله غلبه د كفارو راشي استيلاء على المسلمين راشي لكه بعضې ملكونه د كفارو له تسلط لاندې راغلي هغې باندې نور نصوص دال دي خو عامو اوقاتو كې چې كله كفارو تسلط نه وي راغلي .

دې آيت نه پته لګي چې جهاد فرِ كفائي دي او دغه شان تفقه في الدين ترې هم ثابته شوه چې : ﴿لِيُنذِرُوا﴾ دا انذار به دا فقهاء كوي خپل قوم ته چې كوم فقاء نه دي نو دا ايات دليل په فرض كفايت باندې شو د جهاد د فرض كفايت دليل هم شو سوى د استيلاء د وخت نه.

او دارنګې د تبليغ د فرض كفايت هم شو نو هر كله چې دا فرض كفائي شو نو فروض زمونږ په دين كې اركان لري شرائط لري تبليغ د پاره شرائط څو دي :

وللتبليغ ثلاثة شرائط : اول شرط د تبليغ د پاره عمل دي ، دويم شرط د تبليغ د پاره حكمت دي ، دريم شرط د تبليغ لپاره علم دي .

دليل د شرط اول لپاره :

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾

ای ایمان والو ولې قول کوي بل لره هغه چې تاسو خپله عمل نه کوي غټه ده له جهته د غضب نه عند الله دا خبره چې تاسو قول کوي هغه چې خپله يې نه کوي.

داد خدای تعالی په نزد غضب غټه خبره ده يعنې پرې غصه کيږي په غضب کيږي چې عمل نشته او قول شته نو دا مونږ ته ښايي چې قول بل ته ځوک کوي د غه تبليغ دي قول حسن سره به عمل ضروري وي.

ددې آيت کريمه له يو حديث سره ټکراو دي او تبليغيانو ټولو هغه حديث ياد کړې دي دې اُمراو ورته ښودلي دي دا نص پريږدي هغې پسې ځي نو تاسو يې تطبيق وکړي رد مه کوي مقابله مه کوي.

حديث دادی چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چا تپوس وکړو مونږ کې يو کس هغه څه چې بل ته وايو او خپله مو پرې هغه شان عمل نه وي کړې بل ته يې نه وايو نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمايي.

وايي دا حديث ثابت حديث دي چې هغوي هغه وخت کې چې مونږ عمل پوره ونه کړې شو بل ته يې هم نه وايو وايي نه بل ته يې وايي دې نه دوي دليل نيسي چې عمل شرط نه دي نو آيت راغلې عمل څنګه شرط نه دي.

﴿ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللّٰهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾

نو تطبيق داسې دي چې يو تبليغ دي په ترک المعاصي باندې نهي د منکر تبليغ دوه حصې لري دعوة الی الخير دوه حصې لري امرِ بالمعروف او نهي عن المنکر په صورت د نهي عن المنکر کې دې ايات پسې لاړ شه.

﴿ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾ منکر خپله عملي کوي او بل ترې منع کوي نو دې خطاب کې ته راځي.

﴿ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللّٰهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾

او هر چې صورت د امرِ بالمعروف دي معروفاتو باندې اتيان دي نو هغه صورت کې بيا مسئله داده چې خپله هم کوشش کوه چې عمل وکړي که ټول په ټوله دې عملي نه کړو خو د تبليغ نه مه منعه کيږه بل ته يې رسوه.

مثلاً په سنت باندې امر بالمعروف دي نو ټول سنت چا پوره کړې دي څه نا څه خو به کم وي او س به یې بل ته هم نه بیانوي بل ته خو دې بیان کړي او دا رنګې مستحبات باندې بیان د فرائضو بیان وغیره چې څومره دي نو دا اتیان په نیکیو باندې چې د امرِ بالمعروف حصه ده دلته خپله هم عمل کوه که چیرته تقصیر درکې وي تبلیغ نه مه منع کیږه بل ته یې هم رسوه.

او صورت د نهي عن المنکر چې ده هغلته چې کوم منکر کې ته مبتلاء وي نو په خوله یې بل ته مه یادوه اول خپل ځان اصلاح کړه بیا یې بل ته بیانوه.

نو دویم شرط چې حکمت دي لپاره دلیل:

﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾.

دعوت ورکړه لارې د رب خپل لره په حکمت او موعظه حسنه سره یعنې په خوش اخلاقي سره د حکمت ډیر معاني شوې خو یو د حکمت نه موقع شناس دلته ترې نه مراد دغه معنی ده زمونږ په دې شرط کې دغه معنی مراد ده.

او دې ایت نه هم ددغې معنی لپاره استدلال شوې دي موقع شناس دې لپاره د مشکوة یو حدیث دي په کتاب العلم کې ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته څوک راغلې دي ورته یې ویلې دي مونږ ته نصیحت کوه وایي د پنجشنبې په ورځ به یې درته کوم.

وایي نه زمونږ شوق ډیر زیات دي ډیر راته کوه وایي څه دوه ځل به درته کوم وایي زمونږ ډیر شوق دي زیات راته کوه وایي درې ځل به درته کوم وایي نه زمونږ شوق زیات دي.

وایي مونږ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ داسې نه یو تربیه کړي چې د دین په اشاعت خلک له دین نه متنفره کړو درې وو نه زیات درته نه شم کولې نو ولې له دریو نه اخوا تبلیغ دي نه کوې په هفته کې ځکه یې نه کوې چې بیا سبب د نفرت د دین جوړیږي او تبلیغي حضرات یې د ورځې څلور (۴) ځل کوي نو په هفته کې ترې نه څو ځل جوړ شول.

نو دا د دغه حدیث مخالفت دي د هر څیز یو قدر شریعت ښودلې دي هغه قدر نه چې زیات شي نو سبب د نفرت شي.

دریم شرط د تبلیغ لپاره علم: سورة یوسف آیت: ۱۰۸:

﴿قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ﴾

اعلان په خلکو کې داسې وکړه لاړې د دین ته زه دعوت ورکوم الی الله علی بصیرة په علم حجت او دلیل باندې.

﴿أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي﴾ زه به هم دا دعوت ورکوم څوک چې زما متبعین دي هغوي به یې هم ورکوي په بصیرت او علم باندې.

﴿وَسُبْحَانَ اللهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾

نو دا دعوت الی الله علی بصیرة په کار دي دې آیت کریمه باندې روح المعاني جلد ۷ صفحه ۷۸ ذکر کوي:

في الآية اشارة الی انه ینبغي للداعي الی الله تعالی. دې آیت کې اشاره دې ته ده چې داعي الی الله ته په کار دي.

ان یکون عارفاً. چې عارف به وي.

بطریق الایصال الیه سبحانه عالم بما یجب له تعالی وما یجوز وما یمتنع علیه جل شأنه. علم کلام به یې ویلې وي خدای تعالی کوم صفات د کوم څیز نه په ده باندې اطلاق جائز نه دي څه جائز دي نو دې به عارف وي او دې به عالم وي بیا وایي.

والدعاة الی الله تعالی الیوم. دعوت والا خدای تعالی ته دا نن ورځ چې دې هغه وخت دا تبلیغي جماعت والا نه وه څه نور خلک به وه.

من هؤلاء الذین نسبوا انفسهم الی الارشاد. هغه دي چې ځانونه ارشاد ته منسوبوي.

بزعمهم. په خپل زعم سره.

اجهل من حمار الحکیم. خو دوي ډیر جاهل دي له مضبوط خره نه.

بیا مخکې وایي:

وهم یحسبون. دوي ګمان کوي.

انهم یحسنون صنعاً. چې دوي ښه کار کوي.

ولبئس ما کانوا یصنعون. بد کار دغه دي چې دوي یې کوي.

دارنګې القصاص والمذکرين د ابن رجب حنبلي تصنيف دي جلد ۱ صفحه ۱٦۱ کې ذکر کوي :

والسادس ان عموم القصاص . عام بيان کوونکې .

لا يتحرون الصواب . حق نه لټوي .

ولا يحترزون من الخطأ . او بل د خطأ نه ځان نه ساتي .

لقلة علمهم وتقواهم . تقوی يې هم کمه ده او علم يې هم کم دي .

فلهذا کره القصص من کرهه . چا چې د بيان کوونکې بيان ته مکروه ويلې علت يې دغه دي .

فاما اذا وعظ العالم . هر چې عالم بيان کوي .

وقص من يعرف الصحيح من الفاسد . او بيان ددې کوي چې صحيح د فاسد نه پيلوي .

فلا کراهة . بيا کراهيت په کې نشته .

دا زمونږ او تاسې مقررين هم په کې راغلل چې دا غوړونو کې لاس کيږدي او خوش آوازي کوي وروسته به نور آحاديث هم په دې راشي چې ددوي بيان او ريدل هم صحيح نه دي ځکه عالمان نه دي او کار د علماو کوي .

دا بيانونه څه وخت نه شروع شول د صحابه کرامو زمانه کې دا نه وه چې مونځ وشي او د مانځه نه بعد يو سړي ولاړ شي او بيان شروع کړي او يا په کرسي کيني او بيان شروع کړي .

د درس جدا شکل ده دا له هغه وخت نه شروع وه د صحابه کرامو زمانه کې دا وه خو دا بيانونه د جمعې له خطبې او تقرير نه غير د مانځه نه وروسته د محراب خوا کې دريدل يا کيناستل او بيان کول دا بيانونه هغه وخت کې نه وه دې باندې به زه حوالې ذکر کړم :

ابن ابي شيبة جلد ۸ صفحه ۵۵۷ باب لګوي :

باب من کره القصص وضرب فيه ، چا چې بياناتو ته مکروه ويلې دي او خاصتاً په دې کې مقرر ته وهل ورکړې دي يعنې بيان کوونکې وهلې دي هغه روايات :

حدثنا معاوية بن هشام قال حدثنا سفيان عن عبيدالله عن نافع عن ابن عمر قال لم يقص زمان ابي بكر ولا عمر انما كان القصص زمن الفتنة.

زمانه د ابوبکر صديق او عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا کې دا بيانونه نه وه قصص واقعات او د عوامو دا بيانونه نه وه دا قصص د فتنې په زمانه کې پيدا شول.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۸ صفحه ۵۵۸ :

حدثنا معاوية بن هشام قال حدثنا سفيان عن سعيد الجريري عن أبي عثمان قال كتب عامل لعمر بن الخطاب أليه.

عراق نه د عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ګورنر خط ليکي امير المؤمنين ته:

ان هاهنا قوماً يجتمعون. دلته يو قوم دي راغونديږي.

فيدعون للمسلمين وللأمير. په سکون د دال سره که شي دُنو معنی دعاء کوي د مسلمانانو امير لره دلته راغونديږي او يا د دعوت نه دي يدعون دعوت ورکوي مسلمينو عامو ته او امير لره دلته يو قوم دي دعوت ورکوي ډله نوي د تبليغيانو پيدا شوي وه عراق کې د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې.

فكتب اليه عمر. عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته خط ليکي:

أقبل وأقبل بهم معك.

ته هم راشه او دوي هم ځان سره راوله.

فاقبل.

د عراق ګورنر راغې سره د هغه کسانو عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته چا وويل چې ميلمانه د عراق راغله.

وقال عمر للبواب اعد لي سوطاً.

عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بواب ته وويل يوه ښه دُره راته تياره کړه.

فلما دخلوا على عمر.

کله چې عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دوي دننه شول.

أقبل على اميرهم ضرباً بالسوط. شروع شول په امير د دوي باندې چې په كوړه يې وهه
كوري هغه وخت كې هم دوي كې اميروه.

فقال يا امير المؤمنين. هغه يوه شو چې ګڼې امير المؤمنين د خوارجو ګمان راباندې
وكړو هغه حديث كې راځي: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي له مشرق نه به يو قوم راوځي هغه اوس ځان
خلاصوي.

فقال يا أمير المؤمنين انا لسنا اولئك الذين يعني اولئك قوم يأتون من قبل المشرق.
هغه مشرق نه چې يوه ډله پيدا كيږي مونږ هغه نه يو مونږ د خير لپاره راپورته شوي يو.
دارنګې په دغه صفحه باندې ابن ابي شيبة بل روايت ذكر كوي دا اوس عمر فاروق
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دعوت والا او امير د هغوي وهلې دي:

حدثنا يحيى بن سعيد عن سفيان عن ابي حصين عن ابي عبد الرحمن ان علياً رأى رجلاً يقص.

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو سړي وليدلو بيان كوي:

فقال علمت الناسخ والمنسوخ؟ ورته وي ويل ناسخ او منسوخ پيژني.

فقال: لا. وايي نه.

قال هلكت واهلكت. ته هم هلاك شوې او خلك دې هم هلاك كړل.

دغه حديث د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سنن الكبرى للبيهقي جلد ۱۰ صفحه ۱۱۷ المعجم
الكبير للطبراني جلد ۹ صفحه ۱۲۳، مصنف عبد الرزاق جلد ۳ صفحه ۲۲۰ دې ټولو ذكر
كړې د مصنف عبد الرزاق الفاظ دادي:

عبد الرزاق عن معمر قال بلغني ان علياً مر بقاص فقال اتعرف الناسخ من المنسوخ قال لا قال هلكت واهلكت قال ومر بآخر.

بل يو بيان كوونكې باندې تير شو.

قال ما كنيتك. كنيه دې څه ده.

قال ابو يحيى قال بل انت ابو اعرفوني.

نه ابو يحيى نه يې ابو اعرفوني يې هغه سړي يې چې خلكو ته وايي ما وپيژنه مشروع يې دايې بده وګڼله.

همدا روايت معجم ابن المقري را اخيستې جلد ۳ صفحه ۲۴۰ كې چې حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وويل:

اتدري ما الناسخ والمنسوخ قال لا قال هلكت واهلكت فلا تقص في مسجدنا.

دلته بيانونه مه كوه د مسجد نه يې منع كړو مونږ چې مسجد نه بند كړو وايي د تبليغ مخالف دي نو حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څنګه بندول هغه هم د تبليغ مخالف وه.

بيا داد نن صبا د تبليغ جماعت چې نه يې په كشرانو اعتماد شته او نه يې په مشرانو سوا د مولانا زكريا صاحب نه.

همدا روايت العلم لابي خيثمة را اخيستې جلد ۱ صفحه ۳۱، دارنګې العلم لزهير بن حرب جلد ۱ صفحه ۱۳۲ كې هم را اخيستې، القصاص والمذكرين جلد ۱ صفحه ۱۸۱ كې را اخيستې په دې كې مصنف د كتاب دا وايي:

لا ينبغي ان يقص على الناس الا العالم المتقن. بنه عالم چې نه وي بيان دې نه كوي دا خو د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت شول.

اوس بل روايت د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي المدخل الى السنن الكبرى للبيهقي جلد ۱ صفحه ۱۳۵ الضحاك بن مزاحم وايي:

مر ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بقاص. ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په يو بيان كوونكې باندې راغې بيان كوي.

فضربه برجله. په خپه يې ووهه.

وقال يا قاص. هغه ورته وايي.

يا قاص هل تعلم الناسخ من المنسوخ؟ قال وما الناسخ والمنسوخ؟

هغه وويل دا څه شي دي.

قال اولا تعرف؟ قال لا قال هلكت واهلكت.

ته هم هلاک یې خلک دې هم هلاک کړل .

دې کې عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان کوونکې په لغته وهلې اوس یې وهل څنګه شول نو وهي یې مه خو په جوماتونو یې بند کړي داد حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سنت پوره کړي دا کافي دي مسجد نه یې لرې کړي عوامو ته دا اختیار ورکول دا ډیر بې کاره کار دي .

دې ځای کې یو ضمني اعتراض او د هغې جواب دلته مونږ سره نزدې یو عالم دي شیخ الحدیث هم دي خو اوس په دې غضب ککړ دي نو هغه طالبانو ته بار بار دا پرچار کوي چې دا ډیر بهترینه لاره ده تاسو ټول دې کې وځي .

نو هغه ته زمونږ یو شاګرد ویلي وه چې دا خو علم ورته شرط دي وایي څومره علم شرط دي د علم څه اندازه لګیږي طالب یې په دې دباو کړې وه د علم خوله سره اندازه نشته چې علم شرط دي نو څومره شرط دي که علم په دوه دري مسئلو وي خو دې یې هم لري او که عمل په ټول دین وي نو ته هم ملا نه یې نو اعتراض دي .

نو د هغې جواب به دا وي چې د علم لپاره عرفي هم حد شته او شرعي هم حد شته شرعي حد یې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان کړو چې :

اتعرف الناسخ من المنسوخ .

دې تبلیغیانو نه پوښتنه وکړي ناسخ منسوخ نه دوي بیلولې شي او دلته قرآن نه راځي :

هل تعرف الناسخ من المنسوخ بالقرآن .

عام یادوي بالحدیث هم یادوي ناسخ منسوخ په حدیثو او قرآن ټول کې پیژني دا خو شرعي حد شو .

او عرفا حد چې دي هغه وړه او لویه دوره ده په عرف کې چې وړه او لویه دوره چا نه یې کړې هغه ته څوک عالم نه وایي نو طالبانو کې هم چې چا غټه وړه دوره نه وي کړې بیانونو نه ځان ساتي ما به هم له فراغت نه مخکې کړې وي خو لکه بیا احتیاط په کار دي چې تر څو وړه او لویه دوره نه وي شوې نو نه یې کول په کار خاصتاً فن د حدیثو کې خو ډیر احتیاط په کار دي علماء او فقهاء دوي سد الباب کوي دې نه بیا فساد جوړیږي .

ما ته یو تبلیغي امیر صاحب راغې او ما ته وایي چې ته څنګه مونږ دلته نه پریږدي ګوره هسې یو تپوس درنه کومه چې تبلیغ پیغمبري کار نه دي ما ورته وویل ولې نه دا خو

پيغمبري کار دي نو لو پيغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ کړې دي وايي چې پيغمبري کار دي نو دد پيغمبر امتي خو زه هم يمه څنګه زه به يې نه کومه او ته به يې کوي ما ورته وويل زه پو هنتنه د رنه کومه ورته مې وويل دا خو پيغمبري کار دي خو چې دا پيغمبران عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دنيا نه لاړ دا ميراث شوه که څه وارثان يې پاتې شول.

وايي چې وارثان خو يې شته دي ما ورته وويل چې وارثان يې څوک دي وايي علماء دي ما ورته وويل چې ته څه کجا خيل يې چې له ما سره په دې ميراث کې شريک کيږې د پيغمبرانو کار دي خو وارثان يې شته دي هغه به يې کوي کنه چې علماء دي نو تاسو هم سوچ وکړي انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ:

لم يورثوا دينارا ولا درهما بلکې ورثوا العلم.

علم يې ميراث کې پريښې دي او دغه علم کې ميراثه د چا ده په دې علم کې متراثه د علما وده دوي به دا کار کوي هر چې عمل دي عالم به يې هم کوي او ته يې هم کوه عمل بالشريعة عام دي علم او تعليم دد چې کوم دي دا تر علما و پورې خاص دي عوامو ته به دې کې اختيار نه ورکوي.

عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به قال رسول الله نه ويل شاګرد يې وايي حديث به يې چې ويل وايي قال رسول الله به يې نه ويل يوه ورځ يې وايي بې اختياره له خولې نه قال رسول الله بهر شو وايي رنګ يې متغير شو او د مرئ رګونه يې وپړسيدل او بيا يې وويل:

قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هکذا هکذا.

که صدق وي هغه ته دې منسوب وي که کذب وي ما ته دې منسوب وي.

علماء د احتياط له وجې نه دا خبره کوي نو که دا عوامو ته مونږ پريږدو او امي سړي پاخيږي د ملا په مخکې حضور مې فرمائلي دي نو هغه د حضور په فرمائلو څه پو هيږي.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په عربي فرمائي او ته په پښتو لګيا يې حضور څنګه فرمائلي دي او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا فرمائل څو قسمونه لري.

په هغه ابتداء د اصولو کې ما د احاديثو اقسام بيان کړل بيا يې بيلولې شي چې داد حديث کوم قسم دي نه پو هيږي وربانديې کنه او که دا خبره دوي کوي چې مونږ خو صرف

کتاب کې لګیا یو له بهر نه خبرې نه کوو له ځان نه لګیا دي اول اعلان یې له بهر نه دي د ایمان او یقین خبرې به کیږي او بیا چې شروع شي دري منټه د کتاب نه وغږیږي او بیا نور په یادو شروع شي بیا خو نیمه ګینټه له ځانه لګیا یې کتاب یې بند کړې وي او خپله ترانه ضبطوي د الله نه د کیدو یقین او د مخلوق نه د نه کیدو یقین دې ته شروع شي په دې کې د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ د صحابه وو واقعات بیا بیانوي .

په دې کې د خپل تبلیغي جماعت کرامت بیا بیانوي چې دشته کې مړه را روانه وه خوله کې درهم نیولې وه دنانیر یې نیولې وه دا کرامتونه بیانوي دا ټولې خبرې ستا له ځانه دي .

او که دا جواب دوي کوي چې نه مونږ خو مسائلو کې خبرې نه کوو مونږ فضائلو کې خبرې کوو دا هم دروغ وایي او له خبر دي مسئله نه چې علم کلام دي الله سے ہونے کا یقین دا فضیلت دي که دا مسئله ده او په مسئلو کې پیچیده مسئله ده چې د علماو ذهن په کې کار نه کوي او ته را پورته شي د عوامو مینځ ته د ایمان او یقین خبرې غور ځوي .

دارنګې المذکر و التذکیر جلد ۱ صفحه ٦٧ :

حدثنا ابو موسى انا الضحاك بن مخلد ثنا عبد الحميد بن جعفر ثنا صالح بن ابي غريب عن كثير بن مرة قال دخل عوف بن المسجد و ابن عبد كلال فاذا جماعة .

عوف بن مالک سره د ملګري مسجد ته راغې یوه ډله ناسته ده .

قال فقال عوف ما هذه الجماعة . دا ډله د چا ده .

قالوا كعب يقص . کعب بیان کوي ورته دا خلک دې بیان ته ناست دي .

قال يا ويحة . یا هلاک دې شي .

اما سمع قول رسول الله صلى الله عليه وسلم . د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ خبره یې اوریدلې نه ده .

لا يقص الا امير او مأمور او مرائي او مختال .

بیان به نه کوي مګر امیر به یې کوي د امیر معنی په اولی الامر سره هم کیږي .

او د امیر معنی په فقیه سره هم کیږي هغه ایات کې راځي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ ﴾

اولى الامر د امير جمع ده نو د غه امير امراء اولى الامر چې دي حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تـرې نـه فقهـاء علمـاء اخلي او حـضرت ابـو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امـراء د سرايـاوو واليـان گورنران د امارت اسلامي اخلي نو بيان به نه کوي مګر امير او مأمور چې د هغه له خوا ورته امر شوې وي او مرائي يا رياکار او مختال يا کبرجن دي وونه به خالي نه وي.

نو دلته اشاره دې ته کوي چې ده تـه امر چا کړې دي دا حديث دده دليل دي چې بايـد بيان والا او د جمعې بيان هم د امير په خوښه وي.

په اکثره ملکونو کې په عربو کې ايران کې مسقط کې متحده عربي اماراتو کې وغيره کې د سرکار له خوا د جمعې خطبه راځي او همغه لوستلې کيږي د هغې نه اخوا ديخوا څوک څه نه شي ويلې دا ډير ښکلې قانون دي د شريعت موافق قانون دي عربو کې هم څوک له ځان نه نه شي غږيدلې.

دا يو اځې پاکستان افغانستان دي چې دلته د جمهوريت په نوم په هر مسجد کې بيـل مذهب جوړ شوې دي نو که د سرکار له خوا نه خطبه راتلې نو دومره فساد به نه وي.

نـو اصلاً نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کنټـرول د امـارت اسـلامي ښـودلې دي چې بيـان بـه امير کـوي مامور به يې کوي او مرائي کوي يا يې مختال کوي يعنې هر چا ته د بيان اجازت نشته.

دارنګې المذکر والتذکير جلد ۱ صفحه ۸۶:

حدثني محمد بن مصفى ثنا بقية عن صفوان بن عمرو حدثني الازهر بن عبدالله الحرازي عن ابي عامر الهوزني قال حججت مع معاوية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

عامر الهوزني وايي د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره حج ته راغلم.

فلما قدمنا مكة. مکې معظمې ته چې راغلو.

حدث برجل يقص. دلته يو سړي دي بيان کوي او فتوى ورکوي مولى لبني مخزوم دي.

فارسل اليه. څوک يې ورولېږه هغه ته.

فقال امرت بهذا؟. ورته وي ويل امر درته شوې په دې.

قال لا. هغه وويل نه.

قال فما حملك عليه. څه شي درباندې باعث شو.

قال نفسي وننشر علماء عندنا. دلته علم خوروو.

قال معاوية رضي الله عنه لو تقدمت اليك قبل مرتي هذه لقطعت منك طابقاً.

حضرت معاويه رضي الله عنه ورته وويل که زه مخکې راغلې وې ګردن به مې درنه کټ کړې وې خو دا اول ځل درباندې پيښ شومه.

فلما صلى صلاة الظهر قعد على المنبر فقال يا معشر العرب. بيا يې تقرير وکړو خلک يې په دې پوهه کړل چې د هر چا بيان ته مه کيني.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۸ صفحه ۵۵۹:

حدثنا شبابة بن سوار قال حدثنا شعبة قال حدثني عقبة بن حريث قال سمعت ابن عمرو جاء رجل قاص. يو بيان والا سړي راغې.

وجلس في مجلسه. دې مجلس کې دې بيان والا کيناسته.

فقال ابن عمر. ابن عمر رضي الله عنه ورته وايي.

قم من مجلسنا.

زمونږ د مجلس نه پاڅه بيخي يې په مجلس کې پرې نښود.

فابى ان يقوم. هغه انکار وکړو نه پاڅيدلو.

فارسل ابن عمر رضي الله عنه الى صاحب الشُرط.

پوليسو والا ته ابن عمر رضي الله عنه څوک وليږل.

اقم القاص. راشه دا سړي زمونږ له مجلس نه پاڅوه.

فبعث اليه فاقامه.

بيان کوونکې ابن عمر رضي الله عنه هغې مجلس کې پرې نښودلو وايي دا بدعتي دې دا مه پرېږدې زما په جلسه کې هسې ناستې ته يې هم مه پرېږدې هغه نه پاڅيده شرطې والا ته يې وويل چې دا لرې کړه زما له مجلس نه.

که څوک اعتراض وکړي ! بلغوا عني ولو آية ، هغې سره به څه کوو ؟.

دا یو علمي اعتراض دي چې مخالفين ترې نه استدلال کوي دا بلغوا عني ولو آية د لوَ نه وروسته چې کوم آية ذکر دي دا مفعول مطلق دي په حذف د مضاف مقدره سره بلغوا عني ولو تبليغ آية ، ورسوي له ما نه اګر که تبليغ د يو آيت وي .

ذې ځاى کې چې څوک دا معنى کوي چې بلغوا عني ولو تعلمتم آية ، ورسوي زما نه اګر که يو آيات مو ياد وي دغه معنى هيڅا هم نه ده کړې چې ما نه ورسوي اګر که يو آيت مو ياد وي دغه معنى نه ده مراد بلغوا عني ولو تبليغ آيـة ، اګر که تبليغ د يو آيت وي داد امت د مبلغينو د نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ د تبليغ سره خاص دي نبي عَلَيۡهِ السَّلَامُ مـامور د ټول ديـن دي پـه تبليغ باندې وه او ما او تا د ټول دين په تبليغ مکلف نه يو هغه ته آيت دا وه :

﴿بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥ﴾

که هغه صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ يو هم پريښې وي رسالت کې نقصان راتلو رسالت نه رسيدلو نو هغه صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ د ټول دين په تبليغ مکلف دي مونږ او تاسې علماء چې يو بلغوا ورسوي عني زما نه ولو تبليغ آية يعني اى علماء تبليغ نه غلي مه پاتي کيږي رسوي يې که هر څو آحاديث وي اګر که يو حديث هم وي خو وي رسوي .

نو د حديث دا مقصد دي چې تاسو د تبليغ نه غلي مه پاتې کيږي لږ وي که ډير وي تبليغ کوي داسې نه دي ويلې چې ستاسو به زده لږ وي او خبرې به ډيرې کوي ، يا به مو يو آيت ياد وي هغه به رسوي دا مقصد نه دي ستا به ډير ياد وي ته به عالم يې هغې نه بعد به تا ته تبليغ جائز کيږي خو تـه بيا مکلف پـه رسولو د ټول ديـن نـه يـې ټول ديـن يو مبلغ هم نه دي رسولې خو مکلف نه دي ورباندې او نه پـه دې مواخذه کيږي چې ټول ديـن دې ولې نـه دي رسولې خپل وس موافق به لګيا وي يا لږ يا ډير خو دې به تبليغ کوي د حديث دغه مقصد دي.

او دويمه داده که خامخا ضد او عناد څوک کوي چې نه بلغوا عني ولو آيـة ، نو زه بيا جواب کوم چې دا خو قاريانو ته دي چې يو ايت دې ياد کړو نو بل تـه يې ورسوه حديث خو

دلته نه دي راغلې او نه مسئله راغلې ايت خو حديث ته نه شي ويلې ولو آية دغه ضد زه نه کومه خو هسې چې څوک ضد کوي چې نه بلغوا عني ولو آية معنى دا چې يو آيت دې رسوه يې.
نو بيا خو آيت راغلې حديث خو نه دي راغلې نو آيت چې دې ياد کړو بل ته يې رسوه هغه خو له سره هم نه دي رسولې څو مره آيتونه زمونږ ياد دي بيا خو قاريانو رسولې مونږ نه دي رسولې.

کتاب الحوادث والبدع داد ابوبکر ترطوشي تصنيف دي په ۵۲۰ سنه کې تير شوې دي دې يو روايت ذکر کوي تاسو ګورئ چې دغه وخت سره داد مسجد د منبر په خوا بيان د چا وظيفه وه دې حديث نه معلوميږي چې داد منافقانو کار وه د محراب سره دا بل بيان د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خطبې او تقرير نه چې وروسته بل بيان کوي دا دويم بيان چې دي داد منافقانو کار وه.

دلته مصنف يو باب لګوي امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

اني لاکره القصص في المساجد.

په مساجدو کې دا بيانات زه مکروه ګڼمه.

په دې کې ډير روايات بيا ذکر کوي نو په صفحه ۸۰ باندې دا روايت ذکر کوي :

قال مالك ابن انس كان رجل من المنافقين. وه يو سړي له منافقينو نه.

يقوم كل جمعة في المسجد. او دريده به د هرې جمعې په ورځ په مسجد کې.

فيحض على طاعة رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د تابعدارې تيز والې به يې کولو.

فلما كان يوم خيبر. چې د خيبر د جهاد ورځ راغله.

انصرف بالناس من قتال العدو. د خلکو سره د جهاد نه واپس راغې چې راغې.

ثم قال بعد ذلك في المسجد. بيا په مسجد کې اودريده.

فحض على طاعة رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. بيا يې تقرير شروع کړو.

فامر بهن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **فاخرج من المسجد** . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ امر وکړو چې دا سړي مسجد نه وشړي وايي د مسجد نه ویستلې شو وايي چې بهر لاړو نو دې څه وايي :

لا اباليالا اصلي في حشبني فلان . هيڅ باک نشته دي چې زه په بني فلان کې مونځ کوم او که دلته يې کوم .

کنايه يې وکړه يعني دا څه خبره ده بل ځای به مونځ کومه بس هغه مسجد يې پريښودلو بيا به مسجد نبوي ته نه راتلو بل ځای به يې مونځونه کول .

نو دغه بيانونه د محرابونو په خوا کې دا هغه دور سره منافقينو ايجادول شروع کړه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيان والا وشړل مسجد نه .

دې کې څه ډير روايات را اخلي عجيب عجيب سليمان بن مهران اعمش بصري ته راغې د بصرې په جامع مسجد کې :

قاص يقص في المسجد . مسجد کې يو څوک بيان کوي دې راغې .

تتوسط الاعمش الحلق وارفع يديه . نو دا خو سمه داسې حلقه ناست وي ډير ناست وه نو دا امام اعمش را دننه شو د حلقې مينځ ته راغې .

ورفع يديه وجعل ينطف الشعر ابطه . او ددې بيان والا په دې مينځ کې لاس اوچت کړو او د خپل تخرګ نه يې ويښتان ويستل شروع کړه چا ورته وويل چې دا دې څه چل وکړو ته ولې مونږ ته داسې ولې په سپکه ګوري وايي زه په سنتو کې لګيا يم او تاسو په بدعت کې لګيا يې تاسو نه زه ډير ښه يمه .

فقال له قاص يا شيخ الا تستحيى . حياء نه درځي .

نحن في علم وانت تفعل مثل هذا فقال الاعمش الذي انا في خير من الذي انت فيه . تا نه خو زه په ښه کار کې لګيا يم وايي هغه څنګه .

لاني في سنة وانت في كذب . ته په دروغ کې يې او زه په سنت کې يمه .

بل روايت همدې کې راځي وايي ته په بدعاتو کې لګيا يې .

دغه شان بل روايت پيش کوي حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ ته معاذ بن قره وايي :

اعود مريضاً احب اليك واجلس الى قاص. دلته يو سړي بيان ته اودريږي هلته يو بيمار دي د هغه بيمار پرسي ده هغې ته لاړ شم كه دې بيان ته كينمه.

قال عد مريضك. ځه د بيمار بيمار پرسي دې وكړه.

اطيعوا جنازة احب اليك واجلس الى قاص. بيان والا ته كينمه كه جنازې ته لاړ شمه جنازه روانه ده وايي ځه جنازې ته لاړ شه يو سړي رانه كار كې كومك غواړي.

فاعينوه او اجلس الى قاص. چا سره كومك وكړم كه بيان والا ته كينمه.

اقضي حاجتك. وايي د مسلمان حاجت پوره كړه.

زمرة وايي:

قلت للثوري. سفيان ثوري ته مې وويل.

نستقبل القاص بوجوهنا قال ولو البدع ظهوركم. بيان چې شروع وي نو مونږ كه دې بيان والا ته كه دې مسجد كې راګير شو يا ناست يو مخ ورواړوو كه شا ورواړوو وايي شا ورواړوي ځكه وايي دا بدعتيان دي او بدعتيانو ته به شاه وراړوي.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۸ صفحه ۵۶۰:

حدثنا شريك عن ابن عون عن ابن سيرين قال بلغ عمر ان رجلاً يقص بالبصرة.

ابن سيرين رَضِيَ اللهُ عَنهُ فرمايي عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته چا وويل بصره كې يو سړي دي بيانونه كوي هغه ورته خط كې دا آيت وليكه:

﴿الر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْآنَ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ﴾

پوه يې كړو چې احسن القصص د قرآن كريم ترجمه ده اشاره يې ورته وكړه چې د قصصو ډير شوقي يې نو دلته خلكو ته قرآن كريم شروع كړه.

قال فعرف الرجل فتركه. هغه سړي په دې اشاره پوه شو خپل بيانونه يې بيا پريښودل.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۸ صفحه ۵۶۰:

حدثنا ابن مهدي عن سفيان عن سلمة عن ابي الدرداء جار لسلمة قال قلت لعائشة او قال لها رجل . يا ما يا يو سړي بل ورته وويل .

انى القاص يدعوا لي . بيان كوونكې چې بيان كوي دعاء ته ورشمه .

فقالت لان تدعوا لنفسك خير من ان يدعو لك القاص . چې خپل ځان ته دعاء وغواړي دا درته ډيره غوره ده چې بيان والا دعاء درته كوي د هغې نه دا خپله دعاء درته بنه ده .

دې نه پته لګي دا بعضې ډير ناپوهان اجتماع ته منډې وهي وايي صرف دا كې ځان شريكوم هغلته ټول قصاصين را غونډ وي علماء په كې نه وي نو ددغه قصاصينو دعاء ته دعائشې بي بي فتوى ده انفرادي دعاء ترې غوره شوه .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۸ صفحه ۵۶۱ : عبيد الله بن عمر د نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كوي :

قال لم يكن قاص في زمن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . نه وه دا بيان كوونكي په زمانه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ كې .

ولا زمن ابي ابكر ولا زمن عمر ولا في زمن عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۸ صفحه ۵۶۱ :

ابن معقل قال كان رجل لا يزال يقص . بيانونه به يې كول .

فقال ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته يوه ورځ فرمايي .

انشر سلعتك على من يريدها . وايي هلكه دا سامان دې هغه چا باندې خرڅ كړه چې څوک يې اراده لري او يا دا بازار دې وايي هغه ځاى كې ګرم كړه چې ځوک يې اراده لري مونږ ته د بازار ګرمي مه كوه او مونږ ته دا بيانونه مه كوه .

دارنګې تفسير القرطبي جلد ۲ صفحه ۶۲ : دغه آيت باندې : ﴿مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا﴾ دې ځاى باندې همغه روايت د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ را اخلي خو دې كې دا الفاظ زيات دي .

فاخرج من مسجدنا ولا تذكر فيه . دلته تذكير مه كوه .

دارنګې احياء العلوم الدين جلد ۴ صفحه ۳۵ دې کې شيطان چې انسان ته دننه کيږي څو مره لارې دي هغه لارې ښايي .

نو يوه لاره وايي داده چې عامې د علم خبرې شروع کړي عامې چې کله د علم خبرې شروع کړي نو شيطان دلته ننوځي دې وايي :

انما حق العوام . د عوامو حق دادی .

ان يؤمنوا . ايمان دې راوړي .

ويسلموا . اسلام دې راوړي .

ويشتغلوا بعبادتهم . په خپل عبادت او عمل دې مصروف شي .

ومعايشهم . او په دنياوي روزګار کې .

ويتركوا العلم . پريږدې دې علم .

للعلماء . علم دي علماء ته پريږدي .

فالعامي لو يزني ويسرق . امي سړي که زنا کوي که غلا کوي .

كان خيرا له من ان يتكلم في العلم . دا غوره دي دده لپاره له دې نه چې په علم کې خبرې کوي .

فانه من تكلم في الله . چې علم كلام او ايمانيات دي .

وفي دينه من غير اتقان العلم . بغير د مضبوط علم نه .

وقع في الكفر . واقع به شي کفر کې .

من حيث لا يدري . ورته پته نه وي .

مثال يې داسې دي .

كمن يركب لجة البحر . و دانګې چپې د بحر ته او دې نه پيژني .

السباحة . لامبو .

چا ورته ويلي دي وايي دې بحر کې ملغلرې دي او لامبو يې نه ده ياده چې غوپه يې

وو هله نو ملغلري ځه چې سر خوري دغه شان تبليغ او د دين په اشاعت کې ملغلري ثوابونه دي خو د علم لامبوزن غواړي که د علم لامبوزن نه وي ورټوپ يې کړه کله کله په کې ايمان نه هم خلاص شي.

امام غزالي رَحِمَهُ اللَّهُ چې وايي عامي سړي چې زنا او غلا کوي هغه ورته ښه ده نه چې په دين کې خبرې وکړي د هغې وجه دا ښايي چې زناء کار زنا کوي او يا غل غلا کوي نو ګناه يې ګڼي بيا ترې توبه هم اوباسي دغه سړي چې امي دي او په علم کې خبرې کوي په ګناه کې اخته دي او دې ځان د جنت ټيکدار ګڼي توبه نه اوباسي له هغې نه.

هغه خو وايي زه ښه کار کې لګيا يم زه خو د جنت په لاره يمه دا نور خلک تباه دي دغه يې فرق دي ګڼي باقي دا علم کې خبرې دده به هغه شان قطعي حرامي نه وي دا به درجه د کراهيت کې وي هغه يقيني حرام دي نو بيا يې ولي هغه ته خير ويلې نو دغه فرق ده چې هغه توبه اوباسي دې توبه نه اوباسي دې دي ګناه ته ګناه نه وايي.

دارنګې تفسير القرطبي جلد ۴ صفحه ۱۶۵ دې نه بعد اوس هغه عبارتونه شروع کيږي چې دوي کوم استدلال کوي ددې آيت نه: ﴿وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ﴾.

يا: ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾.

قرآن عظيم الشان بعضې د بعضې تقيد کوي ترجمه يې کوي.

کنتم خير امة خو عام دي دغه خطاب بيرته تخصيص يې شوې دي په بل آيت باندې چې ولتکن منکم شي دې بعضې ستاسې راجح تفسير په منکم دادی چې من للتبيين نه دي بلکې دا من د تبعيض لپاره دي شي دې بعضې ستاسو نه او مراد له هغه بعضو نه علماء دي دې د پاره تاسو تائيدا تو ته ګوري چې ولتکن منکم کې علماء اخلي عوام نه اخلي نو تفسيرِ قرطبي جلد ۴ صفحه ۱۶۵:

قد مضى القول في الامر بالمعروف والنهي عن المنكر في هذه السورة في قوله منكم: ومن في قوله منكم للتبعيض. داد تبعيض لپاره دي معنى دا:

ان الامرين. امرين چې دي:

يجب ان يكونوا علماء . واجبه داده چې دا به علماء وي .

وليس كل الناس علماء . هر سړي خو عالم نه دي نو څنګه مامور شول په دې باندې نو دا من تبعيضي شو .

وقيل . چا ويلي .

لبيان الجنس ، والمعنى لتكونوا كلكم كذلك .معنى دا شوه چې ټول به دا كار كوي .

قلت . زه وايم .

القول الاول اصح فانه يدل على ان الامر بالمعروف والنهي عن المنكر فرض على الكفاية.

دارنګې تفسير السعدي جلد ۱ صفحه ۱۴۲ : ولتكن منكم كې هغه وايي :

ويدخل في ذلك العلماء المعلمون للدين والوعاظ الذين يدعون اهل الاديادن الى الدخول في دين الاسلام ويدعون المنحرفين الى الاستقامة والمجاهدون في سبيل الله.

او داخل دي په دې كې مجاهدين في سبيل الله ولې وايي مجاهدين في سبيل الله په لاس باندې لګيا دي خلكو ته امرِ بالمعروف كوي او نهي عن المنكر كوي .

او علماء يې په ژبه باندې كوي .

وكل هذه الامور من فروض الكفايات كما تدل عليه الآية الكريمة في قوله : ولتكن منكم امة الخ اى لتكن منكم جماعة يحصل المقصود بهم في هذه الاشياء المذكورة ومن المعلوم المتقرر ان الامر بالشيء امر به وبما لا يتم الا به فكل ما تتوقف هذه الاشياء عليه فهو مأمور به كالاستعداد للجهاد بأنواع العدد التي يحصل بها نكاية الأعداد وتعلم العلم الذي يحصل به الدعوة الى الخير وسائلها ومقاصدها وبناء المدارس للارشاد والعلم .

ارشاد علم باطن شو علم علم ظاهر شو وايي دا هم په كې داخل شول وايي دې كې چې څوک كوشش كوي دا هم حقيقت كې دعوت الى الخير دي تبليغي جماعت بناء د مدرسې بناء د خانقاه دا كله داخل ګڼي په ولتكن منكم كې .

نو دامې دې د پاره راواخیسته چې بناء د مدرسې د جهاد تربیتي تعلیمي مراکزاو دغه شان دربارونه خانقاګانې د ارشاد دا ټولې داخل دي ولتكن منكم په دعوت الى الخير كې.

زاد المسير في علم التفسير جلد ۱ صفحه ۳۹۱ : قوله تعالى كنتم خير امة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنكر، ددې معنى كوي :

قال ويجوز ان يكون امر منهم فرقة. يو ډلې ته امر شوې وي ولې :

لان الدعاة ينبغي ان يكونوا علماء. چې دا به علماء وي.

بما يدعون اليه وليس الخلق كلهم علماء والعلم ينوب بعض الناس فيه عن بعض كالجهاد.

فتح القدير للشوكاني جلد ۲ صفحه ۸ :

ولتكن منكم ومن في قوله منكم للتبعيض وقيل لبيان الجنس ورجح الأول بأن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر من فروض الكفايات يختص بأهل العلم الذين يعرفون كون ما يأمرون به معروفاً وينهون عنه منكراً قال القرطبي : الأول أصح فانه يدل على ان الامر بالمعروف والنهي عن المنكر فرض على الكفاية.

تفسير الكشاف مع الحواشي جلد ۱ صفحه ۳۹۶ :

مِنْ للتبعيض لان الامر بالمعروف والنهي عن المنكر من فروض الكفايات ولانه لا يصلح له إلّا من علم المعروف والمنكر.

وروسته وايي :

فان الجاهل ربما نهى عن معروف وامر بمنكر.

روح المعاني جلد ۲ صفحه ۲۳۸ :

ومنشأ الخلاف في ذلك أن العلماء اتفقوا على أن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر من فروض الكفايات ولم يخالف في ذلك الا النزر منهم شيخ ابو جعفر من الامامية.

د شیعه ګانو امامیه فرقې نه شیخ ابو جعفر ددې قائل دي چې تبلیغ فرض عین دي فرض کفائي نه دي خو جمهور ددې نه دي قائل.

قالوا انها من فروض الاعيان . دا قول يې شيعه ګانو ته منسوب کړو .

دارنګې تفسير السراج المنير جلد ۱ صفحه ۱۹۳ :

فمن للتبعيض لأن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر من فروض الكفايات ولانه لا يصلح له الا من علم المعروف والمنكر .

دارنګې تفسير الوسيط للقرآن الكريم جلد ۲ صفحه ۲۰۳ :

ولذا قال صاحب الكشاف مرجحا ان مِنْ للتبعيض قوله ولتكن منكم امة مِنْ للتبعيض لان الامر بالمعروف والنهي عن المنكر من فروض الكفايات لانه لا يصلح له الا من علم المعروف والمنكر .

دا ددوي د هغه استدلال جوابونه وشول چې دوي دا کله پيش کوي د امر بالمعروف او نهي عن المنكر آيتونه نو هغلته د منکم د تبعيض سره هغلته تکليف د علماء دي دعوامو نه دي او هر څوک په دې سره مراد نه دي داد امې د تبليغ مسئله وه او ډيره زياته افواه ما پسې شروع ده چې دې د تبليغ مخالف دي زه ددغه خاص مشن چې ټول عوام راغونډ دي ددغې مخالف يمه د تبليغ منکر نه يمه او نه يې مخالف يمه خپله هم الحمد لله تبليغ کومه اعلى درجه د تبليغ څه شي دي چې سړي د يهوديانو عيسويان باليد مقابله او دغه شان باللسان مقابله وشي دا اعلى درجه د تبليغ دي .

دويمه درجه کې بيا هغه دې امت کې دوه اويا (۷۲) ډلې دي د هغې مقابله بيا سړي لساني وکړي څوک به يې وکړي په پاکستان کې د شيعه ګانو مقابله به سپاه صحابه وکړي خو د خوارجو نه کوي که د خوارجو څوک وکړي بيا د شيعه ګانو نه کوي چې ددې ټولو مقابلې لپاره لګيا وي دغه شان عمل په کار دي نو دويمه درجه امر بالمعروف په معروفې عقيدوي باندې دي او نهي د منکر چې منکرِ عقيدي .

بيا دريمه درجه کې امر په معروف په مفروضاتو دي او نهي د منکر د محرماتو نه دي څلورمه درجه امر په معروف دي په مندوباتو باندې نهي د منکر دي له مکروهاتو نه تبليغي حضرات امرِ بالمعروف دا څلورمه درجه نهي د منکر خو بيخي په کې نشته دوي چيرته د منکر نه منع کړې دي امرِ بالمعروف د يهودو خلاف دا نشته په کې امرِ بالمعروف د اهل زيغ

په خلاف نشته په کې امر بالمعروف په مفروضاتو باندې هغه هم په کې نشته سوی د فرض نه باقي نورو باندې ترغيبات نه ورکوي.

دوي باندې امر بالمعروف د مندوباتو دي مسجد ته ننوځي کور ته ځي څه دعاء به کوي وغيره دا مندوبات دي دا امر د معروف د مندوباتو خلکو ته ذهن کې دا اچول چې همدغه امر بالمعروف دي او بل نه شته دا خلکو چې مقابلې د يهودانو کړې د عيسويانو هندوانو يې کړې دا چا چې ددې دوه اويا (۷۲) ډلو مقابلې کړې دا ټول امر بالمعروف نه شو او يو څو مستحباتو دعواتو باندې امر دا امر بالمعروف شو.

نو تاسو هم په دې ذهن خلاص کړې هغه اعلی درجې د امر بالمعروف راتينګې کړې او د نهي د منکر په دې اسلامي ملکونو کې مقابله د اهل زيغو وکړې دا نهي د منکر ده او د عقيدې د اهل سنت ترويج وکړې دا امر په معروف باندې دي له دې نه وروسته بيا عمل ته راکوز شي.

حکايت:

زه دې هزار خوانې کې يو ځل چا دعوت ته بوتلمه يو شيخ معروف يې هم را غوښتې وه نوم اخيستل يې مناسب نه ګڼمه نو هغه څو ځايه ما سره بيان کې مخامخ شي خو دا تعصب هم بد شي دې مونږ يې نه کوو دوي يې کوي راسره يو ځل يو ځای په کچه ګړهي کې يو پروګرام کې ورسره يو ځای شو مه اول ځل زما او دده ليدل وه دا سړي بيان ته پاڅيده او بيان دده دا وه چې تاسو جاهل قوم يې پيرانو ته په څلورې روان يې لاسونه يې مچ کوي په شاه شاه ترې روان يې او چې علماء شي طالبان شي بيا پرې سلام هم نه اچوي ټول بيان يې په دې وه دا عوام يې ښه سپک کړه خو مقصد يې رد په ما باندې وه کنه دا اشارې ټولې ما ته وې طالبان هم ناست وه هغوي هم مسکې مسکې کيدل چې مولوي صاحب نه خو يې ښکې ويستې او ما دا دعاء کوله چې يا الله اوس خير کړې هسې نه چې تقرير نه وروسته ونه تښتي چې کيني.

چې تقرير څنګه خلاص شو کيناسته دعاء مې قبوله شوه زما نمبر راغې بيان ته پاڅيدم په ډير ادبي لهجه کې ما وويل چې جناب شيخ صاحب محترم څه وويل خپل زړه يې سپک کړو د زړه براس يې ويسته يقيناً دا ستاسو کمزوري ده چې طالبانو علماو ته ولې سپک ګورې ټول بيان يې په دې کړې وه.

خو ما وویل زه صرف دغه وایمه چې جناب شیخ صاحب ټوله ګناه په تاسو واچوله چې دا ټوله غلطي هم ستاسو ده نه زما د طالب غلطي ده نه زما د ملا خو که زه سوچ وکړم دا ستاسو غلطي نه ده ځکه تاسو همغه خلک یې چې یو متدین ولې ښه سړي وګوري په څلورو ورته راځي لاسونه او خپې یې هم ښکلوي لاس کې پیسې هم ورته ږدي ځان هم پرې دموي بیا چې بالمقابل ما ملا ته وګوري سلام هم را باندې نه اچوي نو دې نه پته لګي چې دا نقصان تاسو کې نه دي دا ما ملا کیدي زه ملا د هغه پیر غوندې پوره شریعت باندې برابر نه یمه.

که زه هغسې برابر شوم نو تاسو امیان بیا ما ته هم په څلورو راځي زما لاس به هم ښکلوي زما قدر او عزت به هم کوي په دا بل طرف پرې راتاو شوم خو ښه مې برابر کړو.

بیا چې را کوز شومه ما ورته وویل شیخ صاحب خفه شوې خو به نه یې نه وایي دا خو ډیرې ښې خبرې وشوې خو دا خبره یې راته زړه کې واچوله ده هم ویلې چې بیا به چیرته سره مخامخ شو اتفاقاً څلور یا پنځه کاله بعد بیا په هزارخوانې کې سره یو ځای شو هغه د چا چې پروګرام وه دده هم شاګرد وه او زما هم شاګرد وه ده ته یې بیان مخکې ورکړو دې اوس هغه مخکنې غصه په ما سړه وې پاځیده وایي دا دور د جهاد دي او ټول خلک جهاد ته ملا وتړي دا ددې دور نه دي چې دا کافر دي دا بدعتي دي او دا اهل زیغ دي وغیره.

په دې بل طرف په ما راتاو شو ښه یې ځان سترې کړو بیا د هغې نه بعد یې عوامو ته وویل دا شکلونو ته مو ګوره مردار شکلونه ګیرې هم خریلې دي ستاسو او د کافر پته نه لګیږي په کورونو کې مو ټي ویان لګولې دي د کافرانو رواجونه هم شروع کړې دي په دې طرف یې عوام ښه سپک کړل عوام خو ډیر تنګ شول څه لاړ ترې نه.

تقریر نه چې کیناسته نو زما نمبر راغې ما بیان شروع کړو نو ما وویل چې جناب شیخ صاحب ښه خبره وکړه چې دا دور د جهاد دي د جهاد په دور کې سړي باید متفق شي د لوي کافر به مقابله کوي او یقیناً امارت اسلامي په دغه وجه باندې اهل حدیث دي که شیعه ګان د افغانستان دي که هر څوک دي ټولو ته لمن خلاصه کړې ده چې راشي مونږ سره صف کې او دریږي د کافر مقابله وکړي داد ضرورت پر بناء.

کتبو د متکلمینو لیکلي دي چې کله د کافر مقابله وي خوارج معتزله دا څو مره ډلې چې دي نو دا به ځان سره صف کې پریږدي د هغوي د مقابلې لپاره نو ما وویل امارت او

احنافو دې ته پوره ځای ورکړې دي پاتې شو دا خبره چې اوس به مونږ په دغه جماعاتو رد کوو که نه بیې کوو دا جرم دي که جرم نه دي نو ما وویل دا دې لپاره که دا رد مونږ وکړو بیا وهابیان مونږ نه خفه کیږي او زمونږ صف کمزورې کیږي لهذا مونږ به وهابي پسې څه نه وایو.

نو بیا جناب شیخ صاحب محترم ته مونږ دا عرض کوو چې بیا دې ګیر خریلو پسې هم څه مه وایه ځکه بیا دا ګیر خریلي بیا مونږ نه خفه کیږي د جهاد صف بیا کمزورې کیږي او چې کله څوک تې ویان او ډیشونه څوک لګوي دوي پسې هم څه مه وایه ځکه بیا صف خرابیږي کنه او چې څوک قتل کوي هغه پسې هم څه مه وایه ځکه صف خرابیږي.

دا ګناهونه مې را قطار کړل ما وویل چې دا هره ګناه څوک کوي څه ورته مه وایه ځکه صف د مجاهدینو خرابیږي او که نه دا عملي قبحه په چا کې وي دا نهي عن المنکر به نه پریږدي ولو که صف د مجاهدینو کمزورې شي خو ته به نهي عن المنکر کوي.

نو مونږ دا وایو چې جناب شیخ صاحب تا ته دا عقیدوي منکر منکر نه ښکاري که څنګه دده په نزد دا تې وي او دا ګیره خریل د وهابیت او رافضیت نه غټه ګناه ده چې په دې یې خپله هم ردونه وکړل دلته دا سوچ نه کوي چې صف د مجاهدینو کمزورې کیږي په تې ویانو والا رد مه کوه او چې کله اهل زیغ باندې ردود شروع شي بیا ورته دا خبره مخې ته راشي.

ما وویل چې دې نه پته لګي چې یا خو ددوي په نزد باندې دغه اهل زیغ دا منکر نه دي او تې وي والا او ګیر خرلي منکر دي او که نه هغوي ته منکر وایي نو چې په دوي رد کیږي نو په هغوي به اول کې رد کیږي انصاف دادی او که خامخا وایي چې صف کمزورې کیږي بیا به په یو هم رد نه کیږي نه به په عقیدوي منکر رد کوي نه به یې په عملي منکر رد کوي.

دا په امارت اسلامي کې هم چې بعضې خواص نه دي عوام نوي چې ورسره ملګرې شوې دي نو هغوي دا خبرې کوي ځای په ځای باندې دې ته ضرورت نشته او هغوي په خپله ... داسې سخت شرائط د افغانستان په هغه علاقو چې نفاذ د امارت نه وي راغلې هلته فذه وي ځای په ځای خطونه خوروي بعضې کارونه کوي داشې بند کړي کنه داسې کار به رسره وکړو اخطارونه ورکوي خلکو ته هم دا مجاهدین بیا دا خوروي.

نو دا عملي منکر ولې منع کوي ولې دا عوام خان نه متنفره کوي په دې څیزونو باندې هلته هم دا سوچ وکړه کنه چې زما صف کمزورې کیږي خیر دې د عملي منکر د نهي نه به ور تیر شمه خو نه ستا ذهن کې هغه منکر ښکاري او دا منکر نه ښکاري که دا درته منکر ښکاره شو نو اول قدم کې په دوي رد په کار دې نو معززو منکرات اول عقیدوي رد کړې دا فساد رد کړې او امر په معروف عقیدوي وکړي چې اهل سنت دي او د هغې نه بعد عمل ته راګوزشي چې علم مو وکړو کوی یې او زمونږ ستاسې دغه وظیفه ده ادا کوو به یې.

دې سره مسئله د تبلیغ النساء هم وه خو په دې مستقل رسائل لیکل شوي دي مفتي سیف الله صاحب د اکوړي نه کشف الغطاء عن تبلیغ النساء دا پیدا کیږي وای خلي هغه خه عبارت د فقهاو او نصوصو چې زه پیش کومه هغه ټول یې ذکر کړي دي.

او عبدالله ذاکري صاحب د افغانستان د علماو نه ده یو کتاب لیکلي دي په مشکله به پیدا شي اقوال المفسرین والمحدثین وفقهاء الامة في منع خروج النساء الی مجلس الوعظ داد هغه د کتاب نوم دي وعظ او تبلیغ ته د ښځو وتل ممنوع دي په دې باندې بیا چې هغه څومره خواري کړې هغو مره مفتي سیف الله صاحب نه ده کړې د مفتي سیف الله صاحب کتاب ما کتلي حوالې یې کمې دي خو دده کتاب ډیر جامع دي نو چې هر یو پیدا کولې شي پیدا یې کړي او اکتفاء پرې وکړي خو دې زمانه کې د سدِ باب فساد لپاره فقهاو فیصله کړې ده چې خروج ددوي مجالسو د وعظ ته او زنانه مدرسې ته لیږل او د تبلیغ په خاص شکل سره لیږل دا ممنوع دي او که دوي له دې نه جواب کوي.

لکه ما ته یو تبلیغي وویل چې دا خو مونږ دورځې نه لیږو مونږ د شپې لیږو د ماسخوتن نه بعد د ورځې یې نه لیږو نو ما ورته وویل چې وه لالا زه دې اوس څنګه پوه کړمه چې ته نه پوهیږې نو دا لانجه د شپې جوړیږي که د ورځې جوړیږي دا خو ته زما دلیل وایې خپل خو نه وایې کنه.

نو شپې خو لا فساد دي کنه نو داد هغه فساد له وجې نه دا نې نه چې د ښځې لپاره دین زده کول یا د ښځې بل چا ته دین ښودل دا به ګنې جرم وي نه د دغه فساد له وجې نه نو چې هر کله د ښځو تبلیغ ممنوع دي فقهاو ناروا ګڼلي، عمدة القاري ورته مکروه تحریمي ویلې نو دا حرام دي دې زمانه کې او دا زیارتونو ته چې کمې ښځې ځي دا خو په طریق اولی ممنوع

نو دا عملي منکر ولې منع کوي ولې دا عوام ځان نه متنفره کوي په دې ځيزونو باندې هلته هم دا سوچ وکړه کنه چې زما صف کمزورې کيږي خير دي د عملي منکر د نهي نه به ور تير شمه خو نه ستا ذهن کې هغه منکر ښکاري او دا منکر نه ښکاري که دا در ته منکر ښکاره شو نو اول قدم کې په دوي زد په کار دي نو معززو منکرات اول عقيدوي رد کړې دا فساد رد کړې او امر په معروفې عقيدوي وکړي چې اهل سنت دي او د هغې نه بعد عمل ته راکوز شي چې علم مو وکړو کوي يې او زمونږ ستاسې دغه وظيفه ده ادا کوو به يې .

دې سره مسئله د تبليغ النساء هم وه خو په دې مستقل رسائل ليکل شوې دي مفتي سيف الله صاحب د اکوړي نه کشف الغطاء عن تبليغ النساء دا پيدا کيږي واي خلي هغه خه عبارت د فقهاو او نصوصو چې زه پيش کومه هغه ټول يې ذکر کړي دي .

او عبدالله ذاکري صاحب د افغانستان د علماو نه ده يو کتاب ليکلي دي په مشکله به پيدا شي اقوال المفسرين والمحدثين وفقهاء الامة في منع خروج النساء الى مجلس الوعظ داد هغه د کتاب نوم دي وعظ او تبليغ ته د ښځو وتل ممنوع دي په دې باندې بيا چې هغه څو مره خواري کړې هغو مره مفتي سيف الله صاحب نه ده کړې د مفتي سيف الله صاحب کتاب ما کتلي حوالې يې کمې دي خو دده کتاب ډير جامع دي نو چې هر يو پيدا کولې شي پيدا يې کړي او اکتفاء پرې وکړي خو دې زمانه کې د سد باب فساد لپاره فقهاو فيصله کړې ده چې خروج ددوي مجالسو د وعظ ته او زنانه مدرسې ته ليږل او د تبليغ په خاص شکل سره ليږل دا ممنوع دي او که دوي له دې نه جواب کوي .

لکه ما ته يو تبليغي وويل چې دا خو مونږ دورځې نه ليږو مونږ د شپې ليږو د ماسخوتن نه بعد د ورځې يې نه ليږو نو ما ورته وويل چې وه لالا زه دې اوس څنګه پوه کړمه چې ته نه پوهيږې نو دا لانجه د شپې جوړيږي که د ورځې جوړيږي دا خو ته زما دليل وايې خپل خو نه وايې کنه .

نو شپې خو لا فساد دي کنه نو داد هغه فساد له وجې نه دا سې نه چې د ښځې لپاره دين زده کول يا د ښځې بل چا ته دين ښودل دا به ګنې جرم وي نه دد غه فساد له وجې نه نو چې هر کله د ښځو تبليغ ممنوع دي فقهاو ناروا ګڼلې ، عمدة القاري ورته مکروه تحريمي ويلې نو دا حرام دي دې زمانه کې او دا زيارتونو ته چې کمې ښځې ځي دا خو په طريق اولى ممنوع

دي ځکه چې علم فرض دي جمع سنت مؤکد ده اعتکاف سنت مؤکد دي دې ته راتلل او عیدینو ته تلل دا ممنوع شول مدرسې ته تلل علم فرض دي ممنوع شول نو زیارت ته تلل خو درجه استحبابي د ښځو په حق کې اختلافي د اول نه اختلاف دي چې جائز دي که ناجائز.

ځکه جائز هم شي چې هر کله د فساد له وجې نه دغه فروض پاتې شول دوي نه چې دا په علم ته نه ځي تبلیغ ته به نه ځي او مسجد ته به نه ځي نو بیا به زیارت ته تلل په کوم دلیل روا شي هغه په طریقِ اولی ممنوع دي سره له دې نه چې فساد مدرسه او تبلیغ کې به هم وي خو په زیارتونو کې چې نن صبا څومره فساد خور دي او خورېږي نو دومره په دا نورو کې نه خورېږي او زیارتونه د اولیاء بې آدبي پرې مه کوي.

خو د هغې نه سوا د دې ښځو د لاسه د زناګانو اډې جوړې شوې دي او څومره لوچه ګان چې ځي هغه دې زیارتونو ته ځي او د هغې ځای نه جینکې اوچتوي او بیا نورو کارونو پسې ځي او دا بد کاره ښځې هم چې کوم دي چې په لاره اورونو باندې زانیان ورته پیدا نه شي نو دیو زیارت طرف ته لاړ شي هغلته ځان ته زنا کار ګوري نو دا زیارتونو ته د ښځو تلل په دغه شکل باندې هغلته بیا میلې کول او نور غیر شرعي کارونه کول حرام دي.

دا د یهودیانو عیسویانو د هندوانو او د بت پرستو رواجونه دي چې زمونږ خلکو کې راخواره شوې دي د هغې په کلکه باندې ممانعت کوي باقې مرید کول د ښځو زه د هغې هم موافق نه یمه.

هر کله چې علم ظاهر مدرسې ته تلل یې ممنوع دي نو په علم باطن کې هم دغه مسئله ده او که څوک وایي چې د هغې بله لاره نشته ولې نشته بس یوه شیخ الطریقه زنانه دې شي خاوند دې خپلې بي بي خپلې خور ته طریقت ورکړي اسباق دې ورکړي په دې کې دې ارشاد ورته وکړي هغې نه بعد دي بیا هغه زنانه شروع شي هغه دي د دې ارشاد وکړي نور لاړې شته کنه خو راتلل د هغې خواص به مستثنی کړمه خو دا عام خلک اکثر د دې نه فساد جوړېږي که د شیخ الطریقة کور ته ورځي هغه باندې به ستا بنه ګمان وي د هغه ځامن بچي د هغه لمسیان هغوي باندې څه اعتماد دي د دغه کورونو زنانه چې پیرانو ته هم ځي دا هم ممنوع دي او دغه شان علم ته تبلیغ ته او مزاراتو ته دغه کتابونه پیدا کړي په هغې کې حوالې د فقهاو مذکورې دي.

الرد على الألباني الوهابي :

التحقيق في الرد على الالباني الوهابي :

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾

و ايضاً قال الله تبارك وتعالى : ﴿ أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ ﴾ .

نن بله مسئله چې زيرِ بحث ګرځوو هغه مسئله رد على الالباني ده ځکه يې زيرِ بحث ګرځوو چې نن صبا طالبان او ملايان لاړ شي د قصه خوانې مکتبو ته چې کتاب اخلي وايي هغه کتاب راکړه چې محقق وي نو ده غريب نوي د تحقيق نوم اوريدلې وي او په دې باندې خبر نه وي چې دا تحقيق پرې چا کړې دې يو خو پخواني محدثين وه لکه حافظ العراقي چې تخريج د احاديثو د احياء هغه کړې دې د احياء العلوم احاديث يې نقل کړي او د هغې تخريجات يې کړي .

او يو دا نن صبا تخريجات دي دا نن صبا چې کوم تخريجات دي دا کمپيوټرائز دي دا مکتبې ورسره کمپيوټر کې پرتې دي او راپورته کيږي حديث پرې را اړوي علمي قوه خپله نه لري په اسماء الرجال په علم درايت الحديث او روايت الحديث کې هيڅ فهم نه لري په اصطلاحاتو او په حديثو باندې علم نه لري بس د ځان نه تقليداً للالباني که تخريجات کوي او څه خبرې نقلوي کوم حديث چې ددوي د رايې او هوا خلاف وي بس هغه ضعيف او چې کوم حديث ضعيف وي او ددوي د رايې موافق وي هغه قوي .

په دغه سلسله باندې دوي تحقيقات کړې او تخريجات يې کړې نو چونکې په دې فتنه کې طالبان او علماء ټول اخته دي چې دوي دا فرق نه کوي چې دا تحقيق چا کړې دې ، خو خوشحال شو چې ما کتاب واخيسته تحقيق والا دي او يو کتاب هم دې وهابيانو بې تحقيقه نه دي پريښې دا اسانه رد دي .

اوس که داسې عنوان يې ورکولې چې زه د امام ترمذي په رد باندې کتاب ليکمه نو هر چا به ويل چې دا څو مره ګستاخ دي د محدث خلاف کتاب ليکي راځه داسې عنوان مه ورکوه چې ما د ترمذي رد کړې دي عنوان ورکړه تخريج احاديث ترمذي د ترمذي د احاديثو

تصحيح مې کړې دي نو تخريج ته څه ضرورت دي د ترمذي صحاحو سته وو کې چې حديث پيدا شي ما ته د نورو د کتابونو د تخريجاتو څه ضرورت دي خو دې راپورته کيږي تمامه ترمذي کې چې کوم احاديث دده د رايې موافق دي صحيح او چې دده د رايې خلاف دي ضعيف.

طالب بره حديث وګوري لاندې چې تحقيق ته وګوري ضعيف هميشه يې پريږدي هغه وايي چې رشتيا ضعيف دي بيا شعيب الأرنوط دي او که نور دي هغوي يې خپله وکړي نور خو راندہ چرګان دي بيا څه وايي:

كذا قال الشيخ في السلسلة. دا چې ما څه ويلې دا د شيخ په سلسله کې دي.

مراد له شيخ نه الباني اخلي او مراد له سلسلې نه سلسة احاديث ضعيفه اخلي او يا که حديث دفع کوي:

كذا قال الشيخ في صحيحه سلسلة الاحاديث الصحيحة.

هغه يو بل کتاب ليکلي دي بس په هغې حواله شي نو طالبانو تحقيق نشته نن صبا د رايې اتباع ده د هوا اتباع ده او دغه کوم تحقيقات يې چې کړې کمپيوټرائز دي کله هم چې کتاب اخلي محقق مه اخلي تير شي له دې تحقيق نه خپله پرې تحقيق وکړي تخريج وکړي بيا به درته پته لګيږي چې حديث څنګه دي او که ددوي تحقيقاتو پسې لاړې نو دوي هغه حديث چې د رايې موافق دي قوي دي او که د رايې مخالف دي ضعيف او که بيا هم تاسو معلومات کوي چې دا محقق به څوک وي د اردن او د شام اهلسنت هم تحقيقات کړې دي خو بيا هم تاسو هلته په مکتبه کې دري څلور پاڼې د هغه کتاب وګوري په هره پاڼه کې حواله پرې ورکوي: **كذا اقر الالباني في صحة الاحاديث**، يا: **كذا قال الشيخ الالباني في السلسلة** چې دغه ټکي مو په کې وليد بس رد يې کړې، دې نه تير شي دا له فساد نه ډک وي.

نو زه تاسو ته د الباني تعصبات بنايمه تاسو به وايي چې شيخ غلام حضرت هسې له وهابيانو سره وران دي او له الباني سره دا الباني نن صبا وهابيان وايي چې الباني مجتهد نه شي نو امت کې له سره مجتهد تير شوې نه دي دومره غټه عقيده ورته ساتي دا دوه کسان نن صبا په امت کې معروف ګرځيدلې دي او ډير خطرناک دي يو د هغې نه ډاکټر ذاکر نائيک

چې دا هم اهل حديث غير مقلد دي او دعوى د اجتهاد يې هم کړې ده چې زه مجتهد يمه شکل به يې تاسو نه وي کتلې ذره نور په کې نشته نو يو په ذاکر نائيک باندې عوام دهوکه شول.

او په الباني باندې علماء او طالبان دهوکه شول او دوارو د اهل حديثو نه دي دوارو د برطانيه د ديني ادارو سرسخته جاسوسان دي برطانيه زمونږ اسلامي تاريخ کې د مسلمانانو سره انتهائي زياته دشمني کړې ده دا اوس يې مه ګوري چې نرمي کوي دا له جنګ وليدلې دي اسلامي تاريخ کې امريکا خو اوس مينځ ته راغله ټوله مقابله د مسلمانانو سره برطانيه کړې ده.

برطانويانو يو تنظيم لري په نوم د تنصير باندې د تنصير دغه تنظيم معنی داده چې غير نصراني په څه شکل نصراني شي خلک نصرانيان کول بيا چې په برطانيه کې څومره عيسويان دي زمونږ خو څلويښتمه روپي د زکات ده د هغوي څلورمه روپي د زکات ده نو کوم چې دوي کې په نصرانيت متدين اشخاص دي چې زکات ورکولو والا قول کوي او ورکوي يې هغوي ټول په ټوله دا روپي را اخلي تنصير تنظيم ته يې ورکوي بيا د تنصير تنظيم د مسلمانانو په ملکونو کې څلور يا پنځه شبکو باندې کار کوي.

يوه شبکه دار الايتام ده چيرته چې دار الايتام ګوري داد برطانيه د تنصير د تنظيم پرچار دي ددوي مقصد يتيمان راغونډول وي دې ادارو ته او په هغې کې عيسويان کول څومره دار الايتام چې دي سخته پابندي ده هلته څوک غير هلته نه شي ننوتلې چې هلته څه حالات دي غير له دغه طلباو نه به هيڅوک پرې پوه هم نه شي چې هلته طريقه د تدريس او تعليم څه ده کوم کتب درس کيږي حفظ کيږي که علم کيږي.

چې شل (۲۰) کاله د دار الأيتام خوا کې تير کړي خو ته به پرې پوه نه شي چې دار الأيتام کې د ننه د درس لهجه څه ده نو دا ډيره مخفي ده او دا ډير په مخفي طريقه باندې دا يتيمان خواران چې پلار انو يې د نصرانيانو په خلاف شهادت ته ځان رسولې هغه بې دينان راوليږيدل په يو څو روپو باندې چې د هغه کورني ته څه مفاد ورکوي بچي راولي دار الايتام کې داخلوي مرور د وخت سره اولني رتبه کې غيرِ مقلد او په منتها کې هغه بيا عيسوي شي.

دويم د تنصير تنظيم پرچار هغه په تعليم او تربيه دي مدارس جوړوي، او دريم مستشفى شفاخانې جوړوي په هغې کې بيا ډاکټران او نورپوهاندان د ملک هغوي

نصرانیت ته دعوت کوي او څلورم مؤسسات این جیوز دي د کوهیانو د مساجدو د روډونو د پلونو او د نورو خیریه ادارو په شکل باندې ایجادونه کوي او په هغه ملک کې د تنصیر د تنظیم لپاره کارونه کوي او پنځم کار د تنصیر د تنظیم اخبارات او رسالې چاپ کول دي.

دا کوم مضمون چې تاسو ته ما وویلو داد طالبانو په حکومت کې نهه (۹) کسان د عیسویت په تور جاسوسان ونیول شول اکثره خلکو ته یه شاید چې پته وي څه سړي وه څه ښځې وي دا یې بندیان کړل او غزني ولایت ته یې نقل کړل دلته دنیاوال راګرم شول په دې چې دا راخوشي کړي طالبانو نه خوشي کول.

کاشکي ځنې سره اعدام شوې وي دا چې ولې معطل کړې شول والله اعلم او آخر کې خوشي هم شول د هغه کسانو باره کې د پنجاب نه یو اهل حدیث وحدت اخبار ته بیان ورکړو چې اسلامي تاریخ کې د عیسویانو نه مسلمانانو ته څه خطر نه دي پیدا شوې طالبانو ته په کار دي چې د عیسویت په تور تورن کسان دې خوشي کړي.

داد اهل حدیثو د یو مشر بیان وه هغه اخبار ما له ځان سره ساتلې دي نو په صبا باندې بیا یو بل اهل حدیث چې هغه د استاد سیاف په تنظیم کې یو مشر سړي وه هغه باندې دا خبرې غلطې لګیدلې وي نو هغه ټول د اهل حدیثو تاریخ بیان کړې وه او د تنصیر د تنظیم واقعې بیانې کړې وي نو دا ټوله قصه یې بیان کړه چې اسلامي تاریخ کې عیسویانو د تنصیر په تنظیم سره څومره مسلمانان عیسویان کړل او په کومه لاریې عیسویان کوي بیا یې د پاکستان تاریخ ویلې وه چې په دې تاریخ کې یو عیسوي هم نه وه نن دومره دي دا ټولو اسلامي ملکونو کې د هغوي کلیساوې شمار کړې وي انتهائي زیات معلومات دغه دویم اهل حدیث ته وه.

هغه اول لیکونکي احسان الهي ظهیر وه مشهور اهل حدیث دي او دا دویم چې جواب لیکلې وه د احسان الهي ظهیر په جواب کې دا یې عنوان وه نو بیا یې دا عبارتونه ویلې وه او ویلې یې وه چې د تنصیر تنظیم په پنځه شکله پرچار کوي لکه مخکې تیر شو.

دغه برای نام مجتهد ډاکټر ذاکر نائیک د برطانیې کلک ګوډاګي دي وبه ګوري چې یو وخت کې به د مهدیت دعوی هم دې کوي او ډیر عوام به بیا ده پسې روان وي او دغه شان علماءیې چې پرې دوکه کړل هغه هم د برطانیې ایجنټ وه د تنصیر د تنظیم لخوا نه روزل

شوي وه چې زمونږ په امت کې نه حديث پريښودل او نه فقه ټول يې تس نس کړل ځکه دا عظيمه ذخيره د حديثو چې امت پرې اعتماد کولو ده بې اعتماده کړه.

تاسو چې اوس ګورې صحيح ترمذي ضعيف ترمذي صحيح ابي داؤد ضعيف ابي داؤد حتی چې صحيح مسلم او ضعيف مسلم ته يې هم لاس واچولو بيا علماء د عربو او عجم را پورته شول او په دې يې ردود وکړل.

دغه شان صحيح نسائي ضعيف نسائي صحيح مسند احمد ضعيف مسند احمد دا ټول يې تقسيم کړل بس چې کوم د ده د رايې موافق وه او د ده خوښ وه هغه قوي چې کوم د ده د رايې خلاف وه هغه ضعيف داسې نه چې هغه تحقيق کولو دې باندې.

نو دا مسئله ما زير بحث کړه چې طالبان د ده په کتابونو عاشقان نه شي او دا ګمان ونه کړي چې دا ګڼې د اسماء الرجال د علماو د دې فن نه ده.

ماكان اهلاً للتصحيح والتضعيف. الباني اهل د تصحيح او تضعيف نه وه.

لان الشرط التصحيح والتضعيف الحفظ والالباني ماكان حافظاً لذا تراه متناقضاً في اكثر المواضع. ډيرو ځايونو کې به دې متناقض ګورې ځکه حافظ نه دې يو ځای کې به حديث ته ضعيف وايي بل ځای کې به ورته قوي وايي او دې خپله هم ځای په ځای په کتبو کې ليکلي چې زه حافظ د اوراقو د کتبو يمه خو زه حافظ د حديثو نه يمه.

تدريب الراوي کې سيوطي رَحِمَهُ اللهُ ليکي چې شرط د تصحيح او تضعيف لپاره هغه حفظ دې چې حافظ د حديثو وي تصحيح او تضعيف يې ومني که حافظ د حديثو نه وه مه يې تضعيف مني مه يې تصحيح يو سړي وايي دا حديث صحيح دې دا سړې حافظ د حديثو دې او که نه دې که نه وه قول ته يې اعتبار نشته دا حديث ضعيف دې هم هيڅ اعتبار ورته نشته ولې ډير کرته سند ضعيف وي تفرد د روايت کې راوي باندې جرحه وي بيا له وجې د تعدد د طرقو نه چې بل کتاب بل محدث په بل سند سره دغه مضمون چلولې وي بل سند موجود وي هغه سند هم چې ځان ته واخلي ضعيف دې دا هم ضعيف دې دريم سند دې هغه هم ضعيف دې ليکن حديث ضعيف اذا تعدد طرقه حسن لغيره شو او حسن لغيره له مقبولاتو نه دې نو مقبول شو.

که ته حافظ د حديثو نه يې او يو سند پسې لاړې او دا يو راوي دي راتينګ کړو نو حکم به وکړي ضعيف اوس تعدد د طروقو تا ته څه پته ده چې دا حديث خو مسند احمد هم را اخيستې دي دا خو طبراني او بيهقي هم را اخيستې دي په دغه مرتبه کې چې کوم راوي جرحه کوم هلته بل راوي موجود دي نو چې حافظ د حديثو نه وي حافظ د حديثو کې باندې داکاروي چې هغه لکه قرآن کريم چې قاري ځان سره تکراروي مياشت کې يو ځل دوه هغه هم د احاديثو تکرار کوي ګردان يې کوي چې ګردان يې نه کړي له ياده يې نه وځي او چې کله څوک حافظ د حديثو نه وي نو دې کله هم ددې حق نه لري چې د يو حديث متعلق صحيح يا ضعيف وو ايي نه شي ويلې ځکه هغه تعدد د طروقو دده په حافظه کې نه دي پروت.

دا په کمپيوټر هم نه معلوميږي کمپيوټر کې خو به ته يو حديث ته ونبنلې د هغې به تحقيق وکړي د ټولو احاديثو بيا تا ته څه پته لګي چې دغه حديث بيا بل ځاى کې په کومه طريقه ذکر دي او په کوم سند ذکر دي يو ائې او يو ائې دا په حفظ الحديث کيږي چې کوم کسان حافظين د احاديثو وه لس لاکهه احاديث به يې ياد وه او دا ټول به يې مکررول د ګردان په شکل باندې سره د سند نه او سره د عبارت نه هغوي ته به دا پته لګيده لکه ابوزرعة الرازي ابوحاتم الرازي امام بخاري امام نسائي امام ترمذي رَحِمَهُمُ اللهُ هم خلک ددې اهل نه ګڼي د تصحيح او د تضعيف اهل يې بعضې نه ګڼي بلکې دې ناقل ګڼي د اقوالو د هغوي.

نو مرتبه علمي د الباني چې کومه وه په هر لحاظ سره دې داسې مدرس د فنونو نه وه پاتې شوې چې ګڼې ده علم کړې وه بيا يې تدريس کړې وه بيا يې ګڼې بخاري او مسلم درس کړې وه شيخ الحديث پاتې شوې وه نه دا شامله د برطانويانو په کومکونو باندې دا دوي ټول کتب کمپيوټر ته ورسول غير يې خبر نه کړل چې دا مونږ رسولې دي دا يې درج کړل او کمپيوټرو ته يې خپل شاګردان کينول او په حديثو ولګيدل چې کوم يې خوښ وه قوي چې کوم يې خوښ نه وه ضعيف تقريباً دوه ويشت (۲۲) کاله دا مکتبه دوي پټه وساتله هيڅا ته يې هم ښکاره نه کړه چې ګڼې مونږ داسې مکتبه لرو او داسې خواري مو کړې ده.

دوه ويشت (۲۲) کاله بعد علماء او معاصرين په دې باندې د هغه دور د شام قاضي القضاة عبدالله هيرري الحبشي يا حسن بن علي الثقاف يا ابو غده دا عمده عمده اشخاص چې وه يا محمد صديق الغماري دا خلک پرې باندې خبر شول چې دا خو مونږ وويل چې ګڼې

دا کتاب نه لګیا دي دا خو کمپیوټر ته ننبتي دي او علم نشته په اسماء الرجال له ځان نه لګیا دي دا څیزونه کوي هغې نه بعد په تلاش باندې دوي دا مکتبې حاصلې کړي او خپلې مکتبې یې هم جوړې کړي.

نو د هغوي یې کلکه مقابله وکړه نو په الباني باندې مختلف ردود شوې دي یو ئې حسن بن علي الثقاف په نوم د تناقضات الالباني الواضیحات باندې ۷ جلد کتاب لیکلې دي لیکن وهابیانو سره پیسې دي چې قصه خوانې ته راشي چې هر څو جلد پیسو باندې واخلي چا ته یې نه پرېږدي چې واي خلي خو ډیر ضروري کتاب دي دري جلد ما حاصل کړې دي په ډیر تلاش باندې خو دا ۷ جلد کې شائع دي.

دې په خپل کتاب کې وایي که د یو سړي غلطي یو دوه یې دوه یې حتی که (۱۰) هم واي ما ده پسې کتاب نه لیکه بلکې زما په علم کې دده غلطي (۱۰۰۰) ته رسیدلې دي یعني (۱۰۰۰) ځایه د صحیح ته ضعیف ویلې او ضعیف ته یې صحیح ویلې بیا دا ۷ جلد کتاب د لیکلې دي او په دې کې صرف تناقضات الباني را غونډ کړي دې تاسو ته ما په **تلك عشرة كاملة** باندې اکتفاء کړې ده ما دا مشت نمونه خروار پیش کړې دي.

باقي تاسو به دا کتاب د حسن بن علي الثقاف په نوم پیدا کړې داد متکلمینو نه دي په علم کلام کې ډیر زیات وارد دي او دده تقریباً ۱۳ کتب ما پیدا کړې دي ډیر ښکلي کتابونه دي او خپله شافعي مذهبي دي د شام دي او د شیخ عبد الله هیرري حبشي شاګرد دي هغه د شام قاضي القضاة وه وفات شوې دي او طریقه قادریه به یې چلوله او د فقهې شافعي یو امام وه او دده ډیر شاګردان وه نو دا یوه لویه مقابله د اهل حدیثو له اهل سنت سره روانه وه چې داد شیخ عبد الله هیرري حبشي او د الباني په مینځ کې وه او ۱۶ مناظرې د شیخ عبد الله هیرري الحبشي او د الباني په مینځ کې شوې دي.

ما په مسقط عمان کې د شیخ عبد الله هیرري الحبشي ۱۶ شاګردان ما ته راغلل څه طالبان وه څه علماء وه بیا یې ما سره ډیر شپې وکړې عرب وه او د هغوي زما عقیده او مسلک او دلائل ډیر خوښ شول بیا هغوي ما ته ډیر کلک وه چې مونږ به تا شام ته بوځو مونږ به خپل شیخ ته تا ښایو چې پاکستان کې هم داسې علماء دي چې ددې خلکو مخالف دي بیا چې په دویم ځل زه مسقط عمان ته لاړم دوي شام ته تللې وه نو د شام نه یې ما ته په تحفه کې

د هيرري حبشي د علي الثقاف د مختلفو علماو تقريباً ۳۰ كتابونه په تحفه كې راكړه هغه كتابونه اكثراً دلته پيدا كيږي نه خو هريو انتهائي د كمال نه ډك كتابونه په رد د وهابيانو هغوي ليكلي دي .

تاسو اوس ګورئ د الباني هغه تعصب لره يو كتاب ليكلي په نوم د صحيح وضعيف سنن النسائي صحيح او ضعيف يې بيل كړې دي جلد ۷ صفحه ۴۷۳ ده حديث پيش كوي چا نبي اكرم صلى الله عليه ته وويل د يو سړي باره كې :

طلق امرأته ثلاث تطليقات جميعاً فقام غضباناً . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په غصه پاڅيده .

ثم قال ايلعب بكتاب الله وانا بين اظهركم حتى قام رجل وقال يا رسول الله الا اقتله .

تحقيق د الباني ده ضعيف دا حديث ضعيف دي په صحيح ضعيف نسائي جلد ۷ كې دې ته ضعيف وايي .

ثم ناقضه .

بيا نو دده له ياده وتلې دي چې ما خو په يو كتاب كې دې ته ضعيف ويلې خپله يې تناقض پرې وارد كړې په كتاب غاية المرام في تخريج احاديث الحلال والحرام دده كتاب دي په جلد ۱ صفحه ۱٦۴ كې وايي صحيح .

وقد صح أن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخبر عن رجل طلق امرأته ثلاث تطليقات جميعاً فقام غضبان ثم قال ايلعب بكتاب الله وأنا بين اظهركم .

نو دې وايي :

صحيح اخرجه النسائي اخراج يې نسائي كړې حديث صحيح دي يو حديث دې يو متن دې يو سند دي .

يو كتاب را اخيستې دې هغلته په صحيح ضعيف نسائي كې وايي چې ضعيف او دلته وايي چې صحيح نو دده په قول څنګه اعتماد وشي .

دروغجن واي حافظه نه لري هغه قول يې هم په دروغو كړې تحقيق سندي يې نه دي كړي بس قول يې كړې دا يې هم په دروغو كړې .

دویم تناقض : مختصر ارواء الغلیل جلد ۱ صفحه ۱۱۹ کې دا حدیث پیش کوي:

قال صلی الله علیه وسلم الجمعة على من سمع النداء رواه ابو داؤد .

نو الباني په مختصر ارواء الغلیل کې لیکلي دي حسن .

او په صحیح مشکاة المصابیح په هغې کې لیکي جلد ۱ صفحه ۳۰۷ کې وایي ضعیف هلته یې حسن کړو دلته یې ضعیف کړو .

دریم تناقض : صحیح ضعیف سنن النسائي جلد ۱ صفحه ۱۷۳ کې :

اخبرنا علي بن حجر قال انبأنا شریك عن المقدام بن شریح عن ابیه عن عائشة رضي الله عنها قالت من حدثکم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم بال قائماً فلا تصدقوه ما کان یبول الا جالساً .

تحقیق د الباني دادی صحیح ، سلسلة الاحادیث الصحیحة صفحه ۲۰۱ .

ثم ناقضه . بیا مناقضه پرې پیش کوي تناقض دي .

صحیح مشکاة جلد ۱ صفحه ۷۸ کې لیکي ضعیف .

نو دغه حدیث یې په سلسلة الاحادیث الصحیحة کې صحیح کړو .

ثم ناقضه .

مشکاة المصابیح جلد ۱ صفحه ۷۸ کې وایي ضعیف .

څلورم تناقض : سلسلة الاحادیث الصحیحة جلد ۴ صفحه ۳۰۳ کې وایي دا حدیث ذکر کوي :

ثلاثة لا تقربهم الملائکة : الجنب والسکران والمتضمخ بالخلوق .

الباني وایي : اخرجه البزار .

بیا وایي : قلت وهذا اسناد صحیح کما قال المنذري في الترغیب : جلد ۱ صفحه ۹۱ ، ورجاله ثقات ، ثم ناقضه . بیا بیرته مناقضه پرې پیش کوي .

صحيح وضعيف الجامع الصغير جلد ۳ صفحه ۳۱۶:

ثلاثة لاتقربهن الملائكة بخير جيفة الكافر والمتضمخ بالخلوق والجنب.

تحقيق د الباني دادى: **ضعيف.**

نو په كتاب د سلسلة الاحاديث الصحيحة كښ صحيح كړ او رجاله ثقات، او په صحيح ضعيف جامع الصغير كښ ضعيف كړ.

پنځم تناقض: الجامع الصغير وزيادته جلد ۱ صفحه ۱۱۷۶ دا حديث چې:

النوم اخو الموت ولا يموت اهل الجنة.

د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت پيش كوي:

قال الشيخ الالباني صحيح. دا حديث صحيح دي.

مشكاة المصابيح جلد ۳ صفحه ۲۲۸ كښ ليكي: **ضعيف**، دا ضعيف دي.

دارنګې صحيح وضعيف سنن ابي داؤد جلد ۹ صفحه ۳۰۹ كښ هم ضعيف ذكر كوي.

شپږم تناقض: سنن ابي داؤد كښ دا حديث:

عن عبدالله بن عمرو عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال اتركوا الحبشة ما تركوكم فانه لا يستخرج كنز الكعبة الا ذو السويقتين من الحبشة.

تحقيق د الباني دادى حسن، بيا مشكاة المصابيح جلد ۳ صفحه ۱۷۸ كښ ليكي: ضعيف، دا **ضعيف** دي.

اوم تناقض: مشكاة المصابيح جلد ۱ صفحه ۳۷۹ كښ دغه حديث چې:

وعن عبادة بن الصامت قال كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا تبع جنازع لم يقعد.

ددې حديث باره كښ ليكي: ضعيف، دا حديث ضعيف دي.

او بيرته په صحيح ابن ماجة جلد ۱ صفحه ۲۵۸ كښ ليكي: **حسن** دا حديث حسن دي.

اتم تناقض: مشكاة المصابيح جلد ۳ صفحه ۵:

وعن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال ليس منا من تشبه بغيرنا لا تشبهوا باليهود ولا بالنصارى الخ.

ددې باره کې ليکي : ضعيف ، او بيا په الصحيحة کې او په صحيح وضعيف سنن الترمذي جلد ٦ صفحه ١٩٥ کې همدا حديث ذکر کوي تحقيق الالباني دادی حسن.

نهم تناقض : صحيح الترغيب والترهيب جلد ٢ صفحه ٨٢ کې :

وعن ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كتبت عند سورة النجم فلما بلغ السجدة سجد وسجدنا معه وسجدت الدواة والقلم.

نو دا ذکر کوي چې رواه البزار باسناد جيد ، او دې خپله وايي : حسن ، حسن دي.

ليکن مشکاة المصابيح جلد ١ صفحه ٢٢٦ کې ليکي : ضعيف.

لسم تناقض : صحيح وضعيف الجامع الصغير جلد ۵ صفحه ۵۹ کې دا حديث ذکر کوي :

اذا عمل احدكم عملاً فليتقنه فانه مما يسلي بنفس المصاب.

نو ددې حديث متعلق دي ليکي : تحقيق د الباني دادی : ضعيف جدا ، سخت ضعيف دي.

بيرته بيا صحيح وضعيف الجامع الصغير جلد ٧ صفحه ٢٠٨ کې ليکي :

عن عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا روايت پيش کوي تحقيق د الباني دادی حسن ، دا حسن دي يو ځای حديث صحيح بيا ضعيف بيا ضعيف وي بيا حسن وي.

دا مُشت نمونه خروار په دې شکل دا ما په دې شامله کې کتب الالباني چې څو مره دده کتب دي هلته شته دي دا هغې نه ما لږ خواري وکړه تقريباً نيمه کينته او دده تناقضات مې راويستل نو دا صاحبان بيا ناست دي ورته دده کتابونو ته.

نو حسن بن علي الثقاف ورکې زر (۱۰۰۰) تناقضات ښايي چې ما زر تناقضات دده کتابونو کې پيدا کړه چې صحيح ته ضعيف ويلې او ضعيف ته يې صحيح ويلې نو بيا يې يو څو جلدونه په دې هم ليکلي چې دې ورته ضعيف وايي نو هغه ضعيف نه وي.

دا خبره يې له ځان نه کړې وي بيا يې په هغې اقوال را اخيستې دي کوم حديث ته چې ده صحيح ويلې وي هغه صحيح نه وي هسې له ځانه لګيا وي هغه ضعيف وي ده صحيح کړې وي بيا يې په هغې هم تحقيقات کړې دي.

نو خلاصه ددې مختصر مسئلې داده چې ددغې الباني په کتبو اعتماد مه کوي مکتبه کې کتب اخلي تخريجات والا مه اخلي او که اخلي نو د شعيب الأرنوط والاد الباني دا تحقيقات مه ګوري په دې کې که تحقيقات ګوري د حسن بن علي الثقاف وګوري بعضې تحقيقات علامه کوثري کړي هغه وګوري بعضې تحقيقات حافظ العراقي کړې هغه وګوري بعضې تحقيقات ابو غده کړې دي بعضې تحقيقات محمد صديق الغماري کړې دي بعضې شيخ عبدالله هيرري کړې دي هغه تحقيقات معتمد دي.

ددغه الباني او د شعيب الارنوط وغيره تحقيقات بناء دي په تعصب او مذهبيت ددوي باندې او کوم چې ددوي د راى موافق وه قبول کړې دي او چې نه وه رد کړې دي ددې لپاره مې دا مختصره موضوع وچيړله.

مسئلة القراءة خلف الإمام :

التحقيق في القراءة خلف الإمام :

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم : ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ سورة الاعراف آيت : ۲۰۴.

بله مسئله د قراءت خلف الامام ده اربعة ائمه کښ ثلاثة ائمه مونځونه دوه قسمه دي څه جهري دي څه سري دي په جهري مونځونو چې د سحر ماښام او ماخوستن دي.

جمهور ائمه چې ثلاثة ائمه دي امام مالک، امام احمد امام ابو حنيفة رَحِمَهُمُ اللهُ په دغه دري مونځونو کښ مقتدي لپاره لوستل د فاتحې او د سورة مکروه ګڼي په کراهيت تحريمي سره.

او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په جهري مونځونو کښ هم مقتدي لره د فاتحې قائل دي خو هغه وايي چې په سکتاتو د امام کښ دي ولوستلې شي چې مخالفت د فاستمعوا له وانصتوا سره رانه شي.

امام چې د دوه آيتونو مينځ کښ لږ غلې کيږي نو دغه وخت کښ دې وايي ولا الضالين سره چې کومه سکته کيږي نو دغه وخت کښ دې وايي البته د جمهورو ثلاثه ائمه وو دا قول چې جهري مونځونو کښ قرائت د فاتحې او د سورة مکروه دي.

په دې کښ امام احمد رَحِمَهُ اللهُ يو څه تفرد لري هغه وايي چې تر کوم ځای پورې د امام آواز مقتديان اوري تر هغه ځای پورې کراهيت دي کومو مقتديانو ته چې د امام آواز نه رسيده هغوي فاتحه وروسته د امام پسې لوستلې شي داد امام احمد رَحِمَهُ اللهُ قول دي.

امام مالک امام ابو حنيفة رَحِمَهُمَا اللهُ په جهري لمونځونو کښ مقتدي لره د قرائت سخته منع کوي بالکليه يې قائل نه دي د امام آواز اوري او که نه اوري خو په جهري لمونځونو کښ يې قائل نه دي.

امام احمد رَحِمَهُ اللهُ اصلي علت پسې تللې دي چې علت د منعې فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون دا آيت دي نو استماع هغه وخت کښ کيږي چې د امام قرائت څوک واوري

چې څوک يې نه اوري هغه ته خطاب د فاستمعوا وانصتوا متوجه نه دي امام مالک او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ علت د منعې د قرائت للمقتدي په صلاة جهري کې يوائې دا آيت نه ګرځوي بلکې هغه احاديث ګرځوي چې :

من كان له امام فقراءة الامام له قراءة.

نو هغه قرائت لـه ده نـه كفايت كوي ضرورت نشته دي قراءت دده لره دا پـه جهري لمونځونو کې شو.

هر چې سري لمونځونه دي د ماسپښين او مازديګر نو په دې کې ثلاثة ائمه جمهور امام مالک امام احمد امام شافعي رَحِمَهُمُ اللَّهُ مقتدي لره د قراءت خلف الامام قائل دي او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ قائل نه دي.

فرق څه شي دي دا دوه امامان چې امام احمد امام مالک رَحِمَهُمَا اللَّهُ دوي دواړه په سري لمونځونو کې مقتدي لره د فاتحې قائل دي خو استحباباً او امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ پـه سري لمونځونو کې مقتدي لره د قرائت خلف الامام قائل دي او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ قائل نه دي.

فرق څه شي دي دا دوه امامان چې امام احمد امام مالک رَحِمَهُمَا اللَّهُ دوي دواړه په سري لمونځونو کې مقتدي لره د فاتحې قائل دي خو استحباباً او امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ پـه سري لمونځونو کې مقتدي لره د قرائت قائل دي وجوباً فرق ددوي په خپل مينځ کې هم راغې خو زمونږ مقابله کې خو جمهور شول چې د قرائت خلف الامام قول يې په سري لمونځونو کې وکړو او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ دا قول نه کوي.

امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ سري او جهري لمونځونو کې د منعې د قرائت قائل دي چې مقتدي لره قرائت نشته خو دې کې څو مره فرق دي هغه وايي چې په جهري لمونځونو کې مقتدي لره قرائت مکروه دي په کراهيت تحريم سره او په سري لمونځونو کې مقتدي لره قرائت مکروه دي په کراهيت تنزيهي سره خلاف اولی که ماسپښين او مازديګر لمونځونو کې مقتدي فاتحه لولي خلاف الاولی دي عند الاحناف ناروا نه ده زه يې هم کله کله وايم خو بعضې کسان چې نزدې راسره ولاړ وي هغوي تفکر کې شي چې مولوي صاحب وهابي شو او که څنګه هغه لمونځ سري وي جهري نه وي په سري لمونځ کې مقتدي لره مقتدي فاتحه لوستلې شي جائزه ده احناف يې هم جائز ګڼي او دري واړه امامان يې هم جائز ګڼي.

د امام احمد او امام مالک سره د امامنا په سري لمونځونو کې د غه اختلاف دی چې امامنا افضلیت ترک ته ورکوي او امامین افضلیت قرائت له ورکوي په سري کې پاتې شو.

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ هغه خو د وجوب قائل دی د فاتحې داد اربعة ائمه وو قول شو د اربعة ائمه نه سوا دې زماني اهل حديث چې دي هغوي يو پنځم مذهب جوړ کړې دی دوي خلکو ته وايي چې مونږ د څلورو مذهبو نه خروج نه کوو خو ډیر مسائل دي چې خروج يې کړې دي يو ترې نه دغه جزيه ده هغوي خروج دا کړې دي چې امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ مقتدي له قول د وجوب د فاتحې وکړو نو فقط د فاتحې قول يې کړې دی د فاتحې نه زائد د قرائت قول يې نه دی کړي.

وهابيان مقتدي له د فاتحې د وجوب قائل دي او د قرائت د جواز قائل دي دوي وايي چې قرائت هم پسې کولې شي خو البته دا خبره په سري لمونځ کې کوي هر چې جهري لمونځ دي نو جهري کې دوي يو ځان ته مذهب جوړ کړو چې د فاتحې لوستل مقتدي له دا واجب دي خو عام قرائت به نه کوي په کې که سکتاتو کې کوي وه دې کړي ګنې نه دي کوي.

نو فرق را ولي په مينځ د قرائت الفاتحه او د قرائت القرآن کې او په دې زمونږ ډير احناف هم عوام علماء او بعضې علماء غير محققين هم تيروځي هغوي هم دا وايي چې کوم ځای کې منع راغلې منع د قرائت راغلې ده او قرائت خو فاتحې ته نه ويل کيږي هغه خو سورة ته ويل کيږي.

ګورئ دا اصطلاح جديده ده په زمانه د صحابه کرامو او د اولينو تابعينو کې قرائت د فاتحې د لوستلو نه جدا په بل څيز اطلاق نه کيده هغه وخت سره فلاني د قرائت نه منع کړې نو د فاتحې نه يې منع کړې ځکه دا مذهب د سره نه وه چې فاتحه لوله او قرائت مه کوه مذهبين همدغه جوړ شوې خبره په فاتحه کې روا نه ده چې فاتحه به لولي او که نه به يې لولي نو څه رايه د قرائت شوه او څه د ترک قرائت شوه.

دا اصطلاح وروسته فقهاء جوړه کړې ده چې يو قرائت القرآن دي فرض دي او بل قرائت الفاتحه ده واجب دي دا خو روستني اصطلاح ده په زمانه د صحابه کرامو کې دا اصطلاح نه وه قرائت او قرائت القرآن او قرائت خلف الامام د ټولو اطلاق په دغه فاتحې باندې کولو.

چونکې دا مسئله د ائمه وو مینځ کې اختلافي وه او جمهور په جهري کې له مونږ سره وه هر چې په جهر کې ده :

نهي القراءة في الجهرية وهو مذهب الجمهور .

منع د قرائت په جهري کې دا مذهب الجمهور دي .

اول استدلال :

جماهیر په دې کې د قرآن عظیم الشان له دې آیت نه کوي سورة اعراف آیت نمبر : ۲۰۴:

﴿ وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ کله چې لوستلې شي قرآن عظیم الشان .

فاستمعوا . غوږ کیږدي دې لره .

وانصتوا . چپ شي .

لعلکم ترحمون .

تفسیر الدر المنثور جلد ۶ صفحه ۷۱۹ باندې او ښکته د ډیرو صحابه کرامو تابعینو اقوال زه په دې ذکر کوم چې دا آیت کریمه نازل شوې په حق د قرائت خلف الامام باندې چې ددې آیت نزول نه وړاندې به په جهري مونځونو کې صحابه کرامو فاتحه لوستله آیت چې نازل شو منع شو له دې نه .

چا چې مخکې له دې نه قرائت خلف الامام کړې دي له دې سره هغه حکم ختم شو نو یو په دې کې قول د عبد الله بن مغفل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي چې هغه فرمایي چې آیت کریمه نازل دي په حق د قرائت خلف الامام او منع د هغې کې .

واخرج ابن ابي شيبة وابن ابي حاتم وابو الشيخ وابن مردوية عن عبد الله بن مغفل انه سئل .

له ده نه تپوس وشو .

أكُلُّ من سمع القرآن يقرأ وجب عليه الاستماع والانصات .

هر ځای کې چې قرآن کریم لوستل کیږي استماع انصات واجب دي .

قال لا . وایي نه هر ځای کې واجب نه دي .

انما نزلت هذه الآیة . په تحقیق سره نازل شوې دغه آیت :

﴿وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ في قراءة الامام اذا قرأ الإمام فاستمع له وانصت .

ګوري دا واضح دلیل ددې دي چې دا ایات کریمه داخل الصلوة کې نازل دي غوږ کیښودل او انصات امام لره واجب دي ددې نه خارج بیا غوږ کیښودل مستحب دي قرآن عظیم الشان ته .

دا تاسو ته بیا د ختم په مسئله کې هم فائده درکوي دا روایت چې کله هغوي په تاسو اعتراض وکړي چې ختم ځکه ناروا دي چې دې کې ډیر کسان لګیا وي یو بل ته غوږ نه ږدي دا خو د فاستمعوا وانصتوا خلاف راځي .

نو هغه خو خارج د صلاة نه دي ار خارج د صلاة نه استحباب دي ایت د هغې متعلق نازل شوې نه دي داخل د صلاة کې استماع او انصات لازم دي .

دارنګې عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه هغه هم دا فرمایي چې ددې آیت کریمه نزول نه بعد قرائت خلف الامام منع شوې دي او په خلکو یې غصه کړې ده چې څوک ددې د نزول نه بعد هم قرائت خلف الامام کوي .

تفسیر الدر المنثور جلد ٦ صفحه ٧١٩ :

واخرج عبد بن حمید وابن جریر وابن ابي حاتم وأبو الشیخ عن ابن مسعود أنه صلی بأصحابه فسمع ناساً .

ملګرو ته یې مونځ کوه وایي وریدل له خلکو نه .

یقرأون . چې څه یې لوستل .

خلفه . وروسته له ده نه .

فلما انصرف . چې دې راوګرځیدلو .

قال. وي فرمايل.

أما أن لكم أن تفهموا. اوس هم تاسو ته هغه وخت رانغې چې پوه شي.

أما أن لكم أن تعقلوا. اوس هم لا عقل نه كار نه اخلي.

﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ كما امركم الله. څنګه يې چې امر درته كړې هغسې شي غلي شي او غوږ كيږدي.

دارنګې عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د هغه رايه هم داده چې دا آيت كريمه داخل الصلاة په جهري كې د امام د قرائت د استماع متعلق نازل دي.

تفسير الدر المنثور جلد ٦ صفحه ٧٢١:

واخرج ابو الشيخ عن ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال كانت بنوا اسرائيل اذا قرأت أئمتهم فجاوبوهم.

بني اسرائيل داسې وه كله به چې امام د هغوي تلاوت د خپل كتاب كوه نو وروسته مقتديان به يې هم پسې لګيا وه.

فكره الله ذلك لهذه الامة. رب كريم دې امت لپاره دا بده وګڼله چې داد يهوديانو عمل دې چې امام لګيا وي او وروسته پسې مقتديان هم شونډې ښوروي او داد عيسويانو عمل دې چې امام لګيا وي او مقتديان هم پسې لګيا وي نو بيا يې دا وفرمائيل:

﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾

دا آيت نازل شو الله پاک ددې امت له يهودي او عيسوي سره فرق وكړه چې هغوي كې به مقتديان قرائت خلف الامام كوي خو دا امتيان به يې نه كوي.

دارنګې عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رئيس المفسرين رايه هم داده چې دا آيت د قرائت خلف الامام په رد كې نازل دي په جهري لمونځونو كې.

تفسير الدر المنثور جلد ٦ صفحه ٧١٨:

واخرج ابن مردوية عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال صلى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقرأ خلفه قوم.

وروسته ترې بعضې قوم څه لوستل نو نازل شو دا آيت:

﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا ﴾ .

دا كوم خلك چې دا جواب كوي چې مونږ يې په سكتاتو كې وايو يعنې امام چې غلې شي مونږ يې لولو او امام چې ولا الضالين ته غلې شي نو مونږ يې وايو نو د هغوي نه جواب دادی چې تاسو څو مره هم په سكتاتو كې و وايي نو اول خو د نن زمانې امامان سكتې دومره كله كوي خو څه كه څوك يې وه هم كړي داسې او مقتدي يې په سكته كې هم و وايي نو جواب به د فاستمعوا نه راشي .

خو د انصتوا نه به څه جواب كوي بيا يعنې غوږ دي كيښنود څه د امام نه دي هم واوريدل او خپل دې هم ويلې خو بيا دې د انصتوا خلاف او كه رب كريم وايي چې شه او ته چپ كيږي نه هغې سره څه كوي يو اځې فاستمعوا امر خو نه دي د انصتوا امر هم متوجه دي .

دارنګې حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه هم فرمايي چې دا په حق د قرائت خلف الامام يعنې د مانځه متعلق نازل دي .

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا قول تفسير ابن جرير الطبري جلد ۱۰ صفحه ۶۶۳ :

عن علي عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قوله : ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا ﴾ يعني في الصلاة المفروضة .

دا امر د انصات او استماع چې دي دا په مانځه مفروضه كې دي خارج نه دي .

او روايت د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تفسير الدر المنثور جلد ۶ صفحه ۷۱۸ :

اخرج ابن جرير وابن ابي حاتم وابو الشيخ وابن مردوية وابن عساكر عن ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ في قوله : ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا ﴾ قال نزلت في رفع الاصوات وهم خلف رسول الله في الصلاة .

دوي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې وروسته وه آوازونه يې اوچتول داد هغې متعلق نازل شو .

امام مجاهد رَحِمَهُ اللَّهُ د هغه رايه هم داده چې دا په حق د قرائت خلف الامام او رد د هغې كې نازل دي .

تفسير ابن جرير الطبري جلد ۱۳ صفحه ۳۴۷ :

حدثنا ابن وكيع قال حدثنا جرير وابن ادريس عن ليث عن مجاهد: ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا﴾ قال في الصلاة المكتوبة.

امر د استماع او د انصات فرضي مانځه متعلق دي دا جهري قيد مونږ ځکه لګوو چې دلته فاستمعوا راغلې دي که يوازې انصتوا وايي فاستمعوا نه وايي نو سري کې به هم يا لازم واي.

دا يوه شبهه به ذهن ته راشي چې هر کله دا آيت په اجماع د مفسرينو باندې په حق د داخل الصلاة کې شو الا ما شاء الله نو امر د وجوب لپاره شو او د فرضيت د پاره شو نو په کار داوه چې چا په کې قرائت کولې مونځ يې نه واي شوي تاسو مکروه ورته ولې وايئ مکروه تحريمي خو بترك الواجب راځي بترک الفرض خو نه راځي په ترک د فرضنو سره خو فساد د مانځه راځي د شوافعو او د وهابيانو مونځونه پرې فاسد کړې کنه.

نو جواب دادی چې د بعضې مفسرينو رايه دلته داده چې حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم پرې قول کړې دي چې دا آيت کريمه په حق د سماع د خطبې کې دي دا يو قول شوې دي چې د خطبې په سماع کې دا نازل دي چې د جمعې خطبه لوستلې کيږي نو فاستمعوا له وانصتوا د بعضې کمو مفسرينو دغه رايه ده.

او چا ويلې دي چې دا په مانځه کې سلام ته وعليك وويل په جهر باندې داد هغې متعلق نازل دي يا دا قول شوې دي چې کلامات دد ې ايت د نزول نه مخکې په مانځه کې هغه کلام چې هغې کې خطاب د نيوي خلکو سره وي نو دا جائز وه.

مثلاً څوک به اوپرنجيده او الحمد لله به يې وويل نو دوي به ورته داخل د مانځه کې يرحمك الله جائز ګڼل دا خطاب مع الناس دي.

چا به وويل السلام عليك دوي به وويل وعليك السلام دا جائز وه د آيت د نزول سره هغه ختم شو.

نو چې هر کله داد کومو مفسرينو رايه په دې کې متعلق الخطبه او يا هغه خطابات داخل د مانځه کې کلامات د هغې په رد کې نازل دي دا اقوال شته دي.

نو آیت کې شبهه راغله په استدلال کې دلیل زمونږ قطعي الثبوت دي د قرآن کریم نص دي خو زمونږ په دعوی باندې ظني الدلالة دي یو اځې قرائت خلف الامام نه شو نور تاویلات هم په کې راغله.

او کوم دلیل چې قطعي الثبوت ظني الدلالت وي افاده د فرضو نه شي کولې دواجبو کولې شي د ترک په صورت کې کراهیت تحریمي راغې فساد نه راځي.

دارنګې د سعید بن المسیب رایه داده چې داد مانځه متعلق نازل دي.

تفسیر ابن جریر للطبري جلد ۱۳ صفحه ۳۴۷:

حدثنا ابن قال حدثنا عبدالرحمن بن مهدي عن رجل عن قتادة عن سعید بن المسیب وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ، قال في الصلاة.

دارنګې د ابن الشهاب الزهري رایه داده چې داد مانځه متعلق نازل دي.

جامع البیان تفسیر الطبري جلد ۱۳ صفحه ۳۴۶:

حدثني ابو السائب قال حدثنا حفص عن اشعث عن الزهري قال نزلت هذه الآیة في فتی من الانصار.

هغه وایي نازل دي دغه آیت په باره د یو ځوان د انصارو کې چې وه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ.

کلما قرأ شیئاً قرأه. څه به یې چې لوستل ده به هم لوستل نازل شو.

﴿وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ﴾.

دارنګې د سعید بن جبیر رایه داده چې دا په حق د مانځه کې دي.

تفسیر ابن جریر الطبري جلد ۱۳ صفحه ۳۴۸:

قال حدثنا المحاربي عن لیث عن وعن حجاج عن القاسم بن ابي بزة عن مجاهد وعن ابي لیلی عن الحکم عن سعید بن جبیر: وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ قال في الصلاة المکتوبة.

د فرض مانځه متعلق نازدي دا دارنګې د ضحاک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رایه داده چې دا په حق د مانځه کې نازل دي.

تفسير ابن جرير الطبري جلد ۱۳ صفحه ۳۴۸ :

قال حدثنا المحاربي وابو خالد عن جويبر عن الضحاك قال في الصلاة المكتوبة .

داد فرض مانځه متعلق نازل دي .

دارنګې ابراهيم النخعي د هغه رايه هم داده چې داد فرض مانځه متعلق نازل شوې دي.

ابن جرير طبري روايت ذكر كوي :

حدثنا جرير وابن فضيل عن مغيرة عن ابراهيم النخعي قال في الصلاة المكتوبة .

د حضرت سيدي رَحِمَهُ اللهُ رايه داده چې داد مانځه متعلق نازل دي .

جامع البيان تفسير الطبري جلد ۱۳ صفه ۳۴۹ :

حدثني محمد بن الحسين قال حدثنا احمد بن المفضل قال حدثنا اسباط عن السدي وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ ، قال اذا قرئ في الصلاة .

نو دا امر د استماع او د انصات دغه وخت کې متوجه شو .

د ابو العالية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رايه هم داده چې دا په حق د مانځه کې دي .

تفسير الدر المنثور جلد ٦ صفحه ۷۲۱ :

واخرج عبد بن حميد و ابو الشيخ عن ابي العالية ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان اذا صلى بأصحابه فقرأ قرأ أصحابه خلفه .

ده به چې لوستل کول نو وروسته به هم صحابه وو څه لوستل .

فنزلت هذه الآية : وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ ، فسكت القوم و قرأ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

دا په جهري مونځونو کې د جمهورو قوي استدلال دي چې انصات په کار دي او استماع په کار ده او داد دغه صحابه کرامو تابعينو او تبع تابعينو اقوال وه .

الاستدلالات من الاحاديث النبوية :

سنن النسائي جلد ۲ صفحه ۱۴۱:

اخبرنا الجارود بن معاذ الترمذي قال حدثنا ابو خالد الاحمر عن محمد بن عجلان عن زيد بن اسلم عن ابي صالح عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم.

رحمت عالم صلى الله عليه وسلم و فرمایل.

انما جعل الامام ليؤتم به. ګرځولې شوې دي امام چې اقتداء وکړې شي ده پسې ترتيب ددې اقتداء دادی :

فاذا كبر فكبروا. چې امام تکبير او وايي نو تاسو هم پسې متصل تکبير ووايي :

واذا قرأ فانصتوا. کله چې تلاوة شروع کړي تاسو چپ شي.

واذا قال. چې ووايي :

سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد.

تحقيق کې شيخ الالباني ددوي وايي : حسن صحيح.

سندي لحاظ باندې په حديث څه اعتراض نشته دي وهابيانو دا پرچار شروع کړې دي چې کوم خلک د امام پسې فاتحه نه وايي نو ددې خلکو مونځ نه کيږي دا اوس بار بار دا وايي او په دې يې پوسترې هم چاپ کړې دي نو ورکړې چيلنج ورته چې د اذا قرء فانصتوا حديث نه به څه جواب کوي کله چې امام قرائت کوي نو چپ شي نو دوي څه وايي نا :

اذا قرء القرآن. کله چې قرآن لولي.

فانصتوا. چپ شي.

نو فاتحه قران نه دي دا خو به تاسو له احنافو پورې خندل چې :فاقروا ما تيسر من القرآن نه د قرائت فرضيت ثابتوي او فاتحه يې ترې مستثنی کړې درجې د وجوب ته يې راوستې ده دې کې وهابيان احنافو پورې خاندي نو اوس تاسو د فاتحې او د قرائت فرق

ولې کوي دوي خو د فرق قائل نه دي او د عام قرائت په شان فاتحه هم فرض ګڼي چې هر کله فاتحه د عام قرائت په شان فرض ګڼي دليل د فرضيت به څه پيش کوي :

لا صلوة لمن لا يقرأ بفاتحة الكتاب . نو دا خو ظني دي حديث دي او دليل ظني الثبوت قطعي الدلالة هغه خو افاده د وجوب کوي او د فرضيت نه شي کولې حديث خپله ظني دي نو قطعي پرې ولې ثابتوي خبرِ واحد دي نو په دې خو فرض نه ثابتيږي د فرضو دليل راکړه نو دا به پيش کوي فاقروا ما تيسر من القرآن نو د فاقروا نه يې فاتحه ثابته کړه نو اذا قرء کله چې لولي فانصتوا چپ شي نو دلته بيا څنګه فرق کوي چې فاتحه نه ده مراد سورة مراد دي او دويمه دا چې ته خو په سورة کې هم لګيا يې کنه تا هلته په دې حديث کله عمل کړې دي دوي خو د امام د سورة سره د سورت لوستلو هم اجازت ورکړې دي خو وايي فرض نه دي فاتحه فرض دي باقي مستحب دي که په حديث باندې جرحه لري نو البانی باندې يې وکړه ستا مشر وايي چې حديث حسن صحيح .

دويم حديث : مسلم جلد ۱ صفحه ۱۷۴ پاکستان چاپ د ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي تفصيلي روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ځل مونږ ته :

فبين لنا سنتنا وعلمنا صلاتنا . د مانځه طريقې تړولې را او ښودلې وي فرمايل .

اذا صليتم فاقيموا صفوفكم ثم ليؤمكم احدكم فاذا كبر فكبروا واذا قال غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين يحببكم الله فاذا كبر وركع فكبروا واركعوا فان الامام يركع قبلكم ويرفع قبلكم .

دغه حديث په دويم سند سره په ډيرو سندونو باندې امام مسلم رسوي داد امام مسلم طريقه ده چې هغه د هريو د پاره تحويل د سندونو کوي او ډير متعدد سندونه را اخلي هر متن ته وايي :

حدثنا ابوبكر بن ابي شيبة حدثنا ابواسامة حدثنا سعيد بن ابي عروبة ح وحدثنا أبوغسان المسمعي حدثنا معاذ بن هشام حدثنا ابي ح وحدثنا اسحاق بن ابراهيم اخبرنا جرير عن سليمان التيمي كل هؤلاء عن قتادة .

څو سند يې قتادة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ورسول دابې عروبة په سند او معاذ ابن هشام د پلار هشام نه روايت کوي او د سليمان التيمي په روايت ټول روايت د قتادة نه کوي :

في هذا الاسناد بمثله وفي حديث جرير عن سليمان عن قتادة زيادت ددې الفاظو دي :

واذا قرأ فانصتوا .

نو دا زيادت د ثقه دي مقبول دي .

وليس في حديث احد منهم فان الله قال على لسان نبيه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سمع الله لمن حمده .

دا ددې دري وارو په سند کې نشته .

الا في رواية ابي كامل وحده عن ابي عوانة قال ابو اسحاق قال ابو بكر بن اخت ابي النضر في هذا الحديث فقال مسلم تريد احفظ من سليمان فقال له ابو بكر فحديث ابي هريرة .

هغې سره به څه کوي .

فقال هو صحيح يعني واذا قرأ فانصتوا .

هغه د نسائي روايت چې مخکې ما تاسو ته ذکر کړ ابوبکر ورته وايي حديث د ابي هريرة څنګه دي دې متعلق دلته خو سند کې اختلاف راغې چې د قتادة نه بعضو رواتو زيادت اذا قرء فانصتوا کړې او بعضې نه دي کړې .

اوس هغه روايت د ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې نسائي کې مذکور دي هغه څنګه دي دا روايت يې ورياد کړو نو امام مسلم وايي هو صحيح هغه حديث صحيح دي .

يعني اذا قرأ فانصتوا ، فقال هو عندي صحيح .

امام مسلم ورته وايي زما په نزد هغه صحيح دي .

فقال لمَ لم تضعه هاهنا . هغه حديث دي دلته ولې وضع نه کړو په دې خپل کتاب مسلم کې دې حديث د حضرت ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ولې رانه وړو .

قال . امام مسلم وايي .

ليس كل شيء عندي صحيح وضعته هاهنا . ما خو دا نه دي لازم كړي چې هر صحيح حديث به زه مسلم كې راوړمه ما خو مسلم د كل صحيح احاديثو مجموعه نه ده ليكلې د مضمون موافق د رواياتو چې څومره ضرورت وي ما را اخيستې دي نور خو ډير صحيح احاديث دي ما ته معلوم دي چې صحيح دي ما مسلم كې نه دي را اخيستې نو :

ليس كل شيء عندي صحيح وضعته هاهنا . هر حديث صحيحه زما په نزد ما مسلم كې نه دي وضع كړې .

انما وضعت هاهنا ما اجمعوا عليه . چې ټول محدثين پرې اجماع لري .

نو دويم سند د ابو موسى الاشعري په روايت د قتادة نه د بعضو رواتو په زيادت سره د **اذا قرأ فانصتوا** د مسلم روايت پرې دال شو .

دا روايت د مسلم چې كوم كې زيادت د **اذا قرء فانصتوا** موجود دي دغه ابوداؤد هم ذكر كړې جلد ۱ صفحه ۱۴۰، ابن ماجه را اخيستې جلد صفحه ۶۱، مسند ابي عوانة را اخيستې جلد ۲ صفحه ۱۳۳، بيهقي را اخيستې دي جلد ۱ صفحه ۱۵۵، دار قطني را اخيستې جلد ۲ صفحه ۳۲۸.

دريم حديث : شرح معاني الآثار جلد ۱ صفحه ۲۱۸:

حدثنا احمد بن داود قال حدثنا يوسف بن عدي قال حدثنا عبيدالله بن عمرو عن ايوب عن ابي قلابة عن انس رضي الله عنه قال صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم .

مونځ وكړو نبي عليه السلام.

ثم اقبل بوجهه . مخ مبارك يې راواړوو.

فقال . وي فرمائيل .

اتقرؤن والإمام يقرأ . آيا تاسو هغه حال كې چې امام څه لولي تاسو څه لولي .

فسكتوا . خلك غلي شول .

فسألهم ثلاثاً . درې ځل يې تپوس وكړو .

فقالوا. صحابه كرامو كې چا عرض وكړو.

انا لنفعل. هاو مونږ دا كار كوو چې تاسو څه لولي مونږيې هم لولو.

قال فلا تفعلوا. نبي اكرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل دا كار مه كوي منع راغله د شارع نه چې د امام پسې څه مه لولي.

څلورم حديث: مسند احمد بن حنبل جلد ۲ صفحه ۲۴۰ هغه حديث چې لا صلاة الا بفاتحة الكتاب دي دې وايي:

وحديث لا صلاة الا بفاتحة الكتاب يخص المنفرد والامام.

امام احمد وايي چې د ځان ته مونځ كوونكي او د امام متعلق دي.

فان قراءة الفاتحة في حقهما واجبة. قرائت د فاتحې په حق د دوي دواړو كې واجب ده.

كه ته وايي چې دوي خو يې فرض گڼي واجب يې څنگه ويلې ددوي په اصولو كې د واجبو او د فرضو مينځ كې فرق نشته دوي واجب فرضو ته وايي.

دا اصطلاح د احنافو ده چې د واجبو او د فرضو مينځ كې فرق كړې دي په اثبات د دليل ظني الثبوت سره او دليل قطعي الثبوت سره احنافو دا فرق كړې دي او جماهير دا فرق نه كوي هغوي فرض واجبو ته وايي واجب فرضو ته.

فهو من العام الذي اريد به الخاص. دا هغه عام دي چې مراد ترې نه خاص دي.

واما المأموم. هر چې مقتدي دي.

فيجب عليه الانصات في الجهرية. امام احمد وايي چې هغه انصات واجب ده په جهري كې لكه مخكې ما تاسو ته ذكر كړه چې ثلاثة ائمه قرائت خلف الامام مكروه تحريمي گڼي ځكه انصات واجب گڼي او ترك د واجبو خو مكروه تحريمي وي.

واما في السرية فيسن له ان يقرأ الفاتحة. سري مونځونو كې ده ته مسنون ده داده دلته د يسن د استحباب رايه دې لري چې قرائت د فاتحې وشي.

لأن الإمام يحمل ذلك عنه. داد اول د پاره دليل دي انصات په جهري كې ولې لازم دي امام له ده نه هغه بوج په ځان اچولې دي، حديث دادی:

من كان له امام فقراءة الامام له قراءة.

د چا چې امام وي قرائت د امام قرائت دده دي.

وهو حديث حسن روي عن جماعة من الصحابة منهم جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

زما استدلال له دې نه دي چې څلورم حديث چې مونږ پيش كوو هغه د من كان له امام فقراءة الامام له قراءة.

پنځم حديث : مسند احمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۴۵۱:

حدثنا عبدالله حدثني ابي حدثنا ابو احمد الزبيري حدثنا يونس بن ابي اسحاق عن ابي اسحاق عن ابي الاحوص عن عبدالله قال كانوا يقرؤون خلف النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

وه صحابه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې څه لوستل.

فقال خلطتم علي القرآن. په ما مو په قرآن كې خلطيت راوسته يعنې بده يې وګڼله لوستل د دوي.

تعليق شعيب الأرنوط د دې حديث نه لاندې ليكلي : اسناده حسن.

شپږم روايت : مسند ابي يعلي جلد ۸ صفحه ۴۲۳:

حدثنا محمد بن عبدالله بن نمير حدثنا محمد بن عبدالله بن الزبير عن يونس بن ابي اسحاق عن ابي اسحاق عن ابي الاحوص عن عبدالله قال كانوا يقرؤون خلف النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في الصلاة فقال خلطتم علي القرآن.

قال حسين سليم اسد. تحقيق كوي وايي :

رجاله رجال الصحيح.

دا او هغه پاس يو مضمون دي خو ځكه مې مكرر ذكر كړو چې هغه درجه د حسن كې دي او دا صحيح دي او بل رجال يې رجال د بخاري دي.

كتاب القراءة خلف الامام د امام بخاري جلد ۱ صفحه ۱۲۳ كې باب لكوي : باب لا يجهر خلف الامام بالقراءة، امام پسې به په قرائت جهر نه كيږي.

عن عبدالله قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لقوم كانوا يقرؤون القرآن فيجهرون به خلطتم علي القرآن .

په ما مو خلطيت راوستلو.

دارنګې سنن دار قطني جلد ۲ صفحه ۲٦۰ :

حدثنا محمد بن مخلد حدثنا احمد بن علي بن سليمان المروزي حدثنا احمد بن سيار المروزي حدثنا عبدان عن خارجة عن ايوب عن نافع عن ابن عمر قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من صلى خلف الإمام فان قراءة الامام له قراءة .

امام پسې چې څوک مونځ کوي د امام قرائت دده قرائت دي .

دارنګې سنن الكبرى للبيهقي جلد ۲ صفحه ۱٦۰ :

اخبرنا ابو عبدالله الحافظ اخبرنا ابو محمد الحسن بن حليم الصائغ الثقة بمروٍ من اصل كتابه كتاب الصلاة لعبدالله بن المبارك .

اخبرنا ابو الموجه اخبرنا عبدان بن عثمان اخبرنا عبدالله بن المبارك اخبرنا سفيان و شعبة وابو حنيفة عن موسى بن ابي عائشة عن عبدالله بن شدادٍ قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

مسند ابي حنيفة کې هم دا حديث شته دي عبدالله بن مبارك اخبرنا سفيان وشعبة و ابوحنيفة تاسو ته دا ثابتوي چې عبدالله بن مبارک بذات خود په حديثو کې هم د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ شاګرد دي نو عبدالله بن مبارک يوائې فقه کې شاګرد نه دي په حديثو کې هم دي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ شاګرد دي هغه نه يو قول مروي دي چې هغه وويل ابوحنيفة مسكين الحديث .

نو هغې نه وهابيانو دا جوړ کړل چې مسکين في الحديث په حديثو کې مسکين دي نه لري او د عبدالله بن المبارک دا مقصد وه چې مسکين الحديث دي معنی دا چې هغه طالب د حديثو دي او حريص په حديثو دي چې چيرته حديث ګوري نو دې يې طلبوي غواړي يې لکه سوال ګر چې په سوال شي پيدا کوي دغه شان د حديثو طالب دي .

هغه لفظ د مسكين الحديث ويلې دي دوي ترې نه مسكين في الحديث جوړ كړه مسكين دلته په معنى د طالب د شيء سره دي او حديثو ته يې مضاف كړه او اضافت بمعنى اللام دي دلته مسكين للحديث مسكين في الحديث مه جوړه وه دې مسكين دي يعنې طالب دي په شان ته د سوال د مسكين للحديث حديثو لره.

تهذيب التهذيب كې د عبدالله بن المبارك چې يو اڅې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ شان كې وګورئ ديو جارح قول ته به هم لاړ نه شي چې ډير اوږد تفصيل يې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ په شان كړې ده نو بيا ولې دومره تعصب كوي چې هغه يو قول وكړو چې مسكين الحديث د هغې غلط تأويل ته كوي د هغه نور اقوالو ته هم ګوره چې هغه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ څومره ثقاوت بيانوي.

نو د حديث عبارت ته راځم:

قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من كان له امام فان قراءة الامام له قراءة.

له دې سره د وهابيانو هغه شبه هم دفع شوه دا الفاظ يو په سند د ابن ماجه كې دي چې هغه روايت د جابر بن عبدالله دي چې پاس د مسند احمد نه ما پيش كړو: **من كان له امام فقراءة الامام له قراءة**، د ابن ماجه په سند كې جابر الجعفي راغلې دي په هغه باندې دوي جرحه كوي.

دويم مسند ابي حنيفة د امام ابو حنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ په خپل سند سره رسولې دي هغه سند كې په رجالو باندې هيڅ اعتراض نشته دي نو دا بې دينان راشي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ باندې جرحه كوي وايي نه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ضعيف او س د امام بيهقي له دې سند سره به څه كوي چې:

عبدالله ابن المبارك اخبرنا سفيان و شعبة و ابوحنيفة عن موسى بن ابي عائشة.

ابو حنيفه باندې خو به جرحه وكړي سفيان او شعبة سره به څه كوي دلته خو متابع هغوي دي كنه عبدالله ابن مبارك خو يو سند نه وايي ما ته سفيان هم دا حديث په دې الفاظو ويلې ما ته شعبه هم خبر داسې راكړې ما ته ابو حنيفه هم خبر داسې راكړې.

اوس د ابو حنيفة جرحې ته څه اعتبار پاتې شو سره ددې نه چې ما د ۲۴ عمده جارحينو اقوال ما جمع کړې ځان سره چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ ته يې حافظ او ثقه في الحديث ويلې دي نو د يو څو کسانو قول ته څه اعتبار دي.

او که داسې د يو کس قول ته اعتبار وي په جرحه کې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ تمام امت کې په حديثو کې ثقه دي ليکن امام نسائي يې ضعيف ګڼي نو اوس که د يو کس قول ته اعتبار وي هغه نه هم بيا تير شه نو دا خو ائمه دي چا به له چا سره رايه مخالفه وي.

او دغه وخت کې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ پسې افتراء د مرجئت وه او په دغه زمانه کې خوره وه څوک نزدې ورته نه راتله او يريدل هم ترې نه مناظره کې ډير تکړه وه.

الابانة کې مې يو روايت وليدو وايي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ مديني منورې ته راغې او دوه محدثين وايي ناست وه خپلو کې بحث شروع کړې وه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ وربانډې رانبکاره شو وايي دوي خپلو کې ويلې چې راځي دا ځاى پريږدو بيا به يوه مسئله کې بحث را واچوي هغه مسجد يې وايي پريښودلو لاړل ترې نه امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ داسې انسان وه چې مجلس کې څوک له ده سره مخامخ قدرې کيدې هم نه شو مناظر وه او مناظر ته څوک مخې ته ورځي علم ځان ته شئ دي يو سړي به غټ ملا وي خو مناظره به نه شي کولې.

امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د زمانې مناظر هم وه دهريانو سره مرجئه وو سره معتزله وو سره دې ټولو سره يې مناظرې کړې دي او أصل کې چې دې جيل ته تلي دي هم دغه وخت قاضي القضاة د منصور باچا چې وه دا معتزلي وه دا خو بهانې وې ورته او څه يې.

چونکې خلک ډير لړل هيڅ بې هيڅه يې ځنګه لاس اچولې وې ورته چې ده کې څه نقصان دي چې جيل ته يې بوځي يو دم کوفه کې بلوى جوړيد له خلکو قيام کولو نو بادشاه په بل شکل بيولې نه شو دا ورته بهانې وې چې له ما سره قاضي شه هغه ته معلومه وه چې دې قضاء نه کوي ولې قضاء نه کوي ته د بادشاه خبره نه منې بهانه يې ورته جوړه کړه بندي يې کړو.

متکلمين دا ليکي چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ امام احمد رَحِمَهُ اللهُ وغيره وو بانډې چې کوم تکاليف راغلې دي دې زمانه کې وجه يې دا وه چې قاضيان دغه زمانه کې معتزله وه اکثر د بادشاهانو هغه اداري محاکمو ته دوي ځانه رسولې وه.

مثال لکه په افغانستان کې د طالبانو امارت اسلامي کې اهل حدیث هم د ننه شول او احناف هم د ننه شول خو احناف ساده خلک دي کنه دا چې امارت و نیسي نو یو به ولایت غواړي او بل به وزارت غواړي او وزارت به هم هغه وزارت غواړي چې کوم کې شوړ ډیرې وي خو اهل حدیث به کوم ځای ته ځانونه رسوي چیرته د اوقافو پوسټ کې چیرته د تعلیم تربیه او فرهنګ پوستونو ته به ځانونه رسوي ځکه دوي د خپلې عقیدې پرچار له دغه ځایونو نه کوي.

نو چې اوقاف تعلیم او تربیه دوي ونیول نو ته به بیا څه وکړي مدارس به ددوي په قبضه کې وي مساجد به ددوي په قبضه کې وي دغه شان له مخکې نه خوارج او معتزله دغسې دي چې دوي کله هم راګډ شوې دي په اماراتو اسلامیه وو کې نو دوي تعلیم او تربیه او د قضا غوندې ځیزونو ته ځانونه رسولې دي نو دغه وخت کې قاضیان معتزله وه دې آئمه ووته یې بهانې لټولې.

او په جارحینو کې هم داسې شوې دي بعضې جارحین متهم په شیعیت سره دي هغه شیعه ګان دي او هغوي چونکې ډیر ذهین وه امت تسلیم کړې دي او د هغوي جرحو ته یې هم څه نا څه اعتبار ورکړې دي نو امامنا باندې بعضې جرحې د شیعه ګانو هم دي ځکه دې د شیعه ګانو سخت مخالف وه.

کمال دادی چې سړي د خپل مذهب مخالف په خپل صفت باندې راولي هغه یو اځې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ چیرته هم د بل امام په تعریف باندې د پردي مقلد صفت کې کتاب نه دي لیکلې په امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ هغه انسان دي چې امام ذهبي وایي په سیر اعلام النبلاء کې چې ما د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په تعریف کې :

الفردت بجزء في صفته . دده په صفاتو کې ما په یو مستقل جلد باندې انفراد کړې دي.

یعني نور خو زه هر څه په یوه پاڼه کې خلاصومه خو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په تعریف ما په مستقل جلد کې کړې دي.

او ابن حجر عسقلاني څومره متشدد شافعي مذهبې دي لیکن هغه هم د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په تعریف باندې مستقل کتاب لیکلې دي دا عجیبه خبره ده چې پردي مذهب والا دده په صفت کې شروع کیږي او ابن حجر صاحب وایي چې :

لو كان الدين عند الثريا لذهب رجال من أبناء فارس حتى يتناولوه.

د بخاري حديث وايي دې کې اشاره امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ ته ده دا احناف نه وايي ابن حجر عسقلاني وايي دا ابناء فارس امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دي.

ابن خلکان يوه خبره ليکلي ده چې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ اولس (۱۷) احاديث ياد وه دومره تعصب اولس (۱۷) احاديثو نه دا دومره دين جوړيږي چې د دين يوه جزيه هم نشته چې په هغې کې قال ابو حنيفة او عند ابي حنيفة موجود نه وي او که رشتيا يې هم ۱۷ احاديث يادوي او د ۱۷ احاديثو نه يې دومره استخراج کړې وي نو دده نه عظيم بزرګ خو صحابه وو نه بعد دي امت کې راغلي هم نه دي چې د ۱۷ احاديثو نه دومره استخراج د مسائلو کوي دا خو يې عجيبه کمال دي.

نافع کبير کې عبد الحي لکهنوي رَحِمَهُ اللهُ د ابن خلکان اعتراض نقلوي او بيا وايي چې ابن خلکان څو کرخې بره دا ويلې چې ۱۷ احاديث يې ياد دي او بيا څو کرخې ښکته راشه دا يې ويلې چې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د حديثو استاذان ۵۰۰ وه نو که يو حديث يې ترې نه دې ياد کړې نو استاذ څنګه شو هغه وخت کې خو ليکل نه وه ليکل خو خلکو بد ګڼل هغه وخت کې به چې چا سره قلم او کتابچه وه نو خلکو به پسې خندل ويل به يې دې غبي ته ګوري قلم يې را اخيستې دي.

هغه زمانه کې هر څه خلکو په ذهن کې ساتل دا خو چې کله وروسته د خلکو ذهنونو هغسې کار نه کولو او د امام بخاري زمانه شوه محدثين سره کيناستل چې قلم والا پورې مه خاندئ ذهنونه خراب شول دين خرابيږي پريږدي چې جمع يې کړي بيا څو مياشتې دې پسې ګرځيدل چې د حديث د ليکلو د جواز دليل پيدا کړي وايي په څه دليل يې جائز کړو چې ليکل د حديث جائز دي هلته نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې وه چې:

لا تكتبوا عني غير القرآن. د قرآن نه سوا به ما نه بل څه نه ليکي.

چا چې ليکلي محوه يې کړي نو کيناستل چې اوس ضرورت دي خو د جواز دليل خو پيدا کړي کنه لټيدل لټيدل حتی چې يو کس مستند حديث پيدا کړو چې حجة الوداع کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خطبه ولوستله اوږده خطبه وه په دې کې ابو شامه يو سپين ږيري وه راپاڅيدلو وايي

یارسول الله دا خو زما یاد نه شوله دا خو ډیر اوږد بیان وه نو نبي اکرم ﷺ بیان کړ لا
رلاړ دي چا ته یې امر وکړو :

واکتبوا لأبي شاة. ابي شاة ته زما دا تقریر ولیکي.

بس دغه ځای محدثینو کلک کړو چې دا حدیث وه او د حدیث د لیکلو اجازت یې ابي
شاه ورکړه ځکه ابو شا کمزورې وه حافظه یې کمزورې وه نو چې د هر چا حافظه کمزورې
وي د هغه د پاره لیکل د حدیثو جائز دي د هغې نه بعد لیکل شروع شول.

نو چې ابن خلکان لیکي چې ۵۰۰ استاذان یې وه نو عبدالحي لکهنوي صاحب وایي
چې یو حدیث یې ترې زده کړې نه دي استاذ یې څنګه شو لیکل خو نه وه هغه وخت کې چې
کتابچه کې به یې لیکلې وې.

او که یو حدیث یې ترې زده کړې وي نو ستا په لاندینې کربنه ثابتوه شوه چې ۵۰۰
احادیث خو یې یاد وه ځکه ۵۰۰ استاذان لري نو بیا تحقیقي جواب کوي چې د امام ابو حنیفه
رحمه الله ۱۷ احادیث نه دي مسند د احادیثو یې ۱۷ دي.

جامع المسانید وګوره چې هغه کې ۱۵ را غونډ شوې دوه لا نه دي را رسیدلې نو دا ۱۷
مسانید د احادیثو دي مسند و نه دي په هر یو مسند کې ۲۰۰ یا ۳۰۰ یا ۵۰۰ زیات او کم
احادیث پراته دي هغه اشاره دې ته کوي چې مسانید د ابي حنیفة دغه دي.

کله به دا اعتراض کوي چې امام ابو حنیفه رحمه الله خو څه لیکل نه دي کړې دا نو اوس
خبره ده.

بنه یې کړي چې نه یې دي کړي لیکل خو هغه وخت کې جرم وه څه صفت خو نه وه کنه
هغه وخت کې لیکل خو عیب وه چا کړې دي دا صحابه کرامو کې عبدالله ابن مسعود لیکل
کړې دي عمر فاروق رضي الله عنه څه لیکل کړې دي یا صدیق اکبر رضي الله عنه څه لیکل کړې دي دا
لیکل چې بنه کار وې صحابه کرامو ولې لیکل نه کول.

که څوک وایي چې عبدالله بن عباس رضي الله عنه لیکل کړې نو دروغ ده هغه لیکل نه دي
کړي په دوي کې یو اخې د صدیق اکبر رضي الله عنه سره ۵۰۰ احادیث په یو کاغذ کې لیکل شوې
وه او مبارک لاړو هغه یې هغلته دفن کړو او تو له شپه یې وایي خوب نه کولو بي بي عائشه

رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي ژړل يې ، او سحريې ما ته وويل چې هغه کاغذونه راکړه او لاړ چيرته يې دفن کړو .

چې راغې وايي چې ولې وايي چې دې کې څه ما اوريدلي او څه مې د بل نه اوريدلي وه هسې نه هغه نه غلطي شوې وي او بيګا تولـه شپه ما خوب نه دي کړې او دا حديث راته مخې مخې ته کيدلو :

من كذب علي متعمداً فليتبوأ مقعده من النار .

بس وايي هغه مې دفن کړو .

نو هغوي کې چا هم ليکل نه دي کړې او که څوک وايي چې تفسير ابن عباس دي دا هغه نه دي ليکلي دا خو روسته خلکو په مختلفو سندونو باندې درمنثور ابن جرير ابن ابي حاتم وغيره دې تولو کې يو يو قول د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پيدا کړي او صاحب ناست وي او دا يې راغونډ کړي دي .

دا تنوير المقباس دي د ابن عباس تفسير دې ته مه وايه تنوير المقباس عن تفسير ابن عباس د ابن عباس تفسير چې ددين په کتابونو خور اور شوې وه ښائسته روښانه اقتباس اخذ شوې دي .

نو ليکل هغه وخت کې نه وه بيا هم امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د خپلو معصرينو د هر چا نه ډير ليکل کړې دي .

مسانيدو کې څو مره ليکل دي د هغه مسند نه څو مره حديثونه هغه زمانه کې خلکو نقل کړې دي او دده شاګرد امام محمد رَحِمَهُ اللهُ چې څو مره ليکل په هغه زمانه کې کړې يو معصريې هم نه دي کړې .

او که څوک امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ او امام مسلم رَحِمَهُ اللهُ يادوي نو دا روستني زمانه ده د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ وفات ۱۵۰ سنه کې دي او د امام بخاري په ۲۵۴ کې وفات دي نو ۱۰۴ کاله امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ له ده نه مخکني ده نو هغه زمانه کې چې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ زمانه وي د چا کتابونه دي څوک پيدا کړي .

نو دا خبرې مې درته ددې لپاره وکړي چې يو عبد الله ابن مبارک هغه دده شيخ دي هغه ده پسې دا سپکه خبره نه کوي چې :

مسکین في الحدیث . مسکین الحدیث ورته وایي .
او بل دغه حدیث چې :
من کان له امام فان قراءة الامام له قراءة .
نو مونږ درته روایت د ابن ماجه نه پیش کوو او ته جرحه په جابر الجعفي کوې .
او که مونږ روایت د مسانید ابي حنیفة نه پیش کړو نو ته جرحه په ابو حنیفه کوې تعصب کوې .
نو اوس دې سند سره بله څه کوې چې عبد الله بن مبارک وایي :
اخبرنا سفیان والشعبة وابو حنیفة .
نو دلته خو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ سره حضرت سفیان معي شو او شعبة معي شو .
او هلته ورسره جابر الجعفي معي شو دا ټول ملګري شول او دغه سند د غسې بیانوي بیا پرې جرحه څه پاتې شوه .
دارنګې عبد الله بن مبارک هم متفرد نه دي .
وکذلك رواه علي بن الحسن بن شقیق عن ابن المبارك وکذلك رواه غیره عن سفیان بن سعید الثوري وشعبة بن الحجاج وکذلك رواه منصور بن المعتمر وسفیان بن عیینة واسرائیل بن یونس وابو عوانة وابو الاحوص وجریر بن عبد الحمید وغیرهم من الثقات الاثبات .
دارنګې المعجم الاوسط جلد ۸ صفحه ۴۳ :
حدثنا محمود بن محمد المروزي ثنا سهل بن العباس المروزي نا اسماعیل بن علیة عن ایوب عن ابي الزبیر عن جابر .
دا هماغه د ابن ماجه روایت دي هغلته د ایوب شاګرد جابر الجعفي راغلې دي په هغه یې اعتراض کړې دي ، اوس دلته خو جابر نشته اسماعیل بن علیة دي د هغه په ځای باندې :
قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من صلی خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة.
د امام قرائت دده قرائت دي .
دارنګې سنن ابن ماجه جلد ۲ صفحه ۳۳ :

حدثنا علي بن حمد حدثنا عبيدالله بن موسى عن الحسن بن صالح عن جابر عن ابي الزبير عن جابر قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من كان له امام فان قراءة الامام له قراءة.

دا په څو سندونو لاړو سند د معجم الاوسط ته وګوره هغه جابر الجعفي نه لري ايوب راځي د ابي الزبير په شاګردانو کې متابع شو د جابر الجعفي سره حديث که ضعيف هم شي خو تعدد د طروقو سره درجې د حسن لغيره قبول ته رسيږي او ايوب خو د مقبول نه دي.

دارنګې الموطأ د امام محمد جلد ۱ صفحه ۱۹۴:

قال اخبرنا ابو حنيفة قال حدثنا ابوالحسن موسى بن ابي عائشة عن عبدالله بن شداد بن الهاد عن جابر بن عبدالله عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال من صلى خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة.

دارنګې الموطأ د امام محمد جلد ۱ صفحه ۱۹۵:

قال حدثنا الشيخ ابو علي قال حدثنا محمود بن محمد المروزي قال حدثنا سهل بن العباس الترمذي قال اخبرنا اسماعيل بن علية عن ايوب عن ابن الزبير عن جابر بن عبدالله قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من صلى خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة.

دارنګې مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۱۳۶:

عبدالرزاق عن الثوري عن موسى بن ابي عائشة عن عبدالله بن شداد بن الهاد الليثي قال صلى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظهر او العصر.

شک کوي د ماسپښين ياد مازديګر لمونځ يې وکړو.

فجعل رجل يقرأ خلف النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يو سړي د نبي عَلَيْهِ السَّلَام پسې څه لوستل.

ورجل ينهاه. او بل سړي دی چې منع کوه يې.

فلما صلى. چې مونځ يې وکړو.

قال يا سول الله كنت اقرأ. ما قرائت کوه.

وكان هذا ينهاني. او دې بل منع کولم.

فقال له رسول الله ﷺ من كان له امام فان قراءة الامام له قراءة.

دا اوس د احنافو دليل دي مونځ يې کوه کدد ظهر وي كه د عصر شک هيڅ تاوان دلته نه کوي ځکه دواړه خفيه دي يو سړي قرائت کړې دي خوا کې ملګري منع کړې دي سلام چې وګرځيده هغه ده لره غصه دي زه دې ولې منع کولم ددې دواړو شور شو شور نبي اکرم ﷺ ته ورسيدلو نو هغه راغې.

قال يا رسول الله كنت اقرأ وكان هذا ينهاني.

نو نبي اكرم ﷺ دغه ځای کې معرض د حديث بيانوي:

من كان له امام فان قراءة الامام له قراءة.

واضح دليل ددې شو چې د ظهر او د عصر او په خفيه مونځونو کې هم قرائت د امام له مقتدي نه کفايت کوي.

دارنګې الموطأ جلد ۱ صفحه ۸۶:

وحدثني يحيى عن مالك عن بن شهاب عن بن اكمية الليثي عن ابي هريرة ان رسول الله ﷺ انصرف من صلاة. له مانځه نه راوګرځيدلو.

جهر فيها بالقراءة. دا جهري مونځ وه.

فقال هل قرأ معي منكم احد آنفا. تاسو کې چا ما سره اوس قرائت کولو.

فقال رجل نعم يا رسول الله انا. يو سړي وويل زه ومه.

قال فقال رسول الله ﷺ اني اقول. ما وويل څه چل دي ما سره.

انازع القران. قرآن كريم کې منازعه راسره کولې شي.

فانتهى الناس. بس منع شول خلک چې صحابه دي.

عن القراءة. له قرائت نه.

مع رسول الله ﷺ فيما جهر فيه رسول الله ﷺ بالقراءة حين سمعوا ذلك من رسول الله ﷺ

صحابه وو چې دا خبره کله واوريدله نو صحابه کرام د قرائت مع الامام نه منع شو.
دارنګې سنن دار قطني جلد ۲ صفحه ۱۱۴:

حدثنا ابو بكر النيسابوري حدثنا بحر بن نصر حدثنا يحيى بن سلام حدثنا مالك بن انس حدثني وهب بن كيسان عن جابر بن عبدالله أن النبي ﷺ قال: كل صلاة لا يقرأ فيها بأم الكتاب.

هر يو مونځ چې په هغې کې الحمد لله ونه لوستلې شي.

فهي خداج. هغه ناقص دي.

الا ان يكون وراء امام. مګر که امام پسې وي نو ناقص نه دي.

دا ځومره واضح دليل د احنافو لپاره دي او دا حديث ابن ماجه کې هم شته دي خو د ابن ماجه په سند کې بيا جابر الجعفي راغلې دي نو له هغې وجې نه چې په هغه اعتراض دي نو ما تاسو ته دارقطني نه په دويم سند د امام مالک رحمه الله سره حديث پيش کړو چې هغه جرحه ددوي ختمه شي.

دې حديث ته به ستاسو سوچ وي د هغوي استدلالات چې شروع کيږي اقوی د استدلالاتو د هغوي نه دا حديث دي چې:

كل صلاة لا يقرأ فيها بأم الكتاب فهي خداج. يا غير تمام، يا هغه الفاظ چې لا صلاة الا بفاتحة الكتاب.

نو ګوري دا خو نبي اکرم ﷺ يو عامه خبره کړې او ددې عام نه يې بل ځای کې تقيد په استثنی سره کړې دي نو هغه استثنی هر ځای کې ورسره ولګوه کنه خپله دا معلومه شوه چې:

لا صلوة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب.

هغه لګيږي د بدون الامام سره نو منفرد شو او امام شو مقتدي نه شو دا حديث استثنی کوي: الا ان يكون وراء امام.

او دارنګې فهي خداج کې رد په دوي باندې دي چې دوي قرائت د فاتحې ته فرض وايي او د فرضو په ترک سره نقصان نه راځي فساد راځي نو فهي خداج دا ناقص دي معنی دا چې شوې دي خو ناقص دي نو دا دليل د احنافو دي چې فاتحه فرض نه ده په مانځه کې بلکې واجب ده په ترک يې نقصان راځي خو فساد نه راځي.

سنن ابي داؤد جلد ۱ صفحه ۳۰۶:

عن قتادة عن زرارة عن عمران بن حصين ان النبي ﷺ صلى الظهر. ماسپښين لمونځ يې وکړو.

فجاء رجل فقرأ خلفه سبح اسم ربك الاعلى فلما فرغ قال ايكم قرأ. کوم يو قرائت وکړو.

قالوا رجل. يو سړي وويل ما.

قال قد عرفت ان بعضكم خالجنيها. پوه شوم چې بعضو ما سره په کې جګړه شروع کړه.

نو که دا په فاتحه رد نه دي نو په قرائت خو رد دي او وهابيان د قرائت هم قائل دي.

دارنګې الموطأ جلد ۱ صفحه ۸۴:

وحدثني عن مالك عن ابي نعيم وهب بن كيسان انه سمع جابر بن عبدالله يقول من صلى ركعة لم يقرأ فيها بام القرآن فلم يصل الا وراء الامام.

چا چې مونځ وکړو يو رکعت او فاتحه يې ونه لوستله د مونځ نه دي کړي يعنې کامل.

الا وراء الامام. مګر که د امام پسې وي استثناء وشوه.

دارنګې صحيح مسلم جلد ۲ صفحه ۸۸:

حدثنا يحيى بن يحيى ويحيى بن ايوب وقتيبة بن سعيد وابن حجر قال يحيى بن يحيى اخبرنا وقال الآخرون حدثنا اسماعيل وهو ابن جعفر عن يزيد بن خصيفة عن ابن قسيط عن عطاء بن يسار انه اخبره انه سأل زيد بن ثابت عن القراءة مع الامام.

د زيد ابن ثابت نه يې تپوس وکړو چې امام پسې قرائت شته او که نه.

فقال زيد ابن ثابت. وفرمايل.

لا قراءة مع الامام في شيء. امام پسې قرائت په څه شي د مانځه کې نشته نه په جهري کې شته نه په سري کې شته دا د احنافو تائيد دي.

دارنګې الموطأ جلد ۱ صفحه ۸۶:

حدثني يحيى عن مالك عن نافع ان عبدالله بن عمر أنه كان إذا سئل. چې چا به تپوس وکړو.

هل يقرأ أحد خلف الامام. امام پسې به څوک قرائت کوي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به جواب فرمائلو:

اذا صلى احدكم خلف الامام فحسبه قراءة الامام. د امام قراءة ورته بس دي کنه.

واذا صلى وحده فليقرأ قال وكان عبدالله بن عمر لا يقرأ خلف الامام.

او سند څومره قوي دي: **عن مالك عن نافع عن ابن عمر** دي سندونو ته سلسلة الذهب ويل کيږي يو څو سندونه دي په هغې کې يو په کې **عن مالك عن نافع عن ابن عمر** دي دې ته سلسلة الذهب وايي او دې ته د سرو زرو ځنځير وايي محدثين دې کې خو هيڅ خبره نشته.

نو كان عبدالله بن عمر لايقرأ خلف الامام.

نافع وايي ده به هم قرائت خلف الامام نه کوه نو وهابيانو نه تپوس په کار ده چې مونځ يې شوې دي او که نه دوي خو وايي چې مونځ نه کيږي کنه.

قال يحيى سمعت مالكاً يقول الأمر عندنا أن يقرأ الرجل وراء الامام فيما لا يجهر فيه الامام بالقراءة ويترك القراءة فيما يجهر فيه.

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ وايي زمونږ دا رايه ده مخکې د امام احمد صاحب رايه هم ما ذکر کړه او د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ هم دغه رايه ده چې کوم ځای کې امام جهر کوي نو مقتدي دې نه لولي.

ويترك القراءة فيما يجهر فيه. او چې کله امام جهر نه کوي نو مقتدي دې بيا لولي.

دارنګې موطأ امام مالک جلد ۱ صفحه ۸۴:

وحدثني عن مالك عن ابي نعيم وهب بن كيسان انه سمع جابر بن عبدالله يقول من صلی ركعة لم يقرأ فيها بأم القرآن فلم يصل الا وراء الامام.

دارنگې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۸۶:

حدثنا وكيع عن الضحاك بن عثمان عن عبدالله بن يزيد عن ابن ثوبان عن زيد بن ثابت قال لا تقرأ خلف الامام ان جهر ولا ان خافت.

ته به امام پسې څه نه لولې كه امام جهر كوي كه پټ والې كوي ګورې د زيد بن ثابت دا فتوی د مسلم د روايت تفصيل دی چې:

لا يقرأ خلف الامام في شيء. داد امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله مذهب دی چې كوم زيد بن ثابت بيان كړې دې.

دارنگې سنن الكبرى للبيهقي جلد ۲ صفحه ۱۶۰:

اخبرنا ابو عبدالله الحافظ وابو سعيد بن ابي عمرو قالا حدثنا ابو العباس محمد بن يعقوب اخبرنا هارون بن سليمان حدثنا عبدالرحمن بن مهدي عن سفيان وشعبة عن منصور عن أبي وائل أنّ رجلاً سأل ابن مسعود عن القراءة خلف الامام.

د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ الله عَنهُ نه د قراءة خلف الامام تپوس چا وكړو.

فقال انصت للقرآن فان في الصلاة شغلاً وسيكفيك ذاك الامام.

تا نه په دې قرائت كې امام كفايت كوي.

دارنگې شرح معاني الاثار جلد ۱ صفحه ۲۱۹، دا زه د مختلفو كتابونو حوالې ځكه ذكر كوم چې دا ټول سندونه معاني الآثار جمع كړې دي.

خو ما د اهل حديثو بيان واوريدلو وايي چې قرائت خلف الامام ته راشي وايي طحاوي به يې كلک راټينګ كړې وي چيرته بل كتاب دوي سره نشته.

اوس ګورې چې كتابونه مونږ سره شته او كه نه ابوداؤد مونږ سره دې بخاري مونږ سره دي او د مسلم حوالې مو ذكر كړې د دار قطني حواله مو هم پيش كړه موطأ خو ټوله زمونږ ده په دې باب كې ځكه هغه خو قائل زمونږ د مذهب دې د غسې ابن ابي شيبة له مونږ سره دې.

نو چې کوم روايت ما بل ځای نه دي پيدا کړي نو ځکه ما معاني الآثار پيش کړې دي ګنې زه دا بالکل پيش کوم نه او باقي معاني الآثار په اتفاق د محدثينو ثقه دي خپل سند لري د حديثو په سند يې جرحه وکړه کنه.

معاني الآثار جلد ۱ صفحه ۲۱۹:

حدثنا ابو بكرة قال ثنا ابوداؤد قال ثنا خديج بن معاوية عن ابي اسحاق عن علقمة عن ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال ليت الذي يقرأ خلف الامام مليء فوه ترابا.

کاش هغه سړي چې قرائت خلف الامام کوي دا خوله يې د خاورو ډکه شي څومره غصه دي هغه چا لره چې د قرائت خلف الامام قائل دي.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۷۶:

حدثنا وكيع عن الضحاك بن عثمان عن عبيدالله بن مقسم جابر قال لا تقرأ خلف الامام.

امام پسې به څه نه لولي د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فتوی ده.

دارنګې معجم ابن الاعرابي جلد ۵ صفحه ۲۷۰:

حدثنا الفضل قال وحدثنا ابونعيم قال سمعت ابن ابي ليلى ومر على دار ابن الأصبهاني فقال حدثنا صاحب هذه الدار وقد قرأ على أبي عبدالرحمن السلمي عن المختار بن عبدالله بن ابي ليلى عن علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال من قرأ خلف الامام فليس على الفطرة.

دلته فطرة اسلامي نه دي مراد له فطرة نه دلته سنت دي چا چې قرائت خلف الامام کوه دا په سنتو نه دي يعني په سنتو برابر نه دي.

دارنګې السنن الكبرى للبيهقي جلد ۲ صفحه ۱۶۳:

اخبرنا محمد بن عبدالله الحافظ ومحمد بن موسى بن الفضل قالا حدثنا ابو العباس محمد بن يعقوب حدثنا اسيد بن عاصم حدثنا الحسين بن حفص عن سفيان عن عمر بن محمد عن موسى بن سعد عن ابن زيد بن ثابت عن ابيه زيد بن ثابت قال من قرأ وراء الامام فلا صلاة له.

چا چې امام پسې قرائت کوه مونځ يې واي نه کيږي.

د لا صلاة له قول دده حمل کړې په جهري باندې او لا صلاة نفي د کمال کړې چا چې په جهري لمونځونو کې قرائت خلف الامام وکړو نو مونځ يې کامل نه دې ځکه مکروه تحريمي تري شوې.

سنن دار قطني جلد ۲ صفحه ۱۲۳:

حدثنا بدر بن الهيثم القاضي حدثنا محمد بن اسماعيل الأحمسي حدثنا وكيع عن علي بن صالح عن ابن الأصبهاني عن المختار بن عبدالله بن أبي ليلى عن ابيه قال قال علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ من قرأ خلف الامام فقد اخطأ الفطرة.

چا چې قرائت خلف الامام کوه سنت يې خطاء کړل.

دارنګې مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۱۲۹:

عبدالرزاق عن عبدالرحمن بن زيد بن اسلم عن ابيه قال نهى رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن القراءة خلف الامام.

منع يې کړې له قرائت خلف الامام نه.

قال وأخبرني اشياخنا ان عليا قال من قرأ خلف الامام فلا صلاة له.

د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول دادی چې څوک امام پسې قرائت کوي مونځ يې کامل نه دي.

قال وأخبرني موسى بن عقبة أن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و أبو بكر وعمر وعثمان كانوا ينهون عن القراءة خلف الامام.

دې ټولو به د قرائت خلف الامام نه خلک منع کول.

دارنګې شرح معاني الآثار جلد ۱ صفحه ۲۲۰:

حدثنا ابن ابي داؤد قال حدثنا ابو صالح الحراني قال حدثنا حماد بن سلمة عن ابي حمزة قال قلت لابن عباس اقرأ والامام بين يدي فقال لا.

امام چې زما مخې ته يې قرائت لولمه ويل نه.

دارنګې شرح معاني الآثار جلد ۱ صفحه ۲۰۵ :

حدثنا ابن مرزوق قال حدثنا وهب بن جرير بن حازم قال حدثنا ابي قال سمعت ابا يزيد المدني يحدث عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنه انه قيل له ان ناساً يقرءون في الظهر والعصر.

ابن عباس رضي الله عنه ته چا وويل چې دلته څه خلک دي ماسپښين او مازديګر کې قرائت کوي .

فقال لو كان لي عليهم سبيل لقلعت السنتهم .

که زما پرې وس بَر شي نو ژبې به ترې کټ کړم .

ګورئ د ابن عباس رضي الله عنه رايه هم د امام ابو حنيفه رحمه الله د رايې په شان ده په سري کې هم منع کوي .

دارنګې الموطأ د امام محمد جلد ۱ صفحه ۲۰۴ :

قال محمد اخبرنا داؤد بن قيس الفراء اخبرنا محمد بن عجلان ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال ليت في فم الذي يقرأ خلف الامام حجراً.

عمرِ فاروق رضي الله عنه فرمايي : کاش ! په خوله د هغه چا کې چې قرائت خلف الامام کوي کانړي واي څوک پيدا شوې واي چې دا خوله يې ورته له کانړو ډکه کړې واي وربنده کړې واي بالکل.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۷۶ :

حدثنا وكيع عن قتادة عن داؤد بن قيس عن أبي بجاد عن سعد قال وددت أنّ الذي يقرأ خلف الامام في فيه جمرة.

خوښه مې داده چې قرائت خلف الامام کوي خوله کې سکروټې واچول شي .

دارنګې روح المعاني جلد ۵ صفحه ۱۴۲:

وقال الشعبي أدركت سبعين بدرياً كلهم يمنعون المقتدي عن القراءة خلف الامام .

دا حديث روح المعاني په مذکوره صفحه را اخيستې دي خو ما په متون الحديث کې ولټوه خو پيدا مې نه کړ.

امام شعبي خود ۵۰۰ صحابه کرامو ملاقات کړې خو د ۷۰ بدري صحابه وو ملاقات يې کړې دي، نو وايي چې د ۷۰ بدري صحابه وو ملاقات مې وکړو ټولو به د قرائت خلف الامام نه خلک منع کول.

دارنګې شرح ابي داؤد للعيني جلد ۳ صفحه ۵۰۳:

وذكر اصحابنا ان منع المقتدي عن القراءة مأثور عن ثمانين من كبار الصحابة منهم علي والعبادلة رضي الله عنهم.

زمونږ ائمه دا نقلوي چې قرائت خلف الامام منع د مقتدي د ۸۰ لويو صحابه وو نه منقوله ده په هغې کې حضرت علي رضي الله عنه غوندې انسان دي او په هغې کې عبادلة الثلاثة يا اربعه دي.

که د يو چا ذهن ته دا راشي چې تا خو په سندونو تحقيق ونه کړو دې کې به ضعيف سند وي.

هغې د پاره دومره زه وايم چې دا څومره روايات ما ذکر کړه دا ټول ضعيف کړي نو يو ضعيف چې دومره طروق متعدد ولري او دومره مضمون پرې ثابت وي نو بيا يې درجه څه ده هسې ستاسو ذهن پرې خلاصوم چې دا ټول هم ضعيف شي د سند په لحاظ سره دا دومره کتب الحديث او جمع غفيره داد عمده صحابه وو فتوی ګانې دوي سره به څه کوي.

نو دا هغه مسئله وه چې وهابيانو شورش ورکړې چې د احنافو مونځ نه کيږي ځکه قرائت خلف الامام نه کوي او در حقيقت ددوي لمونځونه ناقص دي چې په جهري کې څوک قرائت خلف الامام کوي.

المبحث الثاني:

په اخره کې ددوي يو څو روايات ما را اخيستې دي يو کتاب دې په نوم د آثار السنن د علامه نيموي رحمه الله تصنيف دي هر حنفي ته په کار دادی چې دا پيدا کړي او له ځان سره يې وساتي دا ډير يو جامع کتاب دي دې مدينې منورې ته تللې وه هغلته يې افتراء اوريدلي وه د ديوبند د اساتذه وو نه مخکې دي.

نو مدینه منوره کې علامه نیموي صاحب افتراء اوریدلي وه چې دا حناف چې دي دا رایې تابع دي حدیث نه لري نو دغه اعتراضونه پرې ډیر بد لګیدلي وه نو چې واپس هندوستان ته راغې ده قسم کړې وه چې زه به تمامه فقه حنفي په حدیثو ثابتومه بس بیا یې شروع وکړه چې کتاب الجنایة ته ورسیدلو نو مبارک وفات شو هغه ارمان یې پوره نه شو.

نو دا یو جلد یې دنیا کې پاتې دي خو داسې کتاب یې لیکلي چې هر چا کتاب لیکلي نو مقابل جانب پرې رد کړې خو په آثار السنن تر اوسه چا رد نه دي کړي چیرته به هم د وهابیانو کتاب پیدا نه کړي چې د آثار السنن مقابله یې کړې وي ځکه دې داسې نا اشنا محقق دي چې په اسماء الرجال کې داسې تحقیق کړې چې د هغې څه جواب نه کیږي.

بیا دده شاګرد اعلاء السنن ولیکلو د خپل شیخ هغه ارمان یې پوره کړو نو اعلاء السنن خو یقیناً له ده نه ډیر تفصیلي دي خو طرز یې دومره ښکلي نه دي لکه دده چې څومره ښکلي طرز دي له هغه نه خبره ورک کیږي یعنې هغې نه اخذ په مشکله سره کیږي.

نو ددوي چې کوم ضعیف روایات دي هغه خو به زیات وي او هغه علامه نیموي اشارات ورته کړې دي جواب کړې دي خو هغه اقوی دلیل چې له دوي سره حدیث صحیحه دي او په دلیل کې دوي پیش کوي هغه حدیث صحیح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۹۲ کې مذکور دي:

حدثنا علي بن عبدالله قال حدثنا سفیان قال حدثنا الزهري عن محمود بن الربیع عن عبادة بن الصامت أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال لا صلاة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب.

دغه حدیث ددوي هغه قوي دلیل دي د سند په لحاظ سره خو علامه نیموي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي:

لکن في الاستدلال بهذا الحدیث نظر.

حدیث خو صحیح دي د سند په لحاظ خو د قرائت خلف الامام د مقتدي لپاره ددې حدیث نه اخذ په دې کې اعتراض دي.

همدغه حدیث سنن ابي داؤد را اخیستې جلد ۱ صفحه ۳۰۲ کې د عبادة بن الصامت روایت ذکر کوي:

قال لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب فصاعداً .

سند کې سفيان راځي .

قال سفيان لمن يصلي وحده .

داد هغه چاباره کې دي چې ځان ته لمونځ کوي او يا امام وي داد مقتدي متعلق نه دي .

دارنګې سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۱۱۸ :

وأما أحمد بن حنبل فقال معنى قول النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب اذا كان وحده .

کله چې ځان ته وي اوس ته د امام احمد بن حنبل نه په دې حديث بنه پوهيږې ته د سفيان ثوري نه چې راوي ددې حديث دي او په سند کې راغلي له ده نه ته بنه پوهيږې چې داد قرائت خلف الامام متعلق را اخلي .

نو امام ابي داؤد د سفيان الثوري قول را اخلي چې :

لمن يصلي وحده .

او امام ترمذي چې دې هغه د امام احمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ قول په دې ځای را اخلي .

واحتج بحديث جابر بن عبدالله حيث قال من صلى ركعة لم يقرأ فيها بأم القرآن فلم يصل الا ان يكون وراء الامام .

دا الا ان يكون وراء الامام چې مخکې ما تاسو ته حديث ذکر کړ او ما درته ويلې چې دا استثنى ياده ساتي هغه د دغه ځای لپاره چې استدلال په دغه حديث ددوي تام نه دي دې حديث کې دا نه دي راغلې چې مقتدي يا امام يا منفرد .

خو چې هر کله په روايت د جابر بن عبد الله کې دا راغلل چې الا ان يكون وراء الامام ، نو مقتدي يې ترې مستثنى کړه ددې حديث عام نه چې هر کله مستثنى شو نو حديث د لا صلاة لمن لا يقرء بفاتحة الكتاب پاتې شو حکم ددې تر امام پورې .

قال احمد بن حنبل فهذا رجل . دا دي جابر بن عبد الله يو سړي .

من اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم تأول قول النبي صلی الله علیه وسلم لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب ان هذا اذا كان وحده.

امام احمد دغې نه استدلال کوي چې دادي جابر ابن عبدالله د نبي علیه السلام صحابي دي هغه د لا صلاة الا بفاتحة الكتاب عام تر مقتدي نه پريږدي بلکې مقتدي ترې مستثنى کوي : الا ان يكون وراء الامام استثنى يې کړې ده نو امام احمد دې نه اخذ کوي چې د نبي علیه السلام يو صحابي دي دغه حديث عام پرې نه بنود لو .

نو مونږ به په دې شکل جواب کوو چې راوي دا حديث يو بل صحابي جابر ابن عبدالله دا مختص تر اماما که تر منفرد که نه تر مقتدي استثنى يې وکړه ترې نه .

په رواتو کې سفيان الثوري دا مختص تر منفرد که امام احمد بن حنبل غوندې امام د حديثو دا مختص تر منفرد که نو حديث صحيح دي خو استدلال يې تام نه دي .

دويمه طريقه داده چې د بخاري حديث به ورته پيش کړي په همدې سره د عبادة بن الصامت روايت يې پيش کړې دي .

لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب فصاعداً .

نشته لمونځ چې فاتحه ونه لولي او څه زيات تلاوت ورته ونه کړي همدغه حديث امام ابي داؤد په صحيح سند سره زيادت د قول د فصاعداً په کې کوي .

وهابيانو نه اوس دا تپوس په کار دي چې دغه حديث د فصاعداً چې په کې راغلې دي دا تر امام منفرد دي او که دا تر مقتدي پورې عام دي که مقتدي پورې عامه وي نو دا خو وايي ستاسو هم فتوى نه ده دوي هم وايي چې فاتحې نه اخوا ته تلاوت مقتدي لره مستحب دي د ترک په صورت کې لا صلاة قائل نه دي .

او حديث دا ثابتوي چې : لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب فصاعداً .

څه زائد يې هم ونه لوستل نو مونځ يې نه کيږي نو د قيد د فصاعداً د روايت د ابي داؤد نه واضحه معلومه شوه چې دا مقتدي نه يادوي دا امام او منفرد يادوي .

دريم دلته دوي په فرضيت د فاتحې درسره مباحثه کوي چې فاتحه فرض ده دليل دا
پيش کوي، نو د هغې نه جواب په څو طريقو صوري کيدې شي چې حديث دا متواتر نه دي
خبرِ واحد صحيحه دي او اخبار احاد افاده د علم قطعي نه کوي د ظني کوي.
دوي ځان ته يو اصل جوړ کړې دي چې حديث صحيحه مفيد د علم قطعي دي نو ورته
روايه په دغه خبره باندې ما ته اسلافو کې يو اصل راکړه.
اصول حديث خو به هغه منو چې کوم اسلافو بيان کړې دي اصولو حديث باندې
کتابونه ليکل شوې هغه کتابونه اصول حديث باندې ليکل شوې هغه کتابونه چې اصولِ
حديث کې ليکل شوې په هغې کې يو جزيه ما ته وښايه چې حديث صحيحه مفيد د علم
قطعي دي.
دا خو ته بالکل خرق الاجماع کوي په دې مسئله کې وايي نه چې صحيح شو نو شبهه
ختمه شوه نو شبهه کله ختمه ده احاد په کې راغلې شبهه بيا هم باقي ده قطعيت خو نه فائده
کوي او که کوم سړي تعصب کوي د اسلافو اصول نه مني او وايي چې نه حديث صحيح
مفيد د علم قطعي دي.
نو هغه ته وايه چې الله دې په سترګو ړوند کړه لکه په زړه چې ړوند يې ته خپله ګريوان
کې فيصله وکړه چې حديث د **لا صلاة الا بفاتحة الكتاب** او قرآن عظيم الشان يو آيت ستا په
نزد باندې په علم قطعي په افاده کې په مثابت دي.
آيا حديث مذکوره في البخاري هغه شان علم او يقين افاده کولې شي څومره يقين چې
قرآن کريم افاده کوي نو چې نه يې شي کولې هغه مفيد د علم قطعي دي نو خپله به دلته ظني
قول کوي که دادې مفيد د علم قطعي کړ نو دا خو دې په مثابت د قرآن کريم کې وګرځوه په
تواتر او حديث متواتر نه دي خبرِ واحد دي دده مرتبه خو د قرآن عظيم الشان نه په قطعيت
کې کمه ده دې دې هم ګريوان کې سوچ وکړي د قرآن کريم د نص او مره قطعيت خو نه لري ولو
که صحيح ثابت دي.
نو چې هغومره افاده د قطعيت نه شي کولې قرآن کريم مفيد د علم قطعي دي خپله خبرِ
واحد مفيد د علم ظني پاتې شو که دا هم مفيد د علم قطعي وګرځي.
نو فرق به څه شي په مينځ د اخبار احاد او د قرآن عظيم الشان کې.

بيا خو فرق پاتې نه شو په افادې د علم کې هلته هم منکر کافر شو دلته دې هم منکر کافر کړ نو فرق څه شي دي په کې نو دا مفيد د علم ظني دي.

او حديث ظني الثبوت او قطعي الدلالة دا افاده د وجوب کوي او د فرض نه شي کولې ځکه دليل کې شبهه راغله نو لهذا فاتحه واجب ثابته شوه فرض نه هم دغه د احنافو رايه ده چې واجب ده او فرض نه ده.

او بله طريقه داده چې روايت د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې دا راغلې:

فهي خداج. که چا ونه لوستله نو مونځ يې ناقص دي.

نو ناقص خو فاسد ته نه ويل کيږي لکه حديث مبارک کې راځي:

الصلاة مثنى مثنى ان تشهد في رکعتين وان تباءس وتمسکن وتقنع بيديك وتقول اللهم اللهم فمن لم يفعل ذلك فهي خداج. (جامع الأصول ج ۵ صفحه ۴۳۳).

چا چې ونه کړو مونځ يې ناقص دي.

اوس به هلته څه معنى کوي چې مونځ يې نه دې شوې چې چا دعاء بعد الفرض يا بعد السنة نه ده کړې.

خو ناقص معنى دا چې آدابو کې کم شو کنه د خداج اطلاق خو په دغې هم کيږي ناقص ورته ويل شوې چې ناقص وويلې شو.

نو لا صلاة کې نفي د جنس مه کوه نفي د صفت الجنس وکړه.

دا لا صلاة کې کوم لا دي لنفي الجنس دي کنه او تاسو په جامي کې ويلې اطلاق د لا لنفي الجنس اختصار دي په حقيقت کې دا لا لصفت الجنس ده يعنې لا لنفي صفت الجنس ده مثلاً لا رجل قائماً في الدار په يو کور دې ډزې شروع کړې دي او يو چغه وکړي لا رجل قائماً في الدار په کور کې ولاړ سړي نشته بس ډزې بندې کړي.

ددې اوس څه معنى سړي نشته که ولاړ نشته ولاړ نشته کنه سړي خو په کې دي لا رجل قائماً في الدار نفي د صفت د رجل نه کوي چې قيام دې قيام ترې نفي کوي سړي نه نفي کوي نو

لا لنفي صفت الجنس ده دا لنفي الجنس نه ده اطلاق د نفي الجنس ولې كيږي وايي اكثراً دي د پاره خبر لفظ د موجود راځي لكه لا اله موجود اكثر داسې راځي د الفاظِ عامو نه يې خبر راځي.

نو چې هر كله د الفاظِ عامو نه يې خبر راغې او لا لنفي الجنس كې نفي صفت الجنس او دغه وخت كې صفت دده وجود دده دي او د يو ذات نه چې دغه وجود نفي كړي خو ذات خپله ختم شو نو لا لنفي الجنس په دغه وجه ورته وايي چې په كومو ځايونو كې ددې د پاره خبر وجود راشي موجود او ته دا لا صفت د وجود ته راجع كړي او دا وجود ترې لرې كړي چې وجود دې لرې كړ خو ذات دې لرې كړو نو ځكه ورته نفي الجنس وايي تغليباً دغه اطلاق شوې دي ورنه په حقيقت كې دا نفي صفت الجنس ده نفي د جنس نه ده.

نو لا صلاة دا لا دې جنس ته مه متوجه كوه صفت ته يې متوجه كړه لا صلاة چې جنس ته متوجه شو معنى جنس مونځ نشته يا د مانځه هغه ذات يې نشته دي خو فرض دې ترې ثابته كړه او كه ته يې صفت ته متوجه كړي لا صلاة كاملة مونځ شته دي خو كامل نه دي صفت ترې نفي كړه مونځ مه نفي كوه.

او لا دلته دې هم لنفي صفت الجنس په حقيقت كې خو هغه وخت كې نفي د جنس وي چې خبر ورته موجود را واخلي او كوم محدث به دا معنى وكړي چې لا صلاة موجود الا بفاتحة الكتاب.

مونځ موجود نه دي سوا د فاتحې د كتاب نه خو ټول فقهاء او محدثين دغه ځاى كې دا وايي چې لا صلاة كاملة، كامل مونځ نه دي چې فاتحه نه وي.

او داسې ډير ځيزونه دي چې هغې ته نسبت د لا صلاة شوې دي لكه لا صلوة لجار المسجد الا في المسجد، د ګاونډي د مسجد مونځ نه كيږي مګر په مسجد كې اوس لا ذات ته كله راجع كولې شي چې ذات يې نه كيږي نه لا صلاة كاملة كامل نه دي ځكه جمع ترې پاتې شوې ده.

نو دا اقوی ادله د مثبتینو د قرائت خلف الامام نه دي خو استدلال يې تام نه دي حديث باندې هيڅ جرحه نشته حديث قويه دي .

خو دا چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د چا باره کې ويلي دي هغه نه دي معلوم هغه نور صحابه کرام وراء الامام استثناء کوي سفيان الثوري تر منفرد پورې خاص کوي .

امام احمد رَحِمَهُ اللهُ يې تر منفرد خاص کوي ائمه يې تر منفرد پورې خاص کوي نو دغه استدلال تام نه دي .

دويم روايت : هغه روايت د ابي داؤد او د ترمذي دي او امام بخاري په جزء قرائت خلف الامام کې را اخيستې دي هغه هم روايت د عبادة بن الصامت دي :

حدثنا عبدالله بن محمد النفيلي حدثنا محمد بن سلمة عن محمد بن اسحاق عن مكحول عن محمود بن الربيع عن عبادة بن الصامت قال كنا خلف رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في صلاة الفجر فقرأ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

فثقلت عليه القراءة . قرائت پرې درووند شو .

فلما فرغ قال لعلكم يقرءون خلف امامكم قلنا نعم هذا يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

قال لا تفعلوا الا بفاتحة الكتاب فانه لا صلاة لمن لم يقرأ بها .

نو دا الفاظ اوس په دې دال دي چې مقتدي يې هم ونه لولي نو لا صلاة راجع شو ورته.

دا حديث يو خو ددې په سند کې مکحول راغلې دي عن محمود بن الربيع او مکحول معروف دي په تدليس باندې دلته يې عنعن کړې ده او عنعن د مدلس مقبوله نه وي دا يو علت **فمعلول بثلاثة وجوه** دا حديث معلول دي په درې وجهو يو يې سند کې مکحول دي **وهو مدلس وقد عنعن** ، مدلس دي عنعن يې کړې .

حافظ ذهبي په ميزان الاعتدال د مکحول دمشقي متعلق ليکي :

مفتي اهل دمشق و عالمهم والثقة غير واحد .

ډيرو علماو يې توثيق کړې دي .

وقال ابن السعد في الطبقات ضعفه جماعة . يوه لويه ډله يې تضعيف کوي .

امام ذهبي وايي :

قلت هو صاحب تدليس . دې مدلس وه .

وقد رمي بالقدر . مرمي وه په قدريت باندې .

نو هغه محدثين چې قدريت او اعتزال جرحه ګڼي د هغوي په نزد خو حديث ضعيف دي يا .

او دارنګې عنعن د مدلس چې مقبوله نه ده د هغوي په نزد دا کله په شاهد کې پيش کيدې شي .

مرمي بالقدر وه دې قدريه وو نه وه .

وقال في الطبقات الحفاظ . امام ذهبي وايي .

يرسل كثيراً . ډير زيات ارسالات به يې کول .

ويدلس عن ابي بن كعب عن عبادة ابن الصامت وعائشة . خاصتاً د بي بي عائشې رضي الله عنها عبادة ابن الصامت او د ابي بن کعب نه به يې تدليسات کول دده په سندونو کې .

فثبت انه يدلس ويرسل عن الصحابة كثيراً وهذا الحديث رواه معنعناً عن محمود ابن الربيع .

نو يو اعتراض دغه دې چې دلته د مکحول مدلس عنعن راغلې ده ، دويم اعتراض دادی :

وقد اضطرب في اسناده . دده په سند کې اضطراب دې .

امام بيهقي په سنن کې په جلد ۲ صفحه ۱۶۴ کې چې حاشية جوهر النقي پرې لګيدلې ده هغې ذکر کړې دي :

قلت رواه مكحول مرة عن عبادة بن الصامت مرسلاً . بعضې سندونو کې مکحول داد عبادة بن الصامت نه مرسل پيش کوي سند کې محمود بن الربيع ترک کوي .

دويم : واخرى عن نافع بن محمود عن عبادة .

دویم سند کې عن نافع بن محمود عن عبادة پیش کوي.

دریم: تارة عن محمود عن عبادة. په دریم سند کې عن محمود عن عبادة پیش کوي.

وتارةً عن محمود عن ابي نعیم انه سمع عبادة عن النبي صلى الله عليه وسلم.

اوس دلته څلورو سندونو باندې مکحول روایت کوي کله ارسال کوي د عبادة نه واسطه په کې د نافع بن محمود پریږدي کله په واسطې د نافع بن محمود عن عباده پیش کوي، او کله عن محمود عن عبادة نو نافع نه نه د پلار د محمود نه یې پیش کوي او کله عن محمود عن أبي نعيم أنه سمع عبادة بن الصامت.

اصل کې د نافع بن محمود د عبادة نه سماع نشته دي نو چې سماع نشته دي دلته په وسط کې قطعه راغله حدیث بیا څنګه قوي شو او څنګه شاهد پیش کیږي.

نو بعضې روایاتو کې بیا عن محمود عن ابي نعیم انه سمع عبادة دي نو دا اضطراب سندي دي.

نو علامه نیموي فرمایي:

فادخل بين محمود وعبادة رجلاً آخر وهو ابو نعيم فاضطرب اسناده والاضطراب مورث يضعف.

نو دویم علت دادی چې دې کې اضطراب دي.

دریم اعتراض دادی چې ددې په سند کې محمد ابن اسحاق راغلې دي ولا يحتج به اذا انفرد، هغه چې په سند کې یو ائې راشي مدار وګرځیږي او د هغه متابع موجود نه وي دلیل کې نه شي پیش کولې په هغه جرحې دي.

حافظ الذهبي په میزان الاعتدال کې په ترجمه د محمد بن اسحاق کې لیکي:

وما انفرد به ففيه نكارة. چې کله دې منفرد وي هغه کې نکارت وي.

فان في حفظه شيئاً. دده په حافظه کې څه کار وه یعنې کمزورې وه.

حافظ ابن حجر په درایه کې لیکي:

في كتاب الحج وابن اسحاق لا يحتج بمن فرد به من الاحكام فضلاً عما اذا خالفه من هو

اثبت منه .

نو فالحديث معلول بثلاثة وجوه .

علامه نيموي وايي :

فبذلك بطل قول من زعم ان هذا حديث حسن .

چا چې دې حديث ته حسن ويلې دي نو د هغه قول ورباطل شو چې دې کې درې علتونه دي عنعن د مدلس مکحول ورکيده اضطراب د مکحول دي بين عبادة وبينه ، چې کله زيادت د ابونعيم کوي او کله نه کوي .

او بل تفرد د محمد ابن اسحاق دي چې مدار راغلې متابع نه لري او محمد بن اسحاق اذا انفرد لا يحتج به .

څه نور روايات ددوي په دې مسئله باندې شته دي ضعيف او باقي کوم زيات چې دوي پيش کوي د صحابه وو اقوال دي وه دې شرميږي ، ځکه بشاوري وايي :

هذا موقوف لا حجة في الموقوفات . نو موقوف خو ددوي په نزد دليل نه دي نو بيا يې پيش کوي ولې.

د صحابه وو فتوی خو دوي ته دليل نه ده هغه چې نه ترې واوري او نه يې ورسره ومني هغه خو لنډه خلاصه کړي امين الله بشاوري وهابي اول نه آخره پورې څه د پاسه څلويښت (۴۰) ځايه دا ليکلي چې موقوف کې دليل نشته نو چې موقوف کې دليل نشته دي نو مونږ ته يې څه ته پيش کوي بيا .

د هغوي خو مه سند لټوي او مه جرحې اګر که ضعيف دي علامه نيموي پرې ردود کوي خو چې ضعيف نه هم شي البته يو روايت د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوي پيش کوي ډير پرې نازيږي چې ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه شاګرد تپوس وکړو چې امام ورانډې وي بيا يې هم لولمه اقرأ بها في نفسك يا فارسي .

اوس دا فتوی ذ چا ده نو داد ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل شاګرد لره چې اقرأ بها في نفسك يا

فارسي، امام چې قرائت کوي زه يې لولمه هاو لوله يې في نفسك يا فارسي.

نو د هغې جواب په څو طريقو دي يو دا فتوى د حضرت ابو هريره رضي الله عنه ده موقوف لا حجة في الموقوفات.

نو اوس د حضرت ابو هريره رضي الله عنه فتوى په مقابل د فتوى د عبد الله ابن مسعود، د زيد ابن ثابت، جابر بن عبد الله، عبد الله بن مغفل، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر خپله عمرِ فاروق رضوان الله تعالى عليهم اجمعين چې کومې فتوى ما مخکې پيش کړې خپله ګريوان کې سرتيت کړي دده دا فتوى به په مقابل د هغه فتوو کې څومره اهميت ولري.

بله دا چې دغه حديث کې جهر نه دي راغلې زه يې وايمه چې امام يې وايي وايي هاو وايه يې خو په نفس کې وايه دلته د جهر څه ذکر نشته دي د ماسپښين يا د مازديګر لمونځ به وي وايه وريسې هغه خو خلاف اولى مونږ ګڼو جائز خو يې ګڼو کنه.

د پنجاب يو عالم دلته يو بل عجيبه جواب کوي هغه ورته وايي د حضرت ابو هريره رضي الله عنه دا خبره چې: اقرأ بها في نفسك يا فارسي.

وايي ددې دا معنى نه ده چې پټه يې وايه يعني امام به لګيا وي ته يې پټه لوله وايي دا معنى نه ده هغه مناظر ورته وايي څه معنى يې ده وايي ددې معنى داده چې:

اقرأ بها حين كنت منفرداً. چې کله ځان ته وي نو لوله يې دا يې معنى ده.

هغه وهابي ورته وايي دا معنى د سره په لغتو کې نشته.

اقرأ بها في نفسك. پټه يې لوله دا يې معنى ده هغه ورته وايي وايي د اسم تعريف راته وکړه:

كلمة تدل على معنى في نفسه. ددې څه معنى ده کلمه ده چې دلالت کوي په معنى باندې، في نفسه، ددې في نفسه څه معنى ده چې پټه دلالت کوي ښکاره يې نه کوي که ذ في نفسه معنى داده چې: كلمة تدل على معنى منفرداً مستقلاً دلالت په معنى انفراداً کوي او استقلالاً يې کوي.

وايي ددې دا معنى ده چې:

اقرأ بها في نفسك حين كنت مستقلاً و منفرداً . كله چې ځان ته وي نو لوله يې .

هغه وهابي نه يې لاره ورکه کړې ده .

وايي دا خو اصول دي په احاديثو کې وايي په احاديثو کې هم درته بنودلې شمه :

من ذكرني في نفسي ذكرت في نفسي . وايي دد ې څه معنی ده چې څوک مې پټ يادوي زه يې پټ يادوم دا معنی وايي نه ده .

من ذكرني منفردا ذكرته منفردا. ځکه وروسته پسې راځي :

من ذكرني في ملاء ذكرته في ملاء خير منه .

المقابل د ملاء کې دا راغله چې هر کله دا مقابل د ملاء کې راغله نو دا انفراد دي او هغه جمع ده .

نو من ذكرني في نفسي . دا معنی څه ده منفرداً ځان ته ما يادوي نو زه به يې ځان ته ياد کړم .

وايي اقرأ بها في نفسك معنى دا چې منفرد يې نو لوله يې دا معنی نه ده چې پټه يې لوله ترآخره پورې وهابي سره څه جواب نه دې پيدا شوي .

نو خلاصه دا چې قرائت خلف الامام جماهير له مونږ سره دي چې په جهري وو کې نه دي کول په کاړ که سري کې وايي خلاف اولی او که چا ولوستله څه باک نه کوي کراهيت هلته بيا تنزيهي دي په درجه د لا ينبغي کې دي .

مسئلة قرائت خلف الامام ختمه شوه

بعض معتقدات ابن تيمية :

التحقيق في بعض معتقدات ابن تيمية :

بعضې خلکو ابن تيميه مجتهد او امام ګڼلې دي نو زه ورته امام او مجتهد نه وايمه دده لپاره رايې دي چې هغې کې دي منفرد دي د تمام امت د اسلافو نه دي البته قول په زنديقت او کفر دده هم نه کومه .

باقي دده سره معاصرين چې وه امام سبکي وه من الشافعيه او علامه سمهودي وه دوي دواړو په خپله زمانه کې د ابن قيم په دور کې د ابن تيميه کلکې مقابلې کړې دي په هغه آراء منفرده وو کې چې ابن تيميه لرل هغې نه وروسته چې کوم محدثين دي سوا د يو څو کسانو نه لکه امام ذهبي چې په فن د تاريخ او اسماء الرجال کې يو څه مهارت لري فن د فقهې وغيره کې بيا د و مره نه دي .

بيا ابن کثير من الشوافع چې دا بيا شاګرد ابن تيميه يا ابن قيم نو اصلاً ابن تيميه دا درې شاګردان لري او درې واړه شاګردان يې ډير زيات تصانيف لري نو خلکو ته بيا معلومه نه وي چې دا شاګردان د چا وي خو د هغوي په قول اعتماد کوي .

يو د هغوي نه ابن کثير دي ابن کثير د ابن تيميه له خاصو شاګردانو نه دي ، نو بعضې مسائلو کې اګر که د هغه ډير رنګ پرې نه وه ختلې خو بيا هم د استاذ په شاګرد تاثير وي مسئله د تکفير د ابوي النبي ﷺ چې ابن کثير کړې ده په البداية کې دا اثر د شيخ دده دي په ده کې ښکاره شوې دي .

خو د معجزاتو په باب کې بيا ابن قيم او ابن تيميه ډيرو معجزاتو ته د وضعې قول کوي موضوعي او ضعيف يې ګڼي ابن کثير بيا مخالف دي هغه کوشش دا کوي چې معجزات که په ضعيف سند سره وي هم چې تعدد د طروقو نه يې قوي کړي د حسن درجې ته يې ورسوي خو بيا هم د ابن کثير کتابونو سره يو څه احتياط په کار دي .

بيا د ابن کثير شاګرد چې دي حافظ العراقي دي کوم چې د احياء العلوم تخريج يې کړې دي بيا دده شاګرد ابن حجر عسقلاني دي .

نو تقريباً ابن تيميه د ابن حجر عسقلاني شيخ الشيخ جوړيږي نو اګر که دا خو کلک شافعي المذهب وه او د اهلسنت نه وه او د تعطيل او د تشبيه په مسئله کې بالکل يو جانب

ته يې ذهاب نه وه کړي ، نو له دغه اړخ نه څه تاثيرات په کې شته نو اقوالو کې يې يو څه ويښيدل په کار وي .

حتی چې د ابن حجر صاحب هم اقوالو ته يې ويښيدل په کار دي چې دده شيخ د هغه چا شاګرد دي چې د هغوي سره څه ناڅه تعلق او تړاو لري .

بعضې علماو دلته پاکستان کې يو کتاب ليکلي رئيس الزنادقه ابن تيميه هغوي وړته د زنديقانو رئيس وايي دا رايه دد په حق کې شيعه ګان لري او حتی چې د بريل علماء اکثر دده په حق کې قول د رئيس الزنادقه لري .

او زموږ د حضرت صاحب بعضې مريدان هم په دې مسئله کې چې کلک تللي نو داسې نسبتونه يې کړې دي د هر چا خپلې رايې دي څه دليل به لري څه به وايي .

زما خپله رايه داده چې ابن تيميه ته امام ويل ، مجتهد ويل ، مقتدی ويل په دين کې سره د وجود د ائمه وو اربعو وو نه دا ضلالت او ګمراهي ده .

چې هر کله آئمه اربعه شته دي او د امت اجماع او اتفاق په اربعة ائمه وو راغلو او دده نه سوا څومره لوي لوي ستنې د دين او د حديثو موجودې وې د چا مذهب هم رائج نه شو .

بيا ابن تيميه مجتهد ګڼل او هغه د څلورو مذهبونو خلاف پنځم مذهب ګڼل او په هره جزيه کې د هغه رايې ته اعتبار ورکول .

حال دادی چې په فروعو کې دې د حنبلي فقهې مقلد دي او وي داسې يو سړي کله په فروعو کې په يو مذهب کې داخل وي خو په اصولو کې خارج وي لکه نن صبا اشاعتيان په فروعو کې ځان احناف ګڼي ليکن په عقائدو کې معتزله دي يا قدريه دي نو دغه شان دې هم په فروعو کې حنبلي وه .

په عقائدو کې بعضې مسائلو کې د جهميه وو لاره اختيار کړې ده په بعضې مسائلو کې د مشبه مجسمه وو لار اختيار کړې ده وغيره دد دې نه به زه هغه اقوال او عبارتونه تاسو ته ذکر کړم چې کومو علماو په ده ردونه کړي او هغه دده رايې وي په هغې کې دې متفرد وه .

په اسلافو کې ده سره څوک ملګرې نه وه يو کاريې په فتاوی کې دي خو اعتماد به پرې نه شي کولې دې چې هره خبره کوي دده رايه وي نو لنډو الفاظو کې خلاصه کړي چې په دې باندې اجماع د سلفو او خلفو علماو ده .

دا عبارت ابن تیمیه ډیر زیات وایي او ښکاره ښکاره په هغې کې د عمده عمده علماو مخالف اقوال موجود وي دې په هغې سترګې پټوي وایي دا اجماع د سلفو او خلفو ده.

یو لفظ بل ډیر زیات وایي او داد صحابه وو د تابعینو او د هغه چا چې په قول یې اعتماد کیږي د هغه په اقوالو کې نشته لکه دا دوي چې وایي چې دا شئ نشته دا الفاظ هم ډیر استعمالوي.

نو زه دلته بعضې معتقدات د ابن تیمیه ذکر کومه زما اعتراض دده په علم نه دې چې دې عالم نه وه ښه جید عالم وه په هر فن کې ماهر وه د ائمه وو د اقوالو جامع وه حافظ د حدیثو وه.

خو دا چې یو اڅې علم ذریعه د نجات ګرځي او که نه ګرځي دا جدا خبره ده.

نو که خدای ببښلې وي نو مونږ خفه وربانديې نه یو چې ولې ببښلې دې خو دا اقوال بعضې داسې دي چې سخت د اهلسنت د اقوالو نه بعید چلیدلې دي او بعضې داسې تفردات یې دي چې هغه تفوه پرې باندې چې سړي کوي نو یریږي چې زه د ایمان نه خلاص نه شم.

نو دا ټوله دا موضوع چې ما زیر بحث کړه فقط طالبانو او علماو ته چې دده د کتبو د مطالعې سره احتیاط وکړي اعتماد پرې مه کوي مه یې ګوري او که ګوري نو په دې نظریې مه ګورئ چې زه به دده له هرې خبرې فائده او چتوم ځکه چې داسې رایې لري چې هغه رایه کې به تا د اهلسنت د عقیدې نه واړوي نو دا بعضې معتقدات د ابن تیمیه دي:

اول: درء تعارض العقل والنقل:

اول انفرادي قول دده چې په هغې کې د بعض الفلاسفه وو معي وه:

القول بقدم جنس العالم دون فرده. امت په دې متفق دي چې عالم که جنس دي که یې نوعه ده که یې فرد دي حادث دي.

اصلاً ابن تیمیه دې خبرې ته زور ولې ورکوي چې جنس د عالم قدیم دي نوعه یې قدیمه ده فرد یې حادث دي دې خبرې ته ولې زور ورکوي دا خبره دده په اوه (۷) کتابونو کې له ده نه منقوله ده.

درء تعارض العقل والنقل داد ابن تیمیه کتاب دي جلد ۱ صفحه ۳۱۰ کې ليکي:

ثم بعض هؤلاء قد يجعلون نوع ذلك حادثاً كما تقوله الكرامية، وأما أكثر أهل الحديث ومن وافقهم فانهم لا يجعلون النوع حادثاً بل قديماً.

وايي داد کرامیه وو مذهب دي چې نوعې ته حادث وايي دا ځان نه تپل دي دده خبره ده.

داد اهلسنت اجماعي عقيده ده چې عالم مع نوعه مع جنسه و فرده دا حادث دي په رد د فلاسفه وو کې دا ويلې وه چې فلاسفه دوه ډلې شول هغه وخت کې يوه ډله فلاسفه وو چې هغوي عالم مع افراده او مع نوعه قديم وګڼل.

خو مراد له افرادو نه زه او ته نه يو مراد د افرادو نه يې هغه ماده واخيسته هغه جزء لا يتجزى چې ورته وايي دوي هغه وايي قديمه ده او هغه وه نو د هغې نه بعد بدء شروع شوه او د هغې سره ترکيب د اجزاء وشو.

نو يوه ډله داده چې د نوعې او ددغې مادې د قدم قائل دي او دويمه ډله د فلاسفه وو داده چې دې مادي ته حادث وايي خو دې نوعې ته يې قديم وايي.

ابن تيميه دا مسئله په کراميه وو وتپله دا عقيده د فلاسفه وو وه د دويم جماعت او ابن تيميه هم دغه عقيده د فلاسفه وو خپله کړه.

په دې وجه مو پوهوم چې ولې ابن تيميه دا خبره کوي دده مقصد څه دي خو دا دده عبارت دې ګوره:

اما اكثر اهل الحديث ومن وافقهم فانهم لا يجعلون النوع حادثاً.

دوي نوعې ته حادث نه وايي.

بل قديماً ويفرقون بين حدوث النوع وحدوث الفرد من افراده.

دوي فرق کوي چې نوع غير شئ دي او فرد غير شئ دي اول خو تاسو سوچ وکړئ چې وجود د نوعې بدون د فرد نه څنګه متصور دي شته دي چې انسان دې وي او زيد عمر بکر دا ټول افراد دې نه وي شته دي چې حيوان وي او افراد دي نه وي ورسره نو ته څنګه قديم نوعه ګڼې او فرد نه ګڼې هلته بيا او نوعه قديمه ګڼې او فرد نه ګڼې او فرق په کې څنګه کوي ته.

بیا په درء تعارض العقل والنقل جلد ۱ صفحه ٦٧ کې وایي :

ليس في القران ما يدل عليها البته فأذا قدر ان الاقوال هو الحركة فمن اين في القرآن ما يدل دلالة ظاهرة على ان كل متحرك محدث او ممكن .

وايي که څوک دا اعتراض درباندې کوي چې د خدای تعالی نزول تمامې دنيا ته دي قائل دي په نزول د حرکت سره قائل دي وايي که څوک دا وايي چې دا حرکت خو حادث دي نو وايي ته ورته ووايه .

فمن اين في القرآن ما يدل دلالة ظاهرة على ان كل متحرك محدث ؟.

دا چا ويلې چې هر حرکت والا محدث دي او يا هر حرکت والا ممکن دي .

وان الحركة لا تقوم الا بحادث او ممكن ؟.

دا چا ويلې چې هر حرکت نه قائمېږي مګر حادث او ممکن پورې .

وان ما قامت به الحوادث لم يخل منها ؟.

چا پورې چې حوادث قائم شي نو هغه خپله وايي د حادثې نه خالي نه وي دا وايي چا ويلې .

وان ما لا يخلو من الحوادث فهو حادث ؟.

چې څوک د حوادثو نه خالي نه وي هغه حادث دي دا چا ويلې .

واين في القرآن امتناع حوادث لا اول لها .

د قرآن کريم کومځای راغلې دي چې داسې حوادث نشته دي چې هغې ته دې اول نه وي يعنې دې د حوادثو د قدم قائل دي د کل عالم .

يعنې ابن تيميه قائل ددې دي چې باري تعالی عياذاً بالله جالس على العرش دي دا عرش چې هغه وخت کې خلکو تپوس ترې نه په مناظره کې کړې دي چې دا ته قديم ګڼې که حادث يې ګڼې ده سره نوره لاره نه وه دلته .

که وايي چې دا حادث ګڼم نو وايي چې دا عرش نه وه نو خالق چيرته وه دلته دې نور ګير شوې وه مناظره کې له ده سره ډيرې مناظرې هغه وخت کې شوې دي متکلمينو محدثينو

ورسره کړي دي کې دې راګير کړې وه د بادشاه مخکې چې کله يې مناظره کې د بادشاه مخکې دي راګير کړې وه او ده باندې بيا دوه کاله جيل وختلو.

دې چې کله جيل ته لاړو نو په جيل کې دا سوچ وکړو چې اوس له دې اعتراض نه ځان څنګه خلاص کړم نو چې را بهر شو دا قول يې ښکاره کړو چې نوعه او جنس د عالم قديم ګڼمه او فرد يې حادث ګڼمه دا ده تفکر کړې وه.

چې بله مناظره پيښه شوه چې ته باري تعالى جالس على العرش ګڼې او دا عرش خو حادث دې وايي نه دا چا ويلې دي چې عرش حادث دې د عرش نوعه خو قديمه ده دغه ځاى نه ده د فرد او د نوعې فرق وکړو د عرش نوعه خو قديمه ده خالق وه عرش هم ورسره وه.

وايي دغه ته چې کوم عرش يادوي وايي نه دا خو حادث ګڼمه هلته پرې علماء را پورته کېدل چې عرش ته يې قديم ويلې تعدد د قدم قائل شو دا خو لويه د کفر عقيده وه نه وايي دې عرش ته خو قديم نه وايمه نو څه شئ ته قديم وايي نوعې ته يې وايي قديم وايمه بس يو عرش وه هلته.

ده چې دا قول کړې چې نوعه قديمه ده او فرد حادث دي دا په دغه مناظره کې د ګيرېدو نه بعد تفکر يې په جيل کې کړې دي او د نوعې او د فرد يې فرق وکړو چې فرق يې وکړو نو بيا يې دا قول وکړو چې نوعه قديمه ګڼمه او فرد يې حادث ګڼمه نو فلهذا د عرش نوعه قديمه ده نو باري تعالى سره عرش وه چې هر چيرته وه عرش وه ورسره هماغه عرش باندې خالق وه.

دا اوسني چې کوم عرش دي نه دا وايي حادث دي دا يې وايي وروسته پيدا کړې بل يو عرش چې نوعه دې اخلمه چې نفس د عرش اطلاق په هر څه کيږي په تخت يې اطلاق کيږي د عرش دغه نوعه ده دې قديمه ګڼمه دا صرف د هغه جالس على العرش له عقيدې نه دي نه او ښته نو د هغې د پاره يې دا تاويل جوړ کړو.

يوه خطرناکه عقيده د ابن تيميه چې د ټول امت د اسلافو مخالفه او د فلاسفه وو د دويم جماعت متبع وه چې نوعه او جنس د عالم قديم دي او فرد يې حادث دي دا په امت مسلمه کې د چا عقيده نه وه.

اشارات المرام جلد ۱ صفحه ۱۹۷ د علامه بیاضي الحنفي هغه په نوع او جنس د عالم مع فرده په حدوث باندې دلائل وايي او په آخره کې وايي :

فبطل ما ظن ابن تيميه من قدم العرش كما في شرح العدودية .

باطله شوه هغه چې ابن تيميه گمان کړې دي چې عرش قديم دي کما في شرح العدوديه دا دده تصنيف دي او په دې کې يې تصريح کړې دي .

دارنګې علامه بدر الدين زرکشي په په تشنيف المسامع جلد ۴ صفحه ۶۳۳ کې ذکر کوي :

اتفاق المسلمين على كفر من يقول بأزلية نوع العالم .

مسلمانان متفق دي په کفر د هغه چا چې وايي نوعه د عالم ازلي ده يا قديمه ده .

فقال بعد ان ذكر ان الفلاسفة قالوا .

ويلې چې فلاسفه وو ويلې دي چې :

ان العالم قديم بمادته وصورته .

او بعضې وايي چې قديم الماده محدث الصورة ده .

وضل لهم المسلمون في ذلك كفروه .

او دا فلاسفه مسلمانانو ګمراه ګڼلي کافريې ورته ويلې په دغه خبره کې چې دوي ماده نوعې او جنس ټولو ته قديم ويلې دي .

همدغه شان فتوی د حافظ ابن دقيق العيد قاضي عياض المالکي حافظ زين الدين العراقي حافظ ابن حجر دې ټولو نه منقوله ده چې امت متفق دي په حدوث د عالم مع نوعه مع فرده باندې .

دارنګې فتح الباري جلد ۱۲ صفحه ۲۰۲ ابن حجر صاحب دده چونکې شيخ الشيخ راتلونو ډيرو ځايونو کې نوم نه اخلي بعضې کتابونو کې غصه شوې نوم يې ورته اخيستې خو اکثراً نوم نه اخلي عبارت ته ګوري .

قال شيخنا العراقي في شرح الترمذي الصحيح في تكفير منكر الاجماع .

دا خبره دې ولې وضعه کوي دلته ابن تيميه وايي چې منکر د اجماع کافر نه دي .

صحيح خبره داده چې منكر د اجماع كافر دي .

تقييده بانكار ما يعلم وجوبه من الدين بالضرورة كالصلوات الخمس ومنهم من عبر بانكار ما علم وجوبه بالتواتر ومنه القول بحدوث العالم .

د اجماع نه پنځه لمونځونه دي كه چا وويل چې پنځه نه دي كافر دي .

د اجماع نه هر هغه شي چې وجوب يې په تواتر ثابت وي هغه دي د اجماع نه قول دي بحدوث العالم اجماع ده په دې چې عالم حادث دي .

وقد حكى القاضي عياض وغيره الاجماع على تكفير من يقول بقدم العالم أو بقائه .

قاضي عياض اجماع نقل كړې ده په دې باندې چې څوک د عالم د قدم قائل شي كافر كيږي هغه په شفاء جلد ۲ صفحه ٦٠٦ كې دا ذكر كړې دي .

وكذلك نقطع على كفر من قال بقدم العالم أو بقائه .

قطعيت سره مونږ فيصله كوو چې كافر دي هغه څوک چې عالم ته قديم وايي .

وشك في ذلك . او يا وايي دې كې شک لري هغه هم وايي كافر دي .

على مذهب بعض الفلاسفة والدهرية . دا بيا د هغوي مذهب دي .

وقال ابن دقيق العيد وقع هنا من يدعى الحذق في المعقولات .

ګوره ابن دقيق العيد د اد ابن تيميه معصر دي هغه هم نوم نه اخلي خو ښه رد پرې كوي.

ابن دقيق العيد وايي چې څه خلک دي چې دعوى د مهارت كوي په معقولاتو كې .

ويميل الى الفلسفة . ميلان فلسفې ته وه ابن تيميه يادوي .

فظن ان المخالف في حدوث العالم لا يكفر .

عالم ته چې څوک حادث نه وايي كافر ورته نه ويل كيږي په دې كې مخالف شوې .

لانه من قبيل مخالفة الاجماع .

وايي ځكه عالم ته حادث ويل په اجماع ثابت دي او مخالف د اجماع هغه كافر نه وي.

وتمسك بقولنا ان منكر الاجماع لا يكفر على الاطلاق .

دې نه يې استدلال كړې دي .

حتى يثبت النقل بذلك متواتراً عن صاحب الشرع قال وهو تمسك ساقط .

ابن دقيق العيد وايي دا تمسک ساقط دي استدلال نه .

اما عن عمي في البصيرة او تعام .

يا يې په بصيرة کې عمي ده يا يې په زوره ځان ړوند کړې دي .

لان حدوث العالم من قبيل ما اجتمع فيه الاجماع والتواتر بالنقل .

ځکه حدوث د عالم يو ځې اجماع نه ده تواتر بالنقل هم په کې ده.

دارنګې محمد المرتضى الزبيدي في شرح الاحياء جلد ۱ صفحه ۱۸۴ کې ليکي :

ومن ذلك قول بقدم العالم وازليته فلم يذهب احد من المسلمين الى شيء من ذلك .

چا چې قول کړې دي په قدم د عالم يو د مسلمانانو نه دې ته ذهاب نه دې کړې .

اولين خطرناکه عقيده د ابن تيميه د قدم د نوع عالم او جنس العالم حتى چې د عرش د قدم دې قائل وه خپله د تجسيم عقيده يې پرې ثابتوله .

له ډيرو ځايونو نه دا بوي ښکاره کيږي بخاري شريف کې يو حديث دي کوم خلک چې وايي چې ما سوى الله ټول حادث دي دا حديث د بخاري پيش کوي په کتاب بدء الوحي کې مذکور دي :

كان الله ولم يكن شيء غيره . وه خداى تعالى هيڅ شي هم نه وه .

لم يكن شيء کې شيء نکره ده او نکره په سياق د نفي کې افاده د عموم کوي کنه نو دا حديث صريح په دې کې دي چې يو باري تعالى وه نور هيڅ شي هم نه وه دا حديث دي .

دا حديث بخاري کې يو بل ځاى بيا په نورو الفاظو باندې موجود دي :

كان الله ولم يكن شيء قبله . وه خداى تعالى او مخکې ترې نه هيڅ شي هم نه وه .

دا هم حديث دي په دې الفاظو د حديث کې تغير دي يو کې راځي : **لم يكن شيء غيره**، ده نه غير څه نه وه .

بل کې راځي : **لم يكن شيء قبله** ،ده نه مخکې څه نه وه .

ابن تیمیه زور لګوي ترجیح د روایت دویم لره نو چې د قدم قائل نه دي دې ته زور ولې ورکوي هغه حدیث په ده رد کوي دې وایي دا روستني حدیث د سند په لحاظ ډیر قوي دي دواړه بخاري کې موجود دي بس ده ته دا حدیث خوند ورکوي : لم یکن شيء قبله ، مخکې ترې نه څه نه وه اګر که ده سره معي وه.

له ده سره وه خو مخکې ترې نه څه نه وه ګوره داسې ځایونو کې چې دا استدلالات کړې دي په احادیثو کې دا له ده نه هغه بوي راخیژي چې دې د قدم د عالم قائل دي کنه که نه وایي قائل هغه حدیث خو دده په عقیده رد کوي له دې وجې نه هغه حدیث نه دي حدیث ته ترجیح ورکوي.

فتح الباري جلد ۱۳ صفحه ۴۱۰ کې ابن حجر صاحب دغه حدیث باندې خبرې کوي:

كان الله ولم يكن شيء قبله . فقال في ما حاول ابن تيمية في ترجيح هذه الرواية على تلك الرواية توسلاً على عقيدته .

ابن حجر صاحب وايي چې دا قصد چې ابن تيميه کړې دي چې : **لم يكن شيء قبله** دا حديث يې چې په هغې راجح ګڼلې دي وايي د ځان رسولو خپلې عقيدې ته.

وهي أصرح في الرد على من أثبت حوادث لا أول لها . يعنې داسې حوادث شته چې اول نه لري ازلي دي.

نو ابن حجر صاحب وايي :

وهي من مستشنع المسائل المنسوبة لابن تيمية.

ده ته د ډيرو مسائلو انفرادي نسبت شوې دي چې دده رايې دي خو بده مسئله هغه داده چې ابن تيميه ته منسوبه ده اشنع د مسائلو داده چې دې د نوعې د قدم قائل وه دا خو تعدد د قديم شو او تعدد د قديم په اتفاق د علماو باندې کفر لازموي.

خو اصلاً ده به هغه افرادو ته قديم نه وويلي کنه دې به سوچه فلسفي وه بيا به دهري وه خو افراد يې قديم نه ګڼل نوع دده به يې قديمه ګڼله.

په فن د فقه حديث سيرة کې ډير ماهر وه خو د علم کلام او د فلسفې او د علم منطق په عباراتو کې دې ډير خطاء شوې دي دده دې فن نه، نه وه په دې کې کمزورې وه.

نوعه وجود بدون د افرادو نه له سره لري نه هغه چیرته موجودیږي په خارج چې ته یو قدیم کړي او بل حادث کړي چې نوعه دې موجود کړه افراد یې څه شول چې افراد دي موجود کړه نوعه یې څنګه شوله.

دا اوله مسئله شنیعه ابن حجر صاحب ورته مستشنع د مسائلو منسوبه ویلي ده دا بده عقیده د ابن تیمیه وه امت کې ده پسې چا ذهاب نه دی کړی.

زه وایم !!! وهابیان به یې هم پسې نه کوي دوي به هم شرمیږي چې ووایي ځکه ما تر اوسه د وهابیانو په کتبو کې نه دي لیدلې چې باري تعالی وه نو دا عرش هم ورسره وه دا ددوي په کتابونو کې ما نه دي لیدلې.

دویمه بده عقیده: چې منسوبه ابن تیمیه لره ده:

هغه جواز د قیام الحادث وه مع الله تعالی.

د باري تعالی پورې د صفاتو د حادثو د قیام دې قائل وه جائز ده چې صفات د حادث دې خالق ته ورکول شي چې عبارت دي د حرکت سکون ضحک جلوس وغیره نه دا ټول جائز دي چې خالق ته ورکول شي.

منهاج السنة النبویة جلد ۲ صفحه ۲۶۳.

په دې مسئله کې چې قیام د حوادثو تر ذات د باري تعالی د جائز ګڼلو مذهب د هاشمیه او د کرامیه ته د ذهاب کړې وه نو د منهاج په مذکوره صفحه دې وایي:

فانا نقول انه یتحرك وتقوم.

مونږ دا قول کوو چې خدای تعالی خوزیږي.

وتقوم به الحوادث والاعراض.

حوادث او اعراض ده پورې قائمیدې شي که څوک وایي چې نه شي کیدلې.

فما الدلیل علی بطلان قولنا.

زمونږ د قول په بطلان څوک څه دلیل پیش کولې شي.

نو دې قائل ددې دې اشارتاً نه صراحتاً ددې خبرې دعوی به یې کوله.

دارنګې مجموع الفتاوی د تفسیر دده صفحه ۳۰۹ کې لیکي:

من قال ان الخلق حادث كالهاشمية والكرامية قال نحن نقول بقيام الحوادث به .
مونږ قول کوو په قیام د حوادثو تر ذات د باري تعالی .
ولا دليل على بطلان ذلك .
دلیل نشته په بطلان ددې باندې .
بلکې عقل نقل کتاب او سنت اجماع د سلفو يدل على تحقيق ذلك .
دا ثابتوي چې حوادث ذات د باري تعالی پورې قائمیدې شي .
ددې جواب شرح لمع الادلة للجويني صفحه ۸۰ هغې کې ذکر کوي چې قیام د حوادثو تر ذات د باري تعالی دا عقیده د کرامیه فرقې ده وایي .
شیخ شرف الدین ذکر کوي :
وخالف اجماع الأمة طائفة نبغوا في سجستان .
مخالفت د اجماع کړې دي یوې ډلې چې را پیدا شوې سجستان کې ده چې ملقب ينسب الكرامية چې نسبت يې کیږي محمد بن کرام ته ګمان يې کړې :
ان الحوادث تطرأ . يعني تتجدد على ذات الله .
حوادث د خدای په ذات متجدد راتلې شي او قائمیدې شي ورپورې .
وهذا المذهب النظير مذهب النجوس .
دا مذهب هم مثل د مذهب د مجوسیانو دي .
ووجه مضاهته لمذهب المجوس .
مشابهت په څه کې دي ، هغه دا یوه طائفه د مجوسیانو .
تقول بقدم النور وحدوث الظلمة .
یوه ډله ده هغوي وایي نور قدیم دي ظلمة حادث دي .
وان سبب الحدوث ان يزدان فَكَّرَ فكرةً فحدث منها شخص من اشخاص الظلمة فابعده واقطاعه هرمز .

وايي يزدان دوي خپل معبود ګڼي د تفکر وکړو تفکر نه بعد يو شخص را پيدا شو هغه ذات د ظلمة وه دارا پيدا شو نو لري که د ځان نه بې انتهاء لري وشيندلو هغه ظلمت ته هرمز ويل کيږي وايي دا هرمز ظلمت حادث دي او دا يزدان قديم دي .

وجميع شر ينسب اليه .

او دا شرورو نسبت ظلمت ته کيږي هرمز ته او د خير نسبت يزدان ته کيږي .

كذلك الكرامية تزعم ان الله اذا اراد ان يحدث المحدث اوجد في ذاته كاف ونوناً وارادتاً حادثةً .

ځان کې خپله اراده بيا را پيدا کړي .

فعن ذلك تصدر سائر المخلوقات المبائنة لذاته .

نو دې مسئله کې دې مذهب د کراميه وو ته تللې دي هغوي دا عقيده ساتي دليل په رد ددې باندې يو ايات کريمه کافي دي ﴿لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ﴾ .

که په ذات د باري تعالى حدوث طاري کيدې شو او صفات د حادث نو اُفُل او غروب چې يو حادث وه او ذات د باري تعالى پورې نه قائميده ولي ترې استدلال کوي ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ : ﴿فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ﴾ .

ځکه ذات باري تعالى باندې حادث نه شي راتلې او نه شي طاري کيدې او دا يو حدوث نسبت وه .

دريمه مسئله : انفرادي چې ده ته منسوبه وه هغه قول وه په جسميت باندې :

داسې به يې نه ويل چې الله جسم يو مجسمي هم لا نه دي ويلې چې جسم كالاجسام خو جسم يې ګڼي دده له ډير عباراتو نه تجسيم فهميږي عبارت ته يې ګورئ :

مجموع الفتاوى جلد ۵ صفحه ۴۳۴ :

وأما الشرع فمعلوم انه لم ينقل عن احد من الانبياء ولا الصحابة ولا التابعين ولا سلف الامة ان الله جسم او ان الله ليس بجسم .

ګورئ دې دديږ قائل نه دي چې جسم خو دديږ هم قائل نه دي چې ته وايي ليس بجسم ځکه ټول مجسمه چې دي جسم کالاجسام نه وايي ورته جسم لا کالاجسام وايي.

نو دې وايي چې نه دي نقل له انبياء صحابه تابعينو سلف الامة نه چې ان الله جسم او ان الله ليس بجسم بل النفي والاثبات بدعة في الشرع.

وايي دا خبره چې الله ليس بجسم بدعة قول دي دا به نه کوي داسې به نه وايي چې خدای جَلَّجَلَالُهُ جسم نه دي دواړه بدعت دی.

منهاج السنة جلد ۱ صفحه ۱۸۰ دده عبارت ته ګوري فهم ترې کيږي چې دې د تجسيم قايل دي او که نه.

وقد يراد بالجسم ما يشار اليه.

کله د جسم نه مراد چې دا اشاره ورته کيږي.

او ما يرى.

او يا په ستر ګو ليدل کيږي.

او ما تقوم به الصفات.

صفات ورپورې قائميږي د حادث. دغه جسم دي.

والله تعالى يُرى في الاخرة.

خدای تعالی په اخرت کې ليدل کيږي.

تقوم به الصفات.

صفات پسې قائميږي.

يشير اليه الناس عند الدعاء.

په دعاء کې ورته اشاره کوي.

يشر اليه الناس عند الدعاء بأيديهم وقلوبهم ووجوههم واعينهم فإن أراد بقوله ليس بحسم هذا المعنى.

که څوک وايي چې خدای جَلَّجَلَالُهُ جسم نه دي مقصد يې دا وي.

قيل له هذا المعنى الذي قصدت نفيه بهذا اللفظ معنى ثابت بصحيح المنقول .

دا خو وايي په صحيح منقول ثابته ده چې اشاره ورته کيږي او صفات يې حادث پسې قائميږي او دارنګې په سترګو ليدل کيږي او که جسم دې ته وايي په دغه معنى خو دې دا عبارت ته مخکې وروسته وګورئ دې د جسم قول کوي خو چې اله جسم هلته نص نه لري.

چې مونږ نه د ليس بجسم نص غواړي خو مونږ يې بيا ده نه غواړو هغه وخت کې هم علماء ترې غوښته مناظرې به يې وي ورسره نو ده به اله جسم نه ويلې خو که وايي جسم دې ته وايي چې په سترګو ليدل کيږي لکه جسم په سترګو ليدل کيږي .

وايي خداى ليدل کيږي کنه صفات د حادث پسې قائميږي حرکت سکون ضحک دا پرې راځي جسم باندې لکه د جسم کوم معنون چې دي دلته بيانوي چې اشاره ورته وشي په سترګو وليدل شي او صفات د حادث پرې قائم شي هغه دري واړه يې په خالق ثابت کړي انه جسم خو د ويرې نه نه شي ويلې ځکه دلته نص نه لري په هغې کې .

دارنګې تلبيس الجهمية جلد ۱ صفحه ۱۰۱ په هغې کې دې ذکر کوي :

وليس في كتاب الله ولا سنة رسوله ولا قول احد من سلف الامة وأئمتها انه ليس بجسم.

کتاب الله سنت رسول د سلفو يو قول په دې نشته چې ووايي چې خداى تعالى جسم نه دي .

دا ټول عبارات دده ددې دليل دي چې دې خالق ته د صفات الأجسام او د حادث اود جسم قائل دي .

څلورمه عقيده انفرادي د ابن تيميه :

چې هغه نسبت د حرکاتو به يې کوه ذات د باري تعالى لره .

درء تعارض العقل والنقل جلد ۱ صفحه ۲۶۴ وايي که تاسو د قيوم معنى دا کوي :

الذي لا يزول عن مكانه ولا يتحرك فلا يقبل منك هذا التفسير الا بأثر صحيح مأثور عن رسول الله او عن بعض اصحابه او التابعين لان الحي القيوم يفعل ما يشاء ويتحرك .

دا يفعل ما يشاء خو صحيح دي خو دا ويتحرك دا دده خپله خبره ده په ذات د باري تعالى کې.

اذا شاء ويهبط ويرتفع. کوزيږي پورته کيږي.

اذا شاء ويقبض ويبسط ويقوم ويجلس اذا شاء لان امارة ما بين الحي والميت التحرك كل حي متحرك لا محالة.

هر مړي حرکت نه لري چې خدای تعالى حي دي نو متحرک هم دي ته چې ته د ليس بجسم استدلال غواړي چې ما ته نص کې وبنايه نو دا نه متحرک هم نص کې وبنايه کنه يا انه جالس.

دې ددې حرکاتو قائل وه د حديث د نزول نه به يې استدلال کولو بيا به يې دا منسوبولو امام احمد رَحِمَهُ اللهُ ته امام بيهقي صاحب ته دا سلف د محدثينو ته به يې منسوبول چې دا ددوي عقيده وه.

د هغوي دا عقيده نه وه هغوي صفات چې کوم باري تعالى ځان ته ثابت کړې وه په هغوي د ايمان عقيده وه او په هغې کې ترمذي دويم جلد کې د سفيان صاحب قول دا پيش کوي چې:

قراءته تفسيره وتفسيره قراءته.

دغه عقيده د هغوي وه قرائت يې تفسير دي او تفسير يې قرائت دي.

د يد معنى په لاس مه کوه بس څه تيريږه دا قرائت يې تفسير دي او تفسير يې قرائت دي که غواړې چې تفسير وکړې نو يد ولوله.

داد سفيان الثوري نه منقوله ده د ابن عيينة نه مذکوره ده دويم جلد د ترمذي کې امام بيهقي ته دوي دا منسوبوي کتاب الصفات هغه ليکلې دي.

اوس هغه خپله څه وايي الاسماء والصفات د وجاء ربك والملك صفاً صفاً د جاء ربك شرحه امام بيهقي کوي په صفحه ۴۴۹ باندې ليکي:

والمجيء والنزول صفتان منفيتان عن الله من طريق الحركة والانتقال من حال الى حال .

تلل راتلل کزیدل ختل که دا په دې معنی اخلي چې طریقه د حرکت او د انتقال د یو حال نه بل حال ته اخلي **صفتان منفيتان عن الله تعالى** دا خو خدای جَلَّجَلَالُهُ ته نه منسوبیږي بیا .

بل هما صفتان من صفات الله بلا تشبيه جل الله تعالى عما يقول المعطلة لصفاته والمشبهة بها علواً كبيرا.

دا معطلة د ایاتو نو منکر شول وایي هیڅ معنی نه لري او مشبه چې وه هغوي حقیقي معنی ګاڼي واخیستې نو د اهلسنت دې وسط کې لاړل دا محدثین چې دي نه معطله دي نه مشبه دي ، هغه وایي :

جل الله تعالى عما يقول المعطلة لصفاته والمشبهة بها علواً كبيرا.

نو که ته وایي معنی د حرکت اخلي نو دا صفت منفي عن الله تعالی دي داد خدای جَلَّجَلَالُهُ له صفت نه دي بیا .

خدای ته چې دا صفات که بلا تشبیه .

امام نسائي رَحِمَهُ اللَّهُ حدیث د نزول بیا په دې الفاظو نقل کړې دي د حضرت ابي هريرة ابي سعيد الخدري روایت دي : السنن الكبرى للنسائي جلد ٦ صفحه ١٢۴:

ان الله عزوجل يمهل حتى يمضي شطر الليل الاول ثم يأمر منادياً ينادي فيقول هل من داع يستجاب له هل من مستغفر يغفر له هل من سائل يعطي .

دا روایت اشکال ختموي چې دا فقط فرشتې ته امر دي دا فرشتې ته په دغه وخت کې امر کوي چې دغه ملک کې د دغه خاص وخت راورسیدلو اعلان په کې وکړه بیا چې بل ځای کې ثلث اللیل راشي فرشته بیا ماموره شي په دې اعلان باندې .

نو روایت د نسائي دادی چې امر کوي منادي لره امام بیهقي دوي ځان سره ګڼي .

دا ددې ځای وهابیان خلکو ته وایي وایي ستاسو عقیدې خرابې دي تاسو خدای تعالی په عرش نه ګڼي او نزول په ثلث اللیل کې نه مني مؤمنان نه یې .

بعض معتقدات ابن تيمية

امام بيهقي په الاسماء و الصفات صفحه ۴۵۴ کې ليکي :

وقد زل بعض الشيوخ اهل الحديث .

بعضې شيوخ د اهل حديثو د هغوي قدم ښويدلي دي .

مما يرجع إلى معرفته بالحديث والرجال.

او هغه دومره معروف دي چې د حديث په متن او په رجالو د سند کې خلک هغه ته رجوع کوي .

نوم يې نه دي اخيستې چې دا څوک دي خو همدغه ائمه د محدثينو دي دا لوي لوي دا معروفو کې بعضې کسان دي :

فحاد عن هذه الطريقة .

ګرځيدلې د سمې لارې نه بعضې اهل حديث يادوي .

حين روى حديث نزول .

حديث د نزول يې چې روايت کړې .

ثم أقبل على نفسه فقال .

ځان سره سوچ کوي .

ان قال قائل .

که يو سړي وو ايي :

كيف ينزل ربنا الى السماء .

زمونږ رب اسمان ته څنګه کوزيږي .

نو زه به جواب ورکړم :

ينزل كيف يشاء .

څه وخت يې چې خوښه وي کوزيږي .

فان قال . که ما ته وايي :

هل يتحرك اذا نزل .

چې راکوزيږي خوزيږي .

فقال. نو جواب به وشي.

ان شاء يتحرك وان شاء لم يتحرك. خوښه يې ده خوزيږي او كه نه خوزيږي زه به دا ورته ووايمه.

وهذا خطاء فاحش عظيم. د امام بيهقي په الاسماء والصفات كې وايي دا ډيره فاحشه غټه خطاء ده.

والله تعالى لا يوصف بالحركة. خداى تعالى په حركت نه موصوف كيږي.

لان الحركة والسكون يتعقبان في محل واحد.

دا مې ددې لپاره دا اقوال پيش كړل چې دوي خلكو ته وايي چې داد سلفو او د محدثينو رايه ده محدثين نزول په معنى د حركت نه اخلي او دوي نزول په معنى د حركت سره اخلي نزول صفة الرب تبارك وتعالى داد اسلافو رايه نه ده والله اعلم بمراده قراءته تفسيره وتفسيره قراءته داد سلفو رايه ده دا نه چې نزول په معنى د حركت سره واخلي.

پنځمه انفرادي عقيده د ابن تيميه:

هغه دا چې جنت مع اهلها به باقي وي او جهنم مع اهلها به باقي نه وي يو وخت پورې به وي جهنم به هم ختم شي او جهنميان به هم ختم شي.

ابن تيميه ابن قيم دا دواړه په دې كې په ټول امت كې متفرد دي او امت پرې سخت ردونه كړي په دې مسئله كې دا ددوي خطرناكه عقيده وه.

شفاء العليل في مسائل القضاء والقدر والحكمة والتعليل جلد صفحه په دې كې ذكر كوي:

فصل: والذين قطعوا بأبدية النار وأنها لا تفني لهم طرق.

كوم علماء چې قول كوي په ابديت د نار سره چې اور ابدي سرمدي دي او دا به نه فاني كيږي.

احدها الآيات. يو د ايات نه استدلال كوي.

والاحاديث الدالة على خلودهم فيها .

دويم د حديث دليل نيسي چې خالدين به وي .

وأنهم لا يموتون . دوي به مري نه .

وما هم منها بمخرجين .

آيت نه استدلال کوي يا دې آيت نه چې :

وأن الموت يذبح بين الجنة والنار . دې نه استدلال کوي : وأن الكفار لا يدخلون الجنة حتى يلج الجمل في سم الخياط ، دې نه استدلال کوي .

دې وايي :

وأمثال هذه النصوص وهذه الطريق لا تدل على ما ذكروه .

دا قسم دلائل چې دي دا وايي ددې خلکو چې جهنم به هميشه وي او اهل به يې په کې هميشه وي غيرِ موحدين دا ددوي په دعوى دليل نه دي :

وانما يدل على انها ما دامت باقية فهم فيها . وايي د آيت معنى داده چې ترڅو پورې جهنم وي نو دوي به په کې وي .

فأين فيها ما يدل على عدم فنائها . کوم ځاى کې دي آيت کې راغلل چې جهنم به نه ختميږي .

دا څومره غلط تاويل دي .

ما هم عنها بمخرجين . دوي به ترې نه وځي .

ابدا . رائحي .

خالدين فيها ابدا . ابد الابد پورې دا ابد سره څه کوي .

نو دې وايي نه ترڅو چې دا جهنميان دا جهنم وي نو دوي به په کې وي خو يو وخت به جهنم ختم شي نو جهنميان له کومه شو نو په دې خو دليل پيش کړه چې چا ويلې چې جهنم ختميږي نو رد کوي په مونږ .

فأين فيها ما يدل على عدم فنائها .

الطريق الثاني .

دويم دلائل د مثبتينو چې جهنم به باقي وي مونږ يادوي .

دعوى الاجماع على ذلك وقد ذكرنا من اقوال الصحابة والتابعين ما يدل على ان الامر بخلاف ما قالوا حتى لقد ادعى اجماع الصحابة من هذا الجانب استنادا الى تلك النقول التي لا يعلم عنهم خلافها .

او كه دا اجماع او صحابه څوک يادوي نو استناد کوي په هغه نقولو باندې چې ده ته پرې علم خلاف کې نشته .

الطريق الثالث : أنه كالمعلوم بالضرورة من دين الاسلام ان الجنة والنار لا تفنيان بل هما باقيتان .

دا وايي بداهت نه ثابت دي چې زمونږ دين کې په تواتر راغلې خبرې دي .

ولهذا أنكر أهل السنة كلهم على أبي الهذيل وجهم وبشيعتهما . چې جهميه دي . ممن قال بفنائها وعدوا اقوالهم من أقوال أهل البدع المخالفة لما جاء به الرسول ، ولا ريب أنّ هذا من أقوال أهل البدع .

شک نشته چې دا له اقوالو د اهل بدعو نه دي .

التي خرجوا بها عن السنة ولكن من اين تصح دعوى العلم النظري ان النار باقية ببقاء الله دائمة بدوامه .

دليل کوم دي په دې باندې چې جهنم به باقي وي .

فضلا عن العلم الضروري . چې کله ضروري علم ثابتوي .

فأين في الأدلة الشرعية أو العقلية دليل واحد يقتضي ذلك .

کوم دي دليل شرعي په دې باندې چې ددې دليل شي چې جهنم به باقي وي نشته .

ګوري دا عبارت اول نه آخره پورې دې قائل دي چې جهنم ختميږي مع اهلها ختميږي .

دليل په دې باندې ابدي تکي دي که دې وايي چې ابدي تکي چې ابد الابد پورې به دا وي نو دليل په دې باندې سورة احزاب ﴿ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ .
دارنګې د سورة بقرې دا آيت : ﴿ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴾ .
دارنګې د سورة نساء دا آيت : ﴿ لَمْ يَكُنِ اللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيقًا إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴾ .
دا ابدا تکي چې راځي دا دلائل دي .
يا ﴿ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَاهُمْ سَعِيرًا ﴾ چې سړېږي نو مونږيې نور هم تيزوو کموالې په کې نشه.
يا : ﴿ وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُم مِّنْ عَذَابِهَا ﴾ .
يا ﴿ كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا ﴾ .
احاديثو نه دليل په دې باندې هغه روايت د مسلم دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي :
من يدخل الجنة ينعم فيها لا ييأس لا تبلي ثيابه ولا يفني شبابه .
په دې حديث باندې علامه مناوي په فيض القدير کې شرحه کوي جلد ٦ صفحه ٢٤١ رقم د حديث دي ٩١٠١ د جنت متعلق يې دغه حديث ذکر کړې بيا وايي :
وهذا صريح في أن الجنة أبدية .
چې جنت ابدي دي .
لا تفني .
نه فاني کيږي .
والنار مثلها .
اوريې هم مثل دي يعنې نه فناء کيږي .
وزعم جهم بن صفوان انهما فانيتان .
جهميه وايي دواړه به ختميږي .
لانهما حادثتان ولم يتابعه احد من الإسلاميين .
مسلمانانو کې چا هم د دوي اتباع نه ده کړې .

بل كفروه به .

بلكې كافريې ورته ويلې .

وذهب بعضهم إلى أفناء النار دون الجنة .

ذهاب كړې بعضو دې ته چې اور ختميږي او جنت نه ختميږي .

داد ابن تيميه او ابن قيم رايه ده .

و اطال ابن القيم كشيخه ابن تيمية في الانتصار له في عدة كراريس .

اوږد كړې بحث ابن قيم په شان د شيخ دده ابن تيميه په كومک كولو ددغه قول سره چې جهنم ختميږي جنت نه ختميږي .

وقد صار بذلك أقرب إلى الكفر منه إلى الإيمان . ابن قيم او ابن تيمية يادوي وايي په دې خبره **أقرب إلى الكفر منه إلى الإيمان** ګرځيدلې .

لمخالفته نص القرآن . داد نص د قرآن مخالف دي دا خطرناكه خبره وه امت كې چا هم پرې قول نه دي كړې .

شپږمه خطرناكه عقيده د ابن تيميه :

هغه داده چې ده به ويل اولني خبره چې ده راويسته چې سفر زيارت د نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته حرام دي دا معصيت دي چې څوک مدينې منورې ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د سلام په نيت ځي دا عاصي او ګنهګار دي حتى چې دا عقيده يې هم وه چې سفر كې قصر جائز دي سفر كې څنګه قصر جائز دي وايي چې څوک مدينې منورې ته د زيارت لپاره ځي ده ته قصر جائز نه دي دا خو وايي ګناه پسې روان دي نو څنګه قصر كوي .

مجموع الفتاوى جلد ۱ صفحه ۱۶۶ :

وأما الزيارة البدعية فهي التي يقصد بها أن يطلب من الميت الحوائج او يطلب منه الدعاء والشفاعة او يقصد الدعاء عند قبره لظن القاصد ان ذلك اجوب للدعاء .

چې د هغه د قبر سره دعاء غواړي يا هغه نه شفاعت غواړي ګمان يې دادی چې هلته روضې سره دعاء بنه قبليږي .

فالزيارة على هذه الوجوه كلها مبتدعة لم يشرعها النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولا فعلها الصحابة لا عند قبر النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولا عند غيره وهي من جنس الشرك وأسباب الشرك.

الفتاوی الکبری جلد ۵ صفحه ۲۸۸ کې وايي : استفتاء شوې ده چې يو سړي زيارت ته روان وي قصر ورته څنګه دي ؟

الجواب : الحمد لله رب العالمين اما من سافر لمجرد زيارة قبور الأنبياء والصالحين فهل يجوز له قصر الصلاة؟

على قولين معروفين. يو قول دا چې هغه قول د متقدمي العلماء دي.

الذين لا يجوزون القصر في سفر المعصية. دا سفر د معصيت دي په سفر د معصيت کې متقدمين قصر جائز نه ګڼي.

كابي عبدالله بن بطة وابي الوفاء بن عقيل وطوائف كبيرة من العلماء المتقدمين انه لا يجوز القصر في مثل هذا السفر.

هذا السفر راجع دي قبورو د انبياو او صالحينو ته.

لانه سفر منهي عنه وهو مذهب مالك والشافعي واحمد.

سخت چلي دي سفر د عصيان چې دي هلته قصر جائز نه دي وهو مذهب مالك والشافعي واحمد.

امام صاحب وايي په سفر د عصيان کې هم قصر کولې شي او ثلاثة ائمه وايي چې په سفر د عصيان کې قصر نه شي کولې دا يو اختلاف دي خو هلته يې يو ځل پرې چسپان کړي چې زيارتونو ته تلل معصيت دي او سفر د معصيت کې خو قصر جائز نه دي نو دلته هم جائز نه دي.

هغه عوام داسې فکر کوي هو مذهب دا ده چې کوم خبره وکړه چې زيارت ته څوک روان وي قصر جائز نه دي دا مذهب مالک دي نو امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ خو مدينه منوره کې پروت وه هغه په ټوله زندګۍ کې يو حج کړې وه مکې معظمې ته هم نه تلو او چې چا به ورته

وويل چې ولې نه ځي وايي هسې نه مدينې منورې نه بهر راته مرګ رانه شي هغه دومره د مدينې منورې د عاشقانو نه وه او ده ترې دا جوړه کړه چې هو مذهب مالك نه هغه په سفر د معصيت کې قصر جائز نه دي وهو مذهب مالك.

اوس دا خبره چې دا سفر معصيت دي که طاعت دي نو دا خو ستا خپله خبره ده چې ته يې جوړوي:

ان السفر المنهي عنه في الشريعة لا يقصر فيه.

والقول الثاني انه يقصر وهذا يقوله من يجوز القصر في السفر المحرم کابي حنيفة.

ويقوله بعض المتأخرين من أصحاب الشافعي ممن يجوز السفر لزيارة قبور الانبياء والصالحين کابي حامد الغزالي وأبي محمد المقدسي وابي الحسن بن عبدوس الحراني.

نو عبارت خو تاسو وکتلو نچوړ د عبارت يې دا دی چې دې روضې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته سفر معصيت ګڼي اختلاف د هغه حديث نه جوړ دي چې:

لا تشد الرحال الا لثلاثة مساجد.

بستري مه تړي د سفر نيت مه کوي مګر درې مساجدو ته:

مسجد حرم، مسجد اقصی، مسجد هذا.

بس وايي دې نه اخوا سفر نا روا شو نو دا استدلال دده خو ډير ناقص دي.

له دې نه اخوا سفر د تجارت دي ته هم ورته جائز وايي دې نه اخوا سفر د جهاد دي ته هم ورته جائز وايي ته که مطلق سفرونه په دې حديث نفي کوي چې مطلق سفر نا روا بس درې مساجدو ته روا نو بيا خو دا ټول نا روا شول او په دې هيڅوک هم قول نه دې کړي.

د حديث مقصد دا دی چې د زيادت اجر په نيت باندې بل مسجد ته مه ځي مګر درې مساجدو ته د زيادت اجر په نيت باندې ځکه ټول مساجد په حکم کې يو شان دي ته چې دې ځای نه ځي او بل مسجد ته روان يې چې ما ته اونچاس کروړ ملاويږي دا غلطه عقيده ده دا زيادت د ثواب په درې مساجدو کې دي.

ددغه زيادت د اجر په نيت چې ځي نو يا حرم ته لاړ شه يا مديني منورې يا مسجد اقصى ، دې نه اخوا بل مسجد ته د زيادت ثواب نيت مه ځه نو دا خو رد په تبليغي جماعت دي چې د اونچاس کروړ عقيده ساتي .

په سفرونو خو رد نه دي چې مطلقِ سفر مه کوه دغه موضوع وه چې امام سبکي رَحِمَهُ اللَّهُ اولين مخالفت يې وکړو سر سخته مخالف دده شو .

شفاء السقام في زيارة خير الانام ، دغه کتاب امام سبو کي دده په دغه عقيده رد وليکلو په هغې کې ۱۷ احاديث را اخيستې په دې مضمون باندې .

من أتى المدينة زائرا لي . څوک چې مديني منورې ته راشي په حال کون دده کې چې قصد دده زيارت زما وي .

كنت له شفيعاً يوم القيامة .

دا اوس د عربو چې کوم ائمه دي سديس نه خپله ما دا اوريدلي چې سفر زيارت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته حرام دي دا د ابن تيميه تاثير دي چې دده مقلدين دي خپل علم او رڼا خو نشته ورسره او اسلاف ټول ورته بې دينه ښکاري او ابن تيميه ورته مجتهد ښکاري .

تاسو ته ما د توسل په باب کې ما د مختلفو فقهاو حنفي مالکي شافعي حنبلي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روضې ته ځي هلته به توسلات کوي استشفاع به کوي دغه نيت به دې وي دا مې ذکر کړې وه د توسل په باب کې .

هغه هم فقهاء دي له دده نه ښه فقهاء دي هغوي معتمد دي دده په شان غلطې رايې هغوي نه لري امت ته مقبول فقهاء دي او دې خو دومره مجروح دي چې چا په زنديقت مجروح کړې او چا په کفر اګر که زه به په کفر او زنديقت دده قول نه کوم خو ډيرو علماو پرې کړې دي او زما رايه د تکفير او د زنديقت دده نه ده .

اصل کې دا **تعمق في المسائل** سړي خرابوي دې د متعمقينو علماو نه وه هغه ژور چې مسئله کې کوزيږي او دې به هم په هره مسئله کې ژور کوزيدلو او نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د **تعمق في السوال** او **تعمق في العلم** نه منع کړې ده .

په روایت د مسلم کې چې تاسو به په مسئلو کې ژور نه کوزیږي که کوز شوي پسې بل ځای ته به په کې لاړ شي بې ځایه چون چرا په یو شي کې ننوتل عوام په شک کې اچول دا خو فائده نه کوي.

نو ابن تیمیه د متعمقینو نه وه په هره جزیه کې به ننوتلو بیا هلته داسې مقلد هم نه وه بس هلته به یې خپله څه رایه ښکاره کړه نو خطرناکه خبره دا چې سفر الی زیارة المصطفی یې حرام ګڼلو او هر کتاب دده چې وګوري دا تصریحات یې پرې کړې دي.

بله خطرناکه خبره:

هغه دا چې د حضرت معاویه رضي الله عنه د حضرت عائشې رضي الله عنها او د حضرت علي کرم الله وجهه ددوي درمیان کې چې کوم اختلافات بخلافة علي راغلل دلته د اهلسنت رایه دا ده چې حق مع علي دي خو مقابل جانب ته به بد نسبت نه کوي.

دې ځای کې دوه خطرناک جماعتونه اوس هم چلیږي او له پخوا نه هم راپاتې دي.

چې یوه د ناصبه وو فرقه ده او دویمه د افضلیه وو فرقه ده یو خو روافض دي روافض خو هغه جانب کافر ګڼي عیاذاً بالله او یا بد بد نسبتونه ورته کوي عیاذاً بالله.

او هر چې خوارج دي په مقابل د هغوي کې نو دوي خو حضرت معاویه رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه او حسنین دا ټولو ته نسبت د کفر کوي عیاذاً بالله.

دا خو هغه دي چې له بحث نه ساقط دي له دې دوه ډلو نه غیر دوه نورې عقیدې دي چې یوې ته ناصبه وایي دا چمچه د خوارجو ده هغوي ته خدمت کوي کار کوي خوارج نه دي خو له هغوي نه یوه ډله ده.

او بله افضلیه ده او افضلیه شیعه ګانو ته کار کوي افضیله هم ځان ته اهلسنت وایي او ناصبه هم ځان ته اهلسنت وایي د ناصبه وو عقیده څه ده هغه په دغه مسئله کې چې کومه نزاع راغلي ده زیات زور د حضرت معاویه او د حضرت عثمان رضي الله عنه حقانیت ته ورکوي.

او وایي چې حضرت علي رضي الله عنه ولي انتقام وانخسته د حضرت عثمان رضي الله عنه د قاتل.

او بیا دغه وخت کې دده خلافت اجماعي نه وه اتفاقي نه وه اختلاف وه په کې ولې د خلافت اعلان کړو دده نه نزاع جوړه ده یعنې دا څومره شهیدان چې شوي دا ملامتیا په حضرت علي رضي الله عنه اچوي نو رجحان خو یې طرف د خوارجو ته ورکړو یو څه خو حضرت

علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته کافر نه وايي صرف دا وايي چې دا خلافت چې وه دا اتفاقي نه وه دده خلافت نه کارِ خير نه وه ولاړ شوې ده ته په کار دا وه چې خلافت يې پريښې واي يا دې محب د خلافت او رياست وه دا هسې د دنيا په مينه مست وه دا اسې نسبتونه ورته کوي.

ددې ناصبه وو بالمقابل افضليه ده د هغوي عقيده څه شي ده هغوي بيا په دغه مسئله کې خو اهلسنت هم حق د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ګڼي دوي هم حق د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ګڼي خو اهلسنت د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان کې څه نه وايي همدغه شان د حضـ طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په شان کې هغلته ساکت پاتې کيږي هغوي سره او که نسبت د خطاء کوي اجتهادي کوي.

او دوي هغه طرف ته طعنې وايي دا عقيده د افضلية فرقې ده نو دلته اهلسنت د څلورو عقيدو مينځ کې په دې جزيه کې راغله خوارج روافض ناصبه افضليه اهلسنت ددې څلوورو مينځ کې رفتار کوي نو لاز به پيدا کړي.

خوارج تکفير د جانبينو کوي دې نه به انتهائي ځان ساتي روافض تکفير د احد الجانب کوي د معاوية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تکفير کوي دې نه به هم سخت ځان ساتي.

ناصبه نسبت د خطائي کوي حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او افضلية نسبت د خطائي کوي طرف د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته خو طعن پرې جائز ګڼي.

يو خطاء اجتهادي ده او يوه طعنه ويل دي دا فرق لري نو دا افضليه پرې طعن وايي.

نو دا مسئله ډيره پيچيده ده ډير زيات په احتياط يا غلي پاتې شي له دې مسائلو نه دغه تاريخ که ګوري د جنګ سفين يا جنګ جمل نو دا هم پسې مه ګوري.

دا څو مره لوي لوي مؤرخين دي زه د تاريخ ډير شوقي يمه ما ته چا وويل چې ابن خلدون دا واقعه ښه بيان کړې ده فقط ددې واقعې د پاره ما تاريخ ابن خلدون واخيسته او دا ټوله واقعه يې په څلورو کرخو کې بيان کړې ده دا تاريخونو والا يې ولې نه را اخلي خير په کې نشته.

ددې مسئلې ذکر ددې علل لټول دا يې ولې وکړه ولې دا اختلاف راغې او جنګ ولې وشو.

د دواړه جانبه نه ۷۵۰۰۰ صحابه او تابعين شهيدان شوي دي ۴۵۰۰۰ کسان په څلورو ورځو کې د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لښکر کې شهيدان شوي دي او ۲۵۰۰۰ کسان د حضرت علي کرم الله وجهه په لښکر کې شهيدان شوي دي عمده عمده صحابه کرام په کې شهيدان شوي دواړو جانبو کې صحابه ولاړ دي.

مفتي شهزاده صاحب د شيخ ادريس صاحب نيکه وه مونږ ته شيخ ادريس صاحب حکايت کولو وايي چا ترې نه تپوس وکړو چې حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت علي کرم الله وجهه مينځ کې دي څه رايه ده حق به د چا سره وي وايي دې غلې شو.

وايي ده ورته وويل چې ستا دا مقصد دي زه قاضي يمه او دوه مجرمان راغلل راته چې يو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي او بل حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي فيصله يې وکړه ياره هغه سائل وايي ځان پورې خفه شو زه دومره غټ سړي يمه چې زه به نن قاضي يمه او زما مجرمان به هغوي وي او فيصلې به زه کومه.

نو ځان نه قاضيان بين الصحابه مه جوړوي بس اسلافو دومره ويلې چې حق مع علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو مقابل جانب هغوي هم په ښه مقصد باندې لګيا وه هغوي د رياست د پاره نه وه هغوي دواړه طالبين د حق وه دا چې يو جانب چونکې ولايت لرلو والي وه دويم جانب ته نه وه په کار دغه وخت سره چې بغي شوې وايي پاڅيدلې واي خو وشوه ترې نه ديو مقصد د پاره وشوه چې ولې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قاتل نه نيول کيږي او دا يقيني يوه غټه خبره ده.

ته ديو ځاى والي يې ستا په ملک کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د يار د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شهادت رسيږي او ته قاتل نه نيسي حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو په شام کې وه هغه ته خو پته نه وه چې دا وضعه د مدينې منورې څنګه ده هغه بار بار خطونه راليږل چې زه په خط تا سره بيعت کومه د معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الفاظ دا وه چې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قاتل ونيسه او اعدام يې کړه قاتل معلوم نه وه کار د شپې شوې وه.

او عامه بلوى دا وه چې هر چا به چغې وهلې چې ما وژلې دي نو هغه خو خاص کسانو شهيد کړې وه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تحقيق کوه چې سړي معلوم شي چې دا کار چا کړې چې اصلي سړي قصاص شي دغې مينځ کې شيطانانو کار وکړو حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې غصه کړو.

بهر حال دا واقعه کې تفصيل هم نه وي په کار ډير زيات احتياط او غلي پاتي کيدل په کار دي، خو مسئلې د اهلسنت لکه دلته د څلورو ډلو سره نزاعي شوي دا خوارج او روافض يې ښکاره دي خو دا ناصبه او افضلية چې ځانونو ته اهلسنت وايي دا هلسنت نه دي.

ابن تيميه په دې مسئله کې د ناصبه وو نه دي مطلب مې دادی چې ابن تيميه د خوارجو نه، نه دي تکفير نه کوي خو د ناصبه وو نه دي حضرت علي کرم الله وجهه ته ډير بد نسبتونه کوي په دې کارونو کې، دا وايي محب د ولايت او رياست وه دا وايي د ولايت د پاره جنګيدلو او نور نور نسبتونه ورته کوي هغه طرف ته ډير ميلان ورکوي دده رواياتو ته ګوري نو پته درته لګيږي.

منهاج السنة جلد ٦ صفحه٦٦:

واما قتال الجمل وصفين فلم يرو احد منهم فيه نصاً.

وايي جنګ جمل او صفين کې جانبينو سره هيڅ دليل نه وه يعني جنګ يې کړې دي خو دليل يو هم نه لرلو.

الا القاعدون.

مګر کوم چې ناست وه.

فانهم رووا الاحاديث في ترك القتال في الفتنة واما الحديث الذي يروي انه امر بقتل الناكثين والقاسطين والمارقين فهو حديث موضوع على النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ومعلوم أن الرأي ان لم يكن مذموما فلا لوم على من قال به وإن كان مذموما فلا رأى اعظم ذماً من رأي أريق به دم الوف.

ومعلوم أن الرأي إن لم يكن مذموما فلا لوم على من قال به.

خوارج يادوي وايي چې دوي کوم اعتراضات کول نو دا رايه يې مذمومه ده خو څه ملامتيا په دې قول کې پرې نشته.

وان كان مذموماً فلا رأى أعظم ذما من رأي أريق به دم الوف.

که هغه مذمومه وه خو ملامتیا په کې نشته او که هغه رایه مذمومه شي نو ددغې راي نه اعظم ذما رایه نشته دي چې په هغې کې د الوفو وینه تل شوه.

داد حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رایه یادوي شیعه ګانو باندې رد کوي وایي که د حضرت معاویه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رایې ته مذمومه وایي نو رایه د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اعظم ذماً دي داد هغې نه ډیره مذمومه وه اوس د شیعه ګانو رد خو دې وکړو چې ذم رایې د حضرت معاویه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کوي خو دې بل طرف کې دې د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رایې ته اعظم ذماً ویلې دا دې څه وکړو. داد ناصبه وو جانب ته رجحان ورکوي لکه شیعه ګان چې ذم رایې د حضرت معاویه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کوي طرف د افضلیت ته رجحان ورکوي.

منهاج السنة جلد ٦ صفحه ۱۱۷ دلته وایي:

والمقصود هنا أن ما يعتذر به عن علي فيما أنكر عليه.

مقصود دادی که حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې چا رد کړې دي په دې مسئله د جنګ کې د هغه نه چې کوم دلیل او عذر پیش کیږي نو.

يعتذر بأقوى منه عن عثمان.

نو بیا د حضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه بیا قوي عذر هغه وګرځول شي.

فان علياً قاتل على الولاية.

حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ جنګونه په ریاست کړې دي.

وقتل بسبب ذلك خلق كثير عظيم.

او ډیر مخلوق په کې قتل شوې.

ولم يحصل في ولايته.

او نه دي حاصل په ولایت د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کې.

لا قتال للكفار ولا فتح لبلادهم.

نه قتال د کفارو او نه فتحه د ښارونو ددوي.

ولا كان المسلمون في زيادة خير.

ګوري دا عباراتو دده ته تاسو داد حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره ښکاره عداوت او دشمني خو تکفیر یې نه کوي نو خارجي نه دي خو د ناصبه وو نه دي هغه طرف ته رجحان ورکوي.

دارنګې منهاج السنة جلد ۷ صفحه ۱۱۱، شیعه ګانو باندې رد کوه خو ځان خارجي مه جوړوه کنه.

وهذه الفضيلة لم تثبت لغيره من الصحابة ممنوع.

شیعه ګان که وايي چې **اول من اسلم** دا حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي شیعه ګان دا وايي او دې ته زور ورکوي د صديق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مقابله پرې کوي دې جواب کوي دا افضليت چې **اول من اسلم** حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي.

لم تثبت لغيره من الصحابة ممنوع. که وايي چې حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ غير بل صحابي ته د **اول من اسلم** نسبت نه کیږي نو منع ده.

فان الناس متنازعون في اول من اسلم.

خلک په جګړه کې دي په **اول من اسلم** کې.

چا ويلي **فقيل ابوبکر اول من اسلم** دي **فهو اسبق اسلاماً من علي ان علياً اسلم قبله:**

دې اوس جواب کوي:

لكن علي كان صغيراً.

حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې اسلام راوړو صغير وه.

واسلام الصبي فيه نزاع بين العلماء.

او د ماشوم په اسلام کې د علماو مينځ کې نزاع ده.

دې ګوري د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ايمان هم قائل نه دي عبارت يې چې وګوري نو ښکاره دې د ناصبه وو نه خو يقيني دي بالکل خوارجو ته ميلان لري دومره د اهل بيتو او د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره د شمني لري.

دا وي داسې کله سړي د يو جماعت په دشمني کې راشي خو هلته بل جانب سړي نه خرابيږي اوس مونږ هم د شيعه ګانو مخالف يو، سپاه صحابه يې هم مخالف دي خو سپاه

صحابه ښکاره نه وايي چې د اهل بيتو دشمني وکړي خو لکن خاصتاً په زندګي کې به د اهل بيتو تعريف هم تړې وانه وري د شيعه ګانو په دشمني کې دومره ننوتي دي چې زما پرې خطره د ناصبيت راشي چې ناصبه نه شي او هغه جانب د اهل بيتو طرف ترې خفه نه شي .

مونږ خو وسط کې يو د اهل بيتو تعريف هم منو د هغه بل جانب تعريف هم منو او د اهلسنت دغه لاره ده چې وسط کې لاړ شي .

دارنګې منهاج السنة النبوية جلد ۸ صفحه ۲۰۴ کې وايي :

وعلي يثبت له حكم الكفر والايمان هو دون البلوغ. له بلوغ نه مخکې ده ته د کفر او د ايمان حکم ثابتيږي .

والصبي المولود بين ابوين كافرين يجري عليه حكم الكفر في الدنيا باتفاق المسلمين .

وايي چې پلار او مور د چا کافر وي وايي دې مولود باندې په اتفاق د مسلمينو د کفر فيصله کيږي .

واذا اسلم قبل البلوغ . د بلوغ نه مخکې چې اسلام راوړو .

فهل يجري عليه حكم الاسلام قبل البلوغ ؟ مسلم ورته ويل کيږي قبل البلوغ .

على قولين للعلماء . علماء اختلاف لري .

بخلاف البالغ فانه يصير مسلماً باتفاق المسلمين فكان اسلام الثلاثة مخرجاً لهم من الكفر باتفاق المسلمين .

دا دري خلفاء حضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او حضرت صديق اكبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ .

فكان اسلام الثلاثة مخرجاً لهم من الكفر باتفاق المسلمين واما اسلام علي فهل يكون مخرجاً له من الكفر ؟ على قولين مشهورين .

او د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اسلام مخرج کفر دده نه دي او که نه دي قبل البلوغ دې کې د علماو اختلاف دي مشهور قولونه يو دادی چې کفر نه وځي او بل قول دادی چې نه وځي يعنې ايمان د صبي نه دي قبول .

نو دده عبارت ته ګوري اوس د شيعه ګانو د مقابلې به دا مقصد وي چې د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تنقيص به په کې کوو دا به اهلسنت شي نه داد ناصبه وو نه دي او نواصب د خوارجو چمچې دي هغوي تکفير نه کوي خو دومره ده چې د اهل بيتو غټ تنقيد کوي .

من جمله د مقالاتو شنيعه وو نه هغه تحريم د توسل بالانبياء والصالحين چې په ذواتو باندې وسيله حرامه ده اولين قائل پرې ابن تيميه دي سلفو کې دا قول چا نه وه کړې او ددې وجې نه شفاء السقام کې صفحه ۱۶۰ کې امام السبکي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

اعلم انه يجوز ويحسن التوسل والاستغاثة وتشفع بالنبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الى ربه سبحانه وتعالى وجواز ذلك وحسن من الأمور المعلومة لكل ذي دين المعروفة من فعل الانبياء والمرسلين وسيرة سلف الصالحين والعلماء وعوام المسلمين ولم ينفر احد ذلك من أهل الأديان ولا سمع به في زمن الازمان حتى جاء ابن تيمية فتكلم في ذلك بكلام يلبس فيه على الضعفاء الاغمار وابتدع مالم يسبق اليه في سائر الاعصار .

دا وايي چې دې نه مخکې دا قول چا نه وه کړې چې وسيله په ذواتو حرامه ده دا څومره خلک چې دنيا کې اوس لګيا دي که اشاعتيان دي که وهابيان دي وغيره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ذات بې آدبيانې کېږي دا ګلان ابن تيميه کړلې دي دا دده تفرد دي له ده نه مخکې اسلافو کې چا په دې باندې رد نه دې کړې.

حاشية ابن حجر على شرح الايضاح صفحه ۴۸۹ کې ابن حجر هيتمي ليکي :

ولا يغتر بانكار ابن تيمية لسن زيارته .

څوک دې دو که نه شي په انکار د ابن تيمية باندې چې زيارت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مسنوناتو نه او جائزو نه دي .

فانه عبد اضله الله تعالى .

ابن تيميه يو سړي وه چې خداى تعالى ګمراه کړې وه .

كما قاله العز بن جماعة واطال في الرد عليه تقي السبكي في تصنيف مستقل ووقوعه في حق رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليس بعجب فانه وقع في حق الله سبحانه وتعالى .

وايي دا چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په شان کې خبرې کړي دا څه عجيبه نه ده هغه د خدای جَلَّ جَلَالُهُ په ذات کې هم خبرې کړې دي حدوث د حرکاتو وغيره نو علماء مخکې نه په دې باندې ردود کړې دي.

زما نچوړ د دې خبرو دا نه دي چې تاسو راو ليکېږي او تقارير د ابن تيميه په رد باندې شروع کړي يو عالم وه يو حافظ وه يقيناً د علم نه يې زه خپله متأثر يمه ډير بحر عميق وه په علم کې خو تفردات لري که تاسو يې کتب مطالعه کوي داسې څيزونه به راشي چې بيا به په هغې کې د اسلافو او د اهلسنت د عقيدې نه پرې واوړي نو خپل صرف دومره پرچار کوي چې کتب يې مه ګوري او مه يې بل چا ته ترويج ورکړي چې دده کتب مطالعه کړي دغه مې د دې موضوع نچوړ دي.

دا مې نچوړ نه دي چې تاسو په منابرو دده تکفير وکړي او ده ته زنديق ووايي نه يو عالم وه حنبلي مذهبي وه او د تبحر د تعمق د لاسه يې تفردات لرل هغه تفرداتو کې اسلافو په ده ردود کړې دي مونږ هغه را نقل کړل.

او دا رايې تاسو خپله هم وليدلې چې د قبلولو رايې نه دي دغه شان تفردات شته دي او دا چې نسبت د تفرداتو ورته شوې دي دا ډير فقهاو کړې دي چې رايې خپلې لري چې هغې کې امت ده سره متفق نه دي.

سوال: بعضې خلک ابن تيميه سره رحمة الله عليه وايي؟

جواب: داسې سوال دي چې زه په کې ډير څه نه شم ويلې خدای دې پرې رحم وکړي نو کفر بواح باندې خو کافر نه دي کنه چې دعاء ورته ممنوعه شي دعاء د مغفرت او د رحمت خو صرف مشرک ته نه کيږي نو اوس مشرک خو نه دي او نه کافر په کفرِ بواح دي چې ده ته د مغفرت دعاء دې ممنوعه شي نو که رحمة الله عليه ورته ووېل شي په دې معنی باندې چې د شان د بړايي د پاره يې ونه وايي دې د پاره چې خدايه رحم پرې وکړي د دې خو خپله معنی هم جوړيږي.

حکایت :

لکه ما ته يو اهل حديث حکایت کولو وایي رستمي باندې وهابیان راټول شول چې خفه شوې وه له وهابیانو او واپس حنفي کیدلو دې نه لې مخکې نو کور ته وایي ورته ډیر وهابیان راغلل دې مشرانو يې ورته وویل چې دومره عمر مونږ تا ته دا درکړه او کومکونه مو درسره وکړه هغه مجلس کې يو سړي ناست وه ما ته يې حکایت کولو .

وایي ورته وي ويل چې اوسه پورې تا نه مونږ د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ خلاف څه وانه وریدل او رستمي به په امام صاحب باندې رد نه کولو ګوري دې اهل حدیث شو خو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ سره به ده رحمة الله علیه ویل تمام تقاریر یې واوري نو د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ بې آدبي به یې نه کوله .

نو دا وایي دې ته ورته راغلل چې دومره خرچې مو درکړي او ته اوسه پورې په امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ رد نه کوي او نه د هغه خلاف څه وایي او بله دا چې د هغه نوم سره رحمة الله علیه وایي .

نو رستمي خو هم ډیر چالاکه دي وای ده ترې نه ځان په دې خلاص کړو چې تاسو څه پوهیږي دا خو ما د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دومره سپکاوې په دې کې کړې دي چې لا تاسو نه دي کړي وایي څنګه وایي زما مقصد دادی چې ډیرې غټې خطاګانې ترې شوې خدایه وي بښې رحمت پرې وکړي دا مې مقصد دي وایي وهابیانو نه یې په دې ځان خلاص کړو .

نو زه تاسو ته وایمه چې رحمة الله علیه خو څو معنی ګانې لري چې يو سړي رحمت الله علیه ورته وویل کافر ورته مه وایي هغه داسې وایي چې دې سړي نه خطاء شوې خدایه رحم پرې وکړي په دې معنی باندې د شان د براییې په معنی باندې نه .

سوال : نبراس لیکلي که چا ابن تیمیة ته شیخ الاسلام وویل نو کافر کیږي ؟

الجواب : ما نبراس کې دا ځای نه دي کتلې خو زه وایم دا به یې خپل قول نه وي د چا قول به یې نقل کړې وي صاحب د نبراس .

خو دا قول زه نه شم قبلولې ځکه چې ډیرو اسلافو ابن تیمیه ته د شیخ الاسلام نسبت

کړي اول محمود آلوسي ته کافر ویلې شي ځای په ځای خپل تفسیر کې قال شیخ الاسلام او مجدد نسبت ورته کوي.

ابن حجر صاحب ته څوک کافر ویلې شي هغه ورته دا نسبت کړې دي.

داسې ډیر وعلماو محدثینو کتابونو کې زمونږ دا فقه کې هم شته دي چې ابن تیمیه ته د شیخ الاسلام نسبت شوې دي.

یو ځل ما دا مطالعه کوله په کمپیوټر کې چې ابن تیمة ته شیخ الاسلام چا ویلې دي خپل حنفي فقهاو اقوال مې ډیر ولیدل چې شیخ الاسلام یې ورته ویلې دي.

نو دغه الفاظ که صاحب د نبراس ویلې یا د چا قول یې نقل کړې وي اعتبار به ورته نه وي او نه د قبلولو وړ دي که چا ده ته شیخ الاسلام ویلې نو کافر شو دا ما تاسو ته اول کې ویلې چې څه خلک یې رئیس الزنادقه ګڼي او څه خلک یې امام مجتهد او متبع ګڼي.

تاسو لږ وسط کې لاړ شي مه ورته زندیق او کافر وایي او مه ورته امام مجتهد وایي دغه د وسط لاره عبد الحي لکهنوي رَحِمَهُ اللهُ اختیار کړې ده او دا تفردات یې خطرناک دي خاصتاً دا دوه خبرې ډیرې خطرناکې دي چې توسل ته حرام ویل او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زیارت تللو ته حرام ویل او دې سفر کې قصر ناجائز ګڼل دا یې دومره په حق د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې ګستاخي کړې ده چې خطره لري.

مسئلة الوجد على الصوفية :

التحقيق في الوجد على الصوفية :

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿ فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ موسَىٰ صَعِقًا ﴾

بله زیرِ بحث مسئله، مسئله د وجد ده على الصوفية چې په دې مسئِله کې یو اخې خصم او مخالفین د اهل السنة والجماعة منکرین نه دي بلکې د نه مطالعې له وجې نه زمونږ ډیر حنفي ورونه او حنفي علماء او طالبان هغه په صوفیه کرامو باندې او بالخصوص په سیفي حضراتو باندې د وجد په باب کې اعتراضات لري نو دا ډیره ضرور ګڼمه چې تفصیلي بیان شي ځکه لوي اعتراضات د باړي حضرت صاحب باندې موافقین یې کوي که مخالفین یې کوي نو مخالفین خو هسې هم په عقائدو کې فرق لري.

خو احناف اهل السنة والجماعة علماء او طالبان ورونه چې هغوي مخالفت کوي نو د هغوي د مخالفت دوه لوي وجهې دي یو دا اعتراض کوي چې د باړي حضرت صاحب تبلیغیانو ته کافر وایي او دویم دا اعتراض کوي چې د باړي حضرت صاحب مریدان ټوپونه وهي دا دوه غټ اعتراضونه دي په سیفیانو باندې.

مسئله د تکفیر د تبلیغي جماعت هغه غلط فهمي شوې ده د باړي حضرت صاحب تبلیغي جماعت د یو شخص متعلق دا الفاظ نه دي صادر کړې بلکې هغه د جبر عقیده چې له الله نه د کیدو یقین او د مخلوق نه د نه کیدو یقین داد جبریه وو عقیده ده په دې باندې به یې خپلو مریدانو متعلقینو ته څه الفاظ ویل او بعضې علماء متکلمین فقهاء جبریه وو ته کافر وایي هغه نصوص به یې پیش کول نو خبره د هغه په خپل ځای باندې روغه وه دا خو تبلیغي جماعت ته په کار دي چې د خپلې عقیدې اصلاح وکړي او علماو ته په کار دي چې له دې غلط پرچار نه دې منع کړي.

او هر چې مسئله د وجد على الصوفية ده په دې کې هم حق د سیفي حضراتو سره دي او کوم چې منکرین انکار کوي هغوي خو له ډیرو شیزونو نه انکار کوي او کوم چې احناف ورونه مخالف دي نو د هغوي لپاره مونږ عذر دا وایو چې دوي مطالعه پوره نه ده کړې دوي

اقوال د فقهاو مفسرينو سم نه دي کتلې اکثر فقهاء په اتڼ باندې په ګډا ګانو د سرو باندې رد کوي ځکه رقص د نارينه لپاره حرام دي خاصتاً هغه رقص چې په هغې کې تکسر او تخنث يعنې مات مات کيدل او د يوې ډمې جينې غوندې تاويدل راتاويدل هغه طرزونه کول نو په دې باندې خو اتفاق دي بيننا وبين الخصم چې ګډا ګانې او اتڼونه دا جائز نه دي.

خو مقصد د فقهاو دلته د صوفيه وو په مجالسو باندې رد ود نه دي هغه خو عام هلکان را غونډ شي يو ورته تنبل وهي او نور ورته ګډيږي او يا دا هيجړا ګان ګډوي دې وو باندې فقهاو رد کړې دي.

نو بعضې کم فهم يا ټول عبارتونه ګوري او يا که يې ګوري ضد کوي دغه نصوص د فقهاو را واخلي چې رقص حرام دي نو رقص ته ځا جائز ويلې دي د اتڼ رقص د هيجړا ګډول تنبل او منګي وهل او هغې ته د ډمې په شان مات مات کيدل او طرزونه کول دا کوم فقيه جائز کړې دي کله د باړي حضرت صاحب ددې د جواز فتوی ورکړې ده اما رقص الصوفية في مجالس الذکر بمحض الدوران بدون الاختيار.

دا جدا مسئله ده فقهاو دغه مسئله زير بحث نه ده ګرځولې صوفي باندې مجلس د ذکر کې يو دوران راشي حالت پرې راشي پاڅيږي تاو شي او د صوفي دغه رقص به خالي له تکسر او تخنث نه وي دې کې به د ډمې طرز نه وي او که وي دې کې به دخل شيطاني وي بيا دا محض دوران دي حالت يې غير اختياري وي.

اضطراب او اضطرار وي نو ددغه لپاره به د فقهاو نصوص راشي او دې د پاره د صحابه کرامو زمانه کې اصل هم شته دي هغې نه به اخذ وشي نو دغه مسئلې ته بنه غور سره وګورئ.

نو دغه مسئله مونږ مشتمله ګرځوو په چند مباحثو باندې:

المبحث الأول : في تعريف الوجد وبيان أنواعها :

چې مبحث اول په تعريف د وجد او په بيان د انواعو د وجد کې ده، دا وجد څه شي دي او دا څه قسمونه لري.

احياء علوم الدين د امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ جلد ۳ صفحه ۲۳۷ کې د سماع باب ذکر کوي سماع نه سماع د چشتيانو قلندريانو نه ده مراد چې هغوي سماع ته تعبير په قوالۍ باندې کوي او د هغې سره بيا رباب وي منګی باجه وغيره وي ·

مراد د سماع نه دلته هغه سماع معروفه عند السلف هغوي به سماع اوريدل د اشعارو موزونه مطربه وو داسې آواز او شعرِ موزونه اوريدل چې هغه سړي په مستئ کې راولي شعر خوندوروي آوازيې هم خوندوروي سړي مستوي دې ته دوي سماع وايي ·

اعلم ان السماع هو أول الأمر .

مجلس د صوفيه وو کې ابتدايي حالاتو نه شروع چې ده اوله خبره د سماع ده چې دوي څه اشعار اوري ·

ويثمر السماع حالة في القلب .

اوريدل د اشعارو موزونه وو مطربه وو په زړه کې يو حالت پيدا کړي ، دغه حالت چې زړه کې له اشعارو نه پيدا شي ·

تسمى الوجد . دې ته دوي وجد وايي ·

ويثمر الوجد .

اوس وجد خو يو وارد دې چې وارد شوې قلب د صوفي لره **من الله تعالى** دا خو هغه نور دې له هغې نه خو څوک تعبير نه شي کولې چې هغه څه شي دې چې ده ته راغلل نو دې د هغې خارجي اثار بنايي نو .

ويثمر الوجد .

دا وجد چې کله راشي دې صوفي ته دا رپيدا کړي ·

تحريك الأطراف .

اطراف نه مراد لاسونه او خپې دي کله به خپي خوزوي کله به لاسونه خوزوي ·

اما بحركة غير موزونة . کله به حرکات غير موزون وي ·

فتسمى الاضطراب . دې ته صوفيه اضطراب وايي ·

واما موزونة. كله به يې دا حركات ښه په وزن برابر وي.

فتسمى التصفيق والرقص.

دا مسمى كيږي په رقص او دوران باندې او په چكو وهلو باندې.

يعنې كله د لاسونو نه ټكونه پورته كړي سماع څه فائده كوي وجد د وجد آثار په خارج اندامونو كې د صوفي څه شي دي: تحريك الاطراف، لاسونه ښپي خوزوي كه حركات موزون وه نو اضطراب او كه غير موزون وي التصفيق والرقص نو دا تصفيق او رقص تحريك الاطراف دا ټول امام غزالي رَحِمَهُ اللَّهُ د انواعو د وجد نه وګرځول.

حتى علامه سهروردي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې: بُكاء خو هغه بُكاء چې د هغې سره صياح وي او چغې وي هغه هم د وجد قسم دارنګې ضحک او خندا بې اختياره هغه د وجد قسم او دارنګې غشي جريان د غشي په هغه باندې وتل د چغو له خولو نه دا له انواعو د وجد نه دي خپله دا وجد.

علامه سهروردي رَحِمَهُ اللَّهُ په كتاب عوارف المعارف جلد ۱ صفحه ۱۸۷ كې فرمايي:

الوجد وارد يرد من الحق سبحانه وتعالى.

دا وجد ورود د څه انوارو دي د اله العالمين له اړخ نه چې وارديږي قلب د صوفي لره.

عوارف المعارف جلد ۱ صفحه ۴۱۹ كې د وجد لپاره مختلف انواع نور هم ذكر كړې دي دا چې كله دا وجد صوفي باندې آياتونه مخوفه غالب شي لكه هغه مجلس د ذكر كې ده ته داسې يو وارد راشي چې د خالق نه هغه خشيت په ده غالب شي نو دا مفضي شي بُكاء صياح او چغو لره توبه توبه دا الفاظ آه اُه اُه دا آواز او كله داسې شي چې هغه د خداى تعالى د رحمت هغه نصوص څه وعدې او څه يې چې اوريدلې وي هغه ورته ذهن ته راشي قلب ته رحمت رامخې ته شي نو دې دومره په مستۍ كې شي چې بيا بې اختياره خاندي بيا خوشحاله وي چې دا خو سم كار دي زه خو جنتي يمه خاندي كله ژاړي.

احياء العلوم ومعه تخريج الحافظ العراقي جلد ۳ صفحه ۲۴۸ كې ليكي:

النغمات الموزونة للأرواح. اشعار موزونه د ارواحو د پاره دا څه اثر وركوي.

حتی انها لتؤثر فيها تأثيراً عجيباً .

امام غزالي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ يو بل ځای کې ليکي وايي د نغماتو تاثير چې اشعار تاثير نه لري وايي د اشعارو په تاثير خو وايي مار هم پوهيږي د مار لپاره خپله يوه شپيلي ده چې وي وهي مار هم ورته تاويږي بيا پاړو ګريې ورته وايي نو ګوري دا حسن صوت په مار هم تاثير وکړو هغه يې هم په مستي کې راوستلو او دغه شان يو خاص ترنم ده مست هغه دا عربان او ښانو ته وهي هغه ته ځدا وايي هغه آواز چې ورته شروع کړي اوښ هم تسليم شي غاړه ورته کيږدي ييخي داسې وي چې تقريباً ليوني شوې وي راشي خپل مالک ته .

فمن الاصوات ما يفرح .

بعضې آوازونه دي چې سړي خوشحالوي .

ومنها ما يحزن ومنها ما ينوم ومنها ما يضحك ويطرب .

او بعضې آوازونه مستول کوي خندول کوي .

ومنها ما يستخرج من الاعضاء حركات .

بعضې هغه دي چې را اوباسي له اعضاء نه حرکات .

على وزنها باليد والرجل والرأس .

کله سر خوزوي اثريې دادی کله به خپه خوزوي کله به لاس خوزوي .

دارنګې عوارف المعارف جلد ۱ صفحه ۱۸۸ :

واعلم ان للباكين عند السماع مواجيد مختلفة .

ژړيدونکو د پاره سماع د اشعارو په وخت وجدونه دي مختلف .

فمنهم من يبكي خوفاً ومنهم من يبكي شوقاً ومنهم من يبكي فرحاً .

خلاصه دا ده چې اصلاً وجد هغه :

وارد يرد للصوفي من الله تعالى .

چې هغه نور دي اثر د وجد د اندامونو حرکات اضطراري حرکت د سر لاس او د خپې او کله موزون راشي .

تسمى التصفيق والرقص.

دا ټول انواع دي ژړاګانې چې صياح ورسره وي او خنداګانې چې مستي ورسره وي دا ټول د وجد په انواعو کې راځي.

الايرادات مع الجوابات :

منکرين د وجد يو دري اقوال په رد کې پيش کوي خو دا تعصب ځکه کوي جمله نصوص د آيتونو د آحاديثو ذخيره کتب د فقهې غټ ټول په ځای پريږدي دري اقوالو پسې ځي يو قول د محمد ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ دي.

دويم قول د اسماء بنت ابي بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دي.

دريم قول د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دي دا هغه اقوی استدلالات د منکرينو د وجد دي.

قول د محمد ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ مفسرينو ذکر کړي بدون السند وبدون ذکر المسند او ماپسې ځان ستړي کړو خو مسند د هغې مې پيدا نه کړو اګر که تفاسيرو کې بعضې را اخيستې خو قول د مفسر د تابعي قول لره تبع تابعي قول لره د صحابي قول لره لابدي ده د سند او مسند نه د ابن سيرين قول دوي پيش کوي چې هغه ته چا وويل چې دلته يو قوم دي چې هغوي قرآن کريم واوري پريوځي چغي وهي نو هغه ورته وويل چې :

فصل بيننا وبينهم دادی چې داد يو ديوال په سر کينوي بيا ورته هغه کس راولي چې څه لولي ورته اشعار وي که تلاوت وي که دې ديوال نه راپريوته يا يې د کوهي په غاړه کينوي که کوهي ته پريوته نو صادق دي ګڼې کاذب دي.

د ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ دا قول دوي پيش کوي تفسير القرطبي هم را اخيستې دي دا بعضې مفسرين چې د هغوي سوانح ولټول شي هغوي د صوفيه وو مخالف نه وي خو هغه علاقه او زمانه دده کې داسې خلک وي چې هغه تصوف بدناموي د ردود په هغې باندې کړې وي خلک يې فرق ونه کړي.

علامه قرطبي چې دي دده علاقه کې شيعه ګان ډير وه او دا چشتيان قلندريان هم ځان ته وايي او هغوي ډير خلاف د شريعت کارونه کوي چې په هغوي کې باطنيه فرقه هم ده خو هغوي متصوفه دي صوفيه نه دي نو ډير ردود علامه قرطبي کړي دا په هغه متصوفه وو د

زماني خپلې کړې دي د صوفيه وو مخالف نه دي ځکه چې ډيرو ځايونو کې دې قول نقلوي نو وايي دا قول د صوفيه کرامو دي نو که دې مطلقاً د صوفيه وو منکر وې نو صوفي سره کرام ولې لګوي او ځای په ځای په تفسير کې د صوفي قول ولې را اخلي نو دې د صوفيه وو مخالف نه دي د متصوفه وو مخالف دي.

يو د ابن سيرين رَحِمَهُ اللَّهُ قول دي خو دا سند نه لري او نه يې مسند ښودلې شي چې دا فلاني کتاب د حديثو را اخيستې دي دا دومره ذخيره د حديثو سندي پرته ده په هغې کې دا ځوک نه شي ښودلې او دده جواب وروسته راځي خپله د ابن سيرين رَحِمَهُ اللَّهُ په شرحه کې به راشي.

دويم اعتراض پيش کوي له بي بي اسماء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه چې هغه چا ورته وويل دلته يو کس دي تلاوت چې وا وري پريوځي نو هغې وويل چې **اعوذ بالله من الشيطن الرجيم**.

دا قول د سند په لحاظ قوي دي خو دده په معارضه کې به مونږ اقوی روايات د اسماء بنت ابي بکر خپله پيش کړو چې په هغې خپله هم بيهوشي راغلې ده او ددې په مخکې په صحابه کرامو بيهوشياني راغلې دي.

او دريم اعتراض چې دي هغه د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا دي چې هغه دا ويلې وه چې شيطان داخليږي:

في جوف احدهم. په خيټه د يو کس کې.

ما كان هذا صنيع اصحاب رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. دا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د صحابه وو طريقه نه وه.

د هغې په سند کې په يو راوي باندې جرحه شته دي نو ايرادات دغه دري دي نو يو قول د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي چې هغه دې ته د دخل شيطاني نسبت کړې دي او په دې يې رد کړې دي راځي په خپله د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې په ده باندې په وخت د تلاوت يا د سماع القرآن کې څه حال راغلې دي او که نه.

الزهد لاحمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۱۹۲:

حدثنا وكيع عن هشام الدستوائي عن القاسم بن ابي بزة حدثني من سمع ابن عمر قرأ

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ. دا يې ولوستلو.

حتى بلغ: ﴿يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ فبكى. نو ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وژړل.

حتى خرا. تر دې چې پريوته.

د تلاوت په وخت کې په ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپله پريوتل راغلې دي نو دې څنګه نسبت کوي دې لره چې د تلاوت د سماع په وخت کې يو سړي پريوځي ده کې شيطان دننه شوې ده.

وامتنع عن قراءة. او د قرائت نه تر ډيره وخته منع شو تلاوت يې نه شو کولای پريوته.

همدغه روايت حلية الاولياء جلد ۱ صفحه ۳۰۵ کې هم را اخيستې دي.

او کوم روايت د دې په خلاف چې ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه مروي دي:

ففي سنده سعيد بن عبد الرحمن بن عبد الله بن جميل بن عامر القرشي الجمحي ابو عبد الله المدني قاضي بغداد.

ابن حجر ليکي:

صدوق له اوهام. صدوق وه خو وهمي هم وه اوهام يې لرل.

وافرط ابن حبان في تضعيفه. ابن حبان ورته شديد ضعيف ويلې دي.

نو د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د قول معارضه راغله يو ځای يې هلته دې ته دخل شيطاني ويلې بالمقابل په خپله خرّ د تلاوت په وخت پريوتې دي د هغه روايت په سند په دغه راوي جرحه ده.

او يا ترې نه جواب تفسيرِ مظهري کړې په جلد ۱ صفه ۳۳۶ باندې په دغه آيت:

﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾:

او قوله محمول على من يفعله تصنعاً. يا د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول محمول دې په هغه چا چې هغه د تلاوت په وخت کې پريوتل تصنعاً کوي قصداً يې کوي تواجد ته اشاره شوه.

قاضي صاحب ليکي:

وقول ابن عمر ان الشيطان يدخل في جوف احدهم وكذا استعاذة الأسماء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. چې هغې اعوذ بالله ويلې وه.

محمول على انهما زعما غشي ذلك الرجل تكلفاً ومكراً.
دوي دا ګمان کړې وه چې دغه سړي دا کار تکلفا وکړي او مکراً يې وکړي.
ولذا نسباه الى الشيطان.
داد قاضي صاحب عبارت دي يو ه دا وجه وه دويمه دا چې:
وانما كان انكار تلك الحالة منهما لعدم طريان الحالة عليهما وعلى امثالهما بناء على وسعة الحوصلة وقوة الاستعداد.
صحابه وو باندې به واي حالت اکثري کې دا راتلل هم نه ځکه استعداد ونه يې غټ وه دليل په دې **ما قلت** باندې چې دوي رد په تکلفا او تصنع کړي نه په غيرِ اختياري هغه دا چې:
ذكر عند ابن سيرين الذين يصرعون.
هغه کسان چې پريوځي:
اذا قرئ عليهم القرآن فقال بيننا وبينهم ان يقعد احدهم على ظهر بنية. په ديوال باندې.
باسطاً رجليه ثم يقرأ عليهم القرآن من اوله الى آخره فان رمى بنفسه فهو صادق.
نو قاضي صاحب وايي:
حيث علق صدقه على رمي نفسه من ظهر بنية مرتفعة فعلم منه انه حمل صرعه على الكذب والتكلف.
د ابن سيرين قول نه خو ښکاره پته لګيږي چې دې صادق دي که کاذب دي دلته يې کينوي چې پته يې ولګي نو د هغه خو دا مقصد نه دي چې تاسو سړي راولي يعنې صادق له کاذب نه بيل کړي څه په کې کاذبين دي څه په کې صادقين دي.
او هر چې روايت د اسماء بي بي دي چې استعاذه يې ويلې وه هغه هم محمول دي په تصنع او تکلف باندې ځکه له دې نه خپله هم غشي ثابته ده.
سنن النسائي جلد ۴ صفحه ۱۰۳:

أنبأ سليمان بن داؤد عن بن وهب قال اخبرني يونس عن بن شهاب اخبرني عروة بن الزبير انه سمع اسماء بنت ابي بكر تقول قام رسول الله ﷺ فذكر الفتنة التي يفتن بها المرء في قبره.

د عذاب قبر بيان يې وکړو.

فلما ذكر ذلك ضج المسلمون ضجة. ضجة المسلمون معنى صاحوا چغې کړې مسلمانانو په چغو سره سمې چغې شروع شوې داسې چغې شوې.

حالت بيني و بين أن أفهم كلام رسول الله ﷺ.

دومره چغې شوې چې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په تقرير نه پوهيدمه په مجلس کې دومره چغې وې.

فلما سكتت ضجتهم.

چې ددوې صياح او چغې ختمې شوې.

قلت لرجل قريب مني اي بارك الله فيك ما ذا قال رسول الله ﷺ في آخر قوله قال قد اوحي الي انكم تفتنون في القبور قريباً من فتنة الدجال.

دغه د اسماء بي بي د وړاندې صياحات په خپله راغلې دي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د تقرير په وخت کې او دا چغې نو دا څنګه له هغې نه انکار کوي.

روايت د بخاري کې په دې غشي هم راغلې ده چې کوم د کسوف په دور کې نبي اکرم ﷺ کوم تقرير کړې وه نو دې الفاظ دادی د اسماء بي بي په روايت د بخاري کې علاني الغشي په ما غشي غالبه شوه حتى قريبه وه پريوتمه يبا مې مخ وينځلو يبا را بيداره شومه يبا راباندې غشي راغله نو دداسې تخويف له وجې نه په اسماء بي بي خپله غشي راغلې ده.

بخاري جلد ۲ صفحه ۱۲۳ کې هم دا روايت باختصار ذکر دی او عمدة القاري جلد ۱۳ صفحه ۱۱۱ کې معنى کوي:

ضج المسلمون وصاحوا وجزعوا.

چغې ووهلې او دومره چغې شوې چې د نبي اکرم ﷺ په آواز هم څوک نه پوهېدل.

هر چې ابن سيرين دي نو د هغه قول هم حمل دي په تصنع او تكلف ورنه ده نه بالفعل څه حالات صادر دي.

الزهد لاحمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۳۰۸:

حدثنا سفيان عن ابن زهير قال كان ابن سيرين اذا ذكر الموت مات كل عضو له على حدته.

چې ده به کله هم مرګ رایاد کړو مړي به ترې جوړ شو يو اندام به يې هم کار نه کولو هر اندام به يې په خپل خپل ځای مړ پروت وه بې دمه به شو نو څه حال په ده خپله هم راغلي غير اختياري دا چې رد کوي نو مراد له هغې نه تكلف او تصنع ده د ابن سيرين رحمه الله د غه قول الزهد الكبير للبيهقي جلد ۲ صفحه ۶۹، او حلية الاولياء جلد ۲ صفحه ۲۷۲ کې ذکر کړې دي.

فائده:

سره زه ددې ذکر کوم استدلالاتو نه وړاندې دا خو جوابونه د هغوي د اقوالو وه.

چې دوي اکثره دا وايي چې ده کې شيطان دي نو دلته هغه نصوص ذکر کوم چې شيطان ذاکر ته راځي که غير ذاکر ته نو شيطان خو نصوص منع کوي ددې خبرې نه چې ذاکر ته نزدې نه راځي شيطان بلکې غافل ته شيطان راځي.

سورة مجادلة ۱۹ آيت:

﴿اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ﴾

په منافقينو شيطان غلبه حاصله کړې په نتيجه کې له هغوي نه يې د الله ذکر له ياده ايستلي.

نو دا نسيان د ذکر الله دا نتيجه د اثر د شيطان ده نو خپله پته لږې چې ذکر کوي شيطان به نه وي.

﴿أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾.

دارنګې سورة الزخرف آيت ۳۶-۳۷:

﴿وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ﴾
څوک چې معرض شي د ذکر رحمن نه.
﴿نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا﴾
مسلط کړو مونږ په هغه شيطان.
﴿فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ﴾
نو دې دا شيطان ده لره قرين.
﴿وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ﴾
او دا شيطان اړوي دوي له سمې لارې نه خو دوي دا ګمان کوي چې مونږ په سمه يو شيطان دوي د سمې نه اړولې خو ددوي دا ګمان وي چې مونږ په سمه لار يو.

دارنګې ابن ابي شيبة جلد ۱۳ صفحه ۳۶۹ کې د ابن عباس رضي الله عنهما د ﴿الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ﴾ ترجمه ذکر کوي:

قال الشيطان جاثم على قلب ابن آدم فاذا سها و غفل وسوس واذا ذكر الله خنس.

اصل کې خنوس تأخر ته ويلې شي دا وروسته شي.
دارنګې الزهد لابي داود جلد ۱ صفحه ۳۶۴ کې هم دغه معنى ذکر کوي.
مسند ابي يعلى جلد ۷ صفحه ۲۷۸ کې هم ذکر ده خو په دغه صفحه د ابي يعلى کې مرفوع حديث دې:

حدثنا محمد بن بحر حدثنا عدي بن أبي عمارة حدثنا زياد النميري عن انس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الشيطان واضع خطمه على قلب ابن آدم فان ذكر الله خنس وان نسي التقم قلبه فذلك الوسواس الخناس.

مرفوع حديث کې هم پته لږي چې ذاکر نه په وخت د ذکر کې شيطان ځي او لرې کيږي.

المبحث الثاني : الاستدلالات من القرآن الكريم :

که دا مونږ وو وايو چې نفس دا حال تکلف او تصنع او حقيقت بيل نه کړو او وايو چې چا باندې دا حال راغې نو بس هغه شيطاني دي او د هيڅا دا حال تسليم ونه ګڼو نو د قرآن کريم د نص نه واضحه ده چې څه نا څه ددې حالاتو په موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ هم راغلې دي.

سورة اعراف آيت : ۱۴۳ : ﴿ وَلَمَّا جَاءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي ﴾ دا سوال د ارني د کمال عشق او محبت نه شوې وه دڅ سره ددې علم وه چې د باري تعالی رؤيت نه کيږي دا سوال هم ترې غيرِ اختياري وتلي دي :

د ګفتاره د ديدار شوق يې پيدا شو

موسی څکه د ديدار په تمنا شو

﴿ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن تَرَانِي وَلَٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي ﴾

دغې غر ته وګوره که چيرته يې قرار ونيوه دا په ځای پاتې شو په ځای خپل باندې ﴿ فَسَوْفَ تَرَانِي ﴾ زر ده چې ما به وګوري.

﴿ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُ لِلْجَبَلِ ﴾ هر کله چې تجلي وکړه رب د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه غره لره.

﴿ جَعَلَهُ ﴾ وي ګرځوه دې تجلي ، دې جبل لره.

﴿ دَكًّا ﴾ مکسورا. ټوټه ټوټه.

﴿ وَخَرَّ ﴾ پريوته موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ.

﴿ صَعِقًا ﴾ چغې وهلې.

دا طريان د پريوتو په موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ وتل د چغو له خولې د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اثر د تجلي وه رڼا نور وه د فيض غلبه وه.

﴿ فَلَمَّا أَفَاقَ ﴾ کله چې را بيدار شو.

﴿ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ ﴾

داد هغې اُرني د سوال نه توبه او باسي د دې حال نه توبه نه ده چې ولې پريوتي يمه ولې مې چغې وهلې ګناه مې کړي .

﴿وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ اول د مصدقينو نه يمه چې دې دنيا کې رؤيت ګران دي .

دې ځاى باندې تفسير روح المعاني جلد ٦ صفحه ٧٩ بيروت چاپ مکتبه دار الفکر کې ذکر کوي :

اخرج ابو الشيخ عن ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال لما تجلى تعالى لموسى عَلَيْهِ السَّلَامُ كان يبصر دبيب النملة على الصفاء في الليلة الظلماء من مسير عشرة فراسخ .

چې کله تجلي ورته وشوه وايي ده ته دومره کشف حاصل شو چې دا وړوکي ميږي دا په توره شپه کې به يې لس (١٠) فرسخه کې ليدلو .

وبما اخرجه عن ابي معشر أنه قال مكث موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ اربعين ليلة . څلويښت (۴۰) ورځې موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې دا تاثير وه .

لا ينظر اليه احد الا مات من نور رب العالمين . چا به هم ورته کتل نه چې ورته وبه يې کتل هغه به مړ شو **من نور رب العالمين** له وجهې د نور د رب العالمين نه د کثرت نور د وجهې نه ده ته کتونکي به مړ شو نو دې نه پته لګي چې قلوب د عبادو مجمع د نورِ الهي جوړيدې شي چې وخت په وخت دې د هغه له زړه نه دا نور خپور شي .

باقي خو تجلي وشوه غره ته خو هغه نور چې کوم دي هغه قلب د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ راونيوه هغه رڼا او د فيض رحمت په ده څه اثر راغې پريوتلو چغې هم وهلې خو بيرته خپل حال ته راغې چې راغې هغه نور د زړه کې ساتلې وه يا چې ساتلې وه چې ده ته به چا کتل په هغه به بيهوشي راتله .

سوال : وجد او بيهوشي يو شي دي که فرق لري ؟

الجواب : ګوري تاسو ته ما مخکې ويلې چې وجد دا **وارد يرد من الله على قلب الصوفي** ، اثر راشي هغه وارد بيا اثرات په اندامونو لري د اندامونو کله خوزيدل دي کله خندل دي کله ژړيدل دي کله پريوتل دي دغه ټول حالات د وجد دي بيهوشي خو همدغه دده په زړه

فيض راغې او تینګ نه شو بیهوشي چې کومه ده د وجد اعلی قسم دي لکه ژړا یو قسم دي او دا هم اعلی قسم دي او صیاح او د رحمت له وجې نه ضحك نو بیهوشي اعلی قسم د وجد دي او که داد وجد قسم نه شي بیا دې منکرین مونږ ته په رد کې دلیل پیش کړي هغوي خو ټول غشي باندې رد کوي اسماء بي بي چې استعاذه ویلې ده په وخت د غشي کې ویلې چې په بعضې خلکو غشي راشي هغې استعاذه ویلې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس د پریوتلو شوې د تلاوت په وخت کې پریوځي هغه وویل شیطان یو کس کې دننه کیږي .

ابن سیرین نه تپوس دا شوې وه چې د تلاوت په وخت کې یو قوم یصرعون پریوځي نو که داد وجد قسم نه شي او مونږ ترې نه استدلال د غشي نه کوو او که دا څوک وایي چې نه دا غشي وه وجد نه وه نو بیا دې په رد کې دې مونږ ته څه پیش کړې دي خو هم په رد کې ټول غشي پیش کوي .

که ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه یې پیش کوي که ابن سیرین نه یې پیش کوي که د اسماء بي بي نه یې پیش کوي او که د قرطبي حواله پیش کوي که هر ځای نه یې پیش کوي نو د غه رد په غشي راغلې بیا نو د وجد قسم یې که نو په وجد به رد راشي ستا استدلال به تام شي مونږ جوابونه وکړه او که ته داد وجد قسم نه ګڼې نو بیا خو غشي ځانته شي دي وجد ځان ته شي دي بیا رد کې ولې دا اقوال پیش کوي اصلاً وجد ورود د هغه نور او فیض دي چې وارد شي قلب صوفي لره دد ې بیا اثر څه شي دي دد ې اثر په اندامونو هغه حرکات موزون تصفیق او رقص غیر موزون هغه سر لاس ښپې خوزول دي او صیاح او چغې دي یا پریوتل دي دا ټول د هغې اقسام دي .

نو وایي چې ځلو یبنت ورځې لا ینظر الیه احد الا مات من نور رب العالمین .

(۲) دارنګې سورة اعراف آیت : ۱۵۵ : ﴿ وَاخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَاتِنَا فَلَمَّا أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ ﴾ موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم خپل نه اویا (۷۰) کسان غوره کړل میقات زمونږ ته کله چې ونیول هغوي لره رجفې .

دلته مفسرین دوه قوله کوي یو قول دا چې مراد له رجفې نه مرګ دي قائلین دد ې قول دغه اویا (۷۰) کسان او هغه کسان چې ﴿ أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً ﴾ یوه واقعه ګرځوي .

﴿فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ﴾ هغوي صاعقې ونيول هغه يادوي.

او وهب ابن منبه چې معروف مفسر دي هغه بيا وايي چې نه دا واقيعتين دي هغه قول چې دا دواړه يوه ډله ده د سدي ده.

او وهب ابن منبه وايي چې دا دواړه جدا خلک دي ﴿أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً﴾ يې چې ويلې هغه مړه شوې دي بيا ژوندي شوې دي او دلته چې کوم دي دا مړه نه دي بلکې دوي باندې لړزه راغله چې کله هلته يو سوال غلط دوي هم کړې وه خو هغه شان نه وه چې ﴿أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً﴾ هلته يې چې دا ميقات کې څه انداز او دا نور او د فيض غلبه وليدله نو پوه شول چې د رحمت د غلبې په وخت دعاء قبليږي نو دعاء يې وکړه په دعاء کې تعدي وکړه دعاء يې څه وکړه وي ويل چې:

يا الله! مونږ ته داسې مقام راکړې چې ستا په عبادو کې دي هيچا ته هم نه وي ورکړې نو د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ امت ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په امت بره مقام کله ورکول کيږي ددوي دا دعا وه ددې اويا (۷۰) کسانو نو پرتاو د هغه نور چې ورباندې وشو نو ﴿أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ﴾ دوي رجفې ونيول تفسير بغوي جلد ۳ صفحه ۲۸۶ کې ليکي:

قال وهب: لم تكن الرجفة صوتاً ولكن القوم لما رأوا تلك الهيبة اخذتهم الرعدة وقلقوا ورجفوا.

ټول به خوزيدل په حركاتو شول.

حتى كادت. داسې حال پرې راغې قريب وه.

ان تبين مفاصلهم.

چې دا اندامونه يې وخيجي دا جوړونه د لاسونو او خپو تا به ويل چې مات به شي داسې حال پرې راغې.

فلما رأى موسى ذلك رحمهم وخاف عليهم الموت.

موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ پرې ويريدلو چې دا مړه نه شي نو بيا يې دعاء وکړه.

فكشف الله عنهم تلك الرجفة فاطمأنوا وسمعوا كلام ربهم.

دې ځای باندې تفسیر روح المعاني په باب الاشارات کې جلد ٥ صفحه ١٢٦ د سورة اعراف دغه آیت دي چې : ﴿وَاخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَاتِنَا﴾ نو وایي:

إن موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ اختار سبعين رجلاً من اشراف قومه ونجبائهم اهل الاستعداد والصفاء والارادة والطلب والسلوك.

دا اویا (٧٠) کسان چې وه دا اشراف د قوم وه نجباء او خاصان وه خاوندان د قوي استعداد وه صفایې د زړونو یې لرله صاحبان د ارادې وه او صاحبان د طلب او سلوک وه.

فلما اخذتهم الرجفة اي رجفة البدن. دا رجفه د بدن کوم حال دي دا هغه دي چې راپیښیږي په ابتداء د صعقې د فناء کې هره فناء کې دا راځي که فنا في الشيخ وي د هغه په تعریف به راځي که فنا في الرسول وي د نعتونو سره که فنا في الله وي د تلاوت سره په وخت د طاري کیدو د پرق د انوارو کې او په راښکاره کیدو د هغه تجلیاتو د صفاتو کې چې عبارت دي :

من اقشعرار الجسد. جسد به خوزیږي.

وارتعاده وكثيراً ما تعرض هذه الحركة للسالكين. ډیر کرته راپیښیږي دغه حرکتونه سالکانو ته.

عند الذكر. د ذکر په وخت کې.

او سماع القرآن او ما يتأثرون به. هغه شي چې دوي پرې اثر اخلي چې شعرونو دي داسې حال پرې راشي.

حتى تكاد تتفرق اعضاؤهم. تر دې چې اندامونه یې ټوټه شي.

وقد شاهدنا ذلك. په سترګو لیدلي مونږ دا حال.

في الخالديين.

د شیخ خالد په مریدانو کې چې وه هغه:

من اهل الطريقة النقشبندية.

اهل د طریقې نقشبندي.

ګورئ تقریباً ۲۰۰ کاله مخکې محمود آلوسي تیر شوې دی په بغداد کې شیخ خالد بابا دی او د هغه په مریدانو کې وای مونږ په خپلو سترګو لیدلې دی.

نو چې یو سړی نقشبندي ځان ته وایی او حال یې په مجلس کې نشته دی بیا په بل اعتراض کوي خو کمال به نه لري کنه اعتراض خو مه کوي چې مونږ سره نشته مونږ سره نشته خو حال خو تسلیم کړي چې دا ښه حال دی او یا نقشبندي مه وایه څه بل څه به وي نو دا من اهل الطريقة النقشبندية.

وربما يعتريهم. کله راپیښیږي سالکانو ته

في صلاتهم. په مانځه ددوي کې.

صياح معه. چغې.

فمنهم من يستأنف صلاته لذلك. بعضې له دوي نه مونځ راګرځوي.

ومنهم من لا يستأنف. بعضې نه راګرځوي.

وقد كثر الانكار عليهم. نن صبا انکار زیات شوې په دوي باندې.

محمود آلوسي فرمایي:

وسمعت بعض المنكرين يقولون.

بعضې منکرانو نه مې اوریدلې چې وایي که دا حالت په دې صوفي راغلې.

مع الشعور والعقل. شعور او عقل یې په ځای وي.

فهي سوء ادب ومبطلة للصلاة قطعاً. دا خو بې آدبي ده او مبطل د صلاة دی قطعاً چې قصداً به یې کوي.

او شعور او عقل وي نو دا خو بیا بې ادبي د مانځه ده مونځ یې بیا فاسد دی.

وان كانت مع عدم شعور وزوال عقل. او که شعور او عقل نه لري.

فهي ناقضة للوضوء. بیا خو یې اودس هم پسې مات دی.

ونراهم لا يتوضؤون. مونږ ګورو چې دوي اودس نه راګرځوي.

واجيب.

دې وايي زه جواب ورکوم، محمود آلوسي او پاس يې ويلې:

سمعت بعض المنكرين. د منكرينو د وجد نه مې دا اوريدلې.

زه جواب ورکوم:

بأنها غير اختيارية مع وجود العقل والشعور. د وجد والا په اختيار کې نه وي خو عقل او شعور په ځاى وي.

وهي كالعطاس والسعال. دده مثال د عطاس او سعال دي.

ومن هنا. له دغه وجې نه.

لا ينتقض الوضوء. نه ماتيږي اودس.

بل ولا تبطل الصلاة.

اوس د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ مذهب پيش کوي چې هغوي خو وايي که مانځه کې چا باندې خندا غالبه شوه وايي دا هم چې غير اختياري خندا وه وايي مونځ نه فاسديږي شوافعو خو وايي لا دا قول کړې دي:

فلا يبعد. نو بعيده نه ده.

ان يلحق ما يحصل من آثار التجليات الغير الاختيارية. چې ملحق دې شي دغې حکم پورې هغه حالات چې راپيښ شي له اثر د تجلياتو نه او وي دا حال غير اختياري.

ولا يلزمه من كونه غير اختياري. اوس نه لازميږي له دې نه چې يو شئ دې غير اختيار وي.

كونه صادراً من غير شعور. چې دا دې صادر من غير شعور شي يعنې دا نه دي چې غير اختياري دي نو شعور به هم نه وي دا نه ده.

فان حركة المرتعش غير اختيارية مع الشعور بها.

د ګوزڼه والي حرکت غير اختياري دي مع الشعور بها شعور يې شته، مثال يې پيش کړو.

وهو ظاهر فلا معنى للانكار. ښکاره خبره ده هیڅ معنی انکار ته پاتې نه شوه.
په مانځه کې صیاح سره چې کوم حرکات راشي خو حرکات داسې حرکات وي چې ظاهراً مفسد وي نفسِ صیاح باندې خو فقهاو تصریح کړې.

تدل على زيادة الخشوع. خو مونځ نه فاسدوي او که داسې څه حرکات ترې نه راشي چې هغه د مانځه خلاف وي نو د هغې باره کې به هغه وخت کې دې معذور ګڼلې کیږي چې دا ټول وقت پرې ونیولې شي نو دا به قیاس کیږي په معذورینو باندې، بیا یو سړي سلسل البول دي نو هغه د پاره په یو اودس دغه مونځ جائز دي.
خو دې به کله معذور ګڼلې کیږي چې کله د یو مانځه مکمل وخت دي اودس کوي او بیا هغه مشکل ده ته پیښیږي دې اودس کوي بیا مشکل پیښیږي دې اودس کوي بیا مشکل پیښیږي نو چې کله د یو مکمل مانځه وخت کې دغه مشکل پیښیده نو دې د معذورینو نه شو حکم یې دا دې چې اودس به وکړي ولو که وسط د صلاة کې ترې بولي لاړې شي بیا یې هم مونځ کیږي فقهاء دا وایي.
د باړي حضرت صاحب په کراتو تقریرونه کړي مریدانو ته چې ګوري کوم چا نه مانځه کې چغې ترې وهل شوې یې او دا غیرِ اختیاري نه وي په اختیار وي نو که اختیاري وي مفسد للصلاة که غیر اختیاري وي نو بیا تجربه وربانډې د یو وقت وکړي په دې کې یو صوفي وه د افغانستان هغه عرض وکړو چې صیب زه نه شم ټینګیدلې ما نه دا چغې وځي.
وایي څه خانقا ته لاړ شه هغه وخت یې حساب کړو په علماو باندې تقریباً دوه نیمې ګینټې وخت وه د ماسپښین وایي هلته بیا اودریږه بیا مونځ اعاده کړه هغه چې اودریدلو بیا ترې چغې ووتلې واي بیا اودریږه دوه نیمې ګینټې یې پرې مکرر کړو دا مونځ په دوه نیمو ګینټو کې د هغه چغې نه اودریدلي وای څه اوس معذوریې د فقهاو په قول دې نه بعد که تا نه په مانځه کې چغې وځي ته به معذور ګڼلې کیږي هغه داسې نه وه چې فقیه نه وه یا د فقهې نه خبر نه وه یا یې کتب نه وه کتلي یا د عامو پنجابي پیرانو غوندې یو امي شیخ وه نه هغه الحمد لله علم کړې وه مجود قاري وه.

دریم استدلال: د وجد لپاره د سورة الزمر ۲۳ آیت دي: ﴿اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾

تَقْشَعِرُّ معنى تتحرك وترتعد . چې خوزیږي او رپیږي ددې نه پوستکي د هغه کسانو .

﴿ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ﴾ رب کریم خپل نه یریږي .

خوزیدل د پوستکي بدون د اندام نه کله کیدې شي نو ذکر دحال مراد ترې نه محل دي

اي ترتعد اعضاءهم چې اعضاء رپیږي .

﴿ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ﴾ .

دا وروستني حال دي : ﴿ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ﴾ .

په تائید ددې کې څو آحادیث زه ذکر کوم :

الدر المنثور في التفسير بالمأثور للسيوطي جلد ۱۲ صفحه ۶۵۰ حکیم ترمذي په نوادر

الاصول کې یو امام ترمذي دي بل حکیم ترمذي دي دده نوادر الاصول ما سره شته او ځانته

محدث دي داده ته حکیم ترمذي وایي :

عن العباس بن عبد المطلب په روایت سره حدیث پیش کوي :

اذا اقشعر جلد العبد . کله چې ورپیږي پوستکې یعنې اندام د بنده .

من خشية الله تحاتت عنه خطاياه . ګناه ترې رژیږي .

كما يتحات عن الشجرة البالية ورقها . لکه په خزان کې چې زوړ بوټي نه پاڼې رژیږي .

دویم روایت :

واخرج الحكيم الترمذي عن ابي بن كعب رضي الله عنه قال ليس من عبد على سبيل ذكر سنة

ذكر الرحمن . نه دي یو بنده په لاره د اتباع السنة او د ذکر الرحمن کې .

فاقشعر . چې ورپیږي جلد دده .

من مخافة الله تعالى الا كان مثله مثل شجرة يبس ورقها وهي كذلك فأصابها ريح تحات

ورقها كما تحات عن الشجرة البالية ورقها .

دارنګې تفسیر البغوي جلد ۷ صفحه ۱۱۵ د حضرت عباس بن عبد المطلب روایت

مذکور دي :

قال قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا اقشعر جلد العبد من خشية الله تحاتت عنه ذنوبه كما يتحات عن الشجرة اليابسة ورقها.

نو څه ناڅه حرکت په اندامونو باندې داد وجد يو قسم دي دې سره ګناه رژيږي.

۴: استدلال د قرآن کريم نه:

﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُّنِيبٌ﴾ هود آيت: ۷۵.

د اواه لپاره معاني متعددې مفسرينو ذکر کړې دي مونږ هغه يوې معنی نه اخذ کوو چې يوه معنی د اوه: لغتاً كثير التأوه ته وايي د فعال مبالغه ده په کثرت د اوه کې أوه أوه به يې کول ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ.

رب کريم تـه د ابـراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د أوه أوه آواز مقبـول شـو قـرآن کريم کې صفت کـوي ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ اواه دي.

تفسير ابن جرير الطبري جلد ۱۲ صفحه ۴۲ کې ددغې معنی د تائيد لپاره سند خپل سره د ابوذر غفاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قصه ذکر کوي وايي:

كان بمكة ان رجلاً كان في الطواف. يو سړي مکه معظمه کې طواف کوي.

فجعل يقول اوه. دا آواز کوي.

ابوذرِ غفاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته شکايت کوي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته فرمايي:

دَعْهُ. پريږده دې.

انه اواه. دې راجع الی الله دي.

دغه کس په نورو رواياتو معلوم دي.

عبد الله ذو البجادين رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا وروسته روايت پرې دال دي:

حدثنا ابو كريب قال حدثنا وكيع وحدثنا ابن وكيع قال حدثنا ابي عن شعبة عن ابي يونس الباهلي قال سمعت رجلاً بمكة كان اصله رومياً يحدث عن ابي ذر قال كان رجل يطوف بالبيت ويقول في دعائه أَوَّهْ أَوَّهْ فذكر للنبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال إنه لأَوَّاه زاد ابو كريب في حديثه قال فخرجت ذات ليلة فاذا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يدفِن ذلك الرجل ليلاً ومعه المصباح.

نو دا هغه واقعه ده چې بيا ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پرې راغې او دې يې د شپې خبنوه او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وروړ ويلې وه او بيا يې دعاء کړې وه چې يا الله زه ترې نه راضي او خوشحال يمه ته هم ترې راضي شي نو صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې کاشکې دا مړي زه وې دا ذوالبجادين دي .

حدثنا ابن وكيع قال حدثنا زيد بن الحباب عن جعفر بن سليمان قال حدثنا ابو عمران عن عبدالله بن رباح عن كعب قال الاواه اذا ذكر النار قال اواه .

ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې اور را ياد کړو نو د خولې نه به يې د اوه چغه لاړه نو ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ په کثرت د تاوه باندې او د أوه أوه سره خدای تعالی يې صفت کوي نو د چا د خولې نه چې أوه أوه وځي او د نيوي مشکل نه وي دا خشيت باندې دلالت کوي .

ددغه حال د خالق نه مطالبه په کار ده چې په مونږ يې هم راولي نه چې انکار وشي انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ باندې ځه ناځه ددې حالاتو راغلي خو کثير نه وه د قوت استعداد له وجې نه ځپله نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ځه ناځه حالات طاري شوي دي .

المبحث الثالث : في بيان حال المصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :

صحيح مسلم جلد ۱ صفحه ۱۳ :

قال جاورتُ بحراء شهراً . غارِ حراء کې مجاور و مه يوه مياشت .

فلما قضيت جواري . کله چې مياشت مې پوره شوه را کوز شو مه يوه مياشت يې په غار کې تيره کړه .

فاستبطنت بطن الوادي فنوديت . آواز راته وشو :

فنظرت أمامي وخلفي وعن يميني وعن شمالي فلم أرا احداً . څوک مې هم ونه ليده .

ثم نوديت فنظرت فلم أر أحداً . بيا آواز وشو وه مې کتل څوک مې ونه ليده .

ثم نوديت فرفعت رأسي . بيا آواز وشو نو سر مې پورته کړو .

فاذا هو على العرش في الهواء .

هو ضمير جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راجع دي يعنې جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ على العرش في الهواء يعنې جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغه د رؤيت سره.

فاخذتني رجفة شديدة. سختې رجفي ونيولمه په وجود يې رپ راغې د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وجود باندې رپ راغې.

فاتيت خديجة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فقلت دثروني فدثروني. راغلم خديجې بي بي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته.

فقلت دثروني فدثروني. نو زه يې پټ کړم.

فصبوا. هغوي را واړولې په ما باندې.

ماءً. اوبه.

ګورئ ده باندې هغه خوله هغه تاثير داسې حالت ته دې مبارک نزدې شو چې هغوي خطره د غشي پرې کوي چې بيهوشه نه شي نو اوبه ورباندې اچوي.

ايات نازل شو:

﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾.

نو رجفه په ده مبارک هم راغله.

دغه رنګې صحيح البخاري جلد ۹ صفحه ۳۷ د وحي د نزول په وخت به د ده مبارک حال څه وه حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په اول ځل راغې:

فاخذني فغطني. څه زور يې راکړو ما ته.

حتى بلغ مني الجهد ثم ارسلني. بيا يې خوشي کړمه ما د هغې نه مشقت هم حس کړو ما ته يې وويل:

اقرأ. وايه.

قلت. ما ورته وويل.

ما أنا بقارئ فاخذني فغطني الثانية.

دويم ځل يې زور راکړو.

حتی بلغ مني الجهد ثم ارسلني فقال اقرأ فقلت ما انا بقارئ فغطني الثالثة حتی بلغ مني الجهد ثم ارسلني فقال اقرأ باسم ربك الذي خلق حتی بلغ ما لم يعلم فرجع.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ راو ګرځيده.

بها. سره ددې آيتونو.

ترجف بوادره. چې رپيده د اوږې هډوکي دده.

بوادر د اوږې غټ هډوکي ته وايي واپس را روان وه دا اوږه مبارکه يې شړقيده او ټوله خوزيدله.

حتی دخل علی خديجة فقال زملوني زملوني فزملوه. نو هغې پټ کړو.

نو څه حالات د اوږې د خوزيدو د وجود د رپيدو دا په نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغلي دي کله به چې د وحي نزول کيدو عائشه بي بي فرمايي چې په سخت ژمي کې به يې په مخ کنه کنه خولي را ماتې شوې نو هغه اثر د حرارت د فيض او د نور د اله چې دي هغه خو به يې حس کړو او هغه بوج پرې راغې:

﴿إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا﴾ خو دومره وه چې دده مبارک سينه ډيره غټه وه.

دارنګې صحيح ابن خزيمة جلد ۲ صفحه ۵۳:

اخبرنا ابوطاهر نا ابوبکر نا عبدالوارث بن عبدالصمد العنبري حدثني ابي حدثنا حماد عن ثابت عن مطرف عن ابيه رأيت النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يصلي ولصدره أزيز كأزيز المرجل.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ کولو سينې دده يو آواز کولو په شان د آواز د جوش وهلي ديګ لکه غټ ديګ چې خوټيږي نو داسې آواز وه لکه آواز د جوش وهلي ديګ هغه چې څنګه خوټيږي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سينه کې داسې د خوټيدو آواز راتلو نو دا بکاء هم وه ژړا هم وه خو هغه ژړا بيرته دده دومره دفع کوله چې د سينې نه بيرته آواز را پورته کيدو.

صحيح البخاري جلد ۹ صفحه ۳۸ کله چې وحي نازله شوه بيا دري کاله وحي بنده وه دې ته زمانه د فترة الوحي ويلې شي فترة د وحي په زمنِ اسلامي کې ۳ کاله دي نزول د اقرأ

وشو بیا دري کاله وحي بنده شوه نو دا چا چې ویلې چې قرآن کریم ۲۰ کالو کې نازل دي د
هغوي همدا جواب دي چې ۳ کاله زمانه د فترة الوحي يې نه ده حساب کړې.
حتی کې حضرت علي رضي الله عنه د نبي علیه السلام عمر شمار کړي نو ۶۰ کاله يې جوړ کړې
دي نو د هغې جواب هم دغه دي چې حضرت علي رضي الله عنه د فترة الوحي زمانه، نه ده شمار
کړي دلته دې زمانه، نه شماري دې وايي چې ۴۰ کالو کې بعثت وشو او ۱۰ کاله مدينه منوره
کې نزول د وحي وشو او ۱۰ کاله مکه معظمه کې نزول د وحي وشو نو خلکو ويل دا خو ۶۰
کاله شول هغه کلونه نه شماري هغه زمانه د نزول د وحي شماري نو ۲۰ کاله شول ۳ کاله خو
فترة وه نو چې کله دا دري کاله وحي بنده شوه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د خدای تعالی سره
دومره حبيب الله او محبوب الله وه چې بس ده باندې مکه معظمه او دا کور او کلي پرې تنګ
وه ځکه مينځ کې واسطه جبرائيل علیه السلام وه هغه واسطه ختمه شوه ۳ کاله هغه نه راتلو نو ده
مبارک باندې دغه سخت حال راغلې وه.

روايت د بخاري معرب بيروت چاپ جلد ۹ صفحه ۳۸ ته ګوري:

وفتر الوحي فترةً. وحي بنده شوه ۳ کاله.

حتى حزن رسول الله صلی الله علیه وسلم فيما بلغنا حُزناً. نبي علیه السلام به خفه وه.

غدا منه مرارا كي يتردى من رؤوس شواهق الجبال.

سحر وختي کې به څو پيري لاړ ددې لپاره چې ځان وغورځوي له سر د شواهق الجبال نه
چې د غره له سره نه ځان وغورځوي.

فكلما اوفى. کله به چې پورته شو.

بذروة جبل. سر د يو غره ته.

لكي يلقي منه نفسه. دې د پاره چې ځان ترې وغورځوي.

تبدّى له جبريل فقال يا محمد إنك رسول الله حقاً فيسكن لذلك جأشه. هغه د زړه جوش
به يې له دې سره آرام شو بيا به راغې، بيا به يې زړه تنګ شو د غره سر ته به لاړو چې بيا ځان
را وغورځوي، بيا به جبرائيل علیه السلام ورته راغې ورته به يې ويل ته رسول الله يې.

وتقر نفسه فيرجع فاذا طالت عليه فترة الوحي غدا لمثل ذلك فاذا أوفى بذروة جبل تبدى له

جبرائيل فقال له مثل ذلك .

نو دا ۳ کاله د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا طريقه وه چې دې مبارک به دومره تنګيدلو چې د غره سر ته به ختلو ځان به يې غورځوه د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په آواز به آرام شو .

نو دا حزن بسط په صوفي باندې دا راځي کله ډيره زياته خوشحالي وي انتهائي پوهيږي نه چې زه اوس څه وکړمه . او کله حزن غالب شي هَمُّ غالب شي .

حکايت :

زمونږ د متعلقينو او مريدينو نه يو کس دې ډير ساده دې يوه ورځ ما ته راغې وايي چې زما دا زړه چې دې درد کوي او داسې درد کوي چې نه د ورځې ترې خوب کولې شم نه د شپې ما ورته وويل چې دا خو ډيره ښه خبره ده چې نه د ورځې خوب کولې شي او نه د شپې وايي نه دا به څه مرض وي کنه خو زما خبره يې ونه منله ما ورته وويل چې دا مرض نه دې او ښه ده چې د زړه درد درته پيدا شو .

نو ما نه چې تللې کوم چا ته ورغلې دي چې ما دم کړه زه مريض شوې يمه زما دا زړه خوږيږي هغه چې هر څه دم پرې اچولې خو چونکې د ده د نعمت بې قدري وکړه بيا راغې ما ته وايي چې ياره ما خو ستا خبره ونه منله بد مې وکړو او زه لاړم ځان مې په چا دم کړو هغه درد ورک شو خو په هغه درد کې يو خوند وه بس هغه خوند پسې زه اوس ګرځم هغه نه پيدا کيږي .

ما ورته وويل چې هغه درد دم نه دې ورک کړې ستا ناشکري ورک کړې دې ته په دې ناشکره وي چې دا درد ولې زړه کوي ته که په دې شکر ګذار وای دا درد به هم وای خوند به هم وای حال به هم وای کلي کې خلک راته ليوني وايي ډير ساده دې دا څنګه ذکر دې چې خلک ما ته ليوني وايي ما ورته وويل چې ته ليوني يې وايي نه ما ورته وويل چې دا خو خلک ليوني دي چې تا ته ليوني وايي .

نو دغه کس يوه ورځ راته دا خبره هم کړې وه چې کله دومره خوشحاله شمه چې زه وايم چې والوځمه کله داسې تنګ يمه زه وايم چې ځان مړ کړمه نو هغه غريب عام سړي دې اوس بسط باندې څه پوهيږي نو دا وي کله داسې حال را شي .

زما قاصر فکر دادی چې د هغې لویه وجه دا وي چې که د معقول تشبیه محسوس سره ورکړو د ایضاح لپاره نو دا روح چې دي دا عروج کوي او هر عروج کې چې شي ځي دا ستړي کیږي دا په یوه ساه نه شي تللې .

لکه مرد کي پسې باروت واچول شي دا ځي یو ځای پورې ځي داسې نه وي چې همداسې به خوشي وي نو دا روح عروج کوي پرواز کوي دې پرواز په وخت کې که ده ته حزن را نه شي او دغه ځای کې دې ونه دریږي دا دویم سفر نه شي کولې .

په ده حزن راشي هغه ځای کې محفوظ شي دا دده دمه ده کله چې په دې صوفي بسط راشي او عروج خو په بسط کې کیږي په حزن کې نه وي نو بس دغه وخت کې یوه دویمه منډه کوي پرواز کوي دا بسط او حزن ددې لپاره په دې صوفي بدلیږي رابدلیږي .

دارنګې صحیح مسلم جلد ۷ صفحه ۹۲ دې کې به د بعضې خلکو شبهه دفع شي چې د صحابه کرامو زمانه کې دا ژړا ګانې او مجلس کې دا شور دا نه دې شوې .

هغه مخکې د اسماء بي بي حدیث مونږ پیش کړو د مسلم په حواله چې :

ضج المسلمون ضجة . دومره چغې وي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خبره نه فهموله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څه وايي .

دې حدیث ته هم ګوري :

عن انس بن مالك قال بلغ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن اصحابه شيء . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د صحابه کرامو نه د څه خبرې ذکر وشو چا څه ور ورسول دلته احادیث مجمل دي چې دا څه خبره رسیدلې وه .

فقال عرضت عليّ الجنة والنار فلم أر كاليوم في الخير والشر ولو تعلمون ما أعلم لضحكتم قليلاً ولبكيتم كثيراً قال فما أتى على أصحاب رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوم اشد منه .

له دې نه سخته ورځ پرې نه وه راغلې .

قال غطوا روءوسهم ولهم خنين.

سرونه هر چا پټ کړل او ټیټ یې کړل او دوي لره ژړا ده.

د خنين معنى به وروسته راشي بعضې نسخو کې خنين راځي او بعضې نسخو کې حنين راځي .

قال فقام عمر فقال رضينا بالله ربا وبالاسلام دينا وبمحمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبياً قال فقام ذاك الرجل فقال من أبي قال أبوك فلان فنزلت : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ .

نو دوي سرونه ټيټ کړل او دوي لره خنين وه .

د خنين معنى شرح النووي على مسلم جلد ۸ صفحه ۸۱ کې کوي :

ومعناه بالمعجمة خنين صوت البكاء وهو نوع من البكاء قالوا واصل الخنين خروج الصوت من الانف كالحنين بالمهملة من الفم .

حنين هغه چې د خولې نه آواز راوځي او خنين هغه دي چې دا ژړا څوک ټينګوي او د پوزو نه يې آواز وځي .

وقال الخليل هو صوت فيه غُنة .

دا هغه آواز دي چې غنه ولري دا ژړا چې کله اوږده شي يو درد پيدا کړي دغې آواز ته وايي .

وقال الأصمعي اذا تردد بكاؤه فصار في كونه غنة فهو خنين .

او کله چې ژړا زياته شي بار بار وي او دې يې ټينګوي بيا راځي دې سره غنه وي دې ته خنين وايي .

وقال أبوزيد الخنين مثل الحنين وهو شديد البكاء .

او ابو زيد وايي چې خنين او حنين يوه معنى ده شديد البكاء ته ويلې شي .

د شرح السنة جلد ۱۲ صفحه ۳۷۹ کې چې کوم روايت دي دا مې دې د پاره ذکر کړي چې دوي داسې نظر جوړ کړي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام زمانه کې د هغه د وړاندې نه چا شعر ويلې او نه دا نعت خوانياني شوې دي مسجد کې او نه ژړا ګانې شوې دي .

نا دا روايت په دې دال دي چې د هغه په مجلس کې اشعار هم ويل کيدل :

اخبرنا ابو محمد الجوزجاني اخبرنا ابو القاسم الخزاعي اخبرنا الهيثم بن كليب حدثنا ابو عيسى حدثنا علي بن حجر أخبرنا شريك عن سماك بن حرب عن جابر بن سمرة قال جالست النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اكثر من مائة مرة وكان اصحابه يتناشدون الشعر.

وه صحابه هغوي به شعرونه ويل.

ويتذاكرون اشياء من امر الجاهلية وهو ساكت.

د جاهليت هغه کارونه به يې هم يادول د خپلې د ساده ګۍ نبي عَلَيْهِ السَّلَام به غلي ناست وه.

وربما يتبسم معهم. او کله به يې ورته تبسم هم کوه.

نو دا د هغه د وړاندې د اشعارو ويل دي او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې د ۱۰۰ ځل نه زيات زه داسې ناست يمه چې خلکو اشعار ويلې دي او دې ناست دي.

دارنګې تفسير القرطبي جلد ۱۹ صفحه ۲۴۰ په دې کې د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله غشي ثابته ده چې په ده مبارک هم راغلې ده:

اراد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. اراده وکړه نبي عَلَيْهِ السَّلَام.

ان يرى جبريل في الصورة التي يكون بها عند ربه جل وعز.

جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام ته وايي چې ته خالق سره په کوم صورت کې يې په هغه صورت کې راته ځان وښايه.

فقال ما ذاك إلي. دا زما اختيار نه دي اجازت نشته.

فاذن له الرب جل ثناؤه. خداى تعالى ورته اجازت وکړو چې ځان ورته وښايه.

فأتاه. جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام ورته راغې نبي عَلَيْهِ السَّلَام لره.

وقد سد الافق. دا ټول افق يې نيولې وه دومره غټ وه.

فلما نظر. هر کله چې وکتلې.

اليه النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خر مغشياً عليه. نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام بيهوشه پريوتلو له دې وجې نه مشرکينو وويل: انه مجنون.

دا مشرکینو چې انه مجنون ویلې دا په ده غشي راغلي وه نو راتلل د غشي داد صلحاو عمل شو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې راغله او غشي والا ته مجنون ویل داد مشرکینو عمل شو .

دارنګې تفسیر سمعاني جلد ۸ صفحه ۳۰۲ کې حدیث ذکر کوي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ:

قال دخلت الیهود علی نبي الله فقالوا یا محمد صف لنا ربك .

داخل شول یهود په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې هغوي وویل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د خپل رب تعریف راته وکړه .

وانسبه لنا . او نسب یې راته بیان کړو .

فقد وصف نفسه في التوراة ونسبها . دا نسبها د دوي دروغ وه چې خپل نسب یې بیان کړي **العیاذ بالله** .

فارتعد رسول الله حتی خر مغشیاً علیه .

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په وجود باندې رچ راغې دومره وریږیده تر دې چې بیهوشه وغورځید لو .

داد هغوي دوران او د جهل نه ډک قول د وجې نه په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا حال راغې چې عذاب پرې رانه شي دا څه وایي .

فقال کیف تسألوني عن صفة ربي ونسبه ولو سألتموني ان أصف لکم الشمس لم أقدر علیه .

د هغه لمر د ذات تعریف درته نه شم کولې نو د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د ذات تعریف به درته څنګه وکړم.

د خدای تعالی د ذات تعریف خو تعریف د صفاتو ته ویلې شي د ذات تعریف خو نه کیږي د صفاتو تعریف به کوي او د هر صفت په تعریف کې د ذات الله تعریف پروت دې هغې جاهلانو ورنه د ذات الله تعریف وغوښتلو چې ذات یې وښایه او نسب یې وښایه .

نو دې جواب کې وایي که تاسو ما نه دا غواړي چې د لمر د ذات تعریف راته وکړه هغه هم قادر پرې نه یم څکه د لمر د ذات به څه وایم سوال ده دې نه چې په دې وخت راخیژي او په دې وخت پریوځي او ډیره زیاته رڼا لري او ټوله دنیا یې روښانه کړي خارجي صفات به یې کوي نو ذات نه به یې څه وایي چې دا څه شي دي .

فهبط جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ فقال يا محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قل لهم الله احد الله الصمد.

دا سورة نازل شو نو دغه دوه روايات دي باندې شول چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې غشي راغلې ده نو د هر غشي حالت ته شيطاني حالت ويل حماقت دي .

المبحث الرابع : في بيان أحوال الصحابة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ :

معجم ابن المقري جلد ۱ صفحه ۱۶۷ د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت ذکر کوي :

قال كنت عند النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعنده ابو بكر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې زه او ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ناست وو .

عليه عباءة قد خللها على صدره بخلال.

هغه باندې يوه چپن وه چې د هغې چپن مينځ کې څه ټاکي لګولې وه .

فنزل جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ فقال ما لي اری ابو بکر عليه عباءة قد خللها على صدره بخلال.

داد چپنې د صدفونو يعنې د توکمو ځايونه يې په ونو او غنو باندې بند کړې وه .

فقال انفق ماله علي قبل الفتح. ټول مال يې خيرات کړي دي مخکې د فتحې نه ما باندې .

قال فأقرئه عن الله عز وجل السلام.

جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته فرمايي د خدای تعالی له طرف نه ده ته سلام ووايه .

وقل له يقول لك ربك عز وجل يا أبابكر أراض أنت عني في فقرك هذا.

په دې فقر کې ما نه راضي يې .

ام ساخط؟ او که ناراض يې .

فالتفت النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الى أبي بكر. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وکتل .

فقال يا أبابكر هذا جبريل يقرئك السلام ويقول لك أراض انت عني في فقرك هذا ام ساخط؟ فبكى ابو بكر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

وژړل ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او په جيګ آوازې ووېل :

اعلى ربي اسخط؟ انا عن ربي راض انا عن ربي راض. دا يې وويل داد فرحت د دغه سلام د باري تعالى نه په ده باندې دغه حال دلته طاري شوې وه.

شاه عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ په تفسير عزيزي چې ۳۰ پاره ده او صفحه ۲۰۶ ده همدا واقعه فارسي کې ذکر کوي هغه له دې نه د وجد ثبوت کوي او وايي:

ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ را بشنيدن اين سخن حالتي رو داد.

ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له ددې خبرې په اوريدو يو حالت راغې.

که بر مثال ارباب وجد مست شد. په شان د وجد د صوفيانو چې په صوفيانو راځي دې مستي کې راغي.

ميگفت. چې ويل يې.

من چه قسم کدورت با پروردگار خود دارم بار بار به آواز بلند همين نغمه را ميسر ايد. په جيګ آواز به يې همدغه نغمه تاوه وله: انا عن ربي راض انا عن ربي راض.

نو دې وايي ذاد هغه مستي له وجې نه په ده دا حال راغلې وه ددې خبرې د خوشحالي.

عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې د خوف د غلبې له وجې نه څه ډير حالات مذکور دي.

شعب الايمان جلد ۳ صفحه ۴۱۴:

وروينا في فضائل عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن الحسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال كان عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يمر بالاية في ورده.

ده به چې کوم اورادو کې آيتونه لوستل او دده وظيفه به وه چې يو آيت باندې به يې مرور وکړو.

فتخنقه. نو ساه به يې بنده شوه ژړا به ونيوه ستوني به يې بند شو.

فيبكي. ژړل به يې دومره به يې وژړل.

حتى يسقط. راپريوته به وتلو.

ويلزم بيته اليوم واليومين حتى يعاد يحسبونه مريضاً.

یوه ورځ دوه ورځې به کور کې پروت وه بهر به نه شو تللې تر دې چې بیمار پرسي به یې کیده خلکو به ګمان کوه چې مریض دي.

دارنګې محض الصواب في فضائل أمير المؤمنين عمر بن الخطاب جلد ۲ صفحه ٦١٦ روایت ذکر کوي:

ان قوما أتوا عمر بن الخطاب رضي الله عنه. قوم ورته راغې.

فقالوا یا أمير المؤمنين ان لنا اماما شابا. زمونږ یو ځوان امام دي.

اذا صلی. چې کله مونځ ته اودریږي.

لا يقوم من المحراب. نه اودریږي په محراب کې.

حتی یتغني بقصيدته.
وایي چې محراب ته وړاندې شي نو سم نعت خوان دي یو ځل یو رباعي ووایي نو بیا جمعې ته مخکې شي اشعار ووایي نو بیا جمع ته مخکې شي حضرت عمر رضي الله عنه ته په شکایت راغلو داسې کار کوي چې جمعې ته یې مخکې کړو نو اول رباعي ووایي بیا جمع کوي.

قال عمر رضي الله عنه. حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل.

فامضوا بنا اليه.
راپاځې راځې چې ورشو ده پسې راغي ورته هغه ورته وایي یا امیر المؤمنین څه شي راوستي که ستا ضرورت وایي ویلې به دې وه زه به درغلي وم ډیره عاجزي کړې ده وایي ما ته چا وویل چې ته جمع ته مخکې کیږي نو اول اشعار وایي بیا جمع کوي وایي هاو دا کار خو کومه اقرار یې کړې دي.

قال بلغني عنك انك تتغني بين يديك قال نعم قال یا امير المؤمنين انما عظة أعظ بها نفسي. دا خو څه هسې رباعي نه ده دا خو یو شعر دي هغې کې خپل ځان ته نصیحت کومه نو بیا جمعې ته مخکې کیږم.

قال له عمر قُلْ. حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل ووایه.

قال إني أخاف الشنعة ان افعل بين يديك. دا خو ما تا ستا د وړاندې غته شوخي بنکاري چې زه اشعار وايمه دا جرأت نه شم کولی.

قال له قل. حضرت عمر رضي الله عنه ورته فرمايي وايه:

فان كان حسناً قلت معك. که ښه وي زه يې هم درسره وايم.

وان كان قبيحا نهيتك عنه. که قبيح وي له هغې نه دې منع کوم.

قال فاطرق الفتى. سر يې ټيټ کړو.

ثم انشاء. شروع شو.

يقول. چې ويل يې.

و فؤادي كلما نبهته ۞ عاد في اللذات يبغي تعبي

لا أراه الدهر الا لاهياً ۞ في تماديه فقد برح بي

يا قرين السوء ما هذا الصباء ۞ فني العمر كذا باللعب

نفسي لا كنت ولا كان الهوى ۞ راقبي مولاك و خافي و ارهبي

هر کله چې زړه ته آگاهي ورکومه = بيا گرځي ميلان کوي للذات لره يبغي تعبي لتهوي ستړتيا زما يعني ما هغه سختي ستړتيا ته رسوي.

لا أراه الدهر الا لاهيا. اوږده زمانه، نه گورم دا نفس خپل مگر لاهي.

في تماديه. په سرکشي خپله کې.

فقد برح بي. پس په همدغه حال په ما باقي پاتي دي.

يا قرين السوء ما هذا الصباء. اى بد ملگري نفس ته وايي.

ما هذا الصباء. څه دي صباوت او بې ديني ستا.

فني العمر كذا باللعب. عمر دې په لعبو باندې فاني کړو خپل نفس ته مخاطب دي په دې کې.

نفسي لا كنت ولا كان الهوى اي نفسه . يو وخت داسې وه چې نه ته وې او نه دې هوا وه نو اصل کې اله موجود وه .

راقبي مولاك وخافي وارهبي . وويرېږه له هغه نه د هغه نګهباني ومنه او هغې ته منتظر شه .

فبكى عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ژړل .

وقال هكذا ينبغي كل من يكره . هر څوک چې يريږي په مانځه کې د خطراتو نه هر يو دي دا شعر ووايي .

قال عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وانا ايضاً اقول نفسي لا كنت ولا كان الهوى راقبي مولاك وخافي وراهبي .

هغه هم پسې داسې وويل خپله .

دارنګې احياء العلوم الدين جلد ۲ صفحه ۲۹۷ :

وسمع عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رجلاً يقرأ ان عذاب ربك لواقع ما له من دافع فصاح صيحة وخر مغشياً عليه .

نو دده مبارک له خولې نه يوه چغه لاړه بيهوشه پريوتلو .

فحمل الى بيته . په کټ کې واچولې شو کورته يوړلې شو .

فلم يزل مريضاً في بيته شهراً . يو مياشت په کور کې بيمار وه .

دارنګې كنز العمال في سنن الاقوال والافعال جلد ۱۲ صفحه ۵۹۱ ، جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې د جنت تعريفونه کوي دا اوږد حديث دي اصلاً حديث دادی عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې وايي د معراج په شپه جنت ته تللې وي مونږ ته خو يې لږي قصې وکړه نو رحمت عالم ورته فرمايي چې که دومره عمر درکې تير کړمه لکه نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ چې څومره قوم کې تير کړي وه ۹۵۰ کاله وه نو که ۹۵۰ کاله د جنت خبرې کومه نو خلاصي به نه شي دومره څه ما په جنت کې کتلې دي او دا مې چا ته ويلې هم نه وه خو تا رانه تپوس وکړو تا ته به يې ووايمه بيا يې دا واقعه ورته شروع کړه .

ما دلته اختصار کړې .

يوه مانې وه ما جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وويل :

من یصیر الیها ؤمن یسکنها . هغه دو مره بنائسته وه .

ضوؤها کضوء الشمس في الدنیا . ما ته جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ وویل .

یسکنها ویصیر الیها من یقول الحق ویهدي الی الحق واذا قیل له الحق لم یغضب ومات علی الحق .

دا سړي به ورته ځي ، ما وویل .

یا جبریل هل تسمي احداً . د چا نوم اخلي او که نه .

قال نعم رجلاً واحداً . یو نوم به درته واخلم .

قلت من ذاك الواحد ؟ قال عمر بن الخطاب . چې دا خبره وشوه .

فشهق عمر شهقة . نو د عمرِ فاروق له خولې نه یوه چغه لاړه .

فخر مغشیاً علیه الی الغد من تلك الساعة .

صبا تر دغه وخته پیا بیهوشه پروت وه نو داد فرحت نه پرې راغله مستي راغله چې دا حال ده ته ثابت شو .

قال ابو محمد فحدثني عبدالله بن الحسن ان عمر بن الخطاب لم یضحك ملء فیه بعد ذلك حتی فارق الدنیا .

ددې حدیث له اوریدو نه وروسته یې په ډکه خوله نه دي خندلې .

دارنګې سنن الکبری للبیهقي جلد ۸ صفحه ۶ ، دلته د حضرت علي او حضرت جعفر د حضرت زید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ د دریو صحابه کرامو جذب او وجد دي له مستي نه دا کار شوې دي نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت زید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وویل :

انت اخونا ومولانا فحجل . هغه حجل وکړو وي ویل حضرت جعفر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته :

انت اشبههم بي خلقاً وخُلقاً . ته په دې ټولو کې اخلاقو او رنګ کې زما په شان یې .

فحجل . هغه هم حجل وکړو .

وراء حجل زید . وروسته له حجل د حضرت زید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه .

ثم قال لي انت مني وانا منك. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي ما ته يې دا خبره وكړه ته زما نه يې زه ستا نه يمه.

فحجلت. ما هم حجل وكړو.

وراء حجل جعفر. وروسته له حجل د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه.

اوس د حجل معنى امام بيهقي كوي سنن الكبرى للبيهقي جلد ۱۰ صفحه ۲۲۶ باب لګوي:

باب من رخص في الرقص اذا لم يكن فيه تكسر وتخنث. چا چې رقص ته جواز وركړې دي كله چې په دې كې تكسر او تخنث نه وي د هيجړاګانو هم مثل كيدل او په دې كې مات مات كيدل نه وي صرف دوران وي چې دې ته چا جائز ويلې د هغې دليل څه شئ دي.

دا حديث يې بيا پيش كړې دي:

وفي هذا ان صح دلالة على جواز الحجل. او حجل څه ته وايي.

وهو ان يرفع رجلاً. چې يو خپه اوچته كړي.

ويقفز على الاخرى. او په بلې ټوپ ووهي.

من الفرح. له خوشحالي نه.

فالرقص الذي يكون على مثاله يكون مثله في الجواز.

سيوطي رَحِمَهُ اللهُ د حجل معنى په دوران كوي هغه وايي دا يو خپه اوچته كړي د بلې خپې په پونده باندې تاو شي دې ته حجل وايي.

نو هسې سوچ چې وكړې شي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناست وي حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپه اوچته كړي هغه ټوپونه وهي او بيا ګرد تاويږي او هغه لا په دې حال كې دي چې دويم خوشحالي كې حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې هغه:

وراء حجل زيد. د هغه شا ته هغه لګيا دي تاويږي هغه لا ناست نه دي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوشحالي كې راغلو هغه يې شا ته پاڅيدو.

فحجلت وراء. د هغې نه اخوا ما حجل وكړو.

مسئلة الوجد على الصوفية

دري کسان د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخکې يا ټوپونه وهي خپه يې او چته کړې ده او يا تاويږي
او هغه منع نه کوي وروسته به حواله راشي امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي:
هذا اصل لرقص الصوفية في مجالس الذكر. په مجلس د ذکر کې د صوفيه وو د رقص د
پاره دا اصل عظيم دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منع نه وه کړې.
نو داد خوشحالي نه دا حال دوي ته راغې چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما تـه اخ او مولا
وايي هغه ما ته دا الفاظ استعمالوي:
اشبهت خَلقي وخُلقي، يا انت مني وانا منك دا ټول عجيب صفات دي نو خوشحالي نه دا
حال پرې راغلې وه.
دارنګې تفسير الدر المنثور جلد ۱۴ صفحه ۱۳۸ حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي:
كان شاب على عهد عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ملازم المسجد والعبادة.
د عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زمانه کې يو ځوان وه له مسجد سره ملازم وه يعنې هميشه به يې
عبادت کوه.
فعشقته جارية. يوه جاريه پرې عاشقه شوله.
فأتته في خلوة. دغه جاريه راغله دې ځوان ته په يواځې والي کې.
فكلمته. خبرې ورسره وکړي.
فحدث نفسه بذلك. هغې به څه مطالبه کړې وي ده له ځان سره يو څو خبرې وکړي.
فشهق شهقة. يوه چغه يې ووهله.
فغشي عليه. نو غشي پرې راغله.
فجاء عم له الى بيته. يو تره يې ورته راغې دې يې کور ته يوړو.
فلما آفاق. هر کله چې رابيدار شو.
قال يا عم انطلق. وي ويل اى تره زما لاړ شه.
إلى عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فأقرئه مني السلام.

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته زما سلام وایه ورته وواییه هغه ته.

ما جزاء من خاف مقام ربه. څه ده جزاء د هغه چا چې له خدای نه یریږي او غلط کار پریږدي.

فانطلق عمه فأخبر عمر. تره یې لاړ حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې وویل.

وقد شهق الفتی شهقة أخری فمات منها. دلته په کور کې دې ځوان دویمه چغه وهله هغې نه پس وفات شو.

فوقف علیه عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. نو عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته راغې ورته اودریدلو.

فقال لك جنتان لك جنتان.

بل حدیث مې ولیدو چې دې یې دغه وخت کې دفن کړې وه عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل ولې مو زه خبر نه کړم.

نو راغې قبر ته یې اودریدلو او قبر ته آواز کوي: **لك جنتان لك جنتان.**

بیا د قبر نه ورته اواز راغې چې عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ما ته جنتو نه میلاو شول.

نو داد غلبې د خشیت نه داسې راځي کوم ردود چې مخکې ما ذکر کړي ابتداء کې حمل دي په تکلف او تصنع باندې دي.

دارنګې شعب الایمان جلد ۲ صفحه ۲۸۵ کې د صحابه کرامو نه غیر د نورو خواصو خاشعینو احوال ذکر کوي، محمد بن سماک وایي:

دخلت البصرة فقلت لرجل کنت أعرفه دلني علی عبادکم. بصره کې یو کس مې پیژندلو ما ورته وویل چې تاسو کې عابدین څوک دي هغه راوښایه.

فأدخلني علی رجل علیه لباس الشعر طویل الصمت. نو یو سړي ته یې بوتلمه او ډیر خاموشه وه.

لا یرفع رأسه الی احد. چا ته یې هم سر نه پورته کوه غلي وه ښکته به یې کتل.

قال. دې وایي.

فجعلت. زه شروع شوم.

استنطقه الكلام. ما ورسره خبرې کولې.

فلا يكلمني. ما سره يې خبرې نه کولې.

قال محمد بن سماك. وايي.

فخرجت من عنده فقال صاحبي. ما ته دې ملګرې وويل.

هاهنا ابن عجوز هل لك فيه؟ دلته د يو کونډې بوډې ځوی دی هغه ډېر غټ عابد دی هغې ته نه ځې.

ګورئ دا محدثين دي خو عبادو سره ناستې کوي د فائدې د پاره.

قال فدخلنا عليه فقالت العجوز. دې مورېې ويل دې بوډې:

لا تذكروا لابني شيئاً من امرِ جنةٍ ولا نار. زما دې ځوی ملاقات له راغلي خو ګورئ د جنت او د نار ورته ذکر مه کوي قصې به ورته نه کوي دلته.

فتقتلوه. که يا مو جنت ياد کړو يا مو جهنم ياد کړو راته مړ به يې کړي.

فليس لي غيره. بل ځوی مې نشته.

محمد بن سماک فرمايي:

فلما دخلنا عليه. چې مونږ کله ورغلو.

فاذا عليه من اللباس مثل ما على صاحبه. همغه جامه يې وه.

منكس الرأس طويل الصمت فرفع رأسه فنظر الينا ثم قال ان للناس موقفاً لا بد ان يقفوه.
د ټولو خلکو يو ميقات دی چې خامخا به هلته اودرېږي.

قال قلت. دې وايي ما ورته وويل.

بين يدي من رحمك الله؟ دا ميقات او اودريدل د چا مخې ته دي.

قال فشهق شهقةً. دې وايي يوه چغه يې د خولې نه لاړه.

فمات. مړ شو.

قال ابن السماك فجاءت العجوز. بوډۍ راغله.

فقالت . وي ويل .

قتلتم ابني . زما ځوي مو مړ کړو .

قال فکنت فیمن صلی علیه رَحِمَهُ اللَّهُ. ما يې هم په جنازه کې شرکت وکړو .
ګورئ فقط د خالق له یاد سره په هغه مړګ راځي او غشي راځي .
دارنګې الزهد لاحمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۱۷۲: علی ابن فضیل له سفیان ابن عیینة سره وه .

فتحدث سفیان بحدیث فیه ذکر النار وفي ید علي بن فضیل قرطاس فیه شيء مربوط فشهق شهقة وقع ورمی بالقرطاس او وقع من یده فالتفت الیه سفیان فقال لو علمت انك ها هنا ما حدثت به.

که ما ته پته واي چې علي بن فضیل دلته ناست دي دا حدیث به مې نه وه بیان کړې.

فما افاق الا بعد ما شاء الله . څه ډیر وخت بعد بیا را په خود شو .
دارنګې حلیة الاولیاء جلد ٦ صفحه ۳٦ کې د حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د خالق سره د مناجات او د تکلیم څه خبرې ذکر دي موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي :

استغفر الله من الذنوب حولاً قال الله قد غفرت له فقال رب اذا غفرت لي وافرحت بالمغفرة قلبي واقررت بالمغفرة عیني . او زما زړه دې په مغفرت خوشحال کړو او زما سترګې دې په مغفرت یخې کړې .

لذاذة منطقك مسامعي . او لذت د منطق ستا دننه شو مسامعو زما ته .

نو یو سوال درنه کومه هغه دا چې :

فلا ترني خصمي یوم القیامة . هغه زما خصم ورځ د قیامت کې ما ته مه مخامخ کوه هغه ده نه چې څوک په خطاء سره وژل شوې وه هغه یادوي .

قال یا موسی أجورًا تسألني . ای موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د ظلم سوال رانه کوې ظلم وکړم چې نه یې مخامخ کوم درسره .

يأتي ملك الموت يوم القيامة قابضاً على ذقنك حتى تحبثو بين يدي فانتفض موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ.

رب کریم ورته فرمایي ای موسی علیک السلام ملک الموت به په ورځ د قیامت راشي قابضاً على ذقنك دا عجیبه الفاظ دي چې د انبیاء سره د مخلوق د حق موافق اګر که دوي نه خطاء شوې ده دا مواخذه نه ده خو عام عباد پرې هیر وي خو بیا هم اودروي خو یې ورته کنه خصم خو اودروي نو :

قابضاً على ذقنك حتى تحبثو بين يدي. ملک الموت به قابض وي په ذقن ستا باندې تر دې چې زما مخې ته دې راولي له دې سره.

فانتفض. ورپیده موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ.

فغشي عليه سبع ليال. بیهوشي پرې راغله ۷ شپې ۷ ورځې بیهوشه وه ۷ ورځې بعد را بیدار شو جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته راغې :

يا موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ انقطع رجاءك بعد اذ سمعت بالمغفرة. امید دې قطع کوي مه قطع کوه تا خو د مغفرت سماع کړې ده ببنل شوې یې.

فقال يا جبرائيل اليس يقول خصمي يا رب قتلني هذا. آیا زما خصم به بیا نه وایي.

فيقول الله يا موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ قتلته. ما ته به وایي تا قتل کړې دي.

فان قلت لا. که وایم چې نه مې دې قتل کړې.

قال الست شاهدك. ولې زه ګواه نه یم څه.

وان قلت نعم قال لم قتلته. او که چیرته وایم چې ما قتل کړې بیا به وایي ولې دې وژلې.

فقال موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ أوه فشهق شهقةً فغشي عليه شهراً.

وایي دې خبرې سره یې له خولې نه د اوه آواز لاړو بیا یې یوه چغه د خولې نه لاړه بیهوشه شو یو میاشت بیهوشه پروت وه نو دا څه نا څه حالات د خشیت په دې ټولو مبارکانو

باندې راغلي دي.

دارنګې الرقة والبکاء جلد ۱ صفحه ۱۸۰ داد ابن ابي الدنيا تصنيف دې په دې کې مسمع بن عاصم وايي:

انطلقت انا وعبد العزيز بن سلمان الى ناشرة بن سعيد الحنفي. دا يو عابد وه.

وكان قد بكى. دومره يې ژړلې وه چې.

اظلمت عيناه. د ستر ګو نظر يې د ژړا د لاسه تللې وه.

فاستأذنا عليه. اجازت مو وغوښتلو ور دننه شولو.

فأذنا لنا فدخلنا عليه فسلم عليه عبد العزيز فقال له ناشرة.

ناشرة ورته وويل ته ابو محمد يې.

قال نعم. هغه وويل: هاو.

قال ما جاء بك. څه شي راوستې.

قال جئنا لتبكي ونبكي معك.

دې ته راغلي يو چې ته هم وژاړې مونږ هم درسره وژاړو.

على ما تقدم من سالف الذنوب قال فشهق شهقةً. د ناشرة له خولې نه چغه لاړه.

ثم مغشياً عليه. بيهوشه پريوتلو.

وجلس عبد العزيز يبكي عند رأسه. وتنادي. چغې وهلې.

اهله. اهل دده.

فجعلوا يبكون. هغوي راغلل هغوي هم ژړل.

حوله. ګرد چاپيره له هغه نه په داسې حال کې.

وهو صريع بينهم. چې دې يې په مينځ کې مړ پروت وه دا ناشرة دې چغې سره مړ شوې وه مينځ کې پروت وه.

فلما رأيت البكاء قد كثر. ما چې ژړا وليده چې زياته شوه.

انسللت فخرجت . په شا وځر خیدم ترې را بهر شومه .
دارنګې جامع الاحادیث جلد ۲۷ صفحه ۱۶۵ د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دي :
قال خدمت عمر خدمةً لم یخدمها احد من اهل بیته . ما د عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسې خدمت کړي چې اهل بیتو کې به یې چا نه وي کړې .
ولطفت به لطفا لم یلطفه احدا من اهله . خاصو وختونو کې به ورتلم چې هیڅوک به نه وه .
فخلوت به ذات یوم . یوه ورځ ورغلم ځان ته .
في بیته وکان یجلسني ویکرمني . زه به یې ځان سره کینولم زما به یې عزت کولو .
فشهق شهقة ظننت ان نفسه سوف تخرج منها . وایي د عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له خولې نه یوه چغه لاړه ما ګمان کوه چې کیدې شي ساه یې وخیژي یعنې روح ترې نه لاړ شي داسې چغه ترې نه لاړه .
دارنګې اعتلال القلوب للخرائطي جلد ۱ صفحه ۲۹۲ جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ عرض کوي :
فقال یا محمد ان ربك عزوجل یقرأك السلام ویقول لك لو أن عبدي لقیني بقراب الارض خطیئة لقیته بقرابها مغفرة .
که زما بنده دا تولـه ځمکه ډکه کړي له ګناه نه دومره ډیره ګناه یې وي په مغفرت به ورسره ملاقې شمه .
قال فاعلمه النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذلك قال فصاح صیحة .
دا واقعه اوږده ده ما اختصار کړې داد ثعلبة بن عبد الرحمن انصاري ده هغه مشهوره واقعه ده چې رؤیت د یوې زنانه یې کړې وه بیا دې تللې وه دشتې ته او هلته به یې چغې وهلې او ډوډې به یې نه خوړه نو جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې چې خدای تعالی فرمایي چې زما بنده بقراب الارض خطئ کړې وي زه به مغفرت ورته همدغو نه زیات وکړمه .
نو فاعلمه النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داد هُ ضمیر راجع دي ثعلبة بن انصاري ته نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه پوهه کړو چې بخښنه درته کیږي او داسې جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې .

قال فصاح صيحة فمات . هغه چغه و وهله مړ شو .

فامر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بغسله وكفنه فلما صلى عليه جعل يمشي على اطراف أنامله . د خپو ګوتي لګولي .

فلما دفنه قيل له يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رأيناك تمشي على أطراف أناملك قال والذي بعثني بالحق ما قدرت ان اضع قدمي على الارض من كثرة من نزل من الملائكة لتشييعه . دومره فرشتې راغلې وې .

دا رنګې الزهد والرقائق للخطيب البغدادي جلد ۱ صفحه ۱۳۹ دې کې يو محدث دې مالک بن دينار ته ځي نو هغه محدث ته مالک بن دينار ځان ښايي چې زه مالک بن دينار يمه:

قال بخٍ بخٍ أبا يحيى ان كنت كما يقولون انت الذي يزعم هؤلاء انك ازهدهم أجلس . دا خلک وايي چې ته په ټولو کې ازهد يې کينه کينم درسره .

فالان تمت امنيتي على ربي في عاجل الدنيا . دا محدث صالح نو ميږي .

قال صالح فقمت اليه لأسلم عليه فاقبل على القوم فقال انظروا كيف تكونون غداً بين يدي الله في مجمع القيامة .

سوچ وکړي چې د خدای تعالی په وړاندې به مو څه حال وي .

قال فسلمت عليه فرد علي وقال من انت يرحمك الله ؟ فقلت انا صالح المري قال انت الفتى القارئ أنت أبو بشر ؟ قلت نعم .

قال اقرأ . لږ تلاوت راته وکړه .

يا صالح فلقد كنتُ أحب أن أسمع قراءتك قال صالح فحضرني والله ما كنت قد فقدته فابتدأت . هغه سوريادوي چې ما ته را ياد شول .

فقرأت فما استتممت . ما لا اعوذ بالله خلاصه کړې نه وه نور تلاوت پريږده اعوذ بالله مې لا خلاصه کړې نه وه .

حتى خر . چې پريوتلو مالک بن دينار .

مغشياً عليه ثم افاق افاقة. بيا را بيدار شو.

فقال عد في قراءتك يا صالح فاني لم اقطع نفسي منها وربما قال صالح ورأيت شيئاً عجيباً لم أره من أحد المتعبدين كان اذا سمع القرآن فتح فاه قال فعدت فقرأت ﴿ وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا ﴾ قال فصاح صيحة. چغه يې ووهله.

ثم انكب لوجهه. پر مخه پريوتلو.

وانكشف بعض جسده فجعل يخور كما يخور الثور. گورم چې د مري نه يې داسې آواز راځي لکه څنګه چې غوائي حلالولي شي او آواز کوي.

ثم هدأ فدنونا منه. لږ آرام شو مونږ ورنيږدې شو.

ننظر فاذا هو قد خرجت نفسه كأنه خشبة. روح ترې وتلې وه يخ کرخ پروت وه مالک بن دينار.

قال فخرجنا فسألنا هل له احد؟ څوک يې شته که نه؟

قالوا عجوز. يوه بوډۍ وه هغه دده خدمت کوي.

فبعثنا اليها فجاءت فقالت ماله. هغه راغله وايي څه چل پرې شوې.

قلنا قرئ عليه القرآن فمات. د قرآن کريم تلاوت ورته وشو بس مړ شو.

قالت حق والله من ذا الذي قرأ عليه. دا چا پرې تلاوت وکړو.

ولعله صالح القارئ. دا به صالح المري وي.

هو الذي قرأ عليه؟ قلنا نعم. مونږ ورته وويل هاو.

وما يدريك من صالح؟ ته چا پوهه کړې صالح څوک دې.

قالت لا اعرفه. هغې وويل صالح نه پيژنم.

غير اني كثيرا ما كنت اسمعه يقول ان قرأ علي صالح قتلني. که صالح المُري راته تلاوت وکړو نو مړ به مې کړې واي.

ده به دا خبره ډیره کوله دا چې تلاوت وشو مړ دې دا به صالح المري تلاوت ورته کړې وي.

نو داسې حالات په دوي راغلې وه او مالک بن دینار د زمانې غټ بادشاه تیر شوې وه، په منتهاء کې بیا دا حال دده شو.

اول ځل یې چې بادشاهي پریښنودله نو د پریښنودلو هغه وجه یې دا وه چې بادشاهي هال کې ناست وه یو ملنګ ورته راغلې وه هغه ملنګ ورته آواز کوي چې اجازت دي یوه خبره کومه وایي وکړه وایي سراي مې ورک کړې سراي دادې پخوا به خلکو سرای کې شپې کولې مسافرو کمري به په کې وي نو هغه خادمانو یې بې عزته کړو ملنګ یې وشړه صبا بیا راغې وایي لار رانه ورکه ده هغه سراي دادی بیا یې وشړه نو چې په دریمه ورځ راغې بادشاه پوهه شو وایي شړي یې مه رایې ولې ځان سره یې کینوه وایي ملنګه ولې زما سپکاوي کوي دا خو زما د بادشاهي هال دي وایي داد کوم وخت نه ته دلته یې مخکې څوک وه وایي پلار او نیکه دا شجره یې تیره کړه.

وایي ته به تر قیامته دلته یې وایي نه بیا به بل څوک وي وایي څومره خلک چې په کوم ځای بدلیږي رابدلیږي همغې ته سراي وایي کنه دا سراي دي.

بس دې نه ده عبرت واخیستلو زړه یې خفه شو وزیران یې راغونډ کړل وایي چې څو ورځې که زه سرکاري ډیوټي ته رانغلمه نو ما مه چیړي خپل کار روان ساتي دې ترې لاړو چې لاړ ځنګه چې کور ته ننوتلو هلته دده وینځه وه دده په کټ کې پرته وه چوکه یې را واخیسته یو دري چوکي یې ووهله ځکه وینځه خو خلکو ډیره سپکه ګڼله بیا د بادشاه په کټ کې هغې وژړل ژړا نه بعد یې بیا وخندل وایي ولې دې وژړل وایي په دې چوکو دې رو هلم خوړه شو مه وایي ولې دې وخندل وایي خندا ستا په حال راځي چې ما دري منټه په کې تیر کړل نو دري چوکې مې وخوړلې څوک چې په کې شپې ورځې دې کټ کې تیروي هغه به څومره چوکي خوري په قبر کې او په ورځ د قیامت کې.

بس دې خبرې نور هم په سوچ کې کړو هلته د ملنګ خبره دلته دا خبره بس یوه شپه یې په کې سوچ وکړو صبا یې ځامن راغونډ کړل وایي چې زه نوره بادشاهي نه کومه زه درنه ځمه چې هر خوا لاړم ما پسې به ګرځي هم نه.

بیا دې ترې نه روان شو یو یې جام ځان سره واخیسته یو یې بالبنت ځان سره واخیسته سم د خدای دوستي پسې بهر شو په لاره روان دي یو شپونکي ګوري چې اوبه څکي په لپه باندې هغه جام یې هم شپون ته ورکړو وایي ما سره خپل جام شته دي.

بیا سترې شو یوې ونې لاندې اوده شو هلته هم یو شپونکي پروت دي دا خپل څنګل یې سر ته ایښي وایي بالبنت خو هم له ما سره شته دي په دې بالبنت څه کوم هغه یې هم شپونکي ته ورکړو نو بیا همداسې تش لاړو بیا دا خپل رعیت کې لري علاقه کې چې دده نوم یې پیژندلو او دې یې نه پیژندلو د یو چا د انارو باغ وه هغې کې مزدور شو عبادت به یې کولو نو یو کال یې دې باغ کې تیر کړو یا دوه کاله.

د باغ د مالک میلمانه راغله وایي ورشه انار را وشکوه نو دې لاړ چې انار یې ر اوشکول انار تروش وه بیا یې ولیګه چې بیا یې راوړه بیا تروش وه نو غصه شو ورته وایي ته انار نه پیژني اول یې مات کړه وي ګوره بیا یې راوړه.

په دریم ځل یې صحیح انار راوړه نو بیا ورته هغه د باغ مالک وویل چې ته ولې انار نه پیژني وایي زه راغلي یمه کال دوه کیږي ستا د باغ انار ما نه دي خوړلي چې ددې خوند څنګه دي زه څه پوهیږم خو چې تا وویل وي څکه ومي څکل رامې وړل وایي ته خو ډیر پاک سړي یې تا ته به زه دوه چنده تنخواه درکومه د نورو مزدورانو نه هغه ورته وویل چې دوه چنده تنخواه راکوي زه دا مزدوري نه کومه زه درنه لاړمه وایي چې ولې وایي چې زما له وجې نه ته په ګناه کې اخته کیږي بس زه لاړمه درنه.

لاړو حرم شریف ته نو دې خپله حکایت کوي چې زه کله حرم ته لاړمه او دا اول طواف مې کوه نو دې اول طواف کې طواف مې لا شروع کړې نه دي په دې لاره یمه حرم نزدې شوې دي لبیك اللهم لبیك زه هم دا وایمه دا آواز کومه او یو بل ځوان راسره دي احرام یې تړلې هغه هم دا آواز کوي ډیر خلک نور روان دي.

نو غائب آواز د کعبې لخوا نه راشي چې لا لبیك نو مالک بن دینار وایي چې زه دې ته ډیر متوجه شوم لکه چې دا آواز تا ته کیږي وایي زما خوا کې دې ځوان راته وویل چې خفه کیږه مه دا آواز تا ته نه ما ته کیږي وایي ما ورته وویل چې تا ته ولې کیږي.

وايي پوهيږم نه دا ۱۱ کال دي چې راځمه حج ته او په دې هر کال ما ته د لا لبيك آواز کيږي نو هيڅ نه پوهيږم چې ما کې څه جرم دي خو دا آواز ما ته دې ته خفه نه شي وايي ما ورته وويل چې تا ته د لا لبيك آواز کيږي نو بيا څه شي کوي دلته خو بيا ځه ترې نه کنه چيره بل خوا لاړ شه وايي دې ځوان ما ته وويل چې ته د خالق د در نه بل در ما ته وښايه چې دا ځوک وشړي نو يو بل در دي هغې ته لاړ شي.

نو د ځوان دغه يوه خبره وايي د خالق خوښه شوله چې هرې گناه باندې نيولې وه ۱۱ حجونو باندې نه وه معاف کړي خو دا يوه خبره چې د خالق له در نه سوا بل در نشته او که زه دا پريږدم چيرته به لاړ شم دا خبره د خالق خوښه شوله په دغه خبره يې ورته بخښنه وکړه.

مالک بن دينار وايي چې دا يوې خبرې سره دې ځوان له خولې نه يوه چغه لاړه او پريوتلو چې ما واي وکتلو نو مړ وه بيا نو دې قصه کوي وايي چې کله دده جنازه په حرم شريف کې کيدله وايي عام خلک نه وايم يو لاک اولياء دده جنازي ته جمع شوې وه چې دا صرف په دې يوه خبره چې د خالق در نه سوا بل در نشته دي چې هلته بخشش ميلاو شي په دغه يوه خبره باندې دده گناه هم معاف شوه او دې د ولايت داسې مقام ته ورسيدلو چې خداى تعالى دځمکې اولياء مامور کړه په دې باندې چې ددې شخص جنازې ته ځان ورسوي.

په دې کې يوه طولاني واقعه بله ما په کتاب کې کتلې وه چې په هغې کې د يو ولي ذکر کوي چې ما د عراق په سختو غرونو يو ځاى کې د يو ولي ملاقات کړي وه وايي چې کله دې جنازي ته راغلمه وايي گورم هغه هم دلته حاضر وه نو بعضې به په کراماتو رارسيدلې وي داد مالک بن دينار د ژوند مختصر حالات وه.

دارنگې حلية الاولياء جلد ۸ صفحه ۲۹۳ د فتح الموصلي واقعه بيانوي : عثمان بن عمارة چې د سالم الدورقي په دوکان کې **فتح الموصلي** ناست وه زه راغلمه.

فقال لي يا بصري أي شيء رأيت في غيبتك.

ته خو نه وې ډير وخت څه دې ليدلي.

فقلت رأيت عجائب كثيرة واخباراً مختلفة فصاح صيحة. چغه يې ووهله.

فقلت انت تصيح من الخبر فكيف لو شاهدت القيامة او شاهدت صاحب القيامة فشهق شهقة. يوه چغه يې ووهله.

ووثب من الحانوت. او د دوكان برنده وه له هغې نه يې توپ كړل.

فخر مغشياً عليه. بيهوشه پريوتلو. فحملناه فادخلناه الحانوت فمازال مغشياً عليه الى العصر فلما صلينا العصر تنفس ثم فتح عينيه.

د صحابه كرامو د غشي او د غه شان حالات ډير زيات دي.

د ترمذي په دويم جلد كې د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حالات ذكر كړي دي شاگرد ورته وايي داسې حديث راته بيان كړه چې تا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلې وي هغه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ روضې خوا كې ناست دي دا الفاظ وايي:

سمعت من خليلي. چې ښڅک خليل كوي.

شهق شهقة خر مغشياً عليه. بس د خولي نه يې چغه لاړه بيهوشه پريوتلو.

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د غه د خليل تكي ويلو باندې بيهوشه شو بيا را په خود شو.

بيا يې وويل چې ما د خپل خليل نه اوريدلي چې ښڅکه دا خليل وايي بيهوشي ورباندې راځي او چغه يې د خولې نه ځي بيا را په خود شو.

په دريمه دفعه باندې دومره نسبت كوي چې صاحب د دې روضې خليل نه مې اوريدلي بيا پرې بيهوشي راغله د دريم ځل بيهوشي نه بعد هغه بيا شاگرد ته حديث بيان كړې دي.

ترمذي دويم جلد دا حديث ذكر كړي دي نو حالات د غشي په صحابه كرامو باندې ډير زيات وه.

المبحث الخامس:

بحث خامس دې كې د چند فقهاو نصوص او عبارات د وجد متعلق دي او په آخره كې په مانځه كې د چغو د فقهاو څه نصوص دي.

سيوطي رَحِمَهُ اللهُ په الحاوي للفتاوى جلد ۲ صفحه ۲۲۲ كې يوه رساله ليكلې ده:

مسألة في جماعة صوفية اجتمعوا. چې را غونډ دي.

في مجلس ذكر . په مجلس د ذکر کې .

ثم ان شخصا من الجماعة قام من المجلس . له دې ډلې نه يو شخص اودريږي .

ذاكراً . ذکر کوي په ولاړه .

واستمر على ذلك . او په دې ولاړه هم داسې وي وي ولي .

لوارد حصل له .

مخکې د وجد معنی مونږ کړې وه لوارد حصل له څه ورود ورته د انوارو شوې يې .

فهل له فعل ذلك . جائز دي ده ته دا کار کول .

سواء كان باختياره ام لا . دا کار په خپل اختيار کوي او که بې اختياره يې کوي تواجد يادوي .

و هل لاحد منعه وزجره عن ذلك ؟ خلکو ته له دې نه منع په کار ده او زجر .

الجواب : لا انكار عليه في ذلك . په دې صوفي باندې دې کار کې څه انکار نشته .

وقد سئل عن هذا السؤال بعينه شيخ الاسلام سراج الدين البلقيني .
دغه سوال بعينه له شيخ الاسلام سراج الدين البلقيني نه هم شوې وه .

فاجاب . هغه جواب ورکړو .

بانه لا انكار عليه في ذلك وليس لمانع التعدي بمنعه .
منع کوونکي لره تجاوز دده په منع نه دي په کار .

ويلزم المتعدي بذلك التعزير .
چا چې دوي منع کړل د ذکر د مجلس نه په مساجدو کې نو متعدي ته تعزير په کار دي .
دارنګې سوال شوې وه د علامه برهان الدين الابناسي نه :

فاجاب بمثل ذلك وزادان صاحب الحال مغلوب والمنكر محروم .

حال والا مغلوب دي منکر يې محروم دي .

ماذاق لذة التواجد . د تواجد خوند يې نه دي څکلي .

ولا صفا له المشروب.

او ده ته شراب د مينې نه دي صفا شوې.

الى ان قال في اخرجوا به بالجملة فالسلامة. سلامتي ده د ايمان.

في تسليم حال القوم. په دې کې ده چې د دې قوم حال تسليم کړې شي.

واجاب ايضاً بمثل ذلك بعض ائمة الحنفية والمالكية كلهم كتبوا على هذا السؤال بالموافقة من غير مخالفة.

ټول موافق دي په دې کې.

اوس دې خپل جواب کوي:

اقول: وكيف ينكر الذكر قائماً.

څنګه انکار کوي يو سړي د ولاړې ذکر نه.

والقيام ذاكراً. يا ذکر کوي په ولاړه.

وقد قال الله تعالى الذين يذكرون الله قياماً وقعوداً وعلى جنوبهم.

وقالت عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا كان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يذكر الله على كل احيانه.

نو دې کې هر وخت راغې.

اوس وايي:

وان انضم الى هذا القيام رقص.

اِن وصلي دي اګر که ضم شي له دې قيام سره، رقص رقص ذکر کوي په ولاړه او په کې رقص شروع کړي.

او نحوه. يا مثل د رقص دوران وغيره.

فلا انكار عليهم. نشته انکار په دوي.

فذلك. دا حال.

من لذات الشهود او المواجيد وقد ورد في الحديث رقص جعفر بن أبي طالب بين يدي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لما قال له أشبهت خلقي وخلقي وذلك من لذة هذا الخطاب ولم ينكر ذلك عليه النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فكان هذا اصلاً في رقص الصوفية.

دا دليل شو په رقص د صوفيه وو کې.

لما يدركونه من لذات المواجيد. ځکه خوند دوي حس کوي.

وقد صح القيام. صحيح ده اودريدل.

والرقص في مجالس الذكر والسماع. سماع اشعارو لروه دا ثابت دي.

عن جماعة من كبار الأئمة منهم شيخ الامام عز الدين بن عبد السلام.

دارنګې د فقه کتابونو نه مراقي الفلاح جلد ۱ صفحه ۲۱۵ د مجمع الانهر نه نقل کوي.

وفي مجمع الانهر عن التسهيل الوجد مراتب. د وجد اقسام دي.

وبعضه يسلب الاختيار. بعضې اختيار سلبوي.

فلا وجه لمطلق الانكار. يو ائې انکار ته هيڅ لاره نشته ده.

وفي التتارخانية مايدل. په فتاوی تتارخانيه کې دا شته دليل ددې دي.

على جوازه للمغلوب. چې دا وجد جائز دي هغې مغلوب لره.

حركاته كحركات المرتعش. چې وګرځي حرکات دده په شان د حرکاتو د مرتعش ګوزنه وهلي بې اختياره شي.

مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر جلد ۸ صفحه ۲۰۵:

وفي التسهيل في الوجد مراتب وبعضه يسلب الاختيار فلا وجه للانكار بلا تفصيل.

حلية الاولياء جلد ۱۰ صفحه ۲۰۵ کې د جنيد بغدادي حالات ذکر کوي:

سمعت عثمان بن محمد العثماني يقول سمعت حكيم بن محمد يقول حضر الجنيد ابو القاسم موضعاً. جنيد بغدادي يو ځای ته راغې.

فيه قوم . هلته يو ډله وه .

يتواجدون على سماع يسمعونه . اشعاريې ويل تواجد شروع وه ورسره .

وهو مطرق . جنيد بغدادي سر ټيټ کړې وه .

قيل يا ابا القاسم تراك تتحرك . جنيد بغدادي سر ټيټ کړې وه خوزيدو چا ورته وويل ولې خوزيږي .

قال . هغه جواب ورکړو .

﴿وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ﴾

د خدای تعالی پرتاو د هغه قدرت او د هغه ذ خوف له وجې نه دا غټ غټ غرونه به ورځ د قيامت کې ته به ګوري چې روان به وي .

په آخره کې په مانځه کې بعضې صياح او چغې چې غيرِ اختياري وي او يا اختياري وي خو د هغې نه صوت جوړ نه شي دليل د کثرت خشوع دي مفسد للصلاة نه دي .

الجامع الصغير د عبد الحي لکهنوي جلد ۱ صفحه ۹۲ باب ما يفسد الصلاة وما لا يفسده:

محمد عن يعقوب عن ابي حنيفة . د امام صاحب قول .

في رجل اَنّ في الصلاة اَنّ دآنين . ده آواز وکړي .

او تأوه . يا أه أه وکړي .

او بکى . يا وژاړي .

فارتفع بكاؤه . پورته شي ژړا دده .

قال ان كان من ذكر الجنة او النار لم يقطعها . د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ فتوى ده دا نه فاسدوي مونځ که د جنت او د جهنم له ياد نه وي .

وان كان من وجع او مصيبة قطعها .

همدا عبارت الجوهرة النية جلد ۱ صفحه ۲۵۹ ، العناية شرح الهداية جلد ۲ صفحه ۱۳۱، المحيط د علامه برهاني جلد ۲ صفحه ۷۲ ، الهداية شرح البداية جلد ۱ صفحه ۶۱ ،

تحفة الفقهاء جلد ۱ صفحه ۲۲۱، فتح القدير جلد ۲ صفحه ۲۷۹، الاختيار لتعليل المختار جلد ۱ صفحه ٦٨، دې ټولو دغه عبارت ذکر کړې دي.

دا مسئله د وجد وه مطلقِ انکار لره څه نشته دي حال دد غه قوم دي تسليم شي او د صوفيه وو د پاره آخره کې دا ترغيبي خبرې کومه چې هغوي دې له دې نه مشن نه جوړوي او د قصداً حرکاتو نه دې انتهائي ځان وساتي او غيرِ اختياري که صياح يا څه حال ورته راشي هغه دې نعمت وګڼي لکه حديقة الندية کې د عبد الغني نابلسي رَحِمَهُ اللهُ تصريح داده دا وجد او تواجد چې کوم دي:

نور و هداية و اثر توفيق من الله تعالى.

سوال: تواجد جائز دي او که نه؟

الجواب: دا خبره مخکې ما درته وکړه چې قصداً حرکاتو نه ځان وساتي که کوم ځايونو کې شوې دي.

عوارف المعارف کې علامه سمهودي ليکلي دي چې مسجد نه وي د شيخ په حضرت کې نه وي ځان ته په يو ځای کې که تشبه د واجدينو سره څه عمل دې وکړي چې زه د هغه سره مشابه شمه نو هغې د پاره بعضې فقهاو جواز ورکړې دي ټول پرې متفق نه دي.

شامي جلد ۳ صفحه ۳۰۸ د وجد متعلق ليکي:

التحقيق القاطع للنزاع في امر الرقص والسماع يستدعي تفصيلاً.

چې علامه سمهودي په عوارف المعارف او امام غزالي په احياء العلوم کې ذکر کړې دي بيا وايي يو شعر را اخلي:

ما في التواجد إن حققت من جرح ... ولا التمائل ان اخلصت من بأس

نشته تواجد کې که ثابت څه جرحه او نه ميلان يو خوا بل خوا چې کله خالص د تشبه لپاره وي څه باک. بعضو نسخو کې من حرج لفظ دی.

فقمت تسعي على رجل وحق لمن دعاه مولاه ان يسعى على الرأس.

ته خو لا منډه په يوه خپه باندي وهي په کار دادی چې الله لره په سر منډي وروهي يعني سر کونډي ورته واړوي.

حديقة الندية صفحه ۵۲۴ کې ذکر کوي :

رأيت في حق فقراء الصوفية . د صوفيه وو باره کې مې ډير څه ليدلي دي .

وجدت الناس يتكلمون فيهم بأنواع الكلام . خلک په کې عجيبه عجيبه خبرې کوي .

فان ذلك كله حسد و بغض وحقد وظنون سيئة و اوهام شيطانية .

صوفيه وو کې چې څوک خبرې کوي دا حسد دي بغض دي او بدګمانونه او اوهام شيطاني دي .

استولت على قلوب غالب الناس من شدة الغفلة و استيلاء الجهل والغرور .

چې دا را غالب شوې دي په زړونو د غالب الناس باندې وايي ځکه دوي ډير غافله دي او ډير ناپوهه دي .

وكثرة الافتراء . او افتراء هم دوي کې زياته شوې ده نو وايي .

فان طريق الوجد والتواجد الذي تعلمه الفقراء الصادقون في هذه الزمان .

وجد او تواجد چې تعليم يې فقراء صادقين ورکوي دې زمانه کې .

كما كان يعلمون من قبل في زمان الماضي نور و هداية و اثر التوفيق من الله و عنايته .

بيا وروسته روايت ذکر کوي :

قال المناوي في طبقات الاولياء في ترجمة الشيخ ابراهيم الدسوقي انه لقيت الجنيد انه قوم يتواجدون ويتمايلون . يو قوم دي تواجد کوي او ميلان يو خوا بل خوا کوي .

فقال دعوهم مع الله . پريږده له خدای سره .

يفرحون . دوي خوشحاله دي . فانهم قوم . داسې قوم دي .

قطعت الطريقة اكبادهم . چې لارې د سفر د ولايت ورته دا خپل جيګرونه پرې کړې دي .

وخرق نصب فؤادهم . او غشو د محبت يې زړونه څيري کړي .

وضاقوا ذرعاً استعداد کنبدي فلا حرج عليهم اذا تنفسوا مداومة حالهم ولو ذقت مذاقهم كه تا دې حال وڅکه .

عذرتهم . معذور به وګڼي دوي . في صياحهم . په چغو کې .

وشق ثيابهم . په شکولو د جامو کې .

د جامو شلولو باره کې چې غير اختياري وي دا خو هسې هم معذور دي د تواجد په صورت کې که چا وکړل ناجائز دي حرام دي اسراف دي دې کې بيا د ډيرو اوليا و حالات په دغه صفحه ذکر کوي .

وروسته وايي :

وهي حالة شريفة . وجد حالت شريفه دي ، علامه د صحت يې داده :

ان تحفظ على صاحب اوقات الصلاة .

چې دا چا باندې جذب راځي دا مونځونه په وخت کوي او که نه يې کوي که په وخت يې کول دا يې علامه د صحت ده .

و سائر الفرائض فيرد عليهم فيها عقولهم .

د مانځه په وخت کې عقل پرې ځای ته راشي .

بيا وروسته وايي :

وهذا حال جماعة من اولياء الله . دا د يو ډلې د اوليا و حال دي .

منهم ابوبكر الشبلي وابو الحسن الاشعري شمعون المحب وامثالهم .

په دغه کسانو باندې به دا راتلل .

نو خپلو سيفي ورونو ته زما دا نصيحت او د خيرخواهي خبرې دي چې نن صبا زمونږ بعضې سيفي ورونه طريقې نه جذب جوړ کړې دي هغوي وايي چې ګڼې طريقه جذب ته وايي بس هغه په مجلس کې بل کار نشته دي همدغه جذبونه او که څوک که جذب وي او جذب په چا راځي هغه ته توجه کيږي او که جذب پرې نه راځي له سره ورته توجه نه کوي سره ورته اهميت نه ورکوي سره ورته هغه صوفي نه ښکاري نو حال دغسې خو نه دي کنه چې خامخا په هر چا به راځي يا به دا دائمي حال وي کله به وي کله به نه وي يو چا ته به دائم پيښيږي يو سړي ته به ټول عمر کې هم نه پيښيږي .

نن صبا زمونږ سیفي ورونه هغوي مسئله د وجد کې داسې ور خواږه شوې چې هغوي طریقه نقشبندیه او د خدای تعالی دوستي او دا اوراد دا اذکار دا هره لاره د نقشبندانو نه یې عبارت جذب جوړ کړې دي چې دا ټوله طریقه جذب ته وایي دا خو نه ده دا خو ته غلط فهم ور کوي خپل سالک ته طریقه خو څه جذب ته نه وایي او نه دغه شئ دي.او یا چې په چا راغې بزرګ دي او که په چا رانغې نو کافر شو ما باندې په خپله زندګي حیات کې یو ځل یو حال راغلې دي هغه هم داسې چې تقریباً نیم ساعت د باړي حضرت صاحب هغه په یو ساه توجه کوله راته نو زه داسې شومه چې ما وویل چې دا دنیا ما باندې وګرځیدله نو زه غورځیدمه چې غورځیدمه ما په لاسونو ځان را ټینګ کړو ونه غورځیدم کیناستمه.

نو بیا دغه مجلس وه چې د باړي حضرت صاحب زمونږ والد صاحب ته وویل چې دا ځوی د کور نه او باسه علم پسې اودا ډیر ښه استعداد لري او د نابغه کوم لقب چې هغوي ما ته راکړې وه هغه یې دغه ځای کې راکړو راته نو یو ځل زندګي کې ما باندې دا حال راغلې دي باقي په خوب کې په کراتو کراتو راباندې راغلې دي.

سوال: بعضې خلک وایي چې د باړي حضرت صاحب نوم یاد شي د باړي پیر صاحب مریدان ژاړي او چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نوم یاد شي بیا نه ژاړي؟

الجواب: نو تا خو نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نوم سره وژړل او نه دې د یو ولي نوم سره وژړل هغوي خو بیا هم ښه دي د ولي نوم سره خو ژاړي:

عند الذکر اولياء الرحمن تنزل الرحمة.

علامه قشیري ذکر کوي چې کله د اولیاء ذکر کیږي د الله رحمت وریږي.

او پاتې شوه دا چې بعضې صوفي باندې دلته د خپل شیخ په تعریفاتو کې چغې زیاتې وي بعضو باندې په نعت کې زیاتې وي بعضو باندې به په تلاوت کې وي دا فناءات دي د صوفیه وو اصطلاحات دي اکثر خلک پرې نه پوهیږي.

کله څوک فنا في الشیخ کې وي کله فنا في الرسول کې وي کله فنا في الله کې وي مونږ او تاسو کې اوس کوم سړي په فنا في الله کې دي بطور مثال اوس که یو نعت خوان نعت شروع کړي نو یو به هم تنګ نه وي ښه به خوشحاله یاستي او که یو قاري تلاوت شروع کړي نو ټول به ساړه پاړه ناست یې اوس دا معنی نه ده چې تلاوت به ستاسو خوښ نه وي خو هغه

اخذ د قرآن کریم د تلاوت د فیض د اخذ استعداد لا نه دي جوړ چې نه دي جوړ هلته تنګي سرې باندې نوره راشي او نعت سره نه تنګیږي نو دا ددې دلیل نه شو چې ګني اوس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ یا د هغه اقوال یا د هغه صفت ته مونږ د قرآن کریم نه وخت زیات ورکوو یا مو ورته د قرآن کریم نه زیات په درنده و کتل.

نه دا خلک چې دي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په محبت کې فاني دي د هغه صفات ورباندې ښه لګیږي کله چې فنافي الله ته لاړشي بیا به تلاوت ته نه تنګیږي هغې کې به بیا خوشحاله وي.

دلته به زه (سید محمد ثواب) هغه سوال ذکر کړم چې جنید بغدادي رَحِمَهُ اللهُ نه شوې وه:

وسئل ما بال اصحابك اذا سمعوا القرآن لايتواجدون ولا يتحركون بخلاف ما اذا سمعوا الرباعيات، قال القرآن كلام الله وهو صعب الإدراك، والرباعيات كلام المحبين المخلوقين. (كتاب الكوكب الدرية على الحدائق الوردية ج ۱ صفحه ۱۸۷)

کیدې شي دا عبارت شیخ صاحب ته معلوم نه وه.

مسئلة د وجد على الصوفية ختمه شوه

مسئلة رفع اليدين :

التحقيق في رفع اليدين :

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾

نن زیرِ بحث مسئله هغه مسئله د رفع اليدين او د ترک رفع اليدين ده قبل الركوع بعد الركوع او بعد الركعتين .

زمونږ د کورس په دغه متعددو ایامو کې مونږ بار بار ددې اظهار وکړو چې مونږ د اهل حدیثو ددې زمانې غیر مقلدینو ، اشاعتیانو ، عثمانیانو ، پرویزیانو ،مودودیانو وغیره جماعاتو سره عقیدوي فرقونه لرو مسئله د رفع اليدين او د آمين بالجهر ، قرائت خلف الامام ، وضع اليدين تحت السرة فوق السرة على الصدر دا بنيادي مسائل نه دي دا هغه مسائل دي چې اهلِ حديث په دې مسائلو کې خپله گندگي پټوي او هغه خپله مرداره عقيده چې د خوارجو معتزله وو یا د قدریه وو لري د خلکو نه پټول غواړي په ضمن د رفع اليدين او د آمين بالجهر وغيره مسائلو کې .

زمونږ کوم حنفي علماء چې دې مسائلو ته زور ورکوي داد هغوي غلط فهمي او کم فهمي ده نو زور ورکول دې مسایلو ته نه دي په کار وهابیان دې مسائلو ته انتهائي زیات زور ورکوي خو د هغوي دې کې گټه ده او هغه گټه دا ده چې په دې باندې د هغوي هغه عظيمه گندگي پټیږي او کله چې هغوي دغه مسائل ډیر شور سره پرچاره وي که احناف هم دې مسائلو ته زور ورکړي نو عوام الناس به دې فهم ته ورسیږي چې گنې بين الاحناف او بين غير مقلدين تنازع فقط په رفع اليدين باندې ده یا په آمين بالجهر باندې ده یا په قرائت خلف الامام باندې ده دا څومره غلطه خبره ده .

زمونږ له دوي سره نزاع په دې مسائلو نه ده زمونږ له دوي سره نزاع بنیادي په عقيده باندې ده چې مونږ اهلسنت والجماعت يو او دوي د اهل زيغ نه دي .

نو تاسو ته هم زما دا مشوره ده د ورورې چې د غه مسائلو ته پرچار او زور مه ورکوي هر کله چې ستاسو دشمن کې غټه نیمګړتیا وي او غټ عیب وي او د هغه غټ عیب په ځای باندې تاسو یو وړوکي عیب او سوراخ ته اشاري کوي چې تا کې دا عیب دي دا خو ستا ډیره کمزوري او کم فهمي ده په کار داده چې ته اهل حدیث را ټینګ کړي په مسئله د توسل باندې ، تبرک باندې ، کرامت باندې ، ایصال ثواب باندې ، تقلید باندې وغیره کوم مسائل چې مخکې ما زیرِ بحث وګرځول .

په دې مسائلو اهلِ حدیث را ټینګ کړي چې ستا او د هغه په مینځ کې د اهل السنت او د اهل زیغ فرق واضح شي عوامو ته هم معلومه شي او هغه داسې مسائل دي چې دوي سره هغې کې سواد لا نُسلم په ډیري د کیناستو نه هیڅ شاهد او دلیل نشته دي .

نو دې مسائلو ته به شورش او زور نه ورکوي دا اصلاً اختلافات زمونږ او د غیر مقلدینو نه دي بلکې دا اختلافات بین الاحناف و بین الشوافع دي بین الموالک بین الحنابله دي څلور مذاهبِ حقه هغه دوه ډلې شوې دي امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په قول مشهور او امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ ذهاب کړې دي ترک د رفع الیدین لره چې د رفع الیدین کولو نه ، نه کول بهتر دي که چا دلته قول د کراهیت کړې دي حمل دي په کراهیت تحریم نه بلکه په تنزیهي کراهت چې د هغې نه تعبیر په خلاف اولی سره کیږي .

او امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ، امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او قول غیرِ معروف د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ هغه په رفع الیدین او په استحباب د هغې باندې دي په دوي کې چا هم دې ته سنت مؤکده لازمه مستمره نه دي ویلې بلکې دا یې ویلې دي چې د ترک رفع الیدین نه رفع الیدین اولی دي او معروف قول د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد باندې اتیان په رفع الیدین خلاف اولی او ترک رفع الیدین اولی دي .

نو دا مسئله ما چونکې وهابیانو ډیر شورش ورکړې دي کاش دوي شوافع او حنابله وای چې مونږ دوي سره ګز په ګز لویشت په لویشت باندې معلومه کړې وې چې دې کې ترجیح کوم مذهب لره ده احد الجانب آخر لره په دې کې ګمراه نه شي ویلې .

که کوم حنفي دا وایي چې کوونکې د رفع الیدین ګمراه دي هغه به څه وایي په حق د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ، او امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ ، د امام بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ ، امام مسلم رَحِمَهُ اللّٰهُ ، امام

ترمذي رَحِمَهُ اللهُ، امام نسائي رَحِمَهُ اللهُ، صحيح ابن حبان، ابن خزيمه، امام حاکم جمله محدثين دا ټول د رفع اليدين قائل دي او محدثين ټول متفق دي په رفع اليدين باندې.

غير له طحاوي او بعضې نورو محدثينو نه نو احد الجانب آخر لره دې کې گمراه نه شي ويلې احد الجانب آخر لره دې کې مفسد للصلاة نه شي ويلې چې ګنې رفع اليدين مفسد للصلاة دي دا نه شي ويلې فقط په دې کې نزاع بيننا وبين الشوافع والحنابلة په ترجيح کې ده چې مذهب د امام مالک معروف او د امامنا دا راجح دي او که مذهب د شوافعو او حنابله وو راجح دي په رجحان کې خبره ده.

په مسئله د رفع اليدين کې وهابيانو ډير زيات له افتراء نه کار اخيستې دي کله وايي داد ۷۰ صحابه کرامو رايه ده کله وايي داد ټولو بدري صحابه کرامو رايه ده کله وايي په دې کې ۴۰ مرفوع احاديث راغلې دي، کله وايي دا په تواتر ثابت ده دا ټول محضِ افتراءات او دروغ دي چې اوسه پورې په اسلافو کې د محدثينو نه په دې چا هم قول نه دې کړي چې رفع اليدين په تواتر ثابت دي.

هغه آحاديث مرفوعه چې دوي ترې اخذ کوي څلور(۴) دي چې يو د هغې نه حديث معروف د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي چې روايت يې بخاري، مسلم او ټولو کتبو د حديثو کړې دي، دويم د هغې نه هغه حديث د ابي حميد الساعدي دي چې روايت د هغې ابي داود او نورو سننو کړې دي، دريم د هغې نه روايت د مالک ابن الحويرث دي، څلورم د هغې نه روايت د وائل ابن حجر دي دا څلور احاديث چې دي دا احاديث مرفوعه دي چې دوي يې پيش کوي.

دې نه سوا د چند صحابه کرامو لکه ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغيره څه روايات يې موقوفه پيش کوي خو هغه وهابيانو ته شرم په کار دي چې پيش کوي يې ځکه چې د وهابيانو مذهب دادی چې:

لاحجة في الموقوفات.

د صحابي قول دليل نه دي نو بيا يې ولې پيش کوي د بل د پاره د مرفوع حديث نه چې اخوا کله هم وهابي موقوف پيش کولو بې چون چرا هغه ده د پاره دليل نه دي.

نو كه دي تا ته وايي چې زه دا الزاماً پيش كوم نو ورته وايه چې الزام سبق لزوم غواړي يا سبق التزام غواړي ته چې په ما باندې الزام كوې تا په ځان لازم كړي دي ته خپله دا حجت مني د صحابه وو اقوال خو ستا په نزد حجت نه دي چې ده سره يې پيش نه كړي او نه اقوال د محدثينو ستا په نزد حجت دي چې هغه هم مونږ ته پيش نه كړي دده په نزد صحابي قول حجت نه دي.

نو قال البخاري به څه حجت شي، قال المسلم به څه حجت شي كل محدثين دي پرې قائل وي خو دا دده دلائل نه دي صحابه دې قول پرې قائل شي خو دده دليل نه دي ځكه دده اصل دادی چې صحابه وو قول حجت نه دي.

نو دوي سره مرفوع آحاديث څلور (۴) دي چې كوم پرې دوي ډير نازيږي او چا ورته صحيح ويلې دي چا ورته متواتر ويلې دي هغه به زه تاسو ته شرحه كړم چې هغه احاديث چې اقوى استدلالاتو ددوي نه دي هغه عند المحدثين په كوم مثابت كې دي او د هغې نه احناف څه جوابات او تاويلات كوي.

اول حديث د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما دي:

التحقيق في حديث ابن عمر رضي الله عنه:

ددغه روايت نه چې بخاري او مسلم ذكر كړې دي صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۸۷ كې باب لګوي:

باب رفع اليدين اذا كبر واذا ركع واذا رفع، اثبات د رفع اليدين په وخت د تكبير تحريمه كې په وخت د ركوع كې په وخت د رفعې د ركوع نه دا يې باب دې په دې باب كې حديث پيش كوي:

حدثنا محمد بن مقاتل قال اخبرنا عبدالله قال: اخبرنا يونس عن الزهري اخبرني سالم بن عبدالله عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قال رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قام في الصلاة رفع يديه حتى يكونا حذو منكبيه.

تر دې چې شو برابر د اوږو دده.

وكان . وه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې دغه عمل يې وكړو .

يفعل ذلك . كوه به يې .

حين يكبر للركوع . كله به يې چې ركوع ته تكبير كوه .

ويفعل ذلك اذا رفع رأسه من الركوع ويقول سمع الله لمن حمده ولا يفعل ذلك في السجود .
سجدې ته كوزيدو او پورته كيدو كې به نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رفع اليدين نه كول .
جواب : احناف له دې روايت نه چې امام بخاري او ټولو كتبو د حديثو را اخيستې دي هغه دادی :

انه حديث مضطرب متناً . دا حديث متنًا مضطرب دي .

د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي احاديث في ذلك الباب په مختلفو طريقو باندې روايت شوې دي هغه به ټول تاسو ته په مستندې حوالې سره ما ذكر كړې دي هغه څوک چې ځان ته اهل حديث وايي نن زمن كې د هغوي دا رايه ده چې د ركوع نه مخكې وروسته او په وخت د قيام كې د ركعتينو نه دغه درې تكبيرونه دلته رفع اليدين منې تكبيرِ تحريمه خو مسلم دې تكبيرِ تحريمه نه سوا معروف وهابيان چې دې درې ځايه د رفع اليدين قائل دي .
دغه حديث چې په دغه كې مذكور دي چې تاسو ته ما ذكر كړو نو ددې اوله شبهه داده چې :

فليس فيه رفع اليدين بعد الركعتين .
ددوي دعوی داده چې د تكبيرِ تحريمه نه به غير درې ځايه رفع اليدين كيږي حديث د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د بخاري دوه ځايه ثابتوي درې ځايه نشته دې نو په كار داده چې په دې حديث عمل كوي او عاملين بالحديث يې او دعوی د اتباع د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كوي .
نو د بعد الركعتين د رفع اليدين نه توبه اوباسي ځكه چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې روان يې كنه نو ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو روايت مرفوع دا پيش كوي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ركوع نه مخكې او د ركوع نه وروسته رفع اليدين كړې دي .

په دغه تفصيل كې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې كوم مرفوع د رؤيت حديث پيش كوي د حضرت سالم ابن عبدالله د عبدالله په روايت سره دا روايت مرفوع دي اتفاقاً .

نو په دې روايت كې د بعد الركعتين رفع اليدين نشته دي اضطراب متني ته ګورئ اوس دلته دا نشته.

واپس صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۸۸ باب رفع اليدين اذا قام من الركعتين، باب لګيږي هغه باب كې:

حدثنا عبد الاعلى قال حدثنا عبيد الله عن نافع ان ابن عمر رضي الله عنه كان اذا دخل في الصلاة كبر ورفع يديه واذا ركع رفع يديه واذا قال سمع الله لمن حمده رفع يديه واذا قام من الركعتين رفع يديه ورفع ذلك ابن عمر الى نبي الله صلى الله عليه وسلم.

ابن عمر رضي الله عنه دا نبي عليه السلام ته مرفوع كوه او منسوبه وه يې يو ددې حديث له مخكې حديث سره اضطراب راغې هغه حديث كې بعد الركعتين د ابن عمر رضي الله عنه په روايت كې رفع اليدين نشته او دلته په خپل عمل كې بعد الركعتين راغلې.

دويم دا چې ددې حديث په رفع او په وقف كې محدثين اختلاف لري چې دا حديث مرفوع دي كه موقوف دي.

دا دويم روايت ګوري اول روايت د سالم ابن عبد الله دي عن ابن عمر او دويم روايت د نافع دي عن ابن عمر، اول روايت د رؤيت دي رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مرفوع دي اتفاقاً.

دويم روايت دا دی چې ما ابن عمر رضي الله عنه وليدلو هغه به دا عمل كولو يعني ما ابن عمر رضي الله عنه په خپله وليدلو چې دا عمل به يې كولو نو دا موقوف عمل د ابن عمر رضي الله عنه پيش شوې دي دلته.

اولا حجت في الموقوفات د وهابيانو په نزد موقوف كې دليل نشته نو د عبد الله ابن عمر رضي الله عنه په قول كې او په فعل كې دوي ته څنګه دليل پيدا شو د بعد الركعتين د پاره يو صحيح حديث پيش كول په كار دي مرفوع حديث كه څوک وايي چې امام بخاري وايي چې:

رفع ذلك ابن عمر الى نبي الله صلى الله عليه وسلم.

دویم اعتراض :

الاضطراب في السند : دې حدیث کې اضطراب سندي دي ، سنن الکبری للبیهقي جلد ۲ صفحه ۱۳۶ کې لیکي چې ددې په سند کې عبد الاعلی راغلې دي او عبیدالله عن نافع و عبدالاعلی ینفرد برفعه الی النبي ﷺ ، په دې ځای کې د عبید الله چې څو مره شاګردان دي هغه دا حدیث موقوف فعل د ابن عمر رضي الله عنه پیش کوي یو اځې عبد الاعلی دا مرفوع کړې دي نورو مرفوع کړې نه دي .

شرح الزرقاني علی موطأ الامام مالک رحمه الله جلد ۱ صفحه ۲۲۹ کې لیکي :

وقال الاصیلي لم یأخذ به مالك لأن نافعاً وقفه علی ابن عمر رضي الله عنه.

امام مالک په دې حدیث اخذ نه دې کړې ولې نه دي کړې وایي ځکه نافع چې کوم دي داد عبد الله ابن عمر رضي الله عنه موقوف عمل پیش کړې دي ته یې مرفوع نه دې ویلې.

لان سالماً ونافعاً لما اختلفا في رفعه ووقفه ترك مالك في المشهور القول باستحباب ذلك.

هر کله چې د عبد الله ابن عمر رضي الله عنه شاګرد سالم بن عبد الله په لفظ د رأیت رسول الله ﷺ سره مرفوع پیش کوي او دلته ددغې عبد الله ابن عمر رضي الله عنه بل شاګرد حضرت نافع هغه دا موقوف فعل د عبد الله ابن عمر پیش کوي نو ترك مالك ددغې سندي اضطراب له وجې نه چې دا اوس موقوف شو که مرفوع شو پریښودو امام مالک په مشهور قول کې :

القول باستحباب ذلك ، دا یې هم ونه ویل چې رفع الیدین مستحب دي مستحب یې هم ورته وویل ځکه سند کې اضطراب دي ولې :

لان الاصل صیانة الصلاة عن الافعال یعني الخارجیة .

اصل دادی چې باید مانځه کې خارجي او زیات حرکات ونه شي چې ونه شي هله به کیږي چې په مرفوع صحیح حدیث ثابت شي .

حدیث د عبد الله بن عمر رضي الله عنه په بخاري کې دوه راغلي دي دا پاس روایت یعنې اول دلیل ددې دي چې دا مرفوع دي .

لاندې روایت یعنې دویم چې کوم دي :

عن نافع ان ابن عمر كان اذا دخل .

ابن عمر دا کار کړې دي هغه موقوف دي .

اوس امام ابوداؤد همدا حدیث ذکر کوي اختلاف راغې امام بخاري صرف د عبد الاعلی قول ته کتلې دي چې عبدالاعلی د عبید الله نه عن نافع ان ابن عمر دا حدیث بیا مرفوع کړې دي خو د عبید الله باقي شاګردان یې موقوف کوي .

اوس امام ابوداؤد څه وایي ابوداؤد جلد ۱ صفحه ۲۷۰ کې همدا حدیث ذکر کوي:

حدثنا نصر بن علي اخبرنا عبدالاعلى حدثنا عبيدالله عن نافع عن ابن عمر انه كان اذا دخل في الصلاة كبر ورفع يديه واذا ركع واذا قال سمع الله لمن حمده واذا قام من الركعتين رفع يديه ويرفع ذلك الى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال ابوداؤد الصحيح قول ابن عمر وليس بمرفوع .

امام ابوداؤد وایي صحیح داده چې اختلاف خو شوې دي په شاګردانو د عبید الله کې چې بعضو دا مرفوع کړې بعضو موقوف کړې دي خو صحیح دادی چې دا قول د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي وليس بمرفوع ، دا حدیث مرفوع نه دي چې مرفوع نه دي نو وهابیان یې څنګه پیش کوي موقوف خو ددوي په نزد حجت نه دي اصل ددوي دادی چې : لا حجة في الموقوفات ، مرفوع حدیث دې ددې باره کې پیدا کړي اوس وایي .

قال ابوداؤد .... ورواه الثقفي عن عبيدالله اوقفه على ابن عمر .

ثقفي د عبید الله بل شاګرد دي هغه دا حدیث د عبدالله بن عمر موقوف پیش کړې دي .

قال ابوداؤد ورواه الليث بن سعد ومالك وايوب وابن جريج موقوفاً .

اوس د عبید الله څو مره شاګردان شول دا خو یو درس حدیث وي لکه نن صبا یو شیخ الحدیث درس حدیث کوي او په سلګونو شاګردان ناست وي ورته یو شاګرد همدغه کال باندې شاګرد دي هغه له دغه شیخ الحدیث نه حدیث نقلوي رسوي یې سند مرفوع ترې نه جوړوي او دا نور باقي ټول لګیا دي چې نه هغه مونږ ته موقوف بیان کړې دي .

اوس به قول د عبد الاعلی ته ترجیح ورکوي که قول د لیث ابن سعد او مالک ایوب ابن جریج ثقفي ته اوس وایي :

قال ابوداؤد ورواه الليث بن سعد و مالك وايوب وابن جريج موقوفاً.
دا ټول دا حديث پيش كوي.
واسنده حماد بن سلمة وحده عن ايوب ولم يذكر ايوب ومالك الرفع اذا قام من السجدتين يعني من الركعتين.

د هغه په سند كې بالكل د غه الفاظ نشته: اذا قام من الركعتين.
خلاصه دا ده چې اول سند ددوي مرفوع دي خو ددوي په دعوى دال نه دي ولې دعوى عامه ده دليل خاص دي دعوى د دري ځايه د رفع اليدين قول دي په دليل كې دوه ځايه رفع اليدين ثابتيږي قبل الركوع بعد الركوع بعد الركعتين چيلنج وركړي وهابيانو ته چې بخاري كې وښايه مونږ ته كه د بعد الركعتين لپاره دويم ركعت پيش كوي نو هغې كې ترجيح دې لره ده چې هغه فقط عبدالاعلى رفع د هغې كړې ده باقي مالک ليث بن سعد ايوب ابن جريج ثقفي دا ټول دغه روايت موقوف پيش كوي او امام ابوداؤد ترجيح هم دې ته وركوي چې:
قال ابوداؤد الصحيح قول ابن عمر وليس بمرفوع.
او مرفوع چې نه شي د وهابيانو په نزد حجت نه دي لا حجة في الموقوفات دا ددوي اصل دي.
دارنګې عمدة القاري جلد ۹ صفحه ۱۵:
ورواه أبوداؤد في سننه في الصلاة عن نصر بن علي عنه أتم من الأول وعن القعنبي عن مالك عن نافع نحوه ولم يرفعه. مرفوع كړې نه دي.
وقال ابوداؤد الصحيح قول ابن عمر وليس بمرفوع ورواه القعنبي يعني عبدالوهاب عن عبيدالله وأوقفه وكذا رواه الليث عن سعد وابن جريج عن نافع موقوفاً وحكى الدار قطني في العلل الاختلاف في رفعه ووقفه.
خلاصه دا ده چې دې كې لوي اختلاف دي او يو اځې دوي نه بلكې د وهابيانو سركرده وو هم دا تسليمه كړې ده چې دويم روايت كې ترجيح وقف ته ده.

الباني ناصر الدين ضعيف سنن ابي داؤد صفحه ۷۲ باندې ترجيح وركوي وقف ددې حديث لره او تائيد د امام ابي داؤد كوي چې امام ابي داؤد قول په دې ځای كې راجح دي له امام بخاري نه چې هغه دا مرفوع ګڼلي له وجهې د سند د عبد الاعلى نه او باقي متعددو رواتو ته يې نه دي كتلي چې دا يې موقوف كړې دي.

دارنګې امام ولي الدين العراقي په طرح التدريب صفحه ۲۶۲ كې د امام ابي داؤد قول نقل كړې دي چې صحيح داده چې دا موقوف دي مرفوع نه دي.

دارنګې نيل الاوطار جلد ۲ صفحه ۲۰۴ قاضي شوكاني چې دا هم د اهل حديثو نه دي هغه هم ترجيح قول د امام ابو داؤد لره وركړې ده چې حديث د ابن عمر ثاني چې دي دا موقوف دي مرفوع نه دي.

ضعفاء الكبير جلد ۲ صفحه ۶۸ باندې امام عقيلي وقف ددې حديث ته بهتري او ترجيح وركړې ده.

دارنګې موطأ امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ صفحه ۸۹ باندې امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ د غه حديث د امام مالك نه په خپل سند سره موقوف پيش كړې دي.

دارنګې موطأ امام مالك جلد ۱ صفحه ۶۱، امام مالك رَحِمَهُ اللَّهُ د غه حديث په سند د نافع سره موقوف پيش كړې دي.

دا حديث اول مرفوع دي د سالم بن عبد الله عن عبد الله بن عمر په هغې كې د بعد الركعتين رفع نشته.

حديث ثاني چې امام بخاري ذكر كړې دي د غلته د عمده محققينو محدثينو رايه د وقف ده د رفعې نه ده داد ابن عمر خپل عمل دي هغه حجت دوي ته نه شي جوړيدلې خو بعد الركعتين رفعې باندې دې اهل حديث صحيح حديث پيدا كړي او مفصل حديث چې د غه قول په كې ذكر شوې وي.

اوس مونږ وايو چې د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په رفع اليدين كې ۷ طريقې مروي دي او اكثر سند و نه صحيح دي هغې كې داسې روايات شته دي خصم وهابيان يې نه مني خو د ابن عمر نه مروي دي په صحيح سند باندې.

هغه ځای کې چې د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حديث نه اهل حديث چې کوم جواب لري همغه جواب زمونږ د بخاري نه دي بيا .

المعجم الاوسط جلد ۱ صفحه ۹ :

حدثنا احمد بن عبدالوهاب قال حدثنا ابي قال حدثنا الجراح بن مليح عن ارطاة بن المنذر عن نافع عن ابن عمر أن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يرفع يديه عند التكبير للركوع وعند التكبير حين يهوي ساجداً.

کله به چې سجدي ته کوزيدو نو رفع اليدين به يې کول .

ګوره د بخاري روايت په دې دال شو چې رکوع ته کوزيږي او رکوع نه پورته کيږي رفع اليدين دي او دا روايت د معجم الاوسط چې کوم دي په دې دال دي چې کله دې سجدې ته کوزيږي نو هغه وخت کې رفع اليدين کړې دي .

دوه ځايه په اول روايت کې د ابن عمر مرفوع روايت کې ثابت شو **بعد الرکعتين .**

په موقوف روايت د ابن عمر کې ثابت شو کله چې سجدي ته کوزيږي روايت د نافع د ابن عمر نه د معجم الاوسط په هغې کې ثابت شو .

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۷۱ :

حدثنا ابو اسامة عن عبيدالله عن نافع عن ابن عمر انه کان يرفع يديه اذا رفع رأسه من السجدة الاولی .

د اولې سجدې نه د رفعې په وخت کې به ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رفع اليدين کول .

ولې اوس وهابيان نه کوي چې د ابن عمر قول نه دين او مذهب جوړ شي او نور هر څه پرې رد شي او بيا دده په مقابله کې د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غوندې اشخاصو قول ته و نه کتلې شي نو ده خو :

اذا رفع رأسه من السجدة الاولی .

دا سند صحيح دي هيڅ قسم جرحه په دې باندې نشته د اولې سجدې نه د رفعې په وخت کې رفع اليدين ثابت شول .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۷۱ :

حدثنا ابن عيينة عن الزهري عن سالم عن ابيه قال رأيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا يرفع يديه بين السجدتين.

اوس دا تعارض دي او که نه دي هغلته ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپله د سجدي اولی نه رفع کې رفع اليدين کوي او هلته وايي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بين سجدتين رفع اليدين نه دي کړي.

دا رنګې بيان الوهم والايهام في كتاب الاحكام جلد ۵ صفحه ۶۱۳:

وقال الطحاوي حدثنا نصر بن علي حدثنا عبدالاعلى حدثنا عبيدالله عن نافع عن ابن عمر انه كان يرفع يديه في كل خفض ورفع.

همغه د امام بخاري سند دي امام طحاوي خپل شيخ پيش کوي عبد الاعلى ته يې رسوي، هر کوزيدو او جيګيدو کې به يې رفع اليدين کول رکوع ته کوزيدل يې يو پورته کيدل يې دوه سجدې ته تلل يې دري بيا پورته کيدل څلور بيا کوزيدل پنځه بيا پورته کيدل شپږ.

دا حديث دا ثابتوي چې شپږ ځايه عبد الله ابن عمر رفع اليدين کړې دي.

وركوع وسجود وقيام وقعود بين السجدتين ويذكر ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يفعل ذلك.

اضطراب سندي نور څه ته ويل کيږي وهابيان دې نه څه جواب کوي واي نه دا خو بعضې اوقاتو کې يو راوي مجمل روايت پيش کړې وي بيا يې مفصل پيش کړې دي دې ته اضطراب نه وايي که اضطراب نه وايي بيا په دې حديث عامل شه سند کې جرحه نشته د طحاوي په سند دې څوک جرحه پيش کړي د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په د غه حديث چې په **كل خفض ورفع** کې ځکه دا سند بعينه سند د امام بخاري دي رجال ټول هماغه رجال دي نو بيا عمل پرې ولې نه کوي.

عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو دا مرفوع کړې دي الى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **كان يفعل ذلك** کنه که د اضطراب له وجې نه چې اضطراب متني راغلې دي چې حديث متروک شوې له جانبينو دا اضطراب خپله يو ضعف دي يو حديث به د سند په لحاظ ضعيف وي دا حديث د سند په

لحاظ ضعيف نه دي قوي دي دا كل سند و نه قوي دي ولې د متن د اضطراب په لحاظ باندې ضعيف دي او س دې كې كوم باندې عمل كوي .

دا خو د وهابيانو رايه هم نه ده چې ركوع ته كوزيږه بيا پورته كيږه بيا سجدې ته ما بين سجدتين دا د هيچا هم رايه نه ده .

نو خلاصه دا چې د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه د بخاري په اول حديث كې دوه ځايه رفع اليدين په ثاني حديث كې درې ځايه رفع اليدين د معجم الاوسط كې چې سجدې ته ځي نو څلور ځايه رفع اليدين د ابن ابي شيبة په روايت كې د اولې سجدې نه پورته كيدو كې شوې دي پنځه ځايه رفع اليدين .

او آخري روايت د طحاوي په دې دالِ دي چې اوه (۷) ځايه رفع اليدين شوې دي او ټول مرفوع روايت پيش كوي كوم يو موقوف دي نور اكثر مرفوع روايت پيش كوي .

نو ستاسو ذهن په دې خلاصوم چې داسې نه وه چې امام مالك رَحِمَهُ اللَّهُ رَحِمَهُ اللَّهُ ته دا حديث نه وه رسيدلې يا امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ د حديثو نه نه وه خبر ، خبر وه تاسو نه ګورې د امام اوزاعي مناظره د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ سره چې حديث د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يې پيش كړو هغه ورته مقابله كې د خپل سند حديث د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پيش كړو نو دلته خو دا هم څوك نه شي ويلې چې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته حديث نه وه رسيدلې اكثر خلك دا خبره كوي چې ده ته به حديث نه وي رسيدلې ځكه به يې د رفع اليدين نه انكار كوي.

د امام اوزاعي رَحِمَهُ اللَّهُ په مناظره كې خو ورته حديث پيش شو كنه نو بيا يې ترجيح سند د فقه الرواة ته ورنه كړه چې زما ددې سند رواة چې كوم دي ټول فقهاء دي او ته چې كوم پيش كوي محدثين پيش كوي د محدث قول كله د فقيه قول ته رسيدې شي بيا په داسې جزي فرعي مسائلو كې .

نو اوله خبره داده چې دا حديث مضطرب دي متناً او ددې صحيح رواياتو باندې د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه متعدد و ځايونو كې رفع اليدين ثابت دي وهابيان يې خپله هم نه كوي هغه روايت نه چې وهابيان څه جواب د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه كوي همغه جواب زمونږ هم دي دوي څه وايي تا په ابتداء كې اوه (۷) ځايه رفع اليد كيدل بيا ٦ شول بيا منسوخ شو ۵ ته راغلل بيا ۴ ته راغلل بيا آخر د بخاري روايت ته راځي چې دا درې ځايه پاتې دي نور ختم شوې دي نو في

الجمله د نسخې قول خو تاسو هم وکړو کنه که د نسخې قول و نه کړي نو د هر کوزيدو او جيګيدو کې به رفع اليدين کوي بيا نو چې هر کله د في الجمله نسخې قول تاسو هم وکړو او صراحت د نسخې نشته خو له دې وروستي روايا تو د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مخکني هغه روايت چې کومو کې زيات راغلي منسوخ مو وګڼل.

نو دغه شان ته روايات د هغه خپله د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه به مونږ وروسته تاسو ته پيش کړو چې امام مجاهد صحيح سند سره نقل کوي چې هغه رفع اليدين په خپله هم نه دي کړي عمل د راوي چې د قول د راوي مخالف وخيژي دليل د نسخې د قول د راوي وي.

بهر حال احناف دې کې دوه ډلې دي يو جماعت لکه امام طحاوي ترجيح نسخې ته ورکوي چې دا وه خو اوس منسوخ شوې دي خو اکثر محققين احناف چې کوم دي د نسخې قول هم نه کوي بلکې هغوي وايي چې دا خلاف اولى دي ثابت دي مذهبين پرې قائل دي محدثين دي خو خلاف اولى دي.

دا اضطراب چې مونږ کوم بيان کړو نو دا اضطراب متني وه.

(۲) الاضطراب في السند: سند کې اضطراب دي:

هغه مخکې تاسو ته ما بيان کړو په وقف او په رفعې د حديث کې اضطراب دي چې دا حديث موقوف دي که مرفوع.

امام بخاري ترجيح سند د عبد الاعلى ته ورکوي او مرفوع کوي يې او امام ابي داؤد نورو متعددو رواتو له وجې نه دا حديث موقوف ګڼي.

فلذا ترکه مالك. په امام ابو حنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ خو به دا اعتراض خلک وکړي چې حديثونه خبر نه وه عياذاً بالله په هغه خو ډير ډاډه ورځي په امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ خو دا هم نه شي ويلې هغه خو په حديثو کې معروف دي.

چې څومره سندونه دي په امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ ورځي امام مالک ابن شهاب الزهري دا چند اشخاص چې کوم دي دا مداروي محدثين وايي چې سند امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ ته ورسيده نو مخکې يې مه لټوه چون چرا مه کوه چې سند ضعيف نه وي زه يې لټوم.

امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ چې راغې هغې نه بعد سند خپله قوي دي په دې محدثين اتفاق لري اوس امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ له دو مره حفظ الحديث سره دا حديث ولې نه قبلوي عمل پرې ولې نه کوي مذهب پرې ولې نه جوړوي.

المدونة الكبرى د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ خپل تصنيف دي دا ددې لپاره زه دا حواله ذکر کوم چې کيدې شي تاسو د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ هغه غيرِ معروف قول بعضې شوافعو را اخيستې دا په هر مذهب کې داسې خلک شته دي چې په چا فقه غالبه ده د مذهب تائيد او په چا باندې حديث غالب شوې دي لکه زمونږ دې فقهاو کې تاسو وګوري په چا فقه غالبه ده هغه ډير زور لګوي چې د خپل امام قول چې په هر قيمت وي هغه ثابت کړي ليکن يو سړي به حنفي وي او په هغه باندې به حديث غالب شوې يې هغه بيا خروج کوي بعضې اوقاتو کې چې هلته صحيح آحاديث وګوري دلته جواب پيدا نه کړي بيا ورو هغه خبره سسته کړي دغه شان شاه انور شاه کشميري رَحِمَهُ اللَّهُ دا کلک حنفي دي او مضبوط حنفي دي.

خو ګوري حديث پرې غالب دي فقه پرې غالبه نه ده په ده حديث غالب دې چې کوم ځای کې اخوا ته صحيح سند ونه وګوري او څه لاره پيدا نه کړي بيا ورو نو رمال چليږي هلته هغه طرف ته بيا ميلان لري يا لکه محمود آلوسي محمود آلوسي باندې تفسير آحاديث غالب وه په دې وجه باندې دې په ډيرو ځايونو کې صفا الفاظو سره وايي چې زه ړوند مقلد نه يمه دې وخت کې ما د امام صاحب مذهب پريښې دي خروج ترې نه کوي.

د **الايمان يزيد وينقص** په باب کې **زادتهم ايماناً** دې ځای باندې تاسو وګورئ محمود آلوسي اقرار کوي چې زه دې کې تقليد نه شم کولې ما د امام صاحب مذهب پريښې دي خروج يې ترې کړي نو بعضې داسې دي چې په هغوي حديث غالب دي هغوي بيا خروج کوي دغه شان په موالکو کې هم شته چې کومو باندې فقه غالبه وي هغوي د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ اصلي قول نقل کړې دي خو داسې هم شته چې هغوي باندې حديث غالب شوې دي هغوي بيا دې بل اړخ ته رجوع کړې ده.

نو وهابيان خلکو ته دا وايي چې دا د دري مذهبونو فيصله ده نو دا غلطه ده دا د دوه مذهبونو فيصله ده دوه مذهبه چې امام مالک دي او امام ابو حنيفه رَحِمَهُمَا اللَّهُ دي دوي د ترک د **رفع اليدين** قائل دي او هر سړې دې ګريوان کې سر ټيټ کړي چې آيا فقه د امام شافعي

رَحِمَهُ اللَّهُ او د امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ فقاهت ددې دواړو د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مقام ته رسيدي شي د هغوي فقه دوي ته کله رسيدلې شي.

صحيح ده په فن د حديثو کې که شي په څلورو آئمه وو کې په حفظ الحديث کې شهرت اوله مرتبه کې د امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ وه ابن تيميه وايي زه امام احمد پسې ځکه لاړمه چې دې د حديث غټ جامع دي په دې ټولو کې دويمه مرتبه کې امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دي دريمه مرتبه کې امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ دي څلورمه مرتبه کې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ دي خو که د فقهې باب ته بيا راغلې نو اوله مرتبه کې امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ دي دويم امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ دي دريم امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دي څلورم امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ.

نو المدونة الكبرى جلد ۱ صفحه ۱۶۵ کې امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ وايي:

قال مالك لا اعرف رفع اليدين في شيء من تكبير الصلاة لا في خفض ولا في رفع الا في افتتاح الصلاة يرفع يديه شيئاً خفيفاً.

هغه وايي زه رفع اليدين په تکبيرونو د مانځه کې کوزيدو پورته کيدو کې په يوه کې هم لا اعرف نه پيژنم دې کې ما ته څه معروف حديث نه دي ثابت نو نه به او چتوي لاسونه مګر په اول تکبير کې او په اول تکبير کې به يې هم شيء خفيف اوچتوي هلته دې هم وايي ډير زيات اوچتوي نه.

شرح الزرقاني على موطأ امام مالک جلد ۱ صفحه ۲۲۹:

وقال الاصيلي لم يأخذ به مالك لان نافعاً وقفه على ابن عمر.

روايت د ابن عمر باندې امام مالک اخذ نه دي کړي ځکه نافع دا موقوف د ابن عمر پيش کړي.

المدونة الكبرى جلد ۱ صفحه ۱۶۵ کې د ابن القاسم قول نقلوي:

وكان رفع اليدين عند مالك ضعيفاً الا في تكبيرة الاحرام. د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد رفع اليدين ضعيف وه مګر په تکبير احرام کې دا مې دې د پاره پيش کړل چې دوي دا خبره کوي چې د جمهورو مذهب رفع اليدين دي غلطه ده جمهور خو دې ته نه وايي چې ۵ يا ۶ محدثين پرې راغونډ شي جمهور په ۴ مذاهبو کې چې ۳ يو خوا ته راشي دا جمهور دي دغه

يو يې مخالف راشي نو دلته خو دوه مذهب د ترک قائل شول امام مالک رَحِمَهُ اللهُ امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دوه مذهبو قول وکړو .

له دې وجې نه هغه غير معروف قول چې کوم د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ نقليږي او بعضې مقلدينو د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ پيش کړې دي هغې ته به هيڅ التفات نه شي کولې ځکه که دغې ته التفات واي نو امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ د هر چا نه د آئمه وو په مذاهبو ښه پوهيږي او هغه چې دې ځای ته راشي نو وايي دا مذهب د امام شافعي او د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دي ولې نه وايي چې مذهب د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ هم دي خو مذهب د امام مالک نه وه هغه ته معلومه وه چې د امام مالک قول معروف دغه دي چې رفع اليدين به نه کيږي .

او بل دا چې المدونة الکبرى د امام مالک خپل تصنيف کې هغه وايي زه په رفع او خفض کې رفع اليدين نه پيژنم نو بيا د هغه يو مقلد را پورته کيږي او د هغه په امام يوه خبره تپي نو دا به بيا بې ځايه وي کنه کيدې شي د فقه مالکي په بعضې کتبو کې چې چا باندې حديث غالب شوې يې د محدثينو غلبه پرې راغلې وي هغه د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ مذهب ته دې ته رجحان ورکړې وي وي به داسې عبارت خو هغې ته به اعتبار نه وي.

نو يو متناً اضطراب شو ، دويم سنداً اضطراب شو .

دريم ومع ذلك عمل ابن عمر يخالف روايته . د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل د دې مخالف دي ، مونږ ښايو چې ابن عمر د دې خلاف عمل کړې دي .

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۷ :

حدثنا ابوبكر بن عياش عن حصين عن مجاهد قال ما رأيت ابن عمر يرفع يديه الا في اول ما يفتتح .

ما نه دي ليدلې ابن عمر چې رفع اليدين کړې وي مګر په اول هغه کې چې ده به شروع کوله .

همدا روايت امام طحاوي را اخيستې دي او امام طحاوي دا دليل د نسخې ګرځولې دي هغه ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې حديث مرفوع مونږ ته پيش کوي د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا خپل عمل ولې خلاف د هغې صادروي وايي دا دليل د دې دي چې دا ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د

رفع اليدين نسخه نه وه ثابت شوې قول يې پرې کړې وه چې کله نسخه ورته ثابته شوه نو د هغې عمل نه يې رجوع کړې ده ترک طرف ته يې ذهاب کړې دي.

دا حديث د سند په لحاظ باندې ابوبکر بن عياش په هغه باندې ثقه دي خو روايت د غير شامينو بعضې خلک څه خبره کوي د تائيد لپاره زه دويم روايت پيش کوم:

الموطأ د امام محمد جلد ۱ صفحه ۱۸۳:

قال محمد اخبرنا محمد بن ابان بن صالح عن عبدالعزيز بن حکيم قال رأيت ابن عمر يرفع يديه حذاء أذنيه في أول تکبيرة افتتاح الصلاة ولم يرفعهما فيما سوى ذلك.

ما ابن عمر رضي الله عنه وليده چې تکبير افتتاح نه غير رفع اليدين نه دي کړي نو امام مجاهد په دې کې متفرد نه دي بلکې صالح بن عبدالعزيز بن حکيم ورسره متابع دي په دې کې او هغه معي دي ورسره په دې قول کې چې رفع اليدين يې نه دي کړي.

عمدة القاري شرح صحيح البخاري جلد ۹ صفحه ۸ کې دا روايت پيش کوي:

واخرجه ايضاً ابن ابي شيبة في مصنفه حدثنا ابوبکر بن عياش عن حصين عن مجاهد قال ما رأيت ابن عمر يرفع يديه الا في اول ما يفتتح.

خصم واي جواب کې وايي چې:

هذا حديث منکر.

يعني دا د معروف مقابله کې راغلې دي ځکه:

لان طاؤساً قد ذکر انه رأى ابن عمر يفعل ما يوافق ما روى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم من ذلك.

طاوس وايي چې ما ابن عمر وليدلو چې رفع اليدين يې وکړل هغه شان چې کوم مرفوع روايت کې بيان کړې دي.

قلنا: مونږ وايو.

يجوز ان يکون ابن عمر فعل ما رواه طاووس يفعله.

هغه وخت کې دا کار کړې وه.

قبل ان تقوم الحجة عنده بنسخة .

چې د نسخې دليل ورسره نه وه .

ثم قامت الحجة عنده بنسخه فتركه وفعل ما ذكره عنه مجاهد .

دا عمل بيا وروسته ترې صادر دي د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د رفع اليدين رد هم ثابتيږي او ددې قول چې په آخره کې ده نه دې کړي او ددې مخالفت يې هم کړې دي .

ميزان الاعتدال جلد ۱ صفحه ۳۱۵ خپل سند سره د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت پيش کوي :

قال رأيتكم ورفع ايديكم في الصلاة والله انها لبدعة ما رأيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فعل هذا قط .

تاسو ته گورم چې لاسونه اوچتوي په مانځه کې قسم بالله دا بدعت راته بنکاري ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دي ليدلې چې دا کاريې کړې وي .

اوس دا روايت د هغې ځومره معارض دي .

نصب الرأية جلد ۱ صفحه ۴۰۴ :

اخرجه البيهقي في الخلافيات عن عبدالله بن عون الخراز قال حدثنا مالك عن الزهري عن سالم عن ابن عمر أن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يرفع يديه اذا افتتح الصلاة ثم لا يعود .

بيا به يې دا عمل نه کوه .

اوس د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایاتو سره څه کوي هغه چې کومو کې ثبوت راغلې هغلته ځومره تعارض دي او دلته په مقابله کې ترې نه مخالف روایاتو ته وګوره چې هغه وايي نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيا نه دي کړې .

والشعبي لقي ۵۰۰ من الصحابة ومع ذلك لا يرفع يديه .

امام شعبي رَحِمَهُ اللهُ ۵۰۰ صحابه وو سره ملاقات کړې دي او رفع اليدين به يې نه کول .

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۶ – ۶۳۶ :

حدثنا ابن مبارك عن اشعث عن الشعبي انه كان يرفع يديه في اول التكبيرة ثم لا يرفعهما .

او دده تاريخ کې دا معروفه ده چې ده د ۵۰۰ صحابه وو ملاقات کړې دي .

تنبیه : یوه آګاهي ده :

دا شان بې ځایه اعتراضات دوي یې کوي نو مونږ یې هم په دې خبرو راوستلو ګنې زمونږ حنفیان تطبیق لټوي هغه تطبیق دغه دي چې د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا روایت کې انتهائي تعارض دي او دې کې سړي نه شي کولې چې یو را واخلي معمول به وګرځوي او بل دده دا عمل په مقابل د عمل د عبدالله مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کې به څه مرتبت ولري.

دده روایت مقابله روایت د عبدالله ابن عمر نه شي کولې ځکه د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عمر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د وفات په وخت کې ۳۵ کاله دي او دده ۱۸ کاله دي دې د ځوانانو نه دي او یا د هلکانو نه دي او هغه د پخو عمر والا نه دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به فرمایل ما ته خاوندان د عقل او مشران په صف کې مخکې اودریږي نو عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مخکې درېدونکي انسان دي او عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وروسته درېدونکي انسان دي.

دده روایت مقابله د روایت د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه شي کولې کوم چې له استدلالاتو د احنافو نه دي خو چونکې دوي په مونږ باندې بعضې داسې اعتراضونه کوي لکه د آمین بالجهر مسئله کې څه احادیث او روایات لرو نو په هغې کې شعیب الارنووط او الباني لګیدلي دي نوره څه لاره ورسره نه ده پیدا شوې.

نو جواب یې کړې وای دا روایت د حسن دي او عنعن یې کړې ده او حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ مدلس دي او س ددوي په حسن بصري هم اعتراض دي بنه څه کوي ورسره نو دغه شان اعتراض په دوي هم کیږي د مصنف ابن ابي شیبة جلد ۱ صفحه ۲۷۱ کې چې کوم حدیث مخکې تیر شو :

لا یرفع یدیه بین السجدتین.

په هغې کې زهري د سالم نه په عن سره روایت کړې دي نو هغه دا چې:

روایة البخاري من الزهري وهو مدلس وقد عنعن.

زهري په خپله هم مدلس دي عنعن یې کړې ده نو دوي چې زمونږ د حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ په اقوالو اعتراض کوي مونږ به ددوي د زهري په اقوالو اعتراض وکړو خو دا اعتراض بې ځایه دي.

دا دوي اهل حديثو کې د رفع اليدين يو مخالف پيدا شوې دي هغه په خپله کړې دي د هغوي په کتاب کې مې وليده واي چې دوي د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت ته صحيح وايي دا کله صحيح کيدې شي ددې په سند کې زُهري راغلي او هغه مدلس دي عنعن يې کړې ده.

دويم روايت :

دويم روايت ددوي هغه روايت د مالک بن الحويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي صحيح مسلم را اخيستې جلد ۲ صفحه ۷ کې :

حدثنا يحيٰ بن يحيى اخبرنا خالد بن عبدالله عن خالد عن أبي قلابة انه رأى مالك بن الحويرث اذا صلى كبر ثم رفع يديه واذا اراد ان يركع رفع يديه واذا رفع رأسه من الركوع رفع يديه

وحدث. بيان يې دا کوه.

ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **كان يفعل هكذا**.

ايرادات :

(۱) **ليس فيه رفع اليدين بعد الركعتين**.

دعوى دې عامه ده دليل دې خاص دي دعوى دې دري ځايه رفع اليدين دي دليل دې دوه ځايه ثابتوي.

(۲) **فيه اضطراب متناً**. دې کې اضطراب دي متناً.

سنن النسائي جلد ۲ صفحه ۲۰۵ :

اخبرنا محمد بن المثنى قال حدثنا بن ابي عدي عن شعبة عن قتادة عن نصر بن عاصم عن مالك بن الحويرث انه رأى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **رفع يديه في صلاته واذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع واذا سجد واذا رفع رأسه من السجود حتى يحاذي بهما فروع اذنيه**.

پاس حديث د مسلم کې دوه ځايه رفع اليدين رکوع نه پورته کيدو او رکوع ته د کوزيدو په وخت کې په روايت د نسائي کې څلور ځايه رفع اليدين د مالک بن حويرث په

روايت کې دي کله چې سجدې ته کوزېږي او کله چې د سجدې نه پورته کېږي رفع اليدين يې کړې دي.

قال الشيخ الالباني صحيح. دا حديث هم صحيح دي.

دا اعتراض نه شي کولی چې روايت د مسلم صحيح دي او دا ګڼې ضعيف دي زه يې نه منم نه د سند په لحاظ دا هم صحيح دي اوس چې څه جواب ستا له د غه حديث نه وي هماغه جواب زمونږ ستا د روايت د مالک بن حويرث د مسلم د روايت نه دي خو قول به کوي په دې دوه ځايه کې د نسخې کنه چې د نسخې قول ونه کړي بله لار درسره نشته، دا روايت شرح مشکل الآثار جلد ۱۵ صفحه ۵۷ کې هم ذکر کړې دي.

(۳) التحقيق في رواية وائل بن حجر رضي الله عنه:

سنن النسائي جلد ۲ صفحه ۱۲۶:

اخبرنا سويد بن نصر قال انبأنا عبدالله بن المبارك عن زائدة قال حدثنا عاصم بن كليب قال حدثني ابي ان وائل بن حجر اخبره قال قلت لأنظرن الى صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم كيف يصلي فنظرت اليه فقام فكبر ورفع يديه حتى حاذتا باذنيه ثم وضع يده اليمنى على كفه اليسرى.

بيا يې کيڼ خوا ته خي لاس په کف يسرى باندې او په مړوند باندې او په ساعد باندې.

فلما اراد ان يركع. هر کله يې چې اراده وکړه چې رکوع وکړي.

رفع يديه مثلها. بيا يې لاسونه اوچت کړل.

قال ووضع يديه على ركبتيه ثم لما رفع رأسه رفع يديه مثلها ثم سجد فجعل كفيه بحذاء اذنيه ثم قعد وافترش رجله اليسرى.

دا هغه دريم استدلال ددوي دي معروف حديث دي چې دوي يې استدلال کې پيش کوي.

(۱) **ليس فيه رفع اليدين بعد الركعتين.** دليل دي خاص دی دعوی دې عامه ده دعوی دې دري ځايه رفع اليدين دی په حديث کې بعد الركعتين رفع اليدين نشته.

(۲) **فيه و رفع يديه حتى حاذتا باذنيه**. لاسونه يې اوچت کړه تر دې چې برابر شو نرمي د غوږونو سره.

وهابي کاکا ته ددې قائل يې او که نه څنګه نيم حديث مني او نيم نه مني د وائل ابن حجر روايت مونږ ته پيش کوي او بيا خپله ددې عمل موافق نه يې لاس اوچت کړه غوږونو ته کنه ته خو يې اوږو پورې اوچتوي کنه او که وايي نه هغه حديث دې نه قوي دې خو دا ضعيف شو کنه نو بيا ترې دغه تکړه څنګه قوي پاتې شوه د رفع اليدين باره کې څنګه قوي پاتې شو.

شحمتي الأذنين محاذات کې رفع د ايديو هلته ضعيف شو نو په دې جمله کې بيا څنګه قوي پاتې شو قوت او ضعف خو په اعتبار د سند سره وي کنه سند خو يو دي نو په دې کې رفع د يدينو **حتى حاذتا باذنيه هل انتم قائلون بذلك**.

آيا دا ستاسو قول دي چې نرميو د غوږونو ته به لاس اوچت شي.

(۳) **فيه وضع يده اليمنى على كفه اليسرى والرسغ**. په دې کې دا راغلل چې ښي لاس به د چپ لاس په کف باندې کيږدي **هل انتم قائلون بذلك**.

دا حديث خو په تا رد کوي څو مره ځايونو کې رد درباندې وکړو.

(۴) **فيه ثم قعد وافترش رجله اليسرى**. کيناسته او چپه خپه يې فرش کړه نصب د يمنى يې وکړو **هل انتم قائلون بذلك**.

دوي خو د ښځو په شان د کوناتې د ايستلو قائل دي چې يو طرف ته به خپې اوباسي او کيني به او دلته حديث ددې دال دي چې نه افتراش د يسرى راغلې نصب د يمنى راغلې په دې شکل ناسته ده نو دا حديث خو څو ځايه کې مذهب حنفي ته تائيد ورکوي.

حاذتا باذنيه. دا حنفي تائيد دي.

وضع د يد يمنى په كيف يسرى باندې داد حنفي مذهب تائيد دي.

او **ثم قعد وافترش رجله اليسرى**. داد حنفي مذهب تائيد دي.

اصلي جواب له دغې تکړې نه چې دې کې **رفع اليدين** راغلل او تاسې يې نه کوي نو مونږ وايو:

فيه اضطراب . په دې کې اضطراب شته :
سنن الدار قطني جلد ۲ صفحه ۴۴:

حدثنا احمد بن عبدالله الوكيل حدثنا الحسن بن عرفة حدثنا هشيم عن حصين ح وحدثنا القاضي الحسين بن اسماعيل وعثمان بن محمد بن جعفر قالا حدثنا يوسف بن موسى حدثنا جرير عن حصين بن عبدالرحمن قال دخلنا على ابراهيم فحدثه عمرو بن مرة قال صلينا في مسجد الحضرميين فحدثني علقمة بن وائل عن ابيه انه رأى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يرفع يديه حين يفتتح الصلاة واذا ركع واذا سجد . کله به چې سجدې ته تلو رفع اليدين به يې کول .

دا ددوي قول نه دي له مخکې حديث سره اضطراب دي .

فقال ابراهيم . ابراهيم نخعي ورته وايي .

ما ارى أباك راى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . حضرت علقمه ته وايي گمان مې نه دي پلار ستا باندې چې وائل بن حجر دي چې ده به ليدلې وي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

الا ذلك اليوم الواحد . دغه يوه ورځ يې ليدلي دي او عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

لم يحفظ ذلك منه ثم قال ابراهيم انما رفع اليدين عند افتتاح الصلاة .

دې مجلس کې ابراهيم النخعي ناست دي هغه دې علقمه ته وايي ستا پلار به نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به يو ځل ليدلې وي .

او عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۵۰ ځل ليدلې دي هغه دا حديث ياد نه کړو د رفع اليدين نې ستا پلار يې پيش کوي نو بيا خلکو ته ابراهيم النخعي وويل چې دا په اول تکبير کې رفع اليدين دي نور نشته دا حديث صحيح دي د سند په لحاظ دا هغه حديث د نسائي سره اضطراب دي هغلته د سجدې په حالت کې رفع اليدين نشته دي او دلته دا ذکر کوي چې :

اذا ركع واذا سجد . کله به چې سجدې ته تللو او دا مذهب د وهابيانو نه دي .
دارنګې شرح مشكل الآثار جلد ۱۵ صفحه ۳۷ :

حدثنا بكار بن قتيبة حدثنا مؤمل بن اسماعيل حدثنا سفيان عن المغيرة قال قلت لابراهيم حديث وائل انه رأى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ما ورته دا حديث پيش کړو چې دې وايي ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ليدلی .

يرفع يديه اذا افتتح الصلاة واذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع فقال ان كان وائل رآه مرة فقد رآه عبدالله خمسين مرة .

که وائل چيرته ليدلې وي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو ځل عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پنځوس ځل ليدلې دي چې **لا يفعل ذلك** ، دا يې نه دي کړې .

فاحتملنا هذا عن ابراهيم وان كان لم يذكر من بينه وبين عبدالله فيه . که ته وايي چې دا قول ابراهيم د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نقلوي نو دې مينځ کې سند کوم دي.

لما قد ذكرناه في غير هذا الموضع من كتابنا من قوله للاعمش جوابا له عن قوله . داعمش ته ويلې وه .

اذا حدثني فأسند بان قال له اذا قلت لك قال عبدالله فلم اقل ذلك حتى حدثنيه عنه جماعة .

ابراهيم النخعي اعمش ته وايي که ما درته وويل چې قال عبد الله نو دا به هغه وخت کې زه وايمه چې د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه ما ته ډېرو خلقو دا روايات رسولې وي .

واذا قلت حدثني فلان عن عبدالله فهو الذي حدثني .

نو چې هر کله ده دلته دا خبره پيش کړه :

فقد رآه عبدالله خمسين مرة حدثني فلان يې و نه ويل ډارک حواله يې د عبد الله ورکړه نو امام طحاوي دې نه استدلال کوي چې دا ده په نزد باندې د جمع غفيرې **عن عبدالله** دا خبره ثابته ده .

په دې ځای کې دوي دا اعتراض کوي چې ابراهيم النخعي له عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره ملاقات خو نه دي شوې دې څنګه وايي چې فقد رآه عبد الله ددې خبرې سند په کار دي .

نو د هغې جواب امام طحاوي کوي چې ده امام اعمش ته ويلې وه چې کله ما تا ته قال

عبدالله وویل ډار ک حواله د عبدالله مې درکړه نو دا به هغه وخت کې وي چې ما به یوې غټې ډلې د هغې نه روایت کړې وي ما ته به یې ویلې وي نو زه د کثرت له وجې نه نو مونه پرېږدمه او قال عبدالله وایمه .

او چې کله حدثني فلان عن عبدالله و وایمه نو بیا به هغه خاص سړي یو کس به روایت کړې وي .

عمدة القاري جلد ۹ صفحه ۹ کې وایي که چیرته خصم دلیل پیش کړي د وائل ابن حجر چې رأیت رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یرفع یدیه دا حدیث پیش کړي .

جواب یې دادی چې :

انه ضاده ما رواه ابراهیم النخعي عن عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انه لم یکن رأی النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فعبدالله اقدم صحبة لرسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ داد صحبت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کې له متقدمینو نه دي او افهم دي په افعالو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د وائل ابن حجر نه .

وقد کان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یحب ان یلیه المهاجرون لیحفظوا عنه وکان عبدالله کثیر الولوج والدخول علی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ووائل ابن حجر أسلم في المدینة في سنة تسع من الهجرة وبین اسلامیهما اثنتان وعشرون سنة .

۲۲ کاله فرق دي هغه په اول کال د بعثت کې ایمان راوړې دي عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او وائل ابن حجر په ۹ کال د هجرت ایمان راوړې دي یو کال یې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره تیر کړې دي او عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورسره ۲۲ کاله تیر کړې دي .

ولهذا قال ابراهیم للمغیرة حین قال ان وائل احدث انه رأی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یرفع یدیه اذا افتتح الصلاة واذا رکع واذا رفع رأسه من الرکوع ان کان وائل رآه مرة یفعل ذلك فقد رآه عبدالله خمسین مرة لا یفعل ذلك فان قلت خبر ابراهیم غیر متصل لانه لم یدرك عبدالله لانه مات سنة اثنتین وثلاثین بالمدینة وقیل بالکوفة و مولد ابراهیم سنة خمسین کما

صرح به ابن حبان قلت عادة ابراهيم اذا أرسل حديثا عن عبد الله لم يرسله الا بعد صحته عنده من الرواة عنه وبعد تكاثر الروايات عنه ولا شك ان خبر الجماعة اقوى من خبر الواحد.

دا ده ته په ډيرو رواياتو باندې را رسيدلي ورته دغه وخت کې دې ارسال کوي.

څلورم حديث ددوي روايت د ابي حميد الساعدي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دي:

دا هغه روايت دي چې ددوي په هغه دري واړو ځايو رفع اليدين باندې دال دي يعنې ددوي په دعوى دال دي روايت د امام بخاري هم پرې دال نه دي هغه دويم روايت پرې دال دي خو راجحه داده چې هغه دويم روايت موقوف دي مرفوع نه دي دليل نه گرځيږي.

سنن ابي داؤد جلد ۱ صفحه ۲۶۵:

حدثنا احمد بن حنبل حدثنا ابو عاصم الضحاك بن مخلد ح وحدثنا مسدد حدثنا يحيى وهذا حديث احمد قال اخبرنا عبد الحميد يعني ابن جعفر اخبرني محمد بن عمر بن عطاء قال سمعت ابا حميد الساعدي في عشرة من اصحاب رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منهم ابو قتادة.

لس (۱۰) کسان صحابه کرام ناست دي هغوي کې ابو قتادة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم وه.

قال أبو حميد أنا أعلمكم بصلاة رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قالوا فَلِمَ فوالله ما كنت باكثرنا له تبعاً ولا اقدمنا له صحبة قال بلى قالوا فاعرض قال كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا قام الى الصلاة يرفع يديه حتى يحاذي بهما منكبيه ثم يكبر حتى يقر كل عظم في موضعه معتدلاً ثم يقرأ ثم يكبر فيرفع يديه حتى يحاذي بهما منكبيه ثم يركع.

رکوع نه مخکې ثابت شو.

ويضع راحتيه على ركبتيه ثم يعتدل فلا يصب رأسه ولا يقنع ثم يرفع رأسه فيقول سمع الله لمن حمده ثم يرفع يديه حتى يحاذي بهما منكبيه معتدلاً ثم يقول الله اكبر ثم يهوي الى الأرض فيجافي يديه عن جنبيه ثم يرفع رأسه ويثني رجله اليسرى فيقعد عليها ويفتح أصابع رجليه اذا سجد ويسجد ثم يقول الله اكبر ويرفع رأسه ويثني رجله اليسرى فيقعد عليها حتى يرجع كل عظم الى موضعه ثم يصنع في الاخرى مثل ذلك ثم اذا قام من الركعتين كبر ورفع يديه.

دغه ددوي دعوی باندې دال دي رکعتینو نه به چې پاځیدو نو رفع الیدین به یې کول.

حتی یحاذي بهما منکبیه کما کبر عند افتتاح الصلاة ثم یصنع ذلك في بقیة صلاته حتی اذا کانت السجدة التي فیها التسلیم أُخَّرَ رجله الیسری وقعد متورکا علی شقه الایسر.

دا ددوي په هغه عمل هم دال شو چې یو طرف ته وتل دي نو صحابه ورته وایي:

قالوا صدقت هکذا کان یصلي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دا ددوي په دعوی باندې دال دي.

عمدة القاري شرح صحیح البخاري جلد ۹ صفحه ۸ کې ذکر کوي:

فـان احتج الخصم. که خصم دلیل پیش کړي په حدیث د ابي حمید الساعدي سره جواب یې دادی:

انا اباداؤد قد اخرجه من وجوه کثیرة. ابوداؤد وګورئ دا حدیث یې په ډیرو طروقو چلولې دي.

أُحدها عن أُحمد بن حنبل. او کوم سند د احمد بن حنبل چې دي.

ولیس فیه ذکر رفع الیدین عند الرکوع.

دا تعارض شو دلته اضطراب دي.

والطریق الذي فیه ذلك. او کوم سند کې چې د رکوع په وخت کې رفع الیدین راغلې دي.

فهو عن عبدالحمید بن جعفر. هغه په سند د عبد الحمید بن جعفر سره دي.

فهو ضعیف قالوا انه مطعون في حدیثه فکیف یحتجون بـه علی الخصم فـان قلت هو من رجال المسلم قلت لا یلزم من ذلك ان لا یکون ضعیفاً عند غیره.

دا خو لازمه نه ده چې د مسلم د رجالو نه دي نو ضعیف به نه وي.

ولئن سلمنا ذلك فالحدیث معلول بجهة اخری وهو أن محمد بن عمر وابن عطاء لم یسمع هذا الحدیث من ابي حمید.

دلته سماع نشته سند کې انقطاع راغله.

ولا ممن ذکر معه في هذا الحديث مثل ابي قتادة وغيره.

دا ۱۰ صحابه وو کې يو نه هم سماع نه لري.

فانه توفي في خلافة الوليد بن يزيد بن عبد الملك وكانت خلافته في سنة خمس وعشرين ومائة ولهذا قال ابن حزم ولعل عبد الحميد ابن جعفر وهم فيه يعني في روايته عن محمد بن عمر وابن عطاء فان قال الخصم قال البيهقي في المعرفة حكم البخاري في تاريخه.

فيصله کړې امام بخاري په تاريخ خپل کې.

بانه سمع اباحميد. چې دده د اباحميد نه سماع شته دي.

قلنا. مونږ وايو.

القائل بانه لم يسمع من ابي حميد. قائل ددې قول چې محمد بن عمرو بن عطاء سماع د ابي حميد نه، نه لري.

هو الشعبي. هغه امام شعبي دي.

وهو حجة في هذا الباب. د امام بخاري قول ييا مقابله د امام شعبي نه شي کولې امام شعبي وايي چې دا سماع نشته.

كان يحيى بن سعيد يضعفه. داد حديث له دغې حصې سره لګيږي کوم چې مخکې تير شو، **فهو عن عبد الحميد بن جعفر فهو ضعيف.**

دا عبارت په عمدة القاري کې نشته دي داد اسماء الرجال نه ما اخذ کړې دي دا عبدالحميد بن جعفر چې دې پاس تير شو **فهو ضعيف** په کوم سند کې چې دا طريقه د رفع اليدين تاسو بنايي داد عبدالحميد بن جعفر سند دي نو يو عبدالحميد بن جعفر ضعيف دي او دويم دا چې محمد بن عمرو ابن عطاء چې دي دده سماع د ابي حميد سره نشته دي نو دوه جرحې راغلي يو خو په کې انقطاع راغله او دويم سند کې عبدالحميد بن جعفر دي د

عبدالحميد بن جعفر متعلق كان يحيى بن سعيد يضعفه ، يحيى بن سعيد قطان به ضعيف کوه ده لره .

قلت ليحيى قد روي عنه يحيى بن سعيد ؟ ما وويل يحيى لره يحيى ابن سعيد ترې آحاديث نقلوي .

قال قدر روي عنه وكان يضعفه . روايت به يې ترې کولو او ضعيف به يې ورته ويلې .

وكان يروي عن قوم ماكانوا يساوون عنده بشيء .

وايي ما يحيى ابن معين ته وويل چې يحيى ابن سعيد ترې روايات کوي وايي يحيى بن معين راته ويلې چې هغه ترې روايات کوي خو ضعيف هم ورته وايي او يحيى ابن سعيد کې دا کار دي چې له داسې قوم نه روايات نقلوي چې د ده په نزد هيڅ اهميت نه لري .

قال يحيى بن معين وكان يرى القدر . دې د قدريه وو نه وه رايه يې د قدريه وو وه .

وكان سفيان ابن عيينة يضعفه . هغه به هم ضعيف کوه ده لره .

يوه خبره بله له طرفه د نافيينو نه مثبتينو ته ده هغه دا چې تاسو کوم روايات مونږ ته پيش کړل څلور واړه دې کې عمل دائمي استمراري تر اخر وفات د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې څه دليل نشته نو دوي بيا په دې کې د بيهقي يو روايت پيش کوي چې هغه دال دي په استمرار تر وفاته چې مرقات په جلد ۳ صفحه ۳۱ کې نقل کړې دي .

واعلم ان البيهقي روي في سننه حديث ابن عمر هذا بزيادة في آخره بلفظ فما زالت تلك صلاته حتى لقي الله تعالى .

دا روايت حافظ په تلخيص صفحه ۸۱ کې ذکر کړې تلخيص الحبير او حافظ نه مراد ابن حجر عسقلاني دي .

والزيلعي في نصب الرأية جلد ۱ صفحه ۴۰۹ کې هم ذکر کړې :

وسكتا عليه ولم يتكلما لكن في سنده عبدالرحمن بن قريش ، دي .

قال الذهبي في الميزان جلد ۲ صفحه ۱۱ : اتهمه السليماني بوضع الحديث . دې حديث ته خو بيا موضعي ويل کيږي .

وقال الخطيب في تاريخه جلد ۱۰ صفحه ۲۸۳ في حديثه غرائب وافراد ولم اسمع فيه الا خيرا.

او په دې کې عصمة بن محمد الانصاري دی.

قال ابوالحسن الدار قطني عصمة بن محمد بن فضالة الانصاري متروك ذكره الخطيب في تاريخه جلد ۱۲ صفحه ۲۸٦ وقال ابن عدي كل حديثه غير محفوظ ذكره الذهبي في ميزانه.

خلاصه دا چې هغه روايت: فما زالت تلك صلاته حتى لقي الله تعالى، هغه صحيح نه دی ضعيف دی دوی يې هم له شرم نه پيش کولې نه شي.

آخره کې زه درې روايت ذكر کوم چې دوی قائل نه دي نو چې کوم خلک وايي چې مونږ حديثو پسې ځو نو په کار ده چې دا رفع اليدين هم شروع کړي.

امام بخاري په جزء رفع اليدين في الصلاة جلد ۱ صفحه ۸۵ په صحيح سند سره پيش کوي:

حدثنا موسى بن اسماعيل حدثنا حماد بن سلمة عن يحيى بن ابي اسحاق قال رأيت انس بن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يرفع يديه بين السجدتين.

دا ددوی رايه نه ده او حديث صحيح دی د سند په لحاظ.

سنن ابي داؤد جلد ۱ صفحه ۲٦۹:

حدثنا قتيبة بن سعيد حدثنا ابن لهيعة عن ابي هبيرة عن ميمون المكي انه رأى عبدالله بن الزبير. عبدالله بن زبير يې وليدلو.

وصلى بهم يشير بكفيه. مونځ يې پسې وکړو چې اشاره يې په کفينو کوله.

حين يقوم وحين يركع وحين يسجد وحين ينهض للقيام فيقوم فيشير بيديه فانطلقت الى ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. وايي زه لاړم عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته.

فقلت اني رأيت ابن الزبير صلى صلاة لم ار أحدا يصليها. داسې مونځ يې وکړو چې ما څوک نه دي ليدلي چې داسې مونځ يې کړې وي.

فوصفت له هذه الاشارة . چې كوزيدو هم رفع اليدين وه چې پورته كيدو هم رفع اليدين وه داسې مونځ يې وكړو .
فقال . وايي ما ته يې وويل :

ان احببت ان تنظر الى صلاة رسول الله ﷺ فاقتد بصلاة عبدالله بن الزبير. ابن عباس رضي الله عنه وفرمائل كه د نبي عليه السلام د مانځه اقتداء كول غواړي نو د عبدالله ابن زبير مونځ پسې اقتداء وكړه نو اوس دا شروع كړي بيا كنه احاديثو كې خو راغلل په هر خفض او رفع كې راغلل او په هر قيام كې راغلل ولې بيا په دې باندې عمل نه كوي .
سنن ابن ماجة جلد ۲ صفحه ۴۱ :

حدثنا عثمان ابن ابي شيبة وهشام بن عمار قالا حدثنا اسماعيل بن عياش عن صالح بن كيسان عن عبدالرحمن الاعرج عن ابي هريرة قال رأيت رسول الله ﷺ يرفع يديه في الصلاة حذو منكبيه حين يفتتح الصلاة وحين يركع وحين يسجد .
دا حين يسجد باندې ولې عمل نه كوي .
هر چې احناف او موالک دي هغوي داسې نه وايي چې په دين كې كنې د نبي عليه السلام نه دا عمل شوې نه دي شوې دي هر خفض او رفع كې هم شوې دي ركوع ته كوزيدو پورته كيدو كې هم شوې دي سجده كې هم شوې دي بين سجدتين هم شوې دي بعد الركعتين هم شوې دي په هر قيام كې هم شوې دي خو وخت په وخت دا په كميدو باندې وه كميدو كميدو حتى چې روایاتو د ابن عمر رضي الله عنه ته راورسيدل او د هغه او د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه په روایاتو كې مونږ ترجيح د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه ته وركوو ځكه چې هغه افقه د صحابه وو دي .
او كه يو سړي وايي چې نه بس عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ويلې دي او زه خو د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه نه ، نه شم تيريدلې نو زه به تاسو ته د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ډيرې فتوي او افعال نقل كړم چې وهابيان د هغې سخت مخالف دي نو څنګه دلته د رفع اليدين په باب كې د عبدالله ابن مسعود د حضرت علي او د عمرِ فاروق رضي الله عنه د هغه عمده عمده صحابه وو فتوو ته نه ګوري په امت كې مو تنازع او اختلافات جوړ كړې دي او د همغه عبدالله ابن عمر

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فتوی مونږ درته په صحیح سند ونو پیش کوو تاسو پسې نه ځي له سره یې مني نه بیا دا فتوی د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا به چې زه یې ذکر کوم په دوه ځایونو کې تاسو ته کار کوي:

(۱) رفع الیدین کې، (۲) د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ترک السنة في السفر چې دوي کلک راتینګ کړې دي چې د هغې نه یې دین جوړ کړي په مقابل کې د ځومره صحابه وو اقوال دي ټول یې پرېښې دي دې دواړو ځایونو کې تاسو ته کار درکوي.

صحیح البخاري جلد ۲ صفحه ۵۴:

وکان ابن عمر وابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا یقصران ویفطران في اربعة بُرُدٍ وهي ستة عشر فرسخاً.

رایه د وهابیانو داده چې په ۴ میله کې قصر راځي او داد ظواهرو رایه هم ده عبد الله ابن عمر او عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا څلور برد چې شپاړس (۱٦) فرسخه ترې جوړیږي په دومره اندازه کې به دوي قصر کولو.

نو عمل د ابن عباس او د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا د وهابیانو سره په اندازه د قصر کې رد کوي چې دوي وایي ۴ میله دي او هغوي ۱٦ فرسخه وایي.

دارنګې صحیح البخاري معرب بیروت چاپ جلد ۷ صفحه ۲۰٦:

وکان ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اذا حج او اعتمر قبض على لحیته فما فضل اخذه.

عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا به له قبضې نه اخوا ږیره اخیسته او وهابیان دې ته مکروه وایي.

واعف اللحی. باندې عمل کوي.

مونږ هم وایو چې بهتري په پرېښودو کې ده لیکن قبض جائز دي وهابیان قبض او د قبض نه اخوا ته قبض چې کوم دي فتاوو کې پرې تصریحات کړې ناروا او مکروه یې ګڼلي ده او عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا به خپله دا عمل کولو.

دارنګې صحیح البخاري معرب بیروت چاپ جلد ۹ صفحه ۲۱:

وکان ابن عمر یراهم شرار خلق الله وقال انهم انطلقوا الى ایات نزلت في الکفار فجعلوها على المؤمنین.

خوارج د خداى په مخلوق کې بد خلک دي ځکه هغه اياتونه چې د کفارو په حق کې نازل دي هغه په مسلمانانو چسپانوي نو وهابيان اوس دا کار کوي دا تمام قرآن کريم د کفارو متعلق نازل شده اياتونه په مسلمانانو چسپانوي.

که د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فتوى او قول نه دين جوړوي نو د هغه په نزد خو د خداى په مخلوق کې تاسو وهابيان بد ترين خلک ياستي.

دارنګې صحيح مسلم جلد ۴ صفحه ۱۲۷:

عن عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يأتي قباءً يعني كل سبت كان يأتيه راكباً او ماشياً.

قباء مسجد ته به د هر خالي په ورځ راتلو.

قال ابن دينار وكان ابن عمر يفعله. د هر خالي شنبې په ورځ به د قباء مسجد ته اوته چې حاجيان مديني ته ځي او په مزاراتو ګرځي نو اعلى د بدعتيانو ورته وايي.

په مزاراتو په مقدساتو او په مساجدو باندې ګرځيدل د دوي په کتاب کې دې ته د شرک الفاظ استعمال شوې دا وايي وسائل د شرک دي، او هلته يې هم سخت منع کوي له دې نه او عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، **وكان ابن عمر يفعله.**

دارنګې سنن الترمذي بيروت چاپ جلد ۴ صفحه ۲۲۵:

عن نافع عن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا اعتم سدل عمامته بين كتفيه.

پټکي به يې چې په سر وه شمله به يې شاته د اولو يعني اوږو مينځ کې وه.

قال نافع وكان ابن عمر يسدل عمامته بين كتفيه قال عبيدالله ورأيت القاسم وسالماً يفعلان ذلك.

نو وهابي ته وايه چې تا هم کله پټکي په سر کړې دي د عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول نه دې دين جوړ کړي په امت کې دي نزاع جوړه کړي نو د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې قول باندې ولې عمل نه کوي پټکي خو هم کله په سر کړه ځکه ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوع حديث پيش کړي.

دارنګې سنن ابن ماجه جلد ۲ صفحه ۵۶۶:

عن سالم بن عبدالله عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ اذا رأيتم الهلال فصوموا. میاشت د روژې چې وګورې نو روژه ونیسي.

واذا رأيتموه فأفطروا. او چې د اختر میاشت وګورې نو افطار وکړي.

فان غُم عليكم. که چیرته وریځ په تاسو راغله.

فاقدروا له. شعبان ورته اندازه کړې هغه ۳۰ پوره کړې نو خپله به رمضان داخل شي.

وكان ابن عمر يصوم قبل الهلال بيوم.

عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما به د رمضان میاشت له لیدو نه مخکې هم یوه ورځ روژه نیوله او ته وهابي یوم الشک روژې ته حرام وایي.

په دې وهابیانو پوسترې لیکلي دي څو مره اعلانات په دې باندې کوي او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به دا عمل کوه چې یوه روژه به یې مخکې ترې نه نیوله احتیاطاً زمونږ مذهب باندې رد نه دي زمونږ مذهب هم وایي چې دا مکروه ده لیکن په نیت د رمضان نیول مکروه دي هدایه کې لیکلي که نیت د نفلو دې په کې وکړو بیا جائز دي.

دارنګې سنن الکبری للبیهقي جلد ۲ صفحه ۱۶۱:

اخبرنا اسامة بن زيد قال سألت القاسم بن محمد عن القراءة خلف الامام. ما د قرائت خلف الامام تپوس وکړو.

فقال. ما ته یې وویل.

ان قراءة فقد قرأ قوم كان فيهم اسوة. که یې لولې څه صحابه پرې قائل دي.

وان تركت فقد ترك قوم كان فيهم اسوة. او که یې پرېږدې په هغې کې هم څه صحابه دي چې په هغې کې اسوة حسنه دې په ابتداء کې.

قال وكان ابن عمر لا يقرأ. عبدالله ابن عمر رضي الله عنه به قرائت خلف الامام نه کولو.

نو اوس دې وهابیان په دې کې هم د عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما اطاعت وکړي کنه هغه سفر کې چې سنت نه دي کړي څنګه کلک دې راتینګ کړې دي چې بس نور هر څه دین پرېږده

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دي کړي نو اوس دلته هم عبدالله ابن عمر قرائت خلف الامام نه کولو ولې دين ترې نه جوړوي.

ددې د پاره ما د پنجاب د احسان الهي ظهير يوه رساله وليدله په هغې کې درفع اليدين باره کې دا اعتراض کړې دي وايي تاسو ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې ځي او ابن مسعود به طبق کولو هغه به چې رکوع ته کوزيدو نو دواړه لاسونه به يې د زنګنونو مينځ کې نيول نو بې آدبه اعتراض پرې کړې دي چې معروف عمل د مانځه ورته ياد نه وه تاسو ده پسې تللې ياستئ عياذاً بالله

عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته بنه پته وه په دې خو ټول محدثين باب لګوي چې ابتداء د اسلام کې طبق راغلې وه رکوع کې زنګون نيول نه وه لاسونه به دې د زنګونانو مينځ کې دننه کړه دغه طبق وه خو دا چونکې سخته وه تکليف وه نو بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حکم آسانه کړو.

نو دلته څه علماء وايي چې هغه منسوخ شوې دي اوس به رکبتين نيسي او عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې منسوخ نه دي اولی اوس هم طبق دي خو چې يو سړي يې نه شي کولې دا ورته جائز دي دا خو صرف يو تاويل دي کنه مجتهد دي محدث دي فقيه دي هغه نه شي ويلې چې دا شئ منسوخ دي دا منسوخ نه دي دو مره حق به هم نه لري نو دوي ترې نه دا جوړه کړه چې ګني عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د زنګنونو نيول ياد نه وه يا ګني دين نه وو ورته زده يا يې مونځ ياد نه وه عياذاً بالله

هغه داسې نه وايي چې رکبتين نيول ثابت نه دي يا روا نه دي وايي دا روا دي خو صرف د ضروروت پر بناء چې هغه عمل څوک نه شي کولې نو دا دې وکړي نو دا اعتراض ددوي په رسائلو کې شته په عبدالله ابن مسعود باندې چې هغه طبق کوي تاسو يې ولې نه کوي نو ځکه ما ورته دا فتوی د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکر کړي چې تاسو ته مونږ د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فتوی وښايو چې تاسو کومه فتوی کې هغه پسې تللې يې.

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۳۰۶ :

حدثنا عبدالله بن نمير عن عبيدالله بن عمر عن نافع عن ابن عمر انه كان لا يقنت في الفجر ولا في الوتر.

هغه به په وترو کې هم دعا قنوت نه ویلي او په فجر کې هم نه ویلې .

وكان اذا سئل عن القنوت. چا به چې تپوس ترې وکړو .

قال ما نعلم القنوت الا طول القيام و قراءة القران.

وايي مونږ قنوت نه پيژنو قنوت خو طول قيام ته ويل کيږي او س څه پسې کنه داد چا مذهب دي چې په وترو کې قنوت نشته دي فجر کې قنوت خو څه اختلافي دي په وترو کې قنوت خو اتفاقي دي کنه عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ددې هم قائل نه وه لاړ شه پسې او س .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۳۰۹ :

حدثنا وكيع قال حدثنا سفيان عن واقد مولى زيد بن خليدة عن سعيد بن جبير عن ابن عباس وابن عمر انهما كانا لا يقنتان في الفجر . د سحر قنوت به دوي نه ويل .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۳۳۶ :

حدثنا ابن علية عن ايوب عن نافع وانس بن سيرين قالا قال ابن اعمر يكفيك قراءة الامام.

امام پسې قرائت مه کوه د امام قرائت تا ته کافي دي .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۳۰۹ :

حدثنا هشيم قال اخبرنا ابن عون عن ابراهيم عن الاسود بن يزيد قال قال ابن عمر في قنوت الصبح ماشهدتُ ولا علمتُ .

نه په يو محضر کې زه وم چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا ويلې دي او نه پرې علم لرم چې دا چيرته ثابت وي .

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۵ صفحه ۱۱ :

حدثنا أسباط بن محمد عن اشعث عن نافع قال قال ابن عمر من طلق امرأته ثلاثاً . چا چې په يو ځل بي بي ته درې طلاقه ورکړل .

فقد عصى ربه . نافرماني د رب يې وکړه .

وبانت منه امرأته . ښځه ترې جدا شوه .

وهابي کاکا څنګه چل دي اوس مني دا فتوی دوي خو وايي يو رجعي طلاق دي رجوع ورته وکړه کنه نه پرې طلاقيږي ابن عمر رضي الله عنه څه وايي :

بانت منه امرأته . بي بي ترې جدا شوه .

دا رنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۴۲ :

عن يزيد الفقير قال كان ابن عمر ينقص التكبير في الصلاة قال مسعر اذا انحط بعد الركوع للسجود لم يكبر فاذا اراد ان يسجد الثانية لم يكبر .

داد چا مذهب دي اوس ځي ورپسې ابن عمر به په رکوع کې تکبيرونه کمول کله به داسې وشو **اذا انحط بعد الركوع للسجود** تکبير به يې نه کوه الله اكبر به يې بالكل نه ويل ، **فاذا اراد ان يسجد الثانية لم يكبر .**

دوي خلکو ته داسې ذهن ورکړې چې عبد الله ابن عمر رضي الله عنه کله کيدې شي چې د رفع اليدين دې يو وخت کې پاتې شوي يې او ده ته دې بيا پته نه وي .

ټول صحابه په ځای پريږدي داسې نظر ورکړي چې ګڼي اعلم د صحابه وو دادی او افقه يې دادی لوي مفسر دادی او لوي زاهد دادی بې آدبي مونږ نه کوو د عبد الله ابن عمر رضي الله عنه شهرت په اتباع د سنت کې ده .

نه دې فقاهت د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ته رسيدې شي او نه دې په علم تفسير کې عبد الله ابن عباس رضي الله عنه ته رسيدې شي او نه دې په علم حلال او حرام کې حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته رسيدې شي او نه دې په علم ميراث کې زيد بن ثابت ته رسيدې شي او نه په قرائت کې ابي بن كعب ته رسيدې شي دا ځانته ځانته آئمه موجود وه معروف خلک موجود وه .

دا رنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۵۹ :

حدثنا عاصم عن ابن جريج عن نافع قال كان ابن عمر يضم يديه الى جنبيه اذا سجد .

داد چا مذهب دي اوس څو مره روايات راغلي په دې چې ضم د جنبينو به نه کوي بلکې جدا به يې ساتي ، او ابن عمر رضي الله عنه به دا عمل کولو راخپل يې کړه اوس کنه .

دا رنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۱۳۲ :

حدثنا ابوالاحوص عن ابي اسحاق عن عطاء قال كان ابن عمر اذا صلى الجمعة صلى بعد ست ركعات ركعتين ثم اربعاً.

وهابي ته خو د دووو هم قائل نه يې.

دارنګې مصنف ابن ابي شيبة جلد ۲ صفحه ۴۵۵ :

حدثنا وكيع قال حدثنا عمرو بن ذر عن مجاهد قال كان ابن عمر اذا أجمع على اقامة خمس عشرة سرح ظهره وصلى اربعاً.

عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به چې كوم ځاى كې پنځلس (۱۵) ورځې نيت وكړو نو څلور ركعته به يې بيا پوره كول نو رايه يې څه شوه چې موده د اقامت ۱۵ ده كنه او وهابيان ۱۰ ته موده د اقامت وايي يعنې وهابيان وايي چې ۱۰ ورځو كې سړي مقيم جوړيږي او بعضې اهل حديث ۱۷ ورځې وايي د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قول پسې ځي او ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د احنافو سره موافق ده چې ۱۵ ورځې موده د اقامت ده.

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۴ صفحه ۳۱۴ :

حدثنا جرير عن ليث عن نافع قال كان ابن عمر يطعم على ختان الصبيان.

د ماشوم په سنت كې به عبدالله ابن عمر خيرات كولو ډوډي به يې وركوله او ته دا اعلى د بدعاتو نه ګڼې د سنت ډوډي ته بدعت حرامه او مرداره وايي او عبدالله ابن عمر به دا ډوډي وركوله دا صرف د دوي هغه وهم يې خلكو ته داسې اچولې دي چې ګوري د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث دوي نه مني نو د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث كې اضطراب دي هم د سند په لحاظ هم د متن په لحاظ داسې طروق د حديثو دي چې هغه دوي په خپله هم نه عملي كوي.

المبحث الثاني في استدلالات النافيين :

مونږ په رفع اليدين كې نافيين يو امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ مونږ سره دي.

سنن الترمذي جلد ۲ صفحه ۴۰ :

حدثنا هناد حدثنا وكيع عن سفيان عن عاصم بن كليب عن عبدالرحمن بن الاسود عن علقمة قال قال عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ألا اصلي بكم صلاة رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟

مونځ وکړم تاسو ته مونځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ.

فصلی. مونځ يې وکړو.

فلم يرفع يديه الا في اول مرة. رفع اليدين يې ونه کړل مګر په اول کرت کې.

قال: وفي الباب عن البراء بن عازب. امام ترمذي وايي په دې باب کې د براء بن عازب نه هم حديث شته.

د امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ يو طرز دي د هغه دا طرز دي چې کله مرفوع احاديث په دې باب کې وي نو لنډ يې خلاص کړي وفي الباب عن البراء بن عازب، په دې باب کې مرفوع حديث د براء ابن عازب نه هم حديث شته، لکه د دې نه مخکې د رفع اليدين حديث ذکر کړې دي د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

بيا وايي:

وفي الباب عن ابي حميد الساعدي ووائل بن حجر ومالك ابن حويرث.

په دې باب کې له هغوي نه روايات شته نو دا في الباب کې مرفوع احاديث يادوي موقوف نه يادوي.

نو امام ترمذي وايي:

وفي الباب عن البراء بن عازب قال ابو عيسى حديث ابن مسعود حديث حسن.

په دغه ځای باندې الباني چې کوم تحقيق کوي هغه وايي دا حديث صحيح دي.

وبه يقول غير واحد من اهل العلم من اصحاب النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. په ترک رفع اليدين باندې يو څه صحابه قائل نه دي غير واحد څه ډير صحابه پرې قائل دي والتابعين وهو قول سفيان الثوري واهل الكوفة قال الشيخ الالباني صحيح.

سنن النسائي جلد ۲ صفحه ۱۹۵ تعليق کې الباني وايي:

قال الشيخ الالباني صحيح.

دارنګې مسند احمد بن حنبل جلد ۱ صفحه ۳۸۸ هغلته تعليق د شعيب الارنوط وايي:

رجاله ثقات رجال الشيخين غير عاصم بن كليب نه فمن رجال مسلم.

سنن الکبری للنسائي جلد ۱ صفحه ۳۳۲ کې باب لګوي : باب الرخصة في ترک ذلك.
مسند ابي يعلى جلد ۹ صفحه ۲۰۳، الاحکام الشرعية للاشبيلي جلد ۲ صفحه ۱۹۱، مستخرج الطوسي جلد ۲ صفحه ۱۰۳، مسند ابي يعلى جلد ۵ صفحه ۱۳۸، مسند احمد موافقا لثلاث طبعات جلد ۱ صفحه ۳۸۸، مسند ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۱۶۶، الاوسط لابن المندر جلد ۴ صفحه ۳۱۴.

دا حديث چې زه تاسو ته مونځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام وکړم.

فصلى فلم يرفع يديه الا في اول مرة.

د وهابيانو سر کرده الباني او شعيب الارنوط وغيره هم د صحت قول پرې کړې چې حديث صحيح دي.

دا مونځ عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د وفات نه بعد په عراق کې کړې دي هلته خلکو ته وايي زه تاسو ته مونځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام کوم.

په نيل الفرقدين کې شاه انور شاه کشميري رَحِمَهُ اللهُ دد ې وضاحت کوي چې داد شام باډرباندې د ۱۰۰۰۰ صحابه وو تابعينو يو کنډک پروت وه د مجاهدينو او په هغې کې امام عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وه د **ألا اصلي بكم صلاة رسول الله**.

اعلان يې په هغه ځای کې کړې دي نو دا دومره صحابه جمع غفيره موجود وه او يو هم پرې اعتراض ونه کړو چې دا خو صلاة د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وه تا خو په کې رفع اليدين ونه کړل اول تکبير کې رفع الدين وکړل او نورې ونه کړل.

په حديث د سند په لحاظ څوک جرحه نه شي پيش کولې يوه خبره شته بعضې متعصبين وهابيان يې کوي محققين يې نه کوي هغه دا چې عبد الله بن مبارک يوه خبره کړې ده ترمذي هم ترې نقل کړې ده چې :

ان عبد الله بن مبارك انما انكر ما روا حديث ابن مسعود من فعل النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

امام ترمذي وايي چې :

قال عبد الله بن مبارك قد ثبت حديث من يرفع وذكر حديث الزهري عن سالم عن ابيه ولم يثبت حديث ابن مسعود أن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **لم يرفع الا في اول مرة.**

عبدالله بن مبارک وایي ترمذي ترې نه نقل کوي چې کوم کسان د رفعې قائل دي دي چې حديث د زهري عن سالم عن ابيه پيش کوي هغه ثابت دي .

خو حديث د عبد الله ابن مسعود چې أن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يرفع الا في اول مرة ثابت نه دي نو دا بعضې متعصبين دلته جرحه کوي او زمونږ دا عام فهم طالبان دوکه کوي .

د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوه حديث مروي دي يو حديث دادی :

ألا أُصلي بكم صلاة رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . بيا يې مونځ وکړو .

فلم يرفع يديه الا في اول مرة .

دويم حديث دادی چې عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلكو ته حكايت كوي چې :

ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يرفع يديه . نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاس نه دي اوچت کړي مګر په اول تکبير کې .

ګورئ دا حديث فرق لري عبارت يې وګورئ : ألا اصلي دا دده خپل عمل ده خو که د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ يې نه واي ياد کړي نو دا موقوف ګڼلې كيده بيا ألا أصلي صلاة رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوي وويل وكړه ، فصلى فلم يرفع يديه الا في أول مرة.

عبدالله ابن مبارک دا حديث نه دي ياد کړې هغه د ابن مسعود هغه حديث يادوي چې :

أن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يرفع الا في اول مرة ، دا حديث يادوي .

آثار السنن د علامه نيموي صفحه ۱۳۳ دغې جواب ته اشاره کوي وايي :

قلت رُوي عن ابن مسعود في الباب حديثان .

يو حديث هغه دي چې من فعله لکه چې مخکې مونږ پيش کړو كما اخرجه ابوداؤد والنسائي والترمذي و آخرون .

او دويم حديث مرفوعاً الى النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أن لم يرفع الا في اول مرة او نحو ذلك كما اخرجه الطحاوي وغيره ليس هذا الا من جهة بعض الرواة نقله بالمعنى من حديث الاول لقول ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فالظاهر ان عبدالله ابن مبارك انما انكر ما روي حديث ابن مسعود من

فعل النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا ما جاء من فعل ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويقول: الا اصلي بكم صلاة رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

وكيف ما كان أجاب عنه شيخ علامه دقيق العيد المالكي الشافعي في كتاب الأم بأن عدم ثبوت الخبر عند المبارك لا يمنع من النظر فيه.

وايي چې ابن عيد مالكي هغه دا ذكر كوي مقدمه د لامع الدراري جلد ١ صفحه ٧٢ كې دا را اخيستې دي چې انكار د عبدالله ابن مبارک هيڅ نظر نه پيښوي په دې حديث كې ځكه مدار زمونږ د دغې حديث په عاصم بن كليب دي او باقي خو د رجالو د بخاري نه دي.

وقد وثقه ابن معين. هغه يې توثيق كړې دي بيا څه اعتراض په كې پاتې شو.

(٢) حديث مصنف ابن ابي شيبة جلد ١ صفحه ٢٣٦ كې را اخيستې:

حدثنا وكيع عن ابن أبي ليلى عن الحكم وعيسى عن عبدالرحمن بن أبي ليلى عن البراء بن عازب ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان اذا افتتح الصلاة رفع يديه ثم لا يرفعهما حتى يفرغ.

دا هغه وه چې امام ترمذي ويلي وه وفي الباب عن البراء بن عازب هغه دغه حديث شو دا دوه حديثه مرفوعه دي چې اول تكبير كې رفع اليدين كول بيا نه كول.

له دې نه بعد د صحابه كرامو رايې مونږ ځكه پيش كولې شو چې مونږه د لاحجة في الموقوفات قائل نه يو.

او بل امام بخاري هم دا خبره كوي چې كله احاديثو كې تعارض راشي نو عمل د صحابه وو ته دې ذهاب وشي او يا دې آخر فالاخر ومنلې شي كوم چې وروستي روايات دي.

الموطأ د امام محمد جلد ١ صفحه ١٧٩ ابراهيم د اسود نه نقل كوي:

رأيت عمر. ما عمرِ فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وليدو.

يرفع يديه الا في اول تكبيرة. چې اول تكبير كې رفع اليدين كول.

ثم لا يعود. بيا يې نه كول.

و رأيت ابراهيم والشعبي يفعلان ذلك قال الطحاوي فهذا عمر لم يكن يرفع يديه الا في التكبيرة الاولى والحديث صحيح .

او كه څوک وايي چې حسن بن عياش په كې راغلي دي وان كان هذا الحديث دار عليه ، د حديث مدار دې ده فانه ثقة حجة وذكر ذلك يحيى بن معين وغيره .

الاوسط لابن المنذر جلد ۴ صفحه ۳۱۳ :

حدثنا اسماعيل قال حدثنا ابوبكر قال حدثنا يحيى بن ادم عن حسن بن عياش عن عبدالملك بن أبجر عن الزبير بن عدي عن ابراهيم عن الاسود قال صليت مع عمر .

ما د عمرِ فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره مونځ وكړو .

فلم يرفع يديه في شيء من صلاته الا حين يفتتح الصلاة . وقال عبدالملك ورأيت الشعبي وابراهيم وابا اسحاق لا يرفعون ايديهم الا حين يفتتحون الصلاة .

۴- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۶ :

حدثنا وكيع عن أبي بكر بن عبدالله بن قطاف النهشلي عن عاصم بن كليب عن أبيه أن علياً كان يرفع يديه اذا افتتح الصلاة ثم لا يعود .

حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به اول تكبير كې رفع د يدينو كوله بيا به يې نه كوله .

۵- الموطأ د امام محمد جلد ۱ صفحه ۱۸۳ :

قال محمد اخبرنا محمد بن ابان بن صالح عن عبدالعزيز بن حكيم قال رأيت ابن عمر يرفع يديه حذاء اذنيه في اول تكبيرة افتتاح الصلاة .

عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مې وليده چې لاسونه يې اوچت كړه په اول تكبير كې .

ولم يرفعهما فيما سوى ذلك . دې نه بغير بيا يې نه دي اوچت كړي .

ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې دوي د پاره اقوى استدلال د هغه قول پيش كوه هغه هم خلاف دا ثابت شو .

٦- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳٦:

حدثنا وكيع عن مسعر عن ابي معشر عن ابراهيم عن عبدالله انه كان يرفع يديه في اول ما يستفتح ثم لا يرفعهما.

عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په اول تكبير كې لاس اوچتوه بيا به يې نه اوچتوه.

دا دې زمونږ راوي عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي خلاف روايت يې څوک ښودلي هم نه شي او ددوي راوي عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي مونږ په قوي سند د امام مجاهد سره.

او دارنګې د عبد العزيز بن حكيم سره دوه سندونو باندې دده نه ترک رفع اليدين ثابت کړه ددوي د راوي نه او زمونږ راوي عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي څوک يې تر ې نه شي ثابتولې چې هغه دې رفع اليدين کړې وي.

زمونږ راوي براء بن عازب دي هغه نه يې هم څوک نه شي ثابتولې چې هغه دې رفع اليدين کړې وي.

دا حديث معجم الكبير د طبراني جلد ۸ صفحه ۱۹۴، او مصنف عبد الرزاق جلد ۲ صفحه ۷۱ کې را اخيستې.

۷- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۶:

حدثنا هشيم قال اخبرنا حصين ومغيرة عن ابراهيم انه كان يقول اذا كبرت في فاتحة الصلاة فارفع يديك ثم لاترفعهما فيما بقي.

۸- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۶:

حدثنا ابن مبارك عن اشعث عن الشعبي.

امام شعبي ۵۰۰ صحابه وو ملاقات يې کړې دي.

انه كان يرفع يديه في أول التكبير ثم لا يرفعهما.

۹- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۶:

حدثنا وكيع وابو اسامة عن شعبة عن ابي اسحاق قال كان اصحاب عبد الله واصحاب علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې څومره شاګردان وه او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاګردان.

لا يرفعون ايديهم الا في افتتاح الصلاة. لاسونه به يې نه اوچتول مګر په اول تکبير کې.

قال وكيع ثم لا يعودون. بيا به يې عود نه کوه.

۱۰- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۶:

حدثنا ابن فضيل عن عطاء عن سعيد بن جبير عن ابن عباس قال لاترفع الأيدي إلا في سبعة مواطن.

اوچتيږي لاسونه په اوه (۷) ځايونو کې.

اذا قام الى الصلاة، واذا رأ البيت، وعلى الصفا والمروة، وفي عرفات، وفي جمع، وعند الجمار.

يو اعتراض دې باندې کيږي چې دعاء قنوت کې رفع د ايديو څنګه ده هغه هم دې کې داخله نه شوه د هغې جواب را روان حديث نه مونږ کوو.

مصنف ابن ابي شيبة جلد ۴ صفحه ۹۶:

حدثنا ابو خالد عن أشعث عن الحكم قال كان أصحاب عبدالله يقولون ترفع الايدي في ثمانية مواطن: (۱) عند البيت، (۲-۳) وعلى الصفا والمروة، (۴) وبعرفة، (۵) وبالمزدلفة (۶) وعند الجمرتين، (۷) تكبير تحريمه، (۸) دعاء قنوت.

دا وروستني دوه حديث کې نه دي ذکر کړي ځکه د حج په باب کې مسئله کوي نو هغه يې نه دي ياد کړي د حج يې دلته راغونډ کړل دعاء قنوت کې رفع د ايديو ثابته ده صرف دومره ده ابن ابي شيبة په دې باب لګولې څه ډير احاديث يې پرې نقل کړې دي صرف دا ده چې دغه رفع د ايديو په څه شکل ده نو څه آئمه وايي چې رفع د ايديو **بهذا الهيئة** ده لکه حرمينو کې چې کوم امامان ولاړ وي لاسونه يې مخې ته د دعاء په شکل نيولې وي وايي داسې به لاسونه اوچتوي او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ رفع د ايديو په دغه هيئت سره وايي لکه مونږ يې چې اوچتوو نور رفع د صحابه وو نه ثابته ده چې رفع د ايديو په قنوت کې کړې ده د عمرِ فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوي نه ثابته ده چې دوي به په قنوت کې رفع کول صرف په هيئت کې اختلاف دي چې په کوم هيئت شوې ده.

۱۱- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳۶:

حدثنا ابو بكر عن الحجاج عن طلحة عن خيثمة وإبراهيم قال كانا لا يرفعان أيديهما الا في بدء الصلاة.

۱۲- مصنف ابن ابي شيبة جلد ۱ صفحه ۲۳٦:

حدثنا يحيى بن سعيد عن اسماعيل قال كان قيس يرفع يديه اول ما يدخل في الصلاة ثم لا يرفعهما.

او د سفيان الثوري رَحِمَهُ اللَّهُ قول په ترمذي كې چې ذكر شو چې دا رايه د سفيان ده او د اهل كوفه وو ده نو هغه هم له مونږ سره په دې كې معي دي چې د رفع اليدينو هغه قائل نه دي.

نو خلاصه دا شوه چې مذهبونو كې امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په قول معروف او امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ابراهيم النخعي او چند تابعين شاګردان د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دوي د رفع اليدين قائل نه وه دې نه بغير د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نه متضاد روايات راغلل په مرفوع روايت كې هم اضطرابات وه خپله عمل كې هم اضطراب دي.

حضرت طاووس ويل ما ليدلي چې رفع اليدين يې كړې، امام مجاهد وايي چې ما وليده رفع اليدين يې نه كول نو په دې لحاظ باندې دغه فقهاء دا متضاد روايات دوي داسې كوي كله د وضع اليدين مسئله على الصدر فوق السرة او تحت السرة په ټولو كې احاديث راغلي امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ ټول په ځای پريښي دي هغه وايي ارسال وكړي نو دا كله دوي لاره پيدا نه كړي چې اوس مونږ دې كې څه چل وكړو كوم روايت واخلو نو ترک يې كړي نو د ابن عمر روايت د سند په لحاظ ضعيف نه دي.

د متن په لحاظ اضطراب لري چې ډير زيات طرق په كې دي او څه داسې ځايونو كې رفع اليدين شوې چې اسلافو كې امت كې او وهابيان خپله هم پرې قائل نه دي ددغې مجبوري د لاسه هغه متروک د عمل نه وګرځيده او د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په قول كې اضطراب نشته نه سندي نه متني نه يې عمل د خپل روايت خلاف ثابت دي نو هغې ته ترجيح وركول شوه.

مسئلة د رفع اليدين ختمه شوه

مسئلة ايمان أبوي النبي صلى الله عليه وسلم :

التحقيق في ايمان أبوي النبي صلى الله عليه وسلم :

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ﴾ الشعراء.

بله مسئله د ايمان أبوي النبي صلى الله عليه وسلم چې زيرِ بحث يې ګرځوو د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم والدين يا د دوي نسب نو دا والدين يې په ايمان باندې وه که په کفر باندې وه که په فترة باندې وه مسئله نزاعي ده خو اوس نه ده له اسلافو نه دې کې اختلاف شوې دی يو جانب لاړ قول ته چې : انهما ماتا على الكفر.

دويم قول دادی چې : انهما ماتا على الفترة، دوي په زمن د جاهليت کې مړه دي او د زمن د جاهليت باره کې علماء د عقائدو چې اشاعره ما تريديه دي دوه ډلې شوې دي.

کومه زمانه کې چې پيغمبر مبعوث نه وي زمانه د فترة د وحي وي د اشاعره وو رايه داده چې :

انهم مغفورون مالم يصرح منهم بشرك. کوم سړي نه چې د شرک ثبوت نه وي او زمانه د فترة د وحي کې چې نبي عليه السلام هلته مبعوث نه وي دې مړ شي په رايه د اشاعره وو باندې دا مغفور دي ځکه هغوي هغې نه دليل پيش کوي چې : ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً﴾.

نو تعذيب يې غايه که تر بعثت د رسول که بعثت د رسول نه وي نو تعذيب نشته نو چې تعذيب نشته مغفور شو.

د اشاعره وو دا استدلال دي چې زمانه د فترة مکه معظمه د غلته پيغمبر نه وه راليږل شوې په دې آيت کريمه کې چې سورة ياسين کې راځي : ﴿لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ فَهُمْ غَافِلُونَ﴾.

دلته ډير تاويلات دي خو معروف تاويل دادی چې ما دې نافيه شي ﴿لِتُنذِرَ قَوْمًا﴾

چې ته ویروي داسې قوم ﴿مَّا أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ﴾ چې پلاران یې نه دي یرولې شوي یعنې دوي ته رسول نه ده راغلې .

او یا ما موصوله ده : ﴿لِتُنذِرَ قَوْمًا الذي أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ﴾ هغه چې د چا پلارانو ته انذار شوې دي بیا هغه بعید پلاران مراد دي چې اصل ددوي کې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ اسماعیل السلام هغه زمانه کې تیر شوې وه کنه هغه به مراد شي .

اشاعره وایي چې د فترة زمانه کې څوک مړه شول تصریح د کفر ترې وه کافر که نه وه مغفورین ما تریدیان وایي چې زمانې د فترة والا خلک که کفر ترې نه ثابت شول کافر که کفر ترې ثابت نه شو نو بیا غیر مغفور غیر معذب څه معنی یعنې مونږ به سکوت کوو د هغوي په حق کې امر به یې مفوض الی الله کړو مونږ به فیصله د مغفوریت هم پرې نه کوو او فیصله د تعذیب به هم پرې نه کوو داد ما تریدیه وو رایه ده .

نو یو قول ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې د اسلافو نه راپاتې دادی چې :

انهما ماتا علی الکفر .

دویم قول ترې نه دا مروي شو چې :

انهما علی الفترة . زمانه د فترة کې مړه دي دا خو یقیني خبره ده چې بعثت د رسول عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وه شوې دوي چې مړه دي نو من اهل الفترة شو چې من اهل الفترة شو چې من اهل الفترة شو نو اوس اشاعري ځان نه جوړوي که ما تریدي جوړوي که اشاعري ځان نه جوړوي چا نه چې کفر ثابت وي عند الاشاعرة زمن د فترة معذب چا نه چې کفر ثابت نه وي مغفور .

والدینو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د کفر ثبوت وښایه آمیني بي بي نه وښایه د عبدالله صاحب نه وښایه ښودې شي د کفر ثبوت څوک ترې نه کوم حدیث منکرین څوک چې د **ماتا علی الکفر** قائل دي هغوي سره په دې څه حدیث شته دي څه سندي تاریخي واقعه شته دي چې عبدالله صاحب چې یا یې د بوت په وړاندې حلاله کړې یا یې بوت ته سجده کړې وي یا یې بوت نه استمداد غوښتې وي یا هغه څیزونه چې هغه زمن کې د مشرکینو مکه وو رواجات وه ده کړې دي یا د امیني بي بي نه ودې ښایي څوک په تاریخ کې چې نه شي ښودلې په نزد اشاعره

مغفور شو او په نزد ماتریدیه وو باندې هغوي وايي که ثبوت د شرک وي مشرک ثبوت د شرک خو ترې نه ، نشته او چې ثبوت د شرک نه وي سکوت نه به يې معذب ګڼي او نه به يې مغفور ګڼي داد احنافو اصل دي .

د ماتریدیانو چې آیا یو ائې په عقل مواخذه شته که نشته اشاعره وايي چې بعثت د رسول نه وي مواخذه نشته او احناف او ماتریدیان وايي که کوم ځای بعثت د رسول نه وي په عامو شرائعو کې مواخذه نشته دي تشريعي اسلامي فرعي جزي مونځ زکواة کې مواخذه نشته ولې په وجود باري تعالی کې که ده عقلاً نه وه ثابت کړي بیا مواخذه شته .

دا خو په اصولو کې هم راځي چې کوم ځای کې پیغمبر بعثت نه وي شوې او یا یو چا ته پیغام د توحید نه وي رسیدلې هغوي په عقل مواخذه کیږي عند الاحناف و ماتریدیه دا دویم قول شو .

دویم قول کې د ماتریدیانو تفصیل بیا څه دي ماتریدیان وايي چې څه فیصله د عذاب او د جهنم او د جنت پرې نه شي کولې ته په ساکت يې ، نو دوي سره به څه کیږي په ورځ د قیامت نو اشاعره وايي چې شرک ترې ثابت نه دي من اهل الفترة دي نو مغفور دي جنت ته به ځي او ماتریدیان سکوت کوي نه فیصله د جنت نه د جهنم نو څه به کیږي له ده سره نو ماتریدیان وايي چې دوي به په ورځ د قیامت ممتحن کړې شي باري تعالی به من اهل الفترة خلک چې بعثت د رسول ورته نه وي شوې محضرِ عام کې به اودروي هغوي نه به تپوس وکړي : ﴿أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ﴾ چې دوي څه وايي که وي ویل ﴿بَلَىٰ﴾ جنتیان که وي ویل چې لا جهنمیان ممتحن به شي .

نو چې چا باندې د قبر دا حالات تیر شي او دا ټول هر څه په سترګو مشاهده کړي او زمونږ دا چې قیامت موجود ده مسئله زمونږ د علم الیقین ده او هغوي دا په عین الیقین او د قیامت په ورځ را پورته شي درجه د حق الیقین کې ورته ثابته شي انکار به وکړي بیا هیڅ کله هم انکار نه کوي .

بیا زمونږ ګمان په والدینو د نبي اکرم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به څه وي چې ورځ د قیامت به د هغوي نه تپوس وشي نو هغوي به څه فیصله کوي بیا زمونږ دا یقین دي چې هغوي به وايي : ﴿قَالُوا بَلَىٰ﴾ دا زه خپله خبره نه کوم یوسف بن اسماعیل نبهاني رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ په حجة الله البالغة

على العالمين کې استدلال چې کوي دې ځای نه کوي چې ماتردیان یې ممتحن ګڼي او زمونږ دا ګمان نه چې یقین دي چې والدین د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ که ممتحن شي کامیابیږي به.

دريم قول: هغه دادی چې:

ماتا على الكفر ثم احياهما الله تعالى و آمن بالنبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

په کفر مړه شوې وه بیا خدای تعالی ژوندي کړل په نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې ایمان راوړو اسلافو کې دې دري واړو اقوالو ته علماء ذهاب کوي.

څلورم قول دادی:

التوقف. بس دې نه سړي غلي پاتې شي هیڅ یې ونه چیړي.

خو که مخالفینو نه چیړلي نو مونږ به هم نه چیړلي مونږ دوي مجبور کړو دې خبرو ته یعني زما خپله رایه دې مسئله کې توقف ته رسیدلې ده چې باید سړي غلي پاتې شي نه هغه جانب کې څه ووایي او نه دې جانب کې څه ووایي ځکه چې مونږ نه خو رب کائنات ددې تپوس نه کوي چې تا والدینو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته کافر ویلې وه که نه دې وه ویلې او تا ولې کافر ورته نه دي ویلې.

نو اخراج المؤمن من الدين و ادخال غير المؤمن في الدين عظيم في الدين. نه به غير مؤمن في الدين داخلوي او نه به مؤمن د دین نه خارجوي دواړه جانبه کبیره ده توقف ډیره ښکلي رایه ده که د چا عقیده ایمان ته ورځي بس مؤمنین دي که ایمان ته یې عقیده نه ورځي څه ډیر کتابونو عبارات خو د ایمان خوا ته ترجیح ورکوي.

خو زه وایمه د خلکو د پاره عوامو او طالبانو ته زما تلقین داده چې غلي پاتې شي له دې نه که عقیده مو ایمان ته جوړیږي رایې ولي خو زما خپله عقیده د ایمان ده زه وروسته عبارات ذکر کوم تاسو سوچ وکړي آمیني بي بي ته صحیح روایاتو نه ثابت دي چې دې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خروج په وخت کې نور کتلې دي دا رؤیت د نور دا په سترګو ظاهري نه وو دا په کشف باندې وه کشف مشرک ته څنګه ثابت شو.

دا هره شپه مختلف خوبونه کتل او فرشتې په مختلف شکل دې ته راتلل مشرک ته څنګه دا حالات ثابت شول نو بي بي آمینه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ولادت په وخت کې ارهاصات او عجائبات حالات کتل.

دا ټول دلائل دديٍ دي چې دا بنفسه د اهل الفترة نه وه مونځ او په نورو احکامو مکلف نه ده خو نور ديو قوي ايمان خاونده وه دې خالق پيژندلو چې دا حالات دې ته ثابت شوي دا څلورم قول شو.

ددې امت محدثينو او فقهاو کې زيات علماو توقف ته تللي دي دا مسئله نه چيړي څومره تاريخونه چې وکتل شي مؤرخين دا مسئله نه را اخلي محدثين يې نه را اخلي دا زمونږ فقه حنفي کې سوا د حاشية رد المختار نه نوريو فقيه يې هم نه را اخلي سره دا مسئله چيړي هم نه پريږدي يې ولې توقف کوي په دې باب کې.

زه خپلو دلائلو ته راځمه او دري طريقې د استدلال به کومه د هغه چا استدلال به کومه چې **ماتا على الكفر** او د هغې نه چند جوابونه او هغه استدلال چې **ماتا على الفترة** او هغه استدلال چې **احياهما الله تعالى**.

يو قول پنځم هم شوې دي هغه دا چې ابوين د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څه چې ټولو نيکونو تر آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې نسب کې مشرک نه دي راغلي دا قول تفسير بحر محيط او تفسير کبير د رازي منسوب کړې دي الى الروافض وايي داد شيعه ګانو رايه ده.

خو تفسير روح المعاني په دې باندې دلائل ويلې دي او بيا يې ويلي چې د امام رازي دا خبره چې داد شيعه ګانو قول دي داد تتبع او تلاش نه دي کړې دا وايي قلة د تتبع دده دې کوشش يې نه دي کړي داد شيعه ګانو قول نه دي.

زه وايمه چې چا ويلې د شيعه ګانو قول دي صحيح ده خو شيعه ګانو دې هم کړې وي د اهل سنتو نه دي هم څه علماو کړې وي خو دا خو د شيعه ګانو بنيادي مسلک نه دي کنه چې شيعه هغه څوک دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ والدينو ته مؤمن وايي دا خو اهلسنت هم ورته مؤمن وايي داد شيعه ګانو اصولي اجماعي عقائد خو نه دي.

اوس په يوه جزيه کې شيعه له يو چا سره شو مثال بطور په مانځه کې لاسونه زوړند نيول په سرة تحت السرة فوق السرة نه اينبودل داد شيعه ګانو مذهب يوه جزئي فروعي مسئله ده کنه داسې خو نه شوه چې چا زوړند لاس ونيولو نو شيعه دې اصولي عقائد خو نه جوړيږي امام مالک رَحِمَهُ اللهُ هم دا رايه لري.

جمع بين صلاتين د وهابيانو د شوافعو او د امام احمد صاحب مذهب دي شيعه ګان هم د جمع بين صلاتين قائل دي اوس دديې خو دا معنى نه شوه چې څوک جمع بين صلاتين کوي شيعه به وي.

نو دغه شانته ابن تيميه هم دا نسبت کړې دي بحر محيط تفسير هم کړې دي تفسير الرازي هم کړې دي چې قول د ايمان په تمام اباءاو اجدادو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا روافضو ته منسوب دي محمود آلوسي رَحِمَهُ اللهُ پرې غصه شوې دي وايي دا دوي تلاش نه دې کړي دا غلطه خبره ده بلکې جمعِ غفير من اهل سنت په دې قائل دي چې ټول اباء اجداد يې مؤمنان دي دې کې څوک نه دي تير شوي چې مشرک وي دليل د حديث نه پيش کوي هغه دا چې:

لم ازل أنقل. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي چې هميش ومه زه چې رانقليدمه.

من أصلاب الطاهرين إلى أرحام الطاهرات.

زه له اصلابو شاګانو د طاهرينو نه را روان ومه او ارحامو د طاهراتو ته نقليدمه تر دې چې د خپل مور او پلار نه زه رابنکاره شومه.

دې ځای نه استدلال کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل اجدادو ته طاهر ويلې دي او رب کريم فرمايي:

﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ﴾ مشركين نجس دي.

دا نجس د طاهر متضاد دي هغه وايي زما نسبت ټول طاهر راغلې دي او که څوک ورته مشرک وايي نجس به ثابت شي.

خو يو اعتراض پرې کيدې شي چې د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ پلار آزر وه په نصِ قرآني کافر وه نو په هغې محمود آلوسي زيات زور لګوي چې هغه يې تره وه پلار يې نه وه هر چې پلار دده وه هغه طارق نوميده هغه مشرک نه وه.

مخکې له شروع د اقوالو د محدثينو له استدلالاتو نه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ يو قول فقه اکبر کې چې معروف دي چې:

والدي النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتا على الكفر.

دې ځای نه ثلاثه آئمه محدثين هيچا نه هم داسې قول منقول نه دي سوا ابي حنيفة

رَحِمَهُ اللَّهُ دده نه منقول دي .

دده د خبرې نه جواب په طريقينو باندې کيږي يو جواب منعي دي هغه شاه انورشاه کشميري رَحِمَهُ اللَّهُ په فيض الباري جلد ۱ صفحه ۷۹ کې ذکر کړي :

ما نسب الى الامام الاعظم في الفقه الاكبر فالمحدثون على أنه ليس من تصنيفه .

امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته چې کوم نسبت فقه اکبر کې شوې دي محدثين دې باندې قول کوي چې فقه اکبر د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ تصنيف نه دي .

دا منعي جواب دي چې هر کله د هغه تصنيف نه شو نو دا نسبت هغه ته صحيح نه شو **ماتا على الكفر** دي راغلې وي دده قول نه دي .

بل من تصنيف تلميذه ابو مطيع البلخي . دا دده د شاګرد ابو مطيع بلخي تصنيف دي.

وقد تكلم فيه الذهبي انه جهمي . او دې شاګرد باره کې امام ذهبي قول کړې چې دا جهمي وه .

اقول ليس كما قال . زه وايمه چې د جهمي نسبت ورته ښه نه دي .

لكنه ليس بحجة في باب الحديث . باب د حديثو کې دليل نه وه .

وقد رأيت عدة نُسخ الفقه الاكبر فرأيتها كلها متغائرة . ما د فقه اکبر ډيرې نسخې وليدلې ومې ليدلې چې ټولې متغائره وې الفاظ په کې جدا جدا وه .

دا هغه دويم جواب ته اشاره ده اول جواب دا چې فقه اکبر د امام صاحب تصنيف نه دي که څه قول پيدا شي دا الزامي حجت په احنافو نه دي .

دويم قول دادی چې نسخې د فقه اکبر متغائرې دي ابو المنتهی کې چې دا عبارت راشي تاسو پر حاشيه وګوري حاشيه کې وايي چې ما يوه نسخه قديمه د فقه اکبر وليدله چې په هغې کې دا الفاظ وه :

ما ماتا على الكفر . ابوين د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په کفر مړه نه دي .

شاه انور شاه صاحب دې ته اشاره کوي :

رأيتها كلها متغائرة . ما نسخې وليدلې ټولې متغائرې وې يو کې وايي :

ماتا على الكفر. بل كې وايي:

ما ماتا على الكفر.

تائيد ددې نسخې دادی چې د فقه اکبر ښه شرحه ملا علي قاري ليکلي شرح فقه الاکبر په احنافو کې سر سخته قائل د تکفير د ابوي النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ملا علي قاري دي چې ده پرې رساله ليکلي ده:

معتقد أدلة أبي حنيفة في أبوي الرسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. دا يې نوم دي عقيده او دلائل د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ په تکفير د ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې.

نو چې هر کله د ملا علي قاري قوي رايه دا وه او په دې کې اولين استدلال يې د خپل امام نه کوه تاسو شرح فقه اکبر وګورئ په شرح فقه اکبر کې دا الفاظ نشته چې ماتا على الكفر نه په کې ماتا شته نه پکې ما ماتا شته که دده په نزد باندې دا نسخه واي چې کومه نسخه کې ماتا على الكفر دي په کار دا وه چې ده شرح کړې واي ځکه دې خو قائل ددې خبرې وه يوه نسخه داسې ده چې هغه کې بالکليه دغه عبارت نشته نه ماتا شته نه ما ماتا شته دا هغه نسخه ده کومه چې په شرح فقه اکبر کې پرته ده ځکه که دا شرحه اول نه آخره پورې وکتل شي مسئله د ماتا على الكفر په کې بيخي نشته دې نسخه کې بيخي دا جزيه نه وه هغه زمانه کې خو دومره چاپ خانې نه وي چې بله به دې را اخيستې وي خو په تتبع او تلاش به چيرته يوه قلمي نسخه پيدا شوه.

ملا علي قاري چې کومه نسخه پيدا کړې هغې کې نه ماتا او نه ما ماتا شته يوه نسخه چې اوس معروفه ده هغې کې ماتا على الكفر دي.

يوه نسخه بله ده کومه چې ابو المنتهى محشي پرې استدلال کوي هغې کې دي ما ماتا على الكفر نو يا خو د شاه انور شاه صاحب قول دي چې د آدابو مطيع تصنيف دي داد امامنا تصنيف نه دي قول يې څه الزام نه شو يا که د هغه تصنيف بالفرض شي هم نو بيا دې نسخو کې اختلاف دي.

استدلال د هغه جماعت چې هغوي وايي ټول اباء اجداد طاهر دي :

اما رازي رَحِمَهُ اللَّهُ هم دې ته ذهاب کړې دي او د محمود آلوسي رَحِمَهُ اللَّهُ رايه هم دې طرف ته ميلان لري استدلال د سورة الشعراء ۲۱۷ آيت نه کوي :

﴿الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ﴾ الله هغه ذات دي چې گوري تا کله چې ته پاڅي .

﴿وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ﴾ اى وحين تقلبك في الساجدين وگوري تا په تقلب ستا په ساجدينو کې .

زاد المسير في علم التفسير جلد ۵ صفحه ۱۲ :

اى ونرى تقلبك في الساجدين . ددې ترجمه کوي دري اقوال را اخلي :

أحدها : وتقلبك في أصلاب الانبياء حتى اخرجك . کله چې تاسو په شاگانو د انبياء کې را روان وي هغه وخت پورې چې تاسو يې د خپل مور بي بئ نه راويستې دغه وخت پورې الله العالمين فرمايي ته مونږ کتلې زمونږ په حفظ کې وې .

دا روايت د عکرمه دي عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زاد المسير منسوب کړې عکرمه لره دي ما چې تفتيش او تلاش وکړو نو دا روايت د عطاء دي عن ابن عباس .

الثاني : وتقلبك في الركوع والسجود والقيام مع المصلين في الجماعة . دا جمعه کې چې ته اوړې را اوړې رکوع ته سجدې ته بنکته پورته کيږې دې وخت کې دې مونږ گورو معنى يې دا شوه :

يراك وحدك ويراك في الجماعة وهذا قول الاكثرين منهم قتادة .

الثالث : وتصرفك في ذهابك ومجيئك في اصحابك المؤمنين .

تقلب يې په معنى د تصرف که دا د حسن بصري قول دي همدغه عبارت الدر المنثور في التفسير بالمأثور للسيوطي جلد ۱۱ صفحه ۳۱۷ کې ذکر کړې :

واخرج ابن ابي حاتم وابن مردويه وابونعيم في الدلائل عن ابن عباس في قوله ﴿وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ﴾ قال ما زال النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يتقلب في أصلاب الأنبياء حتى ولدته امه كذا ذكره تفسير ابن ابي حاتم جلد ۹ صفحه ۲۸۲۸.

تفسير البغوي جلد ٦ صفحه ١٣۴ ، الكشف والبيان عن تفسير القرآن جلد ٧ صفحه ١٨۴.

التفسير الحديث جلد ٣ صفحه ٢٧٠ ، تفسير السلمي جلد ٢ صفحه ٨٣.

تفسير حقي جلد ٩ صفحه ۴٩٧ ، المجالسة وجواهر العلم جلد ٨ صفحه ١٨٥.

معجم ابن الاعرابي جلد ۴ صفحه ٢١٢ . تائيد دديٍ روايت كوي :

واخرج ابن مردويه عن ابن عباس قال سألت رسول الله ﷺ فقلت بأبي انت و امي اين كنت و آدم في الجنة . تاسو چيرته وي چې آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په جنت كې وه .

فتبسم حتى بدت نواجذه ثم قال إني كنت في صلبه وهبط الى الارض وأنا في صلبه وركبت السفينة في صلب أبي نوح وقذفت في النار في صلب ابي ابراهيم .

ولم يلتق ابواي قط على سفاح . زما نيكونو كې څوك زنا والا نه دي راغلې .

لم يزل الله ينقلني . هميش وه خداى تعالى چې زه يې رانقلوم .

من الأصلاب الطيبة الى الارحام الطاهرة . د شاګانو پاكو نه ارحامو طاهروته .

مصفى مهذبا لا تتشعب شعبتان . هر ځاى كې داسې دوه ډلې نه دي جوړې شوې يو پلار دوه زامن نه دي جوړ شوې .

الا كنت في خيرهما . مګر زه په خير كې راغلې يمه يعنې غوره كې راغلې يمه .

استدلال دلته دي ځاې نه ده : **الا كنت في خيرهما** .

او مشرك كافر ته د خير نسبت نه شي كيدلې .

او بل دې ځاى نه استدلال كيږي :

ينقلني من الاصلاب الطيبة الى الارحام الطاهرة .

او طاهر مشرك نه شي كيدلې .

انما المشركون نجس . هغوي نجس دي هغوي ته د طاهر نسبت نه شي كيدې .

د اول قول قائلين چې دا اصلاب ټول پاک دي هغوي له دغه ايات نه استدلال دي.

دا چې مُصرحًا چا پرې اخذ کړې دي ، مفاتيح الغيب للرازي تفسير کبير دي جلد ۱۳ صفحه ۳۳ ، دا احتمالات خو په کې راغله دري او ده تقريبًا پنځه جوړ کړې دي وايي :

لفظ الآية محتمل للكل . دټولو احتمال لري .

فليس حمل الآية على البعض اولى من حملها على الباقي . دا نه ده چې په بعضو حملول يې له بعضو نه اولى دي ټول احتمال لري .

فوجب أن نحملها على الكل وحينئذ يحصل المقصود .

نو مقصود يې څه شي دي ايمان اجداد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ومما يدل ايضاً على أن أحدا مِن اباء محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ ما كان من المشركين .

نو دليل د دې به شي چې اباء د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو هم مشرک نه وه دليل پرې :

قوله عَلَيْهِ السَّلَامُ: لم ازل أنقل من أصلاب الطاهرين الى الأرحام الطاهرات .

ګورئ دا حديث يې دليل کړو :

وقال تعالى : ﴿ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ ﴾ التوبة ۲۸ .

وذلك يوجب ان يقال . دا قول واجبوي چې ويلې شي :

ان احدا من أجداده ما كان من المشركين . يو دينكو نو نه يې هم مشرک نه دي تير شوې .

اذا ثبت هذا فنقول ثبت بما ذكرنا أن والد ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ما كان مشركاً . هغه هم مشرک نه وه .

وثبت ان ازر كان مشركا .

که څوک وايي چې دا خو ثابته ده چې ازر مشرک وه .

فوجب القطع بان والد ابراهيم كان انساناً آخر غير آزر . هغه طارق وه پلار د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ او آزر يې کاکا وه تره يې وه .

او که څوک اعتراض وکړي :

﴿ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ ﴾ دلته خو أب راغلې دي .

نو جواب به دا وي د قرآن كريم اصلاح كې تره ته أب ويلې كيږي لكه او له سيپاره كې راځي :

﴿مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَـهَكَ وَإِلَـهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ﴾
يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا وايي ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ خو يې نيكه وه ځكه پلار شو اسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ يې پلار وه نو پلار شو اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ يې تره وه .

﴿إِلَـهَ آبَائِكَ﴾ أب ورته ويلې شو .

يا دويم دليل پرې هغه حديث دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وايي چيرته دي پلار زما .

علي بي ابي . پلار راته راولي خلكو ورته حضرت عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوستلو ورته يې كينولو هغه دې تره ته وويل شو په اصطلاح د حديث كې .

دا اول قول شو ګورئ امام رازي رَحِمَهُ اللَّهُ دې طرف ته ميلان لري .

يوسف بن اسماعيل نبهاني رَحِمَهُ اللَّهُ هغه وايي چې د اول قول قائل امام رازي دي نو امام رازي خو شيعه نه وه له اهل سنت نه وه .

چې اجداد د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مؤمنين وه .

تفسير روح المعاني جلد ۴ صفحه ۱۸۴ :

والذي عول عليه الجمع الغفير من اهل السنة . هغه چې په هغې اعتماد يوې لوي ډلې د اهل سنت كړې دي هغه دا چې :

أن آزر لم يكن والد ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ. آزر والد د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وه .

وأدعوا أنه ليس في أباء النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كافرا اصلاً .

دعوى يې داده چې اباء د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ كې بالكلية كافر نه دي راغلي .

لقوله عَلَيْهِ السَّلَامُ: لم أزل أنقل من أصلاب الطاهرين الى ارحام الطاهرات والمشركون نجس .

همغه دليل پيش كوي .

وتخصيص الطهارة بالطهارة من السفاح لا دليل له يعول عليه .

اوس جواب كوي بعضې خلك وايي چې ارحام طاهرات من الزنا وه .

محمود آلوسي وايي چې تخصيص د طهارة په طهارة من الزنا سره څه دليل نشته چې اعتماد پرې وشي سره له دې چې :

والعبرة لعموم اللفظ لا لخصوص السبب .

ظاهر عام راغلې دي .

وقد ألفوا في هذا المطلب الرسائل واستدلوا له بما استدلوا .

والقول بأن ذلك قول الشيعة كما ادعاه الامام الرازي ناشئ من قلة التتبع .

چا چې دا قول کړې دي چې ايمان د ابا و نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قول د شيعه گانو دي لکه چې امام الرازي هم دا ويلي دي دې وايي دا قول را پيدا شوې له لږ تتبع نه دا وايي ددې تالاش نه دې کړي دلائل يې نه دي کتلې که دلائلو ته وکتل شي نو دا د شيعه گانو قول نه جمع غفيره د اهلسنت پرې قائله ده .

دا رنگې تفسير اللباب لابن عادل جلد ۱ صفحه ۲۰۹۴ هغې هم دغه عبارت دا مخکې چې کوم استدلال چې :

لم أزل أنقل من أصلاب الطاهرين الى أرحام الطاهرات والمشركون نجس .

دغه شان استدلال ده هم کړې دي .

دغه شان روح المعاني جلد ۱۰ صفحه ۱۳۵ د دغه آيت تفسير کې ليکي :

وتفسير الساجدين بالانبياء رواه جماعة منهم الطبراني والبزار وابو نعيم عن ابن عباس ايضاً الا انه رضي الله تعالى عنه فسر التقلب فيهم بالتنقل في اصلابهم حتى ولدته امه عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ .

محمود آلوسي وايي :

وجوز على حمل التقلب على التنقل في الأصلاب أن يراد بالساجدين المؤمنون .

جائز شوه دا خبره چې تقلب په معنى د تنقل في الأصلاب اخلي نو بيا مراد له ساجدينو نه يوائې انبياء مه اخله بلکې مؤمنين واخله استدلال به وشي په دې آيت سره .

على ايمان ابويه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كما ذهب اليه كثير من اجلة اهل السنة .

ډيرو اجلة د اهل سنت دې ته ذهاب کړې دي نو مراد له ساجدينو نه په مؤمنين شي مراد له تقلب نه په تصرف شي تصرف د روح ستا چې کوم دي دا را چليدلې دي په مؤمنينو کې .

نو محمود آلوسي وايي :

وأنا أخشى الكفر على من يقول فيهما رضي الله تعالى عنهما . زه يره د کفر لرمه په هغه چا چې قول کوي په حق د دغه دواړو کې چې والدين د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دي .

على رغم أنف علي القاريء واضرابه .

د ملا علي قاري وايي دا پوزه دې په خاورو ککړه شي او هم مثل دده .

بضد ذلك . چې دده خلاف يې کړي .

الا اني لا اقول بحجية الآية على هذا المطلب . وايي زما عقيده داده چې اباء مؤمنين دي خو دې آيت نه استدلال په حجية قول نه کومه بلکې حجيت له هغه حديث نه کومه چې :

أنقل من أصلاب الطاهرين الى أرحام الطاهرات .

وايي دې آيت نه اخذ نه کومه وايي دا تقلب په معنى د تنقل سره معنى بعيد ده .

دارنګې ايمان د ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره له اجدادو نه او خيرية ددوي باندې چې څوک قائلين دي استدلال د رواية د دلائل النبوة نه هم کولې شي .

دلائل النبوة للبيهقي جلد ۱ صفحه ۱۷۴ :

أخبرنا ابو الحسن علي بن احمد بن محمد بن حفص المقرئ ببغداد قال حدثنا ابو عيسى بكار بن احمد بن بكار قال حدثنا أبو جعفر أحمد بن موسى بن سعيد املاء سنة ست وتسعين ومائتين قال حدثنا ابو جعفر محمد بن أبان القلانسي قال حدثنا ابو محمد عبدالله بن محمد بن ربيعة القدامي قال حدثنا مالك بن أنس عن الزهري عن انس بن مالك وعن ابي بكر بن الحارث بن هشام قالا بلغ لنبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان رجالاً من كندة يزعمون أنه منهم .

رحمت عالم ته چا وويل چې د کنده د قبيلې څه خلک دي ګمان کوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ د قبيلې نه دي .

فقال انما كان يقول ذاك العباس وابو سفيان بن حرب اذا قدما المدينة .

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فخر په نسب سره بنه و نه ګڼه و ايي دا خبرې به عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابو سفيان کولې کله چې مدينې منورې ته راغلل دې د پاره .

ليأمنا بذلك . چې په امن شي دوي .

دواړه چې راغلل دا به يې وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ د قبيلې نه دي البته اوس بنو کندة نه انکار نه کوي .

وانا لن ننتفي من ابائنا . مونږ د خپلو پلارانو نه نفي نه کوو .

نحن بنو النضر بن کنانة . هغه د خپلې قبيلې اصل ته ځي کنانه خو هغه نيکه کې شريک دي کنه دې نه وروسته .

وخطب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال . خطبه يې وويله او په خطبه کې وويل .

انا محمد بن عبدالله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف ابن قصي بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤي بن غالب بن فهر ابن مالك بن النضر بن کنانة بن خزيمة بن مدرکة بن الياس - بن مضر بن نزار .

دا خپل تاريخ يې ويلې .

وما افترق الناس فرقتين الا جعلني الله في خيرهما . دوه فرقې نه دي جوړې شوې مګر زه ګرځولې يمه خدای تعالی په غوره د هغوي کې نسبونه چې دوه شوي زه په غوره کې راغلې يمه .

نو که مشرک او نجس ورته ثوک وايي العياذ بالله نو هغې باندې اطلاق د خيريت نه کيږي د خير له ټکي نه استدلال دي چې د مبارک خپل نسب ته خير ويلي .

دريم دليل د دغه قائلينو الجامع الصغير من حديث البشير النذير جلد ۱ صفحه ۲۳۰ ، دارنګې التسير بشرح الجامع الصغير للمناوي جلد ۱ صفحه ۷۶۰ هغې کې د رحمت عالم الفاظ دادی روايت د بيهقي دي په دلائل کې :

فأنا خيركم نسباً وخيركم أباً . زه غوره ستاسې نه يم په نسب کې او زه غوره ستاسې نه يم له جهته د پلار نه مخاطب دلته قريشيان دي يا صحابه کرام دي نو د هغوي پلارانو کې خو

مؤمنان وه که دا مشرک واي نو څنګه يې د هغوي په مؤمن پلار غوره ګڼي زه په تاسو کې د پلار په لحاظ هم خير يمه او د نسب په لحاظ هم خير يمه.

علامه مناوي رَحِمَهُ اللَّهُ دلته شرحه کوي:

خيركم اباً وخيركم اماً.

دا په الفاظو د حديث کې نشته علامه مناوي شرح کوي چې د پلار په لحاظ خير دي نو د مور په لحاظ هم خير دي نسب دواړو ته شامل دي.

كنز العمال في سنن الاقوال والافعال جلد ١١ صفحه ٤٠١ کې دا مذکور دي.

الفتح الكبير في ضم الزيادة الى الجامع الصغير جلد ١ صفحه ٢٥٧ کې هم دا مذکور دي دا هغه اول مسلک شو اباء اجداد کل مؤمنين وه استدلال د ايات نه شو تام يا غير تام خو استدلال له دغه ځای نه کوي او يا د هغه حديث نه شو.

أنقل من أصلاب الطاهرين الى أرحام الطاهرات.

او مشرکين نجس دي طاهر ورته نه شي ويلې د مفسرينو اقوال ما ذکر کړه.

المسلك الثاني: هغه دادی:

ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتا على الكفر ثم احياهما الله تعالى فأمنا به.

خدای تعالی بيا ژوندي کړه بيا يې ايمان قبول کړو.

تفسير حقي جلد ٥ صفحه ١٨٢ مسلک ثاني:

بقي ههنا أن الجمع الغفير من العلماء ذهبوا الى أن النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مر على عقبة الحجون في حجة الوداع.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تيريدلو په عقبة الحجون باندې په حجة الوداع کې، عقبة الحجون د ځای نوم دي ابوای ته نږدې دي.

فسأل الله أن يحيى أمه. سوال يې وکړو خدای تعالی ته چې مور ورته را ژوندي کړي.

فأحياها. ورته را ژوندي يې کړه.

فأمنت به. ايمان يې پرې راوړ.

مؤمنان وه کهٔ دا مشرک واي نو څنګه يې د هغوي په مؤمن پلار غوره ګڼي زه په تاسو کې د پلار په لحاظ هم خير يمه او د نسب په لحاظ هم خير يمه.

علامه مناوي رَحِمَهُ اللّٰهُ دلته شرحه کوي:

خيركم اباً وخيركم اماً.

دا په الفاظو د حديث کې نشته علامه مناوي شرح کوي چې د پلار په لحاظ خير دي نو د مور په لحاظ هم خير دي نسب دواړو ته شامل دي.

كنز العمال في سنن الاقوال والافعال جلد ۱۱ صفحه ۴۰۱ کې دا مذکور دي.

الفتح الكبير في ضم الزيادة الى الجامع الصغير جلد ۱ صفحه ۲۵۷ کې هم دا مذکور دي دا هغه اول مسلک شو اباء اجداد کل مؤمنين وه استدلال د ايات نه شو تام يا غير تام خو استدلال له دغه ځای نه کوي او يا د هغه حديث نه شو.

أنقل من أصلاب الطاهرين الى أرحام الطاهرات.

او مشركين نجس دي طاهر ورته نه شي ويلې د مفسرينو اقوال ما ذکر کړه.

المسلك الثاني: هغه دادی:

ابوي النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتا على الكفر ثم احياهما الله تعالى فأمنا به.

خدای تعالى بيا ژوندي کړه بيا يې ايمان قبول کړو.

تفسير حقي جلد ۵ صفحه ۱۸۲ مسلک ثاني:

بقي ههنا أن الجمع الغفير من العلماء ذهبوا الى أن النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مر على عقبة الحجون في حجة الوداع.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تيريدلو په عقبة الحجون باندې په حجة الوداع کې، عقبة الحجون د ځای نوم دي ابوای ته نزدې دي.

فسأل الله أن يحيى أمه. سوال يې وکړو خدای تعالى ته چې مور ورته را ژوندي کړي.

فأحياها. ورته را ژوندي يې کړه.

فأمنت به. ايمان يې پرې راوړ.

مؤمنان وه که دا مشرک واي نو څنګه يې د هغوي په مؤمن پلار غوره ګڼې زه په تاسو کې د پلار په لحاظ هم خیر یمه او د نسب په لحاظ هم خیر یمه.

علامه مناوي رَحِمَهُ اللَّهُ د لته شرحه کوي :

خیرکم اباً وخیرکم اماً.

دا په الفاظو د حدیث کې نشته علامه مناوي شرح کوي چې د پلار په لحاظ خیر دي نو د مور په لحاظ هم خیر دي نسب دواړو ته شامل دي.

کنزالعمال في سنن الاقوال والافعال جلد ۱۱ صفحه ۴۰۱ کې دا مذکور دي.

الفتح الکبیر في ضم الزیادة الی الجامع الصغیر جلد ۱ صفحه ۲۵۷ کې هم دا مذکور دي دا هغه اول مسلک شو اباء اجداد کل مؤمنین وه استدلال د ایات نه شو تام یا غیر تام خو استدلال له دغه ځای نه کوي او یا د هغه حدیث نه شو.

أنقل من أصلاب الطاهرین الی أرحام الطاهرات.

او مشرکین نجس دي طاهر ورته نه شي ویلې د مفسرینو اقوال ما ذکر کړه.

المسلک الثاني : هغه دادی :

ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتا علی الکفر ثم احیاهما الله تعالی فأمنا به.

خدای تعالی بیا ژوندي کړه بیا یې ایمان قبول کړو.

تفسیر حقي جلد ۵ صفحه ۱۸۲ مسلک ثاني :

بقي ههنا أن الجمع الغفیر من العلماء ذهبوا الی أن النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مر علی عقبة الحجون في حجة الوداع.

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تیرید لو په عقبة الحجون باندې په حجة الوداع کې، عقبة الحجون د ځای نوم دي ابوای ته نزدې دي.

فسأل الله أن یحیی أمه. سوال يې وکړو خدای تعالی ته چې مور ورته را ژوندي کړي.

فأحیاها. ورته را ژوندي يې کړه.

فأمنت به. ایمان یې پرې راوړ.

وردها الله تعالى اى روحها . قال في انسان العيون لا يقال على ثبوت هذا الخبر و صحته التي صرح بها غير واحد من الحفاظ ولم يلتفتوا الى من طعن فيه .

واي قول دې نه شي كولې په صحت ددې خبر كې طعني دي په كوم راوي نه لګول كيږي وروسته له ذكر د غير واحد من الحفاظ نه چې هغوي دا په خپلو كتبو كې را اخلي او التفات نه كوي الى من طعن فيه څوک هم جرحه نه كوي او دا روايت ذكر كوي يعنې محدثين چې تخريج ددې حديث كوي دې باندې دې اعتماد وشي .

كه څوک دا اعتراض كوي چې له مرګ نه وروسته ايمان څنګه قبول شو هغه خو د بعد الغرغره هم قبول نه وي دا څنګه قبول شو .

نو جواب دا كوي :

لانا نقول هذا من جملة خصوصياته صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . دا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خصوصيات شول.

علامه قرطبي ذكر كوي :

قد احيى الله تعالى على يده جماعة من الموتى . دا يې معجزه وه .

فاذا ثبت ذلك فيما يمنع ايمان أبويه بعد إحيائهما .

څه مانع دي له دې نه چې خداى تعالى به ژوندي كړې وي ايمان به يې راوړې وي.

ويكون زيادة في كرامته وفضيلته ولو لم يكن احياء أبويه نافعا لإيمانهما وتصديقهما لما احييا ، يقول الفقير .

اسماعيل حقي وايي :

قد أشبعنا الكلام في ايمان أبوي النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وكذا ايمان عمه أبي طالب .

دا اختلاف لري د اهلسنت نه قاضي ثناء الله پاني پتي او اسماعيل حقي قائل دي د ايمان د ابو طالب .

و جده عبد المطلب بعد الاحياء في سورة البقرة عند قوله تعالى : ﴿ وَلَا تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ ﴾ .

وايي دا ما چيرلي .

فارجع اليه . هغې ته ذهاب وکړه .

وجاء ان عبد المطلب رفض في آخرة عمره عبادة الاصنام ووحد الله وتؤثر عنه سنين جاء القرآن با كثرها وجاءت السنة بها منها الوفاء بالنذر .

کوم کارونه چې په شريعت کې دي هغه به ده کول وفاء په نذر .

والمنع من نكاح المحارم و قطع يد السارق والنهي عن قتل الموءودة وتحريم الخمر والزنى وان لا يطوف بالبيت عريان كذا في كلام بسط ابن الجوزي .

وقال في ابكار الافكار في مشكل الأخبار أن عبد المطلب قد كان يتعبد في كثير من احواله بشريعة ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ويتمسك بسنن اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ولم ينكر نبوة محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ .

همدغه عباراتو طرف ته ميلان السيرة الحلبية في سيرة الامين المأمون جلد ۱ صفحه ۸۳ هم کوي هغه وايي :

وإذا ثبت ذلك فما يمنع إيمان أبويه بعد احيائهما . کوم مانع دي د ايمان د أبوي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وروسته د ژوندي والې د دواړو نه .

حاشية الشهاب الخفاجي على البيضاوي جلد ۴ صفحه ۱۴۱ دا چې توبه بعد الغرغرة قبليږي او کنه دې وايي :

فهو حق . دا ثابته ده د بعضې خواصو باره کې .

كما قبل ايمان ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعد الغرغرة .

دارنګې التذكرة القرطبي جلد ۱ صفحه ۱۲ : اخرجه ابو بكر احمد بن علي الخطيب في كتاب السابق واللاحق داد کتاب نوم دي مخکني احاديث وروستني احاديث .

وابو حفص عمر بن شاهين في الناسخ والمنسوخ . ناسخ او منسوخ احاديث مخالفين چې ترې استدلالات کوي د روايت د مسلم نه يې کوي :

إن أبي وأباك في النار . هغه صحابي ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي وه زما اب او ستا اب في النار دي .

د سند په لحاظ قوي دي خو دعوى يې د كفر ده او في النار دليل د كفر نه دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په دوه قبرونو روان وه وايي دا دواړه معذب دي راجح قول دا دى چې دا قبرونه د مسلمانانو وه يو چغل خوره او بل لا يستنزه من البول نو دادى د ګناه په وجه معذب دي في النار وګڼلې شول.

إن أبي وأباك في النار.

روايت د مسلم دليل د كفر نه دي دليل د تعذيب دي او د في النار دي په شفاعت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به له هغې نه خارج شي دا د مخالفينو قوي دليل دي.

يا لا تسئل عن اصحاب الجحيم لا تَسئل لا تُسئل قرأتين دي كه دا مجهول شي معروف قرائت دادى د جمهورو:

لا تُسئل عن اصحاب الجحيم. دا تسلي د محبوب شوه چې كفارو به ايمان نه راوړو دې به ډير غمجن وه.

﴿فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰ آثَارِهِمْ إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا﴾ نو دې به ډير خفه وه نو تسلي راغله.

لا تُسئل. ته نه پوښتلې كيږې.

عن اصحاب الجحيم. مشركين چې ايمان نه راوړي جهنم ته ځي تا نه خو يې تپوس نه كيږي ولې پرې خفه يې دا د جمهورو قرائت دي.

دويم قرائت د نافعه دي.

لا تسئل عن اصحاب الجحيم. ته تپوس مه كوه د اصحاب الجحيم نه دغه قرائت نه دوي استدلال كوي سيوطي رَحِمَهُ اللَّهُ په ايمان د أبوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې رساله ليكلې ده.

الحاوي للفتاوى كې په هغې كې نسبت د ضعف او د انقطاع كړې دې دې لره چې دا حديث منقطع دي ضعيف دي د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شرحه يې دا را اخيستې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي:

قال ليت شعري ما فعل أبواي فنزلت. زما مور او پلار به په څه حال باندې وي وايي هغه وخت کې ورته دا راغې.

لاتسئل عن اصحاب الجحيم. نو اصحاب الجحيم يې ابوي شول.

ګورئ دا شان نزول په مقابل د هغه قوي يو خو دا قرائت د نافع دې په مقابله د جمهورو کې دا قبول نه دې.

جمهور وايي:

لا تُسئل عن اصحاب الجحيم. تسلي ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ده لا تُسئل نه دي.

لا تُسئل عن اصحاب الجحيم. مجهوله صيغه ده تسلي ده د اهل د جهنم د مشرکينو تا نه پوښتنه نه کيږي زړه پرې مه خفه کوه.

او لا تسئل. پوښتنه مه کوه سوال مه کوه د جحيم والا زمونږ نه يعني اهل د جحيم مونږ نه مغفرت مه غواړه، دې قرائت د نافع نه دوي استدلال کوي.

او دې کې يو ضعيف روايت د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پيش کوي چې ده شان نزول کې دا ويلي وه نو دا روايت قوي نه دې ضعيف دې.

او دا قرائت په مقابله د قرائت د جمهورو کې کمزورې دي دغه دوه استدلالات د دوي ترې دي يو هغه روايت د مسلم دي يو دا دي سره ددې به وروسته عبارت به زه ذکر کړم مفسرين وايي چې: لا تُسئل کې لا تسئل وو وايه عن اصحاب الجحيم کې أبوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې روايت ضعيف باندې ثابت کړه دا ترې مراد کړه چې اصحاب الجحيم په حالت د برزخ کې دليل د کفر نه دي اصحاب الجحيم خو اصحاب النار شول او په قبر کې خو مؤمن ته هم عذاب ورکول کيږي دليل د کفر نه دي په دعوي يې دليل نشته دي.

دې حديث ته ګوري دا حديث خطيب بغدادي په السابق واللاحق کې ابن شاهين في الناسخ والمنسوخ کې را اخلي.

اوس چې ددې په خلاف څومره روايات دي هغه دې منسوخ کړه خطيب بغدادي وايي هغه روايات سابق دي دا روايات لاحق دي.

وروسته دا راغلي ابن شاهين وايي هغه حديث منسوخه دي دا حديث ناسخ دي هغه دادی :

باسناديهما عن عائشة رضي الله عنها قالت حج بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم حجة الوداع.

حج يې وكړو نو حجة الوداع شوه خو نور روايات مخكې شول دا خو آخري حج دي آخري ايام دي.

فمر بي على عقبة الحجون. د ځاى نوم دي.

وهو باك حزين مغتم. ډير غمجن د ژړيدونكي او خفه وه دومره يې ژړل.

فبكيت لبكائه صلى الله عليه وسلم. دده له وجې ما هم وژړل.

ثم انه طفراي وثب. بيا يې ټوپ كړه پاڅيده يو ناڅاپه.

فنزل فقال يا حميراء استمسكي. او بس باندې زين يا كته واچوه.

فاستندت الى جنب البعير فمكث عني طويلاً ثم عاد الي وهو فرح متبسم.

بيا راغې او خندل يې خوشحاله وه.

فقلت له بابي انت وامي يا رسول الله صلى الله عليه وسلم نزلت من عندي وانت باك حزين مغتم فبكيت لبكائك يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم انك عدت الي وانت فرح متبسم فعن ماذا يا رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ فقال مررت بقبر امي آمنة.د مور بي بي په قبر تير شومه.

فسألت الله ربي ان يحييها. ما د رب كريم نه سوال وكړو چې دا راته ژوندي كړه.

فاحياها فآمنت بي. خداى تعالى را ژوندي كړه په ما يې ايمان راوړو.

او قال فامنت وردها الله عز وجل. واپس خداى تعالى رد كړه بيرته مو دفن كړه.

لفظ الخطيب دي.

وقد ذكر السهيلي في الروض الانف باسناد فيه مجهولون ان الله تعالى احيا له اباه وامه وامنا به.

ددې حديث سند كې مجهولين دي چې مور پلار دواړه يې ورته ژوندي كړه هغه

مخکې حدیث دي چې موریې ور ته ژوندي کړه.

قال الشيخ المؤلف رَحِمَهُ ٱللَّهُ ولا تعارض والحمد لله لان احياهما متأخر عن النهي بالاستغفار لهما.

که څوک وايي چې په احاديثو کې راغلي دي چې ما د مور بخښنه غوښتله خدای تعالی منع کړه د مور د زيارت اجازت مې غوښته اجازت يې راکړ هغه حديث سره څه کوي.

نو دې وايي تعارض نشته دي دا بيا ژوندي کيدل متأخر دي د نهي بالاستغفار نه.

بدليل حديث عائشة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهَا ان ذلك كان في حجة الوداع وكذلك جعله ابن شاهين ناسخاً لما ذكر من الاخبار.

دا يې ناسخ کړه هغې لره هغه منسوخ شوېه دې.

داد علامه قرطبي د تذکرې عبارت وه اخر کې وايي:

ليس احياؤهما وايمانهما بممتنع عقلاً ولا شرعاً.

ددوي ژوندي کيدل او ايمان راوړل نه عقلاً ممنوع دي نه شرعاً ممنوع دي.

فقد ورد في الكتاب إحياء قتيل بني اسرائيل وإخباره بقاتله.

قرآن کريم کې قصه وارد ده.

كان عيسى عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ يحيى الموتى وكذلك نبينا عَلَيْهِ ٱلصَّلَاةُ وَٱلسَّلَامُ أحيا الله تعالى على يديه جماعة من الموتى واذا ثبت هذا فما يمنع من إيمانهما بعد إحيائهما زيادة في كرامته وفضيلته.

المسلك الثالث: دريم مسلک دادی: **ماتا على الفترة.**

د فقه اکبر نه دري جوابونه کولې شي:

(١) تصنيف د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه دي الزام نه شو.

(٢) دا چې نسخې متغائرې دي يو کې دا عبارت نشته بله کې **ماتا** دي او په دريمه کې **ما ماتا** دي.

(٣) او بل جواب دادی چې تقدير په کې راوباسه:

ابوي النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتا في زمن الكفر. في الكفر معنى في زمن الكفر.

نو دا به معني شي د عبارت د هغه چا سره چې ماتا في زمن الفترة.

دې کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د ماتريدي رايه ښکاره کړه چې څوک د فترة په زمانه کې مړه وي شرک ترې ثابت وي مشرک يې ګڼم شرک ثابت نه وي توقف کومه نو د امامنا قول د توقف شو شرکيات يې څوک نه شي ښودلې او دې نوم ته يې هم سوچ نه کوي د کومو صحابه وو لحد کې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ څملاستلي دي علماء متفق دي په دې چې د غه سرې خداى تعالى د قبر له عذاب نه ساتلي ځکه چې دې لحد سره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وجود مبارک ولګيده.

دلته اور نه شي راتلې. شفاء کې قاضي عياض صاحب روايت ذکر کوي:

چې يو رومال وه د سمال هغه به نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استعمالوه په هغه کور کې اور ولګيدلو ټول کور وسوزيدلو د غه رومال نه دي سوي ځکه چې د غه رومال د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وجود سره لګيدلي دي په دې اور تاثير نه کوي.

نو هغه رحم او خيټه چې د محمد مصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغې کې ۹ يا ۱۰ مياشتې تيرې شوې دي هغه دې څنګه په اور معذب شي نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې خفه کيږي.

استدلالات را روان دي د محدثينو چې تاسو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته تکليف مه ورکوي د مفسر قول به راشي له دې نه واي غټ تکليف کوم يو دي چې څوک يې مور او پلار ته مشرک ووايي.

نو د يو چا قول ته صحيح تاويل په کار وي که داد امامنا قول شي هم بالفرض والتقدير چې ماتا على الكفر ماتا على زمن الكفر چې زمانه د فترة وه زمانه د جاهليت وه په هغه زمانه کې مړه دي او نور قول د اهل فترة باره کې د اشاعره وو ماتريديه وو مختلف دي معروف دي بس هغې ته اشاره وکړه هغه خو متن دي اشاره قدرې کوي.

دريم مسلک دادى چې دا په زمانه د فترة کې مړه دي د اشاعره وو ماتريديه وو قول ذکر شو.

الخصال الموجبة لدخول النار جلد ۲ صفحه ۱۳۰ دې وايي:

قلت فهذه مسألة دقيقة وقد خاض فيها الناس قديماً.

ايمان د أبوي النبي عَلَيْهِالسَّلَامْ دا يوه مسئله باريکه ده وايي د پخوا را هيسې په کې خلک خوض کوي.

اصل کې خوض په اوبو کې غوپه کيدلو ته وايي يعنې ژور په کې کوزيږي ډير ژور بحثونه په کې کوي.

و مما خلاف فيه ان ابوي المصطفى صَلَّىاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ لم يدركا الاسلام.

ابوي النبي عَلَيْهِالسَّلَامْ چې دي دوي د اسلام درک نه دي کړې ځکه دوي مخکې وفات شوې.

فهما من اهل الفترة بيقين. يقينا د اهل فطرة نه شول.

واهل الفترة فيهما مذاهب كثيرة ذكرها الامام ابن القيم وغيره والصواب فيها الكف عن هذا الموضوع.

حقه داده چې سړي غلي شي دې موضوع نه.

سلباً او ايجاباً. خو دا صاحب د کتاب ماتريدي دي چې شرک ترې ثابت نه شو نو قول د توقف شو او که څوک وايي چې ته ولې د ايمان قول کوي نو مونږ خو هغه روايت ګورو چې وروسته ايمان ثابت دي خداى تعالى ژوندي کړې بيا يې ايمان راوړي.

فليس الحساب موكولاً الى اجتهادنا بل هو الله وحده دون سواه قال تعالى: ﴿لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ﴾ ٢٣ سورة الانبياء.

تفسير حقي جلد ١ صفه ٢٨٣ کې ذکر کوي:

واعلم أن السلف إختلفوا في أن أبوي النبي صَلَّىاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ هل ماتا على الكفر اولا ذهب الى الثاني جماعة متمسكين على طهارة نسبه صَلَّىاللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ من دنس الشرك وشين الكفر وعبادة قريش صنما. وان كانت مشهورة بين الناس لكن الصواب خلافه لقول ابراهيم عَلَيْهِالسَّلَامْ: ﴿وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ﴾

عجيب استدلال دې هم کوي قريشو خاندان د عبد المطلب واي دوي شرک نه دي کړي ځکه ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ دعاء کړي وه وساتي ما او زما اولاد د بت د عبادت نه دده دعاء قبوله ده په حق د قريشيانو کې .

وقوله تعالى في حق ابراهيم : ﴿وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ﴾ وذهب الى الاول .

چې په کفر مړه دي .

جمع منهم صاحب التيسير حيث قال لما امر رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بتبشير المومنين وانذار الكافرين كان يذكر عقوبات الكفار فقام رجل يا رسول الله اين والدي فقال في النار فحزن الرجل فقال عَلَيْهِ السَّلَامُ: ان والديك ووالدي ووالدي ابراهيم في النار .

دې نه يې استدلال کړې دي .

فنزل قوله تعالى : ﴿وَلَا تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ﴾ فلم يسألوه شيئا بعد ذلك وهو كقوله: ﴿لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ .وذهب نفر من هذا الجمع بنجاتهما من النار .

څه علماو ددې جمعې نه په نجات د والدينو قائل دی .

څه علماو دې ته ذهاب کړې دی چې دا وه على الكفر بيا ژوندي شول ايمان يې راوړ چې نجات د اور نه وروسته حاصل دي .

دې ته ذهاب کړې امام قرطبي :

حيث قال في التذكرة ان عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قالت حج بنا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حجة الوداع فمر على عقبة الحجون الخ

هغه حديث يې ذکر کړي مخکې چې تير شو .

دغه شان حاشية رد المختار على الدر المختار جلد ۳ صفحه ۱۸۴ دا په هغې کې مستقل باب لګوي : ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ايمان په موضوع :

مطلب في الكلام على ابوي النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واهل الفترة ولا يقال ان فيه اساءة ادب لاقتضائه كفر الأبوين الشريفين مع أن الله تعالى احياهما له وامنا به كما ورد في حديث ضعيف.

حديث د سند په اعتبار سره ضعيف دي خو مخکې ما اشاره وکړه چې آئمه وو حفاظو پرې اعتماد کړي بدون جرح دي باندې اعتماد کولې شي.

لانا نقول ان الحديث اعم بدليل رواية الطبراني وأبي نعيم وابن عساكر خرجت من نكاح ولم أخرج من سفاح من لدن آدم الى ان ولدني أبي وأمي لم يصبني من سفاح الجاهلية شيء واحياء الأبوين بعد موتهما لا ينافي كون النكاح كان في زمن الكفر ولا ينافي ايضاً ما قاله الامام في الفقه الاكبر من ان والديه ماتا على الكفر.

دې نسخې ته يې ذهاب کړې.

ولا ما في صحيح مسلم استأذنت ربي ان استغفر لامي فلم يأذن لي وما فيه ايضاً.

دارنګې:

ان رجلاً قال يا رسول الله ﷺ اين ابي قال في النار.

وايي دا روايت د دې نورو استدلالاتو د ماتا على الكفر سره څه منافات نه لري ولې:

لامكان ان يكون الاحياء بعد ذلك لانه كان في حجة الوداع وكون الايمان عند المعاينة غير نافع.

که ځوک وايي چې معائنه راشي زنکدن نه وروسته ايمان نه قبليږي غرغري نه وروسته.

فكيف بعد الموت فذاك في غير الخصوصية التي اكرم الله بها نبيه.

دا خصوصيات دي او مسئله په غير خصوصيت کې ده.

واما الاستدلال على نجاتهما. چا چې ويلي چې على الفترة مړه دي په هغه وخت کې چې شرک چا نه ثابت نه وي هغه مغفور دي وايي هغه استدلال د اشاعره وو دي.

واما الاستدلال على نجاتهما بانهما ماتا في زمن الفترة فهو مبني على اصول الاشاعرة ان من مات ولم تبلغه الدعوى يموت ناجياً.

اما الماتريدية فان مات قبل مضى مدة يمكنه فيها التأمل ولم يعتقد ايماناً ولا كفرا فلا

حديث د سند په اعتبار سره ضعيف دي خو مخکې ما اشاره وکړه چې آئمه وو حفاظو پرې اعتماد کړي بدون جرح دي باندې اعتماد کولې شي .

لانا نقول ان الحديث اعم بدليل رواية الطبراني وأبي نعيم وابن عساكر خرجت من نكاح ولم أخرج من سفاح من لدن آدم الى ان ولدني أبي وأمي لم يصبني من سفاح الجاهلية شيء واحياء الأبوين بعد موتهما لا ينافي كون النكاح كان في زمن الكفر ولا ينافي ايضاً ما قاله الامام في الفقه الاكبر من ان والديه ماتا على الكفر .

دې نسخې ته يې ذهاب کړې .

ولا ما في صحيح مسلم استأذنت ربي ان استغفر لامي فلم يأذن لي وما فيه ايضاً .

دارنګې :

ان رجلاً قال يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اين ابي قال في النار .

وايي دا روايت دې نورو استدلالاتو د ماتا على الكفر سره څه منافات نه لري ولې :

لامكان ان يكون الاحياء بعد ذلك لانه كان في حجة الوداع وكون الايمان عند المعاينة غير نافع .

که څوک وايي چې معائنه راشي زنکدن نه وروسته ايمان نه قبليږي غرغري نه وروسته .

فكيف بعد الموت فذاك في غير الخصوصية التي اكرم الله بها نبيه .

دا خصوصيات دي او مسئله په غير خصوصيت کې ده .

واما الاستدلال على نجاتهما . چا چې ويلي چې على الفترة مړه دي په هغه وخت کې چې شرک چا نه ثابت نه وي هغه مغفور دي وايي هغه استدلال د اشاعره وو دي .

واما الاستدلال على نجاتهما بانهما ماتا في زمن الفترة فهو مبني على اصول الاشاعرة ان من مات ولم تبلغه الدعوى يموت ناجياً .

اما الماتريدية فان مات قبل مضي مدة يمكنه فيها التأمل ولم يعتقد ايماناً ولا كفراً فلا

عقاب عليه.

الفواكه الدواني على رسالة ابن ابي زيد القيرواني جلد ۱ صفحه ۲۷۲ دا ماتا على الفترة باندې بحث كوي:

وثالث الاقسام. دريم قسم دي وايي چې زمانې د فترة خلك دري قسمه دي:

(۱) قسم چې شرک ترې ثابت شو په اتفاق د اشاعره ماتريديه وو باندې معذب في النار دي مشركينو غوندې دي.

(۲) قسم چې هغوي نه توحيد ثابت شو لكه ورقه ابن نوفل او زيد عمر بن نحيل او يا بعضې نور نو هغه مؤمنين دي.

(۳) قسم: لم يشرك ولم يوحد نه ترې شرک ثابت دي نه ترې توحيد ثابت دي.

ولا دخل في شريعة بل فنى عمره على حين غفلة وهؤلاء اهل الفترة حقيقة وحكمهم عدم استحقاق الثواب والعقاب وهم في المشيئة ولا يوصفون بايمان ولا كفر.

داد ماتريديانو اصل شو.

وما قيل أن أبا حنيفة صرح في الفقه الأكبر بأن أبوي النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتا على الكفر هو مبني على القول بوجوب المعرفة بالعقل.

هغه دې پسې تللې دي چې پيغمبر نه دي تللې هغه ځای ته په عقل مواخذه كيږي.

نعم إن ورد نص صحيح أن الله أحياهما وأمنا به صلى وجب القول به.

الفقه على المذاهب الاربعة جلد ۴ صفحه ۱۲:

ومما يوجب العجب العجاب قول بعضهم. هغه چې عجوبه لازموي قول د بعضو دي.

أن أبوي النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماتا على الكفر وفي الوقت نفسه يذكرون أن آمنة كانت تحوطها الملائكة الكرام.

وايي همدغه صاحب چې دې ته ماتا على الكفر وايي همدغه صاحب بيا ذكر كوي چې آمنه بي بي چې وه فرشتي به ورته گرد چاپيره تاويدي.

وكان يرى نور النبوة في جبهة عبدالله الخ .د عبد الله په تندي کې به يې نور د نبوة کتلو .

ماذكروه فهل المشرك النجس تزفه الملائكة وتخالطه الارواح الطاهرة .

مشرک نجس وي داسې حالات پرې راځي چې هغه دې نور ګوري يا دې فرشتې ګوري يا دې هغه ورته نزدې کيږي .

ويرى من ارهاصات النبوة ما يفيد انه من أقرب المقربين الى ربه ؟ وأغرب من هذا قولهم ان الله تعالى قد احيا ابوي النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فامنا به وماتا بعد ذلك .

اصل کې صاحب د فقه على مذاهب الاربعة د فترة قول ته ذهاب کوي خو هغلته ذهاب کوي او هغلته بيا ايمان ثابتوي چې هغوي د اهل فترة نه وه خو شرک ترې نه ثابت نه وه نو دې وايي چې دا اغرب قول دي .

ولعل قائل هذا نسي ان قدرة الله كانت صالحة ايضاً لأن يهديهما الى توحيد الاله في حال حياتهما .

واي ددې قول والا چې دې له ياد يې وتلي دا خبره چې خدای تعالی يې بيا ژوندي کوي ايمان پرې راوړي نو خدای تعالی په هغه وخت کې هم دوي ته هدايت کولې شو هملته يې ورته هدايت کړي چې دوي لا ژوندي وه واي هغې طرف ته ذهاب په کار دي .

كما هدى زيد بن عمرو بن نفيل وغيره بل يصونهما عن عبادة الأصنام اكراماً لنور النبوة الذي أشرق على جميع العالم فأخرجه من الظلمات الى النور وأيهما أقرب الى تعلق القدرة هدايتهما قبل الموة او إحياؤهما لمجرد الايمان واماتتهما فوراً على أن الايمان بعد الموة والمعاينة لا معنى له.

دې وايي دې باندې بيا نور اعتراضونه راځي دا ژوندي شول بيا ايمان راوړو غرغري نه بعد ايمان قبليږي او نه قبليږي .نور اعتراضونه پرې کيدې شي بيا د خدای تعالی قدرت هغې کې هم کيدې شي چې دوي ژوندي وه هدايت يې ورته کړې وي يعني خپله قائل ددې دي چې دوي په ايمان مړه دي. دا هغه جوابونه کوي که څوک وايي چې دا خصوصيت د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ معجزه وه نو دې وايي:

أن المسألة معجزة للنبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قلنا أن المعجزة عند الضرورة واي ضرورة في هذا.

يعنې دا مخکې نه په ايمان مره دي نو څه ضرورت دي چې بيا يې ژوندي کوي ايمان راوړي.

اذ يكفي أن يغفر الله لهما بدون خرق للنظم كل هذا كلام لا يصح ذكره في الكتب العلمية ولا المناقشة فيه بل الحق ان اجداد النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كانوا موحدين جميعاً.

حقه داده چې دا ټول موحدين وه دا وروسته چون چرا په کې نه ده په کار چې دا بيا ژوندي شول سند ضعيف دي دې لحاظ سره دې دا خبره کوي بيا نور اعتراضونه دربانده کيږي بعد الغرغره ايمان قبول دي که نه دي.

وما نقل عن بعضهم انه تأثر بعادات قومه.

که بعضونه دا منقول دي چې عادات د قوم هغه ده هم خپل کړې وه.

لم يكن مشركاً مطلقاً انظر ما روي عن جده عبد المطلب وهو يتضرع إلى الله ويستغيث به من أصحاب الفيل حيث يقول.

واي د عبد المطلب صاحب قول ته ګوره چې دده له قول نه توحيد ثابتيږي که شرک ترې ثابتيږي.

شعر د عبد المطلب صاحب دي.

لاهم ان المرء يمنع رحله فامنع رحالك   وانصر على آل الصليب وعابديه اليوم آلك

د حرم شريف ځينځير د دروازې يې نيولې وه او دا دعاء يې کوله او د مکې معظمې خلکو ته يې وويل تاسو وځئ لاړ شي اصحاب فيلو ته ورغې مخې ته او بنانې يې د ابرهه لښکر نيولې وه نو دې ورغې دې خو ډير بنائسته انسان وه.

نو د طائف يو کس ابرهه سره ترجمان وه هغه ته يې ويلې چې دې ابرهه ته ما ورو له هغه سره څه خبرې کوم چې وريې ويستلو نو دې دومره با رُعبه وه چې هغه ته خپل تخت د بادشاهي جوړوه ځان سره يې کينولو وايې دا څوک ده وايې داد مکې معظمې له اشرافو نه دي او داد مکې معظمې د قوم او ددې علاقې مشر دي د هغه دا خيال وه چې دا راغلې دې د مکې معظمې سوال کوي چې جنګ مه کوه ځه لاړ شه نو زه به يې ومنمه.

زه به ورته ووايمه چې ستاسو يو قريشي راغلې دي زمونږ علاقه کې زمونږ د کعبې بې آدبي کړي بس ددې معافي وغواړي مونږ په دا کار نه کوو واپس به شو ځوک تللي وه په يمن کې د ابرهه د کعبې مينځ کې قاذورات کړې وه نو په هغې دې غصه شوې وه نو ابرهه ورته وويل چې څنګه راغلي وايي دلته زما اوښان ستا کسانو نيولې دي هغه اوښان راکړه وايي ما خو وويل چې ته کعبه خلاصول غواړې ته د اوښانو له غمه راغلي يې.

عبد المطلب صاحب ورته وويل چې زه د اوښانو رب يمه ي ښې ښتن يمه د کعبې خپل رب شته هغه به يې درنه وساتي ته راشه ورباندې نو دا څه عقيده ده عقي ه د توحيد ده که نه ده بتان نه يادوي چې هلته بتان پراته دي کعبه به درنه خلاصه کړي الله يادوي.

شعر ته ګورئ:

يا الله ان المرء يمنع رحله.

انسانانو کې هر ذات او هر سړي هغه خپل رحل کورني عيال بچ کوي.

فامنع رحالك. ته هم خپل اهل بچ کړه.

والنصر على آل الصليب وعابديه اليوم آلك. په آل د ضليب چې عيسويان دي عابدينو د صليب باندې نن ورځ مدد وکړه آلك د اتباعو خپلو چې څوک ستا تابعدار وي چې مونږ يو او هغوي چې ستا تابعدار نه دي د هغوي مقابله کې زمونږ مدد وکړه.

دا شعر دده دليل د توحيد دي که د شرک.

نو صاحب د **الفقه على المذاهب الاربعة** ليکي:

فهل هذا كلام وثني يعبد الصنم أو كلام موحد مخلص لربه؟

چې داد وثني بت پرست شعر دي او که داد موحد مخلص دي بيا وروسته وايي چې اصلاً مسئله چې جوړه کړي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ نه منقول دي **ماتا على الكفر** وايي دې لانجه جوړه کړې.

دا کوم خلک چې مخالفت کوي وايي دې ځای نه شروع ده او:

ان أبي واباك في النار. دې نه اختلاف شروع ده جواب کوي:

زه به ورته ووایمه چې ستاسو یو قریشي راغلې دي زمونږ علاقه کې زمونږ د کعبې بې آدبي کړي بس د دې معافي وغواړي مونږ په دا کار نه کوو واپس به شو ځوک تللي وه په یمن کې د ابرهه د کعبې مینځ کې قاذورات کړې وه نو په هغې دې غصه شوې وه نو ابرهه ورته وويل چې څنګه راغلي وايي دلته زما اوښان ستا کسانو نيولې دي هغه اوښان راکړه وايي ما خو وويل چې ته کعبه خلاصول غواړې ته د اوښانو له غمه راغلې يې.

عبد المطلب صاحب ورته وويل چې زه د اوښانو رب يمه يعنې څښتن يمه د کعبې خپل رب شته هغه به يې درنه وساتي ته راشه ورباندې نو دا څه عقيده ده عقيده د توحيد ده که نه ده بتان نه يادوي چې هلته بتان پراته دي کعبه به درنه خلاصه کړي الله يادوي.

شعر ته ګورئ:

يا الله ان المرء يمنع رحله.

انسانانو کې هر ذات او هر سړي هغه خپل رحل کورني عيال بچ کوي.

فامنع رحالك. ته هم خپل اهل بچ کړه.

والنصر على آل الصليب وعابديه اليوم آلك. په آل د صليب چې عيسويان دي عابدينو د صليب باندې نن ورځ مدد وکړه آلك د اتباعو خپلو چې څوک ستا تابعدار وي چې مونږ يو او هغوي چې ستا تابعدار نه دي د هغوي مقابله کې زمونږ مدد وکړه.

دا شعر ده دليل د توحيد دي که د شرک.

نو صاحب د **الفقه على المذاهب الاربعة** ليکي:

فهل هذا كلام وثني يعبد الصنم أو كلام موحد مخلص لربه؟

چې دا د وثني بت پرست شعر دي او که دا د موحد مخلص دي بيا وروسته وايي چې اصلاً مسئله چې جوړه کړي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ نه منقول دي **ماتا على الكفر** وايي دې لانجه جوړه کړې.

دا کوم خلک چې مخالفت کوي وايي دې ځای نه شروع ده او:

ان أبي واباك في النار. دې نه اختلاف شروع ده جواب کوي:

زه به ورته ووايمه چې ستاسو يو قريشي راغلې دي زمونږ علاقه کې زمونږ د کعبې بې آدبي کړي بس ددې معافي وغواړي مونږ په دا کار نه کوو واپس به شو ځوک تللي وه په يمن کې د ابرهه د کعبې مينځ کې قاذورات کړې وه نو په هغې دې غصه شوې وه نو ابرهه ورته وويل چې څنګه راغلي وايي دلته زما اوښان ستا کسانو نيولې دي هغه اوښان راکړه وايي ماخو وويل چې ته کعبه خلاصول غواړې ته د اوښانو له غمه راغلې يې.

عبد المطلب صاحب ورته وويل چې زه د اوښانو رب يمه يعنې څښتن يمه د کعبې خپل رب شته هغه به يې درنه وساتي ته راشه وريانډې نو دا څه عقيده ده عقيده د توحيد ده که نه ده بتان نه يادوي چې هلته بتان پراته دي کعبه به درنه خلاصه کړي الله يادوي.

شعر ته ګورئ:

يا الله ان المرء يمنع رحله.

انسانانو کې هر ذات او هر سړي هغه خپل رحل کورني عيال بچ کوي.

فامنع رحالك. ته هم خپل اهل بچ کړه.

وانصر على آل الصليب وعابديه اليوم آلك. په آل د صليب چې عيسويان دي عابدينو د صليب باندې نن ورځ مدد وکړه آلك د اتباعو خپلو چې ځوک ستا تابعدار وي چې مونږ يو او هغوي چې ستا تابعدار نه دي د هغوي مقابله کې زمونږ مدد وکړه.

دا شعر دده دليل د توحيد دی که د شرک.

نو صاحب د الفقه على المذاهب الاربعة ليکي:

فهل هذا كلام وثني يعبد الصنم أو كلام موحد مخلص لربه؟

چې دا د وثني بت پرست شعر دی او که دا د موحد مخلص دی بيا وروسته وايي چې اصلاً مسئله چې جوړه کړي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ نه منقول دي **ماتا على الكفر** وايي دې لانجه جوړه کړې.

دا کوم خلک چې مخالفت کوي وايي دې ځای نه شروع ده او:

ان أبي واباك في النار. دې نه اختلاف شروع ده جواب کوي:

زه به ورته ووايمه چې ستاسو يو قريشي راغلې دي زمونږ علاقه کې زمونږ د کعبې بې آدبي کړي بس ددې معافي وغواړي مونږ په دا کار نه کوو واپس به شو ځوک تللي وه په يمن کې د ابرهه د کعبې مينځ کې قاذورات کړې وه نو په هغې دې غصه شوې وه نو ابرهه ورته وويل چې څنګه راغلي وايي دلته زما اوښان ستا کسانو نيولې دي هغه اوښان راکړه وايي ما خو وويل چې ته کعبه خلاصول غواړې ته د اوښانو له غمه راغلي يې.

عبد المطلب صاحب ورته وويل چې زه د اوښانو رب يمه يعنې څښتن يمه د کعبې خپل رب شته هغه به يې درنه وساتي ته راشه وربانديې نو دا څه عقيده ده عقيده د توحيد ده که نه ده بتان نه يادوي چې هلته بتان پراته دي کعبه به درنه خلاصه کړي الله يادوي.

شعر ته ګورئ:

يا الله ان المرء يمنع رحله.

انسانانو کې هر ذات او هر سړي هغه خپل رحل کورني عيال بچ کوي.

فامنع رحالك. ته هم خپل اهل بچ کړه.

وانصر على آل الصليب وعابديه اليوم آلك. په آل د ضليب چې عيسويان دي عابدينو د صليب باندې نن ورځ مدد وکړه آلك د اتباعو خپلو چې څوک ستا تابعدار وي چې مونږ يو او هغوي چې ستا تابعدار نه دي د هغوي مقابله کې زمونږ مدد وکړه.

دا شعر دده دليل د توحيد ذي که د شرک.

نو صاحب د الفقه على المذاهب الاربعة ليکي:

فهل هذا كلام وثني يعبد الصنم أو كلام موحد مخلص لربه؟

چې دا د وثني بت پرست شعر دي او که دا د موحد مخلص دي بيا وروسته وايي چې اصلاً مسئله چې جوړه کړي د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ نه منقول دي **ماتا على الكفر** وايي دې لانجه جوړه کړې.

دا کوم خلک چې مخالفت کوي وايي دې ځای نه شروع ده او:

ان أبي واباك في النار. دې نه اختلاف شروع ده جواب کوي:

اما قول ابي حنيفة رَحِمَهُ اللهُ فإن الذي حمله على ذلك هو تأييد مذهبه من اهل الفترة غير ناجين اذا أشركوا مع الله غيره فهم ملزمون بتوحيد الله بعقولهم .

داده خپل اصل ثابتول غوښتل بيا وايي :

فأما الأدلة على أن أهل الفترة ناجون قطعية في نظري وذلك لان الله تعالى قال : ﴿ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولاً ﴾ .

دارنګې تفسير مظهري د هغه آيت نه جواب کوي :

لا تسئل عن اصحاب الجحيم فلا دليل فيه على ان المراد بأصحاب الجحيم أبواه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعلى تقدير التسليم فتلك الآية لا تدل على كفرهما فان المؤمن قد يكون من أصحاب الجحيم لإكتساب بعض المعاصي حتى تدركه المغفرة بشفاعة شافع او دون ذلك أو يبلغ أجله .

وقد صح عنه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال بعثت من خير قرون بني ادم قرنا فقرنا حتى بعثت من القرن الذي كنت فيه رواه البخاري من حديث ابي هريرة .

وقال صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما افترق الناس فرقتين الا جعلني الله في خيرهما فاخرجت من بين ابوي ولم يصبني شيء من عهد الجاهلية خرجت من نكاح لم اخرج من سفاح من لدن آدم حتى إنتهت إلى أبي وأمي فأنا خيركم نفساً وخيركم أبا .

همغه حديث نه يې استدلال وکړو دا روايت د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي په دلائل النبوة کې او دلائل النبوة د ابي نعيم کې داد ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت ده.

وقد صنف الشيخ الاجل جلال الدين السيوطي رَحِمَهُ اللهُ في اثبات اسلام آباء النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رسائل واخذت من تلك الرسائل رسالة فذكرت فيها ما يثبت اسلامهم ويفيد اجوبة شافية لما يدل على خلافه .

الحاوي للفتاوی للسيوطي جلد ۱ صفحه ۲۳۱ :

فصل قال السهيلي في الروض الانف بعد أن اورد حديث ان ابي واباك في النار مانصه ونتا ليس لنا ان نقول نحن هذا في أبويه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لقوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لا تؤذوا الأحياء بسبب الاموات.

د مړو په وجه ژوندو ته تکلیف مه ورکوي نو د مړو پسې خبرې ژوندي خفه کوي.

والله تعالى يقول: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾.

دارنګې الحاوي للفتاوی للسيوطي جلد ۲ صفحه ۲۱۸ هغه دريم مسلک چې خدای تعالی ژوندي کړې بيا يې ايمان راوړي د هغې ذکر کوي.

المسلك الرابع : وهذا المسلك مال اليه طائفة كثيرة من حفاظ المحدثين وغيرهم.

دې ته دې خلکو ذهاب کړې دي چې دا بيا ژوندي شوې دي.

منهم ابن شاهين والحافظ ابوبكر الخطيب البغدادي.

والسيهلي والقرطبي والمحب الطبري والعلامة ناصر الدين بن المنير وغيرهم واستدلوا لذلك بما اخرجه ابن شاهين في الناسخ و المنسوخ والخطيب البغدادي في السابق واللاحق والدار قطني وابن عساكر كلاهما في غرائب مالك بسند ضعيف عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قالت حج بنا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حجة الوداع فمر بي على عقبة بالحجون وهو باك حزين مغتم فنزل فمكث عني طويلاً ثم عاد الي وهو فرح متبسم فقلت له فقال ذهبت لقبر أمي فسألت الله ان يحييها فاحياها فآمنت بي وردها الله.

دا حديث مخکې تير شوې وه.

دارنګې الحاوي للفتاوی جلد ۲ صفحه ۲۲۱:

قال البيهقي في شعب الايمان اخبرنا ابو الحسين بن بشران انا ابو جعفر الرزاز حدثنا يحيى بن جعفر اخبرنا زيد بن الحباب اخبرنا يس بن معاذ حدثنا عبدالله بن قريد عن طلق بن علي قال سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول لو أدركت والدي أو أحدهما وأنا في صلاة العشاء.

كه زما مور او پلار ژوندي وې او ما هغوي موندلې وي او يا يو ژوندې وي زه د ماخوستن په مونځ وې مثلا او ما لوستلې وې په هغې كې بفاتحة الكتاب الحمد مې لوستلې وي ولاړ وي په مانځه.

تنادي يا محمد لاجبتها لبيك . چې ما ته يې آواز كولې.

يا محمد لاجبتها لبيك . ما به مانځه كې جواب وركولې چې لبيك.

دا حديث دلالت النص دې په تكريم د أبوي النبي صلى الله عليه وسلم كې نص په دې خبره كې دي چې د مور او پلار تكريم په كار دي ولو كه داخل د صلاة كې وي چغه ووهلې شي د هغوي اطاعت په كار وي خير دي هغه مونځ به بيا وكړي.

روايت د مسلم د جريج هم پرې دال دي چې داخل د مانځه كې مور چغه وهلې وه او هغه سلام نه وه گرځولې او هغې ورته ښيري كړې وې ښيرې قبولې شوې وې دلالت النص په دې كې ده.

او اشارة النص اشاره ترې دا ثابتيږي چې نبي اكرم صلى الله عليه وسلم د خپلو والدينو كه حيات وي نو عزت به يې كولې هغه صلى الله عليه وسلم د والدينو دومره تكريم كوي چې زه به مونځ ورته پرېږدمه او لبيك به ورته وايمه او ته بې انصافه را پاڅيږي هغوي ته مشرك وايې.

تمت بالخير

طالب دعاء : سيد محمد ثواب

او

مولوي سيد راز محمد هاشمي ثم الاندړوړي

For More Books Click On
Ghulam Safdar
Muhammadi Saifi

غلام حضرت غلام الحنفی شہید

مناظرہ

النابغة

مختلفة

۲

مدرسہ حدیقۃ الاحناف